الورد الشذي

پښتو شرح د

جامع الترمذي

افادات
شيخ الاسلام فقيه العصر
محمد حسن جان المدني شهيد رحمه الله

حديث
۱ تا ۳۰۵

خصوصيات
• معرب متن
• په متن باندې اعراب
• د باب نمبر
• د حديث نمبر
• ترجمه او تشريح
• حل لغات
• د راوي حالات
• د حديث تخريج
• تحقيق د مذاهب اربعه
• متن مع السند بالاستيعاب

جمع وترتيب
خادم العلماء المفتقر الی الله
ابو هلال عبدالخالق
[illegible]

مكتبه رحمانيه
محله جنگي قصه خواني پشاور
0302-6709815
0316-9400041

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوىٰ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ

الورد الشذي

بشرح

جامع الترمذي

الجزء الخامس

من _١٨٩٧_ الى _ ٢٥٢٢_

المرتب: خادم العلماء المفتقر الي الله (ابوهلال) **عبد الخالق بن خان محمد**
الباجوري خريج الجامعة امداد العلوم الاسلامية بشاور_ وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات)

ازافادات

شيخ الاسلام فقيه العصر محمد حسن جان (المدني) شهيد (رحمه الله)

ناشر: مكتبه رحمانيه پشاور

اسم الكتاب: الورد الشذي بشرح الجامع للترمذي

جلد: خامس

من _١٨٩٧_ الى _ ٢٩٠٠_

المرتب : ابو هلال "عبدالخالق" خَرِيجُ الجَامِعَة اِمْدَادُ الْعُلُوْمِ الإسْلَامِيَةِ بِشَاوَر_
وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات) رابطه نمبر: ٣٣٣٩١٢١١٩٢.

سال اشاعت: ٢٠٢١

تعداد ١٠٠٠

مصحح: مولانا عبد الوافي بن عبد الباقي رودات حصارك مزينه . فاضل جامعه امداد العلوم پشاور

ناشر: مكتبه رحمانيه محله جنكي نزد قصه خواني (پشاور)

اهتمام طباعت: الحاج شاه زاده صاحب

بسم الله الرحمن الرحيم

فهرس العناوين والمحتويات

سره ما عرض اوکړو بیا دچا سره ښه سلوك اوکړم راته یي اوفرمائیل دخپل پلار سره، او بیا درشته دارانو سره او بیا په ترتیب کې دنزدي رشته دار سره او بیا دهغه نه پس درجه په درجه (د یو نه پس د بل سره)

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي او شعبه په بهز بن حكيم راوي باندي كلام كړي دي او بهز دمحدثينو په نزد ثقه دي دهغه نه معمرو، ثوري، حماد بن سلمه، او نورو ډيرو راويانو اخذ دروايت كړي دي، په دي باب كې دابوهريره ، عبدالله بن عمرو، عائشه، او ابوالدرداء رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي.

تشریح: دمور سره احسان کول دپلار سره د احسان کولو نه دري درجي زيات دی

دپورتني حديث نه علماؤ استدلال كړى دى چې په احسان او سلوك كې دمور دري حصي دي او دپلار يوه حصه ده ځكه چې په پورتني حديث كې رسول الله صلي الله عليه وسلم مور دري پيري ياده كړي ده او پلار يي په څلورم ځل.

دمور دري چنده حق په څه وجه دی په دي باره کې علماء وائي چې مور داسي دري مشقتونه برداشت کوي کوم چې پلار نه برداشت کوي ، اول دحمل مشقت، دويم ، دپيدائش مشقت، دريم دتي ورکولو مشقت.

په همدي وجه فقهاء وائي كه چري څوك داسي وي چې دخپلي ناداری په وجه دمور او پلار دواړو سره ښه سلوك نشي كولی نو بيا به په دوی دواړو كې مور مقدم كوي دكنز العمال په روايت كې راځي ارشاد نبوي دی چې دخپلي مور سره په حسن سلوك كولو كې ابتداء اوكړئ او بيا ددينه پس دپلار سره بيا دخور سره او بيا د ورور سره او بيا الاقرب فالاقرب او بيا دګاونډيانو سره او حاجتمند به نه هيروئ .(كنز العمال).

دمعاويه بن حيده رضي الله عنه مناقب

نوم معاويه دبصري اوسيدونكی وو بيا خراسان ته منتقل شو اود بلند پايه علماؤ نه شميرلی كيږي، دده نه عموما دده خوي حكم بن معاويه نقل دروايت كوي دده دوفات تاريخ او دمروياتو دشمير باره كې څه معلومات نشته.

****

٢_ بابٌ مِنْهُ

دمور او پلار سره دښه سلوك كولو متعلق يو بل باب

١٨٩٨_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنِ الْمَسْعُودِيِّ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ الْعَيْزَارِ، عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

****

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

د نيكئ او صله رحمئ بيان

د صله رحمئ متعلق نصوص قاطعه متواتره په كثرت سره موجود دي او داد ددين اصل مقصد دى چي خلق دى د يو بل سره همدرد وكړي او يو مسلمان دي د بل مسلمان غم شريك وي ارشاد الهي دي

قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿ وَاعْبُدُوا اللهَ وَلا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ(١) وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ﴾ [النساء ٣٦].

يعني عبادت او كړئ دالله تعالي او شريك ورسره مه مقرروئ او دمور او پلار او رشته دارانو او يتيمانو او محتاجانو او دګاونډي رشته دارانو او داجنبي ګاونډيانو او دناستي دملګرو او مسافرو سره او دغلامانو سره احسان كوئ

وَقَالَ تَعَالَى: ﴿ وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ ﴾ [النساء : ١].

د الله نه يره وكړئ هغه ذات دي چه تاسو ورنه سوالونه كوئ چه صله رحمي قطع نكړئ

وَاتَّقُوا اللهَ : دالله نه اويريږئ ، خكه چه دي رب دي اوخكه چه تاسوني په عجيب طريقي سره پيدا كړي يئ. اويدي وجه چه دده تمام صفات كامل دي، اويدي وجه چه دده ذات واجب الخشية اومستحق داطاعت دي.

الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ هغه ذات دي دچاپه مخ اوپه نوم باندي چه تاسو ديوبل نه سوال كوئ، دا د راروانو دوه حكمونو دپاره تمهيد دي چه درشته دارئ پيوست ساتلو حكم دي اودويم دحقوق العباد داداكولو حكم دي

وَالأَرْحَامَ اودرشته دارئ دپريكولو دګناه نه اويريږئ الارحام په لفظ الله باندي عطف دي دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي رحم دعرش سره زوړند دي او اوازونه كوي چه خبردار څوك چه ما لره پيوست وساتي الله تعالي دي

---

(١) الجار ذو القربى الجار الذي بينك وبينه قرابة . والجار الجنب : الجار الغريب الذي ليس بينك وبينه قرابة . والصاحب بالجنب الزوجة . قاله ابن الجوزي من بين أقوال أخرى . زاد المسير ٢/٧٩ .

ني دخپل خان سره پيوست کړي اوځوك چه مالره کټ کړي نوهغه لره دي الله تعالي دخپل خان نه قطع کړي

وَقَالَ تَعَالَى: ﴿ وَالَّذِينَ يَصِلُونَ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ أَن يُوصَلَ ﴾ [الرعد: ٢١].

اوداهغه کسان دي چه پيوست کوی هغه چه الله حکم کړي دي دپيوست ساتلو دهغې

واتقوا الله. دالله نه اوېرېږئ . دالله تعالي نه يره په دي وجه پکار ده او په دي وجه چه انسان يي په عجيب انداز کي پيدا کړی دی او بهترين صورت يي ورکړی دی او په دي وجه چه تمام صفات يي کامل دي

الذي تسائلون به، هغه ذات دچا په نوم چه تاسو ديو بل نه سوال کوئ ،دحقوق او صله رحمئ والارحام، چه درشته داري قطع کولو نه ځان اوساتئ ارحام لفظ په الله لفظ عطف دی برابره خبره ده چه رشته دار دپلار دطرفه وي او که دمور دطرفه وي خو ددوئ خيال ساتل او حقوق ادا کول ضروري دي

په احاديثو کي دصلهٔ رحمئ پاللو ډير تاکيد راغلی دی چه مخکي به راشي دارحام نه مراد دلته رحم دی نو په دي وجه دتعلقاتو سلسلي پوره کولو ته صله رحمي وئيلی شي او ددي قطع کولو ته قطع رحمي وئيلی شي

وَقَالَ تَعَالَى: ﴿ وَوَصَّيْنَا الإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْناً ﴾ [العنكبوت: ٨].

دمومنانو په صفتونو کي يو صفت دا هم دی چه دوئ داسي کسان دي چه الله تعالي ورسره دتعلق قائم ساتلو حکم کړی دی ددي ايت تفسير دجمهورو مفسرينو په نزد درشته داری تعلقات قائم ساتل دي او ددي مقتضياتو باندي عمل کول دي

صله رحمي په قران کريم کي په ډيرو مقاماتو کي بيان شوي ده او په احاديثو کي ورنه هم په مختلفو عنواناتو تعبير شوی دی، ارشاد نبوي دی دخلقو نسبونه ازده کړئ ددي دپاره چه رشته داري اوپاللی شئ ځکه چه صله رحمي سره په رشته دارو کي محبت او په مال کي وسعت او په عمر کي برکت راځي

بعضي مفسرينو ددي ايت په تفسير کي ليکلي دي دا هغه کسان دي چه دايمان سره عمل صالح يوځاي کوي او دبعضو په نزد دا هغه کسان دي چه په رسول الله او په قران ايمان لري او ددي سره سره په سابقه انبياؤ کتابونو هم ايمان لري

يعني وصيت کړي دي مونږ انسان ته دهغه دمور او پلار په حق کي دنيکئ کولو

وَقَالَ تَعَالَى: ﴿ وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُوا إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَاناً إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلاً كَرِيماً وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا

كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا ﴾ [الإسراء : ٢٣ ٢٤]
(اوفیصله کړي ده رب ستاچه بندگي به نه کوئ علاوه دالله تعالي نه دبل چا اودمور اوپلار سره به ښیگړي کوئ که چري ورسیږي یو په دوئ کي ستا په موجودگئ بوډا والي ته یا دواړه نو اف کلمه هم ددوئ په وړاندي مه وایه او مه یي رټه او نرمي خبري ورته کوه اود مهرباني وزري په دوئ وغوړوه او اووایه چه اي ربه په دوئ باندي رحم وکړي لکه چه زه یي پاللي وم په ماشوم والي کښي)
امام قرطبي وائي په پورتني ایت کي دمور او پلار ادب او احترام کولو حکم دی او ددوئ سره دښه سلوك کول الله تعالي دخپل عبادت سره یوځاي واجب کړي دي
دمجاهد قول دی چه ددي ایت مطلب دادی که دچا مور او پلار بوډاگان شي او دهغوئ متيازي او اودس ماتی وینځلو ته ضرورت پيښ شي نو تاسو به هيڅ کله اف هم نه کوئ لکه څرنگه چه هغوئ ستاسو په ماشوموالي کي ستاسو گندگي وينځلي ده
علي رضي الله عنه به ددي ایت باره کي فرمائيل که چري په بي ادبئ کي د اف وئيلو نه کمه درجه وی نو الله تعالي به هغه هم حرامه کړي وه
دحسن بصري نه چا تپوس اوکړو چه دمور او پلار دنافرمانئ حد څه دی نو ويې فرمائيل چه دوئ ته د ورکولو او محروم پريخودو خبره پريږده په تيز نظر سره ورته کتل هم نه دي پکار
قولا كريما ، دحسن بصري قول دی ددي جملي نه مراد دادی چه په ښه لقب سره يې رابلئ په نوم به ورته اواز نه کوئ او کچرته مو راوغواړي نو داسي به وائي چه حاضر يم دقتاده په قول ددي ایت مطلب دادی چه په نرمئ سره به دهغوئ په وړاندي خبري کوئ
وَقَالَ تَعَالَى : ﴿ وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ ﴾ [لقمان : ١٤].
او وصيت کړي دي مونږ انسان ته په باره د مور او پلار دده کي ، چي بار کړي وو ده لره مور دده په مشقت سره دپاسه دبل مشقت نه اودوه يي تي ورکړي وو نو پکار ده چي شکر ادا کړي زما اود مور اوپلار خپل
ووصينا الانسان وصيت کړی دی مونږ انسان ته وصيت کوم انسان لره دکوم کار دپاره رابللو ته وئيلی شي په کوم کي چه درابلونکي سراسر نصيحت او خيرخواهي وي
بوالديه احسانا ، احسانا مصدر دی په معني دخوبئ سره دلته ورنه خوبئ والا عمل مراد دی چه مبالغتا ورنه په احسان تعبير شوی دی مطلب دادی چه الله تعالي انسان ته دا وصيت کړی دی چه دخپل مور او پلار سره ښه سلوك کوه
مفسرين وائي په پورتني ايت کي دوالدينو دحقوقو او شکرگذارئ حکم شوی دی او ددي

حکت دا خودلی شوی دی چه دده مور دده دوجود دپاره ډیر محنت او مشقت برداشت کړی دی نهه میاشتي يي په خیټه گرځولی وو چه ددي په وجه مور دکمزورئ سره مخامخ وه خو دا هر څه يي برداشت کړل او بیايي دی دپیدانشت نه پس دوه کاله اوساتلو او دپیو ورکولو زحمت يي هم برداشت کړو چونکه دمور مشقت زیات وي نو په دي وجه شریعت دمور حق دپلار په حق مقدم کړی دی یعني مخکي يي ذکر کړی دی.

وفصاله ي عامین، یعني دتي نه دپریکولو موده يي دوه کاله وي.

امام شافعي او امام ابو یوسف او امام محمد په نزد د تي ورکولو زیات نه زیاته موده دوه کاله ده او همدا قول داحنافو په نزد مقدر دی.

ان اشرکرلي ولوالدیك، یعني زما شکر ادا کړئ او دخپل مور او پلار

ددي ایت دمطلب متعلق دصوفیان بن عیینه قول دی دایت په پنځه حصه کي دالله دشکر ادا کولو حکم دی او دمور او پلار دپاره دنیکو دعا کولو او که چا داسي اوکړل نو دمور او پلار حق يي ادا کړو.

١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي بِرِّ الْوَالِدَيْنِ

دمور او پلار سره دنیک سلوک کولو بیان

١٨٩٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، أَخْبَرَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَنْ أَبَرُّ؟ قَالَ: "أُمَّكَ". قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "أُمَّكَ". قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "أُمَّكَ". قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "ثُمَّ أَبَاكَ، ثُمَّ الأَقْرَبَ، فَالأَقْرَبَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَبَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ هُوَ ابْنُ مُعَاوِيَةَ بْنُ حَيْدَةَ الْقُشَيْرِيُّ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ تَكَلَّمَ شُعْبَةُ فِي بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، وَهُوَ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ، وَرَوَى عَنْهُ مَعْمَرٌ، وَالثَّوْرِيُّ، وَحَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ.(1)

ترجمه. دمعاویه بن حیده قشیري رضي الله عنه بیان دي فرماني چي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله زه دچا سره نیك سلوك او صله رحمي اوکړم رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمانیل دخپلي مور سره ما بیا عرض اوکړو دچا سره ښه سلوك اوکړم راته يي اوفرمانیل دخپلي مور سره ما بیا عرض اوکړو بیا دچا سره ښه سلوك اوکړم ویي فرمانیل دخپلي مور

1 سنن ابي داود_ الأدب١٢٩ (٥١٣٩). (تحفة الأشراف: ١١٣٨٣). ومسند احمد (٥_٣.٥)

اوفرمائیل ترور (دمور خور) پشان دمور ده.
امام ترمذي وايي په دي حديث کي يوه اوږده قصه ده، او دا حديث صحيح دي
لغات: منزلة. دکوزيدو خاي لکه کور، يا مرتبه نزل نزولا کوزيدل دضرب نه واقع کيدل
تشريح: داد يو اوږد حديث ټوکړه ده پوره حديث داسي دي:
عن البراء بن عازب رضي الله عنه. قال: اعتمر النبي صلى الله عليه وسلم في ذي القعدة. فأبى أهل مكة أن يدعوه يدخل مكة حتى قاضاهم على أن يقيم بها ثلاثة أيام. فلما كتبوا الكتاب. كتبوا هذا ما قاضى عليه محمد رسول الله. فقالوا: لا نقر بها. فلو نعلم أنك رسول الله ما منعناك. لكن أنت محمد بن عبد الله. قال: «أنا رسول الله. وأنا محمد بن عبد الله» . ثم قال لعلي: «امح رسول الله» . قال: لا والله لا أمحوك أبدا. فأخذ رسول الله صلى الله عليه وسلم الكتاب. فكتب هذا ما قاضى عليه محمد بن عبد الله. لا يدخل مكة سلاح إلا في القراب. وأن لا يخرج من أهلها بأحد. إن أراد أن يتبعه. وأن لا يمنع أحدا من أصحابه أراد أن يقيم بها. فلما دخلها ومضى الأجل. أتوا عليا فقالوا: قل لصاحبك اخرج عنا. فقد مضى الأجل. فخرج النبي صلى الله عليه وسلم. فتبعتهم ابنة حمزة: يا عم يا عم. فتناولها علي بن أبي طالب رضي الله عنه. فأخذ بيدها. وقال لفاطمة عليها السلام: دونك ابنة عمك. حملتها. فاختصم فيها علي. وزيد. وجعفر. فقال علي: أنا أحق بها وهي ابنة عمي. وقال جعفر: ابنة عمي وخالتها تحتي. وقال زيد: ابنة أخي. فقضى بها النبي صلى الله عليه وسلم لخالتها. وقال: «الخالة بمنزلة الأم» . وقال لعلي: «أنت مني وأنا منك» . وقال لجعفر: «أشبهت خلقي وخلقي» . وقال لزيد: «أنت أخونا ومولانا» (صحيح البخاري: باب لبس السلاح للمحرم).
دی سلسله کې نور صحيح او مشهور روايات په بخاري شريف کې کثرت سره موجود دي چي په هغې کې حديث دغار او حديث دجريج هم شامل دي.په دي سلسله کې دعمرو بن عبسه حديث هم دی چي ډيراهم دی، کافي اوږد دی چي داسلافو دقواعدو په ډيرو احکامو باندي مشتمل دی، دی روايت کې دادي چي دنبوت په ابتدائي زمانه کې خه درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت کې مکی مکرمی ته حاضر شوم او عرض مي اوکړو چي تاسو څوك يئ؟ وبی فرمائيل نبي يم ما اوونيل نبي څه مطلب دی؟ ارشاد يې اوفرمائيلو الله تعالي څه راليږلی يم؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي صله رحمي کولو او بتانو ماتولو دپاره او ددی خبری بيانولو دپاره چي الله تعالي يو اومنئ هيڅوك هغه سره شريك مه جوړوئ (بخاري ، او الله تعالي بنه پوهيږي

****

فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "الصَّلَاةُ لِمِيقَاتِهَا". قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "بِرُّ الْوَالِدَيْنِ". قُلْتُ: ثُمَّ مَاذَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ". ثُمَّ سَكَتَ عَنِّي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَوِ اسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِي. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. رَوَاهُ الشَّيْبَانِيُّ، وَشُعْبَةُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ الْعَيْزَارِ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبُو عَمْرٍو الشَّيْبَانِيُّ اسْمُهُ سَعْدٌ. [1]

ترجمه . دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ماتپوس اوکړو اي دالله رسوله کوم يو عمل په عملونو کي افضل دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په وخت باندي مونځ اداء کول، ما بيا تپوس اوکړو اي دالله رسوله په دي پسي بل کوم يو عمل زيات بهتر دي نو راته يي اوفرمائيل دمور او پلار سره ښه سلوك کول ما بيا تپوس اوکړو په دي پسي بل کوم يو عمل بهتر دي؟ نو ويي فرمائيل دالله په لاره کي جهاد کول او بيا رسول الله خاموش شو او حال دادي که ما ورنه ددينه زيات تپوسونه کړي وي نو نور به يي راته هم بيان کړي وي.

امام ترمذي وايي . داحديث حسن صحيح دي داحديث ابو عمرو شيباني، شعبه، او بعضي نورو راويانو دوليد بن عيزار نه نقل کړي د او دا حديث دابوعمرو شيباني په واسطه دعبداله بن مسعود نه په نورو سندونو هم مروي دي.

****

٣_ باب مَا جَاءَ مِنَ الْفَضْلِ فِي رِضَا الْوَالِدَيْنِ

دمور او پلار درضامندئ دفضيلت بيان

١٨٩٩_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ الْهُجَيْمِيِّ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ، فَقَالَ: إِنَّ لِي امْرَأَةً، وَإِنَّ أُمِّي تَأْمُرُنِي بِطَلَاقِهَا. قَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "الْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ فَإِنْ شِئْتَ فَأَضِعْ ذَلِكَ الْبَابَ أَوِ احْفَظْهُ". قَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ. وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ: إِنَّ أُمِّي، وَرُبَّمَا قَالَ أَبِي. وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حَبِيبٍ. [2]

---

1 انظر حديث رقم ١٧٣

2 سنن ابن ماجه _ الطلاق ٣٦ (٢٠٨٩)، والأدب ١ (٣٦٦٣). (تحفة الأشراف: ١٠٩٤٨)

ترجمه دابوالدرداء رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يو كس راغلو او وئيل يي زما يوه ښځه ده او زما مور مات حكم كوي چي خپلي ښځي ته طلاق وركړه (نو زه څه اوكړم) ام الدرداء رضي الله عنه اووئيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چي پلار دجنت درمياني دروازه ده كه چري ته غواړي نو دا دروازه مه ضايع كوه او كه خوښه دي وي نو حفاظت يي اوكړه. سفيان بن عيينه به ددي حديث نقل كولو په وخت كي كله كله "ان امي" وئيل او كله كله به يي ان ابي وئيل.

امام ترمذي وايي داحديث صحيح دي

لغات: فاضع. دامر صيغه د ضرب نه ضائع كيدلو ته وئيلي شي.

تشريح: "وان امي تأمرني بطلاقها" يعني زما مورماته حكم كوي چي طلاق ورته وركړه، علماء وائي چي كوم امور شرعا واجب وي او والدين دهغي نه منع اوكړي په داسي صورت كي دهغوئ اطاعت جائز نه دى مثلا دحج يادفرض علم نه منع كول وكړي اوهمدارنګي كوم امور چي شرعا ناجائز وي والدين دهغي دكولو حكم اوكړي نو په دي كي به اطاعت كول نه وي ښځي ته طلاق وركول بغير دعذر نه ناجائز او مكروه تحريمي دي نو د والدينو دضد په وجه څوك طلاق نه شي وركولى ترڅوچي كوم شرعي وجه نه وي

"الوالد اوسط ابواب الجنة" يعني پلار دجنت په دروازو كي مينځنئ دروازه ده . په دي جمله كي ابوالدرداء رضي الله عنه فرمائي چي په شرعي طور سره ستا په ښځه كي هغه خبري موجودي وي دكوم په وجه چي ورته طلاق وركولى شي نو طلاق ورته وركړه او خپل مور اوپلار هم خوشحاله كړه او كه طلاق نه وركوي نو مور او پلاربه دي خفه شي او تاته به دجنت دروازه بنده شي

علماء وايي چي دښځي په محبت دمور اوپلار رضامندئ ته په دي حديث كي دترجيح وركولو تاكيد فرمائيلي شوي دي.

په والد لفظ كي والده هم داخل ده

يقول الوالد. دلته په الوالد كي والده هم داخل ده، يعني لغوي مَعني مراد ده په معني دزيګولو نو اوس ددي معني په اعتبار سره دوالد اطلاق په دواړو باندي كيږي

لكه چي د والدين يعني دتثنيه دصيغي نه مور اوپلار دواړه مراد دي نو دارنګي دوالد اطلاق هم په دواړو باندي كيږي.

****

١٩٠٠ـ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ. حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ. حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ.

عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " رِضَا الرَّبِّ فِي رِضَا الْوَالِدِ، وَسَخَطُ الرَّبِّ فِي سَخَطِ الْوَالِدِ ".[1]

ترجمه . دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي راضي كيدل دپلار په راضي كيدو كي دي او دالله تعالي غضبناك كيدل دپلار په خفه كولو كي دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو نَحْوَهُ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَهَذَا أَصَحُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَكَذَا رَوَى أَصْحَابُ شُعْبَةَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو مَوْقُوفًا، وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا رَفَعَهُ غَيْرَ خَالِدِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ شُعْبَةَ، وَخَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ ثقة مأمون. قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ الْمُثَنَّى، يَقُولُ: مَا رَأَيْتُ بِالْبَصْرَةِ مِثْلَ خَالِدِ بْنِ الْحَارِثِ، وَلَا بِالْكُوفَةِ مِثْلَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ إِدْرِيسَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ.[2]

ترجمه يعلي بن عطاء هم دخپل پلار په واسطه دابن عمر رضي الله عنه قول دماقبل حديث هم معني نقل كړي دي او مرفوع يې نه دي بيان كړي او دا دماقبل حديث په نسبت زيات صحيح دي

امام ترمذي وايي دارنگي دا حديث دشعبه نورو شاگردانو دشعبه نه ديعلي بن عطاء عن ابيه عن عبدالله بن عمرو په سند مرفوع نقل كړي دي او دخالد بن حارث نه علاوه بل څوك مونږ ته معلوم نه دي چي دا يي دشعبه نه مرفوع بيان كړي وي، او خالد بن حارث ثقه او محفوظ دي، امام ترمذي وائي دمحمد بن مثني نه مي اوريدلي دي وئيل يي دخالد بن حارث برابر بل شخصيت ما په بصره كي نه دي ليدلي او نه مي په كوفه كي عبدالله بن ادريس پشان بل څوك ليدلي دي او په دي باب كي دابن مسعود رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

****

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٨٨٨)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٨٨٨)

٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي عُقُوقِ الْوَالِدَيْنِ

دمور او پلار نافرماني او ددوئ سره قطع دتعلق (دکبیره گناهونو نه ده)

١٩٠١_ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا أُحَدِّثُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟" قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ". قَالَ: وَجَلَسَ وَكَانَ مُتَّكِئًا، فَقَالَ: "وَشَهَادَةُ الزُّورِ، أَوْ قَوْلُ الزُّورِ". فَمَا زَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهَا حَتَّى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو بَكْرَةَ اسْمُهُ نُفَيْعُ بْنُ الْحَارِثِ. (1)

ترجمه دابوبکره نفیع بن الحارث رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي ایا تاسو ته په خلقو کي دټولو نه زیات لوي گنهگار اونه ښایم (یعني داکبر الکبائر مرتکب) صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله ولي نه، رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دټولو نه لوي گناه دالله تعالي سره شرك کول دي او دمور او دپلار نافرماني کول دي راوي وائي چي رسول الله دي وخت کي اودریدو او حال دادي چي دغه وخت کي یي ډډه وهلي وه اوبیا یي اوفرمائیل په دروغه گواهي ورکول یا دروغ خبره کول او دا خبره به یي بار بار تکرار کوله تردي پوري چي مونږ اووئیل کاش چي خاموش شوي وي

امام ترمذي وايي : داحدیث حسن صحیح دي او په دي باب کي دابوسعید خدري رضي الله عنه نه هم وارد دي.

تشریح: "اکبر الکبائر "یعني په ټولو گناهونو کي درته لوي گناهونه اونه ښایم، دلته یي په لویو گناهونو کي دري گناهونه بیان کړي دي علماء وائي کبیره گناهونه په مقدار کي منحصر نه دي اوچرته چي دخاص عدد ذکر دی هلته هم حصر مقصود نه دی په دي موضوع علماؤ مستقل کتابونه لیکلي دي او په کبیره گناه کي یي پنځه قسمونه شمیرلي دي، اول په کومه گناه چي په قران او حدیث کي وعید راغلی وي، دویم په کومه گناه چي لعنت راغلی وي. دریم په کومه گناه چي حد مقرر وي، مثلا زنا سرقه قذف وغیره . څلورم په کومه گناه کي چي

---

1 _ صحیح البخاری_ الشهادات ١٠ (٢٦٥٣) . والأدب ٦ (٥٩٧٦) . والاستئذان ٣٥ (٦٢٧٣) . والمرتدین ١ (٦٩١٩) صحیح مسلم_ الإیمان ٣٨ (٨٧) . والمؤلف في الشهادات (٢٣٠١) . وتفسیر النساء (٣٠١٩) (تحفة الأشراف : ١١٦٧٩) . و مسند احمد (٥_٣٦، ٣٨)

نقصان زيات وي مثلا كوم فوجي دمسلمانانو راز خور کړي ينخم صغيره گناه بار بار کول او هغي لره معمولي گڼړل

"الإشْرَاكُ بِاللهِ . وَعُقُوقُ الوَالِدَيْنِ" يعني دالله په ذات اوصفاتو کې چا لره شريکول دټولو نه لويه گناه ده په قران کريم کې ددی په باره کې راغلي دي

ان الله لا يغفر ان يشرك به ويغفر ما دون ذلك لمن يشاء يعني الله تعالي شرك نه معاف کوي او ددينه علاوه گناهونه که اوغواړي معاف کوي

عقوق الوالدين. يعني د مور او پلار نافرماني هم لويه گناه ده مگر علماؤ دا تصريح کړي ده چي ددوئ اطاعت دمباحاتو په دائره کې واجب دي او معاصي کې يې اطاعت جائز ندی

"وَشَهَادَةُ الزُّورِ" په دروغه گواهي کول، دا هم کبيره گناه ده خکه چي يوطرف ته خو په دي کې دروغ وي کوم چي پخپله حرام دي بيا چي ددي په ذريعه دچا مال واخستلي شي نو بيا خو په اکبر الکبائر کې راځي.

****

١٩٠٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مِنَ الْكَبَائِرِ أَنْ يَشْتُمَ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَهَلْ يَشْتُمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ؟ قَالَ: "نَعَمْ. يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَشْتُمُ أَبَاهُ وَيَشْتُمُ أُمَّهُ فَيَسُبُّ أُمَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خپل پلار ته کنځل کول دکبيره گناهونونه ده صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله داسي به هم څوك وي چي پلار ته به کنځل کوي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو ده به دچا پلار ته کنځل کړي وي نو هغه به دده پلار ته کنځل اوکړي او ده به دچا مور ته کنځل کړي وي نو هغه به دده مور ته کنځل اوکړي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

لغات: شتم شتمة شتما و مشتمة په معني دکنځلو دي دنصر او ضرب نه. سب الحبل . معني رسئ پريکول

يسب سبه د نصر نه په معني دسخت کنځلو اوپه مقعد کې په نيزي وهلو په معني دي

---

1 ـ صحيح البخاري ـ الأدب ٤ (٥٩٧٣) . صحيح مسلم ـ الإيمان ٣٨ (٩٠) . سنن ابي داود ـ الأدب ١٢٩ (٥١٤١) (تحفة الأشراف: ٨٦١٨)

تشريح: "يسب امه فيسب امه" دى چي دهغه مورته كنخل اوكړي نوهغه به دده مورته كنخل اوكړي، دپورتني حديث نه دوه خبري معلومي شوي اول دا چي مور او پلارته كنخل كول او بد رد ونيل گناه كبيره ده دويمه دامعلومه شوه كه څوك دچاموراوپلارته كنخل اوكړي نو مخاطب به په بدل كې دده موراوپلارته كنخل اوكړي اوهغه به دگناه كبيره مرتكب شي خكه چي كه ده دهغه مور اوپلارته كنخل كړي نه وى نو هغه به هم دده مور اوپلار نه وو كنخلي غرض داچي دى پخپله دخپل مور او پلار دسپكاوي سبب گرځي نو دا داسي شوه لكه چي ده پخپله خپل مور او پلار كنخلي وي بعضي علماؤ ددي حديث نه دا استدلال كړى دى كه چري څوك دكومي كبيره گناه سبب او ذريعه اوگرځي نو دى به هم په دي گناه كې شريك وي.

****

٥_ باب مَا جَاءَ فِي إِكْرَامِ صَدِيقِ الْوَالِدِ

دپلارددوست عزت او اكرام كول

١٩٠٣_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، أَخْبَرَنِي الْوَلِيدُ بْنُ أَبِي الْوَلِيدِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ أَبَرَّ الْبِرِّ أَنْ يَصِلَ الرَّجُلُ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي أُسَيْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا إِسْنَادٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ.[1]

ترجمه د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دى فرما ني چي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلى دى چي په نيكو كې دا نيكي ډيره لويه ده چي سړى دخپل پلاردوست سره ښه سلوك اوكړي.

امام ترمذي وايي

لغات ودّ الود ، دوستي.

تشريح: لكه څرنگه چي په مخكني حديث كې تير شول چي دپلار ددوستانو سره ښه سلوك كول پكار دي نو دلته په دي روايت كې دهغې يو مثال پيش كوي چي ابن عمر رضي الله عنهما يو بانډچي سړي ته خپل خر او پټكى په دي وجه وركړي وو چي دى دهغه دپلار دوست وو.

ددي پشان يوه واقعه علامه منذري هم نقل كړي ده چي يو خل عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دابوهريره رضي الله عنه ملاقات ته ورغلو او ورته يي اوونيل ايا تاته معلومه ده چي زه دځه

[1] صحيح مسلم_ البر والصلة ٢ (٢٥٥٢) . سنن ابي داود_ الأدب ١٢٩ (٥١٤٣) . (تحفة الأشراف : ٥٩٠٢)

دپاره راغلی یم؟ ما درسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلي دي که څوك غواړي چي دخپل پلار سره په قبر کې صله رحمي اوکړي نو هغه لره پکار دي چي ددوستانو سره یي ښه سلوك اوکړي اوتاته معلومه ده چي زما دپلار او ستا دوستي وه.
لکه څرنګه چي دپلار ددوستانوسره دښه سلوك کولو په باره کې مونږ دابن عمر روایتونه ذکر کړل نو ددي پشان یوه واقعه ابوداود هم نقل کړي ده چي ابو اسید مالك بن ربیعه به فرمائیل چي مونږ درسول الله صلي الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر وو چي دبنو سلمه قبیلي یو کس راغی او عرض یي اوکړو ای دالله رسوله ایا زه دمور او پلار دوفات نه پس دهغوئ سره حسن سلوك کولی شم؟ رسول الله اوفرمائیل هو دعاګاني ورته کوه او دمغفرت دعا یي غواړه او دهغوئ دزماني دخلقو خیال ساته او چي دچا سره یي کوم لوظونه کړي دي هغه پوره کوه او درشته دارانو سره یي ښه سلوك کوه او دهغوئ ددوستانو عزت کوه ددینه وړاندي فرمائي چي ددي په اوریدو سره هغه سړي اووئیل ای دالله رسوله دا خو ډیره ښه خبره ده نو رسول الله اوفرمائیل چي ښه خبره ده نو عمل وربانديي کوه.

دعبدالله بن دینار حالات

نوم عبدالله کنیه ابو عبدالرحمان قبیله قرشي عدوي دی دعبدالله بن عمررضي الله عنهما غلام وو . ده عموما دعبدالله بن عمر او انس بن مالك رضي الله عنهما نه نقل دروایت کړی دی او دده نه عموما دده خویی عبدالرحمان او یحیي انصاري او سهیل اوموسي بن عقبه وغیره نقل دروایت کوي دی بالاتفاق ثقه راوي دی چي ۱۲۷ هجري کې وفات شوی دی.

****

٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي بِرِّ الْخَالَةِ

دترور(دمور خور) سره دحسن سلوك كولو بيان

١٩٠٤ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ إِسْرَائِيلَ. ح قَالَ: وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ وَهُوَ ابْنُ مَدُّوَيْهِ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، وَاللَّفْظُ لِحَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيِّ، عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الأُمِّ ". وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ، وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دبراء بن عازب رضي الله عنهما نه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم

---

١ ـ صحيح البخاري ـ الصلح ٦ (٢٦٩٩)، والمغازي ٤٣ (٤٢٥١) (تحفة الأشراف . ١٨٠٣)

وَلَا نَعْرِفُ لِعُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ سَمَاعًا مِنْ خَوْلَةَ. [1]

ترجمه دخوله بنت حکیم رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي يود ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله غير كي دخپلي لور فاطمي په دوه خامنو (حسن يا حسين) كي كوم يو نيولي وو او بهر ته اووتلو او رسول الله دي ماشوم ته متوجه شو او فرمائيل يي تاسو خود سري نه بخيل جوړوئ او تاسو سري بزدله كوئ او تاسو سري نه جاهل جوړوئ او يقينا تاسو دالله تعالي دطرفه دوركړو ګلونو نه يئ.

امام ترمذي وايي : دابراهيم بن ميسره نه مروي دي دابن عيينه حديث مونږ صرف په همدي سند باندي پيژنو، او مونږ ته نه ده معلومه چي دعمر بن عبدالعزيز سماع دخوله نه ثابت ده او كنه ده، او په دي باب كي دابن عمر او اشعث بن قيس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

دخوله بنت حكيم رضي الله عنها مناقب

نوم خوله كنيه ام شريك قبيله اسلم سره يي تعلق دى او دا درسول الله صلي الله عليه وسلم ترور وه چي دعثمان بن مظعون سره يي نكاح شوي وه كله چي په دويم هجري كي عثمان بن مضعون وفات شو نو خوله رضي الله عنها دويمه نكاح اونكړه علامه ابن اسير وائي كانت امرئة صالحة يعني حوله يوه نيكه بي بي وه په مسند احمد كي راځي تصوم النهار تقوم الليل دورځي به يي روژي نيولي او دشپي به يي تهجد كول دمروياتو شمير يي پنځلس دى

****

١٢_ باب مَا جَاءَ فِي رَحْمَةِ الْوَالِدِ

دماشوما نو سره دميني كولو بيان

١٩١١_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أَبْصَرَ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُقَبِّلُ الْحَسَنَ قَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ: الْحُسَيْنَ أَوْ الْحَسَنَ. فَقَالَ: إِنَّ لِي مِنَ الْوَلَدِ عَشَرَةً، مَا قَبَّلْتُ أَحَدًا مِنْهُمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ لَا يُرْحَمُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥٨٣٨) ، ومسند احمد (٦_٤٠٩)

حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَفْصٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَصَبْتُ ذَنْبًا عَظِيمًا، فَهَلْ لِي مِنْ تَوْبَةٌ؟ قَالَ: " هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ؟ قَالَ: لَا، قَالَ: هَلْ لَكَ مِنْ خَالَةٍ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَبِرَّهَا ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ وَالْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ. (1)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرماني چي يو كس درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله زه په يو لويه كناه كي ملوث شوي يم ايا زما دپاره دتوبي ويستلو څه صورت شته؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا موردي شته؟ هغه اووئيل نه. بيا يي اوفرمائيل ايا دمور دطرفه ترور دي شته نو هغه اووئيل هو رسول الله ورته اوفرمائيل دهغي سره ښه سلوك كوه

امام ترمذي وايي او په دي باب كي د علي او براء بن عازب رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَفْصِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ حَفْصٍ هُوَ ابْنُ عُمَرَ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ. (2)

ترجمه حفص بن عمر هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي ابن ابي عمر پخپل روايت كي دابن عمر واسطه نه ده ذكر كړي او دا حديث دمعاويه دحديث نه زيات صحيح دي او دابوبكر بن حفص نوم ابن عمر بن سعد بن ابي وقاص دي

****

٧باب مَا جَاءَ فِي دَعْوَةِ الْوَالِدَيْنِ

دموراو پلار دښيرو او ازار كولو بيان

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٥٤٤)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٥٦٣)

١٩٠٥_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ هِشَامٍ الدَّسْتُوَائِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ: دَعْوَةُ الْمَظْلُومِ، وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ، وَدَعْوَةُ الْوَالِدِ عَلَى وَلَدِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى الْحَجَّاجُ الصَّوَّافُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، نَحْوَ حَدِيثِ هِشَامٍ وَأَبُو جَعْفَرٍ الَّذِي رَوَى عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يُقَالُ لَهُ: أَبُو جَعْفَرٍ الْمُؤَذِّنُ، وَلَا نَعْرِفُ اسْمَهُ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ غَيْرَ حَدِيثٍ. (١)

ترجمه دابوهریره رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمانیلي دي دري دعاګاني داسي دي چي ډیر زر قبلیږي او په قبلیدو کي یي هیځ شك نشته یوه دمظلوم دعا ده او بله دمسافر دعا ده او بله دپلار دعا ده دخوي دپاره (یعني بنیري او ازار)

امام ترمذي وایي حجاج بن صواف هم دیحي بن ابي کثیر نه دهشام دحدیث هم معني روایت نقل کړي دي. ابوجعفر دابوهریره نه روایت نقل کړي دي او هغه په ابوجعفر مؤذن مشهور دي او مونږ ته یي نوم نه دي معلوم، او دهغوی نه یحي بن ابي کثیر ډیر روایتونه نقل کړي دي

لغات: مستجابات استجابه واستجاب له استجابة واستجوبة واستجوب استجوابا جواب ورکول. او دعاقبلول. جاب جوبا وتجوابا طي کول.

تشریح: په دي روایت کي تیر شول چي دري قسمه دعاګاني زر او ضرور قبلیدونکي دي یو دمظلوم خیري دي خکه چي دده په خیرو کي اخلاص زیات دی او په کومه دعا کي چي اخلاص زیات وي هغه زر قبلیږي دویمه دمسافر دعا ده چاچي دمسافر سره بنه سلوك اوکړو او مسافر ورته دعا اوکړي نو فورا قبلیږي لیکن که څوك مسافر ته تکلیف اورسوي او هغه ورته خیري اوکړي نو دا هم زر قبلیږي، دریم په دي کي خیري کول دپلار دي بچي خپل ته په دي حدیث کي دوالد لفظ راغلی دی په یو بل کي دوالده لفظ هم راغلی دی

د مور خیري خو ډیري زر قبلیږي خکه چي دمور حق په اولاد دپلار دحق نه هم زیات وي

****

٨_ باب مَا جَاءَ فِي حَقِّ الْوَالِدَيْنِ

په اولاد باندي دمور او پلار دحق بیان

---

١ سنن ابي داود الصلاة ٣٦ (١٥٣٦) سنن ابن ماجه_ الدعاء ١١ (٣٨٦٢) ويأتي عند المؤلف في الدعوات ٤٨ (٣٤٤٨) (تحفة الأشراف: ١٥٨٤٣) و مسند احمد (٢_ ٢٥٨، ٤٧٨، ٥٢٣)

١٩٠٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ مُوسَى، أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَجْزِي وَلَدٌ وَالِدًا إِلَّا أَنْ يَجِدَهُ مَمْلُوكًا فَيَشْتَرِيَهُ فَيُعْتِقَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، وَقَدْ رَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ هَذَا الْحَدِيثَ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي هيڅ يو هلك دخپل پلار احسان نشي اداء كولي مګر علاوه ددينه چي خپل پلار دغلامۍ په حالت كي اووينې او په قيمت يي واخلي او ازاد يي كړي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی او مونږ يي صرف د ابو صالح په سند پيژنو ، دارنګي دا حديث سفيان ثوري او نورو متعددو محدثينو د سهيل بن ابي صالح نه هم نقل كړی دی.

****

٩_ باب مَا جَاءَ فِي قَطِيعَةِ الرَّحِمِ

په صله رحمۍ قطع كولو دوعيد بيان

١٩٠٧_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: اشْتَكَى أَبُو الرَّدَّادِ اللَّيْثِيُّ، فَعَادَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ، فَقَالَ: خَيْرُهُمْ وَأَوْصَلُهُمْ مَا عَلِمْتُ أَبَا مُحَمَّدٍ، فَقَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: قَالَ اللَّهُ: "أَنَا اللَّهُ، وَأَنَا الرَّحْمَنُ، خَلَقْتُ الرَّحِمَ، وَشَقَقْتُ لَهَا مِنَ اسْمِي، فَمَنْ وَصَلَهَا وَصَلْتُهُ، وَمَنْ قَطَعَهَا بَتَتُّهُ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ أَبِي أَوْفَى، وَعَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَجُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سُفْيَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى مَعْمَرٌ هَذَا الْحَدِيثَ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ رَدَّادٍ اللَّيْثِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَمَعْمَرٌ كَذَا يَقُولُ: قَالَ مُحَمَّدٌ، وَحَدِيثُ مَعْمَرٍ خَطَأٌ. (2)

---

1 صحيح مسلم_ العتق ٦ (١٥١٠) . سنن ابن ماجه_ الدعاء ١١ (٣٦٥٩) (تحفة الأشراف : ١٢٥٩٥) . و مسند احمد (٢_ ٢٣٠، ٢٦٣، ٣٧٦، ٤٤٥)

2 سنن ابي داود_ الزكاة ٢٦ (١٦٩٤) (تحفة الأشراف : ٩٧٢٨) . و مسند احمد (١_ ١٩١، ١٩٤)

ترجمه دابوسلمه بيان دي فرمائي چي ابو الرداد الليثي بيمار شو او عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه يي عيادت ته ورغلو ابوالرداد اوونيل زما دعلم مطابق ابومحمد (عبدالرحمن بن عوف) په خلقو كي دهر چا نه ښه صله رحمي كونكي دي عبدالرحمن بن عوف اوونيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي چي الله تعالي فرمائي زه الله يم، زه رحمان يم، او رحم ماپيداكړي دي، او درحم دپاره مي نوم دخپل نوم (رحمن) نه ايخودلي مشتق كړي) دي څوك چي دي لره پيوست كوي زه به هغه لره دخپل رحمت سره پيوست كړم او څوك چي دا قطع كوي زه به يي دخپل رحمت نه قطع كړم.

امام ترمذي وايي په دي باب كي دابوسعيد خدري، ابن ابي اوفي، عامر بن ربيعه، ابوهريره، او جبير بن مطعم رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، دزهري قول دي چي دسفيان حديث صحيح دي، معمر داحديث دزهري نه عن ابي سلمة عن رداد الليثي عن عبدالرحمن بن عوف د معمرو په سند سره نقل كړي دي معمر هم داسي سند بيان كړي دي امام بخاري وائي معمر په دي حديث كي خطاء شوي دي (او په دواړو سندونو كي فرق واضح دي).

تشريح د صله رحمي متعلق په دين اسلام كي ډير زيات تاكيدات وارد دي چي حد دتواتر ته رسيدلي دي د سورت النساء په اولني ايت كي ارشاد الهي دى

وَاتَّقُوا اللهَ الَّذِيْ تَسَاءَلُوْنَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ. يعني دالله نه اويريږئ، ځكه چه دي رب دي اوځكه چه تاسوني په عجيب طريقي سره پيدا كړي يئ، اوبدي وجه چه دده تمام صفات كامل دي، اوبدي وجه چه دده ذات واجب الخشية اومستحق داطاعت دي.هغه ذات دي دچاپه مخ اوپه نوم باندي چه تاسو ديوبل نه سوال كوئ، دا د راروانو دوه حكمونو دپاره تمهيد دي چه درشته دارئ پيوست ساتلو حكم دي اودويم دحقوق العباد داداكولو حكم دي.اودرشته دارئ (دپريكولودګناه نه اويريږئ)

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي رحم دعرش سره زوړند دي او اوازونه كوي چه خبردار څوك چه ما لره پيوست وساتي الله تعالي دي هغه لره دخپل خان سره پيوست كړي اوڅوك چه مالره كټ كړي نوهغه لره دي الله تعالي دخپل خان نه قطع كړي . ياكلام خبري دي اومعني پدي صورت كي داده چه څوك ما لره پيوست وساتي الله تعالي به ني دخپل خان سره پيوست وساتي اوڅوك چه مالره كټ كړي نوهغه لره به الله تعالي دخپل خان نه قطع كړي. متفق عليه.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي. الله تعالي چه مخلوق پيدا كړو نورحم ودريدو اود الله تعالي لمن ني ونيوله الله تعالي اوفرمائيل

افسوس ، رحم عرض وکړو دا مقام دهغه چادي ځوك چه دقطع کولو نه ستا پناه غواړي الله تعالي اوفرمائيل ايا تاسو پدي باندي راضي نه يئ چه ځوك تالره پيوست وساتي زه به هغه لره پيوست کړم اوځوك چه تالره قطع کوي چه زه هم هغه لره قطع کړم رحم ووئيل بيشکه اي زما ربه زه پدي باندي راضي يم، الله تعالي اوفرمائيل ته به همداسي ئي

دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي صله رحمي کونکي هغه ندي ځوك چه په برابري بدله ورکوي بلکه صله رحمي پالونکي هغه ځوك دي چه دده سره رشته قطع کړي شي اودي ئي بيا هم پالي (رواه البخاري)

د انس رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ځوك چه داخوښوي چه دده رزق دي پراخه کړي شي اوپه عمر کي ئي برکت واچولي شي نوصله رحمي دي وپالي (متفق عليه)

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه يو کس عرض وکړو يا رسول الله زما څه رشته داران دي زه ورسره رشته داري پيوستوم اوهغوي ئي کټ کوي ، زه ورسره نيکياني کوم اوهغوي راسره بد کوي زه دهغوي نقصانات برداشت کوم اوهغوي جهالت کوي نبي صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که چري ته همداسي ئي لکه چه دي ووئيل نوګوياکي داسي ده لکه چه ته په هغوي باندي خاوري اړوي اوترڅوچه ته پدي حالت باندي قائم يې نو دالله دطرف نه يو غيبي مددګاربه ستاسره ددوي په مقابله کي وي (رواه مسلم)

****

۱۰ـ باب مَا جَاءَ فِي صِلَةِ الرَّحِمِ

دصله رحمئ کولو بيان

۱۹۰۸ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. حَدَّثَنَا بَشِيرٌ أَبُو إِسْمَاعِيلَ. وَفِطْرُ بْنُ خَلِيفَةَ. عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ، وَلَكِنَّ الْوَاصِلَ الَّذِي إِذَا انْقَطَعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي الْبَابِ عَنْ سَلْمَانَ. وَعَائِشَةَ. وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. (1)

ترجمه دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي صله رحمي کونکي هغه ځوك نه دي ځوك چي بدله اداء کړي بلکه حقيقي صله

1 صحيح البخاري الأدب ۱۵ (۵۹۹۱) . سنن ابي داود_الزكاة ۴۵ (۱۶۹۷) (تحفة الأشراف : ۸۹۱۵) . و مسند احمد (۲ ۱۶۳ . ۱۹۰ . ۱۹۳)

رحمي کونکي هغه څوك دي چي درشتي کټ کيدو نه پس هم صله رحمي جاري ساتي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي د سلمان، عائشه، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

لغات: المكافي كافي يكافي مكافاة دباب مفاعله نه د چا سره په کوم کار کي مدد کولو ته ونيلي شي، كفا دفتح نه په معني دګرخيدو دي، اودشکست خوړلو دي

دصله رحمي والا سره خوصله رحمي کول بدله ورکول دي

تشريح : داخبره واضحه ده چي که څوك درسره نيکه معامله وکړي نو ته هم ورسره دغه شان نيکه معامله وکړه خو که څوك درسره صله رحمي او رشته داري قطع کوي نو ته به يي ورسره نه قطع کوي.

همدا وجه ده چي په يو روايت کي راغلي دي چي رسول الله خطاب اوفرمائيلو چي ايا زه تاسو ته ددنيا او اخرت بهترين اخلاق اوښايم صحابه کرامو عرض وکړو چي ضرور يي وښايه نو ورته يي اوفرمائيل څوك چي پتاسو ظلم کوي تاسو ورته معافي کوئ څوك چي درته څه نه درکوي تاسو به ورته ورکوي څوك چي درسره تعلقات ختموي تاسو به يي ورسره نه ختموئ صله رحمي به ورسره کوئ

درمنثور دا ارشاد نبوي نقل کړي دي چي که څوك دا خوښوي چي دقيامت په ورځ دده لوړ محلونه وي او لوړي لوړي درجي ورته ملاو شي نو ده لره پکار دي چي څوك ورباندي ظلم کوي دی ورته معافي وکړي اوڅوك چي دي محروموي دی ورباندي احسان وکړي اوڅوك چي ورسره تعلقات ختموي دی يي ورسره ختم نکړي

****

١٩٠٩ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، وَنَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، قَالُوا: حَدَّثَنَا، سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ"، قَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ: قَالَ سُفْيَانُ: يَعْنِي قَاطِعَ رَحِمٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه جبير بن مطعم رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي رشته ختمونکي او ماتونکي جنت ته داخليدي نشي

---

1 صحيح البخاري ـ الأدب ١١ (٥٩٨٤) . صحيح مسلم ـ البر والصلة ٦ (٢٥٥٦) . سنن ابي داود ـ الزكاة ٤٥ (١٦٩٦) (تحفة الأشراف: ٣١٩٠) . و مسند احمد (٤ـ ٨٠، ٨٣، ٨٤، ٨٥)

امام ترمذي وايي ابن ابي عمر وائي سفيان قول دي دقاطع نه مراد قاطع درحم دي يعني رشته ختمونكي امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي

لغات : قاطع قطع دفتح نه په معني دقطع كونكي دي لكه چي وئيلي شي قطعه عن حقه يعني دخپل حق نه يي منع كړو.

تشريح : "لايدخل الجنة قاطع" يعني صله رحمي كټ كونكى به جنت ته داخل نه شي. دلته دا سوال دى چي صله رحمي كټ كونكى خو دكبيره ګناه مرتكب دى مګر ايمان والاخو به جنت ته داخليږي په صله رحمئ كټ كولو خو څوك نه كافر كيږي امام نووي ددي په جواب كي ليكلي دي چي هغه صله رحمي كټ كونكى جنت ته نشي داخليدى څوك چي صله رحمي كټ كول جائز اوګڼي يادډي مطلب دادى چي په اولين نجات يافته خلقوكې شامليدى نشي.

دجبير بن مطعم رضي الله عنه مختصر مناقب

نام جبير كنيه ابو محمد اودپلار نوم يي معلم قريشي وو ، دصحيح قول مطابق جبير دصلح حديبيه او فتح مكي په درمياني زمانه كي مسلمان شوي وو (الاصابه)

په غزوه حنين كي شريك شو اوپه واپسئ كي درسول الله سره يو خاي وو(مسند احمد ۴ج/۸۴)

جبير دعلم الانساب لوي عالم او تجربه كار وو چي د ابوبكر صديق رضي الله عنه نه يي دا علم حاصل كړي وو ، عمر فاروق رضي الله عنه چي به كله تحقيقاتو كولو ته مجبور شو نودده دعلم نه به يي استفاده كوله ، جبير اګرچي دقوم سردار هم وو ليكن دتكبر دشائبي نه بلكل پاك وو ، دقريشو په حكيم ترينو خلقو كي شميرلي شو ،اوپه ۵۷ هجري كي په مدينه طيبه كي وفات شو(اسد الغابه)

****

١١_ باب مَا جَاءَ فِي حُبِّ الْوَلَدِ

داولاد سره دمحبت كولو بيان

١٩١٠_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مَيْسَرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي سُوَيْدٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ، يَقُولُ: زَعَمَتِ الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ خَوْلَةُ بِنْتُ حَكِيمٍ. قَالَتْ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ وَهُوَ مُحْتَضِنٌ أَحَدَ ابْنَيِ ابْنَتِهِ. وَهُوَ يَقُولُ: " إِنَّكُمْ لَتُبَخِّلُونَ. وَتُجَبِّنُونَ، وَتُجَهِّلُونَ، وَإِنَّكُمْ لَمِنْ رَيْحَانِ اللَّهِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ. وَالأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُيَيْنَةَ. عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مَيْسَرَةَ لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِهِ،

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "وَيَعْرِفُ حَقَّ كَبِيرِنَا".([1])

ترجمه : په دي سند هم دمحمد بن اسحاق دماقبل هم معني روايت مروي دي مگر دمحمد بن اسحاق په روايت کي دا الفاظ دي "ويعرف حق کبيرنا".

****

۱۹۲۱_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا، وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا، وَيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ، وَيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَحَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ أَيْضًا. قَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: مَعْنَى قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا، يَقُولُ: لَيْسَ مِنْ سُنَّتِنَا، لَيْسَ مِنْ أَدَبِنَا، وَقَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: كَانَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ يُنْكِرُ هَذَا التَّفْسِيرَ: لَيْسَ مِنَّا، يَقُولُ: لَيْسَ مِلَّتِنَا. ([2])

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي هغه کس زمونږ نه نه دي څوك چي زمونږ په ماشومانو شفقت اونکړي او زمونږ دمشرانو عزت اونکړي او دنيکئ په کارونو حکم اونکړي او دبدو کارونو نه منع کول اونکړي.
امام ترمذي وايي : داحديث حسن غريب دي او دعمرو بن شعيب حديث دمحمد بن اسحاق په واسطه صحيح دي، دعبدالله بن عمرو نه دا حديث په نورو سندونو هم مروي دي بعضي اهل علم وائي درسول الله ددي قول "ليس منا" مطلب دادي ليس من سنة ليس من ادبنا، يعني دا کس زمونږ په طريقه نه دي، علي بن مديني وائي يحي بن سعيد به دسفيان ثوري ددي تفسير ترديد کولو او ددې مفهوم به يي دا بيانولو چي د "ليس منا" نه مراد "ليس من ملتنا" دي يعني دي زمونږ ددين والانه دي.يعني په دين کي شامل نه دی

****

۱۶_ باب مَا جَاءَ فِي رَحْمَةِ النَّاسِ

په عامو خلقو دمهرباني کولو بيان

---

[1] _ سنن ابي داود_ الأدب ٦٦ (٤٩٤٣) (تحفة الأشراف ٨٦٩٠) و مسند احمد (٢_ ١٨٥، ٢٠٧)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٢٠٤)، و مسند احمد (١_ ٢٥٧)

حَسَنٌ صَحِيحٌ. (۱)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرماني چي اقرع بن حابس رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال کي اوليدو چي حسن يا حسين يي ښکلولو اقرع اووئيل زما لس خامن دي او ما چرته په دوئ کي يو هم کله نه دي ښکول کړي. رسول الله اوفرمائيل څوك چي رحم نه کوي په هغه به رحم اونه شي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي. او په دي باب کي دانس. او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

لغات: يرحم رحم يرحم رحمة دسمع نه مرحمة ورحما نرم دل كيدل مهربان كيدل . شفقت كول

تشريح: ددي روايت مفهوم دادی چي په ماشومانو شفقت كول او ښكلول يوه ضروري خبره ده څوك چي ددينه محروم وي او په خلقو شفقت نه کوي هغه به دالله درحمت نه محروم وي لکه چي په يو بل حديث کي راځي "ارحم من في الارض يرحمك من في السماء " او په يو بل حديث کي هم راځي ارحموا ترحموا واغفروا يغفرلكم.

****

١٣_ باب مَا جَاءَ فِي النَّفَقَةِ عَلَى الْبَنَاتِ وَالأَخَوَاتِ

دلونړو او خويندو دپرورش كولو دفضيلت بيان

١٩١٢_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لاَ يَكُونُ لأَحَدِكُمْ ثَلاَثُ بَنَاتٍ، أَوْ ثَلاَثُ أَخَوَاتٍ فَيُحْسِنُ إِلَيْهِنَّ إِلاَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَأَنَسٍ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ اسْمُهُ سَعْدُ بْنُ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ، وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ هُوَ سَعْدُ بْنُ مَالِكِ بْنِ وُهَيْبٍ، وَقَدْ زَادُوا فِي هَذَا الإِسْنَادِ رَجُلاً. (۱)

تخريج : سنن ابي داود_ الأدب ١٣٠ (٥١٤٧) (تحفة الأشراف : ٤٠٢١)

---

1 صحيح البخاري _ الأدب ١٨ (٥٩٩٣) . صحيح مسلم _ الفضائل ١٥ (٢٣١٨) . سنن ابي داود_ الأدب ١٥٦ (٥٢١٨) (تحفة الأشراف : ١٥٤٦) . و مسند احمد (٢_ ٢٢٨ . ٢٦٩)

2 صحيح البخاري_ الأدب ١٨ (٥٩٩٣) . صحيح مسلم_ الفضائل ١٥ (٢٣١٨) . سنن ابي داود_ الأدب ١٥٦ (٥٢١٨) (تحفة الأشراف . ١٥٤٦) . و مسند احمد (٢_ ٢٢٨ . ٢٦٩)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په تاسو كي چي دچا دري لونړي يا دري خويندي دي او دي دهغوئ سره ښه سلوك كوي نو داسي كس به جنت ته ضرور داخل شي
امام ترمذي وايي دابوسعيد خدري نوم سعد بن مالك بن سنان دي او دسعد بن ابي وقاص نوم سعد بن مالك بن وهيب دي ددي حديث په بل سند كي راويانو سعيد بن عبدالرحمن او ابوسعيد په مينځ كي) يو بل راوي (ايوب بن بشر) داخل كړي دي، او په دي باب كي دعائشه، عقبي بن عامر، انس، جابر، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

١٩١٣_حَدَّثَنَا العَلَاءُ بْنُ مَسْلَمَةَ البَغْدَادِيُّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ المَجِيدِ بْنُ عَبْدِ العَزِيزِ. عَنْ مَعْمَرٍ. عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ ابْتُلِيَ بِشَيْءٍ مِنَ البَنَاتِ فَصَبَرَ عَلَيْهِنَّ كُنَّ لَهُ حِجَابًا مِنَ النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي دلونړو په پرورش كي مشغول وي او بيا دهغوئ په پرورش كولو كي په راغلو مصيبتونو صبر اوكړي نو دا تولي جينكۍ به دده دپاره دجهنم نه حائل او پرده اوګرځي
امام ترمذي وايي داحديث حسن دي

****

١٩١٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ وَزِيرٍ الوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ هُوَ الطَّنَافِسِيُّ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ العَزِيزِ الرَّاسِبِيُّ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ دَخَلْتُ أَنَا وَهُوَ الجَنَّةَ كَهَاتَيْنِ" وَأَشَارَ بِأُصْبُعَيْهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ. وَقَدْ رَوَى مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ العَزِيزِ غَيْرَ حَدِيثٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَقَالَ: عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَنَسٍ، وَالصَّحِيحُ: هُوَ عُبَيْدُ اللهِ بْنُ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَسٍ. (2)

1 صحيح البخاري . الزكاة ١٠ (١٤١٨) والأدب ١٨ (٥٩٩٥) . صحيح مسلم البر والصلة ٤٦ (٢٦٢٩) كلاهما مع ذ . القصة المشهورة في رقم ١٩١٥ . و مسند احمد (٦_ ٣٣ . ٨٨ . ١٦٦ ٢٤٣) . ويأتي عند المؤلف برقم ١٩١٥

2 صحيح مسلم_ البر والصلة ٤٦ (٢٦٣١)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي د دوه لونړو كفالت اوكړو نو زه او هغه به جنت ته داسي داخليږو او رسول الله د كيفيت خودلو دپاره پخپلو دوه ګوتو ،يعني دشهادت او مينځنۍ، ګوته باندي اشاره اوكړه.
امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن غريب دي. محمد بن عبيد دمحمد بن عبدالعزيز په واسطه په همدي سند يو څو احاديث نقل كړي دي او دسند بيانولو په حال كي وائي "عن ابي بكر عبيدالله بن انس" او حال دادي چي صحيح داسي دي "عن عبيدالله بن ابي بكر بن انس".

تشريح: "من عال جاريتين" يعني چاچي ددوه جينكو پرورش اوكړو ، څوك چي ددوه جينكو صحيح پرورش اوكړي دلته دهغوئ فضيلت بيانولى شي چي په جنت كي به درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوځاي وي.
دجينكو په پرورش كولو دا فضيلت ولي وركړى شوى دى؟ ددي يو څو جوابات كيدى شي مثلا كله چي په جينئ پيدا شوه نو خلقو به ښه نه ګڼړله وئيلى كيدل به چي دا يو امتحان دى په دي باندي دصبر كولو په وجه دا انعام ملاويږي ددي سره سره دا خبره هم ده چي دجينكو دپرورش كولو سره سره دوئ بيا دبل چا كور ته ځي او چاته تري فائده نه رسي په خلاف دهلكانو چي دوئ خو به هميشه درسره وي.

****

١٩١٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرِ بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: دَخَلَتِ امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا فَسَأَلَتْ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ، فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا، وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ، فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ ابْتُلِيَ بِشَيْءٍ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي زما خواته يوه ښځه راغله او دهغي سره خپلي دوه لونړه ورسره وي هغي دخوراك دپاره زما نه څه اوغوښتل خو زما سره ديوي كجوري نه علاوه نور هيڅ نه وو چنانچي ما ورته همدا وركړه دي ښځي دا كجوره پخپله اونه خوړله او پخپلو دوه لونړو يي تقسيم كړه او بيا پاڅيدله او روانه شوه ددينه پس نبي كريم صلي الله عليه

---

1 أنظر حديث رقم ١٩١٣ (تحفة الأشراف : ١٦٣٥٠)

وسلم زما خواته تشريف راوړو نو ما ورته دا واقعه بيان کړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوك چي د لوڼړو په پرورش کي مبتلا او مشغول وي دوئ به دهغه دپاره دجهنم نه پرده جوړيږي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

لغات: ابتلي ، دنصر نه په معني دازمائش کولودي

تشريح: دجهالت په زمانه کې چي به دجينکو په پيدائش دځومره نفرت او ناخوښي اظهار کيدو هغه دهر چا په وړاندي شريعت بيان کړي دي او ددوئ په مقابل کې به دهلکانو عزت ته زور ورکولی شو په دي سلسله کې په متعددو روايتونو کې دداسي عمل مذمت بيان کړی شوی دی په پورتني حديث کي دجاهليت دزماني درسم استيصال (ترديد) شوی دی او دا حکم شوی دی چي څوك دجينکو پرورش اوکړي او صحيح تعليم ورته ورکړي نو دا به دده دپاره داخروي نجات سبب اوګرځي اوصرف نجات نه بلکه درسول الله ملګرتيا به يي نصيب شي لکه څنګه چي دمخکني حديث نه معلومه شوه.

"من ابتلي من هذه البنات" يعني څوك چي دجينکو په سبب اوه ازمائيلی شو . امام نووي په شرح دمسلم کې ليکلي دي دلته دجينکو پيدائش خکه ازمائش ګڼړلی شوی دی چي په عربو کې به ددوئ پيدائش بنه نه ګڼړلی کيدل لکه چي دقران کريم نه هم معلوميږي

"واذا بشر احدکم بالانثي ظل وجهه مسود وهو کظيم".

****

١٩١٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ بَشِيرٍ، عَنْ سَعِيدٍ الأَعْشَى، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ، أَوْ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ، أَوِ ابْنَتَانِ، أَوْ أُخْتَانِ، فَأَحْسَنَ صُحْبَتَهُنَّ، وَاتَّقَى اللهَ فِيهِنَّ فَلَهُ الْجَنَّةُ». قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچا چي دري لوڼړه وي يا دري خويندي وي يا دوه لوڼړه يا دوه خويندي وي او دي دهغي سره بنه سلوك کوي او ددوئ دحقوقو باره کي دالله نه ويريږي نو دده دپاره جنت دي.

امام ترمذي وايي داحديث غريب دئ

---

[1] - انظر حديث رقم ١١٢ (تحفة الأشراف : ١٠٨٢)

****

١٤_ باب مَا جَاءَ فِي رَحْمَةِ الْيَتِيمِ وَكَفَالَتِهِ

په يتيم باندي دمهرباني كولو او دده دكفالت بيان

١٩١٧_ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ، عَنْ حَنَشٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ قَبَضَ يَتِيمًا بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَى طَعَامِهِ وَشَرَابِهِ أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ الْبَتَّةَ إِلَّا أَنْ يَعْمَلَ ذَنْبًا لَا يُغْفَرُ لَهُ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ مُرَّةَ الْفِهْرِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَنَشٌ هُوَ حُسَيْنُ بْنُ قَيْسٍ وَهُوَ أَبُو عَلِيٍّ الرَّحَبِيُّ، وَسُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ، يَقُولُ: حَنَشٌ، وَهُوَ ضَعِيفٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ. ([1])

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي كوم مسلمان يتيم دخان سره اوساتي او خوراك څښناك ورباندي اوكړي يقينا چي الله تعالي به داسي كس جنت ته داخلوي مګر علاوه دهغه چا نه څوك چي داسي ګناه اوكړي كومه چي دمغفرت قابل نه وي (لكه شرك).

امام ترمذي وايي . دحنش نوم حسين بن قيس دي او اسم كنيه يي ابوعلي رجي ده، سليمان تيمي وائي داحديث دمحدثينوپه نزد ضعيف دي، او په دي باب كي د مره فهري، ابوهريره، او ابوامامه او سهل بن سعد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

١٩١٨_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عِمْرَانَ أَبُو الْقَاسِمِ الْمَكِّيُّ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ " وَأَشَارَ بِأُصْبُعَيْهِ، يَعْنِي: السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطَى، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه دسهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ـ ٦٠٢٤)

[2] صحيح البخاري ـ الطلاق ٥٠ (٥٣٠٤)، والأدب ٢٤ (٦٠٠٥)، سنن ابي داود الأدب ١٣١ (٥١٥٠) (تحفة الاشراف ٤٧١٠) و مسند احمد (٥ـ ٣٣٣)

وسلم اوفرمائیل خه اودیتیم کفالت کونکی به په جنت کې دامې برابر یو، او رسول الله صلي الله علیه وسلم په مسواکی او مینځنۍ ګوتی اشاره اوکړه

امام ترمذي وايي داحدیث حسن صحیح دي

لغات: کافل پرورش او کفالت کونکي کفل کفلا دنصر نه کفالة دنان نفقي ذمه وار کيدل فرج جدا کيدل فرج فرجا دضرب نه پرانستل

تشریح: "كافل اليتيم" دیتیم دکارونو نګران او انتظام کونکی

"انا وكافل اليتيم" يعني زه او ديتيم پرورش کونکی. په یو بل روايت کې راغلي دي "كافل اليتيم له اولیغیره" يعني چي دا يتيم دده رشته دار وي او که غیر رشته دار وي په دواړه حالتونو کې به دا فضیلت ده ته حاصل وي

"اشاره بالسبابة والوسطي" يعني رسول الله د شهادت او مینځنۍ ګوته اشاره اوکړه په دي کې دي خبري ته اشاره ده چي په جنت کې به زما او دیتیم دپرورش کونکي په مینځ کې دومره نږدي علاقه وي څومره چي ددي دوه ګوتو په مينځ کې ده

دبعضي محدثينو قول دی رسول الله چي ددوه ګوتو په مینځ کې فاصله اوکړه په دي کې یې دیته اشاره کوله چي دنبوت کومه درجه ده هغه سقاوت کولو ته نژدي ده او سخاوت کونکي خلق دالله تعالي ډیر خوښ وي

****

١٥ــ باب مَا جَاءَ فِي رَحْمَةِ الصِّبْيَانِ

په ماشومانو دمهربانۍ کولو بیان

١٩١٩ــ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَرْزُوقٍ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ وَاقِدٍ، عَنْ زَرْبِيٍّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: جَاءَ شَيْخٌ يُرِيدُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَبْطَأَ القَوْمُ عَنْهُ أَنْ يُوَسِّعُوا لَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا، وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا». قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي أُمَامَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَزَرْبِيٌّ لَهُ أَحَادِيثُ مَنَاكِيرُ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَغَيْرِهِ. [1]

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يو بوډا راغي او رسول الله صلي الله علیه وسلم سره یې ملاویدل غوښتل خلقو ده ته په لار ورکولو کي تاخیر اوکړو رسول الله

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ٨٣٩)

صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه کس زمونږ نه نه دي څوك چي زمونږ په ماشومانو مهرباني نه کوي او زمونږه مشرانو عزت نه کوي
امام ترمذي وايي داحديث غريب دي زربي راوي دانس بن مالك نه او نورو صحابه کرامو نه متعدد منكر احاديث نقل کړي دي، او په دي باب کي دعبدالله بن عمر، ابوهريره، ابن عباس، او ابوامامه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

تشريح: من لم يرحم صغيرنا، يعني څوك چي زمونږ په ماشومانو رحم نه کوي، په يو بل روايت کي راځي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره څوك صحابي موجود وو چي دماشومانوسره ي شفقت کولو هغه اووئيل زما خو دومره دومره بچي دي زه خو ورسره دومره شفقت نه کوم نو په دي وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه خو دماشومانو سره شفقت کوم ستا دزړه نه خو الله رحم ويستلی دی.

****

١٩٢٠_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا، وَيَعْرِفْ شَرَفَ كَبِيرِنَا ".[1]

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هغه کس زمونږ نه نه دي څوك چي زمونږ په ماشومانو شفقت اونکړي او زمونږ دمشرانو مقام اونه پيژني

تشريح: ولم يعرف کبيرنا، يعني چي زمونږ دمشرانو عزت او شرف نه پيژني، شريعت دا تعليم ورکوي چي دوارو ته يوبل داحترام کولو حکم دی ماشوم ته دا وئيلی شوي دي چي دمشرانو اکرام کوئ او مشرانو ته دا وئيلی شوي دي چي په کشرانو شفقت کوئ يعني هر يو به دبل خيال ساتي بيا به ددي په سبب يوه پاکه معاشره جوړه شي
ليس منا يعني دمسلمانانو په طريقه باندي نه دی يعني دمسلمانانوطريقه دا وه چي په کشرانو شفقت اوشي او دمشرانو ادب اوشي او دا ددي په خلاف دی

****

[1] سنن ابي داود_الأدب ٦٦ (٤٩٤٣) (تحفة الأشراف: ٨٨٤٩)، و مسند احمد (٢_١٨٥، ٢٠٧)

لغات كربة ـ الكرب معني غمونه

ستر سترا دنصر او ضرب نه په معني سرپوخ كولو اوبندولو

تشريح: وَمَنْ نفَّسَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً . نفس اللهُ عَنْهُ بها كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَومِ القِيَامَةِ . يعني څوك چي ديومسلمان نه څه تكليف لري كري نوددي په وجه به الله تعالي دده نه په قيامت كي تكليف لري كري كه په دنيا كي څوك دچانه دتكليف لري كولو كوشش وكري نو الله تعالي به ده لره په هغه سخته ورځ كي بې مدده پري نه ږدي اودده پريشانياني به ختمي كړي

وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِماً سَتَرَهُ اللهُ يَومَ القِيَامَةِ. يعني چاكه ديومسلمان پرده اوساتله نودقيامت په ورځ به الله تعالي په ده باندي پرده واچوي يعني دده نقصانونه به دمحشر په ورځ ښكاره نكړي اونه به ورسره حساب اوكري اوعمل نامه به ورته دپيشي په وخت كي پټه وركړي ، ليكن دحديث دراويانو اودگواهانو تحقيق اواهل علمو خيالات ظاهرول صرف جائز نه بلكه واجب دي ځكه چي په دي طريقي سره ددين اوعلم حفاظت او دخلقو دحقوقو نگهباني كيږي

****

٢٠ــ بَاب مَا جَاءَ فِي الذَّبِّ عَنْ عِرْضِ الْمُسْلِمِ

ديومسلمان دعزت بچ كولو بيان

١٩٣١ــ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ النَّهْشَلِيِّ، عَنْ مَرْزُوقٍ أَبِي بَكْرٍ التَّيْمِيِّ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ، رَدَّ اللهُ عَنْ وَجْهِهِ النَّارَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([1])

ترجمه ابوالدرداء رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دخپل مسلمان رور دعزت حفاظت اوكرو (يعني بل يې دهغه دغيبت نه منع كړو الله تعالي به دى دقيامت په ورځ داور نه بچ كړي امام ترمذي روايت كړى دى اوحديث حسن صحيح يې ورته وئيلى دى

لغات: النار معني اور جمع يې نيران ده ، نار ينور نورا معني روښانه كيدل ، نار دجهنم په معني هم استعمال شوي دي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٩٩٥) (وانظر حم: ٦ـ ٤٤٩، ٤٥٠)

١٩٢٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ أَبِي خَالِدٍ، حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ لَا يَرْحَمُهُ اللَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. [1]

ترجمه دجرير بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي په خلقو رحم نه كوي الله تعالي په هغه رحم نه كوي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعبدالرحمن بن عوف. ابوسعيد خدري، ابن عمر، ابوهريره، او عبدالله بن عمرو رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح: "من لا يرحم الناس لا يرحمه الله" څوك چي په خلقو رحم نه كوي الله تعالي په هغه باندي رحم نه كوي دالله تعالي دمخلوق سره درحم او كرم معامله كول دالله تعالي بي حده خوښ دي صرف دانسانانو سره نه بلكه دخناورو او ښاروو سره هم درحم كولو حكم دى هم ددي رحم په وجه الله تعالي خوشحاله شي او پخپل بنده باندي رحم كوي په دي حديث كي صرف د الناس ذكر دى ددي دخصوصيت په بنا ورنه په دي كي حيوانات او مرغۍ او ځريدونكي ټول داخل دي.

ددي مضمون مطابق يو څو احاديث

په دي موضوع متعدد احاديث وارد دي او دا مضمون په ډيرو احاديثو كي راغلى دى مثلا من لم يرحم المسلمين لم يرحمه الله . يعني څوك چي په مسلمانانو رحم نه كوي الله تعالي په هغه باندي رحم نه كوي من لايرحم من في الارض لايرحمه من في السماء. يعني څوك چي په زمكي والا رحم نه كوي نو اسمان والا په هغه باندي رحم نه كوي، ارحموا من في الارض يرحمكم من في السماء يعني رحم اوكړئ دزمكي والا باندي رحم به اوكړي په تاسو داسمان والا ، ارحم من في الارض يرحمك من في السماء ، يعني رحم اوكړه په زمكي والا چي رحم درباندي اوكړي داسمان والا محدثين وائي چي څوك څنګه په دنيا كي كوي الله تعالي به هم هغه شان بدله په قيامت كي وركوي لكه چي ارشاد الهي دى هل جزاء الاحسان الاالاحسان يعني داحسان بدله احسان

[1] _ صحيح البخاري_ التوحيد ٢ (٧٣٧٦) (وانظر أيضا: الأدب ٢٧ (٦٠١٣) . صحيح مسلم_ الفضائل ١٥ (٢٣١٩) (تحفة الأشراف : ٣٢٢٨)

کول دي بعضي وائي څوك چي نيك اعمال اختيار كړي او رحم كوي نو الله تعالي به هم دقيامت په ورځ په ده باندي رحم اوكړي او دوزخ ته به يي داخل نكړي بعضي وائي كه څوك رحم كول غواړي صدقه دي وركړي چي الله تعالي ورباندي رحم اوكړي او په ده باندي راغلي مصيبت اسان كړي اوختم يي كړي

****

١٩٢٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: كَتَبَ بِهِ إِلَيَّ مَنْصُورٌ وَقَرَأْتُهُ عَلَيْهِ، سَمِعَ أَبَا عُثْمَانَ مَوْلَى الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلَّا مِنْ شَقِيٍّ". قَالَ: وَأَبُو عُثْمَانَ الَّذِي رَوَى عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ لَا يُعْرَفُ اسْمُهُ، وَيُقَالُ: هُوَ وَالِدُ مُوسَى بْنِ أَبِي عُثْمَانَ الَّذِي رَوَى عَنْهُ أَبُو الزِّنَادِ، وَقَدْ رَوَى أَبُو الزِّنَادِ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ حَدِيثٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما دابوالقاسم صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چي فرمائيل يي صرف دبدبخت سړي دزړه نه رحم ختميږي

امام ترمذي وايي : داحديث حسن دي كوم ابوعثمان چي دابوهريره دا حديث نقل كړي دي دهغه نوم معلوم نه دي دا هم ونيلي شوي دي دا دهغه موسي بن ابوعثمان پلار دي دچانه چي ابوالزناد روايت نقل كوي او ابو الزناد عن موسي بن ابي عثمان عن ابيه عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره ډير احاديث نقل كړي دي.

****

١٩٢٤ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي قَابُوسَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ، ارْحَمُوا مَنْ فِي الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ، الرَّحِمُ شُجْنَةٌ مِنَ الرَّحْمَنِ فَمَنْ وَصَلَهَا وَصَلَهُ اللَّهُ، وَمَنْ قَطَعَهَا قَطَعَهُ اللَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

دي الله تعالي په رحم کونکو خلقو رحم کوي تاسو په زمکي والارحم اوکړئ نو اسمان والا به په تاسو رحم اوکړي، رحم درحمن نه مشتق (وتلي) دي چاچي دي لره پيوست کړو الله تعالي به هغه لره دخپل رحمت سره پيوست کړي او چاچي دا مات کړو الله تعالي به دي دخپل رحمت نه کټ کړي.
امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.

****

١٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي النَّصِيحَةِ

دخيرخواهئ او ښيګړي کولو بيان

١٩٢٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "بَايَعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ"، قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دجرير بن عبدالله بجلي رضي الله عنه نه روايت دی چي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اقرار کړی دی په مونځ قايم ساتلو، زکواة ورکولو، اودهر مسلمان سره په خيرخواهئ کولو.
امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي

لغات: بايعت: بايع يبايع مبايعة معني معاهده کول يا د بيعي عقد کول ، يا عهد او پيمان کول.او په مجردو کې دباب ضرب نه دبيع او شراء دواړو په معني راځي.

تشريح: علماء وائي مونځ او زکواة په مالي عبادتونو کې ډير اهميت لري ځکه يي دا دواړه ذکر کړل ورنه په اصل کې تمام دين مراد دی لکه چي په يو بل روايت کې راغلي دي چي رسول الله دصحابه کرامو نه په دي خبره بيعت واخستو چي دوئ به اوريدل کوي او اطاعت به کوي.

****

١٩٢٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ

---

[1] ـ صحيح البخاري ـ الإيمان ٤٢ (٥٧) ، والمواقيت ٣ (٥٢٤) ، والزكاة ٢ (١٤٠١) ، والبيوع ٥٨ (٢١٥٧) ، والشروط ١ (٢٧١٤، ٢٧١٥) ، والأحكام ٤٣ (٧٢٠٤) ، صحيح مسلم ـ الإيمان ٢٣ (٥٦) ، سنن النسائي ـ البيعة ٦ (٤١٦١) ، و١٦ (٤١٧٠، ٤١٧١) و١٧ (٤١٨٢) و٢٣ (٤١٩٤) (تحفة الأشراف : ٣٢٢٦) ، ومسند احمد (٤ـ ٣٥٨، ٣٦١، ٣٦٤، ٣٦٥) ، وسنن الدارمي ـ البيوع ٩ (٢٥٨٢)

حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الدِّينُ النَّصِيحَةُ " ثَلَاثَ مِرَارٍ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لِمَنْ ؟ قَالَ: " لِلَّهِ، وَلِكِتَابِهِ، وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ، وَعَامَّتِهِمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي الْبَابِ عَنْ ابْنِ عُمَرَ، وَتَمِيمٍ الدَّارِيِّ، وَجَرِيرٍ، وَحَكِيمِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ، وَثَوْبَانَ. (1)

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دين دخيرخواهئ نوم دی مونږ عرض اوکړو د چا دپاره؟ ارشاد يې اوفرمائيلو الله دپاره، دهغه دكتاب دهغه درسول دمسلمانانو امير او د عامو مسلمانانو دپاره.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عمر، تميم الداري، جرير، حكيم بن ابي يزيد عن ابيه او ثوبان رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

تشريح: "الدين النصيحة" يعني دين دخير خواهئ نوم دي، علامه ابن حجر دابن دقيق العيد قول نقل کړي دي چي د النصيحة دترجمي کولو دپاره په تمامو عربو کي کوم لفظ نشته. علامه نووي وايي چي دا حديث دتمام دين خلاصه ده ځکه چي دنصيحت معني اخلاص دي اوپه کوم عمل کي چي اخلاص نه وي دالله په نزد دهغي څه حيثيت نشتا.

"لله" ددي مطلب دادي چي دايمان په ذات او صفاتو ايمان راوړي شي، اوهيڅوك ورسره شريك نکړي شي تمام اوامر په اخلاص سره ومنلي شي او تمامو نواهيوو نه اجتناب وکړي شي.

لكتابه؛ يعني چي دالله په کتاب ايمان راوړي شي او دا يقين وکړي چي داد الله دطرفه منزل دي او هيڅ تغير او تبديل پکې نشته، ولرسوله، يعني درسول دپاره ، درسول دپاره دخير خواهئ مطلب دادي چي درسول نبوت په اخلاص سره ومني.

ولرسوله، يعني درسول دپاره، دخير خواهئ مطلب دادي چي درسول نبوت دزړه په صدق سره ومني او اطاعت يي وکړي اودسنت سره يي محبت وکړي اود مور پلار نه ورته زيات محبوب بنكاره شي او په طريقو يي عمل هم وکړي.

ولائمة المسلمين، ددي مطلب دادي چي کوم خليفه دشريعت مطابق وي دهغه اطاعت وکړي او بغاوت ورنه ونکړي او که هغه دنيغي لاري نه اعراض وکړي نو په حکمت سره يي پوهه کړي وعامتهم، دعامو خلقو دخيراخواهئ مطلب دادي چي ددوئ داصلاح خيال وساتي اود نيکو خبرو تبليغ ورته وکړي، دحسد او بدو کارونو نه يي منع کړي ، غرض داچي هر مسلمان دي

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٨٦٣)

دبل مسلمان ددنيا او اخرت دنفع دپاره فکر مند او سي او د نقصان رسيدو نه دي يي بچ کړي علامه قطب الدين دهلوي وايي چي دا ايت دجوامع الکلم نه دي پدي کې تمامي کاميابياني او سعادتونه ددين او دنيا جمع شوي دي.

****

١٨_ باب مَا جَاءَ فِي شَفَقَةِ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ

په يومسلمان دبل مسلمان دشفقت کولو بيان

١٩٢٧_حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ أَسْبَاطِ بْنِ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَخُونُهُ وَلَا يَكْذِبُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ، كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، عِرْضُهُ وَمَالُهُ وَدَمُهُ، التَّقْوَى هَا هُنَا، بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْتَقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي أَيُّوبَ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي، مسلمان دمسلمان ورور دی نه به ورسره خيانت کوي نه به ورته دروغ واني او نه به يى رسوا کوي دمسلمان هر څيز په بل مسلمان حرام دى دهغه عزت ، دهغه مال، دهغه وينه. تقوي، دلته ده (او خپلي سيني ته يى اشاره اوکړه) بنده دپاره دابدي کافي ده چي بل مسلمان ورور نسپك اوګنړي

(دا حديث امام ترمذي روايت کړى دى او حديث حسن غريب يى ورته وئيلى دى او په دي باب کي د علي او ابو ايوب رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي).

لغات يخذله خذل خذلا د نصر نه معني بي مدده پريخودل

يحقر حقر حقرا دضرب نه معني سپك ګنړل

تشريح: ولا يخونه ، يعني خيانت به ورسره نه کوي، په قران کريم کې هم وارد دي ان الله لايحب الخائنين. او په يوبل مقام کې هم راغلي دي: ان الله لايهدي کيد الخائنين..

"ولا يكذبه" يعني نه به ورته دروغ وايي،

"حرام عليه عرضه وماله ودمه" يعني ديو مسلمان مال او خون په بل مسلمان باندي حرام دي

---

[1] _ صحيح مسلم_البر والصلة ١٠ (٢٥٦٤)، سنن ابن ماجه_الزهد ٢٣ (٤٢١٣) (تحفة الأشراف : ١٢٣١٩)

****

١٩٢٨_حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الخَلَّالُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ جَدِّهِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "المُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.
([1])

ترجمه دابوموسي اشعري رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يو مومن دبل مومن دپاره داسي دی لکه ابادي، چي يوه حصه يې بلی حصی راټينگه کړی وي او ديو لاس ګوتی مبارکی يی دبل لاس په ګوتو کې کلکی ورکړی وی
امام ترمذي وايي . داحديث حسن صحيح دي.

لغات كالبنيان:"ك" مصدري او تمثيلي دي په معني دعمارت سره
شبك يو شي په بل کې داخلول

تشريح: په دي حديث کښ مسلمانانو ته داجتماعيت ترغيب ورکړي شوي دي اود يو کور سره يې تشبيه ورکړي شوي ده چي هره يوه خښته يې دبلي دتقويت سبب وي نو همدارنګي هر مسلمان هم دبل دپاره متې او معاون او مدد ګار وي
بيا يې ددينه پس شبك بين اصابعه يعني ديو لاس ګوتې يې په بل کې ومندلي دپاره دپوهولو اشاره وه دي چي داسي متحد شئ چي لوي قوت درنه جوړ شي

****

١٩٢٩_حَدَّثَنِي أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ المُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَحَدَكُمْ مِرْآةُ أَخِيهِ، فَإِنْ رَأَى بِهِ أَذًى فَلْيُمِطْهُ عَنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَيَحْيَى بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ ضَعَّفَهُ شُعْبَةُ. قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَنَسٍ. ([2])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په

---

1 _ صحيح البخاري_ الصلاة ٨٨ (٤٨١) ، والمظالم ٥ (٢٤٤٦) ، والأدب ٣٦ (٦٠٢٦) . صحيح مسلم_ البر والصلة ١٧ (٢٥٨٥) . سنن النسائي_ الزكاة ٦٧ (٢٥٦١) (تحفة الأشراف : ٩٠٤٠) ، ومسند احمد (٤_٣٩٣)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٦٢١)

تاسو كي هر يو كس دخپل ورور دپاره ائينه ده كه چري دي پخپل ورور كي كوم داخلي نقصان اوگوري نو دا دي دده نه داطلاع په ذريعه لري كړي

امام ترمذي وايي شعبه ديحي بن عبيدالله تضعيف كړي دي، او په دي باب كي دانس رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

****

١٩_ باب مَا جَاءَ فِي السَّتْرِ عَلَى الْمُسْلِمِ

دمسلمان په عيب دپردي اچولو بيان

١٩٣٠_حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ أَسْبَاطِ بْنِ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنِ الأَعْمَشِ، قَالَ: حُدِّثْتُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ فِي الدُّنْيَا يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ عَلَى مُسْلِمٍ فِي الدُّنْيَا سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى أَبُو عَوَانَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ: حُدِّثْتُ عَنْ أَبِي صَالِحٍ. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دكوم مسلمان نه كوم دنيوي تكليف لري كړو الله تعالي به دده نه دقيامت په تكليفونو كي كوم تكليف لري كړي چاچي په دنيا كي دكوم تنگدست سره اساني اوكړه الله تعالي به دده سره په دنيا او اخرت دواړو كي اساني اوكړي، او چاچي په دنيا كي دكوم مسلمان په عيب (گناه) باندي پرده واچوله الله تعالي به په دنيا او اخرت كي دده دعيوبونو پرده پوشي اوكړي او څو پوري چي يو بنده دخپل ورور په مدد كي مشغول وي الله تعالي به تر هغي پوري دده مدد كوي.

امام ترمذي وايي . داحديث حسن دي، دا حديث ابو عوانه او متعدد و راويانو داعمش نه عن ابي صالح عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره دماقبل روايت هم معني نقل كړي دي ليكن په دي حديث كي "حدثت عن ابي صالح" الفاظ نشته. او په دي باب كي دابن عمر او عقبي بن عامر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

---

1 انظر حديث رقم ١٣٢٥

٢٦_ باب مَا جَاءَ فِي إِصْلاَحِ ذَاتِ الْبَيْنِ
پخپل مینځ کي د مصالحت کولو بیان

١٩٣٨_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ. عَنْ مَعْمَرٍ. عَنِ الزُّهْرِيِّ. عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أُمِّهِ أُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتِ عُقْبَةَ. قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَيْسَ بِالْكَاذِبِ مَنْ أَصْلَحَ بَيْنَ النَّاسِ فَقَالَ خَيْرًا أَوْ نَمَى خَيْرًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دام کلثوم بنت عقبه بن ابي معيط رضي الله عنها نه روايت دی چي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلی دی چي هغه کس دروغژن نه دی څوك چي دفريقينو مينځ کي ښه خبره د دروغو په طور اوکړي اويا ښه خبره نور هم زياته کړي
امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي
مثلا يو ته اووائي چي دفلاني په زړه کي تاته هيڅ هم نشته هغه خو ستا ډير تعريف کولو او حقيقت دهغې خلاف وي، دويم ته اووائي ته خامخا هغه باندي بدګمانه يې هغه خو ستا له طرفه ډير فکرمند دی ليکن هغه ته به کذاب نه وائي او نه به هغه دکذب دسزا لائق وي او دمسلم په روايت کي دا اضافه ده راويه وائي چي ما د دروغ ويونکي دروغو باندي درعايت کولو متعلق د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه د دريو موقعو مستثني کولو نه بغير نور هيڅ نه دي اوريدلي، جنګ جهګړه، د دوو مسلمانانو په مينځ کي صلح راوستل، دښځي خاوند خپل مينځ کي خبري (يعني دي کارونو کي که چري ضرورت پيښ شي نو انسان نيکي ارادی سره دروغ او دخانه خبره هم کولی شي، ددی مواخذه به انشاء الله نه وي)، (امام نووي رحمه الله)
لغات: اصلح ، صالح مصالحة دمفاعلي نه په معني دصلحي کولو اود کرم او فتح نه په معني ددرست کيدو سره دي

تشريح: "ليس بالكاذب" علامه طبري ليکلي دي چي په دي مقاماتو کي دروغ ويل جائز دي مګر نورو علماؤ ليکلي دي چي دروغ ويل په هر ځاي کي حرام دي او چرته چي د دروغ ويلو جواز معلوميږي هلته مراد توريه ده چي متکلم ته دروغ ښکاري او هغه په حقيقت کي دروغ نه وي لکه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم او ابوبکر رضي الله عنه دمکي نه مديني ته هجرت وکړو نو په لاره کي تري چا تپوس وکړو چي دا ملګري دي څوك دي ابوبکر رضي الله

---

1 صحيح البخاری_ الصلح ٢ (٢٦٩٢) صحيح مسلم ـ البر والصلة ـ ٢ (٢٦٠٥) ـ سنن ابي داود الأدب ٥٨ (٤٩٢٠)
(تحفة الأشراف: ١٨٣٥٣) . و مسند احمد (٦ ـ ٤٠٣)

تشريح: ددي حديث مطلب دادی که څوك په كوم مجلس كې دچا عيب بيانوي او دچاتوحين او عيبت كوي نو مجلس والا دي دهغه دفاء اوكړي او ورته دي اوواني چي دهغه لمن پاكه ده ددي حديث مفهوم په نورو روايتونو كې هم راغلی دی مثلا "من نصر اخاه المسلم بالغيب نصره الله في الدنيا والاخره".

او همدا رنګي په يو بل روايت كې هم راغلي دي "من ذب عن عرض اخيه بالغيبة كان حقا علي الله ان يعتقه من النار".

څوك چي دمسلمانانو دبي عزتئ نه خلق منع كوي نوګويا په الله تعالي باندي حق دی چي ده لره دجهنم نه بچ كړي همدا رنګي په يو روايت كې راغلي دي من حمي عرض اخيه في الدنيا بعث الله عز وجل ملكا يحميه عن النار يعني څوك چي په دنيا كې دخپل مسلمان ورور عزت بچ كوي الله تعالي به دقيامت په ورځ يوه فرشته دده سره ملګري كړي چي ده لره به دجهنم داور نه بچ كړي.

امام غزالي وائي الساكت شريك المعتاب، يعني كه څوك چپ پاتي شي نو دی هم د غيبت كونكي برابر ګنهګار دی اصل خبره خو داده چي غيبت كونكي لره منع كړي خو كه دمنع كولو طاقت نه لري نو پخپله خو دي ددي مجلس نه لاړ شي تردي چي په دي كبيره ګناه كې شريك نشي.

امام غزالي وائي الساكت شريك المغتاب. يعني د غيبت په اوريدو خاموشي كونكي د غيبت كونكي سره په ګناه كې شريك دی.

****

٢١ـ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْهَجْرِ لِلْمُسْلِمِ

ديو مسلمان دپريخودلو او دهغه نه دمخ اړولو دحرمت بيان

١٩٣٢ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ. ح قَالَ: وَحَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ، يَلْتَقِيَانِ فَيَصُدُّ هَذَا وَيَصُدُّ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَأَنَسٍ،

وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَهِشَامِ بْنِ عَامِرٍ، وَأَبِي هِنْدٍ الدَّارِيِّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه نه روايت دى رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يو مسلمان ته جائز نه دي چي دخپل مسلمان ورور سره درى ورځو نه زيات تعلق پريدي چي كله مخامخ شي دواړه نو كله ورنه يو مخ واړوي او كله ورنه دا بل مخ واړوي او بهتر په دواړو كي هغه دي كوم مخكي والي وكړي په سلام كولو باندي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن دي، او په دي باب كي دعبدالله بن مسعود، انس، ابوهريره، هشام بن عامر، او ابوهند داري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٢٢_باب مَا جَاءَ فِي مُوَاسَاةِ الأَخِ

ديو مسلمان ورور سره دمروت او غم خورئ او همدردئ كولو بيان

١٩٢٣_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ الْمَدِينَةَ، آخَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ، فَقَالَ لَهُ: هَلُمَّ أُقَاسِمْكَ مَالِي نِصْفَيْنِ، وَلِيَ امْرَأَتَانِ، فَأُطَلِّقُ إِحْدَاهُمَا فَإِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهَا فَتَزَوَّجْهَا، فَقَالَ: بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ، دُلُّونِي عَلَى السُّوقِ فَدَلُّوهُ عَلَى السُّوقِ فَمَا رَجَعَ يَوْمَئِذٍ إِلَّا وَمَعَهُ شَيْءٌ مِنْ أَقِطٍ وَسَمْنٍ قَدِ اسْتَفْضَلَهُ، فَرَآهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ وَعَلَيْهِ وَضَرٌ مِنْ صُفْرَةٍ، فَقَالَ: "مَهْيَمْ". قَالَ: تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ، قَالَ: "فَمَا أَصْدَقْتَهَا؟" قَالَ: نَوَاةً، قَالَ حُمَيْدٌ: أَوْ قَالَ: وَزْنَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ: "أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ؟". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: وَزْنُ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ وَزْنُ ثَلَاثَةِ دَرَاهِمَ وَثُلُثٍ، وَقَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ: وَزْنُ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ وَزْنُ خَمْسَةِ دَرَاهِمَ، سَمِعْتُ إِسْحَاقَ بْنَ مَنْصُورٍ يَذْكُرُ عَنْهُمَا هَذَا. (2)

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي هر كله چي عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه هجرت اوكړو او مديني ته راغي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دده او دسعد بن ربيع په

---

1 _ صحيح البخاري_ الأدب ٦٢ (٦٠٧٧)، والإستئذان ٩ (٦٢٣٧)، صحيح مسلم_ البر والصلة ٨ (٢٥٦٠) (تحفة الأشراف: ٣٤٧٩)

2 _ صحيح البخاري_ البيوع ١ (٢٠٤٩)، والكفالة ٢ (٢٢٩٣)، مناقب الأنصار ٣ (٣٧٨١)، و ٥٠ (٣٩٣٧)، والنكاح ٦٨ (٥١٦٧)، والأدب ٦٧ (٦٠٨٢) (تحفة الأشراف: ٥٧١)، و مسند احمد (٣_١٩٠، ٢٠٤، ٢٧١)

مينځ کي ورور ولي قائم کړه سعد بن ربيع عبدالرحمن بن عوف ته اوونيل راشه چي خپل نيم مال درته درکړم او زما دوه ښځي دي يوي ته به طلاق ورکړم کله چي دهغي عدت تير شي نو نکاح ورسره اوکړه، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه اوفرمائيل الله تعالي دي ستا په مال او اولاد کي برکت واچوي ماته دبازار لاره اوښايه نو ربيع ورته دبازار لاره اوښودله او په دغه ورځ هغه دبازار نه غوړي او فنير راوړل او واپس راغلو کومي چي هغه ته په ګټه کي پاتي شوي وي ددينه يي يو څو ورځي پس رسول الله صلي الله عليه وسلم په هغه باندي دزردئ (زيړوالي) اثر اوليدو نو تپوس يي ورنه اوکړو څه خبره ده؟ (دازيړ والي دڅه څيز دي) عبدالرحمن اوونيل ما ديوي انصاريه ښځي سره نکاح کړي ده رسول الله صلي الله عليه وسلم تپوس اوکړو په مهر کي دي ورته څه ورکړي دي عبدالرحمن اووئيل دکجوري دزړي په مقدار سره زر رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل وليمه اوکړه اګر که په يوه چيلئ ولي نه وي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي احمد وائي دکجوري دزړي برابر سره زر دپاؤباندي دري درهمو سره برابر دي، اسحاق بن ابراهيم بن راهويه وائي دکجوري دزړي برابر سره زر دپنځه درهمو سره برابر وي.

****

٢٣_ باب مَا جَاءَ فِي الْغِيبَةِ .

دغيبت بيان

١٩٣٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا الْغِيبَةُ؟ قَالَ: "ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ". قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِيهِ مَا أَقُولُ؟ قَالَ: "إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ بَهَتَّهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَرْزَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي يوه ورځ د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه سوال وکړی شو چي غيبت څه ته وايي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل غيبت دادی چي دخپل مسلمان ورور په غيرموجودګئ کي دهغه متعلق داسي خبره اوکړي چي دهغه خوښه

---

[1] _ صحيح مسلم_ البر والصلة ٢٠ (٢٥٨٩) . سنن ابي داود_ الأدب ٤٠ (٤٨٧٤) (تحفة الأشراف : ١٤٠٥٢) . ومسند احمد (٢_ ٢٣٠، ٤٥٨) . سنن الدارمي_ الرقاق ٦ (٢٧٥٦)

نه وي چا عرض اوکړو يا رسول الله که هغه کار زما په ورور کې وي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که چرې دا کار پکي موجود وي نو دا غيبت دى اوکه په هغه کي دا عمل موجود نه وي نو بهتان دى.
امام ترمذي وايي . داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابوبرزه، ابن عمر، او عبدالله بن عمرو رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي
لغات: اخ ورور جمع يي اخوة او اخوان راځي ، شقيق معني سکه وړور ، من احد الوالدين ميرني ورور ، في الرضاعة رضاعي ورور.
"ذكرك اخاك بما يكره" يعني خپل ورور لره په داسي شان سره يادول چي هغه يي نه خوښوي علماء وائي غيبت ديته وئيلى شي چي دکوم سړي نقصان دهغه په غياب کي بيان کړى شي کوم چي هغه نه خوښوي برابره خبره ده چي دا عيب دده په بدن کې وي او که په عقل کې وي او که په دين کې وي او که په دنيا کې وي او که په اخلاقو کې وي او که په نفس کې وي او که په مال او اسباب کې وي او که په اولاد کې وي او که په ښځه او خادم او والدينو کې وي ددي بيانول په اشاره وي او که په کنايه وي او که په رمز دلاس او سترګو او سر سره وي غرض دا چي په هر شان سره وي حرام دى او که دچا په وړاندي دا خبري اوکړى شي نو دا خو بيا دډيري بي حيايئ او سنګدلئ او ضرر ورکولو اودسختي ګناه خبره ده.
دچا غيبت چي شوى وي که چرې هغه ته خبر ورسيږي نو دى ذي ورنه معافي اوغواړي او الله تعالي ته دي توبه اوباسي او استغفار دي اووائي او که خبر ورته نه وي رسيدلى نو بيا ورنه معافي غوښتل ضروري نه دي صرف دالله تعالي نه دي معافي اوغواړي او که چرې دداسي سړي غيبت يي کړى وي چي هغه مړ وي او يا ډير لري اوسيږي نو بيابه استغفار وئيل کافي وي (روضه)

****

٢٤_ باب مَا جَاءَ فِي الْحَسَدِ
د حسد(کينې د حرمت) بيان

١٩٣٥_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ الْعَلَاءِ الْعَطَّارُ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَقَاطَعُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَحَاسَدُوا، وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا، وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَالزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ،

وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. (١)

ترجمه انس رضي الله عنه نه روايت دى رسول الله صلي الله عليـه وسلم فرمائيلي دي خپلو کې بغض او کينه مه ساتئ يوبل سره حسدمه کوئ تله راته مه پريدئ اوتعلقات مه ختموئ اي دالله بنده ګانو خپلو کې رونړه رونړه شئ يو مسلمان ته جائز نه دي چي دخپل مسلمان ورور سره درى ورځو نه زيات تعلق پريدي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوبکر صديق، زبير بن عوام، ابن مسعود، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

لغات تدابروا تدابر القوم يعني په خپل مينځ کې دشمني کول.

تشريح: په پورتني حديث کې ديو څو اشياؤ نه منع راغلي ده، ولا تباغضوا. يعني پخپل مينځ کې بغض نه کوئ ، دا هم يو انتهايي قبيح مرض دي ، دا تمام کارونه په اسلامي شريعت کې ځکه چي داد اخوت اسلامي سره منافي دي اود يوبل سره دخير خواهئ بلکل خلاف دي ، مګر په اسلام دين کې مسلمانانو لره په خپل مينځ کې ديو بل سره داخوت قائم ساتلو اوخير خواهئ کولو تاکيد راغلي دي.

ولا تحاسدوا. يعني پخپل مينځ کې حسد مه کوئ، حسد ديته ويلي شي چي څوك دچا دنعمت دزائل کولو تمنا وکړي ، او دا حرا م دي ، په قران کې ورنه پناه غوښتلي شوي ده، ارشاد الهي دي. ومن شر حاسد اذا حسد.

ولاتدابروا: او يو بل ته مه شاه کوئ مطلب دادى چي ديو بل بد مه وائي.

ولا تقاطعوا: ديو بل سره قطع دتعلق مه کوئ ددنيوي امورو په وجه تعلق پريخودل نه دي پکاري او که چري ضرورت هم پيښ شي نو د دريو ورځو نه زيات جائز نه دي ليکن که چري دکوم ديني کار په وجه وي نو بيا په دي کې ددرو ورځو ګنجائش شته.

وکونوا عبادالله اخوانا تمام مسلمانان دي پخپل مينځ کې يو دبل ورونړه اوګرځي که چري ورور ولي قائمه شي نو دا دري واړه کارونه دکومو نه چي منع راغلي ده مثلا بغض حسد او غيبت او تعلق پريخودل پدي کې به بيا يو هم جائز نه وي.

****

---

1 . صحيح البخارى_الأدب ٥٧ (٦٠٦٥) . ٦٢ (٦٠٧٦) . صحيح مسلم_البر والصلة ٧ (٢٥٥٩) . سنن ابي داود_الأدب ٥٥ (٤٩١٠) (تحفة الأشراف : ١٢٨٨) . ومسند احمد (٣_١٩٩)

١٩٣٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ، وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَقُومُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا. [1]

ترجمه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي پسخيدل په خلقو باندي دوه قسمه كولى شي يو هغه چي الله تعالي ورته مال وركړى وي او دالله تعالي په لاره كې دخرچ كولو توفيق يې هم ورته وركړى وي ، دويم هغه څوك چي الله تعالي ورته حكمت(علم) وركړو اودى دهغي په ذريعه صحيح فيصلي كوي او په خلقو كې يې خوروي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن مسعود ،ابوهريره رضي الله عنهما په واسطه هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي حديث هم معني مضمون مروي دي.

تشريح: دحديث شريف مطلب دادى چي پسخيدل نه دي پكار او نه داسي څه څيز شته چي سړى ورته اوپسخيږي سوا ددي دوه خصلتونونه.

لاحسد الا في اثنين ، يعني حسد صرف ددوه كسانو دپاره جائز دى حسد معني دچا دنعمت دزوال تمني كول دي حسد په دي معني مطلقا ممنوع دى همدا وجه ده چي دلته علماء دحسد معني په غبطي سره كوي غبطه ديته وئيلى شي چي څوك دچا سره كوم څيز اويني دهغي پشان دخان دپاره هم تمني اوكړي او دهغه نه يې دزائله كيدو تمني اونكړي نو په دي كې څه حرج نشته دا جائز دى.

****

٢٥_ باب مَا جَاءَ فِي التَّبَاغُضِ

پخپل مينځ كې ديوبل سره دبغض كولو دمذمت بيان

١٩٣٧_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ

---

[1] _ صحيح البخاري_ التوحيد ٣٥ (٧٥٢٩) . صحيح مسلم_ صلاة المسافرين ٤٧ (٨١٥) . ابن ماجه_ الزهد ٢٢ (٤٢٠٩) (تحفة الأشراف : ٦٨١٥) . ومسند احمد (٢_٩، ٣٦، ٨٨، ١٣٣، ١٥٢)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ يَئِسَ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ وَلَكِنْ فِي التَّحْرِيشِ بَيْنَهُمْ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَسُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِيهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو سُفْيَانَ اسْمُهُ طَلْحَةُ بْنُ نَافِعٍ. [1]

ترجمه : دجابر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي شيطان نااميده شوی دی چي په جزيرة العرب کې به مونځ ګذار مسلمانان دهغه عبادت اوکړي ليکن ددوئ ترمينځه فساد اچولو نه نه دی مايوس شوی.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دانس، او سليمان بن عمرو بن الاحوص عن ابيه سند سره هم احاديث مروي دي.

تحريش: معنی ده فساد جوړول اوزړونو کې داسي وسوسي راوستل چي خپلو کې تعلق پريدي

لغات: الشيطان. شطنه دنصر نه شطنا ، مخالفت کول ، لري کول ، په رسئ تړل، شطن في الارض، داخليدل، الرجل دحق نه لري کيدل، اشطنه لري کول، شيطن وشيطنة وتشيطن شيطاني فعل کول ، الشياطين خبيث ، دحق نه لري کيدل، جمع شياطين په معني د سرکش ديو (انسان وي اوکه جن وي او که خناور وي) اوهم ددي نه ماخوذ دي شياطين العرب ، دعربو نافرمان او سرکشه خلق، مار.

تشريح: پوزتنی حديث دنبوت دمعجزاتو نه دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دراتلونکو خبرو متعلق خبر ورکړی دی هغه هم هغه شان واقع شوي دي، دلته پدي روايت کې قدأيس لفظ دي او په بل روايت کې ان الشيطان قد يئس او په مسند احمد کې قد يئس الشيطان الفاظ راغلي دي.

ولکن في التحريش بينهم. ليکن هغوئ پخپل مينځ کې ورانی او قطع دتعلق پيدا کوي ددينه معلومه شوه چي شيطان هر وخت ددي خبري کوشش کوي چي مسلمانان په جګړو او جنګونو کې او بغض او عداوت کې مبتلا کړي نو په دي وجه په هر مسلمان لازم دي چي خپل ځان په قابو کې اوساتي او دشيطان نه په الله پناه اوغواړي.

يعبده المصلون: دمصلين نه مراد مومنان دي خو مسلمانان دهر څه نه په زيات اهميت سره ادا کوي نو ځکه يي دلته دمسلمانانو نه په مصلين سره تعبير اوکړ

****

---

[1] ـ صحيح مسلم_ المنافقين ١٦ (٢٨١٢) (تحفة الأشراف: ٢٣٠٢) . ومسند احمد (٣_ ٣١٣، ٣٥٤، ٣٦٦، ٣٨٤)

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي
لغات: الاصحاب جمع دصاحب ده په معني دملګري سره د سمع نه صحبة و صحابة يي مصادر دي مصاحبة په معني دملګرتيا کولو دي.
تشريح : "خيرهم لصاحبه" يعني بهترين دوست هغه دی څوك چي دخپل دوست سره خيرخواهي اوکړي ، دخيرخواهۍ کولو مطلب دادی چي دخپل دوست سره ددين په کارونو کې مدد اوکړي او دغلطو کارونو نه يي بچ کړي
"وخيرالجيران عندالله تعالی خيرهم لجاره" يعني دالله تعالي په نزد بهترين ګاونډي هغه دی څوك چي دخپل ګاونډي خيرخواهي کوي بنه ګاونډي کيدل دخوش نصيبۍ خبره ده په يو روايت کې راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دانسان په خوش قسمتيانو کې يوه خبره داده چي کور يي ازاد وي او ګاونډي يي نيك وي او سوړلۍ يي غوړه وي په دي حديث کې دخيرخواهۍ نه مراد دګاونډي حقوق ادا کول دي

****

٢٩_ بَابٌ مَا جَاءَ فِي الإِحْسَانِ إِلَى الْخَدَمِ
دخادمانو نوکرانو سره دحسن سلوك کولو بيان

١٩٤٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ وَاصِلٍ، عَنِ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِخْوَانُكُمْ جَعَلَهُمُ اللَّهُ فِتْيَةً تَحْتَ أَيْدِيكُمْ، فَمَنْ كَانَ أَخُوهُ تَحْتَ يَدِهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِنْ طَعَامِهِ، وَلْيُلْبِسْهُ مِنْ لِبَاسِهِ، وَلَا يُكَلِّفْهُ مَا يَغْلِبُهُ، فَإِنْ كَلَّفَهُ مَا يَغْلِبُهُ فَلْيُعِنْهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه دابوذر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي ستاسو خادمان ستاسو رونړه دي الله تعالي دوی ستاسو دلاس لاندي کړي دي لهذا دچا دلاس دلاندي چي دده ورور (خادم) وي نو دي دي هغه ته دخپل خوراك نه خوراك ورکوي دخپلو جامو نه دي ورته جامي ورکوي او دي دي په داسي کار نه مکلف کوي کوم چي ده لره عاجز کوي او که چري ده لره په کوم داسي کار مکلف کړي کوم چي ده لره عاجز کوي نو بيا دي دده مدد کوي.

---

[1] صحيح البخاری_ الإيمان ٢٢ (٣٠) . والعتق ١٥ (٢٥٤٥) . والأدب ٤٢ (٦٠٥٠) . صحيح مسلم_ الأيمان والنذور ١٠ (١٦٦١) . سنن ابن ماجه_ الأدب ١٠ (٣٦٩٠) (تحفة الأشراف : ١١٩٨٠) . ومسند احمد (٥_ ١٥٨، ١٦٣)

عنه وويل دي ماته لار ښـايي مراد يي دجنت لاره وه، اومخاطب داګڼرله چي دمدينې لاره يي مراد ده ، دلته ددي دري مثالونه پيش کولي شي.

(۱) "اصلح بين الناس فيمني خيرا" يعني څوك چي دخلقو په مينځ کې صلح کوي نو خير يي زيات کړو مطلب دادی کله چې د دوه مسلمانانو جګړه وي نو بل دريم کس دي ددوئ بغض او عناد لره ختم کړي او ددوئ په مينځ کې دي دصلح کوشش اوکړي او څه نيکي خبري دي ورته اوکړي تردي چي دوئ صلحي کولو ته تيار شي

(۲) الحرب. يعني دجنګ په وخت کې دي دشمن لره داصل صورت حال نه دناخبره ساتلو دپاره غلط بياني اوکړي تردي چي صلح کول اسان شي.

(۳) "وحديث المرئة زوجها" يعني ښځي ته دخاوند خبري ، يعني دکورني ژوند دصحيح کولو دپاره چي خاوند ښځي ته يا ښځه خاوند ته دضرورت په وجه غلط بياني اوکړي په داسي حال کې چي ددينه بغير دحالاتو خرابيدو خطره وي نو په داسي موقعه کې هم شريعت په قدر دضرورت ددروغو وئيلو جازت ورکړی دی.

د دروغ وئيلو نه څه مراد دي.

علامه طبري وائي چي په دې ځايونو کې دروغ وئيل جائز نه دي ليکن بعضي نور علماء وائي چي دروغ وئيل خو په هر ځاي کې حرام دي او چرته چي ددروغو وئيلو جواز معلوميږي هلته توريه مراد ده چي متکلم معني بعيده واخلي او مخاطب معني قريب او مراد کړي لکه څرنګه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم او ابوبکر رضي الله عنه دمکي نه مديني ته دهجرت کولو دپاره روان وو نو په لاره کې چا تپوس اوکړو چي ابوبکر رضي الله عنه يي پيژندلو او رسول الله يي نه پيژندلو ورته يي اووئيل دا ملګری دي څوك دی؟ نو ابوبکر رضي الله عنه اووئيل دی ماته لاربنودونکی دی مراد يي دجنت لاره ده او مخاطب دا ګمان اوکړو چي ګني دمديني لار يي مراد ده دلته ددي يو دري نور مثالونه هم ورکولی شي.

يصلح بين الناس فينمي خيرا. يعني څوك چي په خلقو کې صلح کوي دی نيکئ لره مخکې بوځي مطلب دادی چي کله په دوه مسلمانانو کې جګړه اوشي نو دريم سړی دي ددوئ په مينځ کې دبغض او عناد ختمولو دپاره او صلحي کولو دپاره ديو نه بل ته نيکي خبري اورسوي ددي دپاره چي هغوئ صلحي او دوستئ ته تيار شي

دويم: الحرب. يعني دجنګ په موقعه دشمن لره داصل صورت حال نه دبي خبره ساتلو دپاره دغلط بيانئ نه کار واخستلی شي او دشمن په دوکه کې اوساتلی شي ددي دپاره چي فتح حاصلول اسان شي.

دريم. وحديث المرئة زوجها. او خبري دښځي دخپل خاوند سره يعني کله چي دکورني ژوند دسمولو دپاره خاوند ښځي ته يا ښځه خاوند ته په غلط بيانئ کولو مجبوره شي چي ددينه بغير دژوند د تريخ کيدو خطره وي نوپه دي موقعه باندي هم شريعت په قدر دضرورت د دروغو ونيلو اجازت ورکړی دی

دام کلثوم بنت عقبه بن ابي معيط رضي الله عنها مناقب

ام کلثوم کنيه ده او دپلار نوم يي عقبه بن ابي معيط وو او دمور نوم يي اروي بنت کريز وو ددي پلار عقبه دمکي دسختو مشرکانو نه وو چي داسلام نه يي سخت نفرت وو دهجرت په اوم کال دصلح حديبيه نه پس ام کلثوم رضي الله عنها مديني ته هجرت اوکړو او ورور يي هم راغی او کومه صلح نامه چي مرتب شوي وه په هغي کې دا وو چي د قريشو کوم کس که دمکي نه مديني ته راشي نو هغه به واپس کولی شي نو په دي وجه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره فکر پيدا شو نو په دي وخت کې دا قراني ايت نازل شو.

ياايهاالذين امنوا اذا جائکم المؤمنات مهاجرات الايه. يعني په دي صلح کې ښځي داخل نه دي، ددي رومبئ نکاح دزيد بن حارثه سره شوي وه او بيا ددي دوفات نه پس دزبير بن عوام سره بيا دعبدالرحمن بن عوف سره او په اخر کې يي نکاح دعمرو بن العاصٰ رضي الله عنه سره اوشو ددي دمروياتو شمير تقريبا لس دی پورتنی روايت يي متفق عليه دی او نور روايتونه يي په نورو کتابونو دحديث کې راغلي دي.

****

١٩٣٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. ح قَالَ: وَحَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، وَأَبُو أَحْمَدَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحِلُّ الْكَذِبُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: يُحَدِّثُ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ لِيُرْضِيَهَا، وَالْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ، وَالْكَذِبُ لِيُصْلِحَ بَيْنَ النَّاسِ". وَقَالَ مَحْمُودٌ فِي حَدِيثِهِ: لَا يَصْلُحُ الْكَذِبُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ. هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَسْمَاءَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ خُثَيْمٍ، وَرَوَى دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَسْمَاءَ.[1]

ترجمه: داسماء بنت يزيد رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٧٧٠). وانظر مسند احمد (٦ـ ٤٥٣، ٤٥٩، ٤٦٠)

دي دروغ ونيل صرف په دري خايونو كي جائز اوحلال دي يو دادي چي يو كس كله خپلي ښځي ته دخان نه څه خبره جوړه كړي ترڅو چي دي لره راضي كړي، دويم په جنګ كي دروغ ونيل، او دريم دخلقو په مينځ كي دصلح كولو دپاره دروغ ونيل

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي او دا مونږ صرف دابن خثيم په سند داسماء نه پيژنو. داود بن ابي هند هم دا حديث دشهر بن حوشب په سند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي او په سند كي يي داسماء واسطه نه ده ذكر كړي

تشريح: ددي حديث تشريح د ماقبل حديث سره بلكل مطابق ده او يو شي دى. ددوى دواړو په مضامينو كي كوم فرق نشته صرف لفظي فرق دى

اسماء بنت يزيد رضي الله عنها مناقب

نوم اسماء كنيه ام سلمه، اسماء بنت يزيد بن السكن بن رافع دهجرت نه پس ديو څو ښځو سره درسول الله په خدمت كي حاضره شوه او اسلام يي قبول كړو دهجرت په اول كال چي دعائشه رضي الله عنها رخصتي كيدله نو كومو ښځو چي دا سنګار كړي وه په هغي كي يوه اسماء رضي الله عنها هم وه، دهجرت په پنځلسم كال په يرموك جنګ كي هغي دخپل خيمي په موګي نهه روميان وژلي وو (اصابه)

علامه ابن حجر وائي كانت ذات العقل والدين يعني هغه په عقل او دين دواړو متصف وه او درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت يي كولو (مسند احمد)

اسماء رضي الله عنها ډيره مهمان نوازه وه يو خل ورته شهر په حوشب راغى او خوراك يي ورته پيش كړو شهر دخوړلو نه انكار اوكړو نو اسماء ورته دنبي كريم صلي الله عليه وسلم واقعه بيان كړه په هغي كي ديته اشاره وه چي دخوراك نه انكار كول مناسب نه دي نو په دي وخت كي شهر اوونيل بيابه هيڅ كله زه دا غلطي اونكړم (مسند احمد)

ددي دوفات دتاريخ باره كي اسماء الرجال والاخاموش دي او ٨١ روايات ورنه منقول دي

****

حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ. وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ. (1)

ترجمه: په دي سند هم د داود بن ابي هند نه دماقبل روايت هم معني مضمون مروي دي امام ترمذي وايي او په دي باب كي دابوبكر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

1 تفرد به المؤلف، وانظر ماقبله (تحفة الأشراف: ١٨٨١٢)

٢٧_ باب مَا جَاءَ فِي الْخِيَانَةِ وَالْغِشِّ

دخيانت كولو او خلقو ته د دهوكي وركولو بيان

١٩٤٠_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا اللَّيْثُ. عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ. عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ. عَنْ لُؤْلُؤَةَ. عَنْ أَبِي صِرْمَةَ. أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ ضَارَّ ضَارَّ اللَّهُ بِهِ. وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ. (1)

ترجمه دابوصرمه رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي خلقو ته نقصان رسوي الله تعالي به هغه ته نقصان ورسوي او څوك چي خلقو ته تكليف وركوي الله تعالي به ده ته تكليف وركړي

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي او په دي باب كي دابوبكر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

****

١٩٤١_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ. حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ الْعُكْلِيُّ. حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ الْكِنْدِيُّ. حَدَّثَنَا فَرْقَدُ السَّبَخِيُّ. عَنْ مُرَّةَ بْنِ شَرَاحِيلَ الْهَمْدَانِيِّ وَهُوَ الطَّيِّبُ. عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَلْعُونٌ مَنْ ضَارَّ مُؤْمِنًا أَوْ مَكَرَ بِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه دابوبكر صديق رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي لعنتي دي هغه څوك چاچي يو مومن ته ضرر ورسولو او يا يي دهغه خلاف تدبير اوكړو

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي

دصديق اكبر رضي الله عنه مناقب

---

1 _ سنن ابي داود_ الأقضية ٣١ (٣٦٣٥) . سنن ابن ماجه_ الأحكام ١٤ (٢٣٤٠) (تحفة الأشراف : ١٢٠٦٦٣) . و مسند احمد (٣_ ٤٥٣)

2 _ سنن ابي داود_ الأقضية ٣١ (٣٦٣٥) . سنن ابن ماجه_ الأحكام ١٤ (٢٣٤٠) (تحفة الأشراف : ١٢٠٦٦٣) . و مسند احمد (٣_ ٤٥٣)

نوم عبدالله كنيه ابوبكر عتيق او صديق يي لقب وو دپلار نوم يي عثمان وو چي په ابو قحافه مشهور وو او دمور نوم يي سلمي وه چي په ام الخير مشهوره وه دپلار دطرفه يي نسب نامه داده عبدالله بن عثمان بن عامر بن عمرو بن كعب بن سعد بن تميم بن مره بن كعب بن لوئ القريشي التميمي او دمور دطرفه يي نسب نامه داده ام الخير بنت الصخر بن عامر بن عمرو بن كعب بن سعد بن تميم بن مره (طبقات ابن سعد).

شپږم پشت مره كي صديق اكبر رضي الله عنه نسب درسول الله صلي الله عليه وسلم دنسب سره يوځاي كيږي دماشوموالي نه يي درسول الله سره دوستي وه او په تجارت كي به هم ورسره يوځاي تلو (كم الغمال ٢/٣١٣).

دټولو انسانانو نه مخكي داسلام قبلولو سعادت ورته هم په نصيب شوی وو او په هره غزوه كي درسول الله سره شريك شوی دی او هيڅ كله درسول الله صلي الله عليه وسلم نه جدا شوی نه دی نه داسلام نه مخكي او نه داسلام نه پس بلكه په زندګئ كي او دمرګ نه پس هم يوځاي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات نه پس دهجرت په يولسم كال تمامو خلقو په اتفاق سره اولنی خليفه مقرر كړو دخلافت موده يي دوه كاله او څلور مياشتي وه واضحه كارنامه يي داده چي دقران كريم متفرق اجزاء يي ديوكتاب په شكل كي جمع كړل او ددينه مخكي به قران په يوځاي نشو موندلی او په څلورو واړو اطرافو كي چي داسلام خلاف كومي خبري خوريدلي دهغي مخه يي اونيوله او دين ته يي دوباره هغه نوی ترتيب وركړو په كوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پريخودلی وو.

وفات: په صديق اكبر رضي الله عنه باندي تبه راغله او تقريبا پينځلس ورځي په همدي حالت كي تيري شوي چي بيا دګل په ورځ دسيشنبي په شپه د ٣٦ كلونو په عمر كي او دجمالي الاولي په ديارلسم ددي دنيا نه سفر اوكړو (ربيع الاول).

دمرو ياتو شمير يي ١٤٢ دی چي شپږ پكي متفق عليه دي او يولس صرف په بخاري كي دي او يو په مسلم كي دی.

****

٢٨ـ باب مَا جَاءَ فِي حَقِّ الْجِوَارِ

دګاونډي دحقوقو بيان

١٩٤٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ هُوَ ابْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا زَالَ جِبْرِيلُ

يُوصِينِي بِالجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هميشه به جبرائيل عليه السلام ماته د ګاونډي سره دحسن سلوك کولو باره کي تاکيدات کول تردي پوري چي ما دا ګمان اوکړو چي جبرائيل ده لره په وراثت کي هم شريکوي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

لغات : سيورثه: ورث الرجل مالا، ميراث مقررول ، من فلان ، وارث ګرځول ورث دسمع نه وارث کيدل.

تعاهد: دامر صيغه ده د تعاهد يتعاهد نه په معني دحفاظت او نګهبانۍ کولو عهد دسمع نه په معني د رسولو دی.

فأصبهم: اصاب السهم يعني غشى په نښه اولګيدو صاب صوبا دنصر نه په معني د وريدلو دي او صاب صيب دضرب نه په معني د لګيدلو دنښي دی په غشي.

تشريح:

"ماذال جبريل" په دي جمله کي کثرت ته اشاره کوي او په جبرائيل لفظ کي دي خبري ته اشاره ده چي دا حکم دالله تعالي دطرف نه دی.

"بالجار حتي ظننت انه سيورثه" يعني دګاونډي په باره کي مي ګمان اوکړو چي شايد دی به وارث ګرځوي ، علماؤ ونيلي دي چي دجار لفظ اطلاق په کافر، مسلمان، نيك، فاسق، دشمن په ټولو باندي کيږي ، دابن ماجه په روايت کي راځي چي دابن عمر رضي الله عنهما کورنۍ يوه چيلۍ ذبح کړه او علام ته يي بار بار تاکيد کولو چي يهودي ګاونډيانو ته ددينه ورکړه. سيورثه، بار بار ددومره تاکيد سره دګاونډيانو باره کي حکم راغلي دي چي صرف وارث ګرځول يي باقي پاتي شوي دي باقي دهر قسم احسان کولو ورسره تاکيد شوي دي.

****

۱۹٤۳ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ شَابُورَ، وَبَشِيرٍ أَبِي إِسمَاعِيل، عَنْ مُجَاهِدٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو ذُبِحَتْ لَهُ شَاةٌ فِي أَهْلِهِ، فَلَمَّا جَاءَ قَالَ: أَهْدَيْتُمْ لِجَارِنَا اليَهُودِيِّ؟ أَهْدَيْتُمْ لِجَارِنَا اليَهُودِيِّ؟ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَا زَالَ

1 ـ صحيح البخاري ـ الأدب ٢٨ (٦٠١٤) ، صحيح مسلم ـ البر والصلة ٤٢ (٢٦٢٤) ، سنن ابي داود ـ الأدب ١٣٢ (٥١٥١) ، سنن ابن ماجه ـ الأدب ٤ (٣٦٧٣) (تحفة الأشراف : ١٦٩٢٤) ، ومسند احمد (٦ ـ ٩١، ١٢٥)

جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَالْمِقْدَادِ بْنِ الأَسْوَدِ، وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَأَبِي شُرَيْحٍ، وَأَبِي أُمَامَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْضًا. (1)

ترجمه دمجاهد نه روایت دي فرماني چي دعمرو بن العاص رضي الله عنهما دپاره یوه چیلۍ دده په کورنۍ کي ذبح کړي شوه کله چي عمرو راغلو نو تپوس يي اوکړو چي ایا تاسو زمونږ ديهودي ګاونډي کور ته غوښه ليږلي ده؟ ایا تاسو زمونږ ديهودي ګاونډي کور ته غوښه ليږلي ده؟ ایا تاسو زمونږ ديهودي ګاونډي کور ته غوښه ليږلي ده؟ ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوریدلي دي: هميشه به جبرائيل عليه السلام ماته د ګاونډي سره دحسن سلوك کولو باره کي تاکیدات کول تردي پوري چي ما دا ګمان اوکړو چي ګني جبرائيل ده لره په وراثت کي هم شریکوي.

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن غريب دي داحديث دمجاهد نه دعائشه او ابوهريره رضي الله عنهما په واسطه هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي. او په دي باب کي دعائشه، ابن عباس، ابوهريره، انس، مقداد بن اسود، عقبه بن عامر، ابوشريح، او ابوامامه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

****

١٩٤٤ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ شُرَحْبِيلَ بْنِ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُ الأَصْحَابِ عِنْدَ اللَّهِ خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهِ، وَخَيْرُ الْجِيرَانِ عِنْدَ اللَّهِ خَيْرُهُمْ لِجَارِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ. (2)

ترجمه دعبدالله بن عمررضي الله عنهما نه روایت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي په نزد دتولو نه بهتر دوست هغه دي څوك چي په خلقو کي دخپل دوست دپاره بهتر وي، او دالله تعالي په نزد په تولو کي بهتر ګاونډي هغه دي څوك چي دخپل ګاونډي دپاره بهتر وي

1 ـ سنن ابي داود ـ الأدب ١٣٢ (٥١٥٢) (تحفة الأشراف: ٨٩١٩)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٨٦٥) . وانظر مسند احمد (٢ـ ١٦٨)

وَالْأَشْعَثِ بْنِ قَيْسٍ، وَالنُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دخلقو شكريه اداء نكړه نو ده دالله تعالي شكريه هم اداء نكړه

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابوهريره، اشعث بن قيس، او نعمان بن بشير رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٣٦ـ باب مَا جَاءَ فِي صَنَائِعِ الْمَعْرُوفِ

د نيكۍ او ښيګړي كارونو كولو بيان

١٩٥٦ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْجُرَشِيُّ الْيَمَامِيُّ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو زُمَيْلٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَبَسُّمُكَ فِي وَجْهِ أَخِيكَ لَكَ صَدَقَةٌ، وَأَمْرُكَ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهْيُكَ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ، وَإِرْشَادُكَ الرَّجُلَ فِي أَرْضِ الضَّلَالِ لَكَ صَدَقَةٌ، وَبَصَرُكَ لِلرَّجُلِ الرَّدِيءِ الْبَصَرِ لَكَ صَدَقَةٌ، وَإِمَاطَتُكَ الْحَجَرَ وَالشَّوْكَةَ وَالْعَظْمَ عَنِ الطَّرِيقِ لَكَ صَدَقَةٌ، وَإِفْرَاغُكَ مِنْ دَلْوِكَ فِي دَلْوِ أَخِيكَ لَكَ صَدَقَةٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَجَابِرٍ، وَحُذَيْفَةَ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو زُمَيْلٍ اسْمُهُ سِمَاكُ بْنُ الْوَلِيدِ الْحَنَفِيُّ. (2)

ترجمه: دابوبرزه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دخپل يو وروړ په وړاندي ستاسو دمسكا حالت پيداكول ستاسو دپاره صدقه ده ستاسو چاته دنيكۍ حكم كول او دبدۍ نه منع كول صدقه ده او دلاري وركيدو په خاي كي چاته ستاسو لاره خودل ستاسو دپاره صدقه ده، نابينا او كم نظر والا انسان ته لاره خودل ستاسو دپاره صدقه ده، كانړي او ازغي او هډوكي دلاري نه ګورخول ستاسو دپاره صدقه ده او پخپله بهوكه دخپل وروړ په بهوكه كي ستاسو اوبه اچول ستاسو دپاره صدقه ده

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي، په دي باب كي ابن مسعود، جابر، حذيفه، عائشه، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٢٣٥)

2 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٩٧٥)

امام ترمذي وايي . داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دعلي، ام سلمه، ابن عمر، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

تشريح: فليطعمه ده ته دي دهغه خوراك نه ورکوي کوم چي پخپله خوري او دهغه لباس نه دي ورته ورکوي څنګه چي پخپله اغوندي علامه نووي وائي دا حکم استحبابي دی دوجوب دپاره نه دی په مالك باندي دغلام نفقه او خرچي دهغه دحيثيت مطابق واجب ده کومه چي دعرف او رواج او دستور مطابق وي.

فأن كلفه ما يغلبه فليعنه : که چري تاسو دوئ ته څه کار اوسپارئ نو مدد يي کوئ ياخو يي خپله مدت کوئ يا دبل چا په ذريعه، دبعضي اکابرينو په باره کښ منقول دي چي هغوئ به په ميچن کولو کي دوينخو سره مدت کولو.

****

١٩٤٦ـحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ يَحْيَى، عَنْ فَرْقَدٍ السَّبَخِيِّ، عَنْ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَدْخُلُ الجَنَّةَ سَيِّئُ المَلَكَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ تَكَلَّمَ أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ فِي فَرْقَدٍ السَّبَخِيِّ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. (1)

ترجمه : دابوبکر رضي الله عنه نه روايت دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هغه کس به جنت ته داخل نشي څوك چي دخادمانو سره بد سلوك کوي

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي، ايوب سختياني او نورو راويانو په فرقد سنجي باندي دحفظ په اعتبار کلام کړي دي.

****

٣٠ـ بَاب النَّهْيِ عَنْ ضَرْبِ الخَدَمِ، وَشَتْمِهِمْ

دغلامانو او نوکرانو وهل او دوئ ته دکنځل کولو او تهمت لګولو دحرمت بيان

١٩٤٧ـحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ المُبَارَكِ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ غَزْوَانَ، عَنْ ابْنِ أَبِي نُعْمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ أَبُو القَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيُّ التَّوْبَةِ: "مَنْ قَذَفَ مَمْلُوكَهُ بَرِيئًا مِمَّا قَالَ لَهُ أَقَامَ عَلَيْهِ الحَدَّ يَوْمَ القِيَامَةِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ كَمَا قَالَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

1 ـ سنن ابن ماجه_الأدب ١٠ (٣٦٩١) (تحفة الأشراف: ٦٦١٨)

حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَابْنُ أَبِي نُعْمٍ هُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي نُعْمٍ الْبَجَلِيُّ، يُكْنَى أَبَا الْحَكَمِ. وَفِي الْبَابِ عَنْ سُوَيْدِ بْنِ مُقَرِّنٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي چي نبي التوبه ابو القاسم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي پخپل غلام يا وينځه دزنا تهمت اولګوي او حال دادي چي هغوئ ددينه پاك وي نو الله تعالي به دقيامت په ورځ په ده باندي دزنا حد قائموي مګر هله چي دا داسي ثابت وي څنګه چي ده ونيلي وي

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دسويد بن مقرن او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

١٩٤٨_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: كُنْتُ أَضْرِبُ مَمْلُوكًا لِي، فَسَمِعْتُ قَائِلًا مِنْ خَلْفِي، يَقُولُ: اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ، اعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ، فَالْتَفَتُّ: فَإِذَا أَنَا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "لَلَّهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ". قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ: فَمَا ضَرَبْتُ مَمْلُوكًا لِي بَعْدَ ذَلِكَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَإِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ: إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَزِيدَ بْنِ شَرِيكٍ. ([2])

ترجمه دابومسعود انصاري رضي الله عنه بيان دي فرماني چي ما به خپل غلام وهلو يو خل مي دشا دطرفه دچا اواز واوريدو چي داسي يي ونيل ابومسعود پوهه شه ابو مسعود پوهه شه (يعني خبردار) زه چي ورستون شوم او اومي كتل نو هغه رسول الله صلي الله عليه وسلم وو چي فرمانيل يي الله تعالي په تا باندي ددينه زيات زورور دي څومره چي ته په ده باندي قادر او زورور يي، ابومسعود وائي چي ما ددينه پس خپل هيڅ يو غلام هم نه دي وهلي

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي. اود ابراهيم تيمي نوم ابراهيم بن يزيد بن شريك دی.

لغات: حر دسمع نه معني ازاد كيدل ، شريف الاصل كيدل ، حرة معني تكي كيدل، حر العبد ازادول الولد والشي كوم شي دالله دپاره وقف كول، تحرر العبد ازاديدل الحرية ازادي.

---

[1] ـ صحيح البخاري_ الحدود ٣٥ (٦٨٥٨) . صحيح مسلم_ الأيمان والنذور ٩ (١٦٦٠) . سنن ابي داود_ الأدب ١٣٣ (٥١٦٥) (تحفة الأشراف : ١٣٦٢٢) . ومسند احمد (٢_٤٣١)

[2] ـ صحيح مسلم_ الأيمان والنذور ٨ (١٦٥٩) . سنن ابي داود_ الأدب ١٣٢ (٥١٥٩) (تحفة الأشراف : ١٠٠٠٩)

تشريح: دحديث مطلب دادی چي بغير دكوم نقصان نه دغلام په وهلو سړی گنهگاريږي او ددي گناه كفاره داده چي دا غلام دي پريخودلی شي لكه چي په پورتني حديث كې ابو مسعود بدري اوكړل او داسي كول مستحب دي واجب نه دي كه څوك داسي ونكړي نو گنهگار به نه وي علامه نووي واني په پورتني حديث كې دغلامانو سره نرمی كولو ته ترغيب وركړی شوی دی

****

٣١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعَفْوِ عَنِ الْخَادِمِ

خادم ته دغلطۍ معاف كولو بيان

١٩٤٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي هَانِئٍ الخَوْلَانِيِّ، عَنْ عَبَّاسٍ الحَجْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَمْ أَعْفُو عَنِ الخَادِمِ؟ فَصَمَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَمْ أَعْفُو عَنِ الخَادِمِ؟ فَقَالَ: "كُلَّ يَوْمٍ سَبْعِينَ مَرَّةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَاهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ أَبِي هَانِئٍ الخَوْلَانِيِّ نَحْوًا مِنْ هَذَا، وَالعَبَّاسُ هُوَ ابْنُ جُلَيْدٍ الحَجْرِيُّ المِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ أَبِي هَانِئٍ الخَوْلَانِيِّ، بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ وَهْبٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ، وَقَالَ: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. (١)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته يوه ورځ يو كس راغلو تپوس يي اوكړو اي دالله رسوله زه به څو خله دخپل غلام غلطياني معاف كوم؟ نو رسول الله ددي كس په سوال خاموشي اختيار كړه نو هغه بيا تپوس اوكړو اي دالله رسوله زه به څو خله دخپل غلام غلطياني معاف كوم؟ نو رسول الله اوفرمائيل هره ورځ اويا ځلي معافي كوه.

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي، او دا روايت عبدالله بن وهب هم دابوهاني خولاني نه دماقبل هم معني نقل كړي ده

اود عباس د پلار نوم جليد حجري دی اود مصر اوسيدونكي دی ابو هاني خولاني هم په خپل سند د ماقبل هم معني روايت نقل كړی دی او بعضي راويانو دا حديث دعبد الله بن وهب نه په مذكوره سند نقل كړی دی او هغه د عبد الله بن عمرو نه نقل كړو.

---

١ ابي داود_ الأدب ١٣٣ (٥١٦٣) (تحفة الأشراف: ٧١١٤، ٨٨٢٦) . و مسند احمد (٢_ ٩٠، ١١١)

****

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُاللهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ أَبِي هَانِئٍ الْخَوْلاَنِيِّ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ وَهْبٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ، وَقَالَ: عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو. (1)

ترجمه دابوهاني خولاني نه په دي سند هم دماقبل هم معني روايت مروي دي او بعضي راويانو دا حديث دعبدالله بن وهب نه هم په دي سند نقل کړي دي چي دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه يي نقل کوي

****

٣٢_ باب مَا جَاءَ فِي أَدَبِ الْخَادِمِ

دخادمانو سره دحسن سلوک کولو دادابو بيان

١٩٥٠_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي هَارُونَ الْعَبْدِيِّ: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا ضَرَبَ أَحَدُكُمْ خَادِمَهُ فَذَكَرَ اللهَ فَارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبُو هَارُونَ الْعَبْدِيُّ اسْمُهُ عُمَارَةُ بْنُ جُوَيْنٍ. قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ الْعَطَّارُ، قَالَ لعَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: ضَعَّفَ شُعْبَةُ أَبَا هَارُونَ الْعَبْدِيَّ. قَالَ يَحْيَى: وَمَا زَالَ ابْنُ عَوْنٍ يَرْوِي عَنْ أَبِي هَارُونَ حَتَّى مَاتَ. (2)

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي په تاسو کي څوك خپل خادم وهي او خادم دي وخت کي دالله نوم واخلي نو تاسو خپل لاسونه اودروئ (يعني مه يي وهئ).

امام ترمذي وايي . دابوهارون عبدي نوم عماره بن جوين دي. ابوبكر عطار ديحي بن سعيد دا قول نقل کړي دي چي شعبه د ابوهارون عبدي تضعيف کړي دي. يحي وائي ابن عون به هميشه دابوهارون نه نقل دروايت کولو تردي پوري چي وفات شو

****

٣٣_ باب مَا جَاءَ فِي أَدَبِ الْوَلَدِ

بچي ته د ادب خودلو بيان

---

1 - ابي داود_ الأدب ١٣٢ (٥١٦٣) (تحفة الأشراف : ٨٨٣٦، ٨١١٧) ، و مسند احمد (٣_ ٩٠، ١١١)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٢٦٣)

۱۹۵۱_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَعْلَى، عَنْ نَاصِحٍ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَأَنْ يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَنَاصِحٌ هُوَ ابْنُ العَلَاءِ كُوفِيٌّ لَيْسَ عِنْدَ أَهْلِ الحَدِيثِ بِالقَوِيِّ، وَلَا يُعْرَفُ هَذَا الحَدِيثُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ وَنَاصِحٌ شَيْخٌ آخَرُ بَصْرِيٌّ، يَرْوِي عَنْ عَمَّارِ بْنِ أَبِي عَمَّارٍ، وَغَيْرِهِ، هُوَ أَثْبَتُ مِنْ هَذَا. [1]

ترجمه : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خپل بچي ته ادب خودل ديو صاع صدقي وركولو نه بهتر دي.

امام ترمذي وايي : داحديث غريب دي او دناصح راوي اسم كنيه ابو العلاء ده او دي دكوفي اوسيدونكي دي او دمحدثينو په نزد قوي نه دي، اودا حديث صرف په همدي سند معروف دي، دناصح په نوم يو بل شيخ هم شته چي دبصري اوسيدونكي دي، دعمار بن ابوعمار وغيره نه نقل دروايت كوي او دي دهغه نه زيات قوي دي.

****

۱۹۵۲_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَامِرُ بْنُ أَبِي عَامِرٍ الخَزَّازُ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ مُوسَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدًا مِنْ نَحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَامِرِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ الخَزَّازِ وَهُوَ عَامِرُ بْنُ صَالِحِ بْنِ رُسْتُمَ الخَزَّازُ، وَأَيُّوبُ بْنُ مُوسَى هُوَ ابْنُ عَمْرِو بْنِ سَعِيدِ بْنِ العَاصِي، وَهَذَا عِنْدِي حَدِيثٌ مُرْسَلٌ. [2]

ترجمه : دعمرو بن سعيد بن العاص رضي الله عنهم بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دښه ادب نه بله كومه بهتره تحفه هيچرته كوم پلار خپل خوي ته نه ده وركړي.

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي او مونږ يي صرف دعامر بن ابوعامر خزاز په سند پيژنو او عامر دصالح بن رستم خزاز خوي دي، او دايوب بن موسي نه مراد ايوب بن موسي بن عمرو بن سعيد بن العاص دي، او دا حديث زما په نزد مرسل دي.

****

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۲۱۹۵)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۳۲۶۳)

٣٤_ باب مَا جَاءَ فِي قَبُولِ الْهَدِيَّةِ وَالْمُكَافَأَةِ عَلَيْهَا

دهديه قبلولو او ددې دبدلې اداء کولو بيان

١٩٥٣_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَكْثَمَ، وَعَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ، وَيُثِيبُ عَلَيْهَا". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عِيسَى بْنِ يُونُسَ، عَنْ هِشَامٍ. [1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به هدي قبلولي او ددي بدله به يي هم اداء کوله.

امام ترمذي وايي : داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي اومونږ يي صرف دعيسي بن يونس په روايت پيژنو کوم چي هغه د هشام نه نقل کوي، او په دي باب کي دابوهريره، انس، ابن عمر، او جابر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

****

٣٥_ باب مَا جَاءَ فِي الشُّكْرِ لِمَنْ أَحْسَنَ إِلَيْكَ

دمحسن دشکريه اداء کولو بيان

١٩٥٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ لَا يَشْكُرُ النَّاسَ لَا يَشْكُرُ اللَّهَ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوک چي دخلقو شکريه نه اداء کوي نو دي دالله شکريه هم نه اداء کوي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.

لغات: شکر شکرا وشکورا دنصر نه په معني دتعريف کولو دي د کوم احسان په وجه او په معني شکريه ادا کولو دي.

---

[1] ـ صحيح البخاري_ الهبة ١١ (٢٥٨٥) ، سنن ابي داود_ البيوع ٨٢ (٣٥٣٦) (تحفة الأشراف : ١٦١٣٢)

[2] ـ سنن ابي داود_ الأدب ١٢ (٤٨١١) (تحفة الأشراف : ١٣٣٦٨) ، و مسند احمد (٢_ ٢٩٥، ٣٠٢، ٣٦١)

تشريح امام مسلم په دي سلسله کي د صهيب بن سنان رضي الله عنه هم يو حديث په لاندينو الفاظو نقل کړی دی

عن صهيب بن سنانٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رسولُ الله ﷺ : ((عَجَباً لأمرِ المُؤمنِ إنَّ أمْرَهُ كُلَّهُ لَهُ خيرٌ وليسَ ذلِكَ لأحدٍ إلاَّ للمُؤمِن : إنْ أصابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ فكانَ خيراً لَهُ ، وإنْ أصابَتْهُ ضرَّاءُ صَبَرَ فكانَ خيراً لَهُ))

دابو يحيي نه چه نوم يي صهيب بن سنان دی روايت دی چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ، دمومن عجيبه حالت دی هر کار کي ورته خير دی او دا بی له مومن نه بل چاته نشته که راحت پري راغلو شکر اوباسي نو ورته فائده شي (دشکر اجر بيامومي) او که تکليف پري راغلو نو صبر اوکړي نو ورته فائده شي (دصبر اجر بيامومي) (مسلم).

په انسان باندي امتحان په دوه حالتو کي وي يو هغه حالت دی کله چه انسان خوشحاله وي نو الله تعالي ورنه هير شي او دويم دغم په وخت کي ، پس همدا وجه ده چه دا دواړه حالتونه په خصوصيت سره په دي حديث کي بيان شوي دي.

"اصابته سراء شکر فکان خيراله" يعني که ده ته کومه خوشحالي اورسي نو دالله تعالي شکر ادا کوي، او دا دده دپاره بهتر دی چه مومن ته دي دالله تعالي دطرفه کوم نعمت ملاؤ شي او دی په هغي کي الله تعالي لره دهيرولو په ځاي دهغه شکر ادا کړي دکوم په وجه چه الله تعالي په ده باندي خپل نعمت زياتوي لکه چه فرمائيلي يي دي "لئن شکرتم لازيدنکم".

"وان اصابته ضراء صبر فکان خيراله" اوکچري ده ته څه تکليف اورسيږي نو صبر کوي، او دا صبر کول هم دده دپاره بهتر دي نو کله چه مومن ته کوم تکليف يابيماري يامصيبت وغيره راشي نو په دي وخت کي دجزعي او فزعي په ځاي او دتقدير نه دشکايت کولو په ځاي الله تعالي طرف ته متوجه شي او دده دا يقين وي چه دا مصيبت دالله تعالي دطرفه راغلی دی او هم هغه دي لره ختمولی شي نو په دي سبب به دده درجي لوړي شي لکه چه الله تعالي خپلو خاصو انبياء کرامو ته دا حکم کړی دی :"فاصبر کما صبر الو العزم من الرسل".

****

١٩٥٥ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ. عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى. ح وَحَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ. حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الرُّؤَاسِيُّ. عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطِيَّةَ. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ، لَمْ يَشْكُرِ اللَّهَ ". وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

وَالْفَاجِرُ خِبٌّ لَئِيمٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مومن انتهائي ساده او شريف وي او فاجر دوكه باز او رزيل خصلت والا وي امام ترمذي وائي داحديث غريب دي اوددي سند نه علاوه په بل سند مونږ ته نه دي معلوم

****

٤٢_ باب مَا جَاءَ فِي النَّفَقَةِ فِي الأَهْلِ

په بچوباندي دخرچي كولو دفضيلت بيان

١٩٦٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلَى أَهْلِهِ صَدَقَةٌ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دابومسعود انصاري رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديو كس پخپلو بچو باندي خرچي كول دهغه دطرفه صدقه ده.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعبدالله بن عمرو ، عمرو بن اميه ضمري او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي

****

١٩٦٦_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ، عَنْ ثَوْبَانَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أَفْضَلُ الدِّينَارِ دِينَارٌ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ عَلَى عِيَالِهِ، وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ عَلَى دَابَّتِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَدِينَارٌ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ عَلَى أَصْحَابِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ". قَالَ أَبُو قِلَابَةَ: بَدَأَ بِالْعِيَالِ، ثُمَّ قَالَ: " فَأَيُّ رَجُلٍ أَعْظَمُ أَجْرًا مِنْ رَجُلٍ يُنْفِقُ عَلَى عِيَالٍ لَهُ صِغَارٍ يُعِفُّهُمُ اللَّهُ بِهِ

---

1 _ سنن ابي داود_ الأدب ٦ (٤٧٩٠) (تحفة الأشراف : ١٥٣٦٢) ، و مسند احمد (٢_ ٣٩٤)

2 _ صحيح مسلم_ الزكاة ١٢ (٩٩٤) . سنن ابن ماجه_ الجهاد ٤ (٢٧٦٠) (تحفة الأشراف : ٢١٠١) . و مسند احمد (٥_ ٢٧٦، ٢٧٩، ٢٨٤)

تشريح امام مسلم هم په دي سلسله كي د ابو ذر رضي الله عنه نه يو مرفوع حديث لاندينو الفاظو نقل كړى دى:

عن ابي ذر ، قال : قال النبيُّ ﷺ : ((عُرِضَتْ عَلَيَّ أعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا فَوَجَدْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الأَذَى يُمَاطُ عَنِ الطَّرِيقِ ، وَوَجَدْتُ فِي مَسَاوِيءِ أعمَالِهَا النُّخَاعَةُ تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ لا تُدْفَنُ)) رواه مسلم.

دابو ذر رضي الله عنه نه روايت دى چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دامت ښه او خراب كارونه ماته پيش كړى شو نو دامت په ښو كارونو كي مي دا هم اوليدو چه څه دتكليف شى دلاري نه لري كړي شي او په خرابو كارونو كي مى هغه توكانړي هم اوليدي چه په جومات كي توكړى شي او پټ نه كړى شي.

الاذیٰ اذي دسمع نه په معني دتكليف مېندلو دي.

" ووجدت مساوي اعمالها النخاعة تكون في المسجد لاتدفن" په مسجد كي توكل او سونړل گناه ده خو كه دچا نه دا گناه او شي نو دادي پاك كړي مگر دي لره دي نه دفن كوي . په يوبل روايت كي راغلي دي: البزاق في المسجد خطيئة وكفارتها دفنها . ليكن په يو بل روايت كي داسي راغلي دي التفل في المسجد سيئة ودفنه حسنة..

امام نووي فرمائي قال النووي في التحقيق البصاق في المسجد قال سواء فيه داخله واخارجه. امام نووي وايي چه محققه خبره داده چه په مسجد كي توكل ناجائز دي برابره خبره ده چه توكلو والا په مسجد كي داخل وي او كه خارج وي.

د احنافو علماؤ په نزد په مسجد كي توكل مكروه تحريمي دي او كه چا دا كار وكړو نو پاكول يې واجب دي

ملا علي قاري دابن عماد قول نقل كړي دي چه: قال ابن عماد لا خلاف ان من بصق بالمسجد استهانة به كفر. ابن عماد وايي چه په دي مسئله كي دهيچا اختلاف نشته چه استهانة او استخفافا توكل او سونړل په مسجد كي موجب دكفر دي.

ابن ابي حمزه اندلسي وايي ما يو مفتي ليدلي وو چه فتوي به يي وركولي اود مسجد په كناره كي ناست وو اود مسجد نه بهر يوه باغيچه وه نو هغه به هلته هم توكل نه خوښول.

****

٣٧_ باب مَا جَاءَ فِي الْمِنْحَةِ

دعطيه وركولو دفضيلت بيان

١٩٥٧_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ. حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ. عَنْ أَبِيهِ. عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ. عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْسَجَةَ. يَقُولُ: سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنْ مَنَحَ مَنِيحَةَ لَبَنٍ أَوْ وَرِقٍ أَوْ هَدَى زُقَاقًا كَانَ لَهُ مِثْلَ عِتْقِ رَقَبَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَقَدْ رَوَى مَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ، وَشُعْبَةُ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ. هَذَا الْحَدِيثَ، وَفِي الْبَابِ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: "مَنْ مَنَحَ مَنِيحَةَ وَرِقٍ" إِنَّمَا يَعْنِي بِهِ: قَرْضَ الدَّرَاهِمِ، قَوْلُهُ: "أَوْ هَدَى زُقَاقًا" يَعْنِي بِهِ: هِدَايَةَ الطَّرِيقِ. (1)

ترجمه دبراء بن عازب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي چاچي دشودو عطيه ورکړه او يايي سپين زر قرض ورکړل او يايي چاته لاره اوخودله ده ته به دغلام ازادولو برابر ثواب ورکولي شي

امام ترمذي وايي . داحديث دابواسحاق په روايت سره کوم چي دطلحه بن معوف بن مصرف نه نقل کوي حسن صحيح غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو، منصور بن معتمر او شعبه هم داحديث دطلحه بن مصرف نه نقل کړي دي، او په دي باب کي دنعمان بن بشير رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او د "منح منيحة ورق" مطلب دادي چي قرض يي ورته ورکړي او د "هدي زقاقا" مطلب دادي چي څوک چاته لار اوښايي.

****

٣٨_ باب مَا جَاءَ فِي إِمَاطَةِ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ

١٩٥٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي فِي طَرِيقٍ إِذْ وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ فَأَخَّرَهُ فَشَكَرَ اللَّهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَرْزَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي ذَرٍّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ما يو سړی اوليدو په لاره تلو داوني يوه څانګه يی اوليده چي خلقو ته تري تکليف رسيدو

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٨٤)، وانظر مسند احمد (٤_٢٩٦، ٣٠٠)

2 صحيح البخاري . الأذان ٣٢ (٦٥٢) والمظالم ٢٨ (٢٤٧٢) صحيح مسلم _ الإمارة ٥١ (١٩١٤ ١٦٤) والبر والصلة (١٩١٤_١٢٧) (تحفة الأشراف: ١٢٥٧٥)

هغه اوونيل والله دا څانګه به دلاري نه لري كوم چې مسلمانانو ته تكليف ورنكړي ، نو هغه ته مغفرت وشو

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دى ، اوپه دي باب كي د ابو برزه، ابن عباس، او ابو ذر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

لغات الغصن خانښ ته ونيلي شي جمع يي غصون او اغصان ونيلي شي

تشريح: يعني كه څوك داسي اوكړي او عمل يي دالله خوښ شي نو مغفرت به ورته اوشي. بعضي علماؤ قول دى ددينه مراد صرف ونه نه ده بلكه هر هغه څيز دى دكوم نه چي خلقو ته تكليف رسيږي مثلا په لاره كې ګنده ګي وي يا ازغي وي يا مرداره وي دهغي په لري كولو باندي انسان ته فضيلت حاصليږي خو ددي برعكس خلقو ته تكليف وركول دالله تعالي دناراضتيا باعث ګرځي.

****

٣٩_ باب مَا جَاءَ أَنَّ الْمَجَالِسَ أَمَانَةٌ

دمجلس خبري امانت دي

١٩٥٩_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الْحَدِيثَ ثُمَّ الْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَإِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ. [1]

ترجمه دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي تاسو ته څوك څه خبره بيان كړي او بيا (په راز كي دپټ ساتلو دپاره) يو طرف ته او بل طرف ته تاؤ شي او اوګوري نو دده دا خبره تاسو سره امانت دي.

امام ترمذي وايي : دا حديث حسن دي او مونږ يي صرف دابن ابي ذئب په سند پيژنو

****

٤٠_ باب مَا جَاءَ فِي السَّخَاءِ

دسخاوت كولو فضيلت بيان

---

[1] _ سنن ابي داود_ الأدب ٣٢ (٤٨٦٨) (تحفة الأشراف : ٢٢٨٤) . و مسند احمد (٣_٣٨٠)

۱۹۶۰ـ حَدَّثَنَا أَبُو الخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ وَرْدَانَ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّهُ لَيْسَ لِي مِنْ بَيْتِي إِلَّا مَا أَدْخَلَ عَلَيَّ الزُّبَيْرُ، أَفَأُعْطِي؟ قَالَ: "نَعَمْ، وَلَا تُوكِي فَيُوكَى عَلَيْكِ" يَقُولُ: "لَا تُحْصِي فَيُحْصَى عَلَيْكِ". وَفِي البَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الحَدِيثَ بِهَذَا الإِسْنَادِ عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، وَرَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا، عَنْ أَيُّوبَ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ.(۱)

ترجمه داسماء بنت ابي بكر رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما عرض اوكړو اي دالله رسوله زما په كور كي صرف دزبير ګټلي مال دي ايا زه ددينه صدقه او خيرات وركولي شم؟ رسول الله اوفرمائيل هو، صدقي وركوه او غوټي ورته مه اچوه او كنه نو ستا په حق به هم غوټه واچولي شي او د "لاتوكي فيوكي عليك" مطلب دادي چي صدقه په شمير مه وركوه او كنه نو الله تعالي به ني هم په شمير دركوي او بركت به درنه ختم كړي.

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي او بعضي راويانو دا حديث عن ابن ابي مليك عن عباد بن عبدالله بن زبير عن اسماء بنت ابي بكر په سند بره بيان كړي دي بعضي راويانو دا حديث دايوب نه نقل كړي دي او ددي په سند كي يي دعباد بن عبدالله بن زبير د واسطي ذكر نه دي كړي، او په دي باب كي دعائشه، او ابوهريره رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

لغات: لاتوكي. اوكي ايكاء القربة وعلي ما في القربة دمشك خوله په څه شي تړل الرجل بخل كول، تيزه منډه كول، وكي دضرب نه وكيا القربة، دمشك خوله په څه شي تړل

تشريح: "ولاتحصي" شميرل مه كوه دحديث مطلب ظاهر دی چي دخرچ كولو صاف صاف حكم شوی دی ليكن دا هم ظاهره ده چي هغه خرچ به معتبر وي كوم چي دشريعت موافق وي او كوم مال چي دشريعت حلاف خرچ كړي نو معتبر به نه وي او په دي باندي اجر حاصليدل خوپرېږده الټه به ګناه اوګرځي.

د "ولاتحصي" دوه مطلبونه دي اول دشميرلو نه مراد ايخودل او جمع كول دي ددي صورت په بنا

---

(۱) . صحيح البخاري ـ الزكاة ۲۱ (۱۴۳۳)، و ۲۲ (۱۴۳۴)، والهبة ۱۵ (۲۵۹۰). صحيح مسلم ـ الزكاة ۲۸ (۱۰۲۹). سنن ابي داود ـ الزكاة ۴۶ (۱۶۹۹). سنن النسائي. الزكاة ۶۲ (۲۵۵۲) (تحفة الأشراف: ۱۵۷۱۸). ومسند احمد (۶ ـ ۳۴۴)

به مطلب داوي كه چري ته په شمير پيسي كيږدي دجمع كولو دپاره نو الله تعالى به يي هم په شمير دركوي، دويم مطلب دادی چي فقيرانو ته دوركولو په وخت كې په شمير وركړی شي نو ثواب به يي هم په شمير ملاويږي او كه فقيرانو ته بغير شميرلو وركړی شي نو دالله دطرفه به هم اجر بي حسابه ملاؤ شي

دبخاري په يو روايت كې راغلي دي چي اسماء رضي الله عنها دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه پوښتنه اوكړه چي زما سره خو خپل هيڅ څيز نشته صرف هغه دي كوم چي ماته زما خاوند زبير راكړي دي نوايا زه دي لره صدقه كولی‌شم رسول الله ورته اوفرمائيل صدقه وركوه او په لوښي كې يې مه محفوظ كوه كه چري ته محفوظ كول اوكړي نو الله تعالي به خپل عطاء هم محفوظه كړي

****

١٩٦١_حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الوَرَّاقُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " السَّخِيُّ قَرِيبٌ مِنَ اللهِ، قَرِيبٌ مِنَ الجَنَّةِ، قَرِيبٌ مِنَ النَّاسِ، بَعِيدٌ مِنَ النَّارِ، وَالبَخِيلُ بَعِيدٌ مِنَ اللهِ، بَعِيدٌ مِنَ الجَنَّةِ، بَعِيدٌ مِنَ النَّاسِ، قَرِيبٌ مِنَ النَّارِ، وَلَجَاهِلٌ سَخِيٌّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ عَالِمٍ بَخِيلٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سَعِيدِ بْنِ مُحَمَّدٍ، وَقَدْ خُولِفَ سَعِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ فِي رِوَايَةِ هَذَا الحَدِيثِ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، إِنَّمَا يُرْوَى عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَائِشَةَ شَيْءٌ مُرْسَلٌ. (١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سخي انسان الله ته نزدي وي، جنت ته نزدي وي، خلقو ته نزدي وي، او دجهنم نه لري وي، بخيل انسان دالله نه لري وي، او دجنت نه لري وي او دخلقو نه لري وي او جهنم ته نزدي وي، جاهل، سخي دالله په نزد دعابد بخيل نه زيات محبوب دي

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي او مونږ يي صرف دسعد بن محمد په واسطه د يحي بن سعيد عن الاعرج عن ابي هريرة په سند پيژنو، او يحي بن سعيد ددي حديث په نقل كولو كي دسعيد بن محمد مخالفت شوي دي سعيد بن محمد دماقبل سند مطابق نقل كړي دي مګر دا روايت ديحي بن سعيد عن عائشه په سند مرسل هم مروي دي،

****

٤١_ باب مَا جَاءَ فِي الْبُخْلِ

دبخيل دمذمت بيان

١٩٦٢_حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ دِينَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ غَالِبٍ الْحُدَّانِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِي مُؤْمِنٍ: الْبُخْلُ، وَسُوءُ الْخُلُقِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ صَدَقَةَ بْنِ مُوسَى، وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په يو مومن کي دوه خصلتونه بخل او بداخلاقي جمع کيدي نشي

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي مونږ يي صرف دصدقه بن موسي په سند پيژنو په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

****

١٩٦٣_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا صَدَقَةُ بْنُ مُوسَى، عَنْ فَرْقَدٍ السَّبَخِيِّ، عَنْ مُرَّةَ الطَّيِّبِ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ خِبٌّ وَلَا مَنَّانٌ وَلَا بَخِيلٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه دابوبکر صديق رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دوکه باز او احسان زباتونکي انسان او بخيل انسان جنت ته داخليدي نشي

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي

تخريج تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٦٢٠)

****

١٩٦٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ بِشْرِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْمُؤْمِنُ غِرٌّ كَرِيمٌ،

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٢٩٤٣)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦١١٠)

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

تشريح: علماء وائي دکاملو اخلاقو نه دا هم دي چي پخپل کلام کي دتواضع نه کار واخستلی شي او څوك دي دا عادت نه جوړوي چي دخپل بلاغت په اظهار کي دتکلف نه کار واخلي بلکه زيات بهترين کلام هغه دی په کوم کي چي تواضع وي او عام فهم وي.

****

٤٨_ بَابُ مَا جَاءَ فِي اللَّعْنَةِ

دلعنت بيان.

١٩٧٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَلَاعَنُوا بِلَعْنَةِ اللَّهِ، وَلَا بِغَضَبِهِ، وَلَا بِالنَّارِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه: سمره بن جندب رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په يو بل دالله تعالي لعنت مه وائي او نه دالله تعالي غضب اونه اور يعني داسی مه وائي په تادی دخداي جل جلاله لعنت وي يا تادی الله په لعنت کړي اوداسی هم مه وائي دخداي په غضب اخته شی اوداسی هم مه وايه خدادی دوزخي کړه يا په اور اوسوځی

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عباس، ابوهريره، ابن عمر او عمران بن حسين رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات: يلاعن لاعن يلاعن ملاعنة لعان کول ، لعن دفتح نه لعنت کول شرمنده کول او کنځل کول دخير نه لري کول او رټل.

تشريح: په پورتني حديث کي ديته ترغيب ورکولی شي چي يو مسلمان دي بل مسلمان ته خيري نه کوي او لعنت وغيره الفاظ استعمالول سخته گناه ده هيڅوك دي دخپل مسلمان ورور ته داسي نه وائي چي په تا دي لعنت وي يا په تا دي دالله تعالي غضب وي يا دي الله تا دوزخ ته بوځي دا قسم الفاظ صرف ناجائز نه دي بلکه سخته گناه هم ده.

****

١٩٧٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الْأَزْدِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَابِقٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ،

1 - سنن ابي داود_ الأدب ٥٣ (٤٩٠٦) (تحفة الأشراف : ٤٥٩٢) ، وانظر مسند احمد (٥_١٥)

وَيُغْنِيهِمُ اللَّهُ بِهِ" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه ابوعبدالله چي عبدالرحمن هم ورته ونيلى شي نوم يى ثوبان دى د رسول الله صلي الله عليه وسلم ازاد كړى غلام روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په ټول كې بهتره اشرفۍ (په ثواب كنبي) هغه ده چي بنده يى په خپل بال بچ اولګوي. او دجهاد په سورلۍ يي اولګوي او دجهاد په ملګرويي مجاهدينو اولګوي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي.

لغات : سبيل. لاره يا سړك جمع يي سُبُل راځي دسبيل الله نه مراد دجهاد ، طلب علم. حج وغيره دپاره سفر كول دي

تشريح: دپورتني حديث مفهوم دادى لكه چي ددينه په مخكې حدٰيث كې تير شول چي اول به سړى پخپل خان او پخپل اهل او عيال خرچ كوي بيا كه ددينه زياتي شي نو هغه دي په نورو خرچ كړي. ملا علي قاري وائي واو دترتيب دپاره راځي يعني اول خپل خان بيا خپله كورنۍ او بيا خپل څاروو وغيره باندي خرچ كول پكار دي.

صاحب دكنز العمال په دي مضمون متعدد روايات نقل كړي دي كه چري يو سړى پخپله ضرورتمند وي نو دټولو نه زيات مقدم دى دى او بيا دده اهل او عيال دى او بيا كه ددينه څه زياتي شي هغه دي په رشته دارو خرچ كړي او كه ددينه هم زيات شي نو هغه دي په اخواديخوا لري خلقو باندي خرچ كړي كه چري بل څوك دده نه زيات محتاج وي ياپخپله دمحتاج كيدو باوجود په صبر قادر وي او په الله يي كامل اعتماد وي نو په داسيي حال كې بل چالره مقدم كول به دده پاره دكمال خبره وي دداسي خلقو نه قران كريم په دي الفاظو تعبير كړى دى "ويؤثرون علي انفسهم ولوكان بهم خصاصه" يعني ددوى صفت دادى چي نورو ته پخپل خان ترجيح وركوي اګر چي پخپله هم ضرورت مند دي

****

٤٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الضِّيَافَةِ وَغَايَةِ الضِّيَافَةِ كَمْ هُوَ

دمهمان نوازۍ كولو ذكر او ددي دمودي بيان

---

[1] ـ صحيح البخارى ـ الإيمان ٤٢ (٥٥) . والمغازي ١٢ (٤٠٠٦) . والنفقات ١ (٥٣٥١) . صحيح مسلم ـ الزكاة ١٤ (١٠٠٢) . سنن النسائى ـ الزكاة ٦٠ (٢٥٤٦) (تحفة الأشراف : ٩٩٩٦) . و مسند احمد (٤ـ ١٢٠، ١٢٢) . و (٥ـ ٢٧٣) . سنن الدارمى ـ الاستئذان ٣٥ (٢٦٦٤)

١٩٦٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: أَبْصَرَتْ عَيْنَايَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَمِعَتْهُ أُذُنَايَ حِينَ تَكَلَّمَ بِهِ، قَالَ: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتَهُ". قَالُوا: وَمَا جَائِزَتُهُ؟ قَالَ: "يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ، وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ، وَمَا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَسْكُتْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دابوشریح عدوي بیان دي فرمائي چې کله رسول الله صلي الله علیه وسلم دا حدیث بیانولو نو زما سترګو لیدلو او زما زړه ورنه یادول ویې فرمائیل څوک چې په الله او په ورځ داخرت ایمان لري هغه به دمیلمه د عزت کولو په حال کې دهغه حق اداء کوي. صحابه کرامو عرض اوکړو دمیلمه دعزت او تکریم نه څه مراد دي؟ ویې فرمائیل یوه ورځ او یوه شپه. میلمستیا د دریو ورځو پورې وي او څه چې ددینه وروسته وي هغه صدقه ده څوک چې په الله او په ورځ داخرت ایمان لري ښې خبرې دې کوي او یا دې خاموش اوسېږي
امام ترمذي وایي داحدیث حسن صحیح دي

دابوشریح حالات

د ابو شریح په نوم کې اختلاف دی بعضو خویلد خودلی دی او بعضو عمرو کنیه یې ابوشریح ده او په همدې مشهور شوی دی دفتح مکې نه مخکې مسلمان شوی وو او په فتح مکه کې شریک وو (طبقات ابن سعد)

چې په سخاوت کې ډیر مشهور وو اعلان یې کړي وو چې که هرڅوک زما کور ته راځي نو غوړې بې تکلفه بې اجازته خوړلي شي ، تقریبا شل روایات وررنه منقول دي چې دوه پکې متفق علیه دي

****

١٩٦٨_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْكَعْبِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ، وَجَائِزَتُهُ يَوْمٌ وَلَيْلَةٌ، وَمَا أُنْفِقَ عَلَيْهِ بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ، وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَثْوِيَ عِنْدَهُ حَتَّى يُحْرِجَهُ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ،

---

1 صحيح البخاري_ الأدب ٣١ (٦٠١٩) و ٨٥ (٦١٣٥) . والرقاق ٢٣ (٦٤٧٦) . صحيح مسلم_ الإيمان ١٩ (٤٨) سنن ابي داود_ الأطعمة ٥ (٣٧٤٨) . سنن ابن ماجه_ الأدب ٥ (٣٦٧٥) (تحفة الأشراف : ١٢٠٥٦) . والموطاء_ صفة النبي ﷺ ١٠ (٢٢) . و مسند احمد (٤_٣١) . و (٦_ ٣٨٢) . وسنن الدارمي_ الأطعمة ١١ (٢٠٧٨)

وَأَبِي هُرَيْرَةَ. وَقَدْ رَوَاهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَاللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيُّ هُوَ الْكَعْبِيُّ، وَهُوَ الْعَدَوِيُّ اسْمُهُ خُوَيْلِدُ بْنُ عَمْرٍو. وَمَعْنَى قَوْلِهِ: "لَا يَثْوِي عِنْدَهُ" يَعْنِي: الضَّيْفَ، لَا يُقِيمُ عِنْدَهُ حَتَّى يَشْتَدَّ عَلَى صَاحِبِ الْمَنْزِلِ. وَالْحَرَجُ: هُوَ الضِّيقُ. إِنَّمَا قَوْلُهُ حَتَّى يُحْرِجَهُ يَقُولُ حَتَّى يُضَيِّقَ عَلَيْهِ. (١)

ترجمه دابوشريح كعبي بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ضيافت د دريو ورځو پوري دي او ميلمه ته عطيه (يعني دهغه دپاره تكليف انتظام كول، يوه ورځ او يوه شپه وركول پكار دي ددينه پس چي ورباندي هر څه خرج كيږي دا به صدقه وي. او دميلمه دپاره جائز نه دي چي دكوربه سره د دريو ورځو نه زيات پاتي شي دكوم په وجه چي هغه لره په پريشانئ او مشقت كي واچوي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي مالك بن انس او ليث بن سعد داحديث دسعيد مقبري نه نقل كړي دي، او دابو شريح خزاعي نسبت كعبي او عدوي دي او دده نوم خويلد بن عمرو دي، او په دي باب كي دعائشه او ابوهريره رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي. او د "لايثوي عنده" مطلب دادي ميلمه دي دكور والاسره هغه وخته پوري نه پاتي كيږي چي دده لره په مشقت كي مبتلا كړي، او دحرج معني تنگي راوستل دي او د "حتي يحرجه" مطلب دادي چي په تنگئ كي يي مبتلا كړي يعني ده لره په پريشانئ كي واچوي.

لغات : جائزته معني انعام چي دنصر نه شي او په معني دجائز كيدوهم راخي

تشريح : مطلب دادی چي يوه شپه او ورځ دي دبهترين خوراك اهتمام اوكړی شي او ددينه پس باقي دوه ورځي دي عام خوراك وركړي ، دليث قول دی چي يوه شپه او ورځ ميلمستيا وركول واجب دي او دوه ورځي ددينه علاوه مستحب دي مگر دجمهورو فقهاؤ په نزد دري واړه ورځي ميلمستيا وركول مستحب دي دامام ابو حنيفه او امام شافعي او محمد بن حكم قول دی چي ميلمه كه دبنار اوسيدونكی وي او كه دباندو خو ميلمستيا ورته وركول مستحب دي ليكن دامام مالك په نزد په كلو كي واجب دي او په بنار كي مستحب دي ځكه چي په كلو كي هوټل وغيره نه وي مگر په بنار كي خو ضرورتونه پوره كيدی شي په دي وجه په بنار كي ميلمستيا وركول مستحب شول او په كلو اوباندو كي واجب شول.

---

1 صحيح البخاري_ الأدب ٣١ (٦٠١٩) . و ٨٥ (٦١٣٥) . والرقاق ٢٣ (٦٤٧٦) . سنن ابي داود_ الأطعمة ٥ (٣٧٤٨) سنن ابن ماجه_ الأدب ٥ (٣٦٧٥) (تحفة الأشراف : ٢٠٥٦) وموطا امام مالك_ صفة النبي ﷺ ١٠ (٢٢) . ومسند احمد (٢ ـ ٣١٠ و(٦ ـ ٣٨٤) . وسنن الدارمي_ الأطعمة ١١ (٢٠٧٨)

****

٤٤_ باب مَا جَاءَ فِي السَّعْيِ عَلَى الأَرْمَلَةِ وَالْيَتِيمِ
په كونډه او يتيم دخرڅي كولو دفضيلت بيان

١٩٦٩_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ يَرْفَعُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " السَّاعِي عَلَى الأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، أَوْ كَالَّذِي يَصُومُ النَّهَارَ وَيَقُومُ اللَّيْلَ ".(١)

ترجمه: صفوان بن سليم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په كونډه او مسكين خرڅ كولو والا دالله په لاره كي دجهاد كونكي پشان دي او يا دهغه انسان پشان دي څوك چي دورځي روژي او دشپي عبادت كوي

****

١٩٦٩_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ زَيْدٍ الدِّيلِيِّ، عَنْ أَبِي الْغَيْثِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذَلِكَ. وَهَذَا الْحَدِيثُ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الْغَيْثِ اسْمُهُ سَالِمٌ مَوْلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُطِيعٍ، وَثَوْرُ بْنُ زَيْدٍ مَدَنِيٌّ، وَثَوْرُ بْنُ يَزِيدَ شَامِيٌّ. (٢)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه هم دماقبل حديث هم معني روايت په دي سند مروي دي امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب صحيح دي او دابو الغيث نوم سالم مولي عبدالله بن مطيع دي او ثور بن زيد مدني دي او دشام اوسيدونكي دي.

****

٤٥_ باب مَا جَاءَ فِي طَلاَقَةِ الْوَجْهِ وَحُسْنِ الْبِشْرِ
دخوش مزاجي اوپه خندا سره دمخامخ كيدو دفضيلت بيان

١٩٧٠_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا الْمُنْكَدِرُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ،

---

1 _ صحيح البخاري_ الأدب ٢٥(٦٠٠٦) . (تحفة الأشراف : ١٨٨١٨)

2 صحيح البخاري_ النفقات ١(٥٣٥٣)؛ والأدب ٢٦(٦٠٠٧) . صحيح مسلم_ الزهد ٢(٢٩٨٢) . سنن النسائي_ الزكاة ٧٨(٢٥٧٨) . سنن ابن ماجه_ التجارات ١(٢١٤٠) (تحفة الأشراف : ١٢٩١٤) . و مسند احمد (٢_٣٦١)

قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ، وَإِنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ، وَأَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِي إِنَاءِ أَخِيكَ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.([1])

ترجمه دجابر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي هره يوه نيكي كول صدقه ده او تاسو چي دخپل يو وروړ سره په خوش مزاجئ سره مخامخ شئ او پخپله بوكه دده په بوكه كي اوبه واچوئ دا هم په صدقه كي شامل دى

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دي، په دي باب كي دابوذر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

تشريح: د مسلم په روايت كي داسي دي

"و ان تلقي اخاك بوجه طليق" اگر چي ته دخپل وروړ سره په روڼ تندي ملاقات اوكړي. مولانا ادريس فرمائي ددي حديث نه معلومه شوه چي په روڼ تندي ملاويدل هم صدقه ده په دي محبت پيدا كيږي كوم چي مطلوب او محبوب عمل دى بعضي محدثينو قول دى كه دشمن دي هم ملاقات ته راشي خو بيابه هم ته دهغه سره په روڼ تندي ملاقات كوي لكه چي په يو روايت كي راغلي دي دام المومنين عائشه رضي الله عنها بيان دى يو خل نبي كريم صلي الله عليه وسلم زموږ په مينځ كي ناست وو او ديو كس بدي يي بيانوله گوري چي يوه شيبه پس هم دغه كس حاضر شو رسول الله دهغه سره هم ډير په ښكلي انداز ملاؤ شو

****

٤٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الصِّدْقِ وَالْكَذِبِ

درښتياود فضيلت او د دروغو د مذمت بيان

١٩٧١ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ صِدِّيقًا، وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ، فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَمَا يَزَالُ الْعَبْدُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَعُمَرَ،

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٠٨٥) (وانظر: مسند احمد (٣ـ ٣٤٤، ٣٦٠)

وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي رښتياوائي او بيشکه رښتيا بنده ته دنيکۍ لاربنائي او نيکي يې جنت ته رسوي او بيشکه بنده چي هميشه رښتيا وايې الله جل جلاله سره صديق اوليکلی ، اود دروغو نه ځان اوساتۍ ځکه چي دروغ بنده ته دنافرمائي لاربنائي اونافرماني بنده دوزخ ته رسوي بيشکه يو بنده چي هميشه دروغ وائي الله جل جلاله سره دروغژن اوليکلی شي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي ابوبکر صديق، عمر فاروق، عبدالله بن شخير، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

لغات : صديق: رښتوني ، دوست ، هم خيال، جمع يې اصدقاء راځي دنصر نه صدق يصدق صدقا او دباب تفعيل نه تصديق مصدر دي

تشريح : حتي يكتب عند الله صديقا: تردي چي هغه دالله په نزد صديق وليكلي شي. مطلب دادی چي دی دالله په نزد صديقيت والا اوليکلی شي او بيا دلوړي درجي والا شميرلی شي دويم مطلب دادي: دفرشتو سره موجوده عملنامه په کومه کې چي دبندګانو عملونه ليکلی کيږي په دي کې به ددي کس نوم صديق اوليکلی شي ، دريم مطلب دادی چي په دنيا کې به ورته خلق صديق او رښتوني وائي او ددي دريم مطلب تائيد په قران کريم په دي ايت سره هم کيږي چي ان الذين امنوا وعملو الصالحات سيجعل لهم الرحمان ودا ، چاچي ايمان قبول کړی دی او نيک اعمال يې کړي دي الله تعالي به دخلقو په زړونو کې ددوی محبت واچوي.

حتي يكتب عندالله كذابا: تردي چي دالله تعالي په نزد كذاب اوشميرلی شي يا دا چي فرشتي يې پخپل دفتر کې دروغژن اوليکلی شي يا دخلقو په نزد دروغژن وشميرلي شي چي لازمي نتيجه يې دا وي چي بيا داسي کس دخلقو په نظرونو کې سپک وي هر څوك ورسره بغض کوي او هر څوك ورنه نفرت کوي.

****

١٩٧٢ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، قَالَ: قُلْتُ لِعَبْدِ الرَّحِيمِ بْنِ هَارُونَ الْغَسَّانِيِّ: حَدَّثَكُمْ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي رَوَّادٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ

---

1 صحيح البخاري_ الأدب ٦٩ (٦٠٩٤). صحيح مسلم_ البر والصلة ٢٩ (٢٦٠٧) والقدر ١ (٢٦٤٣). سنن ابن ماجه المقدمة ٧ (٤٦) (تحفة الأشراف: ٩٣٦١). ومسند احمد (١/ ٣٨٤، ٤٠٥). وسنن الدارمي_ الرقاق ٧ (٢٧٥٧)

عَنْهُ الْمَلَكُ مِيلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ". قَالَ يَحْيَى: فَأَقَرَّ بِهِ عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ هَارُونَ. فَقَالَ: نَعَمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. تَفَرَّدَ بِهِ عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ هَارُونَ. (١)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمنيلي دي كله چي يو بنده دروغ وائي نو دده د دروغو د بدبويي په وجه فرښتي دده نه لري تختي
امام ترمذي وايي داحديث حسن جيد غريب دي. يحي بن موسي وائي ما دعبدالرحيم بن هارون نه تپوس اوكړو ايا تاته عبدالعزيز بن ابي داود دا حديث بيان كړي دي؟ هغه اووئيل هو. او دا حديث مونږ صرف په همدي سند پيژنو او عبدالرحيم بن هارون ددي په نقل كولو كي منفرد دي.

****

١٩٧٣ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "مَا كَانَ خُلُقٌ أَبْغَضَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْكَذِبِ، وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُحَدِّثُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْكِذْبَةِ فَمَا يَزَالُ فِي نَفْسِهِ حَتَّى يَعْلَمَ أَنَّهُ قَدْ أَحْدَثَ مِنْهَا تَوْبَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (٢)

ترجمه: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په نزد د دروغو نه زيات قابل دنفرت كوم بل عادت نه وو او كله چي به چا درسول الله په وړاندي دروغ ونيل نو داسي كس به هميشه درسول الله په نظر كي قابل دنفرت وو ترڅو پوري چي رسول الله به پوهه شو چي اوس يي د دروغو نه توبه ويستلي ده
امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي.

****

٤٧ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْفُحْشِ وَالتَّفَحُّشِ

دبي حيايي او بدزبانۍ دمذمت بيان

١٩٧٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٤-٤)

2 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٤٤٤)

مَعْمَرٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا كَانَ الفُحْشُ فِي شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ، وَمَا كَانَ الحَيَاءُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ". وَفِي البَابِ عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ. ([1])

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په هر يو شي کي چي بي حيايي راشي نو دا بي حيايي هغه لره عيب دارد کوي او په هر يو شي کي چي حيا راشي نو حياء هغه ته زينت ورکوي

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف دعبدالرزاق په سند پيژنو او په دي باب کي دعائشه رضي الله عنهانه هم روايت وارد دي

لغات زان يزين زينا وزينة معني اراسته کول، او خائسته کول.

تشريح: ددي حديث په تشريح کي علامه طيبي ليکلي دي چي فحش يعني بدګويي او سخت کلامي او ددي په مقابله کي حياء، نرم ګويي تاثير دلته ذکر شوی دی البته که فحش په کوم کانړي يا لرګي کي پيدا شي نو هغي لره عيب دار کوي، علماء وائي چي بدګوئي او سخت کلامي په شخصيت کښ دعيب پيدا کولو ذريعه ده او نرم ګويي او خوش کلامي دشخصيت وقار ظاهروي.

****

١٩٧٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الأَعْمَشِ، قَال: سَمِعْتُ أَبَا وَائِلٍ يُحَدِّثُ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خِيَارُكُمْ أَحَاسِنُكُمْ أَخْلَاقًا". وَلَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په تاسو کي بهتر هغه کسان دي څوك چي په اخلاقو کي بهتر وي او رسول الله صلي الله عليه وسلم بي حيا او بدزبانه نه وو.

---

[1] ـ أخرجه: ابن ماجه (٤١٨٥). والترمذي (١٩٧٤) كتاب البر والصلة باب ماجاء في الفحش والتفحش. وقال: ((حديث حسن غريب)) واحمد ٣/ ١٢٦٨٩ وابن حبان وعبدالرزاق في المصنف ٢٠١٤٥ واسناده صحيح

[2] ـ صحيح البخارى ـ المناقب ٢٣ (٣٥٥٩). وفضائل الصحابة ٢٧ (٣٧٥٩). صحيح مسلم ـ الفضائل ١٦ (٢٣٢١) (تحفة الأشراف: ٨٩٣٢). ومسند احمد (٢ـ ١٦١، ١٨٩، ١٩٣، ٢١٨)

کي دواقع کيدو نه پناه غواړو
كتاب التهجد باب ما يكره من ترك قيام الليل لمن كان يقومه ومسلم كتاب الصيام باب النهي عن صيام الدهر والنسائي وابن ماجه.

څوک چه تر سحره پروت وي شيطان يې په غوږونو کې متيازې کوي

عن ابن مسعودٍ ﷺ، قَالَ: ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ رَجُلٌ نَامَ لَيْلَةً حَتَّى أَصْبَحَ، قَالَ: ((ذَاكَ رَجُلٌ بَالَ الشَّيطَانُ فِي أُذُنَيْهِ – أَوْ قَالَ: فِي أُذُنِهِ)) متفقٌ عَلَيْهِ.

دابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چه د رسول الله صلي الله عليه وسلم په مجلس کې ديو سړي خبره اوشوه چه ټوله شپه اوده وو تردی چه صبا شو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا داسی سړی دی چه شيطان يی په غوږونو کي متيازې کړي دي. يايی اوفرمائيل شيطان يی په غوږ کي متيازې کړي دي، يعني داسي دغفلت خوب چه تهجد تری پاتی شو شيطاني اثر دی

أخرجه: البخاري كتاب التهجد باب اذا نام ولم يصل بال الشيطان في اذنيه. ومسلم كتاب صلاة المسافرين باب ما روي فيمن نام الليل اجمع حتي اصبح وابن ماجه وابن حبان والبيهقي

.

بال. بال دنصر نه بولا ومبالا معني متيازې کول.
قافية الراس قافية معني کوپړئ جمع يي اقفية او قفون راځي.
بعضي علماء وائي ددينه مراد دتهجد مونځ دی او دبعضو په نزد دسحر مونځ دی
بال شيطان في اذنيه شيطان دده په غوږونو کي متيازې کوي، مطلب دادي چه حقيقتا داسي وي چه شيطان پکي متيازې کوي.
ملا علي قاري وائي دبعضي صالحينو نه روايت دی چه يوه ورځ يي سترګي اونه غړيدلي په تهجدو کي يادسحر په مونځ کي نو په خوب کي يي اوليدل چه يو تور رنګ والا سړی دده په غوږونو کي متيازې کوي، بعضي علماء وائي متيازې کول ددينه کنايه ده چه شيطان داسي کس لره حقير ګڼري او اصول دادي کوم څيز لره چه څوك ذليل ګڼري په هغه باندي متيازې کوي.

****

٥٤_ باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْمَمْلُوكِ الصَّالِحِ

د نیک سیرته غلام فضیلت

عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ، وَلَا اللَّعَّانِ، وَلَا الْفَاحِشِ، وَلَا الْبَذِيءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه عبدالله بن مسعود نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كامل مسلمان نه چا ته پيغورونه وركوي او نه په چا لعنت وائي نه فحش خبری كوي او نه فضول خبری كوي.

امام ترمذي وايي . داحديث حسن غريب دي او دعبدالله نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم دا روايت مروي دي.

لغات : الفحش. فحش فحشا وفحاشة بد كيدل. الفاحش معني قبيح او بد خويه بخيل ، او هرهغه شي چي دحد نه تير شي ، يا الفاحش قبيح قول يا فعل.

تشريح : په پورتني حديث كې دكامل مومن صفات بيان شوي دي چي په يو مومن كې دا دا خوبياني پكار دي چي هغه به پيغورونه نه وركوي او حسب نسب متعلق به غيبت او بدګوئي نه كوي.

ولا اللعان: او لعنت كونكى به نه وي يعني چي په هر چا لعنتونه وائي مكر دا چي كله كله بنو ، هغه به په دي وعيد كې داخل نه وي).

ولا الفاحش: خو پخپل قول او فعل كې به دبي حيايئ ارتكاب كونكى نه وي.

ولاالبزي: او تيزه ژبه استعمالونكى به نه وي بعضي علماؤ په دي كې فضول خبري كول هم داخل كري دي.

****

١٩٧٨_حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ الطَّائِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَجُلًا لَعَنَ الرِّيحَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "لَا تَلْعَنِ الرِّيحَ، فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ، وَإِنَّهُ مَنْ لَعَنَ شَيْئًا لَيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ رَجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَيْهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْلَمُ أَحَدًا أَسْنَدَهُ غَيْرَ بِشْرِ بْنِ عُمَرَ. (2)

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٤٣٢)

[2] _ سنن ابي داود_ الأدب ٥٣ (٤٩٠٨) (تحفة الأشراف : ٥٤٢٦)

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي يو كس په باد باندي لعنت اووئيلو رسول الله ورته اوفرمائيل په هوا باندي لعنت مه وايه ځكه چي دا خو دالله تعالي دحكم پابنده ده او ځوك چي په داسي يو ځيز لعنت اووائي كوم چي دلعنت مستحق نه وي نو لعنت په همده باندي راګرځي.
امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي، او دبشر بن عمرنه علاوه مونږ ته بل ځوك داسي نه دي معلوم چي دا حديث يي مسند نقل كړي وي

****

٤٩ـ باب مَا جَاءَ فِي تَعَلُّمِ النَّسَبِ

دنسبونو پيژندلو بيان

١٩٧٩ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عِيسَى الثَّقَفِيِّ، عَنْ يَزِيدَ مَوْلَى الْمُنْبَعِثِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ، فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الأَهْلِ، مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ، مَنْسَأَةٌ فِي الأَثَرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: مَنْسَأَةٌ فِي الأَثَرِ يَعْنِي: زِيَادَةً فِي الْعُمُرِ. [1]

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خپل نسب دومره حده پوري اوپيژنئ دكوم په واسطه چي تاسو خپلي رشتي ترلي شئ ځكه چي درشتو په ترلو درشته دارو سره محبت زياتيږي او په مال او دولت كي اضافه راځي او په دي دانسان عمر زياتيږي.
امام ترمذي وايي . داحديث په دي سند غريب دي، او د "منشاة في الاثر" مطلب "الزيادة في العمر" دي يعني دعمر داوږديدو سبب دي

****

٥٠ـ باب مَا جَاءَ فِي دَعْوَةِ الأَخِ لأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ

خپل يو مسلمان ورورته دهغه په غياب كي ددعا كولو دفضيلت بيان (چاته غائبانه دعا كولو فضيلت)

[1] ـ سنن ابي داود_الصلاة ٣٦٦ (١٥٢٥) (تحفة الأشراف: ١٣٨٥٣)

١٩٨٠ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زِيَادِ بْنِ أَنْعُمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَا دَعْوَةٌ أَسْرَعَ إِجَابَةً مِنْ دَعْوَةِ غَائِبٍ لِغَائِبٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَالأَفْرِيقِيُّ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ وَهُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زِيَادِ بْنِ أَنْعُمٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ هُوَ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيُّ. [1]

ترجمه دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هيڅ يوه دعا دومره زر نه قبليږي څومره زر چي ديو غائب سړي په حق كي د بل غائب دعا قبليږي.

امام ترمذي وايي : داحديث غريب دي او مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او په باب دحديث كي دافريقي تضعيف شوي دي (يعني محدثينو دده تضعيف كړي دي او دده نوم عبدالرحمن بن زياد بن انعم دي. اود عبد الله بن يزيد اسم كنيه ابو عبد الرحمن حبلي ده

تشريح: د غائبانه په فضيلت كي احاديث او قراني نصوص متواتره په كثرت سره وارد دي چي يو څو ورنه مونږ دلته په طور د نموني نقل كوو:

عن أبي الدرداء ﷺ: أنَّه سَمِعَ رسولَ الله ﷺ يقول: ((مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يدعُو لأَخِيهِ بِظَهْرِ الغَيْبِ إلاَّ قَالَ المَلَكُ : وَلَكَ بِمِثْلٍ)). رواه مسلم.

ابوالدرداء رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كوم مسلمان بنده چي دبل مسلمان رور دپاره دهغه په غير موجودګۍ كې دعا اوغواړي نويو فرشته ورته اوواني ستادپاره دي هم دغه شان وي.

يعني كوم سوال چي تا دخپل مسلمان ورور دپاره اوكړو دغه سوال دى الله تعالي دهغه سره ستا په حق كې هم منظور كړي.

په يو حديث كې راځي چي په زر قبليدونكو دعاګان كي يوه دعا هغه هم ده كومه چي يو مسلمان دبل مسلمان دپاره دهغه په غير موجودګۍ كې اوغواړي، دابن عباس رضى الله عنهما په يو روايت كې راغلي دي ارشاد نبوي دي

خمس دعوات يستجاب لهن. دعوة المظلوم حتي ينتصر. ودعوة الحاج حتي يصدر . ودعوة المجاهد حتي يقعد وعوة المريض حتي يبرأ ودعوة الاخ لاخيه بظهر الغيب ثم قال واسرع هذه

[1] ـ سنن ابي داود ـ الصلاة ٣٦٤ (١٥٣٥) (تحفة الأشراف : ٨٨٥٢)

الدعوات اجابة دعوة الاخ بظهر الغيب.
يعني پنځه دعاګاني قابل قبول دي : اول دمظلوم دعا، دويم دحاجي دعا ، دريم د دمجاهد دعا ، څلور دمريض دعا ، پنځم ديو مسلمان دپاره غائبانه دعا غوښتل چي هغه حاضر نوي اوپدي تولو كي زياته زر قبليدونكي دعا ديوغائب ده دبل غائب مسلمان دپاره

عن ابي الدرداء : أَنَّ رسُولَ الله ﷺ كَانَ يقول : ((دَعْوَةُ المَرْءِ المُسْلِمِ لأَخيهِ بِظَهْرِ الغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ ، عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ كُلَّمَا دَعَا لأَخِيهِ بِخَيْرٍ قَالَ المَلَكُ المُوَكَّلُ بِهِ : آمِينَ ، وَلَكَ بِمِثْلٍ)).

او دابوالدرداء رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمانيل دمسلمان بنده دعا دخپل غير حاضر مسلمان ورور په حق كي مقبوله ده دهر بنده په سريو فرشته مقرر ده چي كله څوك بل مسلمان ورور دپاره دعا كوي، دا فرشته ورباندى امين وائي او ورته وائي ستا دپاره دى هم دا دعا مقبوله شي.

أخرجه : مسلم كتاب الذكر والدعاء باب فضل الدعاء للمسلمين بظهر الغيب وابوداودب في اخر كتاب الصلاة واحمد والترمذي والبخاري في الادب المفرد والطبراني في المعجم الكبير وابن ماجه في الحج وابوعوانه وابن حبان .

علماء وائي په دي حديث كي دماقبل حديث وضاحت دى مطلب دادى چي كه څوك دخپل ورور په غير موجودګئ كي دهغه دپاره دعا غواړي نو دا دعا به ډير زر قبليږي ددي وجه داده چي په دي كي اخلاص كامل وى او په هر يو عمل كي چي څومره اخلاص وي نو هغه به دومره زر قبليږي.

علماء پدي وجه وايي: كه څوك دخپل يو ورور يا دوست دپاره دهغه په موجودګئ كي په زړه كي پټه په اخلاص سره دعا اوغواړي دا به هم په پورتني حديث كي داخل وي خكه چي په دي كي هم اخلاص موندلى شي.

امين ولك بمثل. ددعا دقبوليت دپاره چي كومه فرشته مقرره وي هغه ددي دعا غوښتونكي سره هم الله تعالي ته درخواست كوي چي اى پروردګاره ددي كس دعا دده ديو ورور په باره كي قبوله كړي او بيا فرښته ددغه كس دپاره دعا اوغواړي لكه څرنګه چي تا دخپل يو ورور دپاره دخير او كاميابئ دپاره دعا اوغوښتله دغه خير او كاميابي دي تاته هم دركړي، همدا وجه ده چي دبعض سلف صالحينو نه منقول دي چي كله به ورته څه ضرورت پيښ شو نو بل به دهغه دپاره دعا اوغوښتله نو هغه ته به هغه څيز ملاؤ شو.(روضة)

****

٥١_ باب مَا جَاءَ فِي الشَّتْمِ

دکنځل کولو دمذمت بیان

۱۹۸۱_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْمُسْتَبَّانِ مَا قَالَا فَعَلَى الْبَادِي مِنْهُمَا مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُومُ". وَفِي الْبَابِ عَنْ سَعْدٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په دوه کنځل کونکو کسانو کي دکنځلو ګناه په دوئ کي په هغه چا باندي واقع کيږي چاچي اول شروع کړي وي مګرځوپوري چي مظلوم دحدنه تيرشوي نه وي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي، اوپه دي باب کي دسعد، ابن مسعود. او عبدالله بن مغفل رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

۱۹۸۲_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ الْمُغِيرَةَ بْنَ شُعْبَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَسُبُّوا الْأَمْوَاتَ فَتُؤْذُوا الْأَحْيَاءَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدِ اخْتَلَفَ أَصْحَابُ سُفْيَانَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، فَرَوَى بَعْضُهُمْ مِثْلَ رِوَايَةِ الْحَفَرِيِّ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَجُلًا يُحَدِّثُ عِنْدَ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. (٢)

ترجمه دمغيره بن شعبه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي مړو ته په کنځلو کولو سره ژوندو ته تکليف مه رسوئ

امام ترمذي وايي ددي حديث په نقل کولو کي دسفيان شاګردان مختلف دي بعضو دحفري دروايت هم معني نقل کړي دي (يعني عن زياد بن علاقة عن المغيرة په سند، او بعضو دا په سند د سفيان عن زياد بن علاقه قال سمعت رجلا يحدث عن المغيرة بن شعبة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل کړي دي

لغات: الاموات جمع دميت ده مات يموت موتا معني مړ کيدل جمع يي موتي او ميتون هم

---

1 صحيح مسلم_ البر والصلة ۱۸ (۲۵۸۷)، سنن ابي داود_ الأدب ۴۷ (۴۸۹۴) (تحفة الأشراف: ۱۴۰۵۳)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۱۵۰۱)

راخي.

تشريح: مطلب دادی چي ددنيا نه دتلو نه پس مړو ته بد رد ونيل پکار نه دي خکه که چري دوئ نيك اعمال کړي وي نو اوس به ورته ښه بدله ملاويږي او که بد اعمال يي کړي وي نو سزا به ورته ملاويږي ژوندو لره حق نشته چي ددوئ متعلق بدرد اووائي او په خصوصيت سره دچا نوم واخستلی شي نو داسي دمسلمان دپاره بالکل جائز نه دي دا به دهغه خلقو په حق کې جائز وي دچاچي په کفر باندي مړکيدل يقيني وي لکه ابوجهل او ابو لهب وغيره

****

٥٢ـ باب سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ

مسلمان ته کنځل کول فسق دي او جنګ ورسره کول کفر دي

١٩٨٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ زُبَيْدِ بْنِ الحَارِثِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ ". قَالَ زُبَيْدٌ: قُلْتُ لِأَبِي وَائِلٍ: أَأَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مسلمان ته بدرد ونيل يا کنځلی کول يعني دمسلمان بی عزتي کول غټه ګناه ده اودمسلمان سره جنګ کول کفر دی، بخاري اومسلم.

امام ترمذي وايي دزيد بن حارث قول دي ما دابووائل شقيق بن سلمه نه تپوس اوکړو چي ايا تا دا حديث دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه اوريدلي دي،هغه اووئيل هو، امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

لغات: سباب. سبه سبا معني سخت کنځل ، او په مقعد کې په نيزه وهل ، الحبل معني رسی.

تشريح: "سباب المسلم فسوق" يعني مسلمان ته کنځل کول ګناه ده مطلب دادیچي دالله په نزد دمسلمان دومره عظمت او حرمت دی چي ده ته بد رد ونيل هم ګناه ده.

"قتاله کفر" يعني دمسلمان قتل کول کفر دی دلته دکفر نه مجازي معني مراد ده او په دي وجه

---

[1] ـ صحيح البخاری ـ الإيمان ٣٦ (٤٨) ، والأدب ٤٤ (٦٠٤٤) ، والفتن ٨ (٧٠٧٦) . صحيح مسلم ـ الإيمان ٢٨ (٦٤) . سنن النسائي ـ المحاربة ٢٧ (٤١١٣ـ٤١١٦) . سنن ابن ماجه ـ المقدمة ٩ (٦٩) . والفتن ٤ (٣٩٣٩) (تحفة الأشراف . ٩٢٤٣) . و مسند احمد (١ـ ٣٨٥ ، ٤١١ ، ٤١٧ ، ٤٣٣ ، ٤٣٩ ، ٤٤٦ ، ٤٥٤ ، ٤٦٠) . ويأتي في الإيمان برقم ٢٦٣٤)

علماء وائي ددي دا مطلب نه دی که چا کوم مسلمان قتل کړو نو دی کافر شو بلکه ددي مطلب دادی چي په گناه او حرمت کې قتل کول دکفر سره مشابه دي ددي جملي په سبب دقتل کولو گناه واضح کول دي (یعني یو مسلمان وژن کفر دون کفر دی)

****

٥٣_ باب مَا جَاءَ فِي قَوْلِ الْمَعْرُوفِ

دنیکو خبرو کولو فضیلت

١٩٨٤_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ . حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ . عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ . عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ سَعْدٍ . عَنْ عَلِيٍّ . قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا تُرَى ظُهُورُهَا مِنْ بُطُونِهَا . وَبُطُونُهَا مِنْ ظُهُورِهَا ". فَقَامَ أَعْرَابِيٌّ . فَقَالَ: لِمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " لِمَنْ أَطَابَ الْكَلَامَ . وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ . وَأَدَامَ الصِّيَامَ . وَصَلَّى لِلَّهِ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ . لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ . وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ فِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ هَذَا مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ . وَهُوَ كُوفِيٌّ . وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِسْحَاقَ الْقُرَشِيُّ مَدَنِيٌّ . وَهُوَ أَثْبَتُ مِنْ هَذَا . وَكِلَاهُمَا كَانَا فِي عَصْرٍ وَاحِدٍ . [1]

ترجمه دعلي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په جنت کي داسي بالاخاني دي چي ددي دننه حصه دبهر نه اوبهرنۍ حصه د دننه نه په نظر راځي اوبـکاري ددي خبري په اوریدو یو اعرابي اودریدو او عرض یي اوکړو اي دالله رسوله دا دچا دپاره دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوك چي ښې خبري کوي او خلقو ته خوراکونه ورکوي او روژي نيسي او دالله درضا دپاره دشپې داسي وخت کي مونځونه کوي چي نور خلق اوده وي

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي مونږ دا صرف دعبدالرحمن بن اسحاق په روايت پيژنو او عبدالرحمن بن اسحاق محدثينو دحافظي په اعتبارکلام کړي دي عبدالرحمن دکوفي اوسيدونکي دي او د عبدالرحمن بن اسحاق په نوم يو بل راوي هم شته مگر هغه قريشي دي او دمديني اوسيدونکي دي او دي دهغه نه زيات ثقه دي اوددواړو تعلق ديوي زماني سره دي

تشريح د ارشاد نبوي . وَصَلَّى لِلَّهِ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ ". مطلب د شپې تهجد کول دي او تهجد او صلاة الليل ته ترغيبات په احاديث مرفوعه کي په کثرت سره وارد دي چي د حد دتواتر ته

---

[1] _ تفرد به المؤلف وأعاده في صفة الجنة ٣ (٢٥٢٧) (تحفة الأشراف: ١٠٢٩٦) ومسند احمد (١_١٥٦)

رسيدلي دي

عن سالم بن عبدِ الله بن عمر بن الخطاب ﷺ، عن أبيهِ: أنَّ رسول الله ﷺ، قَالَ: ((نِعْمَ الرَّجُلُ عَبْدُ اللهِ، لَوْ كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيلِ)) قَالَ سالِم: فَكَانَ عَبدُ اللهِ بَعْدَ ذَلِكَ لاَ يَنامُ مِنَ اللَّيلِ إلاَّ قَلِيلاً. متفقٌ عَلَيْهِ.

سالم بن عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنه دخپل پلار نه روایت کوي، چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل عبدالله ښه سړی دی خو که دشپې يې مونځ کولی ، سالم فرمائي دی نه پس به عبدالله دشپې ډير کم اوده کيدو.

أخرجه: البخاري كتاب فضائل الصحابة باب مناقب عبدالله بن عمر ومسلم واحمد والترمذي وابن حبان والبيهقي.

نعم دافعال مدح نه دي او غير منصرف دي، نعم الرجل معني ډير ښه سړي.

په دي حديث کي يو طرف ته دابن عمر رضي الله عنهما دفضيلت بيان دی دويم طرف ته په دي کي دا تنبيه ده چه دتهجد اهتمام کوئ، دلته دا هم معلومه شوه چه دچا په باره کي دا معلومه وي چه دچا په مخامخ تعريف کولو سره په هغه کي غرور نه پيدا کيږي نو بيا دهغه تعريف دهغه په وړاندي کيدی شي لکه چه رسول کريم صلي الله عليه وسلم دابن عمر رضي الله عنهما تعريف په "نعم الرجل" سره اوکړو.

دتهجدو جوړ شوي عادت پريخودل ښکار ندي

عن عبد الله بن عَمرو بن العاصِ رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: ((يَا عَبدَ اللهِ، لاَ تَكُنْ مِثْلَ فُلانٍ كَانَ يَقُومُ اللَّيلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيلِ)) متفقٌ عَلَيْهِ.

دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دی چه ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دفلاني پشان مه کيږه هغه به دشپې تهجدو ته پاځيدو بيا يې دشپې پاځيدل پريښودل.

مثل: مثل دنصر نه مثولا دچا سره مشابه کيدل

لاتكن مثل فلان. يعني دفلاني پشان مه کيږه علماء وائي ممکن ده چه څوك صحابي وي چه دتهجدو مونځ به يې کولو او بيابه يې پريخودي وي بيا چه کله رسول الله ته ددي خبر رسيدلی وي نو عبدالله بن عمرو به په طور دنصيحت ونيلي وي چه تاسو دفلاني پشان مه کيږئ.

ددينه معلوميږي که څوك کوم عمل نه کوي دا هم ښه کار نه دی ليکن ددينه ډيره بده دا خبره ده چه دکولو نه پس يې پريږدي همدا وجه ده چه درسول الله صلي الله عليه وسلم په مسنون دعاګانو کي راځي: نعوذ بالله من الحور بعدالكور: يعني مونږ دزياتوالي نه پس په نقصان

عليه وسلم اوفرمائيل ايا داوښي نه علاوه هم چرته بل څيز داوښي بچي زيږولي شي.
امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح غريب دي.

****

١٩٩٢ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: "يَا ذَا الأُذُنَيْنِ". قَالَ مَحْمُودٌ: قَالَ أَبُو أُسَامَةَ: يَعْنِي مَازَحَهُ، وَهَذَا الحَدِيثُ حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم راته اواز راكړو چي "ياذا الاذنين" يعني اي دوه غوږونو والا، محمود دابواسامه قول نقل كړي دي چي دا يي ورته په طور دمزاح وئيلي وو.
امام ترمذي وايي : داحديث صحيح غريب دي.

****

٥٨ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْمِرَاءِ
دخبري ګر ځولو او جګړي كولو دمذمت بيان

١٩٩٣ـ حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ العَمِّيُّ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي سَلَمَةُ بْنُ وَرْدَانَ اللَّيْثِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَرَكَ الكَذِبَ وَهُوَ بَاطِلٌ بُنِيَ لَهُ فِي رَبَضِ الجَنَّةِ، وَمَنْ تَرَكَ المِرَاءَ وَهُوَ مُحِقٌّ بُنِيَ لَهُ فِي وَسَطِهَا، وَمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ بُنِيَ لَهُ فِي أَعْلَاهَا". وَهَذَا الحَدِيثُ حَدِيثٌ حَسَنٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سَلَمَةَ بْنِ وَرْدَانَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. (2)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دجګړي كولو په وخت كي دروغ وئيل پريږدي او حال دادي چي دي په حق باندي وي نو دده دپاره به په اطرافو دجنت كي يو كور جوړ كړي شي او څوك چي په حق باندي كيدو باوجود جګړه پريږدي دده دپاره به دجنت په مينځ كي كور جوړولي شي اوڅوك چي خپل اخلاق

---

[1] _ سنن ابي داود_ الأدب ٩٢ (٥٠٠٢) . ويأتي في المناقب ٥٦ (برقم: ٣٨٢٨) (تحفة الأشراف : ٩٣٣) . و مسند احمد (٣ـ ١١٧، ١٢٧، ٢٤٢، ٢٦٠) .

[2] _ سنن ابن ماجه_ المقدمة ٧ (٥١) (تحفة الأشراف : ٨٦٨)

١٩٨٥_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " نِعِمَّا لِأَحَدِهِمْ أَنْ يُطِيعَ رَبَّهُ وَيُؤَدِّيَ حَقَّ سَيِّدِهِ ". يَعْنِي: الْمَمْلُوكَ. وَقَالَ كَعْبٌ: صَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ. وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي مُوسَى، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي ددوئ دپاره همدا بهتره ده چي دخپل رب اطاعت اوكړي او دخپل مالك حق اداء كړي او درسول الله ددي فرمان مطلب غلام او وينځه ده كعب رضي الله عنه وائي الله او دهغه رسول رښتيا وائي.

امام ترمذي وايي . داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابوموسي اشعري او ابن عمررضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

١٩٨٦_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ، عَنْ زَاذَانَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلَاثَةٌ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ، أُرَاهُ قَالَ: يَوْمَ الْقِيَامَةِ: عَبْدٌ أَدَّى حَقَّ اللَّهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ، وَرَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ بِهِ رَاضُونَ، وَرَجُلٌ يُنَادِي بِالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي الْيَقْظَانِ إِلا مِنْ حَدِيثِ وَكِيعٍ، وَأَبُو الْيَقْظَانِ اسْمُهُ عُثْمَانُ بْنُ قَيْسٍ، وَيُقَالُ: ابْنُ عُمَيْرٍ وَهُوَ أَشْهَرُ. ([2])

ترجمه دعبدالله بن عمررضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به دري كسان داسي وي چي دمشكو په غونډئ به ناست وي اول هغه غلام دي څوك چي دالله اودخپلو مالكانو حق اداء كوي دويم هغه كس دي څوك چي كوم قوم ته امامت وركوي او هغوئ دده نه راضي وي ، دريم هغه كس دي څوك چي دشپي او د ورځي دمونځ دپاره ينځه ورځته رابلل كوي

امام ترمذي وايي . داحديث حسن غريب دي او مونږ ته دسفيان ثوري په روايت معلوم دي كوم چي هغه دابواليقظان نه نقل كړي دي او دابواليقظان نوم عثمان بن قيس دي او عثمان بن

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٣٨٨)

[2] تفرد به المؤلف وأعاده في صفة الجنة ٢٥ (٢٥٦٦) (تحفة الأشراف: ٦٧١٨). مسند احمد (٢_٢٦)

عمير ورته هم وئيلي شي او په همدي مشهور دي

****

٥٥_ باب مَا جَاءَ فِي مُعَاشَرَةِ النَّاسِ

دخلقو سره دحسن معاشرت کولو بیان

١٩٨٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ أَبِي شَبِيبٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اتَّقِ اللَّهِ حَيْثُمَا كُنْتَ، وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الحَسَنَةَ تَمْحُهَا، وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دابوذررضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر چرته چي يئ دالله نه به ويريږئ او دبدئ نه پس (کومه چي ستاسو نه شوي وي) نيکي ضرور کوئ او نيکي بدئ لره ختموي او دخلقو سره ښه اخلاق چلوئ.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي اوپه دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

تشريح: (وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ))يعني دخلقو سره په خوشحاله تندي مخامخ کيږه، په متعددو رواياتو کي دحسن خلق فضيلت بيان شوي دي ، په يو بل روايت کي راغلي دي، ان من احبكم الي احسنكم اخلاقا، په يو روايت کي راغلي دي کله چي يو صحابي تپوس وکړو چي بهترين څيز انسان ته کوم يو ورکړي شوي دي نو رسول الله او فرمائيل چي ښه اخلاق.

په يو بل روايت کي راغلي دي: ان اثقل شيء يوضع في ميزان المؤمن يوم القيامة خلق حسن.

****

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، وَأَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ حَبِيبٍ، بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ.

ترجمه : سفيان هم دحبيب نه په دي سند دماقبل هم معني روايت بيان کړي دي.

****

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٩٨٩) . وانظر مسند احمد (٥_ ١٥٣، ١٥٨، ١٧٧، ٢٢٨، ٢٣٦) . وسنن الدارمي- الرقاق ٧٤

قَالَ مَحْمُودٌ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ أَبِي شَبِيبٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. قَالَ مَحْمُودٌ: وَالصَّحِيحُ حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ. (1)

ترجمه دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه هم دماقبل هم معني روايت مروي دي دمحمود قول دي چي دابوذر رضي الله عنه حديث ددي روايت په نسبت زيات صحيح دي

****

٥٦_ باب مَا جَاءَ فِي ظَنِّ السُّوءِ

دبدګمانۍ کولو بيان

١٩٨٨_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الحَدِيثِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: و سَمِعْت عَبْدَ بْنَ حُمَيْدٍ يَذْكُرُ عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ سُفْيَانَ، قَالَ: قَالَ سُفْيَانُ: الظَّنُّ ظَنَّانِ: فَظَنٌّ إِثْمٌ، وَظَنٌّ لَيْسَ بِإِثْمٍ. فَأَمَّا الظَّنُّ الَّذِي هُوَ إِثْمٌ فَالَّذِي يَظُنُّ ظَنًّا وَيَتَكَلَّمُ بِهِ. وَأَمَّا الظَّنُّ الَّذِي لَيْسَ بِإِثْمٍ فَالَّذِي يَظُنُّ وَلاَيَتَكَلَّمُ بِهِ. (2)

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دبدګمانۍ نه خان اوساتئ ځکه چي بدګماني کول دټولو نه زيات لوي دروغ دي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي،عبد بن حميد وايي چي د سفيان د يو شاګرد بيان دي چي سفيان وائي چي ظن په دوه قسمه وي يو قسم ظن دګناه سبب دي اودويم قسم ظن دګناه سبب نه دي کوم چي دګناه سبب وي هغه دادي چي څوك دچا باره کي بد ګمان اوکړي او په ژبه يي اداء کړي او کوم ظن چي دګناه سبب نه دي هغه دادي چي څوك دچا باره کي بدګماني اوکړي خو تلفظ ورباندي اونکړي.

تشريح: اكذب الحديث: لوي دروغ، دا يي په دي اعتبار سره فرمائيلي دي چي بد ډير بيانوي علماء وايي که په ژبه يي بيان نکړي نو ګنهګار به نه وي.

دبدګمانۍ نه خان بچ کول په دي وجه ضروري ؛ي چي دا لوي لوي دروغ دي ددي وجه داده کله

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٣٦٦)

2 _ صحيح البخاري_ النكاح ٤٥ (٥١٤٣) ، والأدب ٥٧ (٦٠٦٤) ، و٥٨ (٦٠٦٦) ، والفرائض ٢ (٦٧٢٤) ، صحيح مسلم_ البر والصلة ٩ (٢٥٦٣) ، سنن ابي داود_ الأدب ٥٦ (٤٩١٧) (تحفة الأشراف : ١٣٦٨٠) ، و مسند احمد (٢_ ٢٤٥، ٣١٢، ٣٤٢، ٤٦٥، ٤٧٠، ٤٨٢)

چي څوك دچا په باره کې بدګمان کوي چي فلانی کس داسي داسي دی او هغه په حقیقت کې داسي نه وي نو ددي کس فیصلي ته به دروغ ونیلی شي بله داده چي دخلقو عیبونه لټول او جاسوسي کول هم ممنوع دي.
په خلقو بدګماني کول د دروغو یو بدترین قسم دی په عامو حالاتو کې په هر مسلمان باندي بنه ګمان کول پکار دي مګر دا چي کله دچا په باره کې قطعي او واضح ثبوت وي نو بیا وربانديې په بدګمانۍ کولو څه مواخذه نشته.

****

۵۷_ باب مَا جَاءَ فِي الْمِزَاحِ
دخوش طبعي او ټوقو کولو بیان

۱۹۸۹_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْوَضَّاحِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: أَنْ كَانَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُخَالِطُنَا حَتَّى إِنْ كَانَ لَيَقُولُ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ: "يَا أَبَا عُمَيْرٍ، مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ". (١)

ترجمه: دانس رضي الله عنه بیان دي فرماني چي رسول الله صلي الله علیه وسلم به دکور والا سره ډیره خوش طبعي کوله تردي پوري چي زمونږ کشر ورور ته به یې ونیل اي ابوعمیر دنغیر خبره څنګه شوه؟

تشریح: ابوعمیر دانس رضي الله عنه دموږ دطرفه کشر ورور وو او هغه یوه بلبله ساتلي وه اتفاقا بلبله مړه شوه نو ابوعمیر وربانديې خفه وو نو په دي وجه رسول الله صلي الله علیه وسلم دي ماشوم سره ټوقي اوکړي نو په دي وجه ټوقي کول جائز دي دارنګې که چاته یوه واقعه معلومه وي او دمزاح په طور څوك څان قصدا ناخبره کړي اوتپوس اوکړي نو څه ممانعت نشته دارنګې داسي مزاح کول جائز دي په کوم چي مخاطب ته تسلي رسیږي او تکلیف ورته نه رسیږي ددي روایت نه داسم کنیه ایخودلي جواز هم معلومیږي دارنګې دا هم معلومه شوه چي دماشوم دپاره جائز ده چي دلوبو کولو دپاره مرغۍ اوساتي او دمشرانو دپاره هغه وخت کې جائز دي کله چي د تکلیف باعث نه وي په مدینه کې ورنه دښکار کولو جواز هم معلوم شو او داحنافو او دامام ابوحنیفه اوصاحبینو او سفیان ثوري هم دا قول دي چي دمدیني دونو کټ کول ممنوع نه دي.

****

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ، عَنْ أَنَسٍ، نَحْوَهُ، وَأَبُو التَّيَّاحِ اسْمُهُ يَزِيدُ بْنُ حُمَيْدٍ الضُّبَعِيُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دانس رضي الله عنه نه هم په دي سند دماقبل هم معني روايت مروي دي او دابو التياح نوم يزيد بن حميد الضبعي دي.

امام ترمذي وايي . داحديث حسن صحيح دي.

****

١٩٩٠ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا، قَالَ: "إِنِّي لَا أَقُولُ إِلَّا حَقًّا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ مَعْنَى قَوْلِهِ: إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا: إِنَّمَا يَعْنُونَ إِنَّكَ تُمَازِحُنَا. (2)

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه بيان دي چي خلقو عرض اوكړواي دالله رسوله تاسو مونږ تاسره ټوقي كولي شئ؟ رسول الله اوفرمائيل زه دحق نه علاوه نورهيڅ نه شم وئيلي

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.

****

١٩٩١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلًا اسْتَحْمَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنِّي حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ النَّاقَةِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَهَلْ تَلِدُ الْإِبِلَ إِلَّا النُّوقُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (3)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي چي يو كس رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دسورلۍ درخواست اوكړو رسول الله اوفرمائيل زه به تاته دسورلۍ دپاره داوښي بچي دركړم سوال كونكي عرض اوكړو اي دالله رسوله داوښي په بچي به څه اوكړم؟ رسول الله صلي الله

---

1 ـ انظر حديث رقم ٣٣٣

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٩٢٩) . وانظر : مسند احمد (٢ـ ٣٤٠، ٣٦٠)

3 ـ سنن ابي داود ـ الأدب ٩٢ (٤٩٩٨) (تحفة الأشراف : ٦٥٥)

أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ إِدْرِيسَ هُوَ ابْنُ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَوْدِيُّ. (١)

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوشو هغه کوم شی دی چي ډير خلق به ورباندي جنت ته خي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دالله تعالي ويره او ښه اخلاق بيا ورنه تپوس اوشو هغه کوم خراب شی دی چي ډير خلق به ورباندي دوزخ ته خي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل خوله او شرمګاه
امام ترمذي روايت کړی دی او حديث صحيح غريب يی ورته ونيلی دی، او عبد الله بن ادريس ابن يزيد بن عبد الرحمن الاودي دی.

لغات : يدخل: ادخل يدخل ادخالا معني داخلول، الفرج: په شيانو کي خلل پيدا کول ، سرحد، کشادګي، انساني شرمګاه ته هم فرج وئيلي شي. دباب نصر نه راځي.

تشريح : يعني دخولی ګناهونه دکفر کلمات دروغ، غيبت، بهتان کنځلی ، فضول خبری وغيره داسی دګناه کارونه دي چي ډير خلق پکي مبتلا دي او دنر ياښځي دشرمګاه په ناجائزو ځايونو کي استعمال خلق دوزخ ته بوزي.
په يو بل روايت کي فرمايي چاچي ددوه اندانونو حفاظت وکړو ، زه دهغه دجنت ذمه واريم علماء وائي دا ډير جامع ترين حديث دی، په چا کي چي دالله نه ويره وي دهغه دالله سره ډير ښه تعلق وي او په ښو اخلاقو سره دده تعلق دمخلوق سره برابرېږي کله چي په چا کي دا دواړه خبري جمع شي نو دی بيا نه دالله په حق کي کمی کوي او نه دمخلوق په حق کي او ددي دواړو څيزونو دمجموعي نوم اسلام دی او په همدي وجه ددي صفاتو والا خلق به جنت ته په کثرت سره ځي.
دخولي په وجه به ځکه خلق دوزخ ته ځي چي ددي په وجه خلق دلويو لويو حرامو ارتکاب کوي مثلا غيبت، بهتان، کنځل، او عبث خبري او شرمګاه خو دبدکارئ سبب دی ددي په وجه به هم زيات خلق جهنم ته داخليږي.
په دي روايت کي دي خبري ته ترغيب دی چي هر يو سړی دي په تقوي او ښائسته اخلاقو ځان مزين کړي او دژبي او دشرمګاه دفتني نه دي ځان بچ کړي تردي چي جنت ته لاړ شي او دجهنم نه محفوظ شي.

****

بهتر کړي دده دپاره به دجنت په اعلي حصه کي کورجوړولي شي
امام ترمذي وايي داحديث حسن دي مونږ دا روايت صرف دسلمه بن وردان په سند پيژنو کوم چي هغه دانس بن مالك نه نقل کړي دي
تشريح : په دي حديث کې د دري قسمه خلقو سره دجنت داعلي مقاماتو وعده کيږي د "انا زعيم" معني علامه خطابي په کفيل او ضامن کيدو سره کړي ده
"من ترك المراء" يعني څوك چي په حق باندي دکيدو باوجود جګړي پريږدي خو په دي شرط چي هغه معامله داسي نه وي دکومي په وجه چي په سکوت سره دين ته نقصان رسيږي که چري په خاموش کيدو سره ددين نقصان کيږي نو بيا دده دپاره خاموش کيدل درست نه دي
دامام شافعي قول دی چي زه په کومه ديني معامله کې بحث او مناظره صرف ددي دپاره کوم چي حق ثابت شي او جګړه کول هيڅ کله زما مقصد نه وي(مظاهر حق)
خلاصه داده چي دجګړي دختميدو دپاره بهتره خبره داده چي سړی دي دخپل حق نه تير شي.
حسن خلقه. يعني چي دښو اخلاقو والاوي، يعني چي دښو اخلاقو اهميت پکي زيات وي ځکه چي جګړه ختمول او دروغ نه ويل دحسن اخلاق نه بغير نشي کيدي پدي وجه ښه اخلاق دهر شي بنياد دي، او په همدي وجه دجنت وعده دښو اخلاقو والاسره شوي ده

****

١٩٩٤_حَدَّثَنَا فَضَالَةُ بْنُ الْفَضْلِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنِ ابْنِ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " كَفَى بِكَ إِثْمًا أَنْ لَا تَزَالَ مُخَاصِمًا ". وَهَذَا الْحَدِيثُ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])
ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي ستاسو دپاره هم دومره ګناه کافي ده چي تاسو هميشه جنګيږئ او جګړي کوئ
امام ترمذي وايي داحديث غريب دي مونږ ته صرف په همدي سند رارسيدلي دي

****

١٩٩٥_حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ، عَنِ اللَّيْثِ وَهُوَ ابْنُ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا تُمَارِ أَخَاكَ وَلَا تُمَازِحْهُ وَلَا تَعِدْهُ مَوْعِدَةً فَتُخْلِفَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٥٣٠)

الْوَجْهِ، وَعَبْدُ الْمَلِكِ عِنْدِي هُوَ ابْنُ أَبِي بَشِيرٍ. (1).

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دخپل ورور سره جګړه مه کوئ او مه ورپوري خندا او مزاق کوئ او مه ورسره داسي وعده کوئ دکومي چي تاسو خلاف ورزي کوئ، امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

****

٥٩_ باب مَا جَاءَ فِي الْمُدَارَاةِ

دحسن معاشرت کولو بيان

١٩٩٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: اسْتَأْذَنَ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عِنْدَهُ، فَقَالَ: بِئْسَ ابْنُ الْعَشِيرَةِ أَوْ أَخُو الْعَشِيرَةِ، ثُمَّ أَذِنَ لَهُ فَأَلَانَ لَهُ الْقَوْلَ، فَلَمَّا خَرَجَ، قُلْتُ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، قُلْتَ لَهُ مَا قُلْتَ ثُمَّ أَلَنْتَ لَهُ الْقَوْلَ، فَقَالَ: يَا عَائِشَةُ، "إِنَّ مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ أَوْ وَدَعَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ فُحْشِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرماني چي يو کس رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د داخليدو دپاره دهغوئ اجازت اوغوښتلو او دي وخت کي ورسره زه موجود وم رسول الله اوفرمائيل دا په قوم کي يو بد بچي دي او يا په قوم کي يو بد ورور دي او بيا يي ورته د دننه راتلو اجازت ورکړو او نرمي خبري يي ورسره اوکړي کله چي اووتلو نو ما ورته عرض اوکړو اي دالله رسوله تا خو وئيل چي دا په قوم کي بد انسان دي او بيا دي ورسره نرمي خبري اوکړي رسول الله اوفرمائيل اي عائشه په خلقو کي دټولو نه بد هغه دي دچا دبدزبانئ نه دبچ کيدو دپاره خلق ده لره پريږدي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي.

لغات : رجل معني سړي جمع يي رجال راخي رِجل معني خپه جمع يي ارجل راخي او رجل معني پياده .

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦١٥١)

2 _ صحيح البخاري_ الأدب ٣٨ (٦٠٣٢) ، و٤٨ (٦٠٥٤) ، و ٨٢ (٦١٣١) ، صحيح مسلم_ البر والصلة ٢٢ (٢٥٩١) ، سنن أبي داود_ الأدب ٦ (٤٧٩١) (تحفة الأشراف : ١٦٧٥٤)

تشريح: ددي حديث نه امام بخاري استدلال کړی دی چي خلق دي دده ظاهري حالت په ليدو سره دوکه نشي او په دي وجه به دده په باره کي خلق خبرولي شي چي دخلقو دين او دنيا ته نقصان ونه رسيږي او دا خبرول به په غيبت کي شمار نه وي لکه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي کس حالت بيان کړو همدا رنګي صحابه کرامو هم دبعضي کسانو حالات بيان کړي دي مګر شرط پکي دادی چي دا خبرول به دشخصي فاندي په بنا نه وي

****

٦٠_ باب مَا جَاءَ فِي الاِقْتِصَادِ فِي الْحُبِّ وَالْبُغْضِ

په محبت او نفرت کي ميانه روي کولو بيان

١٩٩٧_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ عَمْرٍو الْكَلْبِيُّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أُرَاهُ رَفَعَهُ، قَالَ: " أَحْبِبْ حَبِيبَكَ هَوْنًا مَا عَسَى أَنْ يَكُونَ بَغِيضَكَ يَوْمًا مَا، وَأَبْغِضْ بَغِيضَكَ هَوْنًا مَا عَسَى أَنْ يَكُونَ حَبِيبَكَ يَوْمًا مَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ بِهَذَا الإِسْنَادِ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ أَيُّوبَ بِإِسْنَادٍ غَيْرِ هَذَا، رَوَاهُ الْحَسَنُ بْنُ أَبِي جَعْفَرٍ، وَهُوَ حَدِيثٌ ضَعِيفٌ أَيْضًا، بِإِسْنَادٍ لَهُ عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالصَّحِيحُ عَنْ عَلِيٍّ مَوْقُوفٌ قَوْلُهُ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دخپل دوست سره داعتدال او ميانه روئ په حالت کي دوستانه کوه کيدي شي چي کومه ورځ ستا دشمن جوړ شي، او دخپل دوشمن سره داعتدال دوشمني کوه شايد چي دي کومه ورځ ستا دوست جوړ شي

امام ترمذي وايي . داحديث غريب دي دا مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي، دا حديث دابوايوب په واسطه په نورو سندونو هم مروي دي حسن بن ابوجعفر پخپل سند نقل کړي دي چي دعلي رضي الله عنه په واسطه نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته رسيږي دا روايت هم ضعيف دي دي روايت باره کي صحيح خبره داده چي دا دعلي نه موقوفا مروي دي او دا دهغه خپل قول دي.

****

1 _ تخريج: تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٤٤٤٢) (انظر غاية المرام رقم: ٤٧٢)

٦١_ باب مَا جَاءَ فِي الْكِبْرِ

دتكبر بيان

١٩٩٨_حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ، وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ إِيمَانٍ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَسَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ، وَأَبِي سَعِيدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچازړ کې چي يوزره برابرکبر وي جنت ته به داخل نشي، او دچا په زړه کې چي دذري برابر ايمان وي هغه به جهنم ته لاړ نشي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کې دا ابوهريره، ابن عباس، سلمه بن الاکوع، ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

تشريح: دلته دذري نه مراد ياخو وړوکی میږی دی لکه چي وئيلی شوي دي سل میږي چي يوخاي شي نو په وزن کې ديوي وربشي سره برابر وي، او يا خو دذري نه مراد هغه نرى نرى گرد دى کوم چي دنمرمخي ته ښکاري بهر حال ددينه معلومه شوه چي الله تعالي دذري برابر تکبر هم نه خوښوي

د مسلم په يو روايت کې دي : "الكبرياء ردائي" تکبر زما څادر دی ددي دواړو جملو نه دا معلوميږي لکه څرنګه چي په لباس کې دچا سره څوك شريك نه وي نو همدارنګي دالله تعالي بعضي صفات داسي دي چي په هغي کې ورسره څوك شراکت نشي کولی چي يو په هغوی کې "عز" او بل "تکبر" دی دا دانسانانو دپاره مناسب نه دي

****

١٩٩٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبَانَ بْنِ تَغْلِبَ، عَنْ فُضَيْلِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ،

---

1 _ صحيح مسلم_ الإيمان ٣٩ (١٤٨) . سنن ابي داود_ اللباس ٢٩ (٤٠٩١) . سنن ابن ماجه_ المقدمة (٥٩) (تحفة الأشراف: ٩٤٢١) . و مسند احمد (١_٣٨٤)

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ، وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ يَعْنِي مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ إِيمَانٍ ". قَالَ: فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: إِنَّهُ يُعْجِبُنِي أَنْ يَكُونَ ثَوْبِي حَسَنًا وَنَعْلِي حَسَنًا، قَالَ: " إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْجَمَالَ وَلَكِنَّ الْكِبْرَ مَنْ بَطَرَ الْحَقَّ وَغَمَصَ النَّاسَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي تَفْسِيرِ هَذَا الْحَدِيثِ: لَا يَدْخُلُ النَّارَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ إِيمَانٍ إِنَّمَا مَعْنَاهُ: لَا يُخَلَّدُ فِي النَّارِ، وَهَكَذَا رُوِيَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ إِيمَانٍ " وَقَدْ فَسَّرَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ التَّابِعِينَ هَذِهِ الْآيَةَ رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ (آل عمران: ١٩٢) فَقَالَ: مَنْ تُخَلِّدُ فِي النَّارِ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ. (1)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي جنت ته به هغه کس داخل نشي دچا په زړه کي چي داوري د داني برابر تکبر وي او جهنم ته به داخل نشي هغه څوك دچا په زړه کي چي داوري د داني برابر ايمان وي دي وخت کي يو کس عرض اوکړو زما خو دا خواهش وي چي زما جامي او پيزار ښائسته وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيشکه الله تعالي جمال او ښائست خوښوي ليکن تکبر په هغه چا کي وي څوك چي حق نه مني او خلق سپك ګنړي، بعضي اهل علم د "ولايدخل النار" يعني "من كان في قلبه مثقال ذرة من ايمان" په تفسير کي وائي ددي مفهوم دادي چي دچا په زړه کي دذري برابر ايمان هم وي هغه به هميشه په جهنم کي نه پاتي کيږي دابوسعيد خدري نه معلوميږي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچا په زړه کي که دذري برابر ايمان هم وي هغه به ضرور دجهنم نه اوخي او ډيرو تابعينو دايت کريمه "ربنا انك من تدخل النار فقد اخزيته" په تفسير کي وئيلي دي اي زما ربه چالره چي ته جهنم ته اوغورځوي نو هغه دي ذليل او رسوا کړي چي ددېنه په جهنم کي هميشه پاتي کيدل مراد دي

لغات: بطر الحق بطر يبطر بطرا يعني حق لره دتکبر په وجه نه قبلول

غمط الناس: غمط يغمط غمطا تحقير کولو او ناقدري کولو ته وئيلي شي . دنعمت ناشکري کول

تشريح: دلته دذري نه مراد ياخو وړوکی ميږی دی لکه چي وئيلی شوي دي سل ميږي چي يوځاي شي نو په وزن کي ديوي وربشي سره برابر وي، او يا خو دذري نه مراد هغه نرۍ نرۍ

---

1 ـ : انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٩٣٢٢)

ګرد دی کوم چې دنرمخې ته ښکاري بهر حال د ښه معلومه شوه چې الله تعالي دذري برابر تکبر هم نه خوښوي.

ربيعه بن عامر دعبدالله بن عمر يادمعاذ بن جبل بيان نقل کړی دی چې دهغه په زړه کې دا شبهه پيداشوه که څوك اعلي او نفيس لباس اغوندي او پيزار استعمالوي خو چې په زړه کې يې دا خيال نه وي چې ددي په وجه زه په خلقو باندي خپل رعب اچوم او نور خلق ورته سپك ښکاره نشي نو ايا په داسي کس به دتکبر اطلاق کيږي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ښه نسته لباس او پيزار استعمالول کوم چې شريعت منع کړي نه دي په هغي کې څه ممانعت نشته او نه ورته تکبر ونيلی شي.

"ان الله يحب الجمال" يعني الله تعالي ښائسته دی او ذات يې په کاملو صفاتو موصوف دی يا مطلب دادی چې الله جميل دی يعني جمال ورکونکی دی او دبعضو په نزد دجميل دا معني ده چې الله تعالي دخپلو بندګانو کارساز دی

"لکن الکبر من بطر الحق وغمط الناس" تکبر دحق پټولو او خلقو لره سپك ګڼړلو ته ونيلی شي، مطلب دادی چې تکبر ديته ونيلی شي چې څوك چالره دحق نه واړوي اودصداقت نه سرکشي اوکړي او دالله مخلوق لره دخپل ځان په وړاندي ذليل کړي.

مولانا اشرف علي د ددي ايت کريمه : رَبَّنَآ إِنَّكَ مَن تُدۡخِلِ ٱلنَّارَ فَقَدۡ أَخۡزَيۡتَهُۥ (آل عمران : ۱۹۲)

دا مطلب بنان کړی دی:

اې زمونږ پروردګاره لکه څرنګه چې مونږه دضررونو نه دبچ کيدو دپاره عرض کړي دي لکه ددوزخ درسوائي نه او دذنوب او دسيئات دارتکاب نه نو دارنګې مونږ دخپلې فائدي دپاره هم دعا غواړو مونږ ته هغه څيز (ثواب او جنت) هم راکړه دکوم چې مونږ سره تا دپيغمبرانو په معرفت وعده کړي ده (چې مومنانو او نيکو خلقو ته به اجرعظيم ورکولی شي)، او دا ثواب او جنت مونږ ته په داسي شان سره راکړې چې دثواب ملاويدو نه مخکې هم مونږه دقيامت په ورځ رسوا نکړې (لکه چې دبعضو دپاره به اول سزا وي او بيا به جنت ته ځي) مطلب دادي چې داول نه مو جنت ته داخل کړه او يقينا ته وعده خلافي نه کوې (ليکن زمونږ سره دا ويره ده کومو کسانو ته چې ابرار او مومنين ونيلي شي هسې نه چې په مونږ کی دهغوئ صفات پاتي نشي دکومو په وجه چې دهغوئ سره وعده شوي وه په دي وجه مونږ تاته التجاء کوو چې مونږ ته دخپلي وعدي څيزونه راکړه يعني مونږ لره داسي جوړ کړې او داسي مو اوساتې دکوم په سبب چې مونږ دوعدي مخاطب او محل وګرځو.

ف: په ايت کې د مذکوره دعاګانو مضمون جميع مقاصد مطلوبه ته شامل دي څکه چې انتهاء دمقاصدو دوه خبري دي جنت ملاويدل او د دوزخ نه بچ کيدل او ددي دواړو دحصول دپاره دوه

شرطونه دي طاعات كول او معاصي پريخودل نو دا ټول ځلور څيزونه شول فقناعذاب النار کی امر ثاني دي او په اغفرلنا کی امر رابع دي او په اتنا ماوعتنا کی امر ثالث او اول دي (بيان القران)

****

۲۰۰۰_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ رَاشِدٍ، عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ يَزَالُ الرَّجُلُ يَذْهَبُ بِنَفْسِهِ حَتَّى يُكْتَبَ فِي الْجَبَّارِينَ فَيُصِيبُهُ مَا أَصَابَهُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (۱)

ترجمه دسلمه بن اکوع رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ، يوسړی چي هميشه خپل نفس بره څيژوي او کبر کوي اخر په کبرجنو او سرکشو کې اوليکلی شي نو هم دهغی سزا حقدار شي کومه چي نافرمانو ته اوکبرجنتو ته ورکولی شي.

امام ترمذي روايت کړی دی او حديث حسن يی ورته ونيلی دی .

لغات : فيصيبه اصاب يصيب اصابة ومصابة تکليف ورکول دمصيبت نازليدل، په مجردو کې دنصر او ضرب نه مستعمل دي.

تشريح: ديذهب بنفسه هم مطلب دادی چي خپل نفس په برخه بوځي، يعني کبر اولوي کوي

لا يزال الرجل يذهب بنفسه. يعني سړی لګيا وي چي تکبر کوي ، د "بنفسه" په باء کې دوه احتماله دي اول دادی چي دا دتعديت دپاره ده او معني به دا وي چي دا کس خپل خان لره په لوړ ګنړلو سره دخلقو نه لري ساتي او خان دنورو نه بهتر ګنړي

دويم دا چي دا دمصاحبت دپاره ده چي دمصاحبت دپاره شي نو معني به دا شي چي خپل خان په دوکه کې مبتلا کوي اوکبر اوغرور طرف ته وړاندي کيږي دی دخپل نفس تعظيم او عزت کوي تردي چي متکبر او مغرور شي

خلاصه داده څوك چي څنګه عادت اختياروي نو په مزه مزه ورنه هم هغه شي جوړيږي که چري داعلي صفاتو کوشش اوکړي نو په تدريجي طور به په ده کې اعلي صفات راشي او که دمذموم صفاتو.کوشش کوي نو هم ددي په سانچي کې به واچولی شي او هم دغه رنګ به واخلي يعني همدا شي به ورنه جوړ شي

****

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۴۵۲۸)

٢٠٠١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عِيسَى الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا شَبَابَةُ بْنُ سَوَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: تَقُولُونَ فِيَّ التِّيهُ وَقَدْ رَكِبْتُ الْحِمَارَ وَلَبِسْتُ الشَّمْلَةَ وَقَدْ حَلَبْتُ الشَّاةَ، وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ فَعَلَ هَذَا فَلَيْسَ فِيهِ مِنَ الْكِبْرِ شَيْءٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه دجبير بن مطعم رضي الله عنه بيان دي فرمائي خلق وائي چي په ما كي تكبر دي او حال دادي چي ما په خرو سورلي كړي ده او پيړي جامي مي اغوستلي دي او چيلئ مي لوشلي دي او حال دادي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دا كارونه كړي وي په هغه كي بالكل تكبر نه وي

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح غريب دي

****

٦٢ـ باب مَا جَاءَ فِي حُسْنِ الْخُلُقِ

دښائسته اخلاقو دترغيب بيان

٢٠٠٢ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا شَيْءٌ أَثْقَلُ فِي مِيزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ خُلُقٍ حَسَنٍ، وَإِنَّ اللَّهَ لَيُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيءَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَأُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه دابوالدرداء رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمومن بنده په تله كې به دقيامت په ورځ دښو اخلاقو نه دروند شی نه وي اوبيشكه الله تعالي بيباكه او فضول ويونكی بنده نه خوښوي.

امام ترمذي روايت كړی دی او حديث حسن صحيح يی ورته وئيلی دی، او په دي باب كي د عائشه ابو هريره، انس، اسامه بن شريك رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي "البذي" هغه بنده چي بيباكه او فضول خبری كوي.

لغات: يُبغض. ابغض يبغض ابغاضا په معني ددشمنئ كولو ، بذي معني بد ګوايي ګول جمع

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٢٠٠)

[2] ـ سنن ابي داود ـ الأدب ٨ (٤٧٩٩) (تحفة الأشراف : ١١٠٠٢) ، ومسند احمد (٦ ـ ٤٤٢ ، ٤٤٦ ، ٤٤٨ ، ٤٥١)

بي ابذياء راخي

تشريح: ديورتني حديث نه دا معلوميږي چي ښه اخلاق په اخرت کي دهر څيز نه زيات فائده وركونكى شى دى، او دا هم معلومه شوه چي دقيامت په ورځ به په ټولو عملونو كي زيات درروند او وزني عمل ښائسته اخلاق وي، دا خبره دي واضحه وي چي ښه اخلاق دمومنانو تله درنوي خو كه غير مسلم ښو اخلاقو والا وي نو ددوئ داخلاقو به دقيامت په ورځ هيڅ وزن نه وي لكه چي په قران كريم كي ارشاد الهي دى "فلانقيم لهم يوم القيامة وزنا" يعني دقيامت په ورځ به دكافرانو داعمالو هيڅ وزن نه وي

ان الله يبغض الفاحش البذي . څوك چي فحش ګويي او بي فائدي خبري كوي الله تعالي دهغه نه نفرت كوي، علامه نووي د "البذي" معني په بي حيايئ سره كړي ده ليكن شيخ عبدالحق محدث دهلوي په بي فائدي كار سره كړي ده او ملا علي قاري په بدو اخلاقو سره كړي ده ليكن دلته زيات موزون دملا علي قاري معني ده.

****

٢٠٠٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ اللَّيْثِ الْكُوفِيُّ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَا مِنْ شَيْءٍ يُوضَعُ فِي الْمِيزَانِ أَثْقَلُ مِنْ حُسْنِ الْخُلُقِ وَإِنَّ صَاحِبَ حُسْنِ الْخُلُقِ لَيَبْلُغُ بِهِ دَرَجَةَ صَاحِبِ الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه: دابوالدرداء رضي الله عنه بيان دي فرماني چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دهغوئ دا فرمان اوريدلي دي چي په ميزان كي په پريوتونكو څيزونو كي دټولو نه درروند څيز اخلاق حسنه دي او ددينه زيات درروند بل كوم څيز نشته او دښائسته اخلاقو مالك دښائسته اخلاقو په وجه دروژه دار او مونځ كونكي درجي ته رسيږي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند غريب دي.

****

٢٠٠٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ، فَقَالَ: " تَقْوَى اللَّهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ "، وَسُئِلَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ، فَقَالَ: " الْفَمُ وَالْفَرْجُ "، قَالَ

[1] ـ سنن ابي داود ـ الأدب ٨ (٤٧٩٩) (تحفة الأشراف: ١١٠٠٢) ، ومسند احمد (٦ ـ ٤٤٢، ٤٤٦، ٤٤٨، ٤٥١)

الشَّيْطَانِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الحَدِيثِ فِي عَبْدِ المُهَيْمِنِ بْنِ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلٍ وَضَعَّفَهُ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. وَالأَشَجُّ بْنُ عَبْدِ القَيْسِ اسْمُهُ المُنْذِرُ بْنُ عَائِذٍ. (١)

ترجمه عبدالمهيمن بن عباس دخپل پلار په حواله دخپل نيكه نه روايت نقل كوي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي جلدبازي نه كول دالله تعالي دطرفه دي او دجلد بازي كول دشيطان دطرفه وي.

****

٦٧_ باب مَا جَاءَ فِي الرِّفْقِ

دنرم سلوكاو مهرباني كولو بيان

٢٠١٣_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ. عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ. عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ. عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ. عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ فَقَدْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنَ الخَيْرِ. وَمَنْ حُرِمَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ فَقَدْ حُرِمَ حَظَّهُ مِنَ الخَيْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عَائِشَةَ. وَجَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. وَأَبِي هُرَيْرَةَ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه : دابوالدرداء رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاته چي دنرم سلوك كولو حصه وركړي شي نو ده ته دده دكاميابۍ حصه وركړي شوه او څوك چي دنرم سلوك دحصي نه محروم پاتي شي هغه دكاميابۍ نه محروم پاتي شو

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي په دي باب كي دعائشه، جرير بن عبدالله، اوابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٦٨_ باب مَا جَاءَ فِي دَعْوَةِ المَظْلُومِ

دمظلوم دخيرو بيان

٢٠١٤_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ. حَدَّثَنَا وَكِيعٌ. عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ إِسْحَاقَ. عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَيْفِيٍّ.

---

١ . تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٩٤٢)

٢٠٠٥_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو وَهْبٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ أَنَّهُ وَصَفَ حُسْنَ الْخُلُقِ، فَقَالَ: "هُوَ بَسْطُ الْوَجْهِ، وَبَذْلُ الْمَعْرُوفِ، وَكَفُّ الأَذَى". (١)

ترجمه مروي دي چي عبد الله بن مبارك د حسن خلق په تشريح كي اوفرمائيل چي د حسن خلق مطلب پراخه تندي او خلقو سره نيكي كول او د خلقو نه ضرر بندول دي

****

٦٣_ باب مَا جَاءَ فِي الإِحْسَانِ وَالْعَفْوِ

داحسان او معافئ كولو دفضيلت بيان

٢٠٠٦_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، الرَّجُلُ أَمُرُّ بِهِ فَلَا يَقْرِينِي وَلَا يُضَيِّفُنِي، فَيَمُرُّ بِي أَفَأَجْزِيهِ، قَالَ: "لَا، اقْرِهِ". قَالَ: وَرَآنِي رَثَّ الثِّيَابِ، فَقَالَ: "هَلْ لَكَ مِنْ مَالٍ؟" قُلْتُ: مِنْ كُلِّ الْمَالِ قَدْ أَعْطَانِيَ اللهُ مِنَ الإِبِلِ وَالْغَنَمِ. قَالَ: "فَلْيُرَ عَلَيْكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الأَحْوَصِ اسْمُهُ عَوْفُ بْنُ مَالِكِ بْنِ نَضْلَةَ الْجُشَمِيُّ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: اقْرِهِ: أَضِفْهُ، وَالْقِرَى هُوَ الضِّيَافَةُ. (٢)

ترجمه دمالك بن نزله بيان دي فرمائي چي ما عرض اوكړو اي دالله رسوله كله زه په داسي سړي تير شم چي هغه ماته ضيافت نه راكوي بيا داسي وخت راشي چي هغه په ماباندي راشي نو ايا زه ورته بدله واخلم؟ رسول الله اوفرمائيل هرګزنه بلكه ضيافت ورته وركړه او رسول الله صلي الله عليه وسلم زما په بدل زړي جامي اوليدي نو تپوس يي رانه اوكړو چي ايا تاسره مال دولت شته ما اووئيل الله تعالي ماته هرقسم مال او اوبښان او چيلئ راكړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيا خو په تا باندي ددي مال اثر ښكاره كيدل پكار دي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او د "اقره " معني داده چي ميلمستيا ورته وركړه او "قري" ميلمستيا وركولو ته وئيلي شي، او په دي باب كي دعائشه، جابر، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او دابوالاحوص نوم عوف بن مالك نضله

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٩٣٦)

[2] _ تفرد به المؤلف. وانظر سنن ابي داود_ اللباس ١٧ (٤٠٦٣). سنن النسائي_ الزينة ٥٣ (٥٢٢٦)، و ٨٣ (٥٣٠٩) (تحفة الأشراف: ١١٢٠٦). و مسند احمد (٣_ ٤٧٣،٤٧٤) و (٤_ ١٣٦)

جشمي دي

****

٢٠٠٧ـحَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جُمَيْعٍ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَكُونُوا إِمَّعَةً، تَقُولُونَ: إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَحْسَنَّا وَإِنْ ظَلَمُوا ظَلَمْنَا، وَلَكِنْ وَطِّنُوا أَنْفُسَكُمْ، إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَنْ تُحْسِنُوا وَإِنْ أَسَاءُوا فَلَا تَظْلِمُوا"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه . دحذيفه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو په هر چا پسې ورونكي مه جوړيږي يعني كه خلق مونږ سره ښيګړه كوي نو مونږ به ورسره هم ښيګړه كوو او كه په مونږ باندي ظلم كوي نو مونږ بهورباندي هم ظلم كوو بلكه خپل خانونه دي خبري ته اماده كړئ چي خلق كه په تاسو باندي احسان كوي نو تاسو ورسره هم احسان اوكړئ او كه بدسلوكي درسره كوي نو ظلم ورباندي مه كوئ.

امام ترمذي رايي . داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

د راوي حذيفه بن يمان رضي الله عنه مناقب

نوم حذيفه كنيه ابو عبدالله صاحب السر لقب دقبيله بن عتفان سره يي تعلق وو دده پلار حذيفه په جاهليت كي څوك قتل كړی دی نو په دي وجه ددشمنۍ نه دبچ كيدو دپاره په مدينه كي اوسيدو حذيفه دمديني نه مكي ته لاړو داسلام قبلولو دپاره، دغزوه بدر نه په تمامو غزواتو كي شريك پاتي شوی دی او عهد نبوي يي په مدينه كي تير كړی دی او بيا ددينه پس عراق. كوفه. نصيبين او مدائن ته منتقل شوی دی او په نصيبين كي يي شاګردي هم كړي ده (اسد الغابه)

عمر فاروق رضي الله عنه دعراق فتح كيدو نه پس په دجله كي حذيفه رضي الله عنه امير مقرر كړو، او بيا دمدائن والي مقرر كړی شو (كتاب الخراج للامام ابو يوسف)

حذيفه رضي الله عنه دفقه او حديث لوي عالم وو او دمنافقانو په پيژندو كي يي خصوصي مهارت وو په همدي وجه ورته درسول الله صلي الله عليه وسلم رازدار وئيلی دی پخپله وائي ددي وخت نه دقيامته پوري راتلونكي تولي فتني پيژنم، ليكن ددينه دي څوك دا معلومه نكړي چي زما نه علاوه بل چاته نه دي معلومي وجه داده چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٣٦١)

دي باره كې مونږ تولو ته په يو مجلس كې خبر راكړى دى خو اوس په هغوئ كې زما نه علاوه بل هيڅوك ژوندى نشته

دزهد او تقوي يې دا حالت وو چې دامارت باوجود يې په معاشرت كې څه تعير نه وو راغلى دتواضع په وجه به يې دڅورلئ كار دخر نه اخستلو او په ډير لږ قوت لايموت رزق به يې ګذاره كوله او ددينه زيات به يې دخان سره نه ساتلو عمر رضي الله عنه ورته څه مال هم اوليږلو ليكن هغه يې په خلقو تقسيم كړو

وفات دهجرت په ۳۶ كال عثمان رضي الله عنه دوفات نه څلويښت ورځې پس وفات شو چې په اخري عمر كې په ډيره ژړا كې مصروف وو خلقو ورنه دوجې تپوس اوكړو نو په جواب كې يې اوونيل ددنيا دپريښودو غم راسره نشته مرګ خو يو دوست دى ليكن په دې خفه يم چې زما انجام او حشر به څه وي كله چې يې اخري ساه واخستله نو ويې فرمائيل ستا ملاقات دې زما سره ماته مبارك شي ځكه چې زما درسره انتهائي زياته مينه ده (مسند احمد)

دحذيفه رضي الله عنه دسلو نه زيات روايات منقول دي چې دولس متفق عليه دي او اته صرف په بخاري كې دي او اولس په مسلم كې دي (تهذيب الكمال).

****

٦٤_ باب مَا جَاءَ فِي زِيَارَةِ الإِخْوَانِ

د دوستانو دملاقات كولو بيان

٢٠٠٨_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَالحُسَيْنُ بْنُ أَبِي كَبْشَةَ البَصْرِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ السَّدُوسِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو سِنَانٍ القَسْمَلِيُّ هُوَ الشَّامِيُّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي سَوْدَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ عَادَ مَرِيضًا، أَوْ زَارَ أَخًا لَهُ فِي اللَّهِ، نَادَاهُ مُنَادٍ أَنْ طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الجَنَّةِ مَنْزِلًا "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَأَبُو سِنَانٍ اسْمُهُ عِيسَى بْنُ سِنَانٍ، وَقَدْ رَوَى حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا مِنْ هَذَا. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې ديو بيمار تپوس اوكړي يا ديو مسلمان ورور ملاقات ته لاړ شي خالص دالله درضاء دپاره نو هغه ته يو فرښته اواز وركړي مبارك دي شه! مبارك شه دا تلل دى . خان ته دى

---

[1] _ سنن ابن ماجه_ الجنائز ٢ (١٤٤٣) (تحفة الأشراف : ١٤١٣٢)

په جنت کې غټ محل اوګټلو

دا حديث ترمذي روايت کړی دی او حديث حسن غريب يې ورته ونيلی دی، اود ابو سنان نوم عيسي بن سنان دي، او بعضو ورته حديث غريب ونيلی دی، او ددې مشابه روايت حماد بن سلمة، عن ثابت عن ابي رافع عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم په سند سره هم مروي دی.

لغات: تبوّت تبوأ المكان وبه چرته اقامت اختيارول، باب دنصر نه واپس کيدل

طبت: طاب طيبا دضرب نه په معني دمزيدار اوخوږ او عمده دي لکه طاب النفس بکذا يعني زړه يې ورنه خوشحاله شو.

تشريح: "من عاد مريضا اوزار اخاله في الله" يعني څوك چې دکوم بيمار تپوس اوکړي يا دخپل مسلمان ورور ملاقات ته ورشي، په دې جمله کې او دشك دپاره دی يعني دراوي شك دی چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم من عاد مريضا جمله فرمائيلي ده او که زار اخا له في الله يې فرمائيلي دي علماء وائي په دې کې دمسلمان ورور دهغه ملاقات ذکر دی کوم چې خالص دالله درضا دپاره وي او دکوم بل مقصد دپاره نه وي نو ده ته به دهر قدم باندې نيکي ملاوېږي دا جمله دعائيه ده يا خبريه ده دواړه احتماله لري

طِبْتَ. وَطَابَ مَمْشَاكَ. وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلاً. يعني تاته دې مبارك وي ستا تلل دې خوش ګوار وي او په جنت کې دې تاته کور درکړی شي، ملا علي قاري وائي دا درې واړه جملې خبريه دي مطلب يې دا دی چې دې کس ته دالله تعالي دطرفه دمذکوره څيزونو دحاصليدو زيری ورکولی شي ليکن دبعضو نورو علماؤ په نزد دا درې واړه جملې دعائيه دي مطلب دادی چې ستا ژندګۍ ته خوشحالي او راحت او تلل مبارك ثابت شول او الله تعالي دې درته په جنت کې اعلي مقام درکړي.

****

٦٥ـ باب مَا جَاءَ فِي الْحَيَاءِ

دشرم اوحيا بيان

٢٠٠٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، وَعَبْدُ الرَّحِيمِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الحَيَاءُ مِنَ الإِيمَانِ، وَالإِيمَانُ فِي الجَنَّةِ، وَالبَذَاءُ مِنَ الجَفَاءِ، وَالجَفَاءُ فِي النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي حيا دايمان يو جزء دي او ايمان والا به جنت ته ځي او دبې حيايۍ تعلق دظلم سره وي او ظالمان به جهنم ته ځي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي، په دي باب كي دابن عمر، ابوبكره، ابو امامه، او عمران بن حصين رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

تشريح: الحياء من الايمان. يعني حياء دايمان حصه ده، دا اگر چي يو فطري وصف دی يعني ډير خلق پيدائشي طور خيرن وي تردي چي ددوی تربيت اوشي او بيا ددوی مخه نيكو ته اوگرځولی شي نو په دي وجه ددوی په شرم او حياء كې مزيد اضافه كيږي اوهمدا په اسلام كې مطلوب دي په دي كې ددي خبري جواب هم اوشو چي حياء خو يو فطري څيز دی اوفطري څيزغيراختياري وي نوچي كله غير اختياري شوه نو په دي باندي ثواب څنگه ملاويږي نو دلته ددي جواب اوشو چي كومه فطري حياء وي هغه دلته مراد نه ده بلكه هغه فطري حياء مراد ده دكومي سره چي مزيد اضافه شوي وي او اختياري گرځولی شوي وي هغه يې دايمان جزء گڼرلی دی.

****

٦٦_ باب مَا جَاءَ فِي التَّأَنِّي وَالْعَجَلَةِ

په عادتونه اختيارول او د جلد بازۍ نه كار نه اخستل

٢٠١٠_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِمْرَانَ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَرْجِسَ الْمُزَنِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " السَّمْتُ الْحَسَنُ وَالتُّؤَدَةُ وَالِاقْتِصَادُ جُزْءٌ مِنْ أَرْبَعَةٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه. دعبدالله بن سرجش مزني بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي ښه عادتونه اختيار كړئ او جلدبازۍ نه كار مه اخلئ او ميانه روي اختيارول دنبوت څليريشتم جزء دي

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٠٣٠، و ١٥٠٥٣، و١٥٠٨٨)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٢٣)

امام ترمذي وايي : په دي باب کي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي او دا حديث حسن غريب دي.

دعبدالله بن سرجس رضي الله عنه مناقب

نوم عبدالله دپلار نوم سرجس دمزني قبيلي سره تعلق لري مخزومي هم ورته وئيلی شي دبصري اوسيدونکی دی او دمروياتو تعداد يي ۱۷ دی چي دري په دي کي مسلم نقل کړي دي.

****

۲۰۱۰_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِمْرَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَرْجِسَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَاصِمٍ، وَالصَّحِيحُ حَدِيثُ نَصْرِ بْنِ عَلِيٍّ. ([1])

ترجمه : عبدالله بن عمران هم دعبدالله بن سرجش په سند دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي او دسند په سلسله کي يي دعاصم راوي ذکر نه دي کړي مگر په دي باب کي صحيح روايت دنضر بن علي دي

****

۲۰۱۱_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ قُرَّةَ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَشَجِّ عَبْدِ الْقَيْسِ: " إِنَّ فِيكَ خَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللَّهُ: الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَفِي الْبَابِ عَنِ الْأَشَجِّ الْعَصَرِيِّ. ([2])

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دقبيله عبدالقيس يو صحابي اشج رضي الله عنه ته اوفرمائيل په تا کي دوه خويونه دي چي هغه دالله تعالي ډير خوښ دي يو حلم، او بل حوصله، استقامت (اناة) په حوصله کار کولو ته وئيلی شي چي په کار کي تلوار نه کوي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح غريب دي او په دي باب کي داشج عصري نه هم روايت وارد دي.

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۵۳۲۳)

[2] _ سنن ابن ماجه_ الزهد ۱۸ (۴۱۸۸) (تحفة الأشراف : ۶۵۲۱)

لغات: الحلم، معني صبر کول جمع يي احلام او حلوم راځي الاناته ، معني صبر. بردباري، انتظار کول او مهلت ورکول

تشريح: "اشج عبدالقيس" يعني عبدالقيس داشج قبيلي سردار وو دده خپل نوم منذر بن عائذ يا.منقذ بن عائذ وو

علماء وائي چي منذر بن عائذ دخپل زوم منقذ بن حيان په لاس مسلمان شوی وو واقعه يي داده چي دده زوم دبحرين په لويو تاجرانو کي وو يو خل په تجارت دمال په سلسله کي مديني ته راغی رسول الله صلي الله عليه وسلم وربانديي شفقت اوکړو او ددوي دسردار باره کي تفصيلي حالات يي ورته بيان کړل، دی حيران شو چي دی خو چرته بحرين ته راغلی هم نه دی نو دا حالات ورته ځرنګه معلوم دي نو په دي وجه دی مسلمان شو او دده دسردار اشج په نوم يو خط يي هم اوليږلو په ابتداء کي اسلام پټ اوساتلو مګر په تنهائي کي به يي پټ مونځ اودس کولو دده دا کار چي دده ښځي اوليدو نو خپل پلار اشج ته يي اووئيل هغه چي تحقيق اوکړو نو منقذ بن حيان ورته خپل حالت بيان کړو نو په دي وجه ددوئ سردار هم مسلمان شو بيا ددينه پس اشج ديوي قافلي سره درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو کومه چي په احاديثو کي په وفد دعبدالقيس مشهوره ده.

زورقاني ليکلي دي کله چي دا وفد درسول الله په خدمت کي حاضر شو نو دوئ ټول په ډير شوق سره درسول الله ملاقات ته ورمنډي کړل او لاسونه مبارک يي ښکل کړل مګر اشج چي ځوان هم وو او سردار هم وو هغه پخپله ټول اوښان اوتړل او غسل يي اوکړو او دنور لباس اغوستلو اودزوړ لباس بدلولو نه پس په خدمت نبوي کي حاضر شو دی لږ شان بدصورته وو کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دده طرف ته اوکتل نو ده اووئيل ای دالله رسوله ديو انسان قدر او قيمت صرف دجسم دښاوټ په وجه نه وی بلکه د دوو وړو اعضاؤ په وجه وی يعني زړه او ژبه بيا ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم پورتنی حديث بيان کړو يقينا په تا کي دوه خصلتونه داسي دي کوم چي دالله او درسول خوښ دي يو په هغوئ کي هوښيارتوب دی او بل صبر کول، اشج عرض اوکړو ای دالله رسوله دا دوه خصلتونه په ما کي پيدائشي دي او که زما دکوشش په وجه په ما کي داخل شوي دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بلکه پيدائشي اوتخليقي دي.

****

٢٠١٢ـحَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمُهَيْمِنِ بْنُ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الأَنَاةُ مِنَ اللَّهِ، وَالعَجَلَةُ مِنَ

دزياتي غصي كولو بيان

۲۰۲۰ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَحَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي حَصِينٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: عَلِّمْنِي شَيْئًا وَلَا تُكْثِرْ عَلَيَّ لَعَلِّي أَعِيهِ، قَالَ: "لَا تَغْضَبْ" فَرَدَّدَ ذَلِكَ مِرَارًا، كُلُّ ذَلِكَ يَقُولُ: "لَا تَغْضَبْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَسُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ. وَأَبُو حَصِينٍ اسْمُهُ: عُثْمَانُ بْنُ عَاصِمٍ الأَسَدِيُّ. (1)

ترجمه - دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي يو كس حاضر شو او عرض يي اوكړو ماته څه اوښايئ ليكن زيات راته مه ښايئ ترڅو چي زه يي ياد كړي شم، رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل غصه مه كوه هغه يو څو ځلې همدا سوال تكرار كړو او هر ځل به ورته رسول الله صلي الله عليه وسلم وئيل غصه مه كوه.

امام ترمذي وايي - داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، او په دي باب كي دابوسعيد، سلمان بن صرد رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

لغات مرارا: مفرد يي المرة دي په معني د يوځل جمع يي مرارا او مرورا راځي په جديد لغت كي مرور په معني د ټريفك دي.

تشريح: امام ترمذي په كثرت لفظ راوړلو كي دي خبري ته اشاره كړي ده چي نفس غضب او غصه طبعي شي دي دكوم چي وجود يقيني وي البته ددي كثرت مضر او مذموم دي.

ددي روايت نه داسي معلوميږي چي سوال كونكي دتيز مزاج مالك وو نو په دي شان سره دا دده دپاره مفيد ترين نصيحت دي، چي غصه مه كوه ځكه چي دا يو مذموم عادت دي اوغصي په حالت كي څوك دالله د حدودو خيال نشي ساتلي، شيطان وربانـدي داسي تسلط كولي شي كوم چي وربانـدي په بل وخت كښ نشي كولي، مذمه غصه هغه ده كومه چي ددنيـوي معـاملاتو او نفسـانيت پـه وجـه پيـدا شـوي وي، اوكـه غـصـه دالله تعـالي اود حق دسربلندئ دپاره وي اود شرعي حدودو نه په دي كي تجاوز كول نه وي نو بيا خو داسي غصه دكمال ايمان شعار او علامه ده.

ددي حديث نه دا هم معلومه شوه چي په انسان كي د كوم څيز كمزوري وي نو هغه ته دهغه خبري بار بار نصيحت كول پكار دي ترڅو چي هغه دي مذموم عادت لره پريږدي.

1 صحيح البخاري ـ الأدب ٧٦ (٦١١٦) (تحفة الأشراف: ١٢٨٣٦)، و مسند احمد (٢ـ ٣٦٢، ٣٦٦)

عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ إِلَى الْيَمَنِ، فَقَالَ: "اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ حِجَابٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو مَعْبَدٍ اسْمُهُ نَافِذٌ. [1]

ترجمه: معاذ بن جبل رضي الله عنه وائي چي خما د (حاكم جوړولو او)يمن ته د ليږلو په وخت رسول الله صلي الله عليه وسلم دا هدايت اوفرمائيلو چي د مظلوم دخيرونه اوويرېږه چي دهغه دخيرو او دالله تعالي مينځ كې هيڅ څيز پرده نه جوړيږي

امام ترمذي وايي: په دي باب كي دانس او ابوهريره او عبدالله بن عمر او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي او دابومعبد نوم نافذ دي.

تشريح:دعوة المظلوم: يعني دمظلوم دخيرو نه ځان اوساتئ ځكه چي دمظلوم خيري ضرور قبليږي اګر كه كافر ولي نه وي په يو بل روايت كې راځي چي دمظلوم دخيرو او دالله تعالي په مينځ كې څه پرده نشته علماء وائي چي په سفر دروانيدو نه مخكې كه چا په چا باندي ظلم كړي وي نو دهغه نه دي معافي اوغواړي او بيا دي روان شي هسي نه چي مظلوم خيري ورته ضرر ورسوي او دى په مشكلاتو كې د ګرفتار شي په يو روايت كې راځي څوك چي دسفر اراده لري نو دخپل كور دواړه درشلي دي اونيسي او يولس پيري دي قل هوالله احد اولولي نو انشاء الله الله تعالي به دده دواپسئ پوري دده دكورنګهبان وي.

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي درى دعاګانى دي چي دهغى قبوليت يقيني دى (١) دمظلوم دعا (٢) دمسافر دعا (٣) دخوئ په حق كې دپلار دعا (ابو داود او ترمذي روايت كړى دى او ونيلي يى دي چي دا حديث حسن دى دابو داود په روايت كې لفظ علي ولده نه دى ذكر شوى صرف دادي چي دپلار دعا).

په دي روايت كې تير شول چي دري قسمه دعاګاني زر او ضرور قبليدونكي دي يو دمظلوم خيري دي ځكه چي دده په خيرو كې اخلاص زيات دى او په كومه دعا كې چي اخلاص زيات وي هغه زر قبليږي دويمه دمسافر دعا ده چاچي دمسافر سره بنه سلوك اوكړو او مسافر ورته

---

[1] البخاري_ الزكاة ٦٣ (١٤٩٦) . والمظالم ٩ (٢٤٤٨) . والمغازي ٦٠ (٤٣٤٧) سنن ابي داود_ الزكاة ٥ (١٥٨٤) . سنن النسائي_ الزكاة ٤٦ (٢٥٢٣) . سنن ابن ماجه_ الزكاة ١ (١٧٨٣) (تحفة الأشراف : ٦٥١١) . و مسند احمد (١_ ٢٣٣) . وسنن الدارمي_ الزكاة ١ (١٦٥٥)

دعا اوکړي نو فورا قبليږي ليکن که څوك مسافر ته تکليف اورسوي او هغه ورته خيري اوکړي نو هم زر قبليږي، دريم په دي کې خيري کول دپلار دي بچي خپل ته په دي حديث کې دوالد لفظ راغلى دى په يو بل کې دوالده لفظ هم راغلى دى.
مطلب دادى چرته چي په چا باندي ظلم کيږي يادچا بي عزتي کيږي نو پدغه وخت کې دهغه مدد کول ضروري دي دمعاذ بن انس الجهني رضي الله عنه بيان دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي کوم مومن لره دمنافق دظلم نه بچ کړو نو الله تعالي به يوه فرشته مقرر کړي چي دقيامت په ورځ به ده لره دجهنم نه بچ کوي

****

٦٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي خُلُقِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دکريمانه اخلاقو بيان

٢٠١٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ الضُّبَعِيُّ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: " خَدَمْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِينَ، فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ قَطُّ، وَمَا قَالَ لِشَيْءٍ صَنَعْتُهُ لِمَ صَنَعْتَهُ وَلَا لِشَيْءٍ تَرَكْتُهُ لِمَ تَرَكْتَهُ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ خُلُقًا، وَلَا مَسِسْتُ خَزًّا قَطُّ وَلَا حَرِيرًا وَلَا شَيْئًا كَانَ أَلْيَنَ مِنْ كَفِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا شَمَمْتُ مِسْكًا قَطُّ وَلَا عِطْرًا كَانَ أَطْيَبَ مِنْ عَرَقِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَالْبَرَاءِ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دى فرمائي چي ما لس کاله درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت کړي دى او هيڅکله يي راته چرته اف کلمه هم نه ده وئيلي، اونه يى راته په څه کار چي ماکړى وو فرمائيلي دي، چي دادي ولي اوکړو اونه يى په څه کار چي ما نه وي کړى دا فرمائيلي دي چي دا کار دي ولي نه دي کړي، او رسول الله د هر چانه زيات ښائسته اخلاقو والا وو. چي ما دريښمو توکى ياسو چي ريښم د رسول الله صلي الله عليه وسلم دلاس نه پاسته نه دي ليدلي اونه مي هيڅ يو خوشبويى د رسول الله صلي الله عليه وسلم د خولي نه زياته خوږه خوشبو بوي کړي ده.
امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعائشه او براء رضي الله

---

[1] ـ صحيح البخاري ـ الوصايا ٢٥ (٢٧٦٨)، والمناقب ٢٣ (٣٥٦١)، والأدب ٣٩ (٦٠٣٨)، والديات ٢٧. مسلم ـ الفضائل ١٣ (٢٣١٠) ابي داود ـ الأدب ١ (٤٧٧٣)، ومسند احمد (٣ـ ١٠١، ١٢٢، ١٧٤، ٢٠٠، ٢٢٧، ٢٣١، ٢٥٥)

عنهم نه هم احاديث وارد دي
لغات : ديباجا: ديباج معني ريشمي کپړه، جمع يي ديابيج راځي، حريرا معني ريخم الين معني نرم صفت يي لين راځي ، رائحة معني بوي جمع يي رائحات او روائح راځي
تشريح: درسول الله صلي الله عليه وسلم ورغوی مبارك ريښمو نه هم زيات نرم وو، پدي باره کې قاري عبد السلام وايي چې دلاسونو او ښپو ورغوي يې فراخه وو. اود ريخمو او ديباج نه زيات نرم وو
پدي باره کې بعضي خلق وايي چې دلاسونو ورغوي او دښپوګوتو مينځ کې پراخوالي زيات وو چې دريخمو نه زيات نرم وو.
ابن بطال ليکلي دي درسول الله صلي الله عليه وسلم ورغوی دغوښی نه ډك وو ابن حجر وائي چې دغوښي په اعتبار نرم وو او دهډوکو په اعتبار سخت وو.
قاضي عياض مالکي ليکلي دي چې چا به درسول الله صلي الله عليه وسلم سره مصافحه اوکړه نو تمامه ورځ به يي دلاس نه خوشبو روانه وه.
علامه طيبي ليکلي دي دعائشه رضي الله عنها نه روايت دی چې درسول الله ورغوی دعطار ورغوی وو خوشبو به يي کوله.
اوکه د کوم ماشوم په سر به يي لاس کيخودو نو هغه به دخوشبو په اعتبار سره دنورو ماشومانو نه ممتاز وګرځيدو.
دانس رضي الله عنه بيان دی چې لس کاله مي درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت کړی دی، په دي جمله کې دانس رضي الله عنه درسول الله اخلاق بيانوي چې په لسو کالو کې دهغه په اخلاقو کې ما کمی نه دی ليدلی سره ددي چې دده عمر هم ډيرکم وو ليکن ددي باوجود بخپله وائي چې په دومره موده کې يي زه نه چرته وهلی يم او نه يي رټلی يم او دا دښائسته اخلاقو اعلي ترينه نمونه ده.

****

٢٠١٦_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا عَبْدِ اللَّهِ الجَدَلِيَّ، يَقُولُ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "لَمْ يَكُنْ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا، وَلَا صَخَّابًا فِي الأَسْوَاقِ، وَلَا يَجْزِي بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ، وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عَبْدِ اللَّهِ الجَدَلِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ بْنُ

عَبْدٍ. وَيُقَالُ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدٍ. [1]

ترجمه دابوعبدالله جدلي بيان دي فرمائي چي ما دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه درسول الله صلي الله عليه وسلم داخلاقو باره كي تپوس اوكړو نو ويې فرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فحشگو (بدزبانه كنځل مار) او بدكلامي كونكي او په بازارونو كي چغي وهونكي نه وو، او دبدئ بدله به يې په بدئ نه وركوله بلكه عفوه او درگذر به يې كولو

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او دابوعبدالله جدلي نوم عبد بن عبد دي او دده دنوم باره كي عبدالرحمن بن عبد هم ويلي شوي دي

****

٧٠_ باب مَا جَاءَ فِي حُسْنِ الْعَهْدِ

دوفادارئ بيان

٢٠١٧_حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " مَا غِرْتُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ وَمَا بِي أَنْ أَكُونَ أَدْرَكْتُهَا، وَمَا ذَاكَ إِلَّا لِكَثْرَةِ ذِكْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهَا، وَإِنْ كَانَ لَيَذْبَحُ الشَّاةَ فَيَتَتَبَّعُ بِهَا صَدَائِقَ خَدِيجَةَ فَيُهْدِيهَا لَهُنَّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي د نبي كريم صلي الله عليه وسلم په بي بيانو كي ما دهيچا سره داسي غيرت نه كولو څومره غيرت چي مي دخديجه رضي الله عنها سره كولو او ما دهغوئ زمانه نه ده موندلي او ددي غيرت بله هيڅ وجه نه وه مگر صرف دا چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به ډيره يادوله او كه چيلئ به يې ذبح كړله نو دهغي ملگري به يې لټولي او غوښه به يې ورته ليږله .

امام ترمذي وايي : داحديث حسن غريب صحيح دي.

لغات . غرت غار يغار غيرة دسمع نه په معني دغيرت كولو دي.

---

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٧٧٩٢) . وانظر: مسند احمد (٦_ ١٧٣، ٢٣٦، ٢٤٦)

[2] - صحيح البخاري_ مناقب الأنصار ٢٠ (٣٨١٦، ٣٨١٧) . والنكاح ١٠٨ (٥٢٢٩) . والأدب ٢٣ (٦٠٠٤) . والتوحيد ٣٢ (٧٤٨٤) . صحيح مسلم_ فضائل الصحابة ١٢ (٢٤٣٥) . سنن ابن ماجه_ النكاح ٥٦ (١٩٩٧) (تحفة الأشراف : ١٦٨٧٧) . و مسند احمد (٦_ ٥٨، ٢٠٢، ٢٧٩)

تشريح: "ماغرت علي احد" يعني دومره رشك مي په هيچا باندي نه ده راغلي، درسول الله صلي الله عليه وسلم ورسره بي اندازي محبت وو علماؤ ليکلي دي چي خديجه رضي الله عنها ډيره عبادت ګذاره او پرهيزګاره وه او په نبي کريم صلي الله عليه وسلم يي دټولو نه مخکي ايمان راوړی وو او په دين يي خپل مال خرج کړی وو

"وربما ذبح شاة" يعني چي کله به يي ګډ ذبح کړو نو دهغي غوښه به يي دخديجي دهمزولو او ملګرو کره ليږله دا ورسره درسول الله صلي الله عليه وسلم محبت وو چي دهغي دوفات نه پس يي هم دهغي دهمزولو سره صله رحمي کوله دهغي يو فضيلت دا هم دی چي درسول الله صلي الله عليه وسلم تمام اولاد دهغي دخيټي نه پيدا دی ليکن علاوه د ابراهيم نه کوم چي دماريه نه پيداشوی وو

خديجه رضي الله عنها درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ۲۴ کلونه او شپږ يا پنځه مياشتي تيري کړي وي او ددي په موجودګئ کي رسول الله صلي الله عليه وسلم کومه بله نکاح نه وه کړي.(روضة الصالحين)

****

٧١_ باب مَا جَاءَ فِي مَعَالِي الأَخْلاَقِ

دبلند ترين اخلاقو بيان

٢٠١٨_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الحَسَنِ بْنِ خِرَاشٍ البَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلاَلٍ، حَدَّثَنَا مُبَارَكُ بْنُ فَضَالَةَ، حَدَّثَنِي عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ المُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ القِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلاَقًا، وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ القِيَامَةِ الثَّرْثَارُونَ وَالمُتَشَدِّقُونَ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ عَلِمْنَا الثَّرْثَارُونَ، وَالمُتَشَدِّقُونَ، فَمَا المُتَفَيْهِقُونَ؟ قَالَ: "المُتَكَبِّرُونَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الحَدِيثَ عَنِ المُبَارَكِ بْنِ فَضَالَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ المُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ، عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ سَعِيدٍ، وَهَذَا أَصَحُّ وَالثَّرْثَارُ: هُوَ الكَثِيرُ الكَلاَمِ، وَالمُتَشَدِّقُ الَّذِي يَتَطَاوَلُ عَلَى النَّاسِ فِي الكَلاَمِ وَيَبْذُو عَلَيْهِمْ. (١)

١ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٠٥٢)

ترجمه دجابر رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما په نزد ماته په تاسو كي زيات محبوب او دقيامت په ورځ ماته زيات نژدي كيناستونكي هغه خلق دي څوك چي په تاسو كي بهترين اخلاقو والاوي او زما په نزد ماته په تاسو كي دټولو نه زيات قابل دنفرت او دقيامت په ورځ زما نه لري كيناستونكي خلق هغه دي څوك چي ډيري او سرسري خبري كوي او بي احتياطه خبري كونكي زبان درازي كونكي "مفتيقيهون" دي صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله ثرثارون خو مونږ پيژنو او متشدقون هم مونږ پيژنو ليكن د متفيقيهون نه څوك مراد دي نو ويي فرمائيل تكبر كونكي دي

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن غريب دي، بعضي خلقو دا حديث دعبدالله بن مبارك بن فضاله عن محمد بن المنكدر عن جابر عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل كړي دي او په دي كي يي عن عبدربه بن سعيد واسطه نه ده ذكر كړي او دا سند دنورو په نسبت زيات صحيح دي، او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، او ثرثارون هغه چاته وائي چي ډيري خبري كونكي او سرسري خبري كونكي وي او متشدقون هغه چاته وائي څوك چي دخلقو سره په خبرو كولو كي احسان زباتونكي او فحش كلامي كونكي وي

لغات الثرثارون:ثرثر ييژثر ثرثرة بك بك كول ، المتشدقون ، معني په تكلف سره فصاحت ظاهرول المتفيهقون، معني خان لوي ګڼړل.

تشريح : ثرثار ، هغه څوك وي چي په تكلف سره ډيري خبري كوي او مشتدق هغه كس وي چي بيان يي ډير اوږد وي او متفيهق هغه وي چي الفاظ په حلق كي دتكبر په وجه وايي

په پورتني حديث كي اخلاق حسنه ته ترغيب وركړى شوى دى او ددي سره سره دغير محتاط طريقي او تصنع سره دګفتګو كولو نه او په خلقو رعب اچولو نه ممانعت راغلى دى.

علماء وائي چي عبث غپيدل او بي فائدي خبري كول دلته مراد دي او په مبالغي سره خبري كول مكروه او مذموم دي ليكن دا تمام كارونه كه ددي دپاره اوكړى شي چي خلق په عبادت كي راغب شي نو مذموم به نه وي.

امام سيوطي دښانسته اخلاقو لس علامات ليكلي دي.

اول جګړه به ډيره كمه كوي،

دويم دانصاف نه به كار اخلي ،

دريم دخلقو غلطيانو ته به نه ګوري ،

څلورم په بدئ كي به ښه اړخ طلب كوي ،

پنځم دمعذرت طلب ګار به وي ،

شپږم دخلقو نه به تکليف برداشت کوي،
اوم خپل خان به ملامته کوي،
اتم خلق به نظر انداز کوي او پخپل خان کې به عيوب لټوي،
نهم دهر چاسره به په روڼ تندي مخامخ کيږي،
لسم خبري به په نرمئ سره کوي برابره خبره ده چي هغه کمتروي او که برتر.

****

٧٢_ باب مَا جَاءَ فِي اللَّعْنِ وَالطَّعْنِ

دلعنت ونيلو او طعن (دچا سپاکي کولو) دمذمت بيان

٢٠١٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَكُونُ الْمُؤْمِنُ لَعَّانًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ بِهَذَا الْإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا" وَهَذَا الْحَدِيثُ مُفَسِّرٌ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مومن لعن او طعن کونکي نه وي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن غريب دي، او په دي باب کي دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او بعضي راويانو په همدي سند درسول الله صلي الله عليه وسلم نه داسي مضمون نقل کړي دي چي فرمائيل يي دمومن دپاره مناسب نه دي چي دي لعن او طعن کونکي وي دا حديث دسابقه حديث په نسبت زيات واضح دي.

لغات : کان يکون کونا وکيانا وکينونة معني پيدا کيدل ، موندل، کان دافعال ناقصه نه دي په مبتدا او خبر داخليږي مبتدا ته رفع او خبر ته نصب ورکوي

تشريح: "لا يکون المؤمن لعانا" لعانا هم دمبالغي صيغه ده مطلب بي ډير زيات لعنت کونکی دی يعني که څوك کله کله په چا باندي لعنت کوي هغه به دپورتني حديث په وعيد کې داخل نه وي خکه چي دا وعيد خو په لعان باندي دی يعني په کثرت سره لعنت کونکي ته.

****

٧٣_ باب مَا جَاءَ فِي كَثْرَةِ الْغَضَبِ

---

[1]. تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٧٩٤)

٢٠٢٧_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ أَبِي غَسَّانَ مُحَمَّدِ بْنِ مُطَرِّفٍ، عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْحَيَاءُ وَالْعِيُّ شُعْبَتَانِ مِنَ الْإِيمَانِ، وَالْبَذَاءُ وَالْبَيَانُ شُعْبَتَانِ مِنَ النِّفَاقِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي غَسَّانَ مُحَمَّدِ بْنِ مُطَرِّفٍ، قَالَ: وَالْعِيُّ: قِلَّةُ الْكَلَامِ، وَالْبَذَاءُ: هُوَ الْفُحْشُ فِي الْكَلَامِ، وَالْبَيَانُ: هُوَ كَثْرَةُ الْكَلَامِ مِثْلُ هَؤُلَاءِ الْخُطَبَاءِ الَّذِينَ يَخْطُبُونَ فَيُوَسِّعُونَ فِي الْكَلَامِ وَيَتَفَصَّحُونَ فِيهِ مِنْ مَدْحِ النَّاسِ فِيمَا لَا يُرْضِي اللَّهَ. (1)

ترجمه دابوامامه رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي حيا او كم گويي (خبري كمي كول) دايمان دوه خانبونه دي مگر فحش كلامي او ډيري خبري كول دنفاق دوه خانبونه دي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن غريب دي او موږ يي صرف دابوغسان محمد بن مطرف په سند پيژنو، او دعيّ معني كم گويي ده او دبزاء معني فحش گويي ده او دبيان معني كثرتْ دكلام دي مثلا هغه مقريين څوك چي اوږده اوږده تقريرونه كوي او دخلقو په تعريف كي داسي فساحت استعمالوي كوم چي الله تعالي نه خوښوي.

دابوامامه اياس بن ثعلبه حارثي رضي الله عنه مناقب

نوم اياس ليكن دبعضو په نزد دده نوم عبدالله بن ثعلبه وو او ددي برعكس ثعلبه بن عبدالله هم ونيلى شوى دى كنيه يي ابو امامه وه اودپلار نوم يي ثعلبه يا عبدالله وو او دقبيله خزرج سره يي تعلق وو دده نه دوه يا دري روايتونه منقول دي يو په بخاري كي دى او يو په مسلم كښي.

****

٨١_ باب مَا جَاءَ فِي إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا

بعضي خبري دجادو پشان اثر كوي

٢٠٢٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلَيْنِ قَدِمَا فِي زَمَانِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَطَبَا، فَعَجِبَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِهِمَا، فَالْتَفَتَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا"، أَوْ "إِنَّ بَعْضَ الْبَيَانِ سِحْرٌ". قَالَ

---

1 _ تفرد به المؤلف (٢٨٥٥)، وانظر: مسند احمد (٥_٢٦٩)

****

٧٤_ باب في كَظْمِ الْغَيْظِ
دغصي خوړلو بيان

٢٠٢١_ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ الدُّورِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي أَبُو مَرْحُومٍ عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ مَيْمُونٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : دمعاذ بن انس جهني رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي غصه اوخوري او حال دادي چي هغه ددي د نافذولو طاقت لري نو الله تعالي به ده لره دقيامت په ورځ دخلقو په وړاندي راوغواړي او اختيار به ورته ورکړي چي کومه حوره دي خوښه وي هغه منتخب کړه.
امام ترمذي وايي : دا حديث حسن غريب دي.

لغات: كظم: كظم كظوما دسمع نه په معني دغصي خوړلو دي.
ينفذ: نفذ نفذا د نصر نه په معني څيرولو او پوري وتلو دي، النافذ اسم فاعل دي هر کار ته پوري وتونکي، نفذ نفوذا په معني داثرو رسوخ په جديد لغت کي مستعمل دي.
رؤوس: الرأس مفرد دي په معني د سر سره ، او دا په معني دلوړ څيز سره هم دي.

تشريح : دغصي کنترول کونکي دپاره انعام: په يو حديث کي راغلي دي من كتم غيظا وهو يقدر علي انفاذه ملاء الله قلبه امنا وايمانا

علي رؤس الخلاق يوم القيامة حتي يخيره من الحور العين ماشاء. په دي حديث کي غصي خوړونکي سره دانعام وعده شوي ده حکماء وايي چي غصه "جنون ساعة" ديو ساعت ليونتوب دي، نو که په داسي حالت کي څوك خان وساتي اود الله دحکم تعميل وکړي نو انعام به حاصل کړي چي دقيامت په ورځ به ورته ډيري حوري ورکړي شي.

---

[1] _ سنن ابي داود_ الأدب ٣ (٤٧٧٧) . سنن ابن ماجه_ الزهد ١٨ (٤١٨٦) . يأتي في القيامة ٢٤٩٣ (تحفة الأشراف : ١١٢٩٨)
. ومسند احمد (٣_ ٤٣٨، ٤٤٠)

حور العين لغوي معني دسترګو سپينوالي زيات سپيندل او توروالي زيات توريدل دي، او داسي سترګي ډيري ښکلي ښکاري او خصوصا سترګي دښځو په خائست کي اضافه راولي.
دبعضو قول دي چي حور دنصر نه معني يي په حيرت کي اچول دي مطلب دادي چي دجنت دحورو حسن کتونکي به په حيرت کي واچولي شي

دمعاذ بن انس رضي الله عنه مناقب

نوم معاذ دپلار نوم انس قبيله جهينه سره تعلق لري، دي په مصريانو کي شميرلي شي چي مرويات يي ډير موندلي شي اکثر ورنه دده خوي سهل نقل دروايت کوي

****

٧٥_ باب مَا جَاءَ فِي إِجْلَالِ الْكَبِيرِ

دبوډاګانواو مشرانو دعزت او احترام کولو بيان

٢٠٢٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ بَيَانٍ الْعُقَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو الرَّحَّالِ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا لِسِنِّهِ إِلَّا قَيَّضَ اللَّهُ لَهُ مَنْ يُكْرِمُهُ عِنْدَ سِنِّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ هَذَا الشَّيْخِ يَزِيدَ بْنِ بَيَانٍ، وَأَبُو الرِّجَالِ الْأَنْصَارِيُّ آخَرُ. (1)

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر يو خوان چي دبوډاوالي په وجه دکوم ابوډا احترام اوکړي نو الله تعالي به دده دپاره داسي خلق مقرر کړي څوك چي به دبوډاوالي په عمر کي دده احترام کوي.
امام ترمذي وايي: داحديث غريب او دا مونږ ته صرف دهمدي شيخ يعني يزيد بن بيان په سند رارسيدلي دي، او ابوالرجال انصاري يو بل راوي دي او چي کوم راوي په دي حديث کي دي هغه ابو الرحال دي

لغات قيّض قيّض باب تفعيل صيغه ده قادر کيدو او مقدمي کولو ته وئيلي شي.

تشريح: "من يكرمه عند سنه" يعني هغه څوك چي دده په بوډاوالي کي دده عزت کوي که څوك دکوم بوډا عزت وکړي نو چي کله دی بوډا شي الله تعالي به داسي څوك پيدا کړي چي هغه به دده عزت اوکړي او ده ته به دخپل عمل دجنس نه بدله ورکړی شي لکه چي ارشاد الهي دی "هل جزاء الاحسان الا الاحسان" يعني داحسان بدله احسان وي لکه چي دپښتو متل دی

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦/١)

چي څه کري هغه به ربېی ، علماء واني چي په پورتني حديث کي دبوډاګانو اکرام کولو ته ترغيب ورکړی شوی دی او په دي کي ديته هم اشاره شوي ده چي دمشرانو عزت کول دعمر داوږديدو سبب دی

****

٧٦_ باب مَا جَاءَ فِي الْمُتَهَجِرَيْنِ

پخپل مينځ کي ددوه تعلق قطع کونکو بيان

٢٠٢٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ. عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ. عَنْ أَبِيهِ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تُفَتَّحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ فَيُغْفَرُ فِيهِمَا لِمَنْ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا إِلَّا الْمُهْتَجِرَيْنِ. يُقَالُ: رُدُّوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَيُرْوَى فِي بَعْضِ الْحَدِيثِ: " ذَرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا ". قَالَ: وَمَعْنَى قَوْلِهِ الْمُهْتَجِرَيْنِ: يَعْنِي الْمُتَصَارِمَيْنِ. وَهَذَا مِثْلُ مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ". ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي د دشمني او دزيارت په ورځ دجنت دروازي پرانيستلي کيږي او دالله تعالي سره دشريك نه پيدا کونکو مغفرت په دي ورځو کي کيږي مګر علاوه دهغه چانه چاچي پخپل مينځ کي تعلق قطع کړي وي ددوی په باره کي به ونيلي کيږي دوی واپس کړئ تردي پوري چي خپل مينځ کي صلح اوکړي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي، او په بعضي روايتونو کي دا الفاظ راغلي دي "ردوا هذين حتي يصطلحا" يعني دوئ دوازه پخپل حال پريږدئ تر څو پوري چي يي صلح کړي نه وي، او د متهجرين معني متصارمين ده يعني تعلق قطع کونکي او دا حديث دهغه روايت سره مشابه دي کوم چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي ارشاد نبوي دي دهيځ يو مسلمان دپاره جائز نه دي چي هغه دخپل يو ورور سره د دريو ورځو نه زيات تعلق پريږدي

****

[1] _ صحيح مسلم_ البر والصلة ١١ (٢٥٦٥) . سنن ابن ماجه_ الصيام ٣٢ (١٧٣٩) (تحفة الأشراف ١٢٧٠٢) . و مسند احمد (٢_٣٢٩)

٧٧_ باب مَا جَاءَ فِي الصَّبْرِ

دصبر بيان

٢٠٢٤_ حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّ نَاسًا مِنَ الأَنْصَارِ سَأَلُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَاهُمْ، ثُمَّ سَأَلُوهُ، فَأَعْطَاهُمْ، ثُمَّ قَالَ: " مَا يَكُونُ عِنْدِي مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللهُ، وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللهُ، وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللهُ، وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ شَيْئًا هُوَ خَيْرٌ وَأَوْسَعُ مِنَ الصَّبْرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ مَالِكٍ هَذَا الحَدِيثُ، فَلَنْ أَذْخَرَهُ عَنْكُمْ وَالمَعْنَى فِيهِ وَاحِدٌ، يَقُولُ: لَنْ أَحْبِسَهُ عَنْكُمْ. [1]

ترجمه : دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه چي نوم يي سعد بن مالك بن سنان رضي الله عنه دی روايت دی چي دانصارو يو تولي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه سوال اوكړو نو هغوئ څه وركړل بيايي دوباره سوال اوكړو بيايي څه وركړل (چي څه ورسره وو هغه يي ټول خلاص كړل چي هر څه يي خلاص كړل نو) بيايي هغوئ ته اوفرمائيل ما سره چي څه وي ستاسو نه يي نه منع كوم (يعني كه نور څه وی نو هم به مي در كړي وو) خو ياد لرئ څوك چي دالله تعالي نه استغناء غواړي هغه يي مستغني كوي ، او څوك چي د الله تعالي نه د پاكدامن كيدو مطالبه كوي نو الله تعالي يي حفاظت كوي اود پاكدامن كيدو توفيق وركوي او څوك چي صبر كوي الله تعالي ورته دصبر طاقت وركوي او هيچاته يي دصبر نه ښه او فراخه څيز نه دی وركړی.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي، او دامام مالك نه په بل سند ، په دي حديث كي "فلن ادخره عنكم" الفاظو راغلي دي د دواړو عبارتونو معني يوه ده يعني ستاسو نه دا هرگز نه منع كوم، او په دي باب كي دانس رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

لغات: نفد: نفدا ونفادا دسمع باب نه په معني دختميدو دي او فنا كيدو دي.

فاعطاهم: اعطي اعطاء يعني وربي كړو دوئ ته.

انفق: نفق نفقا دنصر او سمع نه په معني دختميدو او انفق محتاج كيدو اود توخي ختميدو ته وئيلي شي.

---

[1] _ صحيح البخاري_ الزكاة ٥٠ (١٣٦٩) . والرقاق ٢٠ (٦٤٧٠) . صحيح مسلم_ الزكاة ٤٢ (١٠٥٣) . سنن النسائي_ الزكاة ٨٥ (٢٥٨٩) (تحفة الأشراف : ٤١٥٢) . والموطأ_ الصدقة ٢ (٧) . و مسند احمد (٣_ ١٢، ١٢، ٤٧، ٩٣) . و سنن الدارمي الزكاة ١٨ (١٦٨٦)

يعف عفي يعفو عفوا دنصر نه په معني معاف كولو او ساقطولو دي
يستغني استغني استغناء دباب استفعال نه په معني دبي نيازه او بي حاجته كيدو دي
يتصبر صبر صبرا په معني دبر داشت كولو دي په بهادرئ سره لكه چي محاوره ده من صبر ظفر يعني چاچي صبر وكړو هغه كامياب شو ، او الصبر حيلة لمن لاحيلة له يعني صبر دهغه چا حيله ده دچا چي څه حيله نه وي.

تشريح : "سَأَلوا رسولَ الله ﷺ فَأَعْطَاهُمْ . ثُمَّ سَأَلوهُ فَأَعْطَاهُمْ . حَتَّى نَفِدَ مَا عِندَهُ" په دي جمله كي درسول الله سخاوت بيان كړي شوي دي اوهغه داسي چي هرڅه شي به ورسره وو نو نه به يي منع كولو تردي چي ختم به شو .

"ومن يستعفف يعفه الله" څوك چي دسوال نه ځان بچ كوي نو الله به يي بچ كړي ، دخلقو په وړاندي لاس نه غوړول هم اخلاق فاضله دي په قران كريم كي هم دداسي كسانو تعريف راغلي دي يحسبهم الجاهل اغنياء من التعفف تعرفهم بسيماهم لايسئلون الناس الحافا..

"ومن يستغن يغنه الله" يعني څوك چي استغناء اختياروي يعني اګرچي لاس يي خالي وي مګر اعتماد يي صرف په الله وي نو خلقو ته يي نه غوړوي، اوهمدا په يوبل حديث كي وارد دي فأن الغني غني النفس . ددينه بعضي كسانو داسي تعبير كړي دي الغني هو الفقير الي الله. او همدي خبري ته درسول الله په دي ارشاد كي اشاره ده رب قنعني بما رزقتني وبارك لي فيما اعطيتني.

"اوسع من الصبر" يعني څوك چي صبر كوي الله هغه ته دخپلو خزانونه وركوي ، په همدي وجه په يو حديث كي راغلي دي څوك چي دري ورځي صبر وكړي اود چا په وړاندي خپل فقر بيان نكړي نو الله ورته ديوكال حلال رزق دروازه كولاووي

****

٧٨_ باب مَا جَاءَ فِي ذِي الْوَجْهَيْنِ

د دوه مخي انسان بيان

٢٠٢٥_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ شَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ذَا الْوَجْهَيْنِ". قَالَ أَبُو

عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَعَمَّارٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به دالله تعالي په وړاندي د دوه مخي انسان نه بد تر بل څوك نه وي

امام ترمذي وايي . دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دانس أوعمار رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

تشريح: په پورتني حديث كې ددوه مخو خلقو دپاره سخت وعيد بيان شوى دى چي هغوى دخلقو دخوشحالولو په نيت ربښتيا خبره نه كوي بلكه چي دچا سره ناست وي دهغه دطبيعت خبري كوي او كله چي ورنه لاړ شي نو بيايي بد وائي.

په يو روايت كې راځي څوك چي په دنيا كې ددوه مخونو والا وي دقيامت په ورځ به ورباندي داسي اور مسلط كړى شي چي دوه ژبي به يي وي.

****

٧٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي النَّمَّامِ

دچغل خور دمذمت بيان

٢٠٢٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ، قَالَ: مَرَّ رَجُلٌ عَلَى حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، فَقِيلَ لَهُ: إِنَّ هَذَا يُبَلِّغُ الْأُمَرَاءَ الْحَدِيثَ عَنِ النَّاسِ، فَقَالَ حُذَيْفَةُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ". قَالَ سُفْيَانُ: وَالْقَتَّاتُ: النَّمَّامُ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه : دهمام بن حارث بيان دي فرمائي چي دحذيفه بن اليمان رضي الله عنه په وړاندي يو كس تير شو او حذيفه ته اوونيلي شول چي دا كس افسرانو ته دخلقو خبري رسوي حذيفه رضي الله عنه اوفرمائيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي چغل خور جنت ته نشي داخليدي.

امام ترمذي وايي : دسفيان قول دي قتات نمام دواړه چغل خور ته وئيلي شي او دا حديث

[1] _ صحيح البخارى_ المناقب ا (٣٤٩٣) . والأدب ٥٢ (٦٠٥٨) . صحيح مسلم_ فضائل الصحابة ٤٨ (٢٥٢٦) . سنن ابي داود_ الأدب ٣٩ (٤٨٧٢) (تحفة الأشراف : ١٣٥٢٨) . و مسند احمد (٢_ ٣٥٥)

[2] _ صحيح البخارى_ الأدب ٥٠ (٦٠٥٦) . صحيح مسلم_ الإيمان ٤٥ (١٥٠) . سنن ابي داود_ الأدب ٣٨ (٤٨٧١) (تحفة الأطراف: ٣٣٨٦) . و مسند احمد (٥_ ٣٨٢، ٣٨٩، ٣٩٢، ٤٠٢، ٤٠٣، ٤٠٢)

حسن صحيح دي
تشريح: د چغل خور باره کي الله تعالي فرمائيلي دي. هماز مشاء بنميم، (القلم)
مولانا اشرف علي تهانوي وايي دوئ داسي خلق دي ځوك چي دخپل شنيعه حركاتو په وجه عندالله او عندالخلق بي وقعته وي (دزړه زخمي كولو دپاره پيغور وركونكي وي چغلياني كوي او دنيك كار نه منع كونكي وي او داعتدال دحد نه تيريدونكي وي دګناهونو ارتكاب كونكي وي سخت مزاج والا وي او ددينه علاوه حرام زاده هم وي (مراد دحرام زاده نه دادي چي نور اخلاق او افعال يي هم خبيث وي او غالبا دحرام زاده خلقو اخلاق او افعال ښه نه وي نو ځكه ورنه مجازا دا مراد كړي شو خلاصه دا شوه چي اول خلو مطلقا دمكذبينو او بيا خصوصا كله چي دا مكذبين په دي ذمائمو متصف هم وي لكه چي ستا په مكذبينو كي بعضي لوي لوي داسي وو او په هغه درخواست كي شريك وو بلكه دهغي بانيان وو عرض داچي دداسي كس خبره مه منئ او هغه هم صرف په دي سبب چي هغوئ مال او اولاد والاوي (يعني دنيوي وجاهت لري او دداسي كس داطاعت نه ځكه منع راغلي ده چي دداسي كس عادت دادي) كله چي زمونږه ايتونه دهغه په وړاندي لوستلي شي نو دي وايي دا بي سنده خبري دي كومي چي د مخكنو خلقو نه منقولي رارواني دي (مطلب دا چي دايتونو تكذيب كوي خلاصه داده چي اصل علت دنهي عن الاطاعت تكذيب دي او په دي بنا اول لاتطع المكذبين اوفرمائيل بيا په طور دتخصيص بعدالتعميم په مكذبينو كي دهغه مكذبينو داطاعت نه نهي راغله ځوك چي دتكذيب نه علاوه ذمائم هم لري دداسي خلقو داطاعت نهي دمطلق مكذبينو داباعت دنهي نه زياته شديد ده ليكن اصل علت به هم هغه تكذيب وي وړاندي دداسي كس دسزا بيان دي چي) مونږ به عنقريب ددوئ په پوزه داغ اولګوو (يعني په قيامت كي به ددوئ په مخ او پوزه ددوئ دكفر په وجه كومه علامه دذلت او معرفت اولګوي او كوم چي به ښه رسوا شي كذا رويه مرفوعا في درالمنثور وړاندي اهل مكه ته يو قصه بيانوي (بيان القران).

دهمام بن الحارث رضي الله عنه مناقب

نوم همام دپلار نوم حارث بن قيس بن عمرو دقبيله نخع سره يي تعلق وو او دكوفي اوسيدونكي وو خپله زمانه كي لوي عالم او زاهد وو او جليل القدر تابعي وو چي علماؤ په ثقاتو كي شميرلى دى ۲۵هجري كي وفات شوى دى چي يو لوي تعداد شاګردان يي دي.

****

۸۰ـ باب مَا جَاءَ فِي الْعِيِّ

دكمو خبرو كولو بيان

تعالي دي تاته په دنيا او اخرت کې دخپل طرف ته ددي بهترينه بدله درکړي
فقد ابلغ في الثناء : په تحقيق سره ده داحسان کونکي ښه تعريف اوکړو ، مطلب دادی چي دي کس ددي هديي بدله الله تعالي ته اوسپارله ظاهره ده چي الله تعالي به بهترين اجر ورکړي کوم چي ورته په مخلوق کې هيڅوك نشي ورکولی.
د بحث په اخر د صلح رحمئ متعلق يو حديث مبارك د عامي فائدي دپاره تنويرا للمقام ذکر کوو چي دصله رحمئ شرعي حيثت نور هم واضح شي

په صله رحمئ پاللو سره په رزق کې برکت او فراخي راځي

عن أنسٍ ﷺ : أن رَسُول الله ﷺ ، قَالَ : ((من أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ ، ويُنسأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ)) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ. قَالَ النووي: ومعنى ((ينسأ لَهُ فِي أثَرِهِ)) ، أي : يؤخر لَهُ فِي أجلِهِ وعمرِهِ.
أخرجه : البخاري ٣/٧٣ (٢٠٦٧) . ومسلم ٨/٨ (٢٥٥٧) (٢١) .
دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوك چه پخپل رزق کي وسعت او فراخي او خپل عمر کي اوږدوالی غواړي هغه له پکار دي چه صله رحمي اوکړي (بخاري ومسلم).
ينسأ دباب افعال نه انساه الشيء يعني دکوم شي دپريخودلو حکم کول نسي(ن) نسوة يعني کار پريخودل
"في اثره " اثر دخپو نشانونو ته وئيلی شي يعني که هغوئ ژوندي وی نو دخپو نشانونه به بي وو همدا وجه ده چه دعربو په نزد اثر دعمر نه کنايه وي
"يبسط له في رقه وينساله" يعني چه رزق يي فراخه شي او عمر يي اوږد شي
سوال دهر چا رزق او عمر متعين دی کوم چه دده په تقدير کي ليکلی شوي دي په دي کي نه کمی راتلی شي او نه زياتی په قران کريم کي هم راغلي دي "اذا جاء اجلهم لايستاخرون ساعة ولايستقدمون" .
جواب . په وخت کي برکت ته اشاره ده عمر خوبه هم دومره وي کوم چه مقرر شوی دی ليکن دومره برکت به پکي واچولی شي چه څومره کار خلق په کلونو کي نشي کولی هغوئ به بي په مياشتو کي اوکړي لکه چه دبزرګانو په زندګئ غور وکړي شي لنو معلومه به شي چه په کم عمر کي يي څومره زيات کار کړي دي دويم دادي چه ددوئ دکار خير او کارنامو ذکر دډيري مودي پوري جاري وي.
بهرحال دحديث مطلب دا شو چه څوك صله رحمي پالي دهغه په رزق کي هم برکت وي او په عمر کي هم.
کنز العمال ، دعلي رضي الله عنه نه روايت نقل کړی دی چه څوك دځلورو خبرو ذمه واري

أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عَمَّارٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1]).

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي دوه کسان راغلل او تقرير يي اوکړو خلقو چي ددوئ تقرير واوريدو تعجب يي شروع کړو رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته متوجه شو او وبي فرمائيل بعضي خبري دجادو پشان اثر کوي

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دعمار، ابن مسعود، او عبدالله بن شخير رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٨٢_ باب مَا جَاءَ فِي التَّوَاضُعِ

دتواضع او انکساری بیان

٢٠٢٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ العَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ العَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ، وَمَا زَادَ اللهُ رَجُلًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي كَبْشَةَ الأَنْمَارِيِّ وَاسْمُهُ عُمَرُ بْنُ سَعْدٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي صدقه په مال کي څه کمی نه راولي، بنده چي چا ته دعفوی اودرګذر نه کاروا خلي نو الله تعالي ده عزت زياتوي اوڅوک چي محض دالله تعالي دپاره تواضع اوعاجزي اختيار کړي نو الله تعالي به ورته رفعت او اوچتوالی ورکړي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعبدالرحمن بن عوف، ابن عباس، او ابوکبشه انماري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دابو کبشه انماري نوم عمر بن سعد دي

---

[1] _ صحيح البخاري_ النكاح ٤٧ (٥١٣٦) ، والطب ٥١ (٥٧٦٤) ، سنن ابي داود_ الأدب ٩٤ (٥٠٠٧) (تحفة الأشراف : ٦٧٢٤) ، و مسند احمد (٢_ ٦٣)

[2] _ صحيح مسلم_ البر والصلة ١٩ (٢٥٨٨) (تحفة الأشراف : ١٤٠٤٢) ، و مسند احمد (٢_ ٣٨٦) ، و سنن الدارمي_ الزكاة ٣٥ (١٦٧٨)

لغات تواضع؛ ذليل او عاجز كيدل. وضعه دفتح نه وضعا.په معني دسپك او بي عزته وضع عنقه دچا څټ وهل ، الحديث خبري جوړول ، كتاب ليكل. السلاح في العدو. مقابله كول

تشريح : علماء واني په دي كې دري خبري په خصوصيت سره بيان شوي دي اوله جمله داده "مانقصت صدقة من مال" يعني په صدقي وركولو سره په مال كې كمى نه راځي مطلب دادى اګرچي صدقه وركول په ظاهري طور سره په مال كې دكمي باعث وي مګر په حقيقت كې صدقه وركول په مال كې دزيادت سبب دى خكه چي ددي په سبب په مال كې بركت راځي او مال د افتونو نه محفوظ كيږي لكه چي په مخكې حديث كې هم تير شول چي دصدقي وركولو نه پس الله تعالي بدله هم وركوي په دنيا كې هم او په اخرت كې هم.

دويمه جمله: ومازاد الله عبدا بعفو الا عز" يعني څوك چي دچا خطا معاف كړي نو الله تعالي دهغه په عزت كې اضافه كوي ، مطلب دادى چي څوك دبدلي اخستلو دقدرت باوجود معافي كوي او خطا معافي كوي نو ددي په وجه الله دده عزت په دنيا او اخرت كې زياتوي دچا په قول هيڅكله انتقام دمعافئ سره برابر نشي كيدي.

دريمه جمله داده وماتواضع احد الا رفعه الله . يعني څوك چي دالله دپاره تواضع اختيار كړي نو الله تعالي يي درجه لوړوي متكبر خو خپل ځان لوي ګڼړي مګرهغه دالله په نزد ذليل اوحقير دى

****

٨٣_ بَاب مَا جَاءَ فِي الظُّلْمِ

دظلم دمذمت بيان

٢٠٣٠_حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي مُوسَى، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ.[1]

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په چاباندي ظلم كول دقيامت په ورځ دتيارو سبب دي.

---

[1] _ صحيح البخاري_ المظالم ٨ (٢٤٤٧)، صحيح مسلم_ البر والصلة ١٥ (٢٥٧٩) (تحفة الأشراف : ٧٢٠٩)، و مسند أحمد (٢_ ٩٢، ١٠٦، ١٣٦، ١٣٧، ١٥٦، ١٥٩، ١٩١، ١٩٥)

امام ترمذي وايي په دي باب کي د ابن عمر ، عائشه ، ابو موسي اشعري، او ابو هريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او داحديث دابن عمر په روايت حسن صحيح دي

لغات الظلم ظلم ظلما دنصر نه کوم څيز لره بې موقعي ايخودل يا غلط استعمالول شرارت کول، دچا په حق کي کمي کول

الشح شحّ شُحا وشحا دنصر اوسمع او ضرب نه په معني دبخل او حرص کولو

سفکوا سفك سفکاً د ضرب نه په معني دوينو بيولو.

"الظلم ظلمات يوم القيامة" يعني ظلم به دقيامت په ورځ دتيارو باعث وي. مطلب دادی چي دقيامت په ورځ به ظالم لره دحشر په ميدان کي تياري راګير کړی وي اوهغه نور به ورسره نه وي کوم چي به دمومنانو سره وي دکوم ذکر چي په قران کريم کي راغلي دی "نورهم يسعي بين ايديهم وبايمانهم" يعني دقيامت په ورځ به دمومنانو وړاندي او وروسته نور منډي وهي او ظالمان خلق به ددينه محروم وي ليکن دبعضي علماؤ په نزد دظلمات نه مراد تکاليف او مشکلات دي چي ظالمان به دقيامت په ورځ په مشکلاتو کي ګير وي

****

٨٤_ باب مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الْعَيْبِ لِلنِّعْمَةِ

په نعمتونو کي د عيب لټولو دمما نعت بيان

٢٠٣١_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "مَا عَابَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامًا قَطُّ كَانَ إِذَا اشْتَهَاهُ أَكَلَهُ وَإِلَّا تَرَكَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو حَازِمٍ هُوَ الأَشْجَعِيُّ الْكُوفِيُّ وَاسْمُهُ سَلْمَانُ مَوْلَى عَزَّةَ الأَشْجَعِيَّةِ. (١)

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم هيڅرى په خوراك کي عيب نه دي راويستلی که خواهش به يی وو خو اوبه يی خوړلو او که رغبت به يی نه وو نونه به يی خوړلو

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او ابو حازم د اشجعي قبيلي سره تعلق لري اود کوفي اوسيدونکي دی او نوم يي سلمان دی اود اشجعي قبيلي د سردارانو ازاد کړی غلام

[1] ـ صحيح البخاري_ المناقب ٢٣ (٣٥٦٣) . صحيح مسلم_ الأشربة ٣٥ (٢٠٦٤) . سنن ابن ماجه_ الأطعمة ٤ (٣٢٥٩) (تحفة الأشراف : ١٣٤٠٣)

دی.

لغات عاب يعيب عيبا ضرب نه عيب دار كيدل

تشريح: په دي روايت كې درسول الله اخلاق حميده ذكر دی چې په خوراك كې به يې عيبونه نه لټول كه دخوراك كوم څيز به يې خوښ وو نو په رغبت سره به يې خوړلو او كه خوښ به يې نه وو نو نه به يې خوړلو ليكن بد به يې هم نه ګڼړلو، دابن حجر قول دی كله چې خوراك دحرام قسم نه وو نو رسول الله به يې بدي بيانوله اوچې جائز به وو نو دهغي بدي به يې نه بيانوله، علامه نووي ددي مثال داسي وركړی دی چې داسي دي اوونيلی شي چې دا خوراك خام دی، اوبه پكې ډيري دي مالګه پكې كمه ده يازياته ده.(شرح رياض الصالحين)

****

٨٥_ باب مَا جَاءَ فِي تَعَظِيمِ الْمُؤْمِنِ

دمومن دعزت كولو بيان

٢٠٣٢_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَكْثَمَ، وَالْجَارُودُ بْنُ مُعَاذٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ وَاقِدٍ، عَنْ أَوْفَى بْنِ دَلْهَمٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: صَعِدَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِنْبَرَ فَنَادَى بِصَوْتٍ رَفِيعٍ، فَقَالَ: "يَا مَعْشَرَ مَنْ أَسْلَمَ بِلِسَانِهِ، وَلَمْ يُفْضِ الْإِيمَانُ إِلَى قَلْبِهِ، لَا تُؤْذُوا الْمُسْلِمِينَ، وَلَا تُعَيِّرُوهُمْ، وَلَا تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ، فَإِنَّهُ مَنْ تَتَبَّعَ عَوْرَةَ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ تَتَبَّعَ اللَّهُ عَوْرَتَهُ، وَمَنْ تَتَبَّعَ اللَّهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ وَلَوْ فِي جَوْفِ رَحْلِهِ". قَالَ: وَنَظَرَ ابْنُ عُمَرَ يَوْمًا إِلَى الْبَيْتِ أَوْ إِلَى الْكَعْبَةِ، فَقَالَ: مَا أَعْظَمَكِ وَأَعْظَمَ حُرْمَتَكِ، وَالْمُؤْمِنُ أَعْظَمُ حُرْمَةً عِنْدَ اللَّهِ مِنْكِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْحُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، وَرَوَى إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ السَّمَرْقَنْدِيُّ، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، نَحْوَهُ، وَرُوِيَ عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا. [1]

ترجمه دعبدالله بن عمررضي الله عنهما بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په منبر كيناستو او په تيز اواز يې اوفرمائيل اې اسلام راوړونكو چې صرف په ژبه يې اسلام راوړي وي او ايمان يې زړه ته كوز شوي نه وي، مسلمانانو ته تكليف مه وركوئ او دوئ نه پيغورونه مه كوئ او په دوئ كې عيبونه مه لټوئ او دا خكه څوك چې پخپل يو مسلمان ورور

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٧٥٠٩)

کي عيبونه لټوي الله تعالی په هغه کې عيبونه لټوي او الله تعالی چې په چا کې عيبونه اولټوي هغه لره به رسوا او ذليل کړي اګر که پخپل کور کې دننه ولې نه وي د راوي، نافع، بيان دی چې يوه ورځ عمر رضي الله عنهما کعبې طرف ته اوکتل او ويې وئيل اې کعبې ته څومره عزت والا يې او حرمت دې څومره عظيم دې ليکن دالله تعالی په نظر کې دمومن عزت او حرمت ستا نه زيات دې

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دی او مونږ يې صرف دحسين بن واقد په سند پيژنو. اسحاق بن ابراهيم ثمرقندي هم دحسين بن واقد نه ددې هم معنی روايت نقل کړي دي. او دابوبرزه اسلمي په واسطه هم درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددې هم معنی روايت مروي دی

****

٨٦_ باب مَا جَاءَ فِي التَّجَارِبِ

دتجربې کولو بيان

٢٠٣٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا حَلِيمَ إِلَّا ذُو عَثْرَةٍ، وَلَا حَكِيمَ إِلَّا ذُو تَجْرِبَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سړی هله صبرناک جوړيږي چې تنګسيا ورباندې راشي ، او عقل مند هله جوړيږي چې تجربې ورباندې تيرې شي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دی او مونږ يې صرف په همدې سند پيژنو

****

٨٧_ باب مَا جَاءَ فِي الْمُتَشَبِّعِ بِمَا لَمْ يُعْطَهُ

په دروغه ديو نعمت نمائش کول

٢٠٣٤_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أُعْطِيَ عَطَاءً فَوَجَدَ فَلْيَجْزِ بِهِ، وَمَنْ لَمْ يَجِدْ

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٠٥٥). مسند احمد (٣_٦٩)

فَلْيُثْنِ، فَإِنَّ مَنْ أَثْنَى فَقَدْ شَكَرَ، وَمَنْ كَتَمَ فَقَدْ كَفَرَ، وَمَنْ تَحَلَّى بِمَا لَمْ يُعْطَهُ كَانَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُورٍ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَفِي الْبَابِ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، وَعَائِشَةَ. وَمَعْنَى قَوْلِهِ: "وَمَنْ كَتَمَ فَقَدْ كَفَرَ" يَقُولُ: قَدْ كَفَرَ تِلْكَ النِّعْمَةَ. [1]

ترجمه دجابر رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاته چي كومه تحفه وركړي شي نو بيا كه دده وس كيږي نو ددي بدله دي وركړي او كه وس يي نه كيږي نو دتحفه وركونكي تعريف دي اوكړي ددي وجه داده چاچي دتحفه وركونكي تعريف اوكړو نو ده دهغه شكريه اداء كړه او چاچي يو نعمت پټ كړو هغه ددي نعمت ناشكري او ناقدري اوكړه او چاچي په داسي يو څيز دخان مزين كولو كوشش اوكړو كوم چي دده سره موجود نه وي نو دي د دروغو د دوه جامو اغوستونكي پشان دي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي، په دي باب كي داسماء بنت ابي بكر او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او د "ومن كتم فقد كفر" معني داده چي ده ددي نعمت ناشكري اوكړه

****

٨٨ـ باب مَا جَاءَ فِي الثَّنَاءِ بِالْمَعْرُوفِ

داحسان په بدل كي دتعريف كولو بيان

٢٠٣٥ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ الْحَسَنِ الْمَرْوَزِيُّ بِمَكَّةَ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا الأَحْوَصُ بْنُ جَوَّابٍ، عَنْ سُعَيْرِ بْنِ الْخِمْسِ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ: جَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ جَيِّدٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا فَلَمْ يَعْرِفْهُ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ حَازِمٍ الْبَلْخِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ الْمَكِّيَّ بْنَ إِبْرَاهِيمَ، يَقُولُ: كُنَّا عِنْدَ ابْنِ جُرَيْجٍ الْمَكِّيِّ، فَجَاءَ سَائِلٌ فَسَأَلَهُ، فَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ لِخَازِنِهِ: أَعْطِهِ دِينَارًا، فَقَالَ: مَا عِنْدِي إِلَّا دِينَارٌ إِنْ أَعْطَيْتُهُ لَجُعْتَ وَعِيَالُكَ، قَالَ: فَغَضِبَ وَقَالَ: أَعْطِهِ، قَالَ الْمَكِّيُّ: فَنَحْنُ عِنْدَ ابْنِ جُرَيْجٍ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ بِكِتَابٍ وَصُرَّةٍ وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْهِ بَعْضُ إِخْوَانِهِ،

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٨٩٢)

وَفِي الْكِتَابِ إِنِّي قَدْ بَعَثْتُ خَمْسِينَ دِينَارًا، قَالَ: فَحَلَّ ابْنُ جُرَيْجٍ الصُّرَّةَ: فَعَدَّهَا فَإِذَا هِيَ أَحَدٌ وَخَمْسُونَ دِينَارًا، قَالَ: فَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ لِخَازِنِهِ: قَدْ أَعْطَيْتَ وَاحِدًا فَرَدَّهُ اللَّهُ عَلَيْكَ وَزَادَكَ خَمْسِينَ دِينَارًا. (1)

ترجمه . اسامه بن زيد رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاسره چي څه ښيګړه اوشوه او هغه دی ښيګړی کوونکي ته په جواب کي جزاك الله خيرا اووئيل الله تعالي دی بهترينه بدله درکړي نو دهغه دشکر پوره حق يی ادا کړو
امام ترمذي وايي : داحديث حسن جيد غريب دي او مونږ يي صرف داسامه بن زيد په سند پيژنو، دابوهريره رضي الله عنه په واسطه هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت مروي دي، ما چي دامام بخاري نه دي حديث باره کي تپوس اوکړو نو هغه دلاعلمئ اظهار اوکړو، دمکي بن ابراهيم قول دي فرمائي چي مونږ دابن جريج مکي سره وو او په دي دوران کي يو غوښتلو والا راغي چي ددوئ نه يي څه وغوښتل ابن جريرج خپل خزانجي ته اووئيل ده ته يو دينار ورکړه، خازن اووئيل زما سره صرف يو دينار دي او که دا ده ته ورکړم نو ته او ستا بال بچ به اوږي پاتي شي، ددي خبري په اوريدو ابن جريرج غصه شو او ويي فرمائيل ده ته دينار ورکړه، راوي وائي مونږ دابن جريرج سره موجود وو چي يو کس ورته يو خط او يو ګوتئ راوړله کومه چي دده بعضي دوستانو راليږلي وه په خط کي يي ليکلي وو ما درته پنخوس دينار دروليږل ابن جريج ګوتئ پرانيستله او ويي شميرل او په دي کي صرف يو پنخوس دينار وو، ابن جريج خپل خازن ته اووئيل تا يو دينار ورکړو او الله تعالي تاته هغه يو دينار دپنخوسو دينارو سره راواپس کړو.
لغات : صنع: دفتح نه معني جوړول، معروف ، نيکي ، ابلغ، بلغ يبلغ بلغا معني رسيدل، الثناء دضرب نه معني تعريف کول.
تشريح: په يو بل روايت کي اغلي دي من صنع اليكم معروفا فكافئوه فان لم تجدوا ماتكافئوه فادعوا له حتي تروا ان قد كافأتموه .
اوس دپورتني حديث مطلب که چا بل چاته هديه ورکړه نو اول خو هغه لره پکار دي چي ددي هديي بدله دهديه په شکل کي ورکړي او که هديه ورسره نه وي نو په دويمه درجه کي دا حکم دی چي دعا دي ورته وکړي او ددعا الفاظ په پورتني حديث کي جزاك الله خيرا راغلي دي ددي دعا مطلب محدثينو دا بيان کړی دی چي ستا ددي هديي بدله الله تعالي ته سپارم الله

---
1 - سنن النسائي - عمل اليوم والليلة ١/ (١٨٠) (تحفة الأشراف : ١٠٣)

أَبُو عِيسَى: يَعْنِي السُّمَّ. (١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دخبيثي (پليتي) دوا داستعمال نه منع فرمائيلي ده.
امام ترمذي وايي . ددينه هغه دوا مراد ده په كومه كي چي زهر وي

****

٨_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ التَّدَاوِي بِالْمُسْكِرِ

په نشه راوستونكو څيزونو دعلاج كولو دمما نعت بيان

٢٠٤٦_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ سِمَاكٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عَلْقَمَةَ بْنَ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ شَهِدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَسَأَلَهُ سُوَيْدُ بْنُ طَارِقٍ أَوْ طَارِقُ بْنُ سُوَيْدٍ عَنِ الْخَمْرِ، فَنَهَاهُ عَنْهُ. فَقَالَ: إِنَّا نَتَدَاوَى بِهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّهَا لَيْسَتْ بِدَوَاءٍ وَلَكِنَّهَا دَاءٌ ". (٢)

ترجمه : دوائل بن حجر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره موجود وم چي سويد بن طارق يا طارق بن سويد ورنه دشرابو په باره كي تپوس اوكړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه ددينه منع كړو سويد وائي مونږ به په دي باندي علاج كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل شراب دوا نه ده بلكه دا پخپله بيماري ده

****

حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ. حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، وَشَبَابَةُ، عَنْ شُعْبَةَ بِمِثْلِهِ. قَالَ مَحْمُودٌ: قَالَ النَّضْرُ: طَارِقُ بْنُ سُوَيْدٍ، وَقَالَ شَبَابَةُ: سُوَيْدُ بْنُ طَارِقٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٣)

ترجمه : نضربن شبلي او شبابه هم دشعبه نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي نضر خپل

---

[1] _ سنن ابي داود_ الطب ١١ (٣٨٧٠) . سنن ابن ماجه_ الطب ١١ (٣٤٥٩) (تحفة الأشراف : ١٣٤٢٦) . و مسند احمد (٢_ ٣٠٥، ٤٤٦، ٤٧٨)

[2] _ صحيح مسلم_ الأشربة ٣ (١٩٨٤) . سنن ابي داود_ الطب ١١ (٣٨٧٣) . (تحفة الأشراف : ١١٧٧١) . و مسند احمد (٣_ ٣١٧)

[3] _ صحيح مسلم_ الأشربة ٣ (١٩٨٤) . سنن ابي داود_ الطب ١١ (٣٨٧٣) . (تحفة الأشراف : ١١٧٧١) . و مسند احمد (٣_ ٣١٧)

اوكړي نو زه دهغوئ دپاره دځلورو خبرو ذمه واريم ځوك چه صله رحمي كوي زه دهغوء دعمر اوږدوالي ذمه وار يم ځوك چه درشته دارو سره محبت كوي زه دهغوئ دعزت ذمه وار يم چه په رزق كي به يي فراخي راشي او جنت ته به داخل شي

****

كتاب الطب عن رسول اللهِ صلى الله عليه وسلم

دطب (علاجونو) احكام او مسائل

١_ باب مَا جَاءَ فِي الْحِمْيَةِ

دپرهيز كولو بيان

٢٠٣٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مُحَمَّدٍ الْفَرْوِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ عَبْدًا حَمَاهُ الدُّنْيَا كَمَا يَظَلُّ أَحَدُكُمْ يَحْمِي سَقِيمَهُ الْمَاءَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ صُهَيْبٍ، وَأُمِّ الْمُنْذِرِ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا [1]

ترجمه . دقتاده بن نعمان رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي الله تعالي ديو بنده سره محبت كوي نو هغه لره ددنيا نه په داسي شان سره بچ كوي لكه چي په تاسو كي يو كس خپل دينار لره داوبو نه بچ كوي

امام ترمذي وايي . داحديث حسن غريب دي او دا حديث دمحمود بن لبيد په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل هم مروي دي، او په دي باب كي دصهيب او ام منذر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي .

****

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ، عَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَتَادَةُ بْنُ النُّعْمَانِ الظَّفَرِيُّ هُوَ أَخُو أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ لِأُمِّهِ، وَمَحْمُودُ بْنُ

[1] . تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٠٧٣)

لَبِيدٍ قَدْ أَدْرَكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَآهُ وَهُوَ غُلَامٌ صَغِيرٌ. (1)

ترجمه په دي سند هم محمود بن لبيد دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي مګر پخپل سند كي يي دقتاده بن نعمان ذكر نه دي كړي.

امام ترمذي وايي قتاده بن نعمان الظفري دابوسعيد خدري رضي الله عنه دمور دطرفه ورور دي او محمود بن لبيد دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره ملاقات شوي دي او ليدلي يي وو او دي هغه وخت كي ماشوم وو

****

٢٠٣٧ـ حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ التَّيْمِيِّ، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ، عَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ عَلِيٌّ وَلَنَا دَوَالٍ مُعَلَّقَةٌ، قَالَتْ: فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ، وَعَلِيٌّ مَعَهُ يَأْكُلُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ: "مَهْ مَهْ يَا عَلِيُّ، فَإِنَّكَ نَاقِهٌ". قَالَ: فَجَلَسَ عَلِيٌّ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ، قَالَتْ: فَجَعَلْتُ لَهُمْ سِلْقًا وَشَعِيرًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا عَلِيُّ، "مِنْ هَذَا فَأَصِبْ فَإِنَّهُ أَوْفَقُ لَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ فُلَيْحٍ، وَيُرْوَى عَنْ فُلَيْحٍ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ (2)

ترجمه دام منذر رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته تشريف راوړو او علي رضي الله عنه ورسره وواو دكجورو خوشي زوړندي وي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورنه خوړل شروع كړل او ورسره علي رضي الله عنه هم خوړل رسول الله علي رضي الله عنه ته اوفرمائيل اي علي بس كړه بس كړه ځكه چي همدا اوس تازه دبيمارۍ نه پاځيدلي يم اوس خو دي هم لاكمزوري باقي ده ابن منذر وائي چي علي رضي الله عنه كيناستو او رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوړلو كي مشغول وو بيا ما ددوئ دپاره دچقندر او وربشو خوراك تيار كړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي علي ددينه خوره. او دا ستا دمزاج موافق دي

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي او مونږ دا صرف دفليح په سند پيژنو دا حديث

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٠٤٣)

2 سنن ابي داود_ الطب ٢ (٣٨٥٦). سنن ابن ماجه_ الطب ٣ (٣٤٤٢) (تحفة الأشراف: ١٨٣٦٣). و مسند احمد (٦-

دفليح نه هم مروي دي او هغه دايوب بن عبدالرحمن نه نقل كړي دي

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، وَأَبُو دَاوُدَ، قَالَا: حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ يَعْقُوبَ، عَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ الأَنْصَارِيَّةِ فِي حَدِيثِهِ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ يُونُسَ بْنِ مُحَمَّدٍ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: أَنْفَعُ لَكَ. وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَحَدَّثَنِيهِ أَيُّوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، هَذَا حَدِيثٌ جَيِّدٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه : يعقوب هم دام منذر انصاريه نه دا روايت نقل كړي دي مګر ديعقوب په روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ كره داخل شو او باقي يې ديونس بن محمد هم معني روايت بيان كړو.مګر دده په روايت كي صرف ددي الفاظو اضافه ده چي رسول الله ورته اوفرمائيل دا ستادپاره زيات فائده مند دي، محمد بن بشار وائي دا حديث ماته ايوب بن عبدالرحمن بيان كړي دي او ددي سند جيد غريب دي.

****

٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الدَّوَاءِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ

دعلاج كولو دا هميت بيان

٢٠٣٨ـ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُعَاذٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ، قَالَ: قَالَتِ الأَعْرَابُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلَا نَتَدَاوَى؟ قَالَ: "نَعَمْ يَا عِبَادَ اللَّهِ، تَدَاوَوْا، فَإِنَّ اللَّهَ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ شِفَاءً، أَوْ قَالَ: دَوَاءً، إِلَّا دَاءً وَاحِدًا، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا هُوَ؟ قَالَ: الْهَرَمُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي خُزَامَةَ، عَنْ أَبِيهِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : داسامه بن شريك رضي الله عنه بيان دي يو خل باندچيانو تپوس اوكړو اي دالله رسوله ايا مونږ دبيمار دپاره علاج كولي شو؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو اي دالله بندګانو علاج كوئ خكه چي الله تعالي هره بيماري پيدا كړي دي نو دهغي دپاره يې دوا

---

[1] سنن ابي داود_ الطب ٢ (٣٨٥٦) . سنن ابن ماجه_ الطب ٣ (٣٤٢٢م (تحفة الأشراف : ١٨٣٦٢) . و مسند احمد (٦ـ ٣٦٣)

[2] ـ ابي داود_ الطب ١ (٣٨٥٥) . سنن ابن ماجه_ الطب ١ (٣٤٣٦) (تحفة الأشراف : ١٢٨)

(علاج) هم ضرور پيدا كړي دي، مګر علاوه ديوي بيمارئ نه خلقو عرض اوكړو هغه كوم بيماري ده اي دالله رسوله نو ويي فرمائيل بوډاوالي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي ابن مسعود. ابوهريره. او ابوخزامه عن ابيه او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي
****

٣_ باب مَا جَاءَ مَا يُطْعَمُ الْمَرِيضُ
په مريض باندي څه خوړل پكار دي

٢٠٣٩_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ السَّائِبِ بْنِ بَرَكَةَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَخَذَ أَهْلَهُ الوَعَكُ أَمَرَ بِالحِسَاءِ فَصُنِعَ، ثُمَّ أَمَرَهُمْ فَحَسَوْا مِنْهُ، وَكَانَ يَقُولُ: "إِنَّهُ لَيَرْتُو فُؤَادَ الحَزِينِ، وَيَسْرُو عَنْ فُؤَادِ السَّقِيمِ كَمَا تَسْرُو إِحْدَاكُنَّ الوَسَخَ بِالمَاءِ عَنْ وَجْهِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي كله به درسول الله صلي الله عليه وسلم په كور كي په چا باندي تبه راغله نو د "حساء" تيارولو حكم به يي اوكړو او حساء به تيار كړي شو او بيا به رسول الله ددي په لږ لږ څكلو باندي حكم كولو نو هغوئ به ددينه څكل او فرمائيل به يي حساء غمژن زړه ته تقويت وركوي او دمريض دزړه نه تكليف داسي لري كوي لكه په تاسو كي چي څوك دخپل مخ نه داوبو په ذريعه خيري لري كوي
امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.
****

وَقَدْ رَوَاهُ ابْنُ المُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ الحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا بِهِ أَبُو إِسْحَاقَ الطَّالَقَانِيُّ، عَنِ ابْنِ المُبَارَكِ. ([2])

ترجمه : دارنګي ابن مبارك ديونس په سند عن الزهري عن عروه عن عائشه عن النبي صلي

---

[1] ـ سنن النسائي في الكبرى: الطب (٧٥٤٣) سنن ابن ماجه_ الطب ٥ (٣٤٤٥) (تحفة الأشراف : ١٧٩٩٠) مسند احمد (٦_٧٩)

[2] ـ صحيح البخاري_ الأطعمة ٢٤ (٥٤١٧) . والطب ٨ (٥٦٨٩، ٥٦٩٠) . صحيح مسلم_ السلام ٣٠ (٢٢١٦) (تحفة الأشراف: ١٦٥٣٩، ١٦٧٤٤)

الله عليه وسلم سره هم دا روايت نقل كړي دي
امام ترمذي وايي حديث بيان كړي دي مونږ ته په دي سند حسين بن محمد دابواسحاق طالقاني نه او هغه دابن مبارك نه

****

٤_ باب مَا جَاءَ لاَ تُكْرِهُوا مَرْضَاكُمْ عَلَى الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ

ارشاد نبوي دي خپل مريضان په خوړلو او څكلو مه مجبوروئ

٢٠٤٠_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ يُونُسَ بْنِ بُكَيْرٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ تُكْرِهُوا مَرْضَاكُمْ عَلَى الطَّعَامِ فَإِنَّ اللَّهَ يُطْعِمُهُمْ وَيَسْقِيهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

ترجمه : دعقبه بن عامر جهني رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو خپل مريضان په خوراك كولو مه مجبوروئ خكه چي الله تعالي دوئ ته خوراك او څښاك وررسوي.
امام ترمذي وايي : داحديث حسن غريب دي او مونږ يې صرف په همدي سند پيژنو

****

٥_ باب مَا جَاءَ فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ

دحبة السوداء (كلونجي) بيان

٢٠٤١_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، قَالاَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "عَلَيْكُمْ بِهَذِهِ الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ، فَإِنَّ فِيهَا شِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلاَّ السَّامَ". وَالسَّامُ: الْمَوْتُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ بُرَيْدَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ: هِيَ الشُّونِيزُ. ([2])

---

1 سنن ابن ماجه_ الطب ٣ (٣٤٤٣) (تحفة الأشراف: ٩٩٣٢)

2 صحيح البخاري_ الطب ٧ (٥٦٨٨)، صحيح مسلم_ السلام ٢٩ (٢٢١٥)، سنن ابن ماجه_ الطب ٦ (٣٤٤٧) (تحفة الأشراف: ١٥١٤٨)، و مسند احمد (٢_٢٤١، ٢٦١، ٢٦٨، ٣٤٣، ٣٨٩، ٤٢٣، ٤٦٨، ٤٨٤، ٥٠٤، ٥١٠، ٥٣٨)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو دا توره دانه (كلونجي) ضرور استعمال كړئ ځکه چي په دي کي د "سام" نه علاوه دهري بيمارئ دپاره شفاء موجود ده، او سام مرگ ته وئيلي شي

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دبريده، ابن عمر، او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او الحبة السوداء کلونجي ته وئيلي شي.

****

٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي شُرْبِ أَبْوَالِ الإِبِلِ

دعلاج په سلسله کي داوښا نودمتيازو څکلو بيان

٢٠٤٢ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ، وَثَابِتٌ، وَقَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ نَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ فَاجْتَوَوْهَا، فَبَعَثَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِبِلِ الصَّدَقَةِ، وَقَالَ: "اشْرَبُوا مِنْ أَلْبَانِهَا وَأَبْوَالِهَا." قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي کله چي دعرينه قبيلي څه کسان مديني ته راغلل نو په هغوئ دمديني اب او هوا راست رانغله نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دوئ دصدقي داوښانو سره (چراه گاهونو) ته اوليږل او ورته يي اوفرمائيل داوښانو پئ او متيازي به څکئ.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم روايت مروي دي.

****

٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِسُمٍّ أَوْ غَيْرِهِ

په زهرو يا په کوم بل څيز په خودکوشئ کولو دوعيد بيان

٢٠٤٣ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أُرَاهُ رَفَعَهُ، قَالَ: "مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ يَتَوَجَّأُ بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ، خَالِدًا مُخَلَّدًا أَبَدًا، وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِسُمٍّ، فَسُمُّهُ فِي يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ

---

[1] ـ انظر حديث رقم ٧٢

خَالِدًا مُخَلَّدًا أَبَدًا ". ([1])

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي په اوسپنه خپل خان مړ کړو دي به دقيامت په ورخ په داسي حال کي راشي چي همدغه څيز به ورسره وي او مخامخ کوي به يي خپلي خيتي ته او دجهنم په اور کي به هميشه وي. او چاچي خپل خان په زهرو مړ کړو نو دده په لاس کي به دقيامت په ورخ همدا زهر وي او دجهنم په اور کي به هميشه دي لره څکي.

****

٢٠٤٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنِ شُعْبَةَ، عَنْ الْأَعْمَشِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ يَتَوَجَّأُ بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ، خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، وَمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِسُمٍّ، فَسُمُّهُ فِي يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، وَمَنْ تَرَدَّى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ يَتَرَدَّى فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا " ([2])

ترجمه . او دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي داوسپني په اسلحه خپل خان مړ کړو يعني خودکوشي يي اوکړه نو دده په لاس کي به همدا اسلحه وي او مخامخ کوي به يي خپلي خيتي ته او دجهنم په اور کي به هميشه وي. او چاچي خپل خان په زهرو مړ کړو نو دده په لاس کي به دقيامت په ورخ همدا زهر وي او دجهنم په اور کي به هميشه دي لره څکي او څوك چي دغره نه ورغبنتلو او خپل خان يي مړ کړو نو دي به دجهنم اور ته ورغړي او هميشه هميشه به په دي کي پروت وي او همدا به څکي او چاچي دغر نه په رغړيدو خودکوشي اوکړه نو دي به هميشه جهنم ته ورغړي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، وَأَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ شُعْبَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

[1] - البخاري_ الطب ٥٦ (٥٧٧٨) . صحيح مسلم_ الإيمان ٤٧ (١٧٥) . سنن ابي داود_ الطب ١١ (٣٨٧٢) . سنن النسائي_ الجنائز ٦٨ (١٩٦٧) . سنن ابن ماجه_ الطب ١١ (٣٤٦٠) (تحفة الأشراف : ١٢٣٣٠) . و مسند احمد (٢_ ٢٥٤، ٢٧٨، ٤٨٨) . و سنن الدارمي_ الديات ١٠ (٢٤٠٧)

[2] - انظر ما قبله (تحفة الأشراف : ١٢٣٩٣)

صَحِيحٌ، وَهُوَ أَصَحُّ مِنَ الحَدِيثِ الأَوَّلِ. هَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الحَدِيثَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَى مُحَمَّدُ بْنُ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدٍ المَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ بِسُمٍّ، عُذِّبَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ" وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا، وَهَكَذَا رَوَاهُ أَبُو الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَذَا أَصَحُّ لِأَنَّ الرِّوَايَاتِ إِنَّمَا تَجِيءُ بِأَنَّ أَهْلَ التَّوْحِيدِ يُعَذَّبُونَ فِي النَّارِ، ثُمَّ يُخْرَجُونَ مِنْهَا، وَلَمْ يُذْكَرْ أَنَّهُمْ يُخَلَّدُونَ فِيهَا. (1)

ترجمه حديث بيان كړي دي مونږ ته محمد بن علاء دوكيع نه او هغه دابومعاويه نه نقل كړي دي او هغه داعمش نه او اعمش دابوصالح نه او هغه دابوهريره رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دشعبه دحديث پشان روايت نقل كړي دي چه داعمش نه يي نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي : داحديث دمخكني حديث نه زيات صحيح دي دا رنګي ډيرو راويانو داحديث دامعش په واسطه دابوصالح نه او هغه دابوهريره رضي الله عنه نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي چه فرمائيل يي څوك چه خان په زهرو مړ كړي هغه ته به دقيامت په ورځ په جهنم كي سزا وركولي شي مګر په دي روايت كي يي "خالدا مخلدا فيها ابدا" الفاظ نه دي نقل كړي يعني چه په دي كي به هميشه او دائمي وي، دارنګي دا روايت ابو الزناد داعرج نه دابوهريره په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي او دا سند په ټولو سندونو كي زيات صحيح دي ځكه چه تمام روايات په دي باندي شاهد دي چه اهل توحيد به په جهنم كي دخپلو اعمالو سزا څكي مګر بيا به ددينه ضرور راويستلي كيږي اوددي محدثينو په روايتونو كي ددي الفاظو ذكر نشته چه دوئ به په دي كي دهميشه دپاره موجود وي.

****

٢٠٤٥ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ المُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الدَّوَاءِ الخَبِيثِ". قَالَ

---

[1] ـ انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٢٣٦٦و١٢٥٢٦)

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، وَأَبُو نُعَيْمٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الحَارِثِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " رَخَّصَ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الحُمَةِ وَالنَّمْلَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا عِنْدِي أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ مُعَاوِيَةَ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ سُفْيَانَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ بُرَيْدَةَ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَجَابِرٍ، وَعَائِشَةَ، وَطَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ، وَعَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، وَأَبِي خُزَامَةَ، عَنْ أَبِيهِ. [1]

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دپوختې نه په راوتلي داني ددم اچولو او دبد نظر نه دبچ کيدو دپاره او دلړم چيچلو په صورت کي د دم اچولو اجازت ورکړي دي.

امام ترمذي وايي : دا روايت زما په نزد د معاويه بن هشام دحديث نه چي دسفيان نه يي نقل کوي زيات صحيح دي، او په دي باب کي دبريده، عمران بن حصين ،جابر، عائشه، طلق بن علي، او عمرو بن حزم او ابو خذامة عن ابيه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تخريج: الطب ۳۲ (۳۵۱۶) (تحفة الأشراف : ۹۳۱)

****

۲۰۵۷ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا رُقْيَةَ إِلَّا مِنْ عَيْنٍ أَوْ حُمَةٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى شُعْبَةُ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ حُصَيْنٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ بُرَيْدَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمِثْلِهِ. [2]

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دم اچول صرف دبد نظر او په تشي دراختلي داني په وجه جائز دي.

امام ترمذي وايي : شعبه دا حديث دحصين نه عن الشعبي عن بريدة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره ددي هم معني نقل کړي دي.

****

۱٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرُّقْيَةِ بِالمُعَوِّذَتَيْنِ

---

[1] ـ أبي داود ـ الطب ۱۷ (۳۸۸۴) ، وأخرجه البخاري في الطب ۱۷ (۵۷۰۵) موقوفا على عمران بن حصين رضي الله عنه (تحفة الأشراف : ۱۰۸۳۰) . وانظر مسند احمد (۳/ ۳۳٦، ۴۳۸، ۴۳٦)

[2] سنن النسائي ـ الاستعاذة ۳۷ (۵۳۹٦) . سنن ابن ماجه ـ الطب ۳۳ (۳۵۱۱)

استاذ طارق بن سويد ذكر كړي دي او شبابه خپل استاذ سويد بن طارق ذكر كړي دي.
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي.

****

٩ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي السَّعُوطِ وَغَيْرِهِ

هغه دوا وغيره كومه چې په پوزه كې اچولي شي

٢٠٤٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَدُّوَيْهِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ حَمَّادٍ الشُّعَيْثِيُّ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ خَيْرَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ: السَّعُوطُ، وَاللَّدُودُ، وَالحِجَامَةُ، وَالْمَشِيُّ". فَلَمَّا اشْتَكَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَدَّهُ أَصْحَابُهُ، فَلَمَّا فَرَغُوا، قَالَ: لُدُّوهُمْ، قَالَ: فَلُدُّوا كُلُّهُمْ غَيْرَ الْعَبَّاسِ". (١) تفرد به المؤلف

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په كومو څيزونو چې تاسو علاج كوئ بهتر په هغي كي سعوط (په پوزه كي داچولو والا دوائي) دي او لدود دي (يعني د خولي دطرفه استعماليدونكي دوائي) او حجامت يعني ښكر لګول او د دست جاري كولو والا دوا ده (جارپ، جولاب) كله چې رسول الله صلي الله عليه وسلم بيمار شو نو صحابه كرامو دهغه دخولي په يوه حصه كي دوائي واچوله كله چې بي دوائي واچوله نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دموجوده خلقو په خولو كي هم دوائي واچوئ ابن عباس وائي دعباس نه علاوه دباقي ټولو خلقو په خولو كي دوائي واچولي شوه.

****

٢٠٤٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ خَيْرَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ: اللَّدُودُ، وَالسَّعُوطُ، وَالحِجَامَةُ، وَالمَشِيُّ، وَخَيْرُ مَا اكْتَحَلْتُمْ بِهِ: الإِثْمِدُ، فَإِنَّهُ يَجْلُو البَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ". قَالَ: وَكَانَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُكْحُلَةٌ يَكْتَحِلُ بِهَا عِنْدَ النَّوْمِ ثَلَاثًا فِي كُلِّ عَيْنٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَهُوَ حَدِيثُ عَبَّادِ بْنِ مَنْصُورٍ. (٢)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په كومو څيزونو چي تاسو علاج كوئ بهتر په هغي كي سعوط (په پوزه كي داچولو والادواني) دي او لدود دي (يعني د خولي دطرفه استعماليدونكي دوائي) او حجامت يعني ښكر لګول او دسترګو دپاره په ټولو كي بهتر رانجه اثمد دي خكه چي دا نظر لره زياتوي او بانړه راشنه كوي او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوه سرمه داني وه ددينه به يي داوده كيدو وخت كي هره سترګه كي دري دري رانجه اچول

امام ترمذي وايي : دعباد بن منصور دا حديث حسن غريب دي.

****

١٠_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ التَّدَاوِي بِالْكَيِّ

په داغ وركولو دعلاج كولو دكراهت بيان

٢٠٤٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " نَهَى عَنِ الْكَيِّ ". قَالَ: فَابْتُلِينَا فَاكْتَوَيْنَا فَمَا أَفْلَحْنَا وَلَا أَنْجَحْنَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبدن داغلو نه منع فرمائيلي ده راوي وائي ليكن بيا هم مونږ چي په بيمارئ كي مبتلا شو نو بدن مو اوداغلو ليكن څه كاميابي او كامراني مو نصيب نشوه.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: " نُهِينَا عَنِ الْكَيِّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه دعمران بن حصين رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبدن داغلو نه منع فرمائيلي ده

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٨٠٣)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠٨٠٣)

امام ترمذي وايي په دي باب کي دابن مسعود او عقبه بن عامر او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. او دا حديث حسن صحيح دی

****

١١ـ باب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

دبدن د داغلو دجواز بيان

٢٠٥٠ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَوَى أَسْعَدَ بْنَ زُرَارَةَ مِنَ الشَّوْكَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُبَيٍّ، وَجَابِرٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم داسعد بن زراره بدن دسرو دانو په بيمارئ کي داغلي وو

امام ترمذي وايي . داحديث حسن غريب دي، او په دي باب کي دابئ بن کعب او جابر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

****

١٢ـ باب مَا جَاءَ فِي الْحِجَامَةِ

دښکر لګولو بيان

٢٠٥١ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، وَجَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْتَجِمُ فِي الْأَخْدَعَيْنِ وَالْكَاهِلِ، وَكَانَ يَحْتَجِمُ لِسَبْعَ عَشْرَةَ وَتِسْعَ عَشْرَةَ وَإِحْدَى وَعِشْرِينَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَمَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (٢)

ترجمه . دانس رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دمرئ په دوارو طرفونو په پټو رګونو او په اوګو باندي ښکر لګولو او دا عمل به يي دمياشتي په اولسم، نولسم، او يويشتم تاريخ باندي کولو.

امام ترمذي وايي . داحديث حسن غريب دي، او په دي باب کي دابن عباس او معقل بن يسار

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٢٩)

[2] سنن ابي داود ـ الطب ٣ (٣٨٦٠)، سنن ابن ماجه ـ الطب ٢١ (٣٤٨٣) (تحفة الأشراف: ١١٢٤)، و مسند احمد (٣ـ ١١٩)

رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

تشريح: د حجامت تحقيق په مخکي بابونو کي مفصل او مدلل تير شوی دی

****

٢٠٥٢_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بُدَيْلِ بْنِ قُرَيْشٍ الْيَامِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ هُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: حَدَّثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِهِ: "أَنَّهُ لَمْ يَمُرَّ عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا أَمَرُوهُ: أَنْ مُرْ أُمَّتَكَ بِالْحِجَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ. ([1])

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمعراج دشپي حال بيان کړو چي رسول الله دفرشتو دجماعت سره تير شو او هغوئ ورته دا حکم اوکړو چي خپل امت ته د ښکر لګولو حکم اوکړه

امام ترمذي وايي داحديث دابن مسعود په روايت حسن غريب دي

****

٢٠٥٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَال: سَمِعْتُ عِكْرِمَةَ، يَقُولُ: كَانَ لِابْنِ عَبَّاسٍ غِلْمَةٌ ثَلَاثَةٌ حَجَّامُونَ، فَكَانَ اثْنَانِ مِنْهُمْ يُغِلَّانِ عَلَيْهِ وَعَلَى أَهْلِهِ، وَوَاحِدٌ يَحْجُمُهُ وَيَحْجُمُ أَهْلَهُ، قَالَ: وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: قَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نِعْمَ الْعَبْدُ الْحَجَّامُ، يُذْهِبُ الدَّمَ وَيُخِفُّ الصُّلْبَ، وَيَجْلُو عَنِ الْبَصَرِ". وَقَالَ: وَقَالَ: "إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ عُرِجَ بِهِ مَا مَرَّ عَلَى مَلَإٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ إِلَّا قَالُوا: عَلَيْكَ بِالْحِجَامَةِ". وَقَالَ: "إِنَّ خَيْرَ مَا تَحْتَجِمُونَ فِيهِ: يَوْمَ سَبْعَ عَشْرَةَ، وَيَوْمَ تِسْعَ عَشْرَةَ، وَيَوْمَ إِحْدَى وَعِشْرِينَ". وَقَالَ: "إِنَّ خَيْرَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ: السَّعُوطُ، وَاللَّدُودُ، وَالْحِجَامَةُ، وَالْمَشِيُّ". وَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَدَّهُ الْعَبَّاسُ وَأَصْحَابُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ لَدَّنِي؟ فَكُلُّهُمْ أَمْسَكُوا، فَقَالَ: لَا يَبْقَى أَحَدٌ مِمَّنْ فِي الْبَيْتِ إِلَّا لُدَّ غَيْرَ عَمِّهِ الْعَبَّاسِ، قَالَ عَبْدٌ: قَالَ: النَّضْرُ اللَّدُودُ الْوَجُورُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبَّادِ بْنِ مَنْصُورٍ، وَفِي الْبَابِ عَنْ

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ٩٣٦٢)، وانظر: مسند احمد (١/ ٣٥٤)

عَائِشَةَ. [1]

ترجمه . دعكرمه بيان دي چي دابن عباس رضي الله عنهما سره دبنكر لگولو دپاره دري غلامان وو چي دوو په دوئ كي دده داهل او عيال دپاره غله حاصلوله او يو غلام به ابن عباس او دده اهل او عيال ته بنكر لگولو، دابن عباس بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بنكر لگونكي غلام څومره ښه وي فاسده وينه اوباسي او خيټه سپكوي او سترگي صفاكوي رسول الله چي دمعراج په شپه دفرشتو په كوم جماعت تير شو هغوئ ورته دا ضرور ونيلي وو چي بنكر اولگوله رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ستاسو په بنكر لگولو كي دټولو نه بهتري ورځي دمياشتي اولسم، نولسم، او يويشتم تاريخ دي او بيا يي مزيد اوفرمائيل په علاجونو كي بهتر علاج چي تاسو يي كوئ په پوزه كي اچولووالا دوائي ده او دخولي په يو طرف كي اچولو والا دوائي ده بنكر لگول جائز دي او علاج دي درسول الله صلي الله عليه وسلم په خوله كي عباس او صحابه كرامو دوائي اچولي ده رسول الله ورنه تپوس اوكړو زما په خوله كي چا دوائي اچولي ده نو ټول خاموش شول رسول الله اوفرمائيل په كور كي چي دي څوك هم وي دهغوئ په خولو كي دي هم دوائي واچولي شي مگر علاوه دعباس نه عبد راوئي وائي دنضر قول دي چي د "اللدود" نه مراد "وجوه" دي يعني په حلق كي اچولو والا دوائي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف دعباد بن منصور په سند پيژنو، او په دي باب كي دعائشه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دي.

****

١٣ـ باب مَا جَاءَ فِي التَّدَاوِي بِالْحِنَّاءِ

په نكريزو دعلاج كولو بيان

٢٠٥٤ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ خَالِدٍ الْخَيَّاطُ، حَدَّثَنَا فَائِدٌ مَوْلًى لِآلِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ جَدَّتِهِ سَلْمَى، وَكَانَتْ تَخْدُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "مَا كَانَ يَكُونُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرْحَةٌ وَلَا نَكْبَةٌ إِلَّا أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَضَعَ عَلَيْهَا الْحِنَّاءَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ فَائِدٍ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ فَائِدٍ، وَقَالَ: عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ جَدَّتِهِ سَلْمَى، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَلِيٍّ

---

1 سنن ابن ماجه_ الطب ٢٠ (٣٤٧٨) (تحفة الأشراف : ٦١٣٨)

أَصَحُّ، وَيُقَالُ: سُلْمَى. (١)

ترجمه د سلمي (چاچي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم خدمت كړي وو) رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به كله په توره يا چاكو يا كانړي يا ازغي باندي زخمي شو نو ماته به يي په زخم دنكريزو اچولو حكم ضرور كولو

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي او دا مونږ صرف دفائد په روايت پيژنو بعضي محدثينو ددي حديث دفائد نه په نقل كولو كي د عن علي بن عبيدالله عن جدته سلمي په خاي باندي عن عبيدالله ابن علي عن جدته سلمي بيان كړي دي مگر عبيدالله بن علي زيات صحيح دي او سُلمي ور ته هم ونيلي شي.

تشريح: په نكريزو علاج كولو كي ډير فوائد دي مثلا:

د نكريزو په مزاج كي برودت دى، اود زخم د حرارت اود ويني د بندولو دپاره مفيد دي، دارنگي د خارښ دپاره هم فائده وركوي، اود خپو د گوتو مينځ كي خارښ هم ختموي، اود خپو د تلو د گرمانش دپاره هم نافع دي سوزش ختموي.

نورو احاديثو د زخم باره كي دا اوراد منقول دي.

دعائشه رضي الله عنها نه روايت دى نبي عليه السلام ته به چي چا دخه تكليف شكايت وكړو، يا به په بدن چرته دانه يا زخم وو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به خپلي گوتى مباركى سره داسى چل وكړو دحديث مبارك راوي سفيان ابن عيينه خپله دشهادت گوته په زمكه كيخوده بيايي اوچته كړه (د رسول الله صلي الله عليه وسلم طريقه يى اوخودله) چي هغوئ به داسي اوكړه بيابه يى دا دعا اوغوښتله: ((بِسمِ اللهِ، تُرْبَةُ أَرْضِنَا، بِرِيقَةِ بَعْضِنَا، يُشْفَى بِهِ سَقِيمُنَا، بِإِذْنِ رَبِّنَا)) دالله تعالي دپاك نوم په بركت زمونږ دزمكى خاوره زمونږ دخنى كسانو دخولى په لاړه لړل دي زمونږ له پاره شفاشي زمونږ درب په حكم.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ فَائِدٍ مَوْلَى عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ مَوْلَاهُ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ جَدَّتِهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ.

ترجمه په دي سند هم دماقبل هم معني روايت مروي دي.

---

1 - أخرجه نحوه بهذا السند: سنن ابي داود_ الطب ٣ (٣٨٥٨)، سنن ابن ماجه_ الطب ٢٩ (٣٥٠٢) (تحفة الأشراف: ١٥٨٩٣)، ومسند احمد (٦_ ٤٦٢)

****

١٤_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الرُّقْيَةِ

د دم اچولو او پوکولو د کراهت بیان

٢٠٥٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَقَّارِ بْنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنِ اكْتَوَى أَوِ اسْتَرْقَى فَقَدْ بَرِئَ مِنَ التَّوَكُّلِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه دمغیره بن شعبه رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چاچي بدن اوداغلو او یایي په چا باندي ځان دم کړو نو دي د توکل کونکو نه پاتي نشو (د ډلي نه اووتلو)

ترمذي واني داحدیث حسن صحیح دي ، او په دي باب کي د ابن مسعود ، ابن عباس، او عمران بن حصین رضي الله عنهم نه هم احادیث وارد دي.

****

١٥_ باب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

ددم اچولو داجازت بیان

٢٠٥٦_حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْخُزَاعِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " رَخَّصَ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْحُمَةِ وَالْعَيْنِ وَالنَّمْلَةِ ". ([2])

ترجمه دانس رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم دپوختنې نه په راوتلي داني ددم اچولو او دبد نظر نه دبچ کیدو دپاره او دلړم چیچلو په صورت کي د دم اچولو اجازت ورکړي دي

****

[1] ـ سنن ابن ماجه_ الطب ٣٢ (٣٤٨٩) (تحفة الأشراف : ١١٥١٨)

[2] الطب ٣٢ (٣٥١٦) (تحفة الأشراف : ٩٢١)

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او دا دواړه روايتونه ابن عيينه هم نقل کړي دي بعضي راويانو عن ابي خزامة عن ابيه سند ذکر کړي دي او بعضو دابن ابي خزامه عن ابيه په سند نقل کړي دي او دا روايت دماقبل په نسبت زيات صحيح دي او ددي حديث نه علاوه دابوخزامه عن ابيه په سند بل حديث مونږ ته نه دي معلوم

****

۲۲_ باب مَا جَاءَ فِي الْكَمْأَةِ وَالْعَجْوَةِ

دخريړي او عجوه کجورو بيان

۲۰۶۶_حَدَّثَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ أَبِي السَّفَرِ أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْهَمْدَانِيُّ وَهُوَ ابْنُ أَبِي السَّفَرِ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْعَجْوَةُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَفِيهَا شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ، وَالْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ، وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَجَابِرٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَهُوَ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سَعِيدِ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو. (1)

ترجمه . د سعيد بن زيد رضي الله عنه نه روايت دی وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي عجوه کهجوره جنتي ميوه اود زهرو دپاره علاج دی او (خريړی) دمن يو قسم دی او ددی اوبه دخوږو سترګو علاج دی.

امام ترمذي وايي او په دي باب کي دسعيد بن زيد، ابوسعيد، او جابر رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي او دا حديث ددي سند په اعتبار په سند دمحمد بن عمروحسن غريب دي، او دا روايت مونږ صرف عن سعيد بن عامر عن محمد بن عمرو په سند سره پيژنو

لغات : الکماة يو بوټي دي چي په باراني ورځو کي پخپله راټوکيږي او اوبه يي دسترګو دامراضو دپاره مفيدي وي

تشريح : "الکماة من المن" يعني خريړی دالله په نعمتونو کي يو نعمت دی، دا هغه څيز دی کوم چي الله تعالي خپلو بندګانو ته په طور داحسان ورکړی دی ددي دحاصلولو دپاره نه زمکي کنستلو ته ضرورت وايي او نه کرلو او اوبه کولو ته، دا پخپله دزمکي نه راپيدا کيږي او

---

1 سنن ابن ماجه_ الطب ۸ (۳۴۵۵) (تحفة الأشراف : ۱۵۰۲٤) و مسند احمد (۲_۳۰۱، ۳۰۵، ۳۲۵، ۳۵٦، ٤٢١، ٤٨٨، ٤٩٠

په معوذتين (سورة الناس سورة الفلق) بانندي د دمولو بيان

٢٠٥٨_حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُونُسَ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ مَالِكٍ الْمُزَنِيُّ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنَ الْجَانِّ وَعَيْنِ الإِنْسَانِ حَتَّى نَزَلَتِ الْمُعَوِّذَتَانِ، فَلَمَّا نَزَلَتَا أَخَذَ بِهِمَا وَتَرَكَ مَا سِوَاهُمَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دجناتو او دانسانانو دبد نظر نه پناه غوښتله تردي پوري چي معوذتين (سورة الفلق او سورة الناس) نازل شول هر کله چي دا سورتونه نازل شول نو رسول الله په دي باندي دمول ا اختيار کړل او ددينه يي علاوه پريخودل.

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي او په دي باب کي دانس رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

تشريح: د معوذتينو (الفلق ، الناس) سورتونو په احاديثو کي ډير فضائل راغلي دي په يو روايت کي راځي چي يو ځل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل نن شپه داسي ايتونه نازل شوي دي چي ددي برابر نور چرته نه دي نازل شوي او هغه څپل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس دي.

اول دي سورة اخلاص اووائي څکه چي دا په منزله دحمد او ثناء دی او بیا دي معوذتين اووائي څکه چي دا په منزله ددعا دي او دکومي دعا نه مخکي چي حمد او ثناء وي هغه زر قبليږي ددي دواړو صورتونو دري دري پيري ونيل پکار دي علماء وائي چي ددعا په ادابو کي دا هم دي چي سرى دي دعا دري دري پيري وائي.

دا دري سورتونه دومره جامع دي چي دتمامو دعاګانو او دتمامي شيې دضررونو دختمولو دپاره کافي دي بعضي علماء وائي چي دکافي کيدو نه مراد قيام الليل دي.

****

١٧_ باب مَا جَاءَ فِي الرُّقْيَةِ مِنَ الْعَيْنِ

دبد نظر دلګيدو په صورت کي د دم اچولو بيان

٢٠٥٩_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عُرْوَةَ وَهُوَ أَبُو حَاتِمِ بْنُ

---

١ سنن ابن ماجه_ الطب ٣٢ (٣٥١٠) . (والنسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ١٥٧٥٨)

عَامِرٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ الزُّرَقِيِّ، أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ عُمَيْسٍ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ وَلَدَ جَعْفَرٍ تُسْرِعُ إِلَيْهِمُ الْعَيْنُ، أَفَأَسْتَرْقِي لَهُمْ. فَقَالَ: "نَعَمْ، فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ لَسَبَقَتْهُ الْعَيْنُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَبُرَيْدَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه . د عبيد بن رفاعه ذرقي رضي الله عنه نه مروي دي اسماء بنت عميس رضي الله عنها عرض اوکړو اي دالله رسوله دجعفر طيار رضي الله عنه په لونړو ډير زر نظر لګي ايا زه په دوی باندي دم اچولي شم (رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو) او دا خکه که کوم څيز د تقدير نه مخکي کيدلي شوي نو بد نظر به ورباندي ضرور مخکي شوي وو

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او دا حديث د عن ايوب عن عمرو بن دينار عن عروة بن عامر عن عبيدبن رفاعه عن اسماء بنت عميس عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سرد هم مروي دي، او په دي باب کي دعمران بن حصين او بريده رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي

****

حَدَّثَنَا بِذَلِكَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا. [2]

ترجمه : په دي سند هم دماقبل هم معني روايت مروي دي

****

١٨_ باب

دبد نظر په وجه د دم اچولو متعلق يوبل باب

٢٠٦٠_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، وَيَعْلَى، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَوِّذُ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ، يَقُولُ: "أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ، مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ

---

[1] _ سنن ابن ماجه_ الطب ٣٢ (٣٥١٠) . (والنسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ١٥٧٥٨)

[2] _ سنن ابن ماجه_ الطب ٣٢ (٣٥١٠) . (والنسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ١٥٧٥٨)

كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ، وَيَقُولُ: هَكَذَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يُعَوِّذُ إِسْحَاقَ وَإِسْمَاعِيلَ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ". ([1])

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم به حسن او حسين رضي الله عنهما په دي كلماتو " أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ. مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ. وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ." زه ستاسو دپاره دالله تعالي دكاملو كلماتو په بركت دهر شيطان او هلاكونكي زهريله حشراتو دضرر نه او دبد نظر دضرر نه پناه غواړم او رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمائيل داسماعيل او اسحاق عليهما السلام دپاره به هم ابراهيم عليه السلام پناهي غوښتله.

****

حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : سفيان هم دمنصور په دي سند دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي : داروايت حسن صحيح دي.

****

١٩ــ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْعَيْنَ حَقٌّ وَالْغَسْلُ لَهَا

دبد نظر دلګيدو دحق كيدو او ددي دپاره دغسل كولو بيان

٢٠٦١ــ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ كَثِيرٍ أَبُو غَسَّانَ العَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ المُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي حَيَّةُ بْنُ حَابِسٍ التَّمِيمِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا شَيْءَ فِي الهَامِ وَالعَيْنُ حَقٌّ". ([3])

ترجمه : دحابس تميمي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي دا فرمان اوريدلي دي د"هام" متعلق دخلقو دعقيدي هيڅ حقيقت نشته او دبد نظر اثر بو

---

[1] ـ صحيح البخاري ـ احاديث الأنبياء ١٠ (٣٣٧١) ، سنن ابي داود ـ السنة ٢٢ (٤٧٣٧) ، سنن ابن ماجه ـ الطب ٣٦ (٣٥٢٥)

[2] ـ صحيح البخاري ـ احاديث الأنبياء ١٠ (٣٣٧١) ، سنن ابي داود ـ السنة ٢٢ (٤٧٣٧) ، سنن ابن ماجه ـ الطب ٣٦ (٣٥٢٥)

[3] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٢٤٣) ، وانظر مسند احمد (٤/٦٧)

حقيقي او ربښتوني څيز دي

تشريح: دهام باره کي دشارحينو دوه اقوال دي اول قول دادي اهل عرب به چي کله د کومي شپي دمرغۍ متعلق بدفالي نيوله ديته به هام ونيلي کيدل، دويم قول دادي داهل عرب دا عقيده وه چي دمړي هډوکي يا دهغه روح دمرغۍ په صورت کي په کورونو کي ګرځي او مختلفي مطالبي کوي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ددي هيڅ حقيقت نشته او دا ضلالت او ګمراهي ده او يوه باطله عقيده ده (تعليمات محمدي)

****

٢٠٦٢_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ خِرَاشٍ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِسْحَاقَ الْحَضْرَمِيُّ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، عَنْ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ كَانَ شَيْءٌ سَابَقَ الْقَدَرَ لَسَبَقَتْهُ الْعَيْنُ، وَإِذَا اسْتُغْسِلْتُمْ فَاغْسِلُوا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَحَدِيثُ حَيَّةَ بْنِ حَابِسٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى شَيْبَانُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ حَيَّةَ بْنِ حَابِسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَحَرْبُ بْنُ شَدَّادٍ، لَا يَذْكُرَانِ فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که چري کوم څيز په تقدير مخکي کيدلي شولي نو بد نظر به ورباندي ضرور سبقت کړي وو او کله چي خلق تاسو ته دغسل کولو اوواني نو غسل اوکړئ.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح غريب دي، دحيه بن حابس روايت کوم چي ماقبل کي مذکور دي غريب دي، او شيبان دا روايت عن يحي بن ابي کثير عن حيه بن حابس عن ابيه عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل کړي دي، او په دي باب کي دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي. او علي بن مبارك او حرب بن شداد پخپل سند کي د ابو هريره واسطه نده ذکر کړي.

****

٢٠_ بَاب مَا جَاءَ فِي أَخْذِ الأَجْرِ عَلَى التَّعْوِيذِ

په تعويذ او دم اچولو باندي داجرت اخستلو بيان

٢٠٦٣_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ إِيَاسٍ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي

---

1 - صحيح مسلم_السلام ١٦ (٢١٨٨) . (تحفة الأشراف : ٥٤١٦)

سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَرِيَّةٍ فَنَزَلْنَا بِقَوْمٍ، فَسَأَلْنَاهُمُ الْقِرَى فَلَمْ يَقْرُونَا، فَلُدِغَ سَيِّدُهُمْ فَأَتَوْنَا، فَقَالُوا: هَلْ فِيكُمْ مَنْ يَرْقِي مِنَ الْعَقْرَبِ، قُلْتُ: نَعَمْ أَنَا، وَلَكِنْ لَا أَرْقِيهِ حَتَّى تُعْطُونَا غَنَمًا، قَالَ: فَإِنَّا نُعْطِيكُمْ ثَلَاثِينَ شَاةً، فَقَبِلْنَا، فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ الْحَمْدُ لِلَّهِ سَبْعَ مَرَّاتٍ فَبَرَأَ، وَقَبَضْنَا الْغَنَمَ، قَالَ: فَعَرَضَ فِي أَنْفُسِنَا مِنْهَا شَيْءٌ، فَقُلْنَا: لَا تَعْجَلُوا حَتَّى تَأْتُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَيْهِ ذَكَرْتُ لَهُ الَّذِي صَنَعْتُ، قَالَ: " وَمَا عَلِمْتَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ، اقْبِضُوا الْغَنَمَ وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ بِسَهْمٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو نَضْرَةَ اسْمُهُ الْمُنْذِرُ بْنُ مَالِكِ بْنِ قُطَعَةَ، وَرَخَّصَ الشَّافِعِيُّ لِلْمُعَلِّمِ أَنْ يَأْخُذَ عَلَى تَعْلِيمِ الْقُرْآنِ أَجْرًا، وَيَرَى لَهُ أَنْ يَشْتَرِطَ عَلَى ذَلِكَ، وَاحْتَجَّ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَجَعْفَرُ بْنُ إِيَاسٍ هُوَ جَعْفَرُ بْنُ أَبِي وَحْشِيَّةَ، وَهُوَ أَبُو بِشْرٍ، وَرَوَى شُعْبَةُ، وَأَبُو عَوَانَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([1])

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ په يوه سريه کي اوليږلو او ديو قوم خوا کي مو پړاؤ واچولو او دهغوئ نه مو دضيافت طلب اوکړو ليکن هغوئ مونږ ته ضيافت رانکړو او په همدي دوران کي ددوئ سردار لړم اوچيچلو چنانچي هغوئ مونږ ته راغلل او وئيل يي ايا په تاسو کي داسي څوك شته چي په لړم چيچلي بنده باندي دم واچوي ما ورته اووئيل هو زه يم ليکن هغه وخته پوري دم نه اچوم تر څو چي تاسو ماته څه چيلئ نه وي راکړي هغوئ اووئيل مونږ به تاته ديرش چيلئ درکړو چنانچي مونږ دم اچول قبول کړل او اوه پيري مي سورة فاتحه اولوستله او په دي باندي مي دم کړو نو هغه صحتياب شو او مونږ ورنه چيلئ واخستله زما په زړه کي دچيلو متعلق څه خيالات راغلل لهذا مونږ اووئيل جلتي مه کوئ تردي چي مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورسيږو هر کله چي مونږ درسول الله په خدمت کي حاضر شو نو ما چي څه کړي وو تول مي ورته بيان کړل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاته څنګه معلومه وه چي سورة فاتحه دم دي؟ چيلئ واخلئ او دخان سره زما دپاره هم حصه مقرر کړئ.

امام ترمذي وايي : دا حديث حسن دي، شعبه او ابو عوانه او هشام او بعضي نورو راويانو دا

---

[1] ـ صحيح البخاري ـ الإجارة ١٦ (٢٢٧٦)، وفضائل القرآن ٩ (٥٠٠٧)، والطب ٣٣ (٥٧٣٦)، و٣٩ (٥٧٤٩)، صحيح مسلم ـ السلام ٢٣ (٢٢٠١)، سنن ابي داود ـ الطب ١٩ (٣٩٠٠)، سنن ابن ماجه ـ التجارات ٧ (٢١٥٦) (تحفة الأشراف : ٤٣٠٧)، و مسند احمد (٣ـ ٤٤)

حديث عن ابي المتوكل عن ابي سعيد عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره بيان کړي دي،
او دقران په تعليم د معلم دپاره اجرت اخستل امام شافعي ددي حديث په بنياد جائز کړي دي
او هغوئ دمعلم دپاره داجرت شرط مقررول درست ګڼري

****

۲۰٦٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو بِشْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْمُتَوَكِّلِ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرُّوا بِحَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ، فَلَمْ يَقْرُوهُمْ وَلَمْ يُضَيِّفُوهُمْ، فَاشْتَكَى سَيِّدُهُمْ فَأَتَوْنَا، فَقَالُوا: هَلْ عِنْدَكُمْ دَوَاءٌ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، وَلَكِنْ لَمْ تَقْرُونَا وَلَمْ تُضَيِّفُونَا، فَلَا نَفْعَلُ حَتَّى تَجْعَلُوا لَنَا جُعْلًا، فَجَعَلُوا عَلَى ذَلِكَ قَطِيعًا مِنَ الْغَنَمِ، قَالَ: فَجَعَلَ رَجُلٌ مِنَّا يَقْرَأُ عَلَيْهِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَبَرَأَ، فَلَمَّا أَتَيْنَا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ قَالَ: "وَمَا يُدْرِيكَ أَنَّهَا رُقْيَةٌ"، وَلَمْ يَذْكُرْ نَهْيًا مِنْهُ، وَقَالَ: "كُلُوا وَاضْرِبُوا لِي مَعَكُمْ بِسَهْمٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ الأَعْمَشِ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ إِيَاسٍ، وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي وَحْشِيَّةَ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَجَعْفَرُ بْنُ إِيَاسٍ هُوَ جَعْفَرُ بْنُ أَبِي وَحْشِيَّةَ. [1]

ترجمه : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي بعضي صحابه کرام په کومو کي چي زه هم شامل وم، دعربو يوي قبيلي سره تيريدل او هغوئ دوئ نه ميلمستيا ورنکړه په دي دوران کي دهغوئ سردار لړم اوچيچلو چنانچي هغوئ مونږ ته راغلل او ونيل يي ايا ستاسو سره دلړم چيچلي دپاره څه علاج شته مونږ اوونيل هو، ليکن تاسو خو مونږ ته ميلمستيا رانکړه نو په دي وجه مونږ دهغه وخته پوري علاج نه کوو تر څو پوري چي تاسو زمونږ دپاره اجرت مقرر کړي نه وي نو هغوئ په اجرت کي مونږ ته دچيلو يوه رمه مقرر کړه په مونږ کي يو کس وربانذي سورة الفاتحه اولوستله او دم يي کړو نو هغه صحت مند شو بيا چي کله مونږ درسول الله په خدمت کي حاضر شو او واقعه مو بيان کړه نو رسول الله اوفرمائيل تاته څنګه معلومه شوه چي سورة فاتحه يو دم دي؟ ابوسعيد خدري رضي الله عنه په دي باندي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه هيڅ قسم انکار ذکر نکړو رسول الله اوفرمائيل خورئ او زما دپاره هم په دي کي حصه مقرر کړئ

امام ترمذي وايي داحديث صحيح دي او دا حديث داعمش دروايت نه کوم چي دجعفر بن

---

[1] ـ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ۴۲۴۹)

اياس په واسطه مروي دي زيات صحيح دي، او بعضي راويانو دا حديث عن ابي بشر جعفر بن ابي وحشيه عن ابي المتوكل عن ابي سعيد په سند سره نقل کړي دي

****

٢١_ باب مَا جَاءَ فِي الرُّقَى وَالأَدْوِيَةِ

د دم اچولو په ذريعه او د دوا ورکولو په ذريعه د علاج کولو بيان

٢٠٦٥_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي خُزَامَةَ. عَنْ أَبِيهِ. قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ رُقًى نَسْتَرْقِيهَا وَدَوَاءً نَتَدَاوَى بِهِ وَتُقَاةً نَتَّقِيهَا: هَلْ تَرُدُّ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ شَيْئًا؟ قَالَ: "هِيَ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : ابوخزامه دخپل پلار نه روايت نقل کوي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو اي دالله رسوله په کوم دم چي مونږ په مريضانو چپ کوو او په کومه دوا چي مونږ دمريضانو علاج کوو او کوم دبچاؤ څيزونه چي مونږ استعمالوو (ددوئ باره کي دي څه خيال دي) ايا دا دالله تعالي په تقدير کي څه تبديلي راوستلي شي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا ټول څيزونه هم دالله تعالي دليکلي تقدير يوه حصه ده

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.

****

حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ ابْنِ أَبِي خُزَامَةَ. عَنْ أَبِيهِ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ كِلْتَا الرِّوَايَتَيْنِ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ: عَنْ أَبِي خُزَامَةَ. عَنْ أَبِيهِ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ. عَنِ ابْنِ أَبِي خُزَامَةَ. عَنْ أَبِيهِ. وَقَدْ رَوَى غَيْرُ ابْنِ عُيَيْنَةَ هَذَا الحَدِيثَ. عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي خُزَامَةَ. عَنْ أَبِيهِ. وَهَذَا أَصَحُّ. وَلَا نَعْرِفُ لِأَبِي خُزَامَةَ. عَنْ أَبِيهِ. غَيْرَ هَذَا الحَدِيثِ. [2]

ترجمه : ابوخزامه هم دخپل پلار په سند دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه_ الطب ١ (٣٤٣٧) (تحفة الأشراف : ١١٨٩٨)

[2] ـ سنن ابن ماجه_ الطب ١ (٣٤٣٧) (تحفة الأشراف : ١١٨٩٨)

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دتبي او دردونو په صورت كي مونږ ته ددي كلماتو تعليم راكولو " بِسْمِ اللّهِ الْكَبِيرِ. أَعُوذُ بِاللّهِ الْعَظِيمِ مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَعَّارٍ. وَمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ "

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي او مونږ يي صرف دابراهيم بن اسماعيل بن ابي حبيبه په سند پيژنو او ابراهيم په باب دحديث كي ضعيف دي

****

٢٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْغِيلَةِ

د رضاعت په ورځو كي دښځي سره د جماع كولو بيان

٢٠٧٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ إِسْحَاق، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ ابْنَةِ وَهْبٍ وَهِيَ جُدَامَةُ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " أَرَدْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيَالِ، فَإِذَا فَارِسُ وَالرُّومُ يَفْعَلُونَ وَلَا يَقْتُلُونَ أَوْلَادَهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنْ جُدَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ مَالِكٌ: وَالْغِيَالُ أَنْ يَطَأَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ وَهِيَ تُرْضِعُ. [1]

ترجمه دجدامه بنت وهب رضي الله عنها بيان دي فرمايي چي در سول الله صلي الله عليه وسلم نه مي دا فرمان اوريدلي دى : اراده مي كړي وه چي د رضاعت په ورځو كي خلق د جماع كولو نه منع كړم خو بيا ما وليدل چي د روم او فارس خلق داسي كوي او ددوى اولاد ته هيڅ قسم نقصان نه رسيږي

امام ترمذي وايي په دي باب كي د اسماء بنت يزيد نه هم روايت وارد دى، او دا حديث حسن صحيح دى . دارنګي دا روايت مالك د ابو الاسود نه او هغه د عروه نه او عروه د عائشه او هغي د جدامه نه او هغي د رسول الله نه هم دا روايت نقل كړى دى، امام مالك وايي غيله دي ته ويلي شي چي يو كس د رضاعت په ورځو د خپلي ښځي سره جماع وكړي

---

[1] ـ صحيح مسلم ـ النكاح ٢٤ (١٤٤٢)، سنن ابي داود ـ الطب ١٦ (٣٨٨٢) . سنن النسائي ـ النكاح ٥٤ (٣٣٢٦) . سنن ابن ماجه ـ النكاح ٦ (٢٠١١) (تحفة الأشراف : ١٥٧٨٦) . والموطأ ـ الرضاع ٣ (١٦) . و مسند احمد (٦ ـ ٣٦١، ٤٣٤) . وسنن الدارمي ـ النكاح ٣٣ (٢٢٦٣)

خاصكر دباران په ورځو كښې.
بعضي علماء وائي د "من" نه مراد هغه من او سلوي دي كوم چي دموسي عليه السلام په قوم نازل شوي دي مطلب به دا وي لكه څرنګه چي دموسي عليه السلام په قوم من او سلوي نازل شوي وو دكوم دپاره چي هيڅ قسم مشقت او محنت كولو ته ضرورت نه وو نو دا رنګي خرړي هم بغير دتخم كرلو او بغير دمحنت كولو نه دزمكي نه راخيژي
"وماؤها شفاء للعين" يعني دخرړي اوبه دسترګو دمرضونو دپاره شفاء ده، علامه نووي وائي بعضي علماء صرف دخرړي اوبه په سترګو كې اچول مفيد ګڼړي او بعضي علماء وائي چي په دي كې بل كوم څيز ګډول پكار دي خو بهتره داده چي ددي داستعمال په وخت كې دكوم تجربه كار طبيب سره مشوره اوكړى شي.

دابولاعورسعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل مناقب

نوم سعيد كنيه ابو الاعور دپلار نوم زيد دمور نوم يي فاطمه بنت لعجه وو، داسلام راوړو واقعه يي داده چي دى دحق په تلاش كې يو يهودي عالم ته ورغلو او ورته يي اووئيل كه چري ته دالله په غضب ګرفتاريدل غواړي نو زمونږ مذهب حاضر دى هغه ورته اووئيل ددين حنيف اتباع اوكړه همدا رنګي يو بل يهودي عالم هم اووئيل بيا دى ددينه پس دخپلي ښځي سره په اسلام كې داخل شو دده ښځه په عمر رضي الله عنه حقيقي خور وه چي نوم يي فاطمه وو.
دغزوه بدر نه علاوه يي په تمامو غزواتو كې خپل شجاعت خودلى دى سعيد رضي الله عنه ددنيوي جاه او جلال نه مستغني وو صرف دعقيق مقام په جائيداد يي ګذاره كوله په اخره كې ورته عثمان رضي الله عنه په عراق كې څه جائيداد وركړى وو، دى په عشره مبشره كې هم شامل وو چاته چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په دنيا كې دجنت زيرى وركړى وو دجاهليت په زمانه كې چي به په عربو كې چا خپله لور ژوندي خښوله نو ده به دهغي په بچ كولو كې مدد كولو او چي كله به كوم ظالم دخپل بي ګناه بچي په مرئ چاړه راښكله نو ده به يي كفالت كولو او دخوانيدو نه پس به يي دهغه پلار ته وئيل اوس كه دي زړه غواړي نو دخان سره يي بوځه او يايي زما سره پريږده دهجرت په پنځوسم يا يوپنځوسم كال دمديني په عقيق مقام كې دجمعي په ورځ داويا كالو په عمر كې ددنيا نه رخصت شو سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ورته غسل وركړو او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ورباندي جنازه اوكړه او په مدينه كې يي خاورو ته اوسپارلو ۴۸روايات ورنه منقول دي چي دوه په دي كې متفق عليه دي او نور په نورو كتابونو كې مذكور دي.

****

۲۰۶۷ـحَدَّثَنَاأَبُو كُرَيْبٍ. حَدَّثَنَاعُمَرُ بْنُ عُبَيْدٍ الطَّنَافِسِيُّ. عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ. ح

وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه د سعيد بن زيد رضي الله عنه نه روايت دى وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي (خرېرى) دمن يو قسم دى او ددى اوبه دخوږو سترګو علاج دى
امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٠٦٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ نَاسًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوا: الْكَمْأَةُ جُدَرِيُّ الْأَرْضِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ، وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ، وَالْعَجْوَةُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَهِيَ شِفَاءٌ مِنَ السُّمِّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (2)

ترجمه : د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى وائي چي بعضي صحابه كرامو ووئيل خرېرى د زمكي پيداوار دى نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل (خرېرى) دمن يو قسم دى او ددى اوبه دخوږو سترګو علاج دى. او : عجوه كهجوره جنتي ميوه اود زهرو دپاره علاج دى.
امام ترمذي وايي : داحديث حسن دي.

****

٢٠٦٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذٌ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: حُدِّثْتُ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: "أَخَذْتُ ثَلَاثَةَ أَكْمُؤٍ، أَوْ خَمْسًا أَوْ سَبْعًا فَعَصَرْتُهُنَّ فَجَعَلْتُ مَاءَهُنَّ فِي قَارُورَةٍ فَكَحَلْتُ بِهِ جَارِيَةً لِي فَبَرَأَتْ". (3)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما دري يا پنځه يا اوه خرېرى

---

1 - سنن ابن ماجه_ الطب ٨ (٣٣٥٥) (تحفة الأشراف : ١٥٠٢٤) و مسند احمد (٢_٣٠١، ٣٠٥، ٣٢٥، ٣٥٦، ٤٢١، ٤٨٨، ٤٩٠.

(511

2 - سنن ابن ماجه_ الطب ٨ (٣٣٥٥) (تحفة الأشراف : ١٥٠٢٤) و مسند احمد (٢_٣٠١، ٣٠٥، ٣٢٥، ٣٥٦، ٤٢١، ٤٨٨، ٤٩٠.

راواخستل او په يوه کپړه کي مي نچوړ کړل او بيا مي ددي رس په يوه شيشه کي اوساتلو او دا مي ديوي جينۍ په سترګه کي واچول نو هغه الله تعالى صحت يابه کړه

****

۲۰۷۰_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنِ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: حُدِّثْتُ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: "الشُّونِيزُ دَوَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلَّا السَّامَ". قَالَ قَتَادَةُ: يَأْخُذُ كُلَّ يَوْمٍ إِحْدَى وَعِشْرِينَ حَبَّةً فَيَجْعَلُهُنَّ فِي خِرْقَةٍ فَلْيَنْقَعْهُ فَيَتَسَعَّطُ بِهِ كُلَّ يَوْمٍ فِي مَنْخَرِهِ الْأَيْمَنِ قَطْرَتَيْنِ، وَفِي الْأَيْسَرِ قَطْرَةً، وَالثَّانِي: فِي الْأَيْسَرِ قَطْرَتَيْنِ، وَفِي الْأَيْمَنِ قَطْرَةً، وَالثَّالِثُ: فِي الْأَيْمَنِ قَطْرَتَيْنِ، وَفِي الْأَيْسَرِ قَطْرَةً. (1)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي کلونجي دمرګ نه علاوه دهري بيمارۍ علاج دي. دقتاده بيان دي چي ما به هره ورځ يويشت داني کلونجي راخستله او په يوه کپړه کي به مي واچول او بيا به مي اوسولول او دا اوبه مي په لوښو کي محفوظ اوساتلي او بيا مي په ښۍ پوزه کي اوله ورځ دوه څاڅکي اوکړل او په ګسه پوزه کي مي يو څاڅکي اوکړو، او په دويمه ورځ مي په ګسه پوزه کي دوه څاڅکي اوکړل او په ښي طرف پوزه کي مي يو څاڅکي اوکړو او په دريمه ورځ مي په ښۍ پوزه کي دوه څاڅکي اوکړل او په ګسه پوزه کي مي يو څاڅکي اوکړو

****

۲۳_ باب مَا جَاءَ فِي أَجْرِ الْكَاهِنِ

دکاهن دپاره په کهانت داجرت اخستلو بيان

۲۰۷۱_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَمَهْرِ الْبَغِيِّ، وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 _ تفرد به المؤلف

2 _ البخاري في البيوع ١١٣ (٢٢٣٧)، والاجارة ٢٠ (٢٢٨٢)، والطلاق ٥١ (٥٣٤٦) والطب ٤٦ (٥٧٦١). مسلم في المساقاة ٩ (البيوع ٣٠)، (١٥٦٧). ابي داود في البيوع ٤١ (٣٤٢٨)، و ٦٥ (٣٤٨١). النسائي في الصيد والذبائح ١٥ (٤٢٩٧). البيوع ٩١ (٤٦٧٠). ابن ماجه في التجارات ٩ (٢١٥٩). وموطا امام مالک في البيوع ٢٩ (٦٨). مسند احمد (١ في ١١٨، ١٢٠، ١٢٠، ١٢١) ويأتي عند المؤلف في البيوع ٤٦ (١٢٧٦)، والطب ٢٣ (٢٠٧١)

ترجمه : دابومسعود انصاري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپي دقيمت اخستلو يعني ددي دخرڅولو نه او دزناكاري ښځي دامدنۍ نه او دكاهن دخوړونه منع فرمائيلي ده

امام ترمذي واني دابومسعود انصاري حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي درافع بن خديج، ابو جحيفه، ابوهريره، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

لغات الثمن معني دمبيعي مالي بدل ، قيمت، الثمانة او الثمين قيمتي څيز

البغي معني ظلم، خيانت، ګناه، جنايت، ډير باران

تشريح : په ښځو امدن حاصلولوباندي اود نجوميانو په اجرت باندي اود سپو په ساتلو باندي په دي حديث كي بحث شوي دی.

مهر البغي ديته ويلي شي چي زناكاره ښځه په زنا باندي اجرت واخلي پدي دتمامو علماؤ اتفاق دي چي داقسم اجرت حرام قطعي دي

حلوان الكاهن، يعني دكاهن شيريني، كاهنانو ته چي به كوم خلق راتلل او هغیٔ به ورته راتلونكي خبرونه بيانول نو خلقو به ورته دشيرينۍ په نوم اجرت وركولو ، داهم حرام دي

بعضي علماؤ دحديث مذكوره ظاهر ته په كتو سره د دهر قسم سپي قيمت او خريدو فروخت حرام ګرځولي دي ، مګر امام ابوحنيفه او امام محمد او بعضي نورو علماؤ دا حديث په دي حمل كړي دي چي ددينه غير معلم اوغير ښكاري سپي مراد دي، او كه چا په سپي محنت وكړو اوښكار يې ورته وخودلو

يا ددي حديث تعلق دهغه وخت سره دي كله چي رسول الله دسپو دوژلو حكم كړي وو او بيا وروسته ددي حكم منسوخ شو

.فرشتي داسي كورته نه ورځي چي سپي يا تصوير پكي وي

دابوطلحه رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كوم كور كي چي تصوير ياسپی وي درحمت فرشتی نه ورننوزي.(بخاري مسلم)

داسي كورونو ته فرشتي نه ورځي په كومو كي چي سپی يا تصوير موجود وي، دا حكم د هغه سپي دی دكوم چي ساتل حرام دي او دكومو سپو دساتلو چي اجازت شته هغه په دي كي داخل نه دي، مثلا ښكاري سپی يا دڅاروو دحفاظت دپاره دداسي سپو ساتل دفرشتو دپاره ركاوټ نه جوړيږي

او دتصوير نه مراد هغه تصوير دی دكوم ساتل او استعمالول چي حرام دي او كه داسي تصوير وي چي بالكل وړوكی وي يا دغير ذي روح څيز تصوير وي نو دداسي تصوير موجودګي دفرشتو دپاره ركاوټ نه دی، ليكن بعضي علماء واني چي دا حكم عام دی هر قسم سپي او

تصوير ته شامل دی برابره خبره ده چي په کورکي يي دساتلو اجازت وي او که نه دفرشتونه هغه فرشتي مراد دي کومي چي دانسانانو داعمالو ليکونکي او حفاظت کونکي نه دي ځکه چي عمل ليکونکي فرشتي خو په هر حال کي دانسان سره موجودي دي داسي کورونو ته فرشتي نه ورځي په کومو کي چي سپی يا تصوير موجود وي، دا حکم د هغه سپي دی دکوم چي ساتل حرام دي او دکومو سپو دساتلو چي اجازت شته هغه په دي کي داخل نه دي، مثلا ښکاري سپی يا دڅاروو دحفاظت دپاره دداسي سپو ساتل دفرشتو دپاره رکاوټ نه جوړيږي

دسپي په وجه جبريل نه راتلو

دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چي جبرائيل عليه السلام رسول الله صلي الله عليه وسلم سره دراتلو وعده کړی وه بيايی راتلو کي دومره تاخير اوکړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته انتظار مشکل شو بهر ته اووتو نو جبرائيل عليه السلام ورسره ملاقات اوکړو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته دتاخير ګيله اوکړه نو هغه اووئيل مونږ داسی کور ته نه ورځو کوم کي چي سپي يا تصوير وي.

ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دښکار يا فصل دحفاظت نه علاوه سپی اوساتلو هره ورځ به يی دنيکو دثواب نه دوه قيراطه اجر کميږي او په يو روايت يو قيراط راغلی دی

دقيراط تحقيق

قيراط يو وزن دی کوم چي يو دانګ شپږ رتئ او دبعضو په نزد ديو دينار ۲/۴ حصه ده او دبعضو په قول ددينار لسمه حصي دنيمي برابر وي او يو دانګ دشپږ رتو برابر وي يا ديو درهم دشپږي حصي برابر وي او په بعضو روايتونو کي دقيراط وزن داحد دغر برابر خودلی شوی دی خلاصه داده چي دضرورت نه بغير سپي ساتلو په وجه انسان دخپلو نيکو عملونو ديوي ډيري لويي حصي نه محروميږي

په بعضي وجوهاتو سپي ساتل جائز دي

ابو هريره رضي اله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي سپی اوساتلو دهغه د نيك عمل داجر نه به هره ورځ دوه قيراطه کميږي ليکن که د فصل يا څاروو دحفاظت دپاره وي نو خير دی

او دامام مسلم يو روايت په دی الفاظو دی چاچي سپی اوساتلو که دښکار سپی يا دپټي او يا دڅاروو دحفاظت سپی نه وي نو دهغه داجر نه هره ورځ دوه قيراطه کميږي.

سوال دسپي ساتلو په وجه په يو روايت کي ديو قيراط ثواب دکميدو ذکر دی او په بل روايت

كي د دوه قيراطه نيكئ كميدو ذكر دى په دواړو روايتونو كي تعارض دى.
جواب بعضي علماء وائي بعضي سپي ډيرخطرناك په تكليف رسونكي دي نو دهغي په ساتلو سره دوه قيراطه ثواب كميږي او كوم سپي چي كم ضرر والا وي دهغوئ په ساتلو يو قيراط ثواب كميږي
دويم جواب مقدس مقام مثلا مكه ، مدينه، وغيره ښارونو كي بغير دضرورته سپي ساتلو په وجه دوه قيراطه ثواب كميږي او ددينه په علاوه ښارونو كي يو قيراط ثواب كميږي.
دريم جواب په ښار كي دوه قيراطه كميږي او په كلو كي يو قيراط كميږي
څلورم: په ابتداء كي ديو قيراط وعيد وو ليكن كله چي خلقوسپي ساتل زيات كړل نو په زجر كي زيادت راغى او ددوه قيراطه ثواب كميدو حكم جاري شو اوس به په دوه قيراطه ثواب كميدو والاحديث باندي عمل وي.
دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درحمت فرشتي داسي قافلي سره نه ملګري كيږي كومه كي چي سپى وي يا جرس وي.
"لاتصحب الملائكة" يعني فرشتي ملګرتيا نه كوي، ددينه هغه فرشتي مراد دي كومي چي داعمالو ليكونكو او حفاظت كونكو نه علاوه وي.
"جرس" يعني ټلئ ددي په وجه هم فرشتي لري تختي خكه چي دا د ناقوس سره مشابه دى كوم چي دغيرمسلمو علامه ده يا داچي ددي اواز په شريعت كي بد ګڼړلى شوى دى، په يو روايت كي راغي چي يو هلك عائشه رضي الله عنها ته راغلو او داسي څيز ورسره وو چي شرنګا يي كوله ام المومنين ورته اوفرمائيل داسي څيز زما خواته مه راوړه كوم چي فرشتو لره لري شړونكى وي

د ابو مسعود عبدالله بن بسر رضي الله عنه مناقب

نوم عبدالله دپلار نوم بسر او د مازن قبيلي سره يي تعلق وو او كنيه يي ابو مسعود ده، او انصاري يي لقب دى، دده مور او پلار او ورور چي علي دى او دده خور صحابه وو تولو ته رسول الله صلي الله عليه وسلم دملاقات شرف حاصل شوى دى رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوئ دپاره دعمر د اوږدوالي دعا غوښتلي ده ۵۰ روايات ورنه منقول دي چي په بخاري او مسلم كي يو يو ذكر شوي دي
اصحاب سير ليكلي دي چي دده مرګ ناڅاپي داودس په وخت كي واقع شو دده دپاره نبي كريم صلي الله عليه وسلم دعمر داوږدوالي دپاره دعا غوښتلي وه نو خكه يي عمر ډير اوږد وو چي په شام ياحمص كښ په ۸۸هجري كي وفات شو او عمر يي ۹۴ كلونو ته رسيدو او دبعضو په نزد دده عمر سل كاله وو (تهذيب التهذيب).

****

٢٤_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ التَّعْلِيقِ

دتعويذ يا بند وغيره دزوړندولو بيان

٢٠٧٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَدُّوَيْهِ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عِيسَى أَخِيهِ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُكَيْمٍ أَبِي مَعْبَدٍ الْجُهَنِيِّ أَعُودُهُ وَبِهِ حُمْرَةٌ، فَقُلْنَا: أَلَا تُعَلِّقُ شَيْئًا، قَالَ: الْمَوْتُ أَقْرَبُ مِنْ ذَلِكَ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ إِلَيْهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُكَيْمٍ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُكَيْمٍ لَمْ يَسْمَعْ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: كَتَبَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[1]

ترجمه : دعيسي بن عبدالرحمن بيان دي فرمائي چي زه دعبدالله بن عكيم ابو معبد جهني بيمار پرسۍ دپاره هغه ته ورغلم او په هغه باندي "حمرة" مرض وو مونږ ورته اوونيل كوم تعويذ وغيره به دي اچولي وو؟ هغه اوونيل مرګ ددينه زيات نزدي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي كوم څيز په غاړه كي واچولو نو دي به هم هغه ته اوسپارلي شي

امام ترمذي وايي . دعبدالله بن عكيم حديث مونږ صرف دمحمد بن عبدالرحمن بن ابي ليلي په سند پيژنو او عبدالله بن عكيم درسول الله صلي الله عليه وسلم نه احاديث نه دي اوريدلي ليكن درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي موجود وو هغه به وئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم دا بيان مونږ ته ليكلي راليږلي دي

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ.[2]

ترجمه يحي بن سعيد بن دابن ابي ليلي نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وايي : په دي باب كي دعقبه بن عامر رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف

[2] تفرد به المؤلف

****

٢٥_ باب مَا جَاءَ فِي تَبْرِيدِ الْحُمَّى بِالْمَاءِ

په اوبو باندي دتبي يخولو بيان

٢٠٧٣_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبَايَةَ بْنِ رِفَاعَةَ، عَنْ جَدِّهِ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْحُمَّى فَوْرٌ مِنَ النَّارِ فَأَبْرِدُوهَا بِالْمَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَامْرَأَةِ الزُّبَيْرِ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ.[1]

ترجمه . درافع بن خديج رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تبه دجهنم دګرمۍ نه ده لهذا په اوبو يي يخه کړئ.

امام ترمذي وايي : په دي باب کي داسماء بنت ابي بکر، ابن عمر، او دزبير ښځه عائشه، ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٠٧٤_حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَأَبْرِدُوهَا بِالْمَاءِ".[2]

ترجمه دعائشه رضي الله عنها نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تبه دبراس دجهنم نه ده پس سړه کړئ دي لره په اوبو باندي.

لغات : الحمي تبه جمع يي حميات ده، فيح دګرم والي شدت ، ابراد دباب افعال نه معني يخول، برد يبرد بردا يي مجرد دي.

تشريح: "په اوبو باندي دتبي علاج کول" علماء وائي چي دهر قسم تبي دپاره اوبه علاج نه

---

[1] صحيح البخاري_ بدء الخلق ١٠ (٣٢٦٢) . والطب ٢٨ (٥٧٢٦) . صحيح مسلم_ السلام ٢٦ (٢٢١٢) . سنن ابن ماجه_ الطب ١٩ (٣٤٧٣) (تحفة الأشراف : ٣٥٦٢) . و مسند احمد (٣_ ٤٦٣) . و (٣_ ١٤١) . وسنن الدارمي_ الرقاق ٥٥ (٢٨١١)

[2] _ صحيح البخاري_ الطب ٢٨ (٥٧٢٥) . صحيح مسلم_ السلام ٢٦ (٢٢١٠) . سنن ابن ماجه_ الطب ١٩ (٣٤٧١) (تحفة الأشراف . ١٧٠٥٠) . مسند احمد (٦_ ٥٠. ٩١)

دی بلکه صرف دهغه تبي دپاره دی دکومي تعلق چي دصفراء سره وي کومه چي به عموما په اهل هجاز راتله او بعضي تبه داسي وي چي په هغي کې داوبو استعمال نقصان ورکوي بلکه دهلاکت سبب گرځي په هغي کې اسانه طريقه داده چي دکوم ماهر معالج په مشوره عمل اوکړی شي
علامه خطابي واني په يو کس باندي تبه راغله او تبه داسي وه په کومه کې چي داوبو استعمال بد وي هغه چي کله اوبه استعمال کړي نو دروغيدو په ځاي باندي مړ شو.

****

حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاق، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي حَدِيثِ أَسْمَاءَ كَلَامٌ أَكْثَرُ مِنْ هَذَا، وَكِلَا الْحَدِيثَيْنِ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : په دي سند هم اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنها نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي.
امام ترمذي وايي : داسماء په حديث كي ددينه زيات تفصيل دي او دا دواړه احاديث صحيح دي.

****

٢٦ـ بَاب كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْحُمَّى وَمِنَ الأَوْجَاعِ كُلِّهَا

رسول الله به د تبې اودردو نوډپاره دا كلمات ونيل

٢٠٧٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ إِسْمَاعِيل بْنِ أَبِي حَبِيبَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ مِنَ الْحُمَّى وَمِنَ الأَوْجَاعِ كُلِّهَا أَنْ يَقُولَ: " بِسْمِ اللَّهِ الْكَبِيرِ، أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ مِنْ شَرِّ كُلِّ عِرْقٍ نَعَّارٍ، وَمِنْ شَرِّ حَرِّ النَّارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ إِسْمَاعِيل بْنِ أَبِي حَبِيبَةَ، وَإِبْرَاهِيمُ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، وَيُرْوَى: عِرْقٌ يَعَّارٌ. ([2])

---

[1] ـ صحيح البخاري ـ الطب ٢٨ (٥٧٢٣). صحيح مسلم ـ السلام ٢٦ (٢٢١١). سنن ابن ماجه ـ الطب ١٩ (٣٤٧٢). (تحفة الأشراف: ١٥٧٤٣)

[2] سنن ابن ماجه ـ الطب ٣٧ (٣٥٢٦) (تحفة الأشراف: ٦٠٧٦)

يَأْتِي بِالْمَاءِ فِي تُرْسِهِ، وَفَاطِمَةُ تَغْسِلُ عَنْهُ الدَّمَ، وَأُحْرِقَ لَهُ حَصِيرٌ، فَحَشَا بِهِ جُرْحَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابوحازم بيان دي چي دسهل بن سعد رضي الله عنه نه تپوس اوشو او ما اوريدل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دزخم علاج په کوم څيز کولو؟ هغه اوونيل زما نه علاوه په دي څيز پوهيدونکي اوس باقي نه دي پاتي شوي علي رضي الله عنه پخپل ډال کي اوبه راوړلي او فاطمه رضي الله عنها درسول الله دزخم نه وينه وينځله او ما يو ټاټ سوزولو او بيا ددي دايري نه دهغوی زخم ډک کړي شو.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.

****

۲۰۸٦ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمُوَقَّرِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّمَا مَثَلُ الْمَرِيضِ إِذَا بَرَأَ وَصَحَّ كَالْبَرَدَةِ تَقَعُ مِنَ السَّمَاءِ فِي صَفَائِهَا وَلَوْنِهَا ". (2)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي مريض تندرست شي نو په شفافيت او رنګ کي دده مثال دهغه ګلۍ پشان وي کومه چي داسمان نه پريوځي.

****

۳۵ـ باب

دعيادت متعلق يوبل باب

۲۰۸۷ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ خَالِدٍ السَّكُونِيُّ، عَنْ مُوسَى بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا دَخَلْتُمْ عَلَى الْمَرِيضِ فَنَفِّسُوا لَهُ فِي أَجَلِهِ فَإِنَّ ذَلِكَ لَا يَرُدُّ شَيْئًا وَيُطَيِّبُ نَفْسَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى:

---

1 ـ صحيح البخاري ـ الوضوء ٧٢ (٢٤٣)، والجهاد ٨٠ (٢٩٠٣)، و ٨٥ (٢٩١١)، و ١٦٣ (٣٠٣٧)، والمغازي ٢٤ (٤٠٧٥)، والنكاح ١٢٢ (٥٢٤٨)، والطب ٢٧ (٥٧٢٢)، صحيح مسلم ـ الجهاد ٣٧ (١٧٩٠)، سنن ابن ماجه ـ الطب ١٥ (٣٤٦٤) (تحفة الأشراف: ٤٦٨٨)

2 تفرد به المؤلف

****

۲۰۷۷_حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ أَحْمَدَ. حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ. حَدَّثَنِي مَالِكٌ. عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ نَوْفَلٍ. عَنْ عُرْوَةَ. عَنْ عَائِشَةَ. عَنْ جُدَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ الْأَسَدِيَّةِ. أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَنْهَى عَنِ الْغِيلَةِ حَتَّى ذَكَرْتُ أَنَّ الرُّومَ وَفَارِسَ يَصْنَعُونَ ذَلِكَ فَلَا يَضُرُّ أَوْلَادَهُمْ ". قَالَ مَالِكٌ: وَالْغِيلَةُ. أَنْ يَمَسَّ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ وَهِيَ تُرْضِعُ. قَالَ عِيسَى بْنُ أَحْمَدَ: وَحَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ عِيسَى. حَدَّثَنِي مَالِكٌ. عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ. نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. (۱)

ترجمه: دجدامه بنت وهب رضي الله عنها بيان دي فرمايي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي دا فرمان اوريدلي دى: اراده مي کړي وه چي د رضاعت په ورځو کي خلق د جماع کولو نه منع کړم خو بيا ما وليدل چي د روم او فارس خلق داسي کوي او ددوى اولاد ته هيڅ قسم نقصان نه رسيږي.

امام ترمذي وايي: امام مالک وايي غيله دي ته ويلي شي چي يو کس د رضاعت په ورځو د خپلي ښځي سره جماع وکړي، عيسي بن احمد د اسحاق بن عيسي نه اوهغه دمالک نه اوهغه د ابو الاسود نه هم ددي هم معني روايت نقل کړى دى، او دا حديث حسن غريب صحيح دى

****

۲۸_ بَابُ مَا جَاءَ فِي دَوَاءِ ذَاتِ الْجَنْبِ

د ذات الجنب(نمونيا) بيمارئ دعلاج بيان

۲۰۷۸_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ. حَدَّثَنِي أَبِي. عَنْ قَتَادَةَ. عَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ. عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ " يَنْعَتُ الزَّيْتَ وَالْوَرْسَ مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ ". قَالَ قَتَادَةُ: وَيَلُدُّهُ مِنَ الْجَانِبِ الَّذِي يَشْتَكِيهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو عَبْدِ اللَّهِ اسْمُهُ مَيْمُونٌ هُوَ شَيْخٌ بَصْرِيٌّ. (۲)

---

[1] _ صحيح مسلم_ النكاح ۲۲ (۱۴۴۲) . سنن ابي داود_ الطب ۱۶ (۳۸۸۲) . سنن النسائي_ النكاح ۵۴ (۳۳۲۶) . سنن ابن ماجه_ النكاح ٦ (۲۰۱۱) (تحفة الأشراف : ۱۵۷۸٦) . والمؤطاء_ الرضاع ۳ (۱٦) . و مسند احمد (٦_ ۳٦۱، ۴۳۴) . وسنن الدارمي_ النكاح ۳۳ (۲۲٦۳)

[2] _ سنن ابن ماجه_ الطب ۱۷ (۳۴٦۷) (تحفة الأشراف : ۳٦۸۴)

ترجمه دزيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي فرماني چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به په ذات الجنب بيماري كي خلقو ته دزيتون تيل او ورس تجويز كولو قتاده وائي چي دا په خوله كي اچولي شي او دخولي په كومه حصه كي چي مرض وي په هغي كي اچولي شي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او دابو عبدالله نوم ميمون دي او ميمون يو بصري شيخ دي

دزيد بن ارقم رضي الله عنه مناقب

نوم زيد كنيه ابوعمر قبيله خزرج په ماشوموالي كې يتيم شوى وو او پرورش يې خپل تره عبدالله بن رواحه رضي الله عنه اوكړو او همدا دزيد په اسلام كې دداخليدو سبب اوګرځيدو دماشوموالي په وجه په عزواتو كې شريك شوى نه وو او شركت يې په غزوه خندق كې كړى وو دى پخپله وائي ما په اولس غزواتو كې شركت كړى دى، په دربار رسالت كې ډير مقرب وو كله چي به بيمار شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به يې عيادت له راتلو يو خل يې په سترګه درد راغلى وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دده دعيادت دپاره راغى دجوړيدو نه پس يې ورنه تپوس اوكړو كه دا مرض اوس هم باقي پاتي شوى وى نو څه به دي كول زيد اووئيل چي صبر او داجر اميد به مي كولو رسول الله ورته اوفرمائيل كه داسي دي كولى نو دالله تعالي په وراندي به بي ګناه ګرځيدلى وى (مسند احمد).
په ۶۸هجري كې په كوفه كې وفات شوى دى او دا دمختار بن ابي عبيد ثقفي زمانه وه دمروياتو شمير يې ۹۰دى مزيد حالات يې ابن سعد په طبقات كې ذكر كړي دي.

****

٢٠٧٩ـحَدَّثَنَا رَجَاءُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعُذْرِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي رَزِينٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، حَدَّثَنَا مَيْمُونٌ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ، قَالَ: " أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَتَدَاوَى مِنْ ذَاتِ الْجَنْبِ بِالْقُسْطِ الْبَحْرِيِّ وَالزَّيْتِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مَيْمُونٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، وَقَدْ رَوَى عَنْ مَيْمُونٍ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ هَذَا الْحَدِيثَ، وَذَاتُ الْجَنْبِ يَعْنِي السِّلَّ. [1]

ترجمه . دزيد بن ارقم رضي الله عنه بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته حكم اوكړو چي د ذات الجنب بيماري علاج په "قسط بحري" او زيتون تيلو باندي اوكړو
امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب صحيح دي او مونږ يې صرف دميمون په روايت

[1] ـ سنن ابن ماجه ـ الطب ١٧(٣٤٦٧) (تحفة الأشراف : ٣١٨٢)

پیژنو کوم چي هغه دزید بن ارقم نه نقل کوي او دمیمون نه په یو څو سندونو داحدیث مروي دي او ذات الجنب سل مرض ته وايي (T B)

****

۲۹_ باب

دماقبل باب متعلق یو بل باب

۲۰۸۰_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُصَيْفَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبٍ السُّلَمِيِّ، أَنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَخْبَرَهُ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ، أَنَّهُ قَالَ: أَتَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبِي وَجَعٌ قَدْ كَانَ يُهْلِكُنِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "امْسَحْ بِيَمِينِكَ سَبْعَ مَرَّاتٍ، وَقُلْ: أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ وَسُلْطَانِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ". قَالَ: فَفَعَلْتُ، فَأَذْهَبَ اللَّهُ مَا كَانَ بِي، فَلَمْ أَزَلْ آمُرُ بِهِ أَهْلِي، وَغَيْرَهُمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دعثمان بن ابو العاص رضي الله عنه بیان دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم زما دعیادت دپاره مونږ ته تشریف راوړو او په دغه وخت کي په ما داسي درد وو چي زه یي هلاکت ته نژدي کړي وم رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل پخپل ښي لاس باندي درد والاځاي اوه پیري مسح کړه او بیا دا دعا اووایه " أَعُوذُ بِعِزَّةِ اللَّهِ وَقُدْرَتِهِ وَسُلْطَانِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ " یعني زه دالله تعالي دعزت او قدرت کامله او طاقت په وسیله دهغه تکلیف دشر نه پناه غواړم کوم چي ماته رسیدلي دي، راوي وائي ما همداسي اوکړل او الله تعالي ماته شفا راکړه چنانچي زه همیشه خپلي کورنۍ او نورو خلقو ته ددي دعا ویلو مشوره ورکوم.

امام ترمذي وايي داحدیث حسن صحیح دي.

دابوعبدالله عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه مناقب

نوم عثمان کنیه ابو عبدالله نسب نامه یي داسي ده عثمان بن العاص بن بشر بن دهبان بن عبدالله بن ابان، الخ

عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه دطائف دوفد سره دغزوه طائف نه پس راغی (سیرة ابن هشام) عثمان اګر چي تازه مسلمان شوی وو لیکن په ده کي رسول الله دتعلیم استعداد

[1] _ صحیح مسلم_ السلام ۳۳ (۲۲۰۲) . سنن ابي داود_ الطب ۱۹ (۳۸۹۱) . سنن ابن ماجه_ الطب ۳۶ (۳۵۲۲) (تحفة الأشراف: ۹۷۷۴) . والموطأ_ العین ۴ (۹) . ومسند احمد (۴/۲۱، ۲۱۷)

اوليدو نو دبني ثقيف امير يي مقرر كړو
او ورته يي اوفرمائيل چي دخلقو حالت ته به ګوري هغه شان مونځ به ورکوي په مونځ کې به دکمزورو او بوډاګانو او ماشومانو او کاروباري خلقو خيال ساتي
په بصره کې داوسيدو نه پس خلقو اوغوښتل چي عثمان بن العاص دبصري امير مقرر کړي ليکن عمر رضي الله عنه اوونيل چي زه يي دطائف نه ځنګه راوغوارم حال دادى چي هلته رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله مقرر کړى دى خلقو اوونيل چي که داسي کيدى شي چي هلته څوك خپل قائم مقام پريږدي يا خپل ورور هلته پريږدي بهر حال هلته يي مستقل اوسيدل اختيار کړل ابوبکررضي الله عنه دده په باره کې فرمائيلي دي ثقة في الاسلام او عالم بالقران دحسن بصري قول دى چي ماهيڅرته دعثمان بن ابوالعاص رضي الله عنه نه افضل او بهتر څوك ليدلى نه دى غرض دا چي دامير معاويه په زمانه کې ۵۵هجري کال کې وفات شو او دمرواياتو شمير يي ۲۹دى.

****

۳۰_ باب مَا جَاءَ فِي السَّنَا

دسنابيان

۲۰۸۱_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الحَمِيدِ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنِي عُتْبَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلَهَا: "بِمَ تَسْتَمْشِينَ؟" قَالَتْ: بِالشُّبْرُمِ، قَالَ: "حَارٌّ جَارٌّ" قَالَتْ: ثُمَّ اسْتَمْشَيْتُ بِالسَّنَا. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ أَنَّ شَيْئًا كَانَ فِيهِ شِفَاءٌ مِنَ المَوْتِ لَكَانَ فِي السَّنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. يَعْنِي: دَوَاءَ المَشِيِّ. (1)

ترجمه : داسماء بنت عميس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم رانه تپوس اوکړو چي د دستونو (اسهال) دپاره تاسو څه استعمالوئ؟ ما ورته اوونيل شبرم رسول الله اوفرمائيل دا خو ګرم او بهيونکي دي، اسماء وائي چي بيا ما دسنا مسهل استعمالول نورسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل که چري په کوم څيز کي دمرګ نه شفا وي نو په سنا کي به وه
امام ترمذي وايي : داحديث حسن غريب دي او دسنا نه مراد دست مرض دى يا ددست مرض دوا ده

---

1 - سنن ابن ماجه_ الطب ۱۲ (۳۴۶۱) (تحفة الأشراف : ۱۵۷۵۹)

****

۳۱_ باب مَا جَاءَ فِي التَّدَاوِي بِالْعَسَلِ

په شهد دعلاج كولو بيان

۲۰۸۲_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْمُتَوَكِّلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ أَخِي اسْتَطْلَقَ بَطْنُهُ، فَقَالَ: اسْقِهِ عَسَلًا، فَسَقَاهُ، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ سَقَيْتُهُ عَسَلًا فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اسْقِهِ عَسَلًا"، فَسَقَاهُ ثُمَّ جَاءَهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ سَقَيْتُهُ عَسَلًا فَلَمْ يَزِدْهُ إِلَّا اسْتِطْلَاقًا، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَدَقَ اللَّهُ وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ، اسْقِهِ عَسَلًا، فَسَقَاهُ عَسَلًا فَبَرَأَ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يو كس راغلو او عرض يي اوكړو چي زما په ورور دستونه لګيدلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل شهد پري اوڅكوئ چنانچي هغه ورته شهد وركړل او بيا راغي او عرض يي اوكړو چنانچي ما ورباندي شهد اوڅكول ليكن په دست كي يي نوره اضافه اوشوه رسول الله اوفرمائيل شهد ورباندي اوڅكوئ نو دوئ ورباندي نور شهد اوڅكل نو بيا راغلو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ما ورباندي شهد اوڅكل ليكن په دستونو كي يي نوره اضافه هم اوشوه دابوسعيد خدري بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي پخپل قول كي رښتوني دي او ستا د ورور خيټه دروغژنه ده شهد ورباندي اوڅكوئ چنانچي په دي خل يي ورباندي شهد اوڅكل نو هغه تندرست شو (يعني دست بند شو).
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

۳۲_ باب

دسابقه باب متعلق يوبل باب

---

[1] صحيح البخاري_ الطب ۴ (۵٦۸۴)، و ۲۴ (۵۷۱٦)، صحيح مسلم_ السلام ۳۱ (۲۲۱۷)، (تحفة الأشراف: ۴۲۵۱)، مسند احمد (۳_۱۹)

۲۰۸۳_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خَالِدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ الْمِنْهَالَ بْنَ عَمْرٍو يُحَدِّثُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: " مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَعُودُ مَرِيضًا لَمْ يَحْضُرْ أَجَلُهُ فَيَقُولُ سَبْعَ مَرَّاتٍ: أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ، إِلَّا عُوفِيَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْمِنْهَالِ بْنِ عَمْرٍو. [1]

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې ديو داسي مريض عيادت اوکړي چې دمرګ وخت يې نه وي رارسيدلي او اوه پيري دا دعاء اووائي "اسأل الله العظيم رب العرش العظيم ان يشفيك" يعني زه دعظمت والاالله تعالي او عرش دمالك نه دعا غوارم چې تاته صحت درکړي ددي په ونيلو سره به ضرور الله تعالي مريض ته صحت ورکوي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن غريب دي او مونږ يې صرف د منهال بن عمرو په روايت پيژنو

****

۳۳_باب

دسابقه باب متعلق يو بل باب

۲۰۸٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الأَشْقَرُ الرِّبَاطِيُّ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا مَرْزُوقٌ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ الشَّامِيُّ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ، أَخْبَرَنَا ثَوْبَانُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا أَصَابَ أَحَدَكُمُ الْحُمَّى فَإِنَّ الْحُمَّى قِطْعَةٌ مِنَ النَّارِ فَلْيُطْفِئْهَا عَنْهُ بِالْمَاءِ فَلْيَسْتَنْقِعْ نَهْرًا جَارِيًا لِيَسْتَقْبِلْ جَرْيَةَ الْمَاءِ، فَيَقُولُ: بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ وَصَدِّقْ رَسُولَكَ، بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ فَلْيَغْتَمِسْ فِيهِ ثَلَاثَ غَمَسَاتٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي ثَلَاثٍ فَخَمْسٌ، وَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي خَمْسٍ فَسَبْعٌ، فَإِنْ لَمْ يَبْرَأْ فِي سَبْعٍ، فَتِسْعٌ فَإِنَّهَا لَا تَكَادُ تُجَاوِزُ تِسْعًا بِإِذْنِ اللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [2]

---

1 سنن ابي داود الجنائز ۱۲(۳۱۰٦) (تحفة الأشراف ٥٦۲۸) . ومسند احمد (۱_۲۳۹)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۲۰۸٤)

ترجمه دثوبان رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي په تاسو كي چا باندي تبه راشي او تبه خو داور يوه تكړه ده نو هغه دي دي لره په اوبو باندي مړه كړي يو روان نهر ته دي كوز شي او دكوم طرف نه چي اوبه راځي هغه طرف ته دي مخ كړي او دا دعا دي اووائي " بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ وَصَدِّقْ رَسُولَكَ. " يعني دالله تعالي په نوم شروع كوم او اي الله خپل بنده ته شفاء وركړي دخپل رسول دا خبره رښتوني كړه، او دي به دا عمل دسحر نه پس او دنمر ختلو نه مخكي كوي او په دي نهر كي به دري ورځي غوپي وهي كه چري په دري ورځو كي روغ نشي نو دپنځو ورځو پوري به جاري ساتي او كه په پنځو ورځو كي هم روغ نشي نو اوه ورځو پوري به دا جاري ساتي او كه اوه ورځو كي روغ نشي نو نهو ورځو پوري به دا عمل كوي او دالله تعالي په حكم به دده مرض دنهو ورځو نه وړاندي نه ځي.
امام ترمذي وايي . داحديث غريب دي

دثوبان رضي الله عنه مناقب

نوم ثوبان كنيه ابو عبدالله چي په يمن كي دمشهور خاندان حمير سره يي تعلق وو ثوبان يو غلام وو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه خوښه دي وي خپل خاندان ته لاړ شه او كه زمونږ سره دي اوسيدل خوښ وي نو اوسيږه ته به داهل بيتو نه شميرلى شي نو په دي بنا ثوبان په اهل بيتو كي شميرلو ته پخپل خاندان ترجيح وركړه. هميشه به يي درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت كولو او د رسول الله دفرمان سره به يي دځان نه زيات محبت كولو يو ځل نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هيڅ كله به چاته لاس نه نه نيسي نو ددينه پس كه به دده نه داس چابك هم اوغورځيدو نو پخپله به وريسي كوځيدو او اوچتولو به يي خو دچانه به يي سوال نه كولو (مسند احمد). دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دخدمت كولو په وجه يي پخپله بهترينه استفاده اوكړه په همدي وجه ابن عبدالبر ليكلي دي چي ثوبان دهغه دري كسانو نه دى چاچي احاديث محفوظ كړي دي او ددي اشاعت يي هم كړى دى (استيعاب) دمروياتو شمير يي ۱۲۷ دى.

****

٣٤ـ بَابُ التَّدَاوِي بِالرَّمَادِ

په ايرو دعلاج كولو بيان

٢٠٨٥ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ أَبِي حَازِمٍ. قَالَ: سُئِلَ سَهْلُ بْنُ سَعْدٍ، وَأَنَا أَسْمَعُ، بِأَيِّ شَيْءٍ دُووِيَ جُرْحُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: " مَا بَقِيَ أَحَدٌ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، كَانَ عَلِيٌّ

رَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي قَيْسٍ. (1)

ترجمه دهزيل بن شرحبيل بيان دي فرمائي چي ابوموسي اشعري او سلمان بن ربيعه ته يو كس راغلو او هغه ددوئ نه دلور او دنوسئ او دحقيقي خور دميراث باره كي تپوس اوكړو دوئ ورته په جواب كي اووئيل لور ته به نيم ميراث وركولي شي او باقي مال به دحقيقي خور وي هغوئ دي كس ته دا هم اووئيل چي عبدالله بن مسعود ته ورشه او دهغه نه تپوس اوكړه او هغه به درته هم زمونږ پشان جواب دركوي چنانچي دا كس عبدالله بن مسعود ته ورغلو او مسئله يي ورته بيان كړه، ابن مسعود رضي الله عنه اووئيل كه چري زه درته هم ددوئ پشان جواب دركړم نو گمراه به شم او په سمه لار به پاتي نشم زه به په دي باره كي داسي فيصله كوم څنگه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم كړي وه دلور دپاره نيم مال دي او نوسئ ته شپږمه حصه تردي چي دلونړو مكمل حصه دوه ثلثونه پوره شي او باقي حصه به خور ته وكولي شي

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او شعبه هم دابوقيس عبدالرحمن بن ثروان كوفي نه دا حديث نقل كړي دي

تشريح: دلته سراجي اعلي ترين وضاحت كړي دی چي د مختصر تشريح سره يي تاسو ته پيش كوو.

وَبَنَاتُ الْإِبْنِ كَبَنَاتِ الصُّلْبِ وَلَهُنَّ أَحْوَالٌ سِتٌّ اَلنِّصْفُ لِلْوَاحِدَةِ وَالثُّلُثَانِ لِلْإِثْنَتَيْنِ فَصَاعِداً عند عدمِ بَنَاتِ الصُّلْبِ وَلَهُنَّ السُّدُسُ مَعَ الْوَاحِدَةِ الصَّلْبِيَّةِ تَكْمِلَةً لِلثُّلُثَيْنِ لَا يَرِثْنَ مَعَ الصَّلْبِيَّتَيْنِ إِلَّا أَن يَكُونَ بِحِذَائِهِنَّ أَوْ أَسْفَلَ مِنْهُنَّ غُلَامٌ فَيُعَصِّبُهُنَّ وَالْبَاقِي بَيْنَهُمَا "لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ" وَيَسْقُطْنَ بِالْإِبْنِ. ترجمه او نوسياني دصلبي خامنو پشان دي (په احوال مذكوره ثلاثه كي)، او ددي شپږ حالات دي نصف ديوي دپاره او ثلثان د دوو يا زياتو دپاره دصلبي خامنو دعدم موجودگئ په وخت كي او دنوسيانو دپاره به سدس وي ديو صلبي خوي دموجودگئ په وخت كي دثلثينو دمكمل كولو دپاره او نوسياني د دوه صلبي خامنو په موجودگئ كي وارثي نه گرځي مگر دا چي ددوئ سره برابر دي يا ددوئ نه لاندي كوم هلك وي او هغه دوئ لره عصبه اوگرځوي او دباقي په مينځ كي به تقسيم كيږي مذكر دپاره د دوه ښځو برابر حصه ده او نوسياني به محرومي شي په خوي.

تشريح دنوسيانو حالات

---

1 - صحيح البخاري_ الفرائض ٨ (٦٧٣٦) . سنن ابي داود_ الفرائض ٣ (٢٨٩٠) . سنن ابن ماجه_ الفرائض ٢ (٢٧٢١) (تحفة الأشراف : ٩٥٩٣) . ودي الفرائض ٧ (٢٩٣٢)

هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي تاسو مريض ته ورځئ نو دمرض په سلسله كي دهغه غم ختم كړئ او دعا تقدير خو نه بدلوي ليكن دمريض زړه خوشحاله كوي
امام ترمذي وايي : داحديث غريب دي.

****

٢٠٨٨_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ اسْمَاعِيل بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ الْأَشْعَرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَادَ رَجُلًا مِنْ وَعَكٍ كَانَ بِهِ، فَقَالَ: أَبْشِرْ، فَإِنَّ اللَّهَ يَقُولُ: " هِيَ نَارِي أُسَلِّطُهَا عَلَى عَبْدِي الْمُذْنِبِ لِتَكُونَ حَظَّهُ مِنَ النَّارِ ".[2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم ديو كس عيادت اوكړو او په هغه باندي وعك بيماري وه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل خوشحاله شه خكه چي الله تعالي فرمائي دا زما اور دي زه يي په گنهگار بنده مسلط كوم تردي چي دا دجهنم په اور كي دده حصه اوگرځي.
تشريح: د وعك نه مراد تبه ده.

****

٢٠٨٩_حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانٍ، عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: " كَانُوا يَرْتَجُونَ الْحُمَّى لَيْلَةً كَفَّارَةً لِمَا نَقَصَ مِنَ الذُّنُوبِ ".[3]

ترجمه دحسن بصري بيان دي چي يوه شپه صحابه كرامو دا اميد ظاهرولو چي تبه دوړو گناهونو دپاره كفاره ده.

****

1. سنن ابن ماجه_ الجنائز ا (١٤٣٨) (تحفة الأشراف : ٤٢٩٢)
2. سنن ابن ماجه_ الطب ١٨ (٣٤٧٠) (تحفة الأشراف : ١٥٤٣٩_ ولم ينسبه للترمذي) . و مسند احمد (٢_٤٤٠)
3. تفرد به المؤلف

کتاب الفرائض عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

د میراث احکام او مسائل

اسلام او علم میراث

دجاهلیت یو بد رسم دا وو چي په دغه معاشره کي دمیراث په معامله کي دبرابري او مساوات فقدان وو چنانچي سرو دخپل طاقت په زور دا قانون رانج کړي وو چي دمیراث حقداران به صرف هغه خلق وو "من حاز الغنيمة وقاتل علي ظهور الخيل" یعني صرف هغه خلق به حقدار دمیراث ګنړلي شول څوك چي ددشمن په مال قبضه کولي شي او په اسونو سورلي کولي شي او ددشمن سره مقابله کولي شي او په دي باندي پوهیږي عربو به ونیل "كيف نعطي المال من لايركب فرسا ولا يحمل سيفاً ولايقاتل عدوا" مونږ به داسي کس ته ولي مال ورکړو څوك چي نه په اسونو سورلي کوي او نه توره اوړي او نه ددشمن سره جنګیږي ددي ظالمانه قانون په تشريح كي ښځي او ماشومان هم شامل وو او هغوئ به یي دمیراث نه محروم ګنړلي نو په دي وجه اسلام دا قانون باطل اوګرځولو او ښځي یي دمیراث حقداران اوګرځولي، چنانچي ارشاد دي "وللنساء نصيب مما ترك الوالدان والاقربون " (سورة النساء۷) یعني دسړو پشان ښځي هم دمیراث حقداري دي

دمیراث دتقسیم نظام یو فطري نظام دي او علم میراث هم ددي فطري نظام تقاضا ده دفطري نظام دتقاضا کیدو مطلب دادي که چري پخپله اسلام مونږ ته ددي اصولو ضوابطو رهنمائي کړي نه وي نو مونږ به دخپل خان نه ددي مسئلي دحل پاره څه ناڅه ضرور کولي سوچ به مو کولي او دخپل ذهن نه به مو ددي دحل کومه لاره لټوله ځکه چي مرګ یو داسي حقیقت دي دکوم سره چي دهر یو فرد واسطه راځي او لازمي خبره ده هر کله چي هر یو انسان ددنیا نه رخصتیږي نو دده دمال په باره کي دوه صورتونه ممکن وي یو صورت خو دا وي چي دده مال هم دده دلاش سره دفن کړي شي دویم صورت دادي چي دده مال دده په پسمندګانو کي تقسیم کړي شي دا صورت دمخکني صورت په مقابله کي دعقل او طبیعت موافق دي لهذا همدا اختیار کړی شو لیکن په دي صورت کي هم بهر حال ډیر مشکلات او پریشانئ موجود دي او هغه دادي چي دمړي مال به دده په ژوندو وارثانو په کوم بنیاد تقسیمولي شي او په دوئ کي به چاته زیات اوچاته کم ورکولي شي او یا دا چي چاته به ورکولي شي او څوك به پریخودلي شي چنانچي انسان پخپل سوچ او فکر ددي دپاره څه قوانین جوړ کړل او په هر دور کي ددي څه اصول او قوانین موجود دي په حکومتونو او نسلونو کي هم مختلف قوانین راروان دي او دنن سبا په جدید دور کي هم په مختلفو ممالکو کي ددي څه قوانین موجود دي، داسلام دظهور نه

مخکي په عرب معاشره کي هم دميراث قوانين موجود وو دا قوانين اګر چي دفطرت نه په کامل طور مخالف نه وو خو بيا هم په دي قوانينو کي څه ناڅه خرابئ موجود وي ليکن داسلام او قراني تعليماتو دا خرابئ ختمي کړي او ديته يي ديو منصفانه او عادلانه قانون شکل ورکړو چنانچي داسلام قانون او وراثت دډيرو خصوصياتو حامل دي او دټولو نه لوي خصوصيت يي دادي چي دا دکوم انسان جوړ کړي قانون نه دي بلکه داحکم الحاکمين دطرفه نازل کړي شوي دي

داسلامي قانون دوراثت امتيازي خصوصيات

(۱) دميراث ټول مال تقسيمېږي اسلام حکم کړي دي چي دمړي هر قسم پريخودلي مال به په ميراث او ترکه کي تقسيمېږي او دا به تمام تر په وارثانو دشرعي اصول مطابق تقسيمېږي البته دمړي دکفن او دفن او قرضي وغيره ادا کولو نه پس به تقسيمېږي. دمړي په پريخودلي هر قسم لوي وړوکي ارزان او قيمتي څيز کي دتمامو وارثانو حق دي چنانچي ارشاد دي "مما قل منه او كثر" (سورة نساء۱) يعني دمړي پريخودلي مال کم وي او که زيات وي په ميراث کي به شامل وي او په دي کي هيڅ يو شي دخپل طرفه څوك دکوم خاص وارث حصه نه شي ګرځولي په دي جمله دجاهليت يو رسم ترديد اوشو چي هغوئ به په ترکه کي د خپل طرفه يو خاص څيز دخاص خلقو دحق په طور اخستلو مثلا اصلحه او اسونه وغيره به يي دځوانانو حق ګڼړلو اوددوئ نه علاوه نور وارثان به يي ددوئ نه محروم ګڼړل ليکن اسلام رهنمائي اوکړه چي دمړي پريخودلي شوي څيز اګر که دهغه په ذاتي استعمال کي راتلو مثلا کپړي اصلحه وغيره يا هغه څيزونه داسي وو دکومو نه چي په اجتماعي طور فائده پورته کيدله لکه زمکه جائيداد وغيره نو دا ټول څيزونه دوارثانو اجتماعي حق وګرځولي شو.

ابن وهب دامام مالك نه نقل کړي دي فرمائيل يي چي مادربيعه نه دا اوريدلي دي که څوك ميراث لره دقران مجيد دواسطي نه بغير اولولي يايي ازده کړي نو دا علم به ورنه ډير زر هير شي لهذا دعلماؤ په تجربه دا خبره ثابته ده چي دا علم به دقران کريم په واسطه خودلي شي او زده کولي شي او که داسي اونه شي نو ددي دهيريدو خطره ده او په دي وجه مونږ هم دسبق اغاز دقران کريم دايتونو نه کوو تردي چي دعلماؤ پيروي او اقتداء نصيب شي (شرح سراجي)

دميراث لغوي معني: ميراث دوَرِثَ يَرِثُ إرثا او مِيراثا مصدر دي چي معني يي دچا دمرګ نه پس دهغه وارث جوړيدل دي او دده دمال مالك او حقدار جوړيدل دي لکه چي وئيلي شي ورث فلان قريبه يعني فلاني دخپل قريبي رشته دار وارث اوګرځيدو دميراث لغوي معني داده "انتقال الشيء من شخص او من قوم الي قوم سواء كان ذلك الشيء علما او مالا او مجدا

او شرفاً"
يعني دكوم څيز منتقل كيدل ديو كس نه بل كس ته يا ديو قوم نه بل قوم ته برابره خبره ده چي دغه شي علم وي او كه مال وي او كه مشري وي او كه عزت وي

دميراث اصطلاحي تعريف

"انتقال الملكية من الميت الي ورثته الاحياء سواء كان المتروك مالا او عقارا او حقا من حقوق الشريعة" يعني دمړي دملكيت منتقل كيدل ژوندي وارثانو ته بيا برابره خبره ده چي متروكه شي مال وي او كه زمكه او كه د شرعي حقوقو نه كوم حق وي علم ميراث اصطلاحي تعريف دادي "هو علم بقواعد فقهية وحسابية يعرف بها نصيب كل وارث من التركة"
علم ميراث دفقه او حساب ديو څو داسي اصولو نوم دي دكومو په ذريعه چي مستحق وارثانو ته دتركي دوركولو طريقه معلوميږي ليكن بعضي علماء داسي وائي "هو علم باصول من فقه وحساب يعرف بها حق كل واحد من الورثة" يعني علم ميراث يو داسي علم دي په كوم كي چي دفقه او حساب داصولو او قواعدو په مدد دهر وارث حق معلوميدي شي او دحق نه هغه حق مراد دي كوم چي ددوئ دمړكيدونكي رشته دار په مال كي دوئ ته دملاويدونكي مال حصه وي.
دعلم ميراث موضوع "التركة والوارث وطرق تقسيم التركة" يعني په علم ميراث كي دتركي او ددي دتقسيم او دوارث دحالاتو نه بحث كيږي، يا "كيفية قسمة التركة بين المستحقين" دعلم ميراث موضوع په مستحقو وارثانو دتركي دتقسيم طريقه بيانول دي ددي پوره خبري نه مونږ داسي تعبير هم كولي شو چي دعلم ميراث موضوع تركه ده كومه چي وارثانو ته ملاويدونكي دہ

١ـ بَابُ مَا جَاءَ مَنْ تَرَكَ مَالاً فَلِوَرَثَتِهِ

دتركي مستحقين وارثان دي

٢٠٩٠ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأُمَوِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِأَهْلِهِ، وَمَنْ تَرَكَ ضَيَاعًا فَإِلَيَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي البَابِ عَنْ جَابِرٍ وَأَنَسٍ. وَقَدْ رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْوَلَ مِنْ هَذَا وَأَتَمَّ مَعْنًى

ضَيَاعًا ضَائِعًا لَيْسَ لَهُ شَيْءٌ. فَأَنَا أَعُولُهُ وَأُنْفِقُ عَلَيْهِ. (1)

ترجمه دابوهریره رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چاچي دمرګ نه پس کوم مال پریخودو نو دا دده دوارثانو دي او چاچي داسي اولاد پریخودو دچا سره چي هیڅ نه وي نو دهغوئ دکفالت زه ذمه وار یم.

امام ترمذي وايي. دا حدیث حسن صحیح دي او زهري دا حدیث دابوسلمه عن ابي هریرة عن النبي صلي الله علیه وسلم سند سره نقل کړي دي او هغه حدیث ددي حدیث نه طویل او مکمل دي، او په دي باب کي دجابر او انس رضي الله عنهما نه هم احادیث وارد دي او د "ضیاعا" معني داده چي داسي اولاد څوك پریږدي دچا سره چي هیڅ نه وي نو دهغوئ کفالت به زه کوم یعني خرچ به ورباندي زه کوم.

تشریح : من ترك دینا او ضیاعا فالي: یعني څوك قرض یا ماشومان پریږدي نودی زما په ذمه واري کې دی ددینه معلومه شوه که دچا واړه بچي پاتي شي او دی مړ شي نوپرورش به يي دبیت المال نه کولي شي

****

۲_ باب مَا جَاءَ فِي تَعْلِيمِ الْفَرَائِضِ

دعلم فرائض(میراث) زده کولو بیان

۲۰۹۱_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ وَاصِلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْقَاسِمِ الْأَسَدِيُّ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دَلْهَمٍ، حَدَّثَنَا عَوْفٌ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَالْفَرَائِضَ، وَعَلِّمُوا النَّاسَ فَإِنِّي مَقْبُوضٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ فِيهِ اضْطِرَابٌ. (2)

ترجمه دابوهریره رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي قران او علم فرائض زده کړئ او خلقو ته يي اوښایئ ځکه چي زه وفات کیدونکي یم.

امام ترمذي وايي په دي حدیث کي اضطراب دي

****

1 _ انظر حدیث رقم ۱۰۴۰ (تحفة الأشراف : ۱۵۱۰۸)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۱۳۴۹۸)

وَرَوَى أَبُو أُسَامَةَ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ عَوْفٍ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ جَابِرٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عَوْفٍ بِهَذَا بِمَعْنَاهُ، وَمُحَمَّدُ بْنُ القَاسِمِ الأَسَدِيُّ قَدْ ضَعَّفَهُ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ وَغَيْرُهُ.[1]

ترجمه دابن مسعود رضي الله عنه نه هم په دي سند دماقبل هم معني روايت مروي دي او ابو سلمه هم پخپل سند دعوف نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي او محمد بن قاسم اسدي داحمد بن حنبل وغيره په نزد په باب دحديث كي ضعيف دي

****

٣_ باب مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الْبَنَاتِ

دلونړو دميراث بيان

٢٠٩٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنِي زَكَرِيَّاءُ بْنُ عَدِيٍّ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةُ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ بِابْنَتَيْهَا مِنْ سَعْدٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَاتَانِ ابْنَتَا سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ، قُتِلَ أَبُوهُمَا مَعَكَ يَوْمَ أُحُدٍ شَهِيدًا، وَإِنَّ عَمَّهُمَا أَخَذَ مَالَهُمَا، فَلَمْ يَدَعْ لَهُمَا مَالًا وَلَا تُنْكَحَانِ إِلَّا وَلَهُمَا مَالٌ، قَالَ: "يَقْضِي اللَّهُ فِي ذَلِكَ". فَنَزَلَتْ آيَةُ المِيرَاثِ، فَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَمِّهِمَا، فَقَالَ: "أَعْطِ ابْنَتَيْ سَعْدٍ الثُّلُثَيْنِ، وَأَعْطِ أُمَّهُمَا الثُّمُنَ، وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، وَقَدْ رَوَاهُ شَرِيكٌ أَيْضًا عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ.[2]

ترجمه دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي دسعد بن ربيع ښځي خپل دوه لونړه چي دسعد نه پيدا شوي وي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راوستلي او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله دا دواړه دسعد لونړه دي او ددوئ پلار ستا په ملګرتيا كي دجنګ كولو په حال كي په احد كي شهيد شوي دي او ددوئ تره ددوئ په مال قبضه كړي ده او ددوئ دپاره يي هيڅ نه دي پريخودلي او دمال نه بغير خو ددوئ ودونه هم نه كيږي، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي به ددي باره كي فيصله كوي، چنانچي ددينه پس دميراث

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٣٢٥) وأخرجه النسائي (٦٣٠٥، ٦٣٠٦ في الكبرى)

2 ـ ابي داود_ الفرائض ٣ (٢٨٩١)، ابن ماجه_ الفرائض ٢ (٢٧٢٠) (تحفة الأشراف: ٢٣٦٥)

ايت نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي جينكو تره ته دا حكم اوليږلو چي دسعد دواړو لونړو ته دهغه دمال په دري حصو كي دوه حصي وركړه او ددوئ دمور اتمه حصه ده او ددينه چي څه پاتي شول هغه ستا دي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او مونږ يي صرف دعبدالله بن محمد بن عقيل په سند پيژنو او دعبدالله بن محمد بن عقيل نه شريك هم دا حديث نقل كړي دي

تشريح: **دلوردري حالات په لاندينئ نقشه كي وګورئ:**

شماره	ذوي الفروض	حصه	حالت
١	بنت الصلب	نصف	لور كه يوه وي نو نصف به اخلي
٢		ثلثان	او كله چي دمړي لونړه دوه يا زياتي وي نو ثلثان به اخلي
٣	لور	عصبه بالغير	كه د لور سره ځوي هم وي نو دا ځوي لره عصبه كوي يعني ذوي الفروض ته د خپلي حصي وركولو نه پس چي څه پاتي شي دي كي به دهلك يوه اود جينئ دوه حصي وي.

(تيسير السراجي شرح سراجي)

****

٤_ باب مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ ابْنَةِ الاِبْنِ مَعَ ابْنَةِ الصُّلْبِ

دلورپه موجودګئ كي د نوسئ دوراثت بيان

٢٠٩٣_حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ. حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ. عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ. عَنْ أَبِي قَيْسٍ الأَوْدِيِّ. عَنْ هُزَيْلِ بْنِ شُرَحْبِيلَ. قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى أَبِي مُوسَى وَسَلْمَانَ بْنِ رَبِيعَةَ. فَسَأَلَهُمَا عَنِ الاِبْنَةِ، وَابْنَةِ الاِبْنِ، وَأُخْتٍ لأَب، وأم، فقال: للابنة النصف، وللأخت من الأب والأم ما بقي، وقالا له: انطلق إلى عبد الله. فاسأله فإنه سيتابعنا. فأتى عبد الله فذكر ذلك له وأخبره بما وابْنَةِ الاِبْنِ قَالاَ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ المُهْتَدِينَ. وَلَكِنْ أَقْضِي فِيهِمَا كَمَا قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِلاِبْنَةِ النِّصْفُ، وَلاِبْنَةِ الاِبْنِ السُّدُسُ تَكْمِلَةَ الثُّلُثَيْنِ، وَلِلأُخْتِ مَا بَقِيَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو قَيْسٍ الأَوْدِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَرْوَانَ الكُوفِيُّ. وَقَدْ

اوس دزوجينو پشان دبنت الابن دحالاتو تعلق هم داولاد سره دي نو دنوسيانو شپږ حالات دي
(۱) نصف (۲) ثلثان (۳) سدس (۴) حجب (۵) عصبه بالغير (۲) حجب بالابن.
(۱) نصف که دمړي حقيقي خوي او حقيقي لور موجود نه وي او صرف يوه نوسئ وي نو دهٔ به په ترکه کې نصف ورکولي شي او په دي صورت کې دا دمړي دحقيقي لور قائم مقام ګرځي

****

٥ـ باب مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الإِخْوَةِ مِنَ الأَبِ وَالأُمِّ

دحقيقي ورونړو دميراث بيان

٢٠٩٤ـ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّهُ قَالَ: إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الآيَةَ: مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ (النساء : ١٢) وَأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " قَضَى بِالدَّيْنِ قَبْلَ الوَصِيَّةِ، وَإِنَّ أَعْيَانَ بَنِي الأُمِّ يَتَوَارَثُونَ دُونَ بَنِي العَلَّاتِ، الرَّجُلُ يَرِثُ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّهِ دُونَ أَخِيهِ لِأَبِيهِ ".[1]

ترجمه: دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائيلي يې دي چې تاسو خو دا ايت "من بعد وصية توصون بها او دين" لولئ يعني دقرض اداء کولو نه پس به دميراث تقسيم کيږي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دوصيت نه مخکې به قرض اداء کولي شي (که چرې حقيقي رونړه او علاتي ورونړه دواړه موجود وي نو حقيقي رونړه به وارثان وي او علاتي (چې په پلار کې شريك وي او په مور کې شريك نه وي) به مستحق نه وي او خلق خپل حقيقي ورور وارث ګنړي او علاتي وارث نه ګنړي.

تخريج: سنن ابن ماجه ـ الوصايا ۷ (۲۷۱۵) . و يأتي برقم ۲۱۲۲ (تحفة الأشراف : ۱۰۰۴۲) . و أحمد (۱ـ ۷۹، ۱۳۱، ۱۴۴)

****

حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا زَكَرِيَّا بْنُ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ.[2]

---

1 ـ

2 ـ ابن ماجه ـ الوصايا ۷ (۲۷۱۵) . و يأتي برقم ۲۱۲۲ (تحفة الأشراف : ۱۰۰۴۲) . و أحمد (۱ـ ۷۹، ۱۳۱، ۱۴۴)

ترجمه حارث هم دعلي رضي الله عنه په سند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي

****

٢٠٩٥_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاق، عَنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: " قَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَعْيَانَ بَنِي الأُمِّ يَتَوَارَثُونَ دُونَ بَنِي العَلَّاتِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ الحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ فِي الحَارِثِ وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا الحَدِيثِ عِنْدَ عَامَّةِ أَهْلِ العِلْمِ. ([1])

ترجمه دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا فيصله كړي ده چي حقيقي رونړه وارثان دي او علاتي وارثان نه دي

امام ترمذي وايي : مونږ دا حديث صرف دابواسحاق په سند پيژنو او ابواسحاق دسبيعي نه نقل كړي دي او سبيعي دحارث نه او حارث نه دعلي رضي الله عنه نه مگر بعضي محدثينو په حارث راوي باندي كلام كړي دي او دعامو محدثينو په همدي حديث عمل دي

****

٦_ باب مِيرَاثِ الْبَنِينَ مَعَ الْبَنَاتِ

دلونړوپه موجودګئ کي دځامنودميراث بيان

٢٠٩٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَعْدٍ، أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ أَبِي قَيْسٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: " جَاءَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي وَأَنَا مَرِيضٌ فِي بَنِي سَلِمَةَ، فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، كَيْفَ أَقْسِمُ مَالِي بَيْنَ وَلَدِي، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ شَيْئًا، فَنَزَلَتْ: يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنْثَيَيْنِ (النساء :١١) الآيَةَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ، وغيره عَنْ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ. ([2])

ترجمه دجابر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دعيادت دپاره راغلو او په دغه وخت كي زه دبني سلمه په محله ك بيمار پروت وم ما عرض

---

[1] ـ سنن ابن ماجه.. الوصايا ٦ (٢٧١٥) و في الفرائض ١٠ (٢٧٣٩)

[2] ـ تفرد به المؤلف و أعاده في تفسير النساء (٣٠١٥) (تحفة الأشراف : ٣٠٦٦)

اوكړو اي دالله رسوله ايا زه خپل مال پخپل اولاد باندي تقسيم كړم؟ رسول الله ماته هيڅ جواب رانكړو او بيا دا ايت كريمه "يوصيكم الله في اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين" نازل شو
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي، شعبه او سفيان بن عيينه او نورو راويانو هم دا حديث دمحمد بن منكدر په واسطه دجابر رضي الله عنه نه نقل كړي دي.

****

٧_ بَابُ مِيرَاثِ الأَخَوَاتِ
دخويندود ميراث بيان

٢٠٩٧_حَدَّثَنَا الفَضْلُ بْنُ الصَّبَّاحِ البَغْدَادِيُّ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ ابْنُ عُيَيْنَةَ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ المُنْكَدِرِ، سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، يَقُولُ: "مَرِضْتُ فَأَتَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي فَوَجَدَنِي قَدْ أُغْمِيَ عَلَيَّ، فَأَتَى وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، وَهُمَا مَاشِيَانِ، فَتَوَضَّأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَبَّ عَلَيَّ مِنْ وَضُوئِهِ، فَأَفَقْتُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ أَقْضِي فِي مَالِي، أَوْ كَيْفَ أَصْنَعُ فِي مَالِي، فَلَمْ يُجِبْنِي شَيْئًا، وَكَانَ لَهُ تِسْعُ أَخَوَاتٍ حَتَّى نَزَلَتْ آيَةُ المِيرَاثِ يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الكَلَالَةِ (النساء : ١٧٦)". قَالَ جَابِرٌ: فِيَّ نَزَلَتْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي زه بيمار شوي وم اورسول الله صلي الله عليه وسلم زما عيادت كولو دپاره تشريف راوړو نو زه يي دبيهوشۍ په حالت كي اوليدم او ابوبكر او عمر رضي الله عنهما هم ورسره وو رسول الله صلي الله عليه وسلم پيدل راغلو او اودس يي اوكړو او د اودس نه باقي پاتي شوي اوبه يي په ماباندي واچولي او زه په هوش كي راغلم ما عرض اوكړو اي دالله رسوله زه دخپل مال باره كي څه فيصله اوكړم؟ يا زه خپل مال څنګه تقسيم كړم؟ (دلته دراوي شك دي) رسول الله ماته هيڅ جواب رانكړو، دجابر رضي الله عنه نهه خويندي وي تردي پوري چي ايت دميراث نازل شو "يستفتونك قل الله يفتيكم في الكلالة" يعني خلق ستا نه دكلاله باره كي فتوي غواړي ته ورته اووايه چي الله تعالي تاسو ته دكلاله باره كي فتوي دركوي (النساء)، دجابر رضي الله عنه بيان دي چي دا ايت

---

[1] ـ صحيح البخاري_ تفسير النساء ٤ (٤٥٧٧). والمرضى ٥ (٥٦٥١). والفرائض ١٣ (٦٧٤٣). صحيح مسلم_ الفرائض ٢ (١٦١٦). سنن ابي داود_ الفرائض ٢ (٢٨٨٦). سنن ابن ماجه_ الفرائض ٥ (٢٧٢٨) (تحفة الأشراف : ٣٠٢٨). وسنن الدارمي_ الطهارة ٥٥ (٧٣٩)

زما باره کي نازل شوي دي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي
تشريح: دلته دمسئلي دوضاحت دپاره د سراجي عبارت سره دترجمي وګورئ

واما للاخوات لاب وام فاحوال خمس النصف للواحدة والثلثان للاثنين فصاعدة ومع الاخ لابن وام " لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنْثَيَيْنِ" يصرن به عصبة لاستوائهم في القرابة الي الميت ولهن الباقي مع البنات وابنات الابن لقوله اجعلوا الاخوات مع البنات عصبة.

ترجمه او دحقيقي خويندو پنځه حالتونه دي نصف ديوي دپاره دي او ثلثان د دوو او د دوو نه دزياتو دپاره دي او دحقيقي ورور په موجودګئ کي دمذکر دپاره په قدر د دوه حصو دمؤنث دي په دي صورت کي حقيقي خويندي د ورور په وجه عصبه ګرځي مړي سره په رشته کي دبرابريدو په وجه"خويندو لره دلونړو سره عصبه اوګرځوئ".

تشريح. دحقيقي خويندو مناقب

دحقيقي خويندو پنځه حالات دي (۱) نصف (۲) ثلثان (۳) عصبه بالغير (۴) عصبه مع الغير (۵) حجب.

(۱) نصف. که دمړي اولاد نه وي نه حقيقي ورور وي او نه پلار نيکه وي او صرف يوه حقيقي خور يي وارثه وي نو ديته به په کل ترکه کي نصف ملاويږي او حقيقي خور ته عيني او شقيقي هم ونيلي شي.

****

۸_ بَاب فِي مِيرَاثِ الْعَصَبَةِ

دعصبه دميراث بيان

۲۰۹۸_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا ابْنُ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا، فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ".[1]

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم

---

[1] _ صحيح البخاري_ الفرائض ٥ (٦٧٣٢). صحيح مسلم_ الفرائض ١ (١٦١٥). سنن ابي داود_ الفرائض ٧ (٢٨٩٨). سنن ابن ماجه_ الفرائض ١٠ (٢٧٤٠) (تحفة الأشراف : ٥٧٠٥). و مسند احمد (١_ ٢٩٨). وسنن الدارمي_ الفرائض ٢٨ (٢٠٣٠)

فرمائيلي دي دالله تعالي دطرفه دميراث متعين شوي حصي خپلو مستحقينو ته ورسوئ او بيا چي يي ددينه پس څه باقي پاتي شي دا دمړي دقريبي رشته دارانو حق دي

تشريح: صاحب د سراجي وايي. نسبي عصبات دري دي عصبه بنفسه، عصبه بغيره، عصبه مع غيره

عصبه بنفسه هغه مذكر دي چي مړي ته دده په نسبت كي كومه ښځه داخل نه وي او دا عصبه بنفسه په څلور قسمه دي جزء دميت (لكه خوي) او اصل دميت (لكه پلار نيكه) او دمړي دپلار جزء (لكه ورور) او دمړي دنيكه جزء (لكه تره) به مقدم كولي شي اقرب لره او بيا درجه په درجه دوئ ته ترجيح وركولي شي په قرب د درجي سره يعني په دوئ كي به دميراث زيات حقدار هغه وي څوك چي جزء دميت وي يعني خوي وي او بيا ددي خامنو خامن اگر كه هر څومره ښكته لاړ شي بيا به دميراث زيات حقدار هغه وي څوك چي اصل دميت وي يعني پلار او بيا نيكه اگر كه هر څومره پورته لاړ شي بيا به دميراث زيات حقدار جزء داب وي يعني ورور او بيا دهغه خامن اگر چي هر څومره ښكته لاړ شي بيا به دميراث زيات حقدار هغه وي څوك چي جزء دجد وي يعني تره او بيا دهغوئ خامن اگر چي هر څومره ښكته وي.

وضاحت عصبه دعاصب جمع ده اسم جنس دي مذكر مؤنث واحد او جمعي ټولو دپاره استعماليږي او جمع الجمع يي عصبات ده، دعصبه معني "قرابة الرجل لابيه" ده، عصبه دسړي پدري رشتي ته ونيلي شي ددي مصدر عصوبت دي په معني دراگيرولو او احاطي كولو لكه چي عرب وائي "عصب القوم بالرجل" دا جمله هغه وخت كي استعماليږي كله چي يو څو كسان چالره پخپل حمايت كي واخلي او دهغه نه گير چاپير راجمع شي په عربئ كي دعصبه معني دجوړ او دپټو ده او په اصطلاح دشريعت كي هغه كس ته ونيلي شي څوك چي په غوښه او وينه كي شريك وي او دچا په عيب دار كيدو چي په خاندان عيب لگي او دچا كمال چي دخاندان كمال شميرلي كيږي په شريعت كي اولاد دپلار شميرلي كيږي نو په دي وجه دښځي دخاندان اولاد عصبه نه دي ځكه چي دغه اولاد خو ددي دخاوند دي او اصلي وارث عصبه دي په دي وجه خوي په شريعت كي عصبه شو او د ذوي الفروض نه نه شو

اصطلاحي تعريف دعلم ميراث په ژبه كي دعصبات نه مراد هغه رشته داران دي دچا حصي چي دذوي الفروض پشان متعين نه دي بلكه دوئ دذوي الفروض نه پاتي شوي حصي اخلي او كه ذوي الفروض موجود نه وي نو بيا دوئ ټول مال اخلي دعصباتو مثال دمړي دويني رشته داران دي مثلا خوي، ورور، تره وغيره په دوئ كي دهيچا حصه متعين نه ده لكه چي د لور، نوسئ، او ښځي حصه چي متعينه ده.

عصبه په دوه قسمه ده (١) عصبه نسبي (٢) عصبه سببي.

(۱) عصبه نسبي عصبه نسبي هغه وي دچاچي دمړي سره دولادت تعلق وي
(۲) عصبه سببي عصبه سببي هغه وي دچاچي دمړي سره دعتاق تعلق وي يعني عصبه سببي مولي العتاقه وي

عصبه نسبي په دري قسمه دي (۱) عصبه بنفسه (۲) عصبه بغيره (۳) عصبه مع غيره

وجه دحصر. وجه دحصر داده چي عصبه به د دوه حالاتو نه خالي نه وي يا خو به عصبه ګرځيدو ته غير محتاج وي يا به نه وي كه غير محتاج وي نو بيابه ديته كتلي شي چي دا غير بذات خود عصبه دي او دي ورباندي عصوبت حاصلوي نو دا غير عصبه بغيره دي او كه دغه غير بذات خود عصبه نه دي بلكه د دواړو په اجتماع سره عصوبت حاصلوي نو دا مع غيره شو

(۱) عصبه بغيره (بذات خود عصبه) دا هر هغه مذكر رشته دار ته ونيلي شي دچاچي دمړي سره درشتي په ترلو كي دمؤنث واسطه نه وي لكه نوسي كه دنوسي نسبت نيكه ته اوكړي شي نو په مينځ كي دپلار واسطه راځي كوم چي مذكر دي او كومه مؤنثه يي په مينځ كي واسطه نه ده راغلي ددي تعريف په اعتبار هغه ټول رشته داران خارج شول كوم چي دمؤنث په واسطي مړي ته منسوب كيږي لكه دلور دطرفه نوسي ددي نوسو نسبت چي نيكه ته اوكړي نو په مينځ كي يي مور واسطه راځي چي مؤنثه ده لهذا دخوي دطرفه نوسي دنيكه عصبه بنفسه دي او دلور دطرفه نوسي عصبه بنفسه نه دي او كوم رشته دار چي دمؤنث او مذكر دواړو په واسطه مړي ته منسوب وي په دوي كي مذكر لره اعتبار وي مؤنث لره اعتبار نه وي لكه حقيقي ورور او علاتي ورور چي په يو ځاي كي جمع كيږي نو صرف حقيقي ته به وراثت ملاويږي وجه دترجيح دمور رشته ده ځكه چي دپلار په رشته كي دواړه برابر دي ليكن حقيقي ورور ته دمور درشتي دزيادت په وجه په علاتي ورور يو قسم فوقيت حاصل دي.

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مُرْسَلًا. [1]

ترجمه طاوس دخپل پلار په واسطه دابن عباس په سند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي

1 - صحيح البخاري_ الفرائض ۵ (۶۷۳۲) . صحيح مسلم_ الفرائض ۱ (۱۶۱۵) . سنن ابي داود_ الفرائض ۷ (۲۸۹۸) . سنن ابن ماجه_ الفرائض ۱۰ (۲۷۴۰) (تحفة الأشراف : ۵۷۰۵) . و مسند احمد (۱_ ۲۹۸) . وسنن الدارمي_ الفرائض ۲۸ (۳۰۳۰)

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي او بعضي راويانو دا حديث عن ابن طاوس عن ابيه عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره مرسلا نقل کړي دي.

****

٩_ باب مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الْجَدِّ
دنيکه دميراث بيان

٢٠٩٩_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ يَحْيَى، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ ابْنِي مَاتَ فَمَا لِي فِي مِيرَاثِهِ، قَالَ: "لَكَ السُّدُسُ" فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ، فَقَالَ: "لَكَ سُدُسٌ آخَرُ" فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ، قَالَ: "إِنَّ السُّدُسَ الآخَرَ طُعْمَةٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ. [1]

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنهما بيان دي چي يو کس دنبي کريم صلي الله عليه وسلم خدمت کي حاضر شو او عرض يي اوکړو زما نوسي وفات شوي دي او زما دهغه په ميراث کي څومره حصه رسيږي رسول الله ورته اوفرمائيل ستا شپږمه حصه رسيږي کله چي دي ستون شو او روان شو نو رسول الله راوغوښتلو او ورته يي اوفرمائيل تاته يوه بله شپږمه حصه ملاويږي بيا چي کله دي ستون شو او روان شو نو رسول الله راوغوښتلو او ورته يي اوفرمائيل دا دويمه شپږمه حصه درته په طور دخوراك ملاويږي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دمعقل بن يسار رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

١٠_ باب مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الْجَدَّةِ
دنيا دميراث بيان

٢١٠٠_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، قَالَ مَرَّةً: قَالَ قَبِيصَةُ، وقَالَ مَرَّةً: رَجُلٌ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، قَالَ: جَاءَتِ الْجَدَّةُ أُمُّ الأُمِّ وَأُمُّ الأَبِ إِلَى أَبِي بَكْرٍ، فَقَالَتْ: إِنَّ ابْنَ ابْنِي أَوِ ابْنَ بِنْتِي مَاتَ، وَقَدْ أُخْبِرْتُ أَنَّ لِي فِي كِتَابِ اللَّهِ حَقًّا، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: مَا أَجِدُ لَكِ فِي

[1] _ سنن ابي داود_ الفرائض ٦ (٢٨٩٦) (تحفة الأشراف: ١٠٨٠١)

الْكِتَابِ مِنْ حَقٍّ، وَمَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى لَكِ بِشَيْءٍ وَسَأَسْأَلُ النَّاسَ. قَالَ: فَسَأَلَ النَّاسَ. فَشَهِدَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَعْطَاهَا السُّدُسَ " قَالَ: وَمَنْ سَمِعَ ذَلِكَ مَعَكَ. قَالَ: مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ. قَالَ: " فَأَعْطَاهَا السُّدُسَ ". ثُمَّ جَاءَتِ الْجَدَّةُ الأُخْرَى الَّتِي تُخَالِفُهَا إِلَى عُمَرَ. قَالَ سُفْيَانُ: وَزَادَنِي فِيهِ مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَلَمْ أَحْفَظْهُ عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَلَكِنْ حَفِظْتُهُ مِنْ مَعْمَرٍ، أَنَّ عُمَرَ، قَالَ: إِنِ اجْتَمَعْتُمَا فَهُوَ لَكُمَا وَأَيَّتُكُمَا انْفَرَدَتْ بِهِ فَهُوَ لَهَا. (١)

ترجمه دقبیصه بن ذؤیب رضي الله عنه بیان دي فرمائي چي ابوبکر رضي الله عنه ته یوه نیا راغله او وئیل یي زما نوسي وفات شوي دي او ما اوریدلي دي چي دالله په کتاب کي زما دپاره حصه متعین ده ابوبکررضي الله عنه اوفرمائیل ما دالله په کتاب کي ستا دپاره هیڅ حصه نه دده لیدلي او نه مي درسول الله صلي الله علیه وسلم نه په دي باره کي څه اوریدلي دي چي ستا دپاره یي دکومي حصي فیصله کړي وي البته زه دخلقو سره په دي باره کي مشوره کوم. نو ابوبکر رضي الله عنه په دي باره کي دخلقو نه تپوس اوکړو دي وخت کي مغیره بن شعبه رضي الله عنه ګواهي ورکړه چي رسول الله صلي الله علیه وسلم دیته شپږمه حصه ورکړي وه ابوبکر رضي الله عنه اووئیل تاسره داحدیث بل چا اوریدلي دي؟ مغیره اووئیل محمد بن مسلمه هم اوریدلي دي چنانچي ابوبکر رضي الله عنه دي نیا ته شپږمه حصه ورکړه، بیاڅه وخت پس یوه بله نیا امیرالمؤمنین عمر رضي الله عنه ته راغله (که اولني نیا دپلار دطرفه وي نو دا نیا دمور دطرفه وي او که اولنۍ نیا دمور دطرفه وي نو دا نیا دپلار دطرفه ده) سفیان بن عیینه واني دزهري په واسطه معمرو په دي حدیث کي زما نه څه زیاتي خبري بیان کړي دي لیکن دزهري په واسطه مروي روایت ماته یاد نه دي البته دمعمرو روایت راته یاد دي چي عمر رضي الله عنه اووئیل که چري تاسو دواړه (دپلار دطرفه نیا او دمور دطرفه نیا) وارثان یئ نو په شپږمه حصه کي به دواړه شریکي یئ او کومه یوه چي یواځي وي هغه به پوره شپږمه حصه اخلي.

****

٢١٠١_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ خَرَشَةَ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، قَالَ: " جَاءَتِ الْجَدَّةُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا، قَالَ: فَقَالَ لَهَا: مَا

١ سنن ابي داود_ الفرائض ٥ (٢٨٩٣) . سنن ابن ماجه_ الفرائض ٤ (٢٧٢٤) (تحفة الأشراف : ١١٢٣٢)

لَكِ فِي كِتَابِ اللَّهِ شَيْءٌ، وَمَا لَكِ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْءٌ فَارْجِعِي حَتَّى أَسْأَلَ النَّاسَ. فَسَأَلَ النَّاسَ، فَقَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ: حَضَرْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَأَعْطَاهَا السُّدُسَ". فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: هَلْ مَعَكَ غَيْرُكَ. فَقَامَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ الأَنْصَارِيُّ، فَقَالَ: مِثْلَ مَا قَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ. فَأَنْفَذَهُ لَهَا أَبُو بَكْرٍ. قَالَ: ثُمَّ جَاءَتِ الْجَدَّةُ الأُخْرَى إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ تَسْأَلُهُ مِيرَاثَهَا. فَقَالَ: مَا لَكِ فِي كِتَابِ اللَّهِ شَيْءٌ، وَلَكِنْ هُوَ ذَاكَ السُّدُسُ فَإِنِ اجْتَمَعْتُمَا فِيهِ فَهُوَ بَيْنَكُمَا. وَأَيَّتُكُمَا خَلَتْ بِهِ فَهُوَ لَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ بُرَيْدَةَ. وَهَذَا أَحْسَنُ وَهُوَ أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ. (1)

ترجمه : دقبیصه بن ذؤیب رضي الله عنه بیان دي چي ابوبکر رضي الله عنه ته دپلار دطرفه یا دمور دطرفه یوه نیاراغله او ابوبکر رضي الله عنه ورته اوونیل ستا دپاره دالله په کتاب کي هیڅ نشته او ستا دپاره په سنت درسول الله صلي الله علیه وسلم کي هم هیڅ نشته او ته واپس لاړه شه تردي پوري چي زه خلقو سره په دي باره کي مشوره اوکړم او تپوس ورنه اوکړم نو ابوبکر په دي باره کي دخلقونه تپوس اوکړو مغیره بن شعبه اوونیل زه درسول الله صلي الله علیه وسلم سره موجود وم چي یوي نیا ته یي شپږمه حصه ورکړه ابوبکررضي الله عنه اوونیل تاسره دغه وخت کي نور څوك هم وو؟ محمد بن مسلمه انصاري اودریدو او داسي خبري یي اوکړي څنګه چي مغیره بن شعبه کړي وي چنانچي ابوبکر ددي دپاره حکم جاري کړو بیا عمر رضي الله عنه ته یوه بله نیا راغله چي دمیراث خپله حصه یي غوښتله امیرالمؤمنین اوونیل ستا دپاره دالله په کتاب کي هیڅ نشته البته هم هغه شپږمه حصه ده که چري تاسو دواړه نیاګاني په اجتماعي طور وارثان یئ نو شپږمه حصه به په تاسو دواړو تقسیمولي شي او که یوه یئ نو پوره شپږمه حصه به اخلي.

امام ترمذي وایي : داحدیث حسن صحیح دي، او دمالك روایت دسفیان بن عیینه دروایت په نسبت زیات صحیح دي، او په دي باب کي دبریده رضي الله عنه نه هم روایت وارد دي

دمغیره بن شعبه رضي الله عنه مناقب

نوم مغیره دپلار نوم یي شعبه بن ابي عامر وو او کنیت یي ابو عبدالله وو، ابن الاثیر ۳۱۲/۲ په غزوه خندق کي دهجرت په پنځم کال مسلمان شوي وو او په همدي کال یي مدیني ته هجرت وکړو (استیعاب ۲۵۸/۱)

په غزوه حدیبیه او ددینه پس په متعددو غزواتو شریك شو ، دي او ابو سفیان رسول الله په یوه

---

1 سنن ابي داود_ الفرائض ۵ (۲۸۹۴). سنن ابن ماجه_ الفرائض ۴ (۲۷۲۴) (تحفة الأشراف : ۱۱۲۲۳)

خاص سريه كې طائف ته ليږلي وو، اوپه ډيري بهادرئ سره يې دشمن ته شكست وركړو
ويلي شوي دي چې كله يې رسول الله قبرته كوزولو نوګوتمه يې وغورځوله . علي رضي الله
عنه اوفرمائيل چې دي را اوباسئ نو ده درسول الله قدم مبارك مسه كړو اودقبر نه راووتلو .
ويلي شوي دي چې درسول الله اخري جدا كيدونكي صحابي مغيره رضي الله عنه وو.
مغيره يو ډير زكي انسان وو، دقبيصه بن جابر بيان دي چې زه ډيره زمانه دجابر سره پاتي شوم
چې ډير مدبر اوشجاعت والا انسان وو
دهجرت په پنځوسم كال په كوفه كې دطاعون په وبا كې وفات شو او عمر يې اويا كاله وو(ابن
اثير ۱/ ۲۰۲)
دمروياتو تعداد يې۱۳۳ دي چې ۹ پكې متفق عليه دي اوپه يو كې امام بخاري او په دوه وو
كې امام مسلم متفرد دي (تهذيب الكمال۳۸۵)

****

۱۱ـ بَاب مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الْجَدَّةِ مَعَ ابْنِهَا

دنوسي په ميراث كې دځوي په موجودګئ كې دنيا دحصوبيان

۲۱۰۲ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَالِمٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ فِي الْجَدَّةِ مَعَ ابْنِهَا: "إِنَّهَا أَوَّلُ جَدَّةٍ أَطْعَمَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُدُسًا مَعَ ابْنِهَا وَابْنُهَا حَيٌّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ وَرَّثَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَدَّةَ مَعَ ابْنِهَا وَلَمْ يُوَرِّثْهَا بَعْضُهُمْ. [1]

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي چې دنوسي په تركه كې دنيا او ددي دځوي دحصو باره كې يې ونيل هغه اولنئ نيا وه چاته چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دهغي دځوي په موجودګئ كې شپږمه حصه وركړي وه او دغه وخت كې دهغي ځوي ژوندي وو

امام ترمذي وايي دا حديث مونږ ته صرف په همدي سند مرفوع رارسيدلي دي، بعضي صحابه كرامو دځوي په موجودګئ كې نيا دميراث مستحقه ګرځولي ده او بعضو مستحقه نه ده ګرځولي

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۹۵۶۵)

****

١٢_ باب مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الْخَالِ

دماما دميراث بيان

ماما دذوي الارحامو نه دي.

٢١٠٣_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حَكِيمِ بْنِ عَبَّادِ بْنِ حُنَيْفٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، قَالَ: كَتَبَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ إِلَى أَبِي عُبَيْدَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " اللَّهُ وَرَسُولُهُ مَوْلَى مَنْ لَا مَوْلَى لَهُ، وَالْخَالُ وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَالْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دابو امامه بن سهل بن حنيف بيان دي امير المؤمنين عمر رضي الله عنه ابوعبيده ته اوليکل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله او دهغه رسول دهغه چا سرپرست دي دچاچي څوك سرپرست نه وي او ماما دهغه چا وارث دي دچاچي څوك وارث نه وي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعائشه، مقدام بن معديکرب رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٢١٠٤_أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْخَالُ وَارِثُ مَنْ لَا وَارِثَ لَهُ ". وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ أَرْسَلَهُ بَعْضُهُمْ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَائِشَةَ، وَاخْتَلَفَ فِيهِ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَرَّثَ بَعْضُهُمُ الْخَالَ وَالْخَالَةَ وَالْعَمَّةَ، وَإِلَى هَذَا الْحَدِيثِ ذَهَبَ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي تَوْرِيثِ ذَوِي الْأَرْحَامِ، وَأَمَّا زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ فَلَمْ يُوَرِّثْهُمْ، وَجَعَلَ الْمِيرَاثَ فِي بَيْتِ الْمَالِ.[2]

ترجمه . دعائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ماما

---

[1] سنن ابن ماجه_ الفرائض ٩ (٢٧٣٧) (تحفة الأشراف : ١٠٣٨٢)

[2] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ١٦١٥٩)

دهغه چا وارث دي دچاچي څوك وارث نه وي

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي بعضي راويانو مرسل نقل كړي دي او دعائشه دواسطي ذكر يي نه دي كړي، او په دي مسئله كي دصحابه كرامو اختلاف دي بعضي دماما او د مور دطرفه ترور دوراثت قائل دي، دذوي الارحامو په توريث كي داكثر اهل علمو همدا رائي ده ليكن زيد بن ثابت رضي الله عنه ددي قائل نه دي هغه په بيت المال كي ددامي ميراث ايخودلو قائل دي

****

١٣_ باب مَا جَاءَ فِي الَّذِي يَمُوتُ وَلَيْسَ لَهُ وَارِثٌ

دهغه چا بيان چي مړ شي او څوك وارث يي نه وي

٢١٠٥_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَصْبِهَانِيِّ، عَنْ مُجَاهِدٍ وَهُوَ ابْنُ وَرْدَانَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ مَوْلًى لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَعَ مِنْ عِذْقِ نَخْلَةٍ فَمَاتَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " انْظُرُوا هَلْ لَهُ مِنْ وَارِثٍ ". قَالُوا: لَا، قَالَ: " فَادْفَعُوهُ إِلَى بَعْضِ أَهْلِ الْقَرْيَةِ ". وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرماني چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم يو ازاد كړي غلام دكجوري دخانښ نه پريوتو او مړ شو نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اوګورئ ايا دده څوك وارث شته؟ صحابه كرامو عرض اوكړو هيڅوك وارث يي نشته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دده مال دده دكلي څه خلقوته وركړئ.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن دي.

****

١٤_ باب

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢١٠٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَوْسَجَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، " أَنَّ رَجُلًا مَاتَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ يَدَعْ وَارِثًا إِلَّا عَبْدًا هُوَ أَعْتَقَهُ، فَأَعْطَاهُ

---

1 - سنن ابي داود_ الفرائض ٨ (٢٩٠٢) . سنن ابن ماجه_ الفرائض ٧ (٢٧٣٣) (تحفة الأشراف : ١٦٣٨١) . و مسند احمد ٦_ ١٣٧، ١٨١

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِيرَاثَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَالعَمَلُ عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ فِي هَذَا البَابِ، إِذَا مَاتَ الرَّجُلُ، وَلَمْ يَتْرُكْ عَصَبَةً أَنَّ مِيرَاثَهُ يُجْعَلُ فِي بَيْتِ مَالِ المُسْلِمِينَ. (1)

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرماني چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي يو كس مړ شو او هيڅ يو وارث يي نه وو پريخودلي مگر علاوه ديو غلام نه كوم چي يي ازاد كړي وو نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم همدي غلام ته دده ميراث وركړو

امام ترمذي وايي : داحديث حسن دي او په همدي داهل علمو عمل دي چي كله يو كس په داسي حال كي مړ شي چي هيڅوك ورنه نه وي پاتي شوي نو دده مال به دمسلمانانو په بيت المال كي جمع كولي شي.

****

۱۵_ باب مَا جَاءَ فِي إِبْطَالِ المِيرَاثِ بَيْنَ المُسْلِمِ وَالكَافِرِ

دمسلمان اوكافر په مينځ كي دميراث دباطل كيدو بيان

۲۱۰۷_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ المَخْزُومِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ. ح وَحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا هُشَيْمٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَرِثُ المُسْلِمُ الكَافِرَ، وَلَا الكَافِرُ المُسْلِمَ". (2)

ترجمه داسامه بن زيد رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي مسلمان دكافر وارث كيدي نشي او نه كافر دمسلمان وارث كيدي شي.

تشريح: اختلاف ددين مانع د ميراث دی مطلب دا دی چي دمړي او وارث دين او مذهب جدا جدا وي ځكه چي نه خو مسلمان دكافر وارث جوړيدي شي او نه كافر دمسلمان وارث جوړيدي شي ځكه چي ددواړو دين جدا جدا دي لكه چي ارشاد نبوي دي: لا يرث المسلمُ الكافرَ ولا الكافرُ المسلمَ.

---

1 سنن ابي داود_ الفرائض ۸ (۲۹۰۵). سنن ابن ماجه_ الفرائض ۱۱ (۲۷۴۱) (تحفة الأشراف: ۶۳۲۶)

2 صحيح البخاري_ المغازي ۴۸ (۴۲۸۳). والفرائض ۲۶ (۶۷۶۴). صحيح مسلم_ الفرائض ۱ (۱۶۱۴). سنن ابي داود_ الفرائض ۱۰ (۲۹۰۹). سنن ابن ماجه_ الفرائض ۶ (۲۷۳۰)

دكفر نه مراد دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دنبوت نه انكار كول دي برابره خبره ده چي ددي سره بي دالله تعالي دالوهيت او وحدانيت نه هم انكار كړي وي او كه نه وي لهذا يهوديت، نصرانيت، مجوسيت، هندو وغيره ټول كفري قومونه دي او ديو ملت پشان دي. الكفر ملة واحدة.

دا رنګي قادياني هم دمسلمان وارث نه شي كيدي او نه مسلمان دقادياني وارث كيدي شي خكه چي دوي هم درسول الله صلي الله عليه وسلم داخري نبي كيدو نه انكار كوي او ملعون مرزا لره نبي ګڼړي البته لكه څرنګه چي مسلمانان پخپل مينځ كي يو دبل وارثان دي دا رنګي كافران هم پخپل مينځ كي يو دبل وارث جوړيدي شي اګر كه دوئ پخپل مينځ كي دمذهب په اعتبار مختلف وي خكه چي زمونږ دين اسلام كفار يو ملت ګرځولي دي او مسلمانان يي جدا ملت ګرځولي دي لهذا يهودي دخپل نصراني رشته دار وارث جوړيدي شي وقص عليه الباقي لهذا ددين جدا جدا كيدل صرف په هغه صورت كي مانع دي كله چي په مړي او وارث كي يو مسلمان وي او بل كافر وي او كافران پخپل مينځ كي يو دبل وارث كيدي شي خكه چي كافران دميراث په باب كي ملت واحده دي لقوله تعالي "والذين كفروا بعضهم اولياء بعض" په اعتبار دعموم سره دا ايت كريمه تمامو كفارو ته شامل دي اګر چي دكتابيه ښځي سره مسلمان نارينه نكاح كولي شي ليكن ددين دمختلف كيدو په وجه نه دوئ ديو دبل وارث كيدي شي او نه بل څوك ددوئ وارث جوړيدي شي مسلمان به دمرتد وارث وي ليكن مرتد به دمسلمان وارث نه وي خكه چي ارتداد په منزله دموت دي نو لكه څرنګه چي مسلمان دخپل رشته دار دهغه دمرګ نه پس وارث وي دا رنګي/مرتد دارتداد نه پس دده وارث وي او دمرتد مالونه به په مسلمانانو وارثانو تقسيمږي لكه څرنګه چي مړي دژوندي وارث كيدي نه شي دا رنګي مرتد هم دكوم مسلمان وارث كيدي نه شي كه چري مرتد قتل كړي شي يا مړ شي يا دارالحرب ته اوتختي نو هر څه چي يي دمسلمانئ په حالت كي ګټلي وي هغه مال به يي په مسلمانانو وارثانو تقسيمولي شي او دارتداد وخت كي چي يي څه ګټلي وي دهغي باره كي دامام ابو حنيفه رائي داده چي دا مال به يي په وارثانو نه تقسيمږي بلكه په بيت المال كي به جمع كولي شي او دمسلمانانو په اجتماعي كارونو به خرچ كيږي دصاحبانو رائي داده چي دا مال به په وارثانو تقسيمږي (فتاوي هنديه)

كه چري يوه ښځه مرتده شي نو ددي مال به ددي په وارثانو تقسيمږي برابره خبره ده چي دا مال يي دمسلمان كيدو په حالت كي ګټلي وي او كه دكفر په حالت كي بهر حال مال به يي په وارثانو تقسيمږي ، (فتاوي هنديه).

فائده بيان دهغه امورو كوم چي دميراث نه محرومونكي نه دي:

(۱) دعمر کم والي يعني دعمر دکموالي په وجه دميراث په حصه کي کمي نه راځي که دمړي يو ځوي ځوان وي. عالم او فاضل او عاقل وي او بل ځو يي د دري ورځو پيء خوړونکي وي نو دواړو ته به په ميراث کي برابره حصه ورکولي شي.

(۲) دويمه نکاح کول دويم خاوند کول ښځي لره دمخکني خاوند دميراث نه دمحروميدو سبب نه جوړيږي ځکه چي دويمه نکاح کول کوم جرم نه دي ځوك چي دويمه نکاح جرم او عار ګڼري نو په دي وجه هغوئ داسي ښځه دخاوند دميراث نه محروموي او بيا دوئ دلوي ګناه مرتکب اوګرځي بغير دکوم شرعي مجبورئ نه وارثان دترکي نه محرومول لويه ګناه ده ارشاد نبوي دي ځوك چي خپل وارث لره محروم کړي او دهغه حصه ختمه يا کمه کړي نو الله تعالي به په جنت کي دهغه حصه او ميراث ختم کړي.

(۳) نافرماني يا بدکاري: په نافرمانه يا بدکاره کيدو سره ځوك دميراث نه محروم کيدي نه شي که يو ځوي دخپل پلار ټول عمر خدمت کړي وي او دويم ورله هيڅ کله خواته نه وي ورغلي بلکه غم او خفګان يي ورته رسولي وي بيابه هم دواړه په ميراث کي برابر حقدار وي اګر که مړي په زباني يا تحريري کاروايئ سره دي دميراث نه محروم کړي هم وي.

(۴) عاق کول. نن سبا چي په اخباراتو کي کومي عاقنامي شائع کيږي او خپل اولاد لره دمنقوله او غير منقوله جائيداد نه دمحرومولو اعلانات کيږي ددي په وجه هغوئ دميراث نه نه محروم کيږي بلکه ددينه پس هم دمخکي ښان وارثان دي دعاقنامي په شريعت کي هيڅ حيثيت نشته دوراثت نه دمحروميدو چي کوم کوم اسباب شريعت خودلي دي دهغي نه علاوه د وراثت نه محرومونکي هيڅ بل سبب نشته بلکه که والدين په ناحقه داسي اوکړي نو سخت ګنهګار به وي اګر که والدين په حقه وي او اولاد نافرمانه وي په داسي قسم عاق نامه په اخلاقي طور سره په والدينو او اولاد ښه اثر نه پريوځي او انسان پخپله دخپل اولاد دنافرمانئ تشهير کوي دکوم په وجه چي دنيك جوړيدو په ځاي ددوئ دمزيد سرکشه کيدو زيات احتمال دي که اولاد نافرمانه وي او هغوئ ته د ميراث ملاويدو په صورت کي داصلاح په ځاي ددوئ نه دلري والي خطره پيدا شي او يا مال لره په حرامو کارونو کي دخرچ کولو يقين او ګمان غالب وي نو په داسي وخت کي فقهاء کرامو ګنجائش ورکړي دي چي په داسي صورت کي مشر اولاد ته ميراث نه ورکول جائز دي ليکن دده دپاره دي دهبي طريقه اختيار کړي شي چي انسان پخپل ژوند کي خپل جائيداد په خوشحالئ او رضا تقسيم کړي او دکوم وارث په باره کي چي دبي لاري کيدو يقين او ګمان وي هغه ته دترکي نه څه ورنکړي او يا ورته په قدر دضرورت ورکړي ليکن ياد ساتل پکار دي چي دا کار به صرف ددنيا دمحفوظ کولو او دده سره دخيرخواهئ کولو په نيت وي او په دي کي به ذاتي انتقام او ذاتي بغض لتولو نيت نه وي ورنه محرومونکي به دمذکوره وعيد مستحق وي البته دميراث نه دمحرومولو مروجه طريقه (عاق کول) شرعا

معتبر نه دي
٥، په مطالبه کي تاخير کول دبعضي فقهاؤ خيال دي که وارث مطالبه اونکړي يا په مطالبه کي تاخير اوکړي نو په دي دهغه حق ساقطوي او حال دادي چي په شريعت کي دا کار درست نه دي وارث که مطالبه اوکړي او که اونکړي په هر حال کي حقدار دي ترڅو چي پخپله دده دطرفه خپله حصه باقي وارثانو ته هبه او معاف شوي نه وي او دهبه کولو او معاف کولو سورة حال واضح شوي نه وي ترهغي به دده حق برقرار وي

****

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ جَابِرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، هَكَذَا رَوَاهُ مَعْمَرٌ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، نَحْوَ هَذَا، وَرَوَى مَالِكٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَحَدِيثُ مَالِكٍ وَهْمٌ، وَهِمَ فِيهِ مَالِكٌ، وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ مَالِكٍ، فَقَالَ: عَنْ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ، وَأَكْثَرُ أَصْحَابِ مَالِكٍ، قَالُوا: عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عُثْمَانَ، وَلَدِ عُثْمَانَ، وَلَا يُعْرَفُ عُمَرُ بْنُ عُثْمَانَ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا الحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ، وَاخْتَلَفَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ فِي مِيرَاثِ المُرْتَدِّ فَجَعَلَ أَكْثَرُ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَغَيْرِهِمُ المَالَ لِوَرَثَتِهِ مِنَ المُسْلِمِينَ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا يَرِثُهُ وَرَثَتُهُ مِنَ المُسْلِمِينَ، وَاحْتَجُّوا بِحَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَرِثُ المُسْلِمُ الكَافِرَ" وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ. [1]

ترجمه : دزهري نه هم په مذکوره سند دماقبل هم معني روايت مروي دي.
امام ترمذي وايي : او په دي باب کي دجابر او عبدالله بن عمرو نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي دارنګي دا روايت متعددو راويانو دزهري نه دماقبل هم معني نقل کړي دي، او امام مالك دزهري نه او هغه دعلي بن حصين نه او هغه دعمر بن عثمان نه داسامه بن زيد په سند دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني نقل کړي او دمالك حديث وهم دي چي مالك په دي کي وهم کړي دي او بعضي راويانو دمالك نه نقل کړي دي او مالك دعمر بن عثمان نه او دمالك اکثرو شاګردانو دمالك په سند دعمر بن عثمان نه چي دعثمان خوي دي نقل کړي دي او عمر بن عثمان مجهول دي او دمحدثينو په دي باندي عمل دي او

[1] ـ صحيح البخاري ـ المغازي ٤٨ (٤٢٨٣)، والفرائض ٢٦ (٦٧٦٤). صحيح مسلم ـ الفرائض ١ (١٦١٤). سنن ابي داود ـ الفرائض ١٠ (٢٩٠٩). سنن ابن ماجه ـ الفرائض ٦ (٢٧٣٠)

بعضي محدثينو په دي کي اختلاف کړي دي په ميراث دمرتد کي ،اکثرو صحابه کرامو دده مال دده دمسلمانانو وارثانو ګرځولي دي مګر بعضي اهل علم واني چي دده مسلمانان وارثان هم دده ميراث نشي اوړلي او هغوئ ددي مسلك دپاره دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په حديث "لايرث المسلم الکافر" باندي استدلال کړي دي او دا دامام شافعي قول هم دي.

****

١٦_ باب لاَ يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ

دمختلفو دينونو والا يو دبل وارث نشي کيدي

٢١٠٨_حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا حُصَيْنُ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لاَ يَتَوَارَثُ أَهْلُ مِلَّتَيْنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لاَ نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ جَابِرٍ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى. [1]

ترجمه : جابر رضي الله عنه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دا فرمان نقل کوي چي مختلفو دينونو والا يو دبل وارث نشي کيدي.

امام ترمذي وايي : دا حديث مونږ ته صرف دابن ابي ليلي په سند رارسيدلي دي او هغه دجابر رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

****

١٧_ باب مَا جَاءَ فِي إِبْطَالِ مِيرَاثِ الْقَاتِلِ

دقاتل دميراث دباطل کيدو بيان

٢١٠٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْقَاتِلُ لاَ يَرِثُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لاَ يَصِحُّ وَلاَ يُعْرَفُ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَإِسْحَاقُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي فَرْوَةَ قَدْ تَرَكَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ، مِنْهُمْ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ الْقَاتِلَ لاَ يَرِثُ كَانَ الْقَتْلُ عَمْدًا أَوْ خَطَأً وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا كَانَ الْقَتْلُ خَطَأً فَإِنَّهُ يَرِثُ وَهُوَ قَوْلُ مَالِكٍ. [2]

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٩٣٨)

[2] _ سنن ابن ماجه_ الديات ١٤ (٢٦٤٥) ، والفرائض ٨ (٢٧٣٥) (تحفة الأشراف : ١٢٢٨٦)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قاتل دمقتول وارث نشي كيدي

امام ترمذي وايي داحديث صحيح نه دي او دا صرف په همدي سند معروف دي. اسحاق بن عبدالله بن ابي فروه بعضي محدثينو ترك كړي دي چي يو په هغوئ كي احمد بن حنبل دي. داهل علمو په دي حديث عمل دي چي قاتل دمقتول وارث نشي كيدي برابره خبره ده چي قتل عمد وي او كه خطا وي، مګر بعضي اهل علم وائي كله چي قتل خطاوي نو دي صورت كي به قاتل دمقتول وارث وي.

****

١٨_ بَاب مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الْمَرْأَةِ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا

دخاوند په ديت كي دښځي دوراثت بيان

٢١١٠_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ: الدِّيَةُ عَلَى الْعَاقِلَةِ، وَلَا تَرِثُ الْمَرْأَةُ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا شَيْئًا، فَأَخْبَرَهُ الضَّحَّاكُ بْنُ سُفْيَانَ الْكِلَابِيُّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَيْهِ: "أَنْ وَرِّثِ امْرَأَةَ أَشْيَمَ الضِّبَابِيِّ مِنْ دِيَةِ زَوْجِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دعمر رضي الله عنه بيان دي ديت په عاقله واجب دي او ښځه به دخاوند په ديت كي دهيڅ څيز وارثه نه وي ددي خبري په اوريدو باندي ضحاك بن سفيان كلابي رضي الله عنه عمر رضي الله عنه ته اووئيل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته ليكلي وو داشيم ضبابي ښځي ته دهغي دخاوند په ديت كي حصه وركړه.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.

****

١٩_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الأَمْوَالَ لِلْوَرَثَةِ وَالْعَقْلَ عَلَى الْعَصَبَةِ

متروكه مال دوارثانو حق دي او ديت په عصبه دي

٢١١١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَضَى فِي جَنِينِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي لِحْيَانَ سَقَطَ مَيِّتًا بِغُرَّةٍ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ.

ثُمَّ إِنَّ الْمَرْأَةَ الَّتِي قُضِيَ عَلَيْهَا بِالْغُرَّةِ تُوُفِّيَتْ، فَقَضَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ مِيرَاثَهَا لِبَنِيهَا وَزَوْجِهَا، وَأَنَّ عَقْلَهَا عَلَى عَصَبَتِهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى يُونُسُ هَذَا الحَدِيثَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، وَأَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَرَوَاهُ مَالِكٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَمَالِكٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلٌ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبني لحيان قبيلي ديوي ښځي په باره کي چي حمل يي غورځيدلي وو په يو غره يعني غلام يا وينځه باندي فيصله کړي وه (او حمل غورځونکي مجرمه يوه ښځه وه) بيا چي دکومي ښځي باره کي فيصله شوي وه هغې ته په طور د ديت غره ورکړي شوي وه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم فيصله اوکړه چي ددي ښځي ميراث به ددي په ځامنو او خاوند باندي تقسيمېږي او په دي باندي عائد شوي ديت به ددي په عصبه لازميږي.

امام ترمذي وايي : يونس هم دا حديث عن الزهري عن سعيد بن المسيب وابي سلمة عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره ددي هم معني نقل کړي دي، مالك دا حديث عن الزهري عن ابي سلمة عن ابي هريرة سند سره نقل کړي دي او مالك چي عن الزهري عن سيد بن مسيب عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره کوم حديث نقل کړي دي هغه مرسل دي.

****

٢٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي مِيرَاثِ الَّذِي يُسْلِمُ عَلَى يَدَيِ الرَّجُلِ

دهغه چا دميراث بيان څوک چي دچا په لاس مسلمان شوي وي

٢١١٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، وَابْنُ نُمَيْرٍ، ووكيع، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا السُّنَّةُ فِي الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ الشِّرْكِ يُسْلِمُ عَلَى يَدَيْ رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هُوَ أَوْلَى النَّاسِ بِمَحْيَاهُ وَمَمَاتِهِ ". قَالَ أَبُو

---

1. صحيح البخاري ـ الفرائض ١١ (٦٧٤٠)، والديات ٢٦ (٦٩٠٩، ٦٩١٠)، صحيح مسلم ـ القسامة (الحدود) ١١ (١٦٨١)، سنن ابي داود ـ الديات ٢١ (٤٥٧٦)، سنن النسائي ـ القسامة ٣٩ (٤٨٢١) (تحفة الأشراف: ١٣٢٢٥)، و مسند احمد (٢ـ ٢٣٦، ٥٣٩) (وانظر ماتقدم برقم ١٤١٠)

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ وَهْبٍ، وَيُقَالُ: ابْنُ مَوْهَبٍ، عَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ، وَقَدْ أَدْخَلَ بَعْضُهُمْ بَيْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ وَهْبٍ، وَبَيْنَ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ قَبِيصَةَ بْنَ ذُؤَيْبٍ وَلَا يَصِحُّ، رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ حَمْزَةَ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عُمَرَ، وَزَادَ فِيهِ قَبِيصَةَ بْنَ ذُؤَيْبٍ وَهُوَ عِنْدِي لَيْسَ بِمُتَّصِلٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ، عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: يُجْعَلُ مِيرَاثُهُ فِي بَيْتِ الْمَالِ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَاحْتَجَّ بِحَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّ الْوَلَاءَ لِمَنْ أَعْتَقَ".[1]

ترجمه . دتميم داري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دهغه مشرك باره كي سوال اوكړو كوم چي دكوم مسلمان په لاس مسلمان شوي وي رسول الله اوفرمائيل هغه مسلمان دنوي مسلمان شوي انسان دزندګئ او مرګ باره كي دنورو خلقو نه زيات حقدار دي ،دا حديث مونږ صرف دعبدالله بن وهب په روايت پيژنو او ده ته ابن موهب هم وئيلي شي او دي دتميم داري شاګرد دي بعضي راويانو دعبدالله بن وهب او تميم داري په مينځ كي قبيصه بن ذويب داخل كړي دي او دا سند صحيح نه دي، يحي بن حمزه دعبدالعزيز بن عمر نه دا حديث نقل كړي دي او په سند كي يي دقبيصه بن ذويب اضافه كړي ده دبعضي اهل علمو په همدي حديث عمل دي مګر زما په نزد ددي روايت سند متصل نه دي، دبعضو علماؤ قول دي چي دداسي كس ميراث به بيت المال ته وركولي شي دامام شافعي هم دا قول دي او هغوئ درسول الله صلي الله عليه وسلم ددي فرمان "الولاء لمن اعتق" نه استدلال كړي دي.

تخريج : صحيح البخارى_ الفرائض ٢٢ (تعليقات في ترجمة الباب) سنن ابى داود_ الفرائض ١٣ (٢٩١٨) . سنن ابن ماجه_ الفرائض ١٨ (٢٧٥٢) (تحفة الأشراف : ٢٠٥٢) . و مسند احمد (٤_ ١٠٢، ١٠٣) . وسنن الدارمى_ الفرائض ٣٤ (٣٠٧٦)

****

٢١_ باب مَا جَاءَ فِي إِبْطَالِ مِيرَاثِ وَلَدِ الزِّنَا

دحرامي دميراث دباطل كيدو بيان

٢١١٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَيُّمَا رَجُلٍ عَاهَرَ بِحُرَّةٍ أَوْ أَمَةٍ، فَالْوَلَدُ وَلَدُ زِنًا لَا يَرِثُ وَلَا يُورَثُ". قَالَ أَبُو

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢١٨٤)

عِيسَى: وَقَدْ رَوَى غَيْرُ ابْنِ لَهِيعَةَ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ: أَنَّ وَلَدَ الزِّنَا لَا يَرِثُ مِنْ أَبِيهِ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي دكومي ازادي ښځي يا وينځي سره زنا اوكړي نو ددينه پيدا شوي بچي به ولد الزنا وي نه به هغه دده وارث وي او نه به دي دهغه وارث وي (يعني دزناكار).

امام ترمذي وايي : دابن لهيعه نه علاوه نورو راويانو هم دا حديث دعمرو بن شعيب نه نقل كړي دي، او داهل علمو په همدي باندي عمل دي چي ولدالزنا دخپل پلار ميراث نشي اخستلى.

****

٢٢_ باب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَرِثُ الْوَلاَءَ

دولاء وارث به څوك وي

٢١١٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَرِثُ الْوَلَاءَ مَنْ يَرِثُ الْمَالَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي ولاء صرف دهغه چا حق دي څوك چي دمال وارث وي.

امام ترمذي وايي : ددي حديث سند قوي نه دي.

****

٢٣_ باب مَا جَاءَ مَا يَرِثُ النِّسَاءُ مِنَ الْوَلاَءِ

په ولاء كي دښځو دميراث بيان

٢١١٥_حَدَّثَنَا هَارُونُ أَبُو مُوسَى الْمُسْتَمْلِيُّ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ رُؤْبَةَ التَّغْلِبِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْوَاحِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ النَّصْرِيِّ، عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمَرْأَةُ تَحُوزُ ثَلَاثَةَ مَوَارِيثَ: عَتِيقَهَا، وَلَقِيطَهَا، وَوَلَدَهَا الَّذِي لَاعَنَتْ

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٦٣٢)

2 _ سنن ابي داود_ الفرائض ٩ (٢٩٠٦) . سنن ابن ماجه_ الفرائض ١٣ (٢٦٢٢) (تحفة الأشراف : ١١٦٢٢)

عَلَيْهِ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا يُعْرَفُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ حَرْبٍ. (١)

ترجمه : دواثله بن اسقع رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ښځي دري قسمه ميراث راجمع کوي دځپل ازاد کړي غلام ميراث، دهغه هلك ميراث کوم چي دوئ دلاري نه پورته کړي وي او پرورش يي کړي وي، او دهغه هلك ميراث کوم چي يي دلعان نه پس دخان سره وړي وي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن غريب دي او دا حديث صرف په همدي سند دمحمد بن حرب په روايت مشهور دي.

تشريح: فضيلت او اهميت دعلم ميراث

علم ميراث انتهائي اهم ترين علم دي ددي علم داهميت اندازه ديته ددي خبري نه کيږي چي الله تعالي تمام احکام په اجمالي طور نازل کړي دي او ددي احکامو تفصيل يي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته سپارلي دي ليکن علم ميراث يو داسي علم دي دکوم چي تمام تفصيلات (کليات او جزئيات) الله تعالي پخپله بيان کړي دي ددينه هم ددي علم داهميت او مهتم بالشان کيدو اندازه لګي چي الله تعالي په قوانين يو ميراث عمل کونکو دپاره دجنت بشارت ورکړي دي او دخلاف کونکو دپاره يي دجهنم وعيد بيان کړي دي لکه چي ارشاد الهي دي

وَقَالَ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى: تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (النساء: ١٣)

وَقَالَ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى: وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ (النساء: ١٤)

ددينه علاوه رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي علم فضيلت او اهميت په مختلفو وختونو کي په وضاحت سره بيان کړي دي او ددي زدکړي او خودلو ته يي ترغيب ورکړي دي چنانچي ارشاد نبوي دي:

(١) "تعلم الفرائض فانها نصف العلم" (ابن ماجه: ٢٧١٩)

(٢) "تعلموا الفرائض وعلموها الناس فانه نصف العلم وانه ينسى هو اول ما ينزع عن امتي.

علم فرائض زده کړئ او خلقو ته يي اوښايئ ځکه چي دا نيم علم دي او بيشکه چي دا هيريږي زما په امت کي به دخلقو نه دټولو نه ړومبي دا علم پورته کيږي (ابن ماجه)

١

(٣) "تعلم الفرائض واللحن والسنن كماتعلمون القران"
تاسو فرائض په دومره اهتمام سره زده کړئ څنګه چي قران زده کوئ
(٤) روي الدارمي مرفوعاً عن عمر: عمر بن الخطاب : تعلموا الفرائض واللحن والسنن كما تعلمون القرآن . قال حسين سليم أسد : إسناده صحيح وهو موقوف على عمر رضي الله عنه.
دارمي دعمر رضي الله عنه روايت نقل کړي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل فرائض په دومره اهتمام سره زده کړئ څنګه چي تاسو قران زده کوئ
وفي رواية: تعلموا الفرائض فانها من دينكم ،
په يو روايت کي دا الفاظ مروي دي چي تاسو فرائض زده کړئ خکه چي دا ستاسو ددين حصه ده (سنن الکبري للبيهقي).
(٥) عن ابن مسعود رضي الله عنه مرفوعاً: من قرأ القران فليتعلم الفرائض.
دعبدالله ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي اله عليه وسلم اوفرمائيل څوک چي قران لولي هغوئ دي فرائض هم زده کړي.
(٦) روي الدارمي في باب الاقتداء بالعلماء: عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال لي رسول الله صلي الله عليه وسلم: تعلموا العلم وعلموه الناس تعلموا الفرائض وعلموه الناس فاني امرء مقبوض والعلم يسقبض ويظهر الفتن حتي يختلف اثنان في فريضة لا يجد احدا يفصل بينهما"
دارمي په باب الاقتداء بالعلماء کي دابن مسعود رضي الله عنه نه روايت نقل کړي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو پخپله هم فرائض زده کړئ او خلقو ته يي هم اوښائي خکه چي زه هم ددي دنيا نه تلونکي يم خو عن قريب به داسي فتني به ښکاره شي چي د دوه کسانو دترکي په مسئله کي به جګړي شروع شي او دوئ به داسي څوک نه شي موندلي چي ددوئ دواړو په مينځ کي فيصله اوکړي.
(٧) عن ابي هريرة رضي الله عنه مرفوعاً: وان مثل العالم الذي لا يعلم الفرائض كمثل البرنس لا رأس له. دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي هغه عالم کوم چي په فرائضو نه پوهيږي داسي دي لکه بغير سر نه چي ټوپئ وي (يعني دفرائضو نه بغير علم بي رونقه او بي زينته بلکه بيکاره وي.
(٨) دابن عباس رضي الله عنهما قول دي څوک چي په مسائلو دحج او په مسائلو دطلاق او په مسائلو د فرائضو نه پوهيږي نو داسي کس ته په جاهلانو هيڅ فضيلت حاصل نه دي

خلاف شريعت دميراث په تقسيم وعيدونه

قران او سنت چي هر چرته داسلامي طريقي مطابق تقسيم دوراثت ته غير معمولي اهميت وركړي دي نو هلته يي دشريعت مطابق دميراث نه تقسيمونكو دپاره وعيدونه هم بيان كړي دي لكه چي فرمان الهي دي:

(۱) وَآتُوا الْيَتَامَى أَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ بِالطَّيِّبِ وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَهُمْ إِلَى أَمْوَالِكُمْ إِنَّهُ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا (النساء:۲)

(۲) إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا (النساء:۱۰)

(۳) وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ (البقرة:۱۸۸).

(۴) إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ (النساء:۵۸)

(۵) وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَمًّا (۱۹) وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا (الفجر:۲۰)

په دي باب كي بعضي نور ايتونه هم شته خو دطوالت نه دبچ كيدو په وجه صرف په مذكوره ايتونو اكتفاء شوي ده ددينه علاوه دميراث دخلاف شريعت تقسيم په باره كي بي شميره احاديث وارد دي دكومو نه چي يو څو په طور داستشهاد پيش خدمت دي:

(۱) عن أنس من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة (ابن ماجة).

(۲) عن سالم عن ابن عمر قال قال النبي {صلى الله عليه وسلم} من أخذ من الأرض شبراً بغير حقه خسف به يوم القيامة إلى سبع أرضين.

(۳) عَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيه وسَلَّم، يَقُولُ: أَيُّمَا رَجُلٍ ظَلَمَ شِبْرًا مِنَ الأَرْضِ، كَلَّفَهُ اللهُ أَنْ يَحْفِرَهُ حَتَّى يَبْلُغَ آخِرَ سَبْعِ أَرَضِينَ، ثُمَّ يُطَوِّقَهُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ حَتَّى يَقْضِيَ بَيْنَ النَّاسِ.

په ژوندكي كي دميراث تقسيمولو طريقه

كه په ژوندكي كي څوك خپل مال او جائيداد وغيره پخپل اولاد كي تقسيمول غواړي نو ده لره پكار دي چي تمام وارثان راجمع كړي او پخپله خوښه چي چاته څومره وركول غواړي هغه هومره دي ورته وركړي خو هيڅ يو وارث به نه محروموي او دا وركړه به دده دطرفه هبه (تحفه) وي په شرعي اعتبار سره ديته څوك دميراث تقسيم نه شي ونيلي دميراث دتقسيم په وخت كي اګر چي خامنو ته دلونړو په نسبت ددوچند حصي وركولو حكم دي ليكن كه په ژوندكي كي څوك خپل جائيدا په لونړو خامنو كي تقسيمول غواړي نو فقهاء كرامو ددوي په مينځ كي مساوات او برابري مستحب ګرځولي دي ځكه چي دا هبه ده او په هبه كي يو ته كم وركول او

بل ته زيات ورکولو سره حق تلفي کيږي لهذا په مساوات عمل کول پکار دي
(تيسير السراجي)

****

كتاب الوصايا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

دوصيتونو احکام او مسائل

بغير دوارثانو درضا نه دکوم وارث په حق کې دوصيت کولو په عدم جواز باندي اجماع منعقده شوي ده ، اوهمدارنګي دائمه اربعه اود جمهور اهل علمو پدي باندي اتفاق دي چي دغير وارث دپاره وصيت واجب ندي، اودزهري اود ابوبکر حنبلي نه اودبعضي داهل ظواهرونه چي کوم مروي دي چي په رشته دارانو کې چي څوك وارث نه وي دهغوي دپاره وصيت واجب دي ، دي لره څه اعتبار نشته خکه چي داقول دجمهورو دقول نه سراسر خلاف دي ، هرکله چي اجماع ثابته شوه نو داخبره معلومه شوه چي دسلفوسره به پدي باره کې ضرور کوم قطعي دليل وي دکوم په وجه چي هغوئ صريح کتاب الله پريخودلي دي او که داسي نه وي نوهرګز به ئي نه وو پريخودلي اګرچي هغه ناسخ مونږ ته په کومي معتبري طريقي سره معلوم نه دي

دابو امامه باهلي رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دحجة الوداع په خطبه کې فرمائيل: بيشکه الله تعالي هر حقدار ته خپل حق ورکړي دي نوپه دي وجه باندي اوس دوارث دپاره وصيت کول نشته . (احمد اوترمذي او نسائي او ابن ماجه)

او ابن ماجه دمجاهد نه روايت نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي دوارث دپاره وصيت نشته (دار قطني)

اوهمدارنګي دار قطني دعمرو بن شعيب نه او هغه دخپل پلار نه اوهغه دده دنيکه نه روايت نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي دوارث دپاره علاوه داجازت دوارثانونه وصيت کول نشته.

داتمام احاديث په دي خبره دلالت کوي چي دا ايت په حق دوارثانو کې منسوخ دي.

****

١_ باب مَا جَاءَ فِي الوَصِيَّةِ بِالثُّلُثِ

په ثلث (دريمه حصه مال) دوصيت کولو بيان

٢١١٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: مَرِضْتُ عَامَ الفَتْحِ مَرَضًا أَشْفَيْتُ مِنْهُ عَلَى المَوْتِ. فَأَتَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لِي مَالًا كَثِيرًا، وَلَيْسَ يَرِثُنِي إِلَّا ابْنَتِي أَفَأُوصِي بِمَالِي كُلِّهِ، قَالَ: "لَا". قُلْتُ: فَثُلُثَيْ مَالِي، قَالَ: "لَا". قُلْتُ: فَالشَّطْرُ، قَالَ: "لَا". قُلْتُ: فَالثُّلُثُ، قَالَ: "الثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ، إِنَّكَ إِنْ تَدَعْ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ، خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَدَعَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ، وَإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً إِلَّا أُجِرْتَ فِيهَا حَتَّى اللُّقْمَةَ تَرْفَعُهَا إِلَى فِي امْرَأَتِكَ". قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أُخَلَّفُ عَنْ هِجْرَتِي، قَالَ: "إِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ بَعْدِي فَتَعْمَلَ عَمَلًا تُرِيدُ بِهِ وَجْهَ اللَّهِ إِلَّا ازْدَدْتَ بِهِ رِفْعَةً وَدَرَجَةً وَلَعَلَّكَ أَنْ تُخَلَّفَ حَتَّى يَنْتَفِعَ بِكَ أَقْوَامٌ وَيُضَرَّ بِكَ آخَرُونَ، اللَّهُمَّ أَمْضِ لِأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ، وَلَا تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ، لَكِنِ الْبَائِسُ سَعْدُ ابْنُ خَوْلَةَ يَرْثِي لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّهُ لَيْسَ لِلرَّجُلِ أَنْ يُوصِيَ بِأَكْثَرَ مِنَ الثُّلُثِ، وَقَدِ اسْتَحَبَّ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يَنْقُصَ مِنَ الثُّلُثِ لِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ. (1)

ترجمه : دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زه دفتح مكه په كال داسي سخت بيمار شوم چي مرګ ته ورسيدم او رسول الله صلي الله عليه وسلم زما عيادت ته راغي ما عرض اوكړو اي دالله رسوله زما سره ډير زيات مال دي او ديوي جيني نه علاوه زما بل څوك وارث نشته ايا زه ددي دپاره دخپل ټول مال وصيت اوكړم؟ رسول الله اوفرمائيل نه ما عرض اوكړو چي ايا ددوه ثلثونو دمال وصيت دهغي دپاره اوكړم نو ويي فرمائيل نه ما بيا عرض اوكړو ايا دنيم مال وصيت اوكړم نو ويي فرمائيل نه ما بيا عرض اوكړو چي ديو ثلث وصيت اوكړم؟ نو ويي فرمائيل دثلث وصيت اوكړه او ثلث هم دهغي دپاره ډير دي، او ته چي خپل وارثان مالدار پريږدي دا ددينه بهتره ده چي محتاج يي پريږدي چي بيا يي ستا نه پس خلقو ته لاسونه نيولي وي (او سوال ورنه كوي) ته چي هر څه خرچ كوي تاته په هغي ضرور اجر ملاويږي تردي پوري چي كومه لقمه ته دخپلي ښځي په خوله كي اچوي په هغي درته هم اجر ملاويږي ما عرض اوكړو اي دالله رسوله چي زه به دهجرت نه روسته پاتي شم نبي عليه السلام اوفرمائيل كه چري دهجرت نه روسته پاتي شي (نوښه خبره ده) الله درضادپاره نيك عمل به وكړي

1 - بخاري كتاب الجنائز باب مرثاء النبي صلي الله عليه وسلم سعد بن خوله رضي الله عنه وكتاب الوصايا باب ان يترك ورثة اغنياء. مسلم كتاب الوصية باب الوصية بثلث مؤطا مالك. مسند احمد. ابوداود. ترمذي. نسائي. ابن ماجه. ابن حبان. طيالسي. دارمي. بيهقي..

اوستامرتبه به نوره هم لوړه شي اوكيدېى شي چي ژوندى پاتي شي تردي پوري ستاپه وجه به خلقو ته فائده ورسيږي اوځه نورخلق به ستاپه وجه باندي نقصاني شي ددينه پس نبي عليه السلام دا دعاوغوښتله اي الله زمادملګرو هجرت مكمل كړي اودوي ددي هجرت نه واپس نكړي، ليكن بى وسه اومجبوره سعد بن خوله دى چي رسول الله(ص) ورباندي ماتم كوي.ځكه چي هغه په مكه كي وفات شوى وو.

امام ترمذي وايي په دي باب كي دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي او دا حديث دسعد بن ابي وقاص نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي چي ديو سړي دپاره دثلث نه په زيات مال باندي وصيت كول پكار نه دي علماؤ مستحب ګڼرلي دي چي دثلث نه هم په كم باندي وصيت اوكړي درسول الله صلي الله عليه وسلم ددي قول په وجه چي "والثلث كثير"

لغات: يعودني : تعود تعودا د مريض بيمار پرسي كول.

"وجع" وجع وجعا باب فتح په معني د درد دى

"اشتد" اشتد عليه المرض معني داده چي مرض يى سخت شو

"بلغ" بلغ بلوغا نصر باب دى په معني درسيدلو

"يرثني ورث ورثا باب حسب دى په معني دوارث كيدو.

"فالشطر" شطر شطرا دباب نصر نه معني يى كوم څيز لره په دوه برابرو حصو تقسيمول.

"يتكففون" كفف تكففا تفعل باب دى معني يى طلب كول دي.

تشريح "جاءني رسول الله صلي الله عليه وسلم يعودني" يعني رسول الله زما دعيادت دپاره راغى، عيادت كول درسول الله صلي الله عليه وسلم عملي سنت دي ، لكه چي په يو حديث كي راغلي دي :

"عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم من توضأ فأحسن الوضوء وعاد اخاه المسلم ابعده الله من جهنم ستين خريفا.

دانس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چاچي په ښه شان سره اودس اوكړو او بيايى دخپل مسلمان ورور عيادت اوكړو نو دى به دجهنم نه داويا خريفو په فاصله لري كړى شي

"فالثلث يا رسول الله قال الثلث" يعني اى دالله رسوله دمال د دريمي حصي وصيت به اوكړم ورته يي اوفرمائيل هو، د دريمي حصي وصيت كولى شي، ددي حديث نه علماؤ استدلال كړى دى چي دمرګ په وخت كي يوسړى پخپل مال كي د دريمي حصي نه ضافي وصيت نشي كولى علماؤ ليكلي دي كه چري دا مريض چي د دريمي حصي نه يى دزيات وصيت كړى وي

او په دي مرض کې مړ شي نو په دي صورت کې به دوارثانو حق تلفي وي اوکه ژوندی پاتي شو نو بیابه دی خالي لاس پاتي شي او په قران کریم کې ددینه منع راغلي ده لکه چي الله تعالیٰ فرمائیلي دي "ولا تبسطها كل البسط فتقعد ملوماً محسورا" یعني لاسونه به بالکل نه پراخوي هسي نه چي قابل دملامتیا او محتاج پاتي شي.

"حتي ماتجعل في في امرأتك" تردي چي ته یوه نوړۍ خپلي ښځي ته په خوله کې ورکړي، په دي حدیث کې دخیر دامورو په ضمن کې مثال ورکولي شي چي که څوك یوه نوړۍ دخپلي ښځي په خوله کې ورکړي په هغې هم اجر ملاویږي ، په یوه داسي موقعه چي کله یو صحابي تعجب وکړو نو رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل: که چري دا په حرامه طریقه وکړي نو گناه به وي نو چي کله یي په جائزه طریقه وکړل نو په دي کې به ثواب ولي نه وي، ددینه معلومه شوه چي که سړي په شپه ورځ کې هم خپلي طبعي تقاضي او خواهشونه پوره کوي نو پدغه وخت کې دي په زړه کې دا اراده وکړي چي مونږ دا کار صرف په دي وجه کوو چي الله جل جلاله زمونږ دپاره حلال او جائز کړی دي . نو په داسي نیت کولوسره دسړي تمام کارونه عبادت گرځي.

"ولعلك تخلف حتي ينتفع بك اقوام ويضر بك اخرون" یعني که تاته مزید ژوند در کړي شي نوځه کسان به درنه فائده واخلي اوځه کسان به درنه ضرر پورته کړي.

" اللهم امض لاصحابي هجرتهم" یعني اي الله زما دصحابه کرامو هجرت جاري وساتي، په ابتداء داسلام کې دمکي نه مدیني ته دهجرت ډیر فضیلت بیان شوي وو نوپه دي وجه وروسته هم صحابه کرام دمدیني نه مکي ته لاتړل اوغرض یي دا وو چي چرته هجرت مو خراب نشي ، دحج او عمري په وخت کې به هم صحابه کرام ویریدل چي په مکه کې چرته مړه نشو اوپه هجرت کې مو کمي رانشي.

"لكن البائس سعد بن خولة" ددي ځاي نه دراوي دخولي جمله شروع کیږي ، اودرسول الله جمله ددینه مخکې ختمیږي ، د راوي نه مراد امام زهري دي اود بعضو په نزد دسعد رضي الله عنه غلام دي

"ان مات بمكة" دسعد بن خوله رضي الله عنه په باره کې دبعضي علماؤ رائي داده چي هغه دمکي نه مدیني ته هجرت نه وو کړی او دبعضو رائي داده چي دغزوه بدر نه پس دوباره مکي ته تلی وو اودبعضو په نزد په حجة الوداع کې موجود وو او هم هلته وفات شوی وو همدارنگي ددینه علاوه داسي نور اقوال هم شته خو بهر حال سعد بن خوله رضي الله عنه په مکه کې وفات شوی وو اوهمداوجه ده چي رسول الله صلي الله علیه وسلم دده دپاره دعاغوښتلي وه.

د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د ژوند کې مختصر مناقب

دده نوم سعد او کنيه ابو اسحاق او دپلار نوم مالك چي کنيه يي ابو وقاص وه او دمور نوم يي حمنه وو په رشته کې درسول الله په ماماخيلو کې راتلو (اسد الغابه ۲۹۱/۲) دنولسو کالو په عمر کې دصديق اکبر رضي الله عنه سره دربار نبوت ته حاضر شو او مسلمان شو او دمکي نه يي مديني ته هجرت اوکړو او دخپل ورور عقبه بن ابي وقاص په کور کې يي اوسيدل شروع کړل (طبقات ابن سعد ۹۹/۳) دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره يي په ډيرو غزواتو کې شرکت کړی وو او دعشره مبشره نه و ، عشره مبشره لس صحابه وو کوم چي عراقي په دي شعر کې جمع کړي دي .

وافضل اصحاب نبي مكانة	ومنزلة من بشر واعنان
سعيد زبير سعد عثمان عامر	علي ابن عوف طلحه الحران

په غزوه احد کې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي وو "ارم ياسعد فداك ابي وامي" بخاري کتاب المغازي باب غزوه احد)
دا جمله دسعد دپاره دډير فخر او فضيلت خبره ده او همدا جمله نبي کريم صلي الله عليه وسلم په يو بله موقعه کې دطلحه او زبير رضي الله عنهما دپاره هم فرمانيلي وه.
عمر رضي الله عنه دکوفي والي مقرر کړی وو ليکن وروسته يي معزول کړو مګر عثمان رضي الله عنه دوباره بحال کړو.
وفات سعد په اخري وخت کې عقيق مقام ته لاړو کوم چي دمديني نه په لس ميله فاصله کې پروت دی او هلته د ۵۵ کالو په عمر کې وفات شو.
مرويات: دابن جوزي په قول دده دمروياتو تعداد ۲۷۱ دی چي ۲۵ په بخاري او مسلم دواړو کې دي

****

٢ـ باب مَا جَاءَ فِي الضِّرَارِ فِي الْوَصِيَّةِ

په وصيت باندي وارثانو ته د نقصان ورکولو دمما نعت بيان

٢١١٧ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ وَهُوَ جَدُّ هَذَا النَّصْرِ، حَدَّثَنَا الأَشْعَثُ بْنُ جَابِرٍ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ حَدَّثَهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ الرَّجُلَ لَيَعْمَلُ وَالْمَرْأَةُ بِطَاعَةِ اللَّهِ سِتِّينَ سَنَةً، ثُمَّ يَحْضُرُهُمَا الْمَوْتُ فَيُضَارَّانِ فِي الْوَصِيَّةِ فَتَجِبُ لَهُمَا النَّارُ ". ثُمَّ قَرَأَ عَلَيَّ أَبُو هُرَيْرَةَ: مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ

يُوصَىٰ بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ وَصِيَّةً مِنَ اللهِ إِلَى قَوْلِهِ وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (النساء : ١٢-١٣). قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وَنَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الَّذِي رَوَى عَنْ الْأَشْعَثِ بْنِ جَابِرٍ هُوَ جَدُّ نَصْرِ بْنِ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيِّ. ([1])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يو سړي او يوه ښځه دشپيته کالو پوري دالله تعالي اطاعت کوي خو چي ددوئ دمرګ وخت راشي نو په وصيت باندي وارثانو ته نقصان ورسوي او ددي په وجه ددوئ دواړو دپاره جهنم واجب شي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ايت کريمه " مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَىٰ بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ وَصِيَّةً مِنَ اللهِ إِلَى قَوْلِهِ وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ " تلاوت کړو.

امام ترمذي وايي : دا حديث حسن صحيح غريب دي او نضر بن علي چي داشعث بن جابر نه يي روايت نقل کړي دي دنضر بن علي جهضمي په اولاد کي يو فرد دي.

****

٣_ باب مَا جَاءَ فِي الْحَثِّ عَلَى الْوَصِيَّةِ

دوصيت کولو داهميت بيان

٢١١١_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ وَلَهُ مَا يُوصِي فِيهِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. ([2])

ترجمه . دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديو مسلمان سره لائق نه دي چي دي دوه شپي په داسي حالت کي تيري کړي چي دي څه وصيت کول غواړي او دده سره تحريري وصيت نامه ليکلي موجود نه وي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او دا حديث عن الزهري عن سالم عن ابن عمر عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره هم مروي دي.

تشريح : **فائده وصيت اجماعا سنت مؤکده دي**

---

[1] - ابي داود_ الوصايا ٣ (٢٨٦٧)، ابن ماجه_ الوصايا ٣ (٢٧٠٣) (تحفة الأشراف : ١٣٤٩٥)

[2] - انظر حديث رقم ٩٧٤ (تحفة الأشراف : ٧٥٢٠)

لقوله عَلَيْهِ السَّلَام ما حق امرء مسلم له شيء يوصي فيه يبيت ليلتين الا ووصية مكتوبة عنده.
ولقوله عَلَيْهِ السَّلَام : من مات علي وصية مات علي سبيل وسنة ومات علي تقيٍّ وشهادة ومات مغفوراً له.

څلورم حق پورتنودري حقوقو ته حقوق متقدمه علي الارث ونيلي شي ددي دري وارو حقونو ترتيب وار ادائيکي نه پس چي کوم مال پاتي شي دا ترکه ده دا به دوارثانو په مينځ کي دمقررات شرعيه حصو مطابق تقسيمولي شي او وارث هغه څوک وي دچا وارث کيدل چي په کتاب الله ثابت وي لکه اصحاب الفروض او دچا وارث کيدل چي په سنت ثابت وي لکه جده څکه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم هغي ته ثلث ورکړي وو الحاقا بالام کما رواه ابو سعيد الخدري، دسنت نه مراد دادي چي حصه يي رسول الله مقرر کړي وي او دچا وارث کيدل چي په اجماع سره ثابت وي لکه.

کجعل الجد کالاب والجدة کالام وابن الابن کالابن وبنت الابن کالبنت الصلبية والاخ لاب کالشقيق والاخت لاب کالشقيقة ثم يقسم الباقي بينه وبين ورثته بالکتاب والسنة واجماع الامة. هم دا بنکاره او سرګند مطلب دي.(تيسير السراجي)

****

٤ـ باب مَا جَاءَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يُوصِ

رسول الله صلي الله عليه وسلم کوم مالي وصيت نه وو کړي

٢٠١٩ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا أَبُو قَطَنٍ عَمْرُو بْنُ الْهَيْثَمِ الْبَغْدَادِيُّ. حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ. عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ. قَالَ: قُلْتُ لِابْنِ أَبِي أَوْفَى: أَوْصَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَ: لَا . قُلْتُ: كَيْفَ كُتِبَتِ الْوَصِيَّةُ وَكَيْفَ أَمَرَ النَّاسَ ؟ قَالَ: " أَوْصَى بِكِتَابِ اللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ. ([1])

ترجمه . دطلحه بن مصرف بيان دي فرمائي چي ما دعبدالله بن ابي اوفي رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چي ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم (دوفات کيدو وخت کي) کوم وصيت کړي

[1] ـ صحيح البخاري_ الوصايا ١ (٢٧٤٠) . والمغازي ٨٣ (٤٤٦٠) . وفضائل القرآن ١٨ (٥٠٢٢) . صحيح مسلم_ الوصايا ٥ (١٦٣٤) . سنن ابن ماجه_ الوصايا ٢ (٣٦٥٠) . سنن ابن ماجه_ الوصايا ١ (٢٦٩٦) . (تحفة الأشراف : ٥١٧٠) . و مسند احمد (٤_ ٣٥٤. ٣٥٥. ٣٨١)

وو؟ هغه اوونيل نه، ما بيا تپوس اوكړو چي بيا وصيت څنګه اوليكلي شي او خلقو ته يي دځه ځيز حكم اوكړو عبدالله بن ابي اوفي اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم دالله تعالي په كتاب دعمل كولو وصيت اوكړو.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح غريب دي مونږ ته صرف دمالك بن مغول په سند معلوم دي.

****

٥_ بَاب مَا جَاءَ لَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ

دوارث دپاره وصيت كول نشته

٢١٢٠_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، وَهَنَّادٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنَا شُرَحْبِيلُ بْنُ مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيُّ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي خُطْبَتِهِ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ: " إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَعْطَى لِكُلِّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ، فَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ، وَمَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ أَوِ انْتَمَى إِلَى غَيْرِ مَوَالِيهِ، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ التَّابِعَةُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، لَا تُنْفِقُ امْرَأَةٌ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا إِلَّا بِإِذْنِ زَوْجِهَا ". قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ: وَلَا الطَّعَامَ، قَالَ: " ذَلِكَ أَفْضَلُ أَمْوَالِنَا ". ثُمَّ قَالَ: " الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ، وَالْمِنْحَةُ مَرْدُودَةٌ، وَالدَّيْنُ مَقْضِيٌّ، وَالزَّعِيمُ غَارِمٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَمْرِو بْنِ خَارِجَةَ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَهُوَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، وَرِوَايَةُ إِسْمَاعِيل بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ، وَأَهْلِ الْحِجَازِ لَيْسَ بِذَلِكَ فِيمَا تَفَرَّدَ بِهِ، لِأَنَّهُ رَوَى عَنْهُمْ مَنَاكِيرَ وَرِوَايَتُهُ، عَنْ أَهْلِ الشَّامِ أَصَحُّ، هَكَذَا قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، قَال: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ الْحَسَنِ، يَقُولُ: قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ أَصْلَحُ حَدِيثًا مِنْ بَقِيَّةَ، وَلِبَقِيَّةَ أَحَادِيثُ مَنَاكِيرُ عَنِ الثِّقَاتِ، وَسَمِعْت عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ زَكَرِيَّا بْنَ عَدِيٍّ، يَقُولُ: قَالَ أَبُو إِسْحَاق الْفَزَارِيُّ: خُذُوا عَنْ بَقِيَّةَ مَا حَدَّثَ عَنِ الثِّقَاتِ، وَلَا تَأْخُذُوا عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ عَيَّاشٍ مَا حَدَّثَ عَنِ الثِّقَاتِ، وَلَا عَنْ غَيْرِ الثِّقَاتِ. [1]

ترجمه: دابو امامه باهلي رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي دحجة الوداع په كال مي

---

[1] - سنن ابي داود_ الوصايا ٦ (٢٨٧٠) . والبيوع ٩٠ (٣٥٦٥) . سنن ابن ماجه_ الوصايا ٦ (٢٧١٣) (تحفة الأشراف : ٤٨٨٢) ، ومسند احمد (٥_٢٦٧)

درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دخطبي ورکولو په حال کي اوريدلي دي. چي وي فرمائيل الله تعالي هر حقدار ته خپل حق ورکړي دي او دکوم وارث دپاره وصيت کول جائز نه دي او بچي «ولد الزنا» به بستري والاته منسوب کيږي او زناکار درجم مستحق دي او څوك چي دخپل پلار نه علوه بل چاته خان منسوب کړي او يا غلام دخپل مالکانو نه علاوه بل چاته خان منسوب کړي، په هغه باندي دالله تعالي لعنت دي او بيا يي اوفرمائيل هيڅ يوه ښځه به دخپل خاوند د کور نه کوم شي دهغه د اجازت نه بغير نه خرج کوي، عرض وکړي شوي که طعام چاته ورکړي نو څه حکم دي رسول الله اوفرمائيل دا خو زمونږ په مالونو کي افضل مال دى ، او بيا اوفرمائيل د امانت ادا کول ضروري دي، او عاريتا د پيو خوړلو دپاره راوستلي شوي لنگ څاروي واپس کول ضروري دي، اود قرض ادا کول ضروري دي،اوذمه واري اخستونکي د قرضداري په منزله دى.

امام ترمذي وايي : او په دي باب کي دعمرو بن خارجه انس بن مالك رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او داحديث حسن صحيح دي، او دا حديث دابوامامه په سند درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او روايت داسماعيل بن عياش داهل عراق او اهل حجاز نه قابل داعتبار نه دي چي په کوم روايت کي دي متفرد وي خکه چي دا دهغوئ نه منکر روايتونه نقل کړي دي او داهل شام نه يي روايت صحيح دي او دا دامام بخاري قول هم دي امام بخاري وائي داحمد بن حسن نه مي اوريدلي دي چي امام احمد بن حنبل وئيل اسماعيل بن عياش اصلح حديثا من بقية ولبقية احاديث مناكير عن الثقات، او دعبدالله بن عبدالرحمن نه مي اوريدلي دي فرمائيل يي ما دزکريا بن عدي نه اوريدلي دي چي ابو اسحاق فراضي به وئيل دبقيه نه اخذ دروايت کوئ کوم چي هغه دثقاتو نه نقل کوي او داسماعيل بن عياش نه نقل دروايت مه کوئ چي کوم دثقاتو نه نقل کوي او که دغير ثقاتو نه يي نقل کوي.

تشريح: وصيت په ابتداء داسلام کي فرض وو يعني پخپل اختيار سره دوالدينو او رشته دارو دپاره پخپل مال کي حصي مقررول دمرگ په وخت کي په هر مالدار باندي واجب وو خو بيا دا حکم منسوخ شو او الله تعالي پخپله حصي مقرر کړي او تقسيم يي اوکړو مري لره دخپلو وارثانو دپاره وصيت کول ناجائز دي خکه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په حجة الوداع کي اودريدو او په تيز اواز يي اعلان اوکړو "ان الله اعطي کل ذي حق حقه فلا وصية لوارث" ليکن دالله تعالي په فضل او احسان په ثلث دمال کي اوس هم دبندگانو اختيار باقي دي چي دي وخت کي في سبيل الله مال خرج کړي او دخپل ټول عمر تقصيرات لکه دبخل وغيره کفاره او مکافات اوکړي کومي خبري چي په مري واجب نه دي او هغه يي په مرض موت کي په طور

دثواب لازمي كړي دا ټول څيزونه په وصيت كي شميرلي شي او دده دمال په ثلث كي به پوره كولي شي كه وصيت په يو ثلث كي نه شي پوره كيدي نو دځومره وصيت پوره كول چي په ثلث كي ممكن وي هغه دي پوره كړي شي او دباقي جاري كول او نافذ كول او دثلث نه زيات خرج كول په وارثانو لازم او واجب نه دي البته كه هغوئ پخپل اجازت او رضا دخپلو حصو نه خرج اوكړي او دمړي وصيت پوره كول جاري ساتل اوغواړي نو كولي يي شي دوئ ته اختيار دي خو دا هغه وخت كي كيدي شي چي كله ټول وارثان بالغان او عاقلان او موجود وي خكه چي دنابالغ او مجنون رضامندئ لره اعتبارنشته او دغير حاضر حال معلوم نه دي چي اجازت به وركوي او كه نه اګر چي په ثلث دمال كي اجازت شته ليكن مستحب داده چي دپوره ثلث وصيت به نه كوي بلكه دكم به كوي كه چري وارثان دمخكي نه مالدار او غنيان وي نو دمساجدو او مدارسو او خير كارونو دپاره وصيت كول مستحب دي او كه دمخكي نه زيات مالدار نه وي نو مستحب دي چي پخپل مال كي دصدقي خيرات وغيره وصيت اونكړي او دوارثانو دپاره څه پريږدي

مګر كه ضروري وصيت وي لكه دمونځونو روژو فديه نو ددي وصيت دي په هر حال كي اوكړي شي او كه پاتي شي نو ګنهګار به وي او كه دچا څوك وارث موجود نه وي او قرض ورباندي هم نه وي نو دي كه دټول مال وصيت كوي نو هم جائز دي دوارث دپاره وصيت كول باطل دي خكه چي الله تعالي دهر وارث دپاره حق متعين كړي دي دا رنګي دقاتل دپاره هم وصيت باطل دي ليكن كه عاقل بالغ وارث اوغواړي نو دقاتل او وارث دپاره وصيت نافذولي شي دا رنګي زوجين هم پخپل مينځ كي ديو بل دپاره وصيت كولي شي دا هغه وخت كي كله چي ددوئ نه علاوه بل كوم وارث نه وي نو په همدي وجه په دوئ نه رد كيږي

****

٢١٢١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ خَارِجَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ عَلَى نَاقَتِهِ، وَأَنَا تَحْتَ جِرَانِهَا، وَهِيَ تَقْصَعُ بِجِرَّتِهَا، وَإِنَّ لُعَابَهَا يَسِيلُ بَيْنَ كَتِفَيَّ فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: " إِنَّ اللَّهَ أَعْطَى كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ، وَلَا وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ، وَالْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ، وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ، وَمَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ أَوِ انْتَمَى إِلَى غَيْرِ مَوَالِيهِ رَغْبَةً عَنْهُمْ، فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ لَا يَقْبَلُ اللَّهُ مِنْهُ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا ". قَالَ: وَسَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ الْحَسَنِ، يَقُولُ: قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: لَا أُبَالِي بِحَدِيثِ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، فَوَثَّقَهُ، وَقَالَ: إِنَّمَا يَتَكَلَّمُ فِيهِ ابْنُ عَوْنٍ، ثُمَّ رَوَى ابْنُ عَوْنٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ أَبِي

زَيْنَبَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دعمرو بن خارجه رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله سورلئ باندي خطبه ورکوله او دغه وخت کي زه دهغه دسورلئ دمرئ نه لاندي ناست وم چي دسورلئ لاړي زما داوګو په مينځ پريوتلي رسول الله صلي الله عليه وسلم دي وخت کي اوفرمائيل الله تعالي هر حقدار ته خپل حق ورکړي دي او دکوم وارث دپاره وصيت کول جائز نه دي او بچي (ولدالزنا) به بستري والا ته منسوب کيږي او زناکار درجم مستحق دي او څوک چي دخپل پلار نه علاوه بل چاته ځان منسوب کوي او يا غلام دخپل مالکانو نه علاوه بل چاته ځان منسوب کوي په هغه باندي دالله تعالي لعنت دي الله تعالي دداسي کس نه نفلي عبادت قبلوي او نه فرضي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، احمد بن حنبل وائي زه دشهر بن حوشب دحديث څه پرواه نه ساتم، امام ترمذي وائي ما د امام بخاري نه دشهر په حوشب باره کي تپوس اوکړو نو هغوئ يي توثيق اوکړو او وئيل يي چي په هغه باندي ابن عون کلام کړي دي او بيا پخپله ابن عون دهلال بن ابو زينب په واسطه دشهر بن حوشب نه روايت نقل کړي دي.

****

٦ـ باب مَا جَاءَ يُبْدَأُ بِالدَّيْنِ قَبْلَ الْوَصِيَّةِ

قرض ادا کول په وصيت ادا کولو مقدم دي

٢١٢٢ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيِّ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَضَى بِالدَّيْنِ قَبْلَ الْوَصِيَّةِ". وَأَنْتُمْ تَقْرَءُونَ الْوَصِيَّةَ قَبْلَ الدَّيْنِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ عَامَّةِ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّهُ يُبْدَأُ بِالدَّيْنِ قَبْلَ الْوَصِيَّةِ. (2)

ترجمه: د علي رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په وصيت د عمل کولو نه مخکي د قرض په ادا کولو حکم کړي دی چي قرض به په وصيت د عمل کولو نه مخکي ادا کولی شي

امام ترمذي وايي: د عامو اهل علمو په دي حديث عمل دي چي قرض به په وصيت د عمل

---

1 ـ سنن النسائي ـ الوصايا ٥ (٣٦٤١). سنن ابن ماجه ـ الوصايا ٦ (٢٧١٢) (تحفة الأشراف: ١٠٧٣١). و مسند احمد (٤/ ١٨٦، ١٨٧، ٢٣٨، ٢٣٩)

2 ـ انظر حديث رقم ٢٠٩٤

کولو نه مخکي ادا کولی شي.

تشریح: قرض په وصیت مقدم دي

په قران کریم کي په تلاوت کي وصیت مقدم دي په قرض لیکن په حکم کي قرض مقدم دي خکه چي وصیت محض تبرع دي کوم څیز بدل نه دي، همدا رنګي وصیت دیو قسم میراث سره مشابه دي نو په دي وجه ممکن ده چي دوارثانو طبیعت ددي ادا کولو ته تیار نه وي او لم لیږ اوکړي او دا ضایع کړي او ددي ادا کول په خان باندي لازم اونه ګڼړي نو په دي وجه الله تعالي په نظم دقران کي بغیر داهتمام او احتیاط نه په هر مقام کي وصیت په قرض مقدم کړي دي او داسي يي فرمائيلي دي. من بعد وصية يوصي بها اودين" مګر دحکم په لحاظ سره دوصیت درجه دقرض نه مؤخر ده.

یو ځل علي رضي الله عنه خلقو ته دخطاب کولو په وخت کي اوفرمائیل چي تاسو خو په دي ایت کي وصیت لره د دین نه مخکي لولئ او حال دادي زه په خدمت نبوي کي حاضر وم چي رسول الله صلي الله علیه وسلم قرض لره عملا په وصیت مقدم کړو، قرض په وصیت په دي وجه هم مقدم دي چي قرض واجب دي او وصیت تبرع دي او واجب په تبرع مقدم وي لهذا دقرض ادا کولو نه پس چي کو مال پاتي شي په هغي کي به وصیت نافذ وي ورنه نه به وي.

دوصیت مطلب دادي چي انسان دخپل مرګ نه وروسته خپل وخت دپاره څه هدایت اوکړي مثلا دومره مال به دفلاني دپاره وي او دومره دفلاني دپاره او زه ددي وصیت کوم او یا داسي اوواني زما دمرګ نه پس به زما دومره مال فلاني ته ورکړئ او یا به يي په فلاني کار اولګوئ که مرګ يي بالکل نه وي ذکر کړي او نه يي وصیت لفظ استعمال کړي وي نو دا په وصیت کي شمار نه دي خکه چي دوصیت دپاره دا ضروري ده چي په دي کي به دمرګ نه پس الفاظ ذکر کوي او یا دا چي صرف کم از کم وصیت لفظ به يي استعمالوي. (شروح سراجي).

****

٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَتَصَدَّقُ أَوْ يُعْتِقُ عِنْدَ الْمَوْتِ

د مرګ په وخت کي دصدقه ورکولو نکي او غلام ازادونکي بیان

٢١٢٣_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي حَبِيبَةَ الطَّائِيِّ، قَالَ: أَوْصَى إِلَيَّ أَخِي بِطَائِفَةٍ مِنْ مَالِهِ فَلَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ. فَقُلْتُ: إِنَّ أَخِي أَوْصَى إِلَيَّ بِطَائِفَةٍ مِنْ مَالِهِ فَأَيْنَ تَرَى لِي وَضْعَهُ فِي الْفُقَرَاءِ أَوِ الْمَسَاكِينِ أَوِ الْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. فَقَالَ: أَمَّا أَنَا فَلَوْ كُنْتُ لَمْ أَعْدِلْ بِالْمُجَاهِدِينَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَثَلُ الَّذِي

يَعْتِقُ عِنْدَ الْمَوْتِ، كَمَثَلِ الَّذِي يُهْدِي إِذَا شَبِعَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(1)

ترجمه . دابو حبيبه طائي بيان دي چي زما ورور زما دپاره پخپل مال كي ديوي حصي وصيت اوكړو ما د ابو درداء رضي الله عنه سره ملاقات اوكړو او ورته مي اووئيل زما ورور پخپل مال كي زما دپاره ديوي حصي وصيت كړي دي ستا په دي باره كي څه رائي ده؟ زه دي لره چرته خرج كړم په فقيرانو او مسكينانو يي خرج كړم او كه دالله په لار كي په جهاد كونكو كي يي خرج كړم هغه اووئيل زما رائي داده كه چري ستا په ځاي زه وي نو دمجاهدينو سره به مي هيڅوك برابر نه ګڼړلي نه وو ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلي دي څوك چي دمرګ وخت كي غلام ازادوي دهغه مثال دهغه چا پشان دي څوك چي دمالداره كيدو نه پس هديه وركوي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي.

****

٢١٢٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، أَنَّ عَائِشَةَ أَخْبَرَتْهُ، أَنَّ بَرِيرَةَ جَاءَتْ تَسْتَعِينُ عَائِشَةَ فِي كِتَابَتِهَا، وَلَمْ تَكُنْ قَضَتْ مِنْ كِتَابَتِهَا شَيْئًا، فَقَالَتْ لَهَا عَائِشَةُ: ارْجِعِي إِلَى أَهْلِكِ فَإِنْ أَحَبُّوا أَنْ أَقْضِيَ عَنْكِ كِتَابَتَكِ، وَيَكُونَ لِي وَلَاؤُكِ فَعَلْتُ، فَذَكَرَتْ ذَلِكَ بَرِيرَةُ لِأَهْلِهَا فَأَبَوْا، وَقَالُوا: إِنْ شَاءَتْ أَنْ تَحْتَسِبَ عَلَيْكِ، وَيَكُونَ لَنَا وَلَاؤُكِ فَلْتَفْعَلْ، فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ابْتَاعِي فَأَعْتِقِي، فَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ ". ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: " مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا لَيْسَتْ فِي كِتَابِ اللَّهِ، مَنِ اشْتَرَطَ شَرْطًا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللَّهِ فَلَيْسَ لَهُ وَإِنِ اشْتَرَطَ مِائَةَ مَرَّةٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ عَائِشَةَ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ: أَنَّ الْوَلَاءَ لِمَنْ أَعْتَقَ.(2)

---

1 _ ابي داود_ العتق ١٥ (٣٩٦٨)، سنن النسائي_ الوصايا ١ (٣٦١٦) (تحفة الأشراف: ١٠٩٧٠)

2 _ صحيح البخاري_ الصلاة ٧٠ (٤٥٦)، والزكاة ٦١ (١٤٩٣)، والبيوع ٦٧ (٢١٥٥، ٧٣ (٢١٦٨)، والعتق ١٠ (٢٥٣٦)، والمكاتب ١ (٢٥٦٠)، و ٢ (٢٥٦١)، و ٣ (٢٥٦٣)، و ٤ (٢٥٦٤)، و ٥ (٢٥٦٥)، والهبة ٧ (٢٥٧٨)، والشروط ٧ (٢٧١٧)، و ١٠ (٢٧٢٦)، و ١٣ (٢٧٢٩)، و ١٧ (٢٧٣٥)، والطلاق ١٧ (٥٢٨٤)، والأطعمة: ٣١ (٥٤٣٠)، والكفارات ٨ (٦٧١٧)، والفرائض ٢٠ (٦٧٥٢)، و ٢٢ (٦٧٥٨)، صحيح مسلم_ العتق ٢ (١٥٠٤)، سنن ابي داود_ الفرائض ١٢ (٢٩١٥، ٢٩١٦)، والعتق ٢ (٣٩٢٩)، سنن النسائي_

ترجمه عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرماني چي دكتابت دزرو په اداء كولو كي دتعاون غوښتلو دپاره ماته بريره راغله او دكتابت په زرو كي يي هيڅ هم نه وو اداء كړي ام المؤمنين عائشه ورته اوونيل ته ورشه او دخپل كور دخلقو نه تپوس اوكړه كه چري زه ستا زر دكتابت اداء كړم او ستا دولاء (ميراث) حق ماته حاصليدي شي نو زه يي اداء كوم بريري دخپل كور خلقو ته ددي ذكر اوكړو نو هغوئ انكار اوكړو او ونيل يي كه چري عائشه غواړي چي تا ازاده كړي نو دثواب حاصلولو دپاره دي تا ازاده كړي او ستا دولاء (ميراث) حق به زمونږ وي كه داسي كولي شي نو بيا دي تا ازاده كړي تردي چي ام المؤمنين رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ددي ذكر اوكړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل بريره واخله او ازاده يي كړه خكه چي دولاء حق هغه چاته حاصليږي چاچي مملوك ته ازادي وركړي وي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم اودريدو او ويي فرمائيل په خلقو څه شوي دي چي داسي شرطونه لګوي كوم چي دالله په كتاب كي موجود نه دي او هر څوك چي داسي شرط اولګوي كوم چي دالله په كتاب كي موجود نه وي دي به دهغي مستحق نه وي اګر كه شرط سل پيري هم اولګوي

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او دعائشه رضي الله عنها نه دا حديث په ډيرو سندونو مروي دي او داهل علمو هم په دي باندي عمل دي چي دولاء حق صرف د ازادونكي ته حاصل وي.

****

كتاب الولاء والهبة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

د ولاء احكام او مسائل

١ـ باب مَا جَاءَ أَنَّ الْوَلاَءَ لِمَنْ أَعْتَقَ

ولاء دهغه چا حق دي چاچي مملوك ازاد كړي وي

٢١٢٥ـ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تَشْتَرِيَ بَرِيرَةَ فَاشْتَرَطُوا الْوَلاَءَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْوَلاَءُ لِمَنْ أَعْطَى الثَّمَنَ، أَوْ لِمَنْ وَلِيَ النِّعْمَةَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي

الزكاة٩٩ (٢٦١٥)، والطلاق٢٩ (٢٢٤٨)، و٣٠ (٢٢٤٩، ٢٢٨٠)، و٣١ (٢٢٨١، ٢٢٨٢)، والبيوع٧٨ (٤٦٣٨٢٦٣٨) (تحفة الأشراف: ١٦٥٨٠)، و مسند احمد (٦ـ ٤٢، ٤٦، ١٤٠، ١٤٢، ١٤٥)

هُرَيْرَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ. (1)

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي هغوئ د بريري ازادولو اراده اوكړه نو بريري دخپلي كورنئ دولاء شرط مقرر كړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دولاء حق هغه چاته حاصل وي څوك چي قيمت اداء كړي او يا د ازادئ دنعمت مالك وي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عمر او ابوهريره رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او داهل علمو عمل هم په دي باندي دي.

****

٢ـ باب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنْ بَيْعِ الْوَلاَءِ، وَعَنْ هِبَتِهِ

دولاء دخرڅولواوهبه كولودمما نعت بيان

٢١٢٦ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ، سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْ بَيْعِ الوَلاَءِ، وَعَنْ هِبَتِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ "نَهَى عَنْ بَيْعِ الوَلاَءِ، وَعَنْ هِبَتِهِ". وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، ومالك بن أنس، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، وَيُرْوَى عَنْ شُعْبَةَ، قَالَ: لَوَدِدْتُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ دِينَارٍ حِينَ حَدَّثَ بِهَذَا الحَدِيثِ، أَذِنَ لِي حَتَّى كُنْتُ أَقُومُ إِلَيْهِ فَأُقَبِّلُ رَأْسَهُ، وَرَوَى يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ وَهْمٌ، وَهِمَ فِيهِ يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، وَالصَّحِيحُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، هَكَذَا رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ أَبُو

---

1 ـ صحيح البخارى ـ الصلاة ٧٠ (٤٥٦)، والزكاة ٦١ (١٤٩٣)، والبيوع ٦٧ (٢١٥٥، ٤٣) (٢١٦٨)، والعتق ١٠ (٢٥٣٦)، والمكاتب ١ (٢٥٦٠)، و ٢ (٢٥٦١)، و ٣ (٢٥٦٣)، و ٣ (٢٥٦٤)، و ٥ (٢٥٦٥)، والهبة ٧ (٢٥٧٨)، والشروط ٧ (٢٧١٧)، و ١٠ (٢٧٢٦)، و ١٣ (٢٧٢٩)، و ١٧ (٢٧٣٥)، والطلاق ١٧ (٥٢٨٤)، والأطعمة ٣١ (٥٤٣٠)، والكفارات ٨ (٦٧١٧)، والفرائض ٢٠ (٦٧٥٤)، و ٢٢ (٦٧٥٨)، صحيح مسلم ـ العتق ٢ (١٥٠٤)، سنن ابي داود ـ الفرائض ١٢ (٢٩١٥، ٢٩١٦)، والعتق ٢ (٣٩٢٩)، سنن النسائي ـ الزكاة ٩٩ (٢٦١٥)، والطلاق ٢٩ (٣٤٤٨)، و ٣٠ (٣٤٤٩، ٣٤٨٠)، و ٣١ (٣٤٨١، ٣٤٨٢)، والبيوع ٧٨ (٤٦٤٢ ٤٦٤٨) (تحفة الأشراف: ١٦٥٨٠)، و مسند احمد (٦ـ ٣٢، ٤٦، ١٧٠، ١٧٣، ١٧٥)

عِيسَى: وَتَفَرَّدَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ. (١)

ترجمه . دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دولاء دخرڅولو او هبه كولو نه منع فرمانيلي ده.

امام ترمذي وايي . داحديث حسن صحيح دي او مونږ دا صرف دعبدالله بن دينار په واسطه دابن عمر په سند پيژنو او هغه يي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كوي چي رسول الله دولاء دخرڅولو او هبه كولو نه منع فرمانيلي ده شعبه، سفيان ثوري او مالك بن انس هم دا حديث دعبدالله بن دينار نه نقل كړي دي، دشعبه نه مروي دي زما دا خواهش دي چي دعبدالله بن دينار نه ددي حديث دنقل كولو په وخت كي (چي ماته دا اجازت راكړي دي) زه پاڅيدلي وي او دده سر مي ښكل كړي وي، يحي بن سليم ددي حديث نقل كولو وخت كي سند داسي بيان كړي دي عن عبيدالله بن عمر عن نافع عن ابن عمر عن النبي سلي الله عليه وسلم ليكن په دي سند كي وهم دي او وهم ديحي بن سليم دطرفه دي صحيح سند داسي دي عن عبيدالله بن عمر عن عبدالله بن دينار عن ابن عمر عن النبي صلي الله عليه وسلم ، دعبيدالله بن عمر نه ددي پشان ډيرو راويانو روايت نقل كړي دي، امام ترمذي وائي عبدالله بن دينار ددي حديث په نقل كولو كي منفرد دي

****

٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ تَوَلَّى غَيْرَ مَوَالِيهِ أَوِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ

دازادونكي نه علاوه بل چاته دمالك كيدو نسبت كول او دپلار نه علاوه بل چاته د نسب منسوب كول بيان

٢١٢٧ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: خَطَبَنَا عَلِيٌّ، فَقَالَ: مَنْ زَعَمَ أَنَّ عِنْدَنَا شَيْئًا نَقْرَؤُهُ إِلَّا كِتَابَ اللَّهِ وَهَذِهِ الصَّحِيفَةَ، صَحِيفَةٌ فِيهَا أَسْنَانُ الإِبِلِ، وَأَشْيَاءُ مِنَ الْجِرَاحَاتِ، فَقَدْ كَذَبَ، وَقَالَ فِيهَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْمَدِينَةُ حَرَامٌ مَا بَيْنَ عَيْرٍ إِلَى ثَوْرٍ، فَمَنْ أَحْدَثَ فِيهَا حَدَثًا أَوْ آوَى مُحْدِثًا فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لَا يَقْبَلُ اللَّهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا، وَمَنِ ادَّعَى إِلَى غَيْرِ أَبِيهِ، أَوْ تَوَلَّى غَيْرَ مَوَالِيهِ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللَّهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ، لَا يُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ، وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِينَ وَاحِدَةٌ يَسْعَى بِهَا أَدْنَاهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ

---

١ - انظر حديث رقم ١٢٣٦

مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى بَعْضُهُمْ، عَنْ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنِ الحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَهُ. (1)

ترجمه : ديزيد بن شريك تيمي بيان دي فرماني چي علي رضي الله عنه مونږ ته خطبه راکړه او ونيل يي څوك چي دا وائي زمونږ سره دالله كتاب او هغه صحيفه ده په كومه كي چي داوښانو دعمرونو او دزخمونو داحكامو بيان دي ددينه علاوه كوم بل څيز مونږ سره شته دي چي مونږ يي لولو نو دوئ په دروغ وائي علي رضي الله عنه اوونيل په دي صحيفه كي دا هم رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي د "عير" نه واخله تر "ثور" پوري مدينه حرامه ده څوك چي په دي كي دكوم بدعت ايجاد اوكړي او يا بدعت كونكي ته پناه وركړي نو په هغه دي دالله تعالي او دفرشتو او دتمامو خلقو لعنت وي دقيامت په ورځ به الله تعالي نه دداسي كس كوم فرض عبادت قبول كړي او نه نفل او څوك چي بل پلار ته خپل نسبت اوكړي او يا دخپل ازادونكي نه علاوه بل څوك خپل ازادونكي اومني نو په ده باندي دي دالله او دفرشتو او دتمامو خلقو لعنت وي دده به نه.فرض عبادت قبول شي او نه نفل دمسلمانانو دطرفه ملاويدونكي پناه يوه ده ددوئ معمولي كس هم ددي پناه مالك دي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي بعضي راويانو عن الاعمش عن ابراهيم التيمي عن الحارث بن سويد عن علي سند سره هم ددي هم معني نقل كړي دي او دا حديث په يو څو سندونو دعلي رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي.

****

٤_ باب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَنْتَفِي مِنْ وَلَدِهِ

دخپل بچي نه دانكاركولو بيان

٢١٢٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ الجَبَّارِ بْنُ العَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الجَبَّارِ العَطَّارُ، وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ المَخْزُومِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ المُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلَامًا أَسْوَدَ. فَقَالَ

---

1 _ البخاري_ العلم ٣٩ (١١١) . وفضائل المدينة ١ (١٨٦٧) . والجهاد ١٧١ (٣٠٣٧) . والجزية ١٠ (٣١٧٣) . والفرائض ٢١ (٦٧٥٥) . والديات ٢٤ (٦٩٠٣) . والإعتصام ٥ (٧٣٠٠) . مسلم_ الحج ٨٥ (١٣٧٠) . سنن ابي داود_ المناسك ٩٩ (٢٠٣٤) . سنن النسائي_ القسامة ٩، ١٠ (٤٧٤٨) . سنن ابن ماجه_ الديات ٢١ (٢٦٥٨) (تحفة الأشراف . ١٠٣١٧) . و مسند احمد (١/ ١٢٢. ١٢٦. ١٥١) . وسنن الدارمي_ الديات ٥ (٢٣٠١) . و أيضا ماتقدم برقم: ١٤١٢

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَلْ لَكَ مِنْ إِبِلٍ ". قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: " فَمَا أَلْوَانُهَا؟ ". قَالَ: حُمْرٌ. قَالَ: " فَهَلْ فِيهَا أَوْرَقُ ". قَالَ: نَعَمْ. إِنَّ فِيهَا لَوُرْقًا. قَالَ: " أَنَّى أَتَاهَا ذَلِكَ ". قَالَ: لَعَلَّ عِرْقًا نَزَعَهَا. قَالَ: " فَهَذَا لَعَلَّ عِرْقًا نَزَعَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي چي د بني فزاره قبيلي يو كس راغلو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله زما دښځي نه يو تور بچي پيدا شوي دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم ورنه تپوس اوكړو تاسره اوښان شته؟ هغه اوونيل هو تپوس يي ورنه اوكړو څه څه رنګونه يي دي؟ ده اوونيل سره دي رسول الله ورنه تپوس اوكړو ايا په دوئ كي سوربخن هم شته ده اوونيل هو او په دوئ كي يو خاكستري يعني ايرو رنګ والا هم شته رسول الله صلي الله عليه وسلم تپوس اوكړو دا دكوم خاي نه راغي؟ هغه اوونيل شايد چي كوم خانداني رګ يي رابنكلي وي نو رسول الله اوفرمائيل كيدي شي چي دي هلك هم كوم خانداني رګ رابنكلي وي او هغه دتور رنګ والاوي

امام ترمذي وايي . دا حديث حسن صحيح دي.

****

٥_ باب مَا جَاءَ فِي الْقَافَةِ

دقيافه شناسي دحكم بيان

٢١٢٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا اللَّيْثُ. عَنِ ابْنِ شِهَابٍ. عَنْ عُرْوَةَ. عَنْ عَائِشَةَ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا مَسْرُورًا تَبْرُقُ أَسَارِيرُ وَجْهِهِ. فَقَالَ: " أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا نَظَرَ آنِفًا إِلَى زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ. وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ. فَقَالَ: هَذِهِ الأَقْدَامُ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَى ابْنُ عُيَيْنَةَ هَذَا الْحَدِيثَ. عَنِ الزُّهْرِيِّ. عَنْ عُرْوَةَ. عَنْ عَائِشَةَ. وَزَادَ فِيهِ: " أَلَمْ تَرَيْ أَنَّ مُجَزِّزًا مَرَّ عَلَى زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ. وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَدْ غَطَّيَا رُءُوسَهُمَا وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا. فَقَالَ: إِنَّ هَذِهِ الأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ ". وَهَكَذَا حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. وَغَيْرُ وَاحِدٍ. عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ هَذَا الْحَدِيثَ. عَنِ الزُّهْرِيِّ. عَنْ عُرْوَةَ. عَنْ عَائِشَةَ. وَهَذَا

---

1 - صحيح البخاري_ الطلاق ٢٦ (٥٣٠٥) . والحدود ٤١ (٦٨٤٧) . والإعتصام ١٢ (٧٣١٤) . صحيح مسلم_ اللعان ١ (١٥٠٠) . سنن ابي داود_ الطلاق ٢٨ (٢٢٦٠) . سنن النسائي_ الطلاق ٤٦ (٣٥٠٩٠) . سنن ابن ماجه_ النكاح ٥٨ (٢٠٠٢) (تحفة الأشراف: ١٣١٢٩) . مسند احمد (٢_ ٢٣٤. ٢٣٩. ٤٠٩)

حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدِ احْتَجَّ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ بِهَذَا الحَدِيثِ فِي إِقَامَةِ أَمْرِ القَافَةِ. (۱)

ترجمه دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوشحالۍ خوشحالۍ ماته تشريف راوړو چي دمخ كرخي يي پرقيدلي او فرمائيل يي ايا تا اونه ليدل همدا اوس اوس مجزز زيد بن حارثه او اسامه بن زيد ته اوكتل او ونيل يي دا دواړه خپي يو دبل نه دي.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دي، ابن عيينه دا حديث عن الزهري عن عروة عن عائشه سند سره بيان كړي دي مګر په دي كي دومره اضافه ده چي رسول الله اوفرمائيل ايا تا اونه كتل چي مجزز دزيد بن حارثه اسامه بن زيد په خوا كي تير شو او هغه وخت كي دوړ دواړو سرونه پټ كړي وو او خپي يي بربنډي وي نو هغه اووئيل ددي دواړو خپو ديو بل سره رشته ده، دا رنګي مونږ ته دا حديث سعيد بن عبدالرحمن او څو نورو راويانو عن سفيان بن عيينه عن الزهري عن عروة عن عائشه سند سره بيان كړي دي او دا حديث حسن صحيح دي، بعضي اهل علمو ددي حديث نه دقيافي په معتبر كيدو استدلال كړي دي.

****

٦ـ باب فِي حَثِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى التَّهَادِي

يوبل ته دتحفو وركولو متعلق درسول الله صلي الله عليه وسلم دترغيب وركولو بيان

٢١٣٠ـ حَدَّثَنَا أَزْهَرُ بْنُ مَرْوَانَ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَوَاءٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مَعْشَرٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "تَهَادَوْا فَإِنَّ الهَدِيَّةَ تُذْهِبُ وَحَرَ الصَّدْرِ، وَلَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا، وَلَوْ شِقَّ فِرْسِنِ شَاةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَأَبُو مَعْشَرٍ اسْمُهُ نَجِيحٌ مَوْلَى بَنِي هَاشِمٍ، وَقَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. (۲)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو پخپل مينځ كي يو بل ته هديه وركوئ ځكه چي هديه وركول دزړونو خيري ختموي، او هيڅ يوه ګاونډۍ دبلي ګاونډۍ تحفه سپكه اونه ګڼري اګر كه هغه دچيلۍ دخپي سوزيدلي

---

[1] ـ صحيح البخاري ـ المناقب ٢٢ (٣٥٥٥)، وفضائل الصحابة ١٧ (٣٧٣١)، والفرائض ٣١ (٦٧٧٠)، ومسلم ـ الرضاع ١١ (١٤٥٩)، سنن ابي داود ـ الطلاق ٣١ (٢٢٦٧، ٢٢٦٨)، سنن النسائي ـ الطلاق ٥١ (٣٥٢٣، ٣٥٢٤)، سنن ابن ماجه ـ الأحكام ٢١ (٢٣٤٩) (تحفة الأشراف: ١٦٥٨١)، مسند احمد (٦ـ ٢٢٦٨٢)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٠٤٢)

نوكه ولي نه وي.
امام ترمذي وايي : داحديث په دي سند غريب دي ، او د ابو معشر نوم نجيح دي او نجيح دبني هاشم ازاد كري غلام دي په نجيح باندي حافظي په اعتبار بعضي اهل علمو كلام كړي دي
لغات جارة جاور مجاورة دباب مفاعلي نه په معني دګاونډئ سره
الفرسن فرسن د اوبښ سوئ ته وئيلي شي جمع يي فراسن ده استعارةً يي دچيلئ په سوئ باندي هم اطلاق كيږي.
تشريح : "لاتحقرن جارة لجارتها" يعني يوه ګاونډئ دي بلي ګاونډئ لره سپکه نه ګڼري، محدثينو ددي حديث دوه مطلبونه بيان كړي دي (١) اول دا چي په دي كي تحفي او هدي ته اشاره ده يعني څوك دي دچا هديه سپكه اومعمولي نه ګڼري يعني هغه به په نظر كي معمولي ښكاري خو چي په اخلاص سره وي نو دالله تعالي په نزد ددي قيمت زيات دی (٢) په دي كي وركونكي ته اشاره ده چي چا دا تحفه تاسو ته راليږلي وي ددي راليږونکی معمولي او سپك په ګڼرئ ، په دي كي ديته هم اشاره ده چي تحفي يو بل ته وركوئ او كه زياته نشئ وركولی او لږه وي نو هم خير دی دا هم دنه وركولو نه بهتر دي.
"ولو فرس شاة" اګر چي دچيلي سوزيدلي خپه ولي نه وي ، دعلماؤ قول دی چي خلق خو چاته دچيلي سوزيدلي خپه په تحفه كي نه وركوي څكه چي دا په تحفه كي دوركولو قابل نه دی ددي جواب دادی چي په دي حديث كي مبالغةً او تمثيلاً ددي ذكر راغلی دی چي هديه كه هر څومره حقيره ولي نه وي ترديَ چي دچيلي سوزيدلي خپه وي نو هم به يي قبلوئ.

****

٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الرُّجُوعِ فِي الْهِبَةِ

چاته د خپلي وركړي هديي واپس غوښتلو بيان

٢١٣١ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ الْأَزْرَقُ، حَدَّثَنَا حُسَيْنٌ الْمُكْتِبُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَثَلُ الَّذِي يُعْطِي الْعَطِيَّةَ ثُمَّ يَرْجِعُ فِيهَا، كَالْكَلْبِ أَكَلَ حَتَّى إِذَا شَبِعَ قَاءَ، ثُمَّ عَادَ فَرَجَعَ فِي قَيْئِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. (١)

---

١ ـ انظر حديث رقم ١٢٩٩

ترجمه د ابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ځوك چي چاته څه هديه وركړي او بيا يي ورنه واپس غواړي داسي كس پشان د سپي دي چي كله موړ شي او قئ وكړي او بيا بيرته پخپل قئ راوګرځي او خوري يي.
امام ترمذي وايي . په دي باب كي د ابن عباس او عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

تشريح: د رجوع في الهبة په ممانعت كي احاديث په كثرت سره وارد دي يو څو ورنه دلته د نموني په طور ذكر كوو:

عن ابن عباس رضي الله عنهما : أنّ رسول الله ﷺ . قَالَ : ((الَّذِي يَعُودُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَرْجِعُ فِي قَيْئِهِ)) . متفق عَلَيْهِ . وفي رواية : ((مَثَلُ الَّذِي يَرْجِعُ فِي صَدَقَتِهِ . كَمَثَلِ الكَلْبِ يَقِيءُ . ثُمَّ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ فَيَأْكُلُهُ)) .

وفي روايةٍ : ((العائِدُ فِي هِبَتِهِ كالعائِدِ فِي قَيْئِهِ)) .
دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ځوك چي بخښلی شي واپس اخلي داسی دی لكه سپی چي خپل قی بياخني.
أخرجه : البخاري كتاب الهبة ٣/٢١٥ (٢٦٢١) و(٢٦٢٢) . ومسلم كتاب البيوع باب تحريم الرجوع في الصدقة والهبة ٥/٦٣ (١٦٢٢) (٥) و(٨) واحمد وابوداود والترمذي والنسائي وابن ماجه وعبد الرزاق والحميدي وابن حبان والبيهقي٦/١٨٠ .
او يو روايت په دی الفاظو دی مثال دهغه چاچي خپل خيرات كړی شی واپس غواړي داسی دی لكه سپی چي قی اوكړي، بيا ورته رااوګرځي او ويی خوري او په يو روايت كي بخښلی شي واپس كوونكی داسی دی لكه خپل قی چي بيا اوخوري (مطلب د دری واړو يو دی).
وركړي صدقه واپس اخستل دابن ملك په نزد حرامه ده ليكن دجمهورو علماؤ په نزد مكروه ده په حديث كي ددي مثال داسي راغلی دی لكه سپی چي خپله قی واپس ځني په دي جمله كي دصدقي وركولو قباحت بيان شوی دی چي مثال يي داسي دی لكه دسپي پشان او دده د صدقي مثال دسپي دقی پشان دی ددينه انسانان سخته كركه كوي علامه طيبي وائي ددينه زيات نه زيات كراهت تنزيهي ثابتيدی شي تحريمي نشي ثابتيدی.(التعليق الصبيح شرح مشكاة، عمدة القاري شرح بخاري)

عن عمر بن الخطاب ﷺ قَالَ : حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَأَضَاعَهُ الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ ، فَأَرَدْتُ أن أشْتَرِيَهُ ، وَظَنَنْتُ أنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ ، فَقَالَ : ((لاَ تَشْتَرِهِ وَلاَ تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ وإنْ

أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ ؛ فَإِنَّ العَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالعَائِدِ فِي قَيْئِهِ)) . متفق عَلَيْهِ .

قَوْله : ((حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ)) مَعنَاهُ : تَصَدَّقْتُ بِهِ عَلَى بَعْضِ المُجَاهِدِينَ .

عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دی چي ما يو سرې ته جهاد دپاره يو اس خيراتي ورکړی وو، نو دهغه نه خراب شو څما دا خيال وو چي دی به يې اوس ارزانه خرڅوي نو زه به يې تری په بيا واخلم، رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مې تپوس اوکړو نو هغوئ راته اوفرمائيل که په يو درهم يې دربانده خرڅوي هم يې مه اخله خپله صدقه واپس اخستل داسې دي لکه خپل قی بيا خوړل.

حملت علي فرس في سبيل الله: يعني ما دا کوم مجاهد ته دجهاد دپاره ورکړو په طور دصدقې.

"لاتعد في صدقتك" يعني خپله صدقه واپس مه اخله مطلب دادی چي خپله ورکړي صدقه په قيمت واپس اخستل جائز نه دي او بعضې علماؤ حرام ګڼړلي دي مګر اکثر علماء وائي چي مکروه تنزيهي دي مکروه په دي وجه دي کيدی شي چي په چا يي احسان کړی وي دهغه نه يي په ارزان قيمت واخلي، نو داسي کس به دصدقي په واپس غوښتونکي کي شميرلي شي چي په واپس کولو يي په شريعت کي ډير وعيدونه راغلي دي.(تحفة الاحوذي)

****

٢١٣٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ حُسَيْنٍ المُعَلِّمِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، حَدَّثَنِي طَاوُسٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، يَرْفَعَانِ الحَدِيثَ، قَالَ: " لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يُعْطِيَ عَطِيَّةً، ثُمَّ يَرْجِعُ فِيهَا إِلا الوَالِدَ فِيمَا يُعْطِي وَلَدَهُ، وَمَثَلُ الَّذِي يُعْطِي العَطِيَّةَ ثُمَّ يَرْجِعُ فِيهَا، كَمَثَلِ الكَلْبِ أَكَلَ حَتَّى إِذَا شَبِعَ قَاءَ ثُمَّ عَادَ فِي قَيْئِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَحِلُّ لِمَنْ وَهَبَ هِبَةً أَنْ يَرْجِعَ فِيهَا إِلَّا الوَالِدَ فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ فِيمَا أَعْطَى وَلَدَهُ، وَاحْتَجَّ بِهَذَا الحَدِيثِ. (1)

ترجمه: د ابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهما نه مرفوع روايت مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: د هيچا دپاره جائز نه دي چي چاته هديه ورکړي او بيايي ورنه بيرته واپس غواړي مګر پلار ددي نه مستثني دی خکه چي پلار که خوي ته کومه هديه ورکړي وي واپس يي ورنه اخستلي او غوښتلي شي. څوك چي چاته څه هديه ورکړي او بيا يي ورنه واپس غواړي داسي کس پشان د سپي دي چي کله موړ شي او قئ وکړي او بيا بيرته

1 - انظر حديث رقم ١٢٩٩

پخپل قبض راوګرځي او خوري يې.
امام ترمذي وايي . دا حديث حسن صحيح دي، او امام شافعي هم په دې باندې قول کړی دی چې د هيچا دپاره جائز نه دي چې چاته هديه ورکړي او بيا يې ورنه بيرته واپس غواړي مګر پلار ددې نه مستثني دی ځکه چې پلار که خوي ته کومه هديه ورکړي وي واپس يې ورنه اخستلي او غوښتلي شي،اود خپل قول دپاره يې ددې حديث نه استدلال کړی دی.

****

كتاب القدر (عن رسول الله صلى الله عليه وسلم)

دتقدير مسائل او احکام

عن ابنِ عباسٍ رضي الله عنهما ، قَالَ : كنت خلف النَّبيّ ﷺ يوماً ، فَقَالَ : ((يَا غُلَامُ ، إنِّي أعلّمُكَ كَلِمَاتٍ : احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ ، احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ الله ، وإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ ، وَاعْلَمْ : أَنَّ الأُمَّةَ لَوْ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إلاَّ بِشَيءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ ، وَإِن اجتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إلاَّ بِشَيءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ ، رُفِعَتِ الأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحفُ))

الترمذي (٢٥١٦) ابواب صفة القيامة والامام احمد في مسنده ٢٨٠١/٣ . وأخرج اللفظ الثاني: أحمد ٣٠٧/١ والبيهقي في شعب الايمان ١٠٧٤.

((احْفَظِ الله تَجِدْهُ أَمَامَكَ ، تَعرَّفْ إلى اللهِ في الرَّخَاءِ يَعْرِفكَ في الشِّدَّةِ ، وَاعْلَمْ : أنَّ مَا أَخْطَأَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبكَ ، وَمَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ ، وَاعْلَمْ : أنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ ، وَأَنَّ الفَرَجَ مَعَ الكَرْبِ ، وَأَنَّ مَعَ العُسْرِ يُسْراً)).

دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چې زه د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه شاته په سورلۍ باندې، ناست وم هغوي اوفرمائيل بچيه! زه تاته څو خبري بيانوم هغه يادي اوساته نو الله تعالي به ستا حفاظت اوکړي، دالله تعالي دحقونو خيال ساته ته به الله تعالي خان سره بيامومې کله چې څه غواړي نو دالله تعالي نه غواړه او چې کله دڅه مدد طلب کوي نو دالله تعالي نه مدد غواړه ، ياد لره که چرې ټول امت هم يو ځای شي او تاته څه فائده رسول اوغواړي نو هغوي به تاته هغومره فائده رسولی شي څومره چې الله تعالي ستا په تقدير کې ليکلي وي او هغوي ټول تاته نقصان رسولو باندې راجمع شي بيا هم تاته دهغې نه زيات نقصان نشي دررسولی څومره چې الله تعالي ستا دپاره مقدرکړی دی ،کوم څه چې به مخې ته راځي هغه

ليكلو سره، قلم پورته كړی شوی كيښودی شو او دتقدير دفترونه وچ شول
ته دالله تعالي دحقونو حفاظت اوكړه نو ته به هغه خپلي مخي ته موجود بيامومي دراحت او ارام په وخت ته الله تعالي ياد لره هغه به په سخته او مصيبت كې تا يادلري. ياد ساته كوم څيز نه چي ته بچ شوی هغه تاته نشو دررسيدلی او كوم چي دورسيدو دهغی نه بچ كيدی نه شوی او پوهه شه چي دالله مدد د صابر سره دی او فراخۍ سره تنگي ده او پريشانۍ سره اساني ده.

احفظ الله يحفظك ، يعني دالله داحكامو پابندي كوه ، الله به ستا حفاظت كوي په قران كريم كې وارد دي چه: اوفوا بعهدي اوف بعهدكم، اوهمدارنگي . ان تنصروا الله ينصركم.

احفظ الله تجده تجاهك، يعني دالله دحقوقو خيال ساتۍ تاسو به يې دخان په وړاندي بيامومئ، محدثينو ددي جملي يو څو مطالب بيان كړي دي او ټول مراد كيدي شي مثلا تاسو دالله دحقوقو خيال وساتۍ ، يا دامطلب دي كه تاسو دالله تعالي احكامات پوره كړئ او په عبادت كې مشغول پاتي شئ نو گويا كه الله لره به دخپل خان په وړاندي بيامومئ يعني په دغه وخت كې به تاسو دايمان او احسان په كامله درجه فائز يئ او هردم به دالله په حفاظت اونظر كې يئ دالله نه علاوه به هر شي معدوم او فنا كيږي.

واذا سئلت فاسئل الله، او چي كله څه غواړئ نو دالله نه غواړه، په دي الله خوشحاله كيږي، اوهيڅ كله دنيا والاته لاس مه غوړوئ، په قران كريم كې هم ارشاد دي: قال ربكم ادعوني استجب لكم.

واعلم ان الامة لو اجتمعت علي ان ينفعوك بشيء لم ينفعوك الابشيء. الخ يعني پوهه شئ كه تمام امت تاسو ته دفائدي دركولو دپاره راجمع شي نو تاسو ته دهغه فائدي نه زياته نشي در رسولي كومه چي الله ستاسو دپاره ليكلي ده ، يعني دنفع او نقصان مالك هم هغه الله دي خاص هغه ته رجوع وكړئ كه هغه يي درته درنړي نو هيڅوك يي نشي دركولي.

رفعت الاقلام وجفت الصحف، يعني صادريدونكي احكام ټول ليكلي شوي دي دقيامت راتلو پوري تمامي فيصلي په لوح محفوظ كې ليكلي شوي دي. او اوس لوح محفوظ انغښتلي شوي ايخودلي شوي دي، چي هيڅ قسم تغير پكې نشي راتللي.
دصحيفو دوچيدو مطلب دادي چي كاتب كله دليكلو نه فارغ شي نو هغه خپل قلم پورته كوي او چرته يي ږدي اوكاغذ رانغاړي او بيا پكښې كمي زياتي نه كوي
صحيفي وچي شوي، ددي جملي مطلب دادي چي كاتب كله دليكلو نه فارغ شي نو هغه خپل قلم پورته كوي اوخپل كاغذ سنبال كړي نوهمدارنگي الله تعالي هم خپل قلم پورته كړي او كاغذ يي سنبال كړي دي چي هيڅ قسم كمي زياتي پكې نشي راتلي او كومي عمل نامي چي

فرشتي دخلقو دپاره ليکي په هغې کې کمي زياتي راتلي شي
شيخ عبدالقادر جيلاني فرمائي په هر مومن باندي لازم دي چي دا حديث دخان په وړاندي کيږدي او پخپلو ټولو معاملاتو کې په دي عمل اوکړي ددې دپاره چي په دنيا او اخرت کې دالله درحمت مستحق اوګرځي.

****

١ـ باب مَا جَاءَ فِي التَّشْدِيدِ فِي الْخَوْضِ فِي الْقَدَرِ

دتقدير په مسئله کې بحث اوتکرار کول ممنوع وي

٢١٣٣ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا صَالِحٌ الْمُرِّيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَتَنَازَعُ فِي الْقَدَرِ، فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ، حَتَّى كَأَنَّمَا فُقِئَ فِي وَجْنَتَيْهِ الرُّمَّانُ، فَقَالَ: "أَبِهَذَا أُمِرْتُمْ، أَمْ بِهَذَا أُرْسِلْتُ إِلَيْكُمْ، إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حِينَ تَنَازَعُوا فِي هَذَا الأَمْرِ عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ أَلَّا تَتَنَازَعُوا فِيهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ، وَأَنَسٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ صَالِحٍ الْمُرِّيِّ، وَصَالِحٌ الْمُرِّيُّ لَهُ غَرَائِبُ يَنْفَرِدُ بِهَا لَا يُتَابَعُ عَلَيْهَا.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يوه ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ طرف ته راووتلو او دغه وخت کې مونږ ټولو دتقدير په مسئله کې بحث او مباحثه کوله رسول الله ددي حالت په ليدو غصه شو تردي پوري چي مخ يې تك سور شو او داسي ښکاريدو لکه چي په انګو باندي يې دانار داني نچوړ کړي وي او ويې فرمائيل ايا تاسو ته ددي حکم شوي دي يا ايا زه تاسو ته ددي دپاره راليږلي شوي يم؟ يقينا ستاسو نه مخکني امتونه هغه وخت هلاك شول کله چي هغوئ دتقدير په مسئله کې بحث شروع کړو او زه تاسو ته قسم درکوم چي په دي مسئله کې به بحثونه او مباحثي نه کوئ.

امام ترمذي وايي : دا حديث غريب دي او مونږ دا روايت په دي سند صرف دصالح مري په روايت پيژنو او دصالح مري نور هم ډير غرائب دي دکومو په نقل کولو کې چي صالح منفرد دي او هيڅوك يې متابعت نه کوي، او په دي باب کې دعمر، عائشه، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣٥٢٠)

٢ـ باب مَا جَاءَ فِي حِجَاجِ آدَمَ وَمُوسَى عَلَيْهِمَا السَّلَامُ

دتقدير په مسئله کې د ادم او موسى عليه السلام په مينځ کې دمناظرې بيان

٢١٣٤ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَبِيبِ بْنِ عَرَبِيٍّ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ سُلَيْمَانَ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَى، فَقَالَ مُوسَى: يَا آدَمُ، أَنْتَ الَّذِي خَلَقَكَ اللَّهُ بِيَدِهِ، وَنَفَخَ فِيكَ مِنْ رُوحِهِ أَغْوَيْتَ النَّاسَ وَأَخْرَجْتَهُمْ مِنَ الْجَنَّةِ، قَالَ: فَقَالَ آدَمُ: وَأَنْتَ مُوسَى الَّذِي اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِكَلَامِهِ أَتَلُومُنِي عَلَى عَمَلٍ عَمِلْتُهُ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ، قَالَ: فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ، وَجُنْدَبٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، مِنْ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنِ الأَعْمَشِ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُ أَصْحَابِ الأَعْمَشِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل يو خل دادم او موسي عليه السلام په مينځ کي مناظره وه موسي عليه السلام اووئيل اي ادم ايا ته هغه ادم يې چي الله تعالي پخپل لاس باندي پيدا کړي او په تا کې يې روح اوپوکلو او تا بيا خلق ګمراه کړل او دجنت نه دي راوويستل؟

امام ترمذي وايي : ادم عليه السلام په جواب کي اووئيل ايا ته هغه موسي يې څوك چي الله تعالي دګفتګو دپاره منتخب کړي وو ايا ته ما په داسي کار ملامته کوي کوم چي الله تعالي د زمکي او اسمان پيدا کولو نه مخکي په ما باندي لازم کړي وو؟ نو ادم عليه السلام په دليل کي غالب شو، امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح غريب دي او دا حديث په همدي سند يعني دسليمان تيمي په روايت کوم چي د اعمش نه نقل کوي او داعمش بعضي شاګردانو عن الاعمش عن ابي صالح عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره ددي هم معني نقل کړي دي مګر بعضي راويانو ددي سند داسي بيان کړي دي"عن الاعمش عن ابي صالح

---

1 ـ صحيح البخاري_ احاديث الأنبياء ٣١ (٣٤٠٩) . والتفسير طه ١ (٤٧٣٦) ، و ٣ (٤٧٣٨) . والقدر ١١ (٦٦١٤) . والتوحيد ٣٧ (٧٥١٥) . صحيح مسلم_ القدر ٢ (٢٦٥٢) . سنن ابي داود_ السنة ١٧ (٤٧٠١) سنن ابن ماجه_ المقدمة ١٠ (٨٠) (تحفة الأشراف: ١٢٣٨٩) ، و موطا امام مالک_ القدر ١ (١) . و مسند احمد (٢_ ٢٤٨، ٢٦٨، ٣٩٨)

عن ابي سعيد عن النبي صلي الله عليه وسلم' او په يو څو نورو سندونو دا حديث دابوهريره په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه هم مروي دي، او په دي باب كي دعمر، او جندب رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٣_ باب مَا جَاءَ فِي الشَّقَاءِ وَالسَّعَادَةِ

دښه اوبد تقدير (قسمت) بيان

٢١٣٥_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ سَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ مَا نَعْمَلُ فِيهِ أَمْرٌ مُبْتَدَعٌ أَوْ مُبْتَدَأٌ أَوْ فِيمَا قَدْ فُرِغَ مِنْهُ، فَقَالَ: "فِيمَا قَدْ فُرِغَ مِنْهُ يَا ابْنَ الخَطَّابِ، وَكُلٌّ مُيَسَّرٌ، أَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَإِنَّهُ يَعْمَلُ لِلسَّعَادَةِ، وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّقَاءِ فَإِنَّهُ يَعْمَلُ لِلشَّقَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ، وَأَنَسٍ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دامير المؤمنين عمر فاروق رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله کوم عمل چي مونږ کوو ددي باره کي دي څه خيال دي؟ دا يو نوي شروع کيدونکي کار دي او يا داسي کار دي چي سر ته رسيدلي دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي دخطاب بچيه دا يو داسي کار دي دکوم نه چي فارغيدل شوي دي او دهر انسان دپاره هغه کار اسان کړي شوي دي (دکوم دپاره چي هغه پيدا کړي شوي دي) چنانچي هر څوك دسعادت مندو نه وي نو دي به دسعادت والا کار کوي او څوك چي دبدبختو نه وي دي به دبدبختۍ والا کار کوي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعلي، حذيفه بن اسيد، انس، او عمران بن حصين رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢١٣٦_حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الحُلْوَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، وَوَكِيعٌ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٧٦٢)

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَنْكُتُ فِي الأَرْضِ إِذْ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ. ثُمَّ قَالَ: " مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا قَدْ عُلِمَ. وَقَالَ وَكِيعٌ: إِلَّا قَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ، وَمَقْعَدُهُ مِنَ الجَنَّةِ " قَالُوا: أَفَلَا نَتَّكِلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: " لَا، اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(١)

ترجمه علي رضي الله عنه فرماني چي مونږ د رسول الله په مجلس کي موجود وو زمکه یي کروله بیایی اوفرمائیل په تاسو کي یو هم داسی نشته چي دهغه ځایی په دوزخ یا جنت کي مقرر شوی نه وي صحابو عرض اوکړو اي دالله رسوله: ایا مونږ په دی لیکلو باندی بی فکره کینو رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل نه عمل کوئ هر چاته هغه شي اسان کړي شوي دي د کوم دپاره چي پیدا دي.

امام ترمذي وایي دا حدیث حسن صحیح دی.

لغات . الغرقد: لویو ازغو والا ونه، مخصرة. دډډي وهلو څیز لکه همسا وغیره ، جمع یي مخاصر راځي ، نکسه نکسا نسکورول.

تشریح: د پوتني حدیث نه په قبرباندي نصیحت کول معلومیږي لکه چي امام نووي وړباندي باب تړلي دي پدي وخت کي ددنیا دبي ثباتۍ منظر دهر چا په وړاندي نو نو نصیحت ډیر ښه اثر کوي

په تقدیر داعتماد کولو مطلب

"افلا نتکل" یعني مونږ په لیکلی شوي اعتماد اونکړو، یعني دا خو دالله په علم کي ده چي دا بنده نیکي کونکی دی یابدي کونکی دی لیکن دالله په علم کي دکیدو او دلیکلی کیدو دا مطلب نه دی چي انسان په هغه عمل کولو مجبور دی کوم چي الله لیکلي دي خکه چي دا خو الله تعالي ته دمخکي نه معلومه شوه چي فلانی به نیك عمل پخپل اختیارکوي او فلانی به بدي کوي نوترڅوپوري چي دالله تعالي لیکلو او علم ته دانسان رسیدل نه کیږي او دا هم نه شي کیدی نو داسي به څنګه اوشي چي دی دالله تعالي په علم داعتماد کولو په وجه نیك عمل کول پریږدي، دویمه خبره داده چي هر انسان ته دهغه کار توفیق ورکولی شي دکوم دپاره چي پیدا شوی وي هر کله چي داسي ده نو بیا ولي انسان دنیکی لاره اختیارنکړي په انسان باندي چي کومه وظیفه مقرر شوي ده هم هغه وړباندي فرض ده

---

١ صحيح البخاری.. الجنائز ٨٢ (١٣٦٢) . والتفسير سورة والليل إذا يغشى ٣ (٤٩٤٥) . والأدب ١٢٠ (٦٢١٧) . والقدر ٤ (٦٦٠٥) . والتوحيد ٥٤ (٧٥٥٢) . صحيح مسلم_ القدر ١ (٢٦٤٧) . سنن ابي داود_ السنة ١٧ (٤٦٩٤) . سنن ابن ماجه_ المقدمة ١٠ (٧٨) . ويأتي عند المؤلف برقم ٣٣٤٤) (تحفة الأشراف : ١٠١٦٧) . ومسند احمد (١_ ١٣٢)

****

٤ـ باب مَا جَاءَ أَنَّ الأَعْمَالَ بِالْخَوَاتِيمِ

دخاتمي والا يعني اخري اعمال معتبر وي

٢١٣٧ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ الأَعْمَشِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ: "إِنَّ أَحَدَكُمْ يُجْمَعُ خَلْقُهُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ فِي أَرْبَعِينَ يَوْمًا، ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ يُرْسِلُ اللَّهُ إِلَيْهِ الْمَلَكَ فَيَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ، وَيُؤْمَرُ بِأَرْبَعٍ يَكْتُبُ: رِزْقَهُ، وَأَجَلَهُ، وَعَمَلَهُ، وَشَقِيٌّ أَوْ سَعِيدٌ، فَوَالَّذِي لَا إِلَهَ غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ، ثُمَّ يَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ، فَيُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا، وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ، ثُمَّ يَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ، فَيُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت كوي چي صادق او مصدوق رسول الله صلي الله عليه وسلم فرماني چي ستاسو نه هر يو دخپلی مور په خيته كې دنطفی په طور څلوېښت ورځی اوسيږي بيا دومره ورځو پورې دچكه وينی په صورت كې وي او بيا هم دومره ورځی دغوښی د ټكړی په صورت كې وي، بيا يوه فرښته راوليږلی شي چي دی دغوښی ټكړه كې روح پوك وهي او دڅلورو خبرو حكم هغی ته ليكي يعني، دهغه رزق، دژوندي اوسيدلو موده، دهغه اعمال او بدبخت يا نيك بخته كيدل نو قسم په هغه ذات دچا نه سوا چي هيڅوك معبود نشته چي تاسو كې به يو كس دجنت والو اعمال كوي تردی چي دده او دجنت په مينځ كې به ديو ګز فاصله پاتی وي خو دكتاب ليكل به پری غالب راشي او ددوزخيانو په كارونو يي خاتمه اوشي او دوزخ كې به اوغورځولی شي او تاسو كې به يو كس ددوزخيانو والا كارونه كوي تردي چي دده او ددوزخ په مينځ كې به ديو ګزبرابر فاصله پاتی وي نو دكتاب ليكل به پرې غالب شي او دجنتيانو په كارونو يي خاتمه اوشي او دا خبره به هغه جنت كې داخل كړي

امام ترمذي وايي : دا حديث حسن صحيح دی.

لغات : فينفخ نفخ دنصر نه نفخا او نفخ پوكي كولو ته ونيلي شي لكه نفخ الضحي يعني ورځ

---

[1] ـ صحيح البخاري ـ بدء الخلق ٦ (٣٢٠٨)، وأحاديث الأنبياء ١ (٣٣٩٣)، صحيح مسلم ـ القدر ١ (٢٦٤٣)، سنن ابي داود ـ السنة ١٧ (٤٧٠٨)، سنن ابن ماجه ـ المقدمة ١٠ (٧٦) (تحفة الأشراف : ٩٢٢٨)، و مسند احمد (١ / ٣٨٢، ٤١٤)

راوختله نفخ الريح هوا ولګيدله

تشريح: په دي حديث کې دانسان خلقت بيان کړی شوی دی چي دڅومره مراحلو نه په تيريدو سره الله تعالي انسان ته دا شکل او صورت ورکړی دی

شقي او سعيد. يعني دده بچي سعيد او شقي کيدل به هم ليکلي کيدي شي

سوال، کله چي دمور په خيټه کې شقي او سعيد کيدل ليکلي کيږي نو اوس عمل کولو ته څه ضروت دي؟

الله تعالي اګرچي دا ليکلي دي ليکن ورسره يي اختيار هم ورکړي دي او دده دپاره يي نيکي او بدي دواړه لاري کولاکړي دي او ددواړو انجام يي هم خودلي دي

الله تعالي فرمائي: "انا هديناه السبيل اما شاکرا واما کفورا"

يعني په دي کې دانسان ازمائش دی چي دی کومه لار اختياروي او دخپلي حسن خاتمي دعا هر وخت غواړي او دالله تعالي نه دمدد طلب کوي او دتقوي او ايمان لار اختياروي دا دانسان ذمه واري ده او باقي ددي انجام دي الله ته اوسپاري الله چي ددي انجام پټ ساتلي دي ددي وجه داده چي دچا بدو اعمالو ته په کتو سره دهغه دجهنمي او نيکو عملونو ته په کتو سره دهغه دجنتي کيدو فيصله فوا ونکړي شي بلکه داخري وخته پوري په اعمالو کې مشغول پاتي شي او په يره کې اوسي او نه په څه حال کې مطمئن شي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ مِثْلَهُ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ وَالثَّوْرِيُّ، عَنِ الأَعْمَشِ، نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وسَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ الحَسَنِ، قَال: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ، يَقُولُ: مَا رَأَيْتُ بِعَيْنِي مِثْلَ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ القَطَّانِ. ([1])

ترجمه عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت کوي چي صادق او مصدوق رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي او باقي حديث يي دمخکني پشان ذکر کړو

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی دارنګي شعبه او ثوري هم د اعمش هم معني نقل کړی دی، اوپه دي باب کې د ابو هريره او انس نه هم روايات وارد دي، امام ترمذي وايي:

---

[1] صحيح البخاری_ بدء الخلق ٦ (٣٢٠٨) وأحاديث الأنبياء ١ (٣٣٩٣). صحيح مسلم القدر ١ (٢٦٤٣). سنن ابی داود_ السنة ١٧ (٤٧٠٨) سنن ابن ماجه_ المقدمة ١٠ (٧٦) (تحفة الأشراف: ٩٢٢٨). و مسند احمد (١_ ٣٨٢، ٤١٤)

د احمد بن حنبل نه مي اوريدلي دي وئيل يې چې د يحي بن سعيد القطان پشان بلند پايه عالم مي پخپلو سترګو چرته ندی ليدلی.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ زَيْدٍ نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه په مذکوره سند هم دزيد نه دماقبل هم معني روايت مروي دي

****

٥_ باب مَا جَاءَ كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ

هر ماشوم په فطرت (اسلام) پيدا کيږي

٢١٣٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الْقُطَعِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ رَبِيعَةَ الْبُنَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْمِلَّةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُشَرِّكَانِهِ"، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَمَنْ هَلَكَ قَبْلَ ذَلِكَ؟ قَالَ: "اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ بِهِ". ([2])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهر ماشوم پيدائش په فطرت (اسلام) کيږي خو بيا دده پلار او مور ده لره يهودي يا نصراني يا مشرك جوړ کړي، عرض اوکړي شو اي دالله رسوله كه څوك ددينه مخکي مړ شي؟ رسول الله اوفرمائيل الله ته بهتره معلومه ده چي دوئ به کوم عمل کولو.

تشريح: د تقدير د مسائلو تشريح په احاديث متواتره او قراني نصوصو کي په کثرت سره وارد ده الله تعالي فرمائي كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً (البقرة ٢٢٠) يعني دپخوانو ټولو خلقو يو دين وو (او اختلاف وروسته خلقو پخپله پيدا کړو)

قاضي ثناء الله ددي ايت په وضاحت کلي متعدد احاديث نقل کړي دي چي ستاسو په وړاندي

---

[1] صحيح البخاري_ بدء الخلق ٦ (٣٢٠٨) . وأحاديث الأنبياء ١ (٣٣٩٣) . صحيح مسلم_ القدر ١ (٢٦٤٣) . سنن ابي داود_ السنة ١٧ (٤٧٠٨) . سنن ابن ماجه_ المقدمة ١٠ (٧٦) (تحفة الأشراف : ٩٢٢٨) . و مسند احمد (١_ ٣٨٢ . ٤١٤)

[2] صحيح البخاري_ الجنائز ٩٢ (١٣٨٣) . والقدر ٣ (٦٥٩٢) . صحيح مسلم_ القدر ٦ (٢٦٥٨) . سنن ابي داود_ السنة ١٨ (٤٧١٤) (تحفة الأشراف : ١٢٣٧٦) . و موطا امام مالك_ الجنائز ١٦ (٥٢) . و مسند احمد (٢_ ٢٤٤ . ٢٥٣ . ٢٥٩ . ٢٦٨ . ٣١٥ . ٣٤٧ . ٣٩٣ . ٤٧١ . ٤٨٨ . ٥١٨)

يې پیش کوو
بزار پخپل مسند کې او ابن جریر او ابن ابي حاتم او ابن منذر پخپل خپل تفسیر کې حاکم په مستدرك کې دابن عباس رضي الله عنهما نه په صحیح سند سره نقل کړي دي چې فرمائیل یې چې دادم او دنوح علیهم السلام په مینځ کې لس قرنه فاصله وه او دا ټول خلق په یو حق دین باندې وو بیا په دوئ کې اختلاف پیدا شو
او همدارنګې ابن ابي حاتم دقتاده نه روایت کړي دي چې دغه زمانه ټوله لس قرنه وو اوټول خلق علماء او هدایت یافته وو بیاپه دوئ کې اختلاف پیدا شو په دې وخت کې الله پاك نوح علیه السلام په رسالت سره راولیږلو الله تعالی په زمکه کې دټولو نه ړومبي نبي نوح علیه السلام رالیږلي دي
حسن اوعطاء وائي چې دادم علیه السلام دوفات کیدو دوخت نه واخله دنوح علیه السلام دزماني پورې ټول خلق دشپونکو پشان په یو مذهب وو بیا الله تعالی نوح وغیره یو څو نبیان راولیږل ‹دقتاده او حسن او عطاء په روایتونو کې تعارض دي› او تطبیق په دې دواړو کې داسې کیدې شي چې په اولني روایت کې خو هغه ټول خلق مراد دي لیکن بیا په دې کې اختلاف پیدا شو تردې چې دنوح علیه السلام په زمانه کې علاوه دهغه دمور اوپلار نه نور ټول کافران شوي وو بس صرف هغوئ مسلمانان پاتې شوي وو، ددې دلیل دا دې چې نوح علیه السلام دعا کړي وه چې رب اغفرلي ولوالدي.
بعضي مفسرینو لیکلي دي چې ددینه تمام اهل عرب مراد دي ، ابن کثیر وائي چې عمرو بن عامر خزاعي دحاکم کیدو پورې په مکه کې ټول اهل عرب په دین ابراهیمي باندې وو ، امام احمد په خپل مسند کې دابن مسعود رضي الله عنه نه روایت کړي دي چې نبي علیه السلام فرمائیلي دي اول چې چا دسانبو ایجاد کړي وو او دبتانو عبادت یې کړي وو هغه عمرو بن عامر خزاعي وو اوما دهغه کلمي په اور کې اولیدلې
په صحیحینو کې دابو هریره رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چې عمرو بن عامر ما په دوزخ کې اولیدو چې دکلمو نه رابنکلي شو او دټولو نه مخکې هغه دسانبو ایجاد کړي وو
او ابن جریر په خپل تفسیر کې دابوهریره رضي الله عنه نه داسې روایت بیان کړي دي اوپه هغه روایت کې دا اضافه هم ده چې دین ابراهیمي اول هغه بدل کړي وو ، په دې ایت کې دناس نه عرب مراد کولونه لفظ نبین انکار کوي څکه چې په عربو کې دنبي علیه السلام نه علاوه بل څوك نه وو نبي شوي . ددې دلیل دادې "لتنذر قوما ما انذر ابائهم فهم غفلون" ابوالعالیه دابي بن کعب رضي الله عنه نه روایت نقل کړي دي فرمائي کله چې ټول خلق ادم علیه السلام ته پیش شول اودهغه دشانه راوویستلي شول نوپه دغه وخت کې دوئ ټولو دیو امت کیدو

دخپل بنده توب اقرار اوکړو اودغه وخت نه علاوه مخلوق کله داسي نه دي کړي همیشه يي اختلاف کړي دي

زما په خيال ممکن ده چي د "کان الناس امة واحدة" دا معني وي چي ټول خلق دحق قبلولو مستعد او په فطرت باندي پيدا شوي وو ليکن بيا دانسانانو اوجناتو شيطانانو دوی لره دوکه کړل نو په دوی کي اختلاف پيدا شو، دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر يو ماشوم په فطرت باندي پيدا کيږي ليکن بيا دوی لره مور اوپلار يهوديان يا نصرانيان يا مجوسيان کړي لکه چي دڅاروي بچي هم د څاروي پشان صحيح سالم وي ، ايا وينئ تاسو په دي کي غوږ پريکړي شوي (متفق عليه).

****

حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَالْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ، وَقَالَ: "يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَغَيْرُهُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ" بِمَعْنَاهُ، وَفِي الْبَابِ عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ سَرِيعٍ. [1]

ترجمه : په مذکوره سند دابوهريره رضي الله عنه په واسطه هم درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت مروي دي.

امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح دي دا رنګي شعبه وغيره هم داعمش نه عن ابي صالح عن ابي هريره عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره روايت نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل "يولد علي الفطرة" او په دي باب کي د اسود بن سريع رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٦ـ باب مَا جَاءَ لَا يَرُدُّ الْقَدَرَ إِلَّا الدُّعَاءُ

صرف دعا تقدير واپس کولي شي

---

[1] ـ صحيح البخاری ـ الجنائز ٩٢ (١٣٨٣)، والقدر ٣ (٦٥٩٢)، صحيح مسلم ـ القدر ٦ (٢٦٥٨)، سنن ابی داود ـ السنة ١٨ (٤٧١٣) (تحفة الأشراف : ١٢٣٤٦)، و موطا امام مالک ـ الجنائز ١٦ (٥٢)، و مسند احمد (٢ـ ٢٣٣، ٢٥٣، ٢٥٩، ٢٦٨، ٢١٥، ٢٧٤، ٣٩٣، ٤١٠، ٤٨٨، ٥١٨)

٢١٣٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، وَسَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الضُّرَيْسِ، عَنْ أَبِي مَوْدُودٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَرُدُّ الْقَضَاءَ إِلَّا الدُّعَاءُ، وَلَا يَزِيدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي أَسِيدٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ سَلْمَانَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ الضُّرَيْسِ، وَأَبُو مَوْدُودٍ اثْنَانِ: أَحَدُهُمَا يُقَالُ لَهُ فِضَّةُ، وَهُوَ الَّذِي رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ اسْمُهُ فِضَّةُ بَصْرِيٌّ، وَالْآخَرُ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، أَحَدُهُمَا بَصْرِيٌّ، وَالْآخَرُ مَدَنِيٌّ، وَكَانَا فِي عَصْرٍ وَاحِدٍ.
([1])

ترجمه . دسلمان رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ددعا نه علاوه بل هيڅ يو څيز تقدير لره نشي روستو كولي او دنيكئ نه علاوه بل هيڅ يو څيز عمر لره نشي زياتولي

امام ترمذي وايي . داحديث دسلمان په روايت حسن غريب دي، او په دي باب كي دابو اسيد رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او دا مونږ ته صرف ديحي بن ضريث په روايت رارسيدلي دي، ابو مودود د دوه راويانو اسم كنيه ده ديو نوم فضه دي او دا هغه كس دي چاچي دا حديث نقل كړي دي او دده نوم فضه دي او د دويم ابو مودود نوم عبدالعزيز بن ابوسليمان دي په دوئ كي يو دبصري اوسيدونكي دي او بل دمديني والا دي او دواړه په يوه زمانه كي تير شوي دي

دابوعبدالله سلمان الفارسي رضي الله عنه مناقب

نوم مجوسي مايه وو داسلام قبلولو نه پس ورباندي سلام نوم كيخودى شو كنيه يي ابو عبدالله ده نسب نامه يي داسي ده مايه بن لوذ خشان بن مرسلان بن بهنوزان بن پيروز بن سهرك

دجاهليت په زمانه كي په مجوسيت كي هم ډير كلك وو دده شمير په هغه اورپرست خلقو كي شوى دى كومو چي به په هيڅ وخت كي اور وژلو ته نه پريخودو بيا عيسائي مذهب ته مائل شو او په دي سلسله كي يي دمتعددو فادريانو سره وخت تير كړو اخري فادري ورته درسول الله صلي الله عليه وسلم دراتلو بشارت وركړى وو كله چي دى رسول الله ته راورسيدو نو مسلمان شو رسول الله دده او دابوالدرداء ورورولي قائمه كړه

دده اولنئ غزوه خندق وه او دخندق نه پس بيا په تمامو غزواتو كي شريك شوى دى (مسند احمد).

عمر رضي الله عنه ده لره دمدائن والي مقرر كړى وى دده په زندګئ كي يو څو صفات ډير

---
[1] ـ تفرد به مؤالف (تحفة الأشراف : ٣٥٠٢)

پرقيدونكي وو اول زهد او تقوي دويم درهبانيت نه نفرت ، دريم صداقت، څلورم سخاوت، پنځم دصدقات اخستلو نه اجتناب كول ، مروي دي چي دعثمان رضي الله عنه په زمانه کې وفات شوی دی دده عمر دبعضو په نزد دوه سوه پنځوس يا دري سوه پنځوس کاله وو دده دمروياتو تعداد ٢٠دی ابوسعيد خدري ، ابن عباس، اوس بن مالك رضي الله عنهم وغيره دده شاګردان دي مزيد حالت يې طبقات ابن سعد او تهذيب الكمال کې کتلی شي.

****

٧ـ باب مَا جَاءَ أَنَّ الْقُلُوبَ بَيْنَ أُصْبُعَيِ الرَّحْمَنِ

او دخلقو زړونه د رحمان ذات د دوه ګوتو په مينځ کي دي

٢١٤٠ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ: "يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ، ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ". فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، آمَنَّا بِكَ وَبِمَا جِئْتَ بِهِ فَهَلْ تَخَافُ عَلَيْنَا؟ قَالَ: "نَعَمْ، إِنَّ الْقُلُوبَ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ اللَّهِ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَاءُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَائِشَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ أَنَسٍ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَدِيثُ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ أَنَسٍ أَصَحُّ. (1)

ترجمه دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به اكثر دا دعاغوښتله" يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ، ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ" اى دزړونو بدلونكيه خما زړه په خپل دين مضبوط كړې،راوي وائي چي ما اووئيل اي دالله رسوله مونږ په تا ايمان راوړي دي او ستا په دين مو ايمان راوړي دي ايا ته اوس هم په مونږ باندي ويريږې؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو دخلقو زړونه درحمان ذات د دوه ګوتو په مينځ کي دي کوم طرف ته چي يي اړول اوغواړي هم هغه طرف ته يي اړوي (يعني د باري تعالي په اختيار کي دي).

امام ترمذي وايي دا حديث حسن دي او نورو راويانو عن الاعمش عن ابي سفيان عن انس سند سره نقل كړي دي او بعضي نورو راويانو عن الاعمش عن ابي سفيان عن جابر عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل كړي دي ليكن دابوسفيان كوم حديث چي دانس نه مروي دي زيات صحيح دي، او په دي باب کي دنواس بن سمعان، ام سلمه، عبدالله بن عمرو، او

1 سنن ابن ماجه ـ الدعاء ٢ (٣٨٣٤) (تحفة الأشراف: ٩٣٤)

عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

لغات: مقلب اړونکي، ثبت ثابت شو، کيناستو، دکرم نه معني بهادري

تشريح: يا مقلب القلوب، اى دزړونو اړونکيه يعني دهدايت نه پس ګمراهي يا دګمراهۍ نه پس هدايت ورکونکيه.

ثبت قلبي علي دينك زما زړه پخپل دين مضبوط کړي دا دعا به رسول الله تواعظا کوله ورنه هغه خو معصوم وو او په دين باندي دهغه استقامت لازمي وو علماء وائي دي حديث کې دي خبري ته اشاره شوي ده چي اصل مقصد په دين استقامت او حسن حاتمه ده او که دا دولت دچا نصيب نشي نو تمام عبادات به يې ضايع شي.

علماء وائي دقران کريم په دي ايت "ربنا لاتزغ قلوبنا بعد اذهديتنا. کې هم دي ته اشاره ده يعني اى زمونږ پروردګاره زمونږ زړونه کاږه نکړي پس دهغه نه چي تا مونږ ته هدايت رانصيب کړى دى.

****

٨_ باب مَا جَاءَ أَنَّ اللهَ كَتَبَ كِتَابًا لأَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِ النَّارِ

الله تعالي جنتيان اوجهنميان پخپل کتاب کي ليکلي دي

٢١٤١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي قَبِيلٍ، عَنْ شُفَيِّ بْنِ مَاتِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي يَدِهِ كِتَابَانِ، فَقَالَ: " أَتَدْرُونَ مَا هَذَانِ الْكِتَابَانِ ؟ " فَقُلْنَا: لَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِلَّا أَنْ تُخْبِرَنَا. فَقَالَ لِلَّذِي فِي يَدِهِ الْيُمْنَى: " هَذَا كِتَابٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ، فِيهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ. ثُمَّ أُجْمِلَ عَلَى آخِرِهِمْ، فَلَا يُزَادُ فِيهِمْ وَلَا يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا ". ثُمَّ قَالَ لِلَّذِي فِي شِمَالِهِ: " هَذَا كِتَابٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ، فِيهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ النَّارِ وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ، ثُمَّ أُجْمِلَ عَلَى آخِرِهِمْ فَلَا يُزَادُ فِيهِمْ وَلَا يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا ". فَقَالَ أَصْحَابُهُ: فَفِيمَ الْعَمَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنْ كَانَ أَمْرٌ قَدْ فُرِغَ مِنْهُ. فَقَالَ: " سَدِّدُوا وَقَارِبُوا فَإِنَّ صَاحِبَ الْجَنَّةِ يُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنْ عَمِلَ أَيَّ عَمَلٍ، وَإِنَّ صَاحِبَ النَّارِ يُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ، وَإِنْ عَمِلَ أَيَّ عَمَلٍ ". ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ فَنَبَذَهُمَا، ثُمَّ قَالَ: " فَرَغَ رَبُّكُمْ مِنَ الْعِبَادِ، فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ".[1]

[1] - (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٨٨٣٥)، ومسند احمد (٢_١٦٧)

ترجمه دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ځل زمونږ طرف ته راووتلو او په لاس کي يي دوه کتابونه وو مونږ نه يي تپوس اوکړو ايا تاسو ته معلومه ده چي دا دواړه کتابونه څه دي؟ مونږ اوونيل مونږ ته علم نشته علاوه دهغي نه چي ته يي راته بيان کړي دښي لاس والا کتاب باره کي يي اوفرمائيل دا درب العالمين کتاب دي په دي کي دجنتيانو او ددوئ دپلار نيکه او ددوئ دقبيلو نومونه دي او بيا په اخره کي ددوئ ميزان ذکر شوي دي لهذا نه به په دي کي څه اضافه کيږي او نه به په دي کي څه کمي راځي او بيا يي دګس لاس والا کتاب په باره کي اوفرمائيل دا درب العالمين کتاب دي په دي کي دجهنميانو او ددوئ دپلار نيکه او ددوئ دقبيلو نومونه دي او په اخر کي ددوئ دميزان ذکر دي چي نه به په دوئ کي اضافه اوشي او نه کمي صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله بيا عمل کولو ته څه ضرورت دي چي معامله په دوئ کي فيصله شوي ده؟ رسول الله اوفرمائيل په نيغه لار باندي ځئ او ميانه روي کوئ ځکه چي دجنتي خاتمه به په جنتي عمل باندي کيږي اګر که ددينه مخکي يي هر څنګه عمل کړي وي او دجنتي خاتمه به په جهنمي عمل باندي کيږي اګر که ددينه مخکي يي هر څنګه عملونه کړي وي او بيا رسول الله خپلو دواړو لاسونو اشاره اوکړه او بيا يي دا دواړه کتابونه کيخودل او وېي فرمائيل ستاسو رب دبندګانو نه فارغ شوي دي يوه ډله به جنت ته ځي او بله ډله به جهنم ته ځي

****

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرٍ، عَنْ أَبِي قَبِيلٍ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو قَبِيلٍ اسْمُهُ حُيَيُّ بْنُ هَانِئٍ. (1)

ترجمه : دابوقبيل نه هم په مذکوره سند دماقبل هم معني روايت مروي دي

امام ترمذي وايي او په دي باب کي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح غريب دي او دابوقبيل نوم حيي بن هاني دي

****

٢١٤٢ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِعَبْدٍ خَيْرًا اسْتَعْمَلَهُ". فَقِيلَ: كَيْفَ يَسْتَعْمِلُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "يُوَفِّقُهُ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ الْمَوْتِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 ـ (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٨٨٣٥)، ومسند احمد (٢ـ١٦٧)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٨٩)

ترجمه ، دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي الله تعالي ديو بنده سره دښيګړي كولو اراده اوكړي نو په ده باندي دنيكئ كار اوكړي عرض اوكړي شو اي دالله رسوله څنګه عمل ورباندي اوكړي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دمرګ نه مخکي هغه ته دعمل صالح توفيق وركړي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٩_ باب مَا جَاءَ لاَ عَدْوَى وَلاَ هَامَةَ وَلاَ صَفَرَ

په اسلام كي ديو نه بل ته بيماري لګيدلو او د مړي دسر نه دمرغئ الوتلو او دسفري مياشتي سپيره والي خبرو هيڅ حقيقت نشته

٢١٤٣ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ، حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ بْنُ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا صَاحِبٌ لَنَا، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "لَا يُعْدِي شَيْءٌ شَيْئًا". فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، الْبَعِيرُ الْجَرِبُ الْحَشَفَةُ نُدْبِنُهُ فَيُجْرِبُ الْإِبِلَ كُلَّهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَمَنْ أَجْرَبَ الْأَوَّلَ. لَا عَدْوَى وَلَا صَفَرَ. خَلَقَ اللَّهُ كُلَّ نَفْسٍ وَكَتَبَ حَيَاتَهَا وَرِزْقَهَا وَمَصَائِبَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَنَسٍ. قَالَ: وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ عَمْرِو بْنِ صَفْوَانَ الثَّقَفِيَّ الْبَصْرِيَّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ الْمَدِينِيِّ، يَقُولُ: لَوْ حَلَفْتُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ، لَحَلَفْتُ أَنِّي لَمْ أَرَ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ. ([1])

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ په مينځ كي اودريدو او ويي فرمائيل هيڅ يوه بيماري ديو نه بل ته نه منتقل كيږي يو باندچي عرض اوكړو اي دالله رسوله ديوي ښمني شرمګاه والا اوښ په وجه ټول اوښان فمن كيږي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيا اولني چا فمن كړي دي بيماري ديو نه بل ته نه لګي او نه دصفري دمياشتي دسپيره والي څه حقيقت شته الله تعالي هر يو نفس پيدا كړي دي او دهغه زندګي او رزق او مصيبتونه يي ليكلي دي.
امام ترمذي وايي ، په دي باب كي دابوهريره، ابن عباس، او انس رضي الله عنهم نه هم

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف . ٩٦٣٠) . وانظر مسند احمد (١ـ ٤٤٠)

احاديث وارد دي محمد بن عمرو بن صفوان ثقفي وائي دعدي بن مديني نه مي اوريدلي دي ونيل يي چي که چري زه د رکن او مقام مينځ کي قسم خوړل اوغواړم نو په دي خبره قسم خوړلي شم چي ما د عبدالرحمن بن مهدي نه زيات لوي عالم بل نه دي ليدلي

****

١٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الإِيمَانِ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ

په ښه اوبد تقدير دايمان لرلو بيان

٢١٤٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو الْخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَيْمُونٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ حَتَّى يَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهُ، وَأَنَّ مَا أَخْطَأَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُبَادَةَ، وَجَابِرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَيْمُونٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَيْمُونٍ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ.[1]

ترجمه دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي يو بنده هغه وخته پوري مومن نشي كيدي چي څو پوري يي په ښه او بد تقدير ايمان راوړي نه وي او په دي خبره يي يقين كړي نه وي چي كوم نصيب ماته رارسيدلي دي دا بنديدونكي نه وو او چي كوم څيز زما نه بند شوي دي دا ماته رسيدونكي نه وو.

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي او دا روايت صرف مونږ دعبدالله بن ميمون په سند پيژنو. او عبدالله بن ميمون منكر الحديث دي. او په دي باب كي دعباده، جابر او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢١٤٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيِّ بْنِ حِرَاشٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِأَرْبَعٍ: يَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنِّي مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ بَعَثَنِي بِالْحَقِّ، وَيُؤْمِنُ بِالْمَوْتِ، وَبِالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ، وَيُؤْمِنُ بِالْقَدَرِ".[2]

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٦١٣)

[2] ـ سنن ابن ماجه ـ المقدمة ١٠ (٨١) (تحفة الأشراف: ١٠٠٨٩)

ترجمه دعلي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي يو بنده په څلورو څيزونو دايمان راوړلو نه بغير مومن نشي کيدي اول ددي خبري ګواهي ورکول دي چي دالله تعالي نه علاوه بل څوك حقدار دبندګۍ نشته او زه دالله رسول يم. او زه يي په حق سره رالیږلي يم دويم په مرګ باندي ايمان راوړل. دريم دمرګ نه پس په دوباره ژوندي کيدو او پورته کيدو ايمان راوړل. او څلورم په تقدير ايمان راوړل

****

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، عَنْ شُعْبَةَ، نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: رِبْعِيٌّ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ عِنْدِي أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ النَّضْرِ. وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ رِبْعِيٍّ، عَنْ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا الْجَارُودُ، قَال: سَمِعْتُ وَكِيعًا، يَقُولُ: بَلَغَنَا أَنَّ رِبْعِيًّا لَمْ يَكْذِبْ فِي الْإِسْلَامِ كِذْبَةً. (1)

ترجمه شميل راوي هم دشعبه نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي مګر دا چي دده په روايت کي دومره اضافه ده چي دا حديث ربعي ديو کس نه نقل کړي دي او هغه دعلي رضي الله عنه نه نقل کړي دي.

امام ترمذي وائي دابو داود حديث دشعبه په روايت زما په نزد دنضر دحديث نه زيات صحيح دي،دارنګي دا روايت ډيرو راويانو دمنصور په سند دربعي نه اوهغه دعلي رضي الله عنه نه نقل کړي دي، دجارود قول دي دوکيع نه مي اوريدلي دي وئيل يي چي دځه وخت نه ربعي اسلام قبول کړي دي دهغه وخت نه پس يي چرته دروغ نه دي وئيلي

****

١١_ باب مَا جَاءَ أَنَّ النَّفْسَ تَمُوتُ حَيْثُ مَا كُتِبَ لَهَا

موت انسان ته په هغه ځاي کي راځي چرته چي دده دپاره مقرر شوي وي

٢١٤٦_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ مَطَرِ بْنِ عُكَامِسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا قَضَى اللَّهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوتَ بِأَرْضٍ، جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي عَزَّةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَلَا يُعْرَفُ لِمَطَرِ بْنِ عُكَامِسٍ،

---

1 - سنن ابن ماجه_المقدمة١٠(٨١)(تحفة الأشراف: ١٠٠٨٩)

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ هَذَا الحَدِيثِ. (1)

ترجمه: دمطر بن عكامس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي الله تعالي دكوم بنده دمرګ دپاره كومه زمكه مقرروي نو په هغه خاي كي ددي بنده دپاره ضرور كوم حاجت پيدا كړي (ددي دپاره چي دضروت په بهانه دي دخپل مرګ خاي ته خان پخپله ورسوي).

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دي او ددي حديث نه علاوه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دمطر بن عكامس كوم بل حديث مونږ ته معلوم نه دي، او په دي باب كي دابو عزي نه هم روايت وارد دي.

تشريح: الله تعالي پخپل كتاب كي فرمائيلي دي:

وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ (ال عمران:٣٤) [اونه پوهيږي هيڅ نفس چي په كومه زمكه كي به مړ كيږي]

دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دغيبو خزاني پنځه دي دكومو نه چي دالله نه علاوه بل څوك خبردار نه دي او نه دالله تعالي نه علاوه بل چاته معلومه ده چي سبا به څه كيږي او دالله نه علاوه بل څوك پدي هم نه پوهيږي چي په رحيم كي دنته څه دي او دالله نه علاوه بل څوك پدي هم نه پوهيږي چي قيامت به كله قائميږي او دالله نه علاوه بل څوك پدي هم نه پوهيږي چي دي به په كومه زمكه مري.الخ رواه البخاري.

په بخاري او مسلم كي دابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل شوي دي چي دقيامت متعلق سوال دجبرايل په حديث كي مذكور دي او دا دپنځه څيزونو نه دي يعني دقيامت علم دهغه پنځه څيزونو نه دي كوم چي په ايت كريمه إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ كي ذكر شوي دي

ابن ابي شيبه په المصنف كي دخيثمه نه روايت بيان كړي دي چي ملك الموت سليمان عليه السلام ته ورغلو او دهغه سره چي كوم خلق ناست وو نو په هغوئ كي يو كس دده طرف ته كتل شروع كړل هغه اوونيل دا څوك دي سليمان عليه السلام اوفرمائيل ملك الموت دي نو دغه كس اوونيل داسي معلوميږي چي دي مالره وژل غواړي ته هوا ته حكم اوكړه چي ما ددي خاي نه پورته كړي او هندوستان ته مي اورسوي نو سليمان عليه السلام هوا ته حكم اوكړو او هوا ده لره هندوستان ته ورسولو ملك الموت اوونيل ما په تعجب سره دغه كس ته كتل څكه چي دي ستاخواته موجود وو او ماته حكم شوي وو چي دده روح به په هندوستان كي قبض كوي

****

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٢٨٢)

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا مُؤَمَّلٌ، وَأَبُو دَاوُدَ الحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه دسفيان نه هم په دي سند دماقبل هم معني روايت مروي دي.

****

٢١٤٧ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، المعنى واحد، قَالَا: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي المَلِيحِ بْنِ أُسَامَةَ، عَنْ أَبِي عَزَّةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قَضَى اللَّهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوتَ بِأَرْضٍ، جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً، أَوْ قَالَ: بِهَا حَاجَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو عَزَّةَ لَهُ صُحْبَةٌ، وَاسْمُهُ يَسَارُ بْنُ عَبْدٍ، وَأَبُو المَلِيحِ اسْمُهُ عَامِرُ بْنُ أُسَامَةَ بْنِ عُمَيْرٍ الهُذَلِيُّ، وَيُقَالُ: زَيْدُ بْنُ أُسَامَةَ. ([2])

ترجمه : دابوعزي بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي الله تعالي دكوم بنده دمرګ دپاره كومه زمكه مقرر كوي نو په هغه خاي كي ددي بنده دپاره ضرور كوم حاجت پيدا كوي (ددي دپاره چي دضروت په بهانه دي دخپل مرګ خاي ته خان يخپله ورسوي)

امام ترمذي وايي : داحديث صحيح دي او ابو عزه ته دصحابيت شرف حاصل دي او دده نوم يسار بن عبيد دي اودابو المليح نوم عامر بن اسامه بن عمير هذلي دي، زيد بن اسامه ورته هم ونيلي شي.

****

١٢ـ بَاب مَا جَاءَ لَا تَرُدُّ الرُّقَى وَلَا الدَّوَاءُ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ شَيْئًا

دم درود او دوا علاج دالله تعالي دتقدير نه هيڅ نشي واپس كولي

٢١٤٨ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ المَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ ابْنِ أَبِي خُزَامَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ رُقًى نَسْتَرْقِيهَا، وَدَوَاءً نَتَدَاوَى بِهِ، وَتُقَاةً نَتَّقِيهَا، هَلْ تَرُدُّ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ شَيْئًا؟ فَقَالَ: "هِيَ مِنْ قَدَرِ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا، عَنْ

---

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٢٨٣)

[2] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٨٢٢)

سُفْيَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي خُزَامَةَ، عَنْ أَبِيهِ، وَهَذَا أَصَحُّ، هَكَذَا قَالَ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي خُزَامَةَ، عَنْ أَبِيهِ. (1)

ترجمه دابوخزامه رضي الله عنه بيان دي فرماني چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته يو كس راغي او عرض يي اوكرو اي دالله رسوله دبيمارئ په صورت كي چي مونږ كوم دم درود كوو او يا څه دوا او علاج كوو او يا كوم پرهيز كوو ايا دا څيزونه دالله تعالي دتقدير نه څه فيصله واپس كولي شي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا څيزونه هم دالله تعالي په تقدير كي شامل دي

امام ترمذي وايي . دا حديث مونږ صرف د ابن شهاب زهري په روايت پيژنو او نورو راويانو عن سفيان عن الزهري عن ابي خزامة عن ابيه سند سره نقل كړي. دي او دا سند زيات صحيح دي او بعضي نورو راويانو عن الزهري عن ابي خزامة عن ابيه سند سره هم نقل كړي دي

****

١٣_ باب مَا جَاءَ فِي الْقَدَرِيَّةِ

دقدريه فرقي بيان

٢١٤٩_حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنِ القَاسِمِ بْنِ حَبِيبٍ، وَعَلِيِّ بْنِ نِزَارٍ، عَنْ نِزَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صِنْفَانِ مِنْ أُمَّتِي لَيْسَ لَهُمَا فِي الإِسْلاَمِ نَصِيبٌ: المُرْجِئَةُ، وَالقَدَرِيَّةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عُمَرَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما په امت كي د دوه قسمه خلقو دپاره په اسلام كي هيڅ حصه نشته (١) مرجئه (٢) قدريه.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح غريب دي او په دي باب كي دابن عمر، عمر فاروق، او رافع بن خديج رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

---

1. انظر حديث رقم: ٢٠٦٥)

2. سنن ابن ماجه_المقدمة ٩ (٧٣) (تحفة الأشراف: ٦٢٢٢)

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا سَلَّامُ بْنُ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([1])

ترجمه : په دي سند هم د ابن عباس په سند درسول الله صلي الله عليه وسلم نه د ماقبل هم معني روايت مروي دى

****

٢١٤٩ـ قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ نِزَارٍ، عَنْ نِزَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. ([2])

ترجمه . په دي سند هم د ابن عباس په سند درسول الله صلي الله عليه وسلم نه د ماقبل هم معني روايت مروي دى.

****

١٤ـ باب

د ماقبل باب متعلق يو بل باب

٢١٥٠ـ حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ مُحَمَّدُ بْنُ فِرَاسٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو الْعَوَّامِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مُثِّلَ ابْنُ آدَمَ وَإِلَى جَنْبِهِ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ مَنِيَّةً إِنْ أَخْطَأَتْهُ الْمَنَايَا وَقَعَ فِي الْهَرَمِ حَتَّى يَمُوتَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو الْعَوَّامِ هُوَ عِمْرَانُ، وَهُوَ ابْنُ دَاوَرَ الْقَطَّانُ. ([3])

ترجمه : دعبدالله بن شخير رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دبني ادم مثال داسي دي چي دده اړخ ته ٩٩ افتونه دي كه دي ددي افتونو نه بچ شي نو په بوډاوالي كي په دي كي گرفتاريږي ترديوري چي مرگ ورته راشي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن غريب دي او دا مونږ صرف په همدي سند پيژنو

---

[1] - انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٦١٣٢)

[2] - انظر حديث رقم ٢١٣٩

[3] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٥٢)

دعبدالله بن شخير رضي الله عنه مناقب

دده پوره نوم عبدالله بن الشخير بن عوف بن كعب بن وفدان وو دى په بصريينو كې شميرلى 5/18
شي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دبنو عامر په وفد كې راغلى وو دده دوه خامن وو
اول مطرف دويم يزيد او همدا دواړه دده نه روايت كوي دمروياتو شمير يې ۷ دى ليكن بعضې
اسماء رجال والا ۹ ليكلي دي.

****

١٥ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الرِّضَا بِالْقَضَاءِ

دالله په فيصلي دراضي كيدو بيان

٢١٥١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي حُمَيْدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مِنْ سَعَادَةِ ابْنِ آدَمَ رِضَاهُ بِمَا قَضَى اللَّهُ لَهُ، وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ تَرْكُهُ اسْتِخَارَةَ اللَّهِ، وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ سَخَطُهُ بِمَا قَضَى اللَّهُ لَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي حُمَيْدٍ، وَيُقَالُ لَهُ أَيْضًا: حَمَّادُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ، وَهُوَ أَبُو إِبْرَاهِيمَ الْمَدَنِيُّ وَلَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ.[1]

ترجمه: دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي په فيصلي دبني ادم راضي كيدل دده سعادت (نيك بختي) ده، دالله تعالي نه خير نه غوښتل دبني ادم شقاوت (بدبختي) ده، او دالله تعالي په فيصلي نه راضي كيدل دانسان شقاوت دي

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، او دا مونږ ته صرف دمحمد بن ابي حميد په سند رارسيدلي دي دي راوي ته حماد بن ابي حميد هم وئيلي شي او دده كنيه ابو ابراهيم ده او دمديني اوسيدونكي دي او دمحدثينو په نزد څه خاص قوي نه دي

****

١٦ـ باب

د ماقبل باب متعلق يوبل باب

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٩٣٢)

٢١٥٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو صَخْرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي نَافِعٌ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ جَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: إِنَّ فُلاَنًا يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلاَمَ، فَقَالَ لَهُ: إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّهُ قَدْ أَحْدَثَ، فَإِنْ كَانَ قَدْ أَحْدَثَ، فَلاَ تُقْرِئْهُ مِنِّي السَّلاَمَ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "يَكُونُ فِي هَذِهِ الأُمَّةِ أَوْ فِي أُمَّتِي الشَّكُّ مِنْهُ خَسْفٌ أَوْ مَسْخٌ أَوْ قَذْفٌ فِي أَهْلِ القَدَرِ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو صَخْرٍ اسْمُهُ حُمَيْدُ بْنُ زِيَادٍ.[1]

ترجمه : دنافع بيان دي فرمائي چي ابن عمر رضي الله عنهما ته يو كس راغلو او وئيل يي فلاني بنده په تا باندي سلام وئيلي دي، ابن عمر رضي الله عنهما اووئيل ماته خبر رارسيدلي دي چي هغه په دين كي نوي عقيده ايجاد كړي ده او كه هغه په دين كي نوي عقيده ايجاد كړي وي نو چي زما سلام ورته اونه رسوئ ځكه چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي په دي امت كي يا زما په امت كي (دراوي شك دي) به دتقدير په منكرينو دخسف، مسخ، قذف عذاب راځي.
امام ترمذي وايي : داحديث حسن صحيح غريب دي او دابو صخر حماد بن زياد دي.

****

٢١٥٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي صَخْرٍ حُمَيْدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَكُونُ فِي أُمَّتِي خَسْفٌ وَمَسْخٌ، وَذَلِكَ فِي المُكَذِّبِينَ بِالقَدَرِ".[2]

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زر ده چي زما په امت كي به دخسف او مسخ عذاب شروع شي او دا به دتقدير په مكذبينو او منكرينو باندي راځي.

****

١٧_ باب

د ماقبل باب متعلق يو بل باب

٢١٥٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي المَوَالِي المُزَنِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ

[1] - سنن ابن ماجه_ الفتن ٢٩ (٤٠٦١) (تحفة الأشراف : ٧٦٥١)

[2] - سنن ابن ماجه_ الفتن ٢٩ (٤٠٦١) (تحفة الأشراف : ٧٦٥١)

الرَّحْمَنِ بْنِ مَوْهَبٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ وَلَعَنَهُمُ اللَّهُ وَكُلُّ نَبِيٍّ كَانَ: الزَّائِدُ فِي كِتَابِ اللَّهِ، وَالْمُكَذِّبُ بِقَدَرِ اللَّهِ، وَالْمُتَسَلِّطُ بِالْجَبَرُوتِ لِيُعِزَّ بِذَلِكَ مَنْ أَذَلَّ اللَّهُ، وَيُذِلَّ مَنْ أَعَزَّ اللَّهُ، وَالْمُسْتَحِلُّ لِحَرَمِ اللَّهِ، وَالْمُسْتَحِلُّ مِنْ عِتْرَتِي مَا حَرَّمَ اللَّهُ، وَالتَّارِكُ لِسُنَّتِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَى عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الْمَوَالِي هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَوْهَبٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَاهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَحَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَوْهَبٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مُرْسَلًا وَهَذَا أَصَحُّ.[1]

ترجمه : ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي شپږ قسمه خلق داسي دي په چا باندي چي ما او الله تعالي او تمامو انبياؤ لعنت وئيلي دي ۱: دالله په کتاب کي زيادت کونکي ۲: دتقدير تکذيب کونکي ۳: دطاقت په ذريعه غلبه حاصلونکي تردي چي ددي په ذريعه هغه چاته عزت ورکړي چالره چي الله تعالي ذليل کړي دي او هغه چالره ذليل کړي چاته چي الله تعالي عزت ورکړي دي او بل دالله تعالي محرماتو لره حلال ګڼرونکي زما په کورنۍ کي دمحرماتو حلال ګڼرونکي او زما دسنت پريخودونکي.

امام ترمذي وايي : عبدالرحمن بن ابو موالي هم دا حديث دعبيدالله بن عبدالرحمن بن موهب عن عمرة عن عائشة عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل کړي دي، او سفيان ثوري، حفص بن غياث او بعضي نورو راويانو دا حديث عن عبيدالله بن عبدالرحمن بن موهب عن علي بن حصين عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره مرسل نقل کړي دي او دا زيات صحيح سند دي.

****

۲۱۵۵ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ سُلَيْمٍ، قَالَ: قَدِمْتُ مَكَّةَ فَلَقِيتُ عَطَاءَ بْنَ أَبِي رَبَاحٍ، فَقُلْتُ لَهُ: يَا أَبَا مُحَمَّدٍ، إِنَّ أَهْلَ الْبَصْرَةِ يَقُولُونَ فِي الْقَدَرِ. قَالَ: يَا بُنَيَّ، أَتَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: فَاقْرَإِ الزُّخْرُفَ. قَالَ: فَقَرَأْتُ حم وَالْكِتَابِ الْمُبِينِ إِنَّا جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ وَإِنَّهُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ (الزخرف: ۴۱)، فَقَالَ: أَتَدْرِي مَا أُمُّ الْكِتَابِ؟ قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: فَإِنَّهُ كِتَابٌ كَتَبَهُ اللَّهُ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ

---

[1] ـ : تفرد به المؤلف.

السَّمَاوَاتِ، وَقَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ الأَرْضَ فِيهِ إِنَّ فِرْعَوْنَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَفِيهِ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ. قَالَ عَطَاءٌ: فَلَقِيتُ الْوَلِيدَ بْنَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ صَاحِبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَسَأَلْتُهُ مَا كَانَ وَصِيَّةُ أَبِيكَ عِنْدَ الْمَوْتِ. قَالَ: دَعَانِي أَبِي. فَقَالَ لِي: يَا بُنَيَّ. اتَّقِ اللَّهَ وَاعْلَمْ أَنَّكَ لَنْ تَتَّقِيَ اللَّهَ حَتَّى تُؤْمِنَ بِاللَّهِ. وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ كُلِّهِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ. فَإِنْ مُتَّ عَلَى غَيْرِ هَذَا دَخَلْتَ النَّارَ. إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللَّهُ الْقَلَمَ. فَقَالَ: اكْتُبْ. فَقَالَ: مَا أَكْتُبُ؟ قَالَ: اكْتُبِ الْقَدَرَ مَا كَانَ. وَمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى الأَبَدِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

ترجمه : دعبدالواهب بن سليم بيان دي فرمائي چي زه دعطاء بن ابي رباح دملاقات دپاره مكي ته لاړم او هغه ته مي اووئيل اي ابو محمد بصري والاخلق دتقدير په سلسله كي ،علي سبيل الانكار، خبري كوي هغه اووئيل اي بچيه ايا قران لولي؟ ما اووئيل هو راته يي اووئيل سورة الزخرف اولوله ما اووئيل "حم والكتاب المبين انا جعلناه قرانا عربيالعلكم تعقلون. وانه في ام الكتاب لدينا لعلي حكيم" يعني حم، قسم دي واضح نازل شوي كتاب باندي مونږ دا كتاب په عربي ژبه كي رالیږلي دي ددي دپاره چي تاسو ورباندي پوهه شئ او يقينا دا په لوح محفوظ كي دي او يقينا زمونږ په نزد دلوړي مرتبي والا او حكمت نه ډك دي دا چي مي اولوستل نو هغه اووئيل ته پوهيږي چي ام الكتاب څه څيز دي ما اووئيل الله او دهغه رسول زيات پوهيږي عطاء اووئيل ام الكتاب يو كتاب دي كوم چي الله تعالي دزمكي او اسمان پيدا كولو نه مخكي ليكلي دي او په دي كي دا ليكلي شوي دي چي فرعون جهنمي دي، او په دي كي "تبت يدا ابي لهب وتب" هم ليكلي شوي دي يعني تباه دي شي دواړه لاسونه دابو لهب او ابو لهب تبا دي. عطاء اووئيل چي بيا زه وليد بن عباده بن صامت سره ملاؤ شوم او دهغه نه مي تپوس اوكړو چي ستا پلار دمرګ په وخت كي څه وصيت كړي وو؟ هغه اووئيل زما پلارزه راوغوښتلم او ماته يي اووئيل اي بچيه دالله نه ويريږه او په دي پوهه شه چي ته دالله نه هرګز هغه وخته پوري نشي ويريدلي ترڅو چي دي دالله تعالي دطرفه په ښه او بد تقدير ايمان نه وي راوړي او كه ددينه علاوه دي په بله عقيده مرګ راشي نو جهنم ته به لاړ شي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلي دي الله تعالي دهر څه نه مخكي قلم پيدا كړو او ويي فرمائيل اوليكه قلم عرض اوكړو څه اوليكم الله تعالي اوفرمائيل تقدير اوليكه او هغه څيزونه

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥١١٩)

اوليکه کوم چي شوي دي او کوم هميشه کيدونکي دي
امام ترمذي وايي داحديث په دي سند غريب دي.

****

۱۸_ باب
د ماقبل باب متعلق يوبل باب

۲۱۵٦_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُنْذِرِ الْبَاهِلِيُّ الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، حَدَّثَنِي أَبُو هَانِئٍ الْخَوْلَانِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " قَدَّرَ اللَّهُ الْمَقَادِيرَ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي الله تعالي دزمکي او داسمان دپيدا کولو نه پنخوس زره کاله مخکي تقدير ليکلي وو.
. امام ترمذي وايي : داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

****

۱۹_ باب
د ماقبل باب متعلق يوبل باب

۲۱۵۷_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ زِيَادِ بْنِ إِسْمَاعِيل، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ الْمَخْزُومِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " جَاءَ مُشْرِكُو قُرَيْشٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَاصِمُونَ فِي الْقَدَرِ، فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ (القمر : ۴۸-۴۹) "

---

[1] _ صحيح مسلم_ القدر ۲ (۲٦۵۳) (تحفة الأشراف : ۸۸۵)

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مشركينو دتقدير باره كي جگړي كولي او چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلل نو دا ايت نازل شو "يوم يسحبون في النار علي وجوههم ذوقوا مسقر انا كلا شيئ خلقناه بقدر" يعني كله چي دوئ جهنم ته نسكور وراوغورخولي شي نو دوئ ته به اوونيلي شي چي دجهنم مزه اوڅكئ او مونږ هر يو شي پخپله اندازه پيدا كړي دي.

امام ترمذي وايي . داحديث صحيح دي ، او مذكوره حديث ماته قبيصه بيان كړي دي دقبيصه بيان دي چي ماته عبدالرحمن بن زيد بيان كړي دي، امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي

****

كتاب الفتن (عن رسول الله صلى الله عليه وسلم)

په امت كي دواقع كيدونكو فتنو احكام او مسائل

فتنة: الفتنة معني ازمائش ، گمراهي ، كفر، رسوايي ، غم او ليوتوب ، عبرت ، عذاب ، مرض او اختلاف او جنگ او جدال واقع كيدو ته فتنة ويلي شي جمع يي فتنَ راځي. دضرب نه فتنة ومفتونا فلانا معني گمراه كول، ازمائش كول، فتنة الصائغ الذهب يعني زرگر زر وخوټكول او كره كوټه يي معلوم كړل.

الفتن د فتنة، جمع ده ، امام غزالي وائي دفتني نه مراد داخرت عذاب دى چي ددي مال په وجه ډير خلق په فتنو كي مبتلا كيږي ددي مطلب تائيد په يو حديث سره هم كيږي چي دقيامت په ورځ به ددوه درهمو والانه ديو درهم والا په نسبت زيات سوال كيږي.

مولانا منظور نعماني وائي ددي حديث مطلب دادى چي زما دپيغمبرئ په دور كي دخلقو دپاره په فتنه كي زياته اچونكى شي مال دى په قران كريم كي هم راغلي دي "انما اموالكم واولادكم فتنة" يعني ستاسو مالونه او ستاسو اولاد ستاسو دپاره دازمائش سبب دى.

يادحديث مطلب دادى چي دمال دگيرولو محبت يو ليوتوب دى او دا ليوتوب خلقو لره داحكام الهيه دتعميل نه په غفلت كي اچوي او دا يو داسي مرض دى چي دانسان دين او اخلاق خرابوي.(روضة الصالحين)

---

[1] ـ صحيح مسلم_ القدر ٣ (٢٦٥٦) . سنن ابن ماجه_ المقدمة ١٠ (٨٣) . ويأتي برقم (٣٢٩٠) (تحفة الأشراف : ١٣٥٨٩)

، ومسند احمد (٢_ ٤٧٦،٤٤٤)

١_ باب مَا جَاءَ لاَ يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلاَّ بِإِحْدَى ثَلاَثٍ

د دري صورتونو نه علاوه په هيڅ صورت کي دمسلمان وينه تويول حلال نه دي

٢١٥٨_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، أَنَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ أَشْرَفَ يَوْمَ الدَّارِ، فَقَالَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: زِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ، أَوِ ارْتِدَادٍ بَعْدَ إِسْلَامٍ، أَوْ قَتْلِ نَفْسٍ بِغَيْرِ حَقٍّ، فَقُتِلَ بِهِ". فَوَاللَّهِ مَا زَنَيْتُ فِي جَاهِلِيَّةٍ وَلَا فِي إِسْلَامٍ، وَلَا ارْتَدَدْتُ مُنْذُ بَايَعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا قَتَلْتُ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ، فَبِمَ تَقْتُلُونَنِي؟. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَرَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ فَرَفَعَهُ، وَرَوَى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ هَذَا الْحَدِيثَ فَأَوْقَفُوهُ وَلَمْ يَرْفَعُوهُ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ عُثْمَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرْفُوعًا.[1]

ترجمه دابوامامه سهل بن حنيف رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي كله باغيانو دعثمان بن عفان رضي الله عنه په كور محاصره اوكړه دهغوئ دكور په چت راوختل نوعثمان رضي الله عنه ورته اوونيل زه تاسو ته په الله قسم دركوم ايا تاسو ته معلومه نه ده رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي د دري صورتونو نه علاوه په هيڅ يو صورت كي دمسلمان وينه تويول حلال نه دي يو دواده نه پس زنا كول دي بل داسلام قبلولو نه پس مرتد كيدل دي او بل دقتل په بدل كي قتل كيدل دي په الله قسم ما خو نه دجاهليت په زمانه كي زنا كړي ده او نه داسلام په زمانه كي او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دبيعت كولو نه پس مرتد شوي هم نه يم او نه دالله حرام كړي كوم نفس قاتل يم نو تاسو ما په څه وجه قتل كوئ

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي دا روايت حماد بن سلمه ديحي بن سعيد په واسطه مرفوع نقل كړي دي، او يحي بن سعيد قطان او بعضي نورو راويانو ديحي بن سعيد نه موقوف نقل كړي دي، او په دي باب كي دابن مسعود، عائشه او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث دعثمان په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په يو څو نورو سندونو هم مرفوعا مروي دي.

---

[1] سنن ابي داود/ الديات ٣ (٤٥٠٢) . سنن النسائي/المحاربة ٥ (٤٠٢٣) . سنن ابن ماجه/الحدود ١ (٢٥٣٣) (تحفة الأشراف: ٩٧٨٢) . و مسند احمد (١/٦١، ٦٢، ٦٥، ٧٠)

د سهل بن حنيف رضي الله عنه مختصر مناقب

نوم سهل كنيه ابو سعيد ، ابو ثالث ، ابو الوليد او دپلار نوم حنيف وو دبدر په شمول په تمامو عزواتو کې شريك شوى وو په احد کې چې يوځو صحابه كرام ثابت قدم پاتې شوي وو يو په هغوئ کې سهل هم وو دجنګ جمل نه پس دبصري والي مقرر شوى وو او په جنګ صفين کې يې علي رضي الله عنه سره شركت كړى دى (۲/ ۲۰۲)

دده په باره کې دا مشهور دي چې سهل ډير ښكلى وو.

وفات: په ۳۸هجري کې په كوفه کې وفات شوى وو چې علي رضي الله عنه وربانديي جنازه اوكړه او دده په جنازه کې دځلورو تكبيراتو په ځاي شپږ تكبيرونه اوونيلي شول او دا به ونيلي كيدل چې دا بدري صحابي دى

مرويات: دده نه ځلويښت روايات منقول دي چې ځلور دهغوئ نه متفق عليه دي او دوه صرف په مسلم کې موجود دي او باقي په نورو كتابونو کې دي.

****

٢ـ بَاب مَا جَاءَ دِمَاؤُكُمْ وَأَمْوَالُكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ

ستاسو وينې او مالونه په تاسو کې ديو په بل باندې حرام دي

٢١٥٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ غَرْقَدَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ لِلنَّاسِ: " أَيُّ يَوْمٍ هَذَا ؟ " قَالُوا: يَوْمُ الْحَجِّ الأَكْبَرِ. قَالَ: " فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ بَيْنَكُمْ حَرَامٌ، كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا. أَلاَ لاَ يَجْنِي جَانٍ إِلاَّ عَلَى نَفْسِهِ. أَلاَ لاَ يَجْنِي جَانٍ عَلَى وَلَدِهِ، وَلاَ مَوْلُودٌ عَلَى وَالِدِهِ. أَلاَ وَإِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ مِنْ أَنْ يُعْبَدَ فِي بِلاَدِكُمْ هَذِهِ أَبَدًا. وَلَكِنْ سَتَكُونُ لَهُ طَاعَةٌ فِيمَا تَحْتَقِرُونَ مِنْ أَعْمَالِكُمْ فَسَيَرْضَى بِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ، وَحِذْيَمِ بْنِ عَمْرٍو السَّعْدِيِّ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَرَوَى زَائِدَةُ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ غَرْقَدَةَ نَحْوَهُ، وَلاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ شَبِيبِ بْنِ غَرْقَدَةَ. [1]

ترجمه دعمرو بن احوص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې ما دحجة الوداع په ورځ درسول الله صلي الله عليه وسلم د خولې مباركې نه خلقو ته دخطاب په وخت کې دا فرمان اوريدلى

---

[1] ـ سنن ابي داود/البيوع ٥ (٣٣٣٣) . سنن ابن ماجه/المناسک ٧٦ (٣٠٥٥) . ويأتي عند المؤلف في تفسير التوبة ... (تحفة الأشراف . ١٠٦٩١)

دي"دا كومه ورځ ده" خلقو اوونيل دحج اكبر ورځ ده او بيا يي اوفرمائيل ستاسو وينه مالونه او ستاسو عزتونه ستاسو پخپل مينځ کي په يو بل باندي داسي حرام دي لکه څنګه چي ستاسو په دي ښار کي ستاسو دننه نن ورځي حرمت او تقدس دي، خبردار دجرم کولو وبال پخپله په مجرم ده او خبردار دپلار په ګناه به خوي نه نيولي کيږي او نه به دخوي په ګناه پلار نيولي کيږي، واورئ شيطان دهميشه دپاره ددي خبري نه نااميده شوي دي چي ستاسو په دي ښار کي دهغه تابعداري او بندګي اوشي البته په هغه څيزونو کي به دهغه څه قدري اطاعت اوشي کوم چي تاسو حقير عمل ګڼړئ دي په هغي باندي خوشحاليږي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي، زائده هم دشبيب بن غرقده نه ددي هم معني روايت نقل کړي دي او دا حديث مونږ صرف دشبيب بن غرقده په سند پيژنو، او په دي باب کي دابوبکره، ابن عباس، جابر، حذيم بن عمرو، السعدي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح: "ان الله حرم عليكم دمائكم واموالكم" يعني بيشکه الله تعالي په تاسو باندي ستاسو ويني او مالونه حرام کړي دي ددي مطلب دادی چي هر يو مسلمان دبل مسلمان ورور دی او دهغه د جان او مال او عزت حفاظت کول دده ذمه واري ده همداوجه ده چي دمسلمانانو پخپل مينځ کي خنريزي کول خيانت او قبيح جرم ګڼړلی شوی دی .

"يقينا ستاسو ويني او مالونه او عزتونه په تاسو باندي حرام دي" يعني لکه څرنګه چي دذي الحجي لسم يعني لوي اختر ورځ دحرمت والاده او د ذي الحجي مياشت هم حرمت والاده او دمکي ښار هم حرمت والا دی نو ددي ټولو حرمتونو پشان دمسلمان وينه مال او عزت هم حرمت لري او په يو بل باندي حرام دي بلکه دانسان حرمت ددينه زيات دی لکه چي په يو روايت کي راغلي دي چي ابن عمر رضي الله عنهما يو ځل بيت الله ته اوکتل او ويې فرمائيل ته څومره عظمت والا يي او څومره عظيم دی حرمت ستا ليکن دمومن حرمت ستا دحرمت په مقابله کي نور هم زيات دی.

عمرو بن احوص الجشمي رضي الله عنه مناقب

نوم عمرو دپلار نوم احوص دبني کلاب قبيلي سره يي تعلق وو په دي وجه ورته کلابي ويلی شي خو دلته قبيله جشمي ته منسوب دی علامه ابن سيرين وائي مونږ ته نه ده معلومه چي بني کلاب ته دجشمي نسبت درست دی او که نه خکه چي ددي دواړو قبيلو په مينځ کي څه نسبت نشته دده نه صرف دوه احاديث مروي دي.

****

٣ـ بَاب مَا جَاءَ لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا

ديو مسلمان دپاره جائز نه دي چې بل مسلمان اوويروي

۲۱۶۰ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَأْخُذْ أَحَدُكُمْ عَصَا أَخِيهِ لَاعِبًا أَوْ جَادًّا، فَمَنْ أَخَذَ عَصَا أَخِيهِ فَلْيَرُدَّهَا إِلَيْهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَسُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدَ، وَجَعْدَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، وَالسَّائِبُ بْنُ يَزِيدَ لَهُ صُحْبَةٌ قَدْ سَمِعَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَادِيثَ وَهُوَ غُلَامٌ، وَقُبِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ سَبْعِ سِنِينَ، وَوَالِدُهُ يَزِيدُ بْنُ السَّائِبِ لَهُ أَحَادِيثُ، هُوَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالسَّائِبُ بْنُ يَزِيدَ هُوَ ابْنُ أُخْتِ نَمِرٍ. (1)

ترجمه: ديزيد بن سائب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په تاسو کي دي هيڅوك نه په ټوقو کي او نه قصدا دخپل ورور همسا اخلي او که چا واخستله نو دادي ورته واپس ورکړي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي مونږ ته صرف دابن ابي ذئب په سند رارسيدلي دي او سائب بن يزيد ته شرف دصحابيت حاصل دي او په ماشوموالي کي هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه احاديث اوريدلي دي درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات په وخت کي دهغه عمر اوه کاله وو او دده دپلار يزيد بن سائب نه دير احاديث مروي دي او دنبي کريم صلي الله عليه وسلم صحابي دي او احاديث يي ورنه نقل کړي دي او سائب بن يزيد دنمر دخور خوي دي.

دسائب بن يزيد رضي الله عنه مناقب

نوم سائب دپلار نوم يزيد بن سعيد بن ثمامه کندي، امام زهري وائي چي کندي په يمن کي داد قبيلي يو شاخ دی مگر په بنوکنانه کي شميرلی شي سائب دعمر کندي خوريی دی ، دهجرت په شلم کال پيدا شوی دی او داوه کالو په عمر کي دخپل پلار سره په حجة الوداع کي شريك شوی دی دده نه عموما زهري او محمد بن يوسف نقل دروايت کوي ګنړ شمير روايات ورنه منقول دي او دهجرت په ۸۰ کال وفات شوی دی.

****

---

1 - سنن ابي داود/ الأدب ۹۳ (۵۰۰۳) (تحفة الأشراف: ۱۱۸۲۷) ، و مسند احمد (۴/۲۲۱)

٢١٦١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوسُفَ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: " حَجَّ يَزِيدُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ، وَأَنَا ابْنُ سَبْعِ سِنِينَ ". فَقَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقَطَّانِ: كَانَ مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ ثَبْتًا صَاحِبَ حَدِيثٍ، وَكَانَ السَّائِبُ بْنُ يَزِيدَ جَدَّهُ، وَكَانَ مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، يَقُولُ: حَدَّثَنِي السَّائِبُ بْنُ يَزِيدَ وَهُوَ جَدِّي مِنْ قِبَلِ أُمِّي. (١)

ترجمه . دسائب بن يزيد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره زما پلار يزيد رضي الله عنه حجة الوداع ته لاړو او دي وخت كي زما عمر اوه كاله وو. يحي بن سعيد قطان وائي محمد بن يوسف ثقه دي او دسائب بن يزيد نيكه وو محمد بن يوسف به وئيل ماته سائب بن يزيد حديث بيان كړي دي او هغه زما دمور دطرفه نيكه دي.

****

٤_باب مَا جَاءَ فِي إِشَارَةِ الْمُسْلِمِ إِلَى أَخِيهِ بِالسِّلَاحِ

يومسلمان ته په اسلحي داشاري كولودمما نعت بيان

٢١٦٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الصَّبَّاحِ الْعَطَّارُ الْهَاشِمِيُّ. حَدَّثَنَا مَحْبُوبُ بْنُ الْحَسَنِ. حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ أَشَارَ عَلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ لَعَنَتْهُ الْمَلَائِكَةُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَجَابِرٍ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ. وَرَوَاهُ أَيُّوبُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، نَحْوَهُ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَزَادَ فِيهِ وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّهِ. قَالَ: وَأَخْبَرَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا. (٢)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي خپل يو مسلمان ورور ته په اسلحه اشاره اوكړي (اسلحه ورباندي راوباسي) نو فرشتي په ده باندي لعنت وائي.

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، او دا دخالد خزاء په سند غريب ګڼړلي شوي دي، ايوب دمحمد بن سيرين په واسطه هم دابوهريره نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي ليكن مرفوع يي نه دي بيان كړي او دهغه په روايت كي دا اضافه ده "وان

---

[1] _ انظر رقم ٩٢٦

[2] صحيح مسلم /البر والصلة ٣٥ (٢٦١٦) (تحفة الأشراف: ١٢٢٦٣)

كان اخاه لابيه وامه" يعني اګر که دده سکه ورور ولي نه وي. او په دي باب کي دابوبکره ، عائشه، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

تشريح: په دي حديث کې د اسلحي نه مراد هغه اسلحه ده کومه چي دقتل دپاره استعمالولي شي لکه توره، غشي ، ټوپك وغيره ، په دي څيزونو حقيقتا يا په ټوقو کې ويرول صحيح نه دي ممکنه ده چي شيطان دا اسلحه دده نه په غير ارادي طور سره وچلوي اودده دپاره جهنم ته دتلو سبب جوړ شي، شيطان خود انسانانو دشمن دي هغه په دي انتظار کې وي چي چرته کوم مسلمان دوکه کړم او ګناهګار يي کړم، دا جمله مبالغة راغلي ده چي هرکله اسلحه خودل منع دي نو را اوچتول خو يي په طريق اولي منع دي.

****

٥_باب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنْ تَعَاطِي السَّيْفِ مَسْلُولاً

چاته دبربنډي توري ورکولو دمما نعت بيان

٢١٦٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الجُمَحِيُّ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُتَعَاطَى السَّيْفُ مَسْلُولاً". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. وَرَوَى ابْنُ لَهِيعَةَ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنْ بَنَّةَ الجُهَنِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَحَدِيثُ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ عِنْدِي أَصَحُّ. [1]

ترجمه: دجابر رضي الله عنه بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبربنډي توري دچانه داخستلو او چاته دورکولو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وايي: دا روايت دحما بن سلمه په سند حسن غريب دي، او ابن لهيعه دا حديث عن ابي الزبير عن جابر عن بنت الجهني عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل کړي دي، زما په نزد دحماد بن سلمه روايت زيات صحيح دي، او په دي باب کي دابوبکره نه هم روايت وارد دي

لغات: السيف معني توره، جمع يي سيوف او اسياف راځي

تشريح: دتوري دبربنډ ساتلو نه منع په دي وجه راغلي ده کيدی شي چي دا دلاس نه پريوځي او څوك ورباندي اولګي او يا کم از کم ددي په ليدو به خلق ويريږي علماء فرمائي چي شريعت

---

[1] - سنن ابي داود/ الجهاد ٧٣ (٢٥٨٨) (تحفة الأشراف : ٢٦٩٠) . و مسند احمد (٣٦١،٣/٣٠٠)

مطهره دانسانيت داحترام دپاره څومره اهميت بيان کړی دی.

****

٦_باب مَا جَاءَ مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللَّهِ

دسحر مونځ کونکي دالله تعالي په پناه کي وي

٢١٦٤_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا مَعْدِيُّ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا ابْنُ عَجْلَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللَّهِ، فَلَا يُتْبِعَنَّكُمُ اللَّهُ بِشَيْءٍ مِنْ ذِمَّتِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ جُنْدَبٍ وَابْنِ عُمَرَ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوک چي دسحر مونځ اوکړي دي دالله تعالي په پناه کي داخل شي بيا (ددي خبري خيال ساتئ) چي الله تعالي تاسو پسي درپسي نشي دهغه دپناه دماتيدو په وجه.

امام ترمذي وايي. داحديث په دي سند حسن غريب دي، او په دي باب کي دجندب او ابن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

. **لغات** ذمة : الذمة په معني د امان او حفاظت او جمع يې ذمم راځي.

تشريح :من صلي صلاة الصبح ددينه مراد دسحر مونځ دی ، په دي کې دصلاة فجر اهميت ته اشاره ده څکه چي دا دغفلت اودخوب وخت وي اوپه دي خبره هم تنبيه ورکول مقصوددي چي دمونځ گذار سره کارلرل نه دي پکاري څکه چي دی ددي مونځ په وجه دالله په ذمه واري کې راغلی دی

****

٧_باب مَا جَاءَ فِي لُزُومِ الْجَمَاعَةِ

دمسلمانانو دجماعت نه دنه جدا کيدو بيان

٢١٦٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ أَبُو الْمُغِيرَةِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: خَطَبَنَا عُمَرُ بِالْجَابِيَةِ، فَقَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنِّي قُمْتُ فِيكُمْ كَمَقَامِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِينَا، فَقَالَ: "أُوصِيكُمْ بِأَصْحَابِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ،

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣١٢٨)

ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ يَفْشُو الْكَذِبُ، حَتَّى يَحْلِفَ الرَّجُلُ وَلَا يُسْتَحْلَفُ وَيَشْهَدَ الشَّاهِدُ وَلَا يُسْتَشْهَدُ. أَلَا لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ. عَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَإِيَّاكُمْ وَالْفُرْقَةَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ الْوَاحِدِ وَهُوَ مِنَ الِاثْنَيْنِ أَبْعَدُ، مَنْ أَرَادَ بُحْبُوحَةَ الْجَنَّةِ فَلْيَلْزَمْ الْجَمَاعَةَ، مَنْ سَرَّتْهُ حَسَنَتُهُ وَسَاءَتْهُ سَيِّئَتُهُ فَذَلِكَ الْمُؤْمِنُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رَوَاهُ ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي په جابيه مقام كي زما پلار عمر رضي الله عنه زمونږ په مينځ كي دخطبي وركولو دپاره اودريدو او بيا يي اووئيل اي خلقو زه ستاسو په مينځ كي دخطبي وركولو دپاره داسي اودريدلي يم څنګه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ په مينځ كي اودريدلي وو او فرمائيل يي زه تاسو ته دخپلو صحابه كرامو ديروئ كولو وصيت كوم او بيا ددوئ نه پس دراتلونكو خلقو (يعني دتابعينو) او بيا دهغوئ نه پس دراتلونكو خلقو او بيا به ددينه پس دروغ ونيل عام شي تردي چي يو سړي به پخپله خوبه بغير دقسم وركولو نه قسم خوري او دشهادت طلب كولو نه بغير به يو سړي پخپله ګواهي وركوي خبردار كله چي كوم نارينه دكومي ښځي سره په خلوت كي وي نو دريم دهغوئ سره شيطان وي پس تاسو لازم اونيسئ جماعت دمسلمانانو لره او په پارتو كي دتقسيم كيدو نه بچ شئ ځكه چي شيطان اكثر ديواځي انسان سره وي او د دوو سره دهغه پاتي كيدل ديو په نسبت زيات لري وي او څوك چي دجنت درمياني حصي ته تلل غواړي هغه دي دمسلمانانو په جماعت پوري خان ترلي ساتي او څوك چي پخپله نيكئ خوشحاله شي او يا پخپله ګناه خفه شي داسي كس په حقيقت كي مومن دي.

امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند صحيح غريب دي دا روايت ابن مبارك هم دمحمد بن سوقه په سند نقل كړي دي، دا حديث په يو څو سندونو دعمر رضي الله عنه په واسطه هم درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي

****

٢١٦٦ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مَيْمُونٍ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَدُ اللَّهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ". هَذَا

1 ـ سنن ابن ماجه/الأحكام ٢٧ (٢٣٦٣) (والنسائي في الكبرى) ومسند احمد (١٨/١، ٢٦) (تحفة الأشراف: ٩٨٣٠)

. حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

ترجمه . دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي لاس (نصرت او امداد) دجماعت سره وي

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي او دا مونږ ته دابن عباس په روايت صرف په همدې سند رارسيدلي دي.

****

٢١٦٧ـ حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ نَافِعٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنِي الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ الْمَدَنِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ لَا يَجْمَعُ أُمَّتِي، أَوْ قَالَ: أُمَّةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ضَلَالَةٍ، وَيَدُ اللَّهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ، وَمَنْ شَذَّ شَذَّ إِلَى النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَسُلَيْمَانُ الْمَدَنِيُّ هُوَ عِنْدِي سُلَيْمَانُ بْنُ سُفْيَانَ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، وَأَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَتَفْسِيرُ الْجَمَاعَةِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ هُمْ أَهْلُ الْفِقْهِ وَالْعِلْمِ وَالْحَدِيثِ. قَالَ: وَسَمِعْتُ الْجَارُودَ بْنَ مُعَاذٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ الْحَسَنِ، يَقُولُ: سَأَلْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الْمُبَارَكِ: مَنِ الْجَمَاعَةُ؟ فَقَالَ: أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، قِيلَ لَهُ: قَدْ مَاتَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، قَالَ: فُلَانٌ وَفُلَانٌ، قِيلَ لَهُ: قَدْ مَاتَ فُلَانٌ وَفُلَانٌ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَأَبُو حَمْزَةَ السُّكَّرِيُّ جَمَاعَةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَأَبُو حَمْزَةَ هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ مَيْمُونٍ، وَكَانَ شَيْخًا صَالِحًا، وَإِنَّمَا قَالَ هَذَا فِي حَيَاتِهِ عِنْدَنَا. ([2])

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي زما امت لره، او كه داسي يې اوفرمائيل دمحمد صلي الله عليه وسلم امت لره په ګمراهۍ باندي نه راجمع كوي او دالله تعالي لاس (امداد) دجماعت سره وي څوك چي دجماعت نه جدا شو نو جهنم ته اوغورځيدو

امام ترمذي وايي داحديث په دې سند غريب دي سليمان مدني زما په نزد سليمان بن سفيان دي دده نه ابوداود طيالسي، ابوعامر، عقدي، او بعضي نورو اهل علمو نقل دروايت كړي دي، داهل علمو په نزد دجماعت نه مراد اصحاب فقه او اهل علم دي او اهل حديث (يعني محدثين) دي دعلي بن حصين قول دي چي ماعبدالله بن مبارك نه تپوس اوكړو دجماعت نه

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٤٣٢)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٧١٨٨)

ځوك مراد دي؟ هغه اوونيل ابوبكر او عمر هغه ته اوونيلي شول ابوبكر او عمر خو وفات شوي دي نو هغه اوونيل فلاني او فلاني هغه ته اوونيلي شول دوئ هم وفات شوي دي نو عبدالله بن مبارك اوونيل او ابوحمزه السكري جماعت دي ، امام ترمذي وائي دابوحمزه نوم محمد بن ميمون دي او دي صالح او نيك شيخ وو عبدالله بن مبارك مونږ ته دا خبره هغه وخت كړي وه كله چي ابوحمزه ژوندي وو.

****

٨_باب مَا جَاءَ فِي نُزُولِ الْعَذَابِ إِذَا لَمْ يُغَيِّرِ الْمُنْكَرُ

په نهي عن المنكر پريخودلو دعذاب نازليدو بيان

٢٢١٦٨_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ. أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، أَنَّهُ قَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الآيَةَ: يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ (المائدة: ١٠٥) وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ".[1]

ترجمه : ابوبكر رضي الله عنه اوفرمائيل اى خلقو تاسو دا ايت لولئ : يَأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ اى مومنانو! هر كله چي تاسو په هدايت يئ نو دځپل ځان فكر كوئ ځوك چي گمراه وي هغوي تاسوته نقصان نشي رسولي، خو ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلى دى چي كله خلق ظالم لره ظلم كونكى وبني او دهغه لاس نه نيسي نو كيدى شي چي ډير زر الله پاك دوي ټول په عام عذاب كې گرفتار كړي

لغات تقرؤون يعني تاسولولئ.

او شك: وشك وشكا د كرم نه په معني دجلتئ كولو دي.اوشك تيز تلل ، او نزدي كيدل ، اوددي په خبر اكثر خلق آن داخلوي.

تشريح: د لورو ايتونو سره ددي ايت تعارض اوددي جواب

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ

---

[1] - سنن ابي داود/ الـملاحم ١٧ (٤٣٣٨) . سنن ابن ماجه/الفتن ٢٠ (٤٠٠٥) . ويأتي عند المؤلف في تفسير المائدة (٣٠٥٧) (تحفة الأشراف : ٦٦١٥) . ومسند احمد (١/٢، ٥، ٧، ٩)

يعني اي خلقو تاسو خو دا ايت لولئ چي اي ايماندارو تاسو دخپلوخانونو خيال وساتئ هسي نه چي گمران درته ضرر ورسوي

ددي ايت ظاهري مطلب دادی چي هر انسان لره صرف دخپل عمل داصلاح فکر پکار دی او نور خلق که هر څه کوي هغي ته توجه کول ضروري نه دي مگر دا مطلب دقران کريم دبي شميره تصريحاتو نه خلاف دي په کوموکي چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر داسلام اهمه فريضه گڼرلی شوي ده او دامت محمدي امتيازي خصوصيت گڼرلی شوی دی همداوجه ده چي کله دا ايت نازل شو نو بعضي کسانو ته دا شبهه پيدا شوه نو ددوئ دشبهي جواب ابوبکر رضي الله عنه په خطبه کي ورکړو.

دمفتي شفيع قول دی دسعيد بن جبير په قول ددينه دتمام شرعي واجباتو ادا کول مراد دي په کوموکي چي جهاد او امر بالمعروف شامل دي نو که ددي هر څه کولو نه پس څوک گمراه پاتي شول نو ته ددوئ ذمه وار نه يي.

اود قران د الفاظو اذا اهتديتم، نه دا خبره معلوميږي چي تاسو که په لاره ځئ نو امر بالمعروف ادا کوئ او که دا پريږدي نو په لاره ورله تلل ندي پکار.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ أَبِي خَالِدٍ، نَحْوَهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَالنُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، وَحُذَيْفَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيل، نَحْوَ حَدِيثِ يَزِيدَ وَرَفَعَهُ بَعْضُهُمْ، عَنْ إِسْمَاعِيل، وَأَوْقَفَهُ بَعْضُهُمْ. (1)

ترجمه: داسماعيل بن ابي خالد نه هم دماقبل هم معني روايت مروي دي

امام ترمذي وايي په دي باب کي دعائشه، ام سلمه، نعمان بن بشير، عبدالله بن عمر اوحذيفه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث صحيح دي دا رنگي نورو راويانو هم داسماعيل په واسطه ديزيد دحديث هم معني روايت نقل کړي دي او بعضو مرفوع بيان کړي دي او بعضو موقوف ذکر کړي دي.

****

٩ـ باب مَا جَاءَ فِي الأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ

---

1 ـ سنن ابي داود/ الملاحم ١٧ (٤٣٣٨)، سنن ابن ماجه/الفتن ٢٠ (٤٠٠٥)، ويأتي عند المؤلف في تفسير المائدة (٣٠٥٧) (تحفة الأشراف: ٦٦١٥)، ومسند احمد (١/٢، ٥، ٧، ٩)

دامر بالمعروف او نهي عن المنكر بيان

٢١٦٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ الأَنْصَارِيِّ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ، أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ، ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلَا يُسْتَجَابُ لَكُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. [1]

ترجمه دحذيفه بن اليمان رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دي په هغه ذات قسم وي چا په اختيار كي چي زما روح دي امر بالمعروف او نهي عن المنكر كوئ او كنه نو ډيره نزدي ده چي الله تعالي په تاسو عذاب نازل كړي او چي عذاب راشي بيابه تاسو دعاګاني كوئ خو دعا به دچا نه قبليږي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي.

تشريح: د حديث مطلب دادي كه تاسو په امر بالمعروف او نهي عن المنكر كي سستي وكړله نو د الله عذاب به درباندي راشي او هغه به بيا ستاسو په دعاګانو نه واپس كيږي

ددي تائيد په يو بل روايت سره هم كيږي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په دوه خبرو كښ د يوي واقع كيدل ضروري دي ، كه تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنكر كوئ نو دعاګاني به مو قبليږي او كه نه يي كوئ نو د الله عذاب به درباندي مسلط شي نوكه پدغه وخت كي ستاسو نيكان خلق هم دعاګاني غواړي نو نه به قبليږي.

****

٢١٧٠_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَنْصَارِيُّ الأَشْهَلِيُّ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتُلُوا إِمَامَكُمْ، وَتَجْتَلِدُوا بِأَسْيَافِكُمْ، وَيَرِثَ دُنْيَاكُمْ شِرَارُكُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو. [2]

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٣٦٦)

[2] سنن ابن ماجه/الفتن ٢٥ (٤٠٤٣) (تحفة الأشراف: ٣٣٦٥) . و مسند احمد (٥/٣٨٩)

ترجمه حذيفه رضي الله عنه بيان كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په هغه ذات قسم چي دچا په قبضه کې ځما ساه ده قيامت هغه وخته پوري نه قائميږي څو پورې چي تاسو خپل امام قتل کړی نه وي، اوپخپلو تورو مو خپل مينځ کي يو بل لره قتل کړی نه وي. اوپه تاسو کي بد خلق ستاسو ددنيا وارثان شوي نه وي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او دا موږ ته دعمرو بن ابي عمرو په سند رارسيدلي دي

تشريح: **دامر بالمعروف اونهي عن المنكر دپريخودو په وجه دعا نه قبليږي**

د حديث مطلب دادي که تاسو په امر بالمعروف او نهي عن المنكر کې سستي وکړله نو د الله عذاب به درباندي راشي او هغه به بيا ستاسو په دعا ګانو نه واپس کيږي.

ددي تائيد په يو بل روايت سره هم کيږي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په دوه خبرو کښ د يوي کيدل ضروري دي ، که تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنكر کوئ نو دعاګاني به مو قبليږي او که نه يي کوئ نو د الله عذاب به درباندي مسلط شي. نوکه پدغه وخت کي ستاسو نيکان خلق هم دعاګاني غواړي نو نه به قبليږي.

****

١٠_باب

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢١٧١_حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ، عَنِ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ الجَيْشَ الَّذِي يُخْسَفُ بِهِمْ، فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: لَعَلَّ فِيهِمُ المُكْرَهُ، قَالَ: " إِنَّهُمْ يُبْعَثُونَ عَلَى نِيَّاتِهِمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ عَائِشَةَ أَيْضًا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه : دام سلمه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو خل دهغه لښکر ذکر اوکړو کوم چي به په زمکه کي ډوبيږي دي وخت کي ام سلمه عرض اوکړو کيدي شي چي په دوئ کي به څه مجبور خلق هم وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغوئ به پخپلو نيتونو راپورته کولي شي

---

[1] _ سنن ابن ماجه/الفتن ٣٠ (٤٠٦٥) (تحفة الأشراف : ١٨٢٢٩)

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي او دا حديث عن نافع بن جبير عن عائشة ايضا عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره هم مروي دي

****

١١_باب مَا جَاءَ فِي تَغْيِيرِ الْمُنْكَرِ بِالْيَدِ أَوْ بِاللِّسَانِ أَوْ بِالْقَلْبِ

په لاس يا خوله يا زړه کي دبدو کارونو نه نفرت کولو سره دمنکر (ناجائز) منع کولو بيان

٢١٧٢_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَوَّلُ مَنْ قَدَّمَ الْخُطْبَةَ قَبْلَ الصَّلَاةِ مَرْوَانُ. فَقَامَ رَجُلٌ. فَقَالَ لِمَرْوَانَ: خَالَفْتَ السُّنَّةَ. فَقَالَ: يَا فُلَانُ، تُرِكَ مَا هُنَالِكَ. فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ: أَمَّا هَذَا فَقَدْ قَضَى مَا عَلَيْهِ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ رَأَى مُنْكَرًا فَلْيُنْكِرْهُ بِيَدِهِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه دطارق بن شهاب بيان دي فرمائي چي دټولو خلقو نه مخکي خطبه په مونځ باندي مخکي کونکي مروان وو دي وخت کي يو کس اودريدو او مروان ته يي اوويل تا دسنت مخالفت اوکړو مروان اوويل اي فلانيه پريخودلي شوي دي هغه سنت کوم چي ته لټوي ددي په اوريدو ابوسعيد خدري رضي الله عنه اوويل دي کس خپله ذمه واري پوره کړه ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي چي څوك دګناه کوم کار اووينې نو پکار ده چي دا ګناه پخپل لاس منع کړي او که په لاس دمنع کولو طاقت يي نه وي نو په ژبه دي دا منع کړي او که دچا ددي طاقت هم نه وي نو په زړه کي دي دا بده اوګنړي او دا دايمان په ټولو کي کمزوري درجه ده.

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي.

لغات منكرا : المنكر صيغه داسم مفعول ده د كرم باب نه معني يي هغه كار دي كوم چي دالله دمرضۍ خلاف وي ، جمع يي منكرات او مناكير راځي

فليغيّره غيّر يغيّر تغيرا معني كوم څيز لره بدلول.

تشريح: امر بالمعروف او نهي عن المنكر په هرچا لازم ده

په "من رأي منكم منكر " کي من دعموم دپاره راځي ، ددي حکم مخاطب هر فرد دی يعني په

[1] ـ صحيح مسلم/الإيمان ٢٠ (١٧٧) . سنن ابي داود/ الصلاة ٢٤٨ (١١٤٠) . والملاحم ١٧ (٤٣٤٠) . سنن النسائي/الإيمان ١٧ (٥٠١٢) . سنن ابن ماجه/الإقامة ١٥٥ (١٢٧٥) (تحفة الأشراف : ٤٠٨٥) . و مسند احمد (١٠/٣، ٢٠، ٤٠، ٥٢، ٥٣، ٥٤، ٩٢)

امر بالمعروف اونهي عن المنكر هر څوك مكلف دي برابره خبره ده چي نارينه وي او كه زنانه ازاد وي او كه غلام وي نيك وي اوكه فاسق وي

په دي حديث كې دامر بالمعروف اونهي عن المنكر دري درجي بيان شوي دي چي كه طاقت لري نو په لاس سره منع كول اوكړه او كه ددي طاقت نه لري نو په ژبه او كه ددي طاقت هم نه لري نو په زړه كې يي بد اوګڼه ددينه پس دبعضو په نزد بيا سړی مسلمان نه پاتي كيږي

نووي په شرح دمسلم كې ليكلي دي په دي حديث كې چي دامر بالمعرف او نهي عن المنكر دفريضي ادا كولو كوم ترتيب بيان شوی دی هغه په قران او سنت او اجماع دامت سره ثابت دی او په دي باره كې دهيچا اختلاف نشته البته بعضي روافض مخالف دي خو دهغوی اختلاف لره څه اعتبار نشته

امام نووي دا هم ليكلي دي چي دعدم قبوليت ګمان دامر بالمعروف او نهي عن المنكر وجوب لره نه ساقطوي لهذا كه دچا دا ګمان وي چي فلانی سړی به نيكي خبري قبولي نكړي نو ددي باوجود هم په هغه واجب ده چي دده ته تبليغ اوكړي او په دده باندي چي كومه ذمه واري لازم ده هغه پوره كړي، خلقو خو درسولانو تكذيب هم كړی دی او دهغوی د نصحيت قبلولو نه يي هم انكار كړی دی نو ايا ګني دي پيغمبرانو دحق په رسولو كې كوم تقصير كړی وو ؟ (شرح ترمذي، تحفة الاحوذي)

دعبدالله بن شهاب بجلي احمسي رضي الله عنه مناقب

نوم طارق كنيه ابو عبدالله دپلار نوم شهاب او دبجلي قبلي سره يي تعلق وو دجاهليت او اسلام دواړه زماني يي موندلي وي اودرسول الله صلي الله عليه وسلم صحبت شرف ورته هم حاصل وو دابوبكر او عمر رضي الله عنهما په زمانه كې ۳۳يا ۳۴پيري جنګ ته هم تلی وو او په كوفه كې اوسيدو چي يو څو روايات ورنه منقول دي اوبخاري نه دي نقل كړي دده روايات په سنن ابو داود او نسائي كې موجود دی چي په كوفه كې دهجرت په ۸۲يا ۸۳كې وفات شوی دی

****

١٢_باب مِنْهُ

دامر بالمعروف او نهي عن المنكر متعلق يوبل باب

٢١٧٣_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَثَلُ القَائِمِ عَلَى حُدُودِ اللَّهِ وَالمُدْهِنِ فِيهَا، كَمَثَلِ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا عَلَى سَفِينَةٍ فِي البَحْرِ فَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَعْلَاهَا، وَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَسْفَلَهَا، فَكَانَ الَّذِينَ فِي أَسْفَلِهَا يَصْعَدُونَ

لِيَسْتَقُونَ الْمَاءَ فَيَصُبُّونَ عَلَى الَّذِينَ فِي أَعْلَاهَا. فَقَالَ الَّذِينَ فِي أَعْلَاهَا: لَا نَدَعُكُمْ تَصْعَدُونَ فَتُؤْذُونَنَا. فَقَالَ الَّذِينَ فِي أَسْفَلِهَا: فَإِنَّا نَنْقُبُهَا مِنْ أَسْفَلِهَا فَنَسْتَقِي فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِمْ فَمَنَعُوهُمْ نَجَوْا جَمِيعًا. وَإِنْ تَرَكُوهُمْ غَرِقُوا جَمِيعًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دنعمان بن بشير رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي په حدودو قائم پاتي كيدونكي او ددي دمخالفت كونكي مثال دهغه قوم پشان دي څوك چي دقرع اندازۍ په ذريعه په كشتۍ كي سواره شي بعضي كسانو ته دكشتۍ په پورتنۍ حصه كي ځاي وركړي شي او بعضو ته په لاندي حصه كي ځاي وركړي شي لاندي حصي والا اوبو څكلو دپاره پورته ځيژي او په پورتنۍ حصي والا باندي اوبه راپريوځي لهذا پورتنۍ حصي والا وائي مونږ تاسو پورته ختلو ته نه پريږدو ځكه چي بيا مونږ ته تكليف رسيږي لاندي حصي والا وائي مونږ به په كشتۍ كي سوري اوكړو او اوبه به خان ته پيدا كړو اوس كه چري پورتنۍ حصي والا ددوۍ لاس اونيسي نو ټول به دډوبيدو نه بچ شي او كه دسوري كولو نه يي منع نكړي نو ټول به ډوب او غرق شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات سفينة السفينة په معني دكشتۍ او جهاز سره جمع يي سفين سفُن او سفان راځي.

خرقنا تخرق وانخرق په معني دشليدو او سوري كيدو سره دي.

تشريح : " والمدهن فيها" يعني دالله تعالي په حدودو كي سستي كيدونكي وي، يعني الله چي كوم حدود مقرر كړي دي هغه فانمالوي يعني دكومو ګناهونو سزاګاني چي الله تعالي مقرر كړي دي هغه نه پوره كوي مثلا زناكارو ته سزا نه وركول او نهي عن المنكر پريخودل ، نورسول الله صلي الله عليه وسلم ددي مثال وركړى دى چي ددي ګناهونو ارتكاب كونكى داسي دى لكه څنګه چي دكشتۍ ماتونكى وي نوچي دهٔ لره منع نكړۍ نو نقصان به درته اورسيږي.

"استهموا سفينة" يعني دكشتۍ په لاندينۍ او پورتنۍ حصه كي يي قرع اندازي اوكړله

"فكان الذين في اسفلها" الذي دمفرد صيغه ده يعني په لاندي كسانو كي دا كاركه صرف يو سړي اوكړو نو ټولو ته به نقصان اورسيږي. دبخاري الفاظ داسي دي "فكان الذين في اسفلها يمرون بالماء علي الذين في اعلاها تفاذوا به".

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /الشركة ٦ (٢٤٩٣)، والشهادات ٣٠ (٢٦٨٦) (تحفة الأشراف : ١١٦٢٨)، و مسند احمد (٢٦٨/٤، ٢٧٠، ٢٧٣)

بعضي شارحينو ليكلي دي چي داوبو نه مراد وړوکی اوداس ماتی او لویی اودس ماتی دی چي په لاتدینۍ حصه کې به يي کوم لوښي وغيره کې کوئ او بيابه درياب ته دغورخولو دپاره پورتنۍ حصې ته راخئ نو دا کار به دپورتنۍ حصې والانه خوښيدو.

"اخذوا علي ايديهم" دجمعي صيغه استعمال شوي ده او گناه کونکی يي مفرد ذکر کړی دی مطلب دادی چي گناه که يو سړی اوکړي نو بدله به يي ټولو ته رسيږي

****

١٣_باب مَا جَاءَ أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ

بهترين جهاد دظالم بادشاه په وړاندي حقه خبره کول دي

٢١٧٤_حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُصْعَبٍ أَبُو يَزِيدَ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جُحَادَةَ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ مِنْ أَعْظَمِ الْجِهَادِ كَلِمَةَ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دټولو نه غوره جهاد دظالم او جابر بادشاه په مخکې دانصاف او حق خبره کول دي

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي او په دي باب کي دابوامامه رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

لغات جائر: جار جورا دنصر نه په معني دظلم کونکي

تشريح: دجهاد ګڼ مراتب دي دنيکئ حکم کول هم جهاد دی ، دخپل نفس خلاف کول هم جهاد دی دافضل جهاد کيدو په وجه ددشمن په وړاندي جنګيدل هم جهاد دی مګر په دي حديث کې افضل جهاد دظالم په وړاندي حق ونيل ګڼرلی شوي دي.

خطابي ددي دا وجه بيان کړي ده چي اکثر ددشمن په وړاندي په دوه خبرو کې ديوي کيدل ضروري دي اول داچي دخان بچ کيدو اوميدوي او دويم دشهادت اميد مګر دظالم بادشاه په وړاندي دحق خبري کونکي اميد صرف دمرګ وي او دبچ کيدو اميد يي نه وي.

ملاعلي قاري دا وجه بيان کړي ده چي دظالم بادشاه په وړاندي حقه خبره کول ځکه افضل

---

[1] _ سنن ابي داود/ الملاحم ١٧ (٤٣٤٤) ، سنن ابن ماجه/الفتن ٢٠ (٤٠١١) ، و مسند احمد ١٩/٣، ٦١) (تحفة الأشراف: ٤٢٣٤)

جهاد ګنړلی شوي دي چې دبادشاه ماتحت پوره رعايا وي نو که ده دخپل خان دپرواه کولو بغير بادشاه لره دظلم نه منع کړی وي نو ګويا کې به ده دتمام رعيت سره داحسان او ښيګړي معامله اوکړ

****

١٤_باب مَا جَاءَ فِي سُؤَالِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثًا فِي أُمَّتِهِ

دامت دپاره درسول الله د دري دعاګانو غوښتلو بيان

٢١٧٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ رَاشِدٍ يُحَدِّثُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الحَارِثِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ خَبَّابِ بْنِ الأَرَتِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَةً فَأَطَالَهَا، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، صَلَّيْتَ صَلاَةً لَمْ تَكُنْ تُصَلِّيهَا، قَالَ: أَجَلْ " إِنَّهَا صَلاَةُ رَغْبَةٍ وَرَهْبَةٍ إِنِّي سَأَلْتُ اللَّهَ فِيهَا ثَلاَثًا، فَأَعْطَانِي اثْنَتَيْنِ وَمَنَعَنِي وَاحِدَةً، سَأَلْتُهُ أَنْ لاَ يُهْلِكَ أُمَّتِي بِسَنَةٍ فَأَعْطَانِيهَا، وَسَأَلْتُهُ أَنْ لاَ يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ غَيْرِهِمْ فَأَعْطَانِيهَا، وَسَأَلْتُهُ أَنْ لاَ يُذِيقَ بَعْضَهُمْ بَأْسَ بَعْضٍ فَمَنَعَنِيهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَفِي البَابِ عَنْ سَعْدٍ، وَابْنِ عُمَرَ.

ترجمه. خباب بن ارت رضي الله عنه د خپل پلار نه روايت نقل کوي(1) فرمائيل يې چې يو خل نبي کريم صلي الله عليه وسلم کافي اوږد مونځ اوکړو صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله تايوداسي مونځ اوکړو چې مخکې دې چرته داسي مونځ نه وو کړي رسول الله اوفرمائيل هو دا داميد او دخوف مونځ دې ما په دې مونځ کې دالله تعالي نه دري دعاګاني غوښتلي دي په کومو کې چې دوه الله تعالي قبولي کړي او يوه يې قبوله نکړه ما اول دا دعا اوغوښتله چې اي الله زما امت په عام قحط باندي هلاک نکړې نو الله تعالي زما دا دعا قبوله کړه دويمه مې دا دعا اوغوښتله چې په دوئ باندې کوم غير دوشمن مسلط نکړې الله تعالي زما دا دعا هم قبوله کړه بيا مې دريمه دعا دا اوغوښتله چې زما امت پخپل مينځ کې يو دبل سره اونه جنګوي نو الله تعالي زما دا دعا قبوله نکړه

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي. او په دې باب کې دسعد او ابن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

1 - سنن النسائي/قيام الليل ١٦ (١٦٣٩) (تحفة الأشراف: ٣٥١٦) . و مسند احمد (٥/١٠٨)

٢١٧٦_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ الرَّحَبِيِّ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ زَوَى لِيَ الْأَرْضَ، فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا، وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا، وَأُعْطِيتُ الْكَنْزَيْنِ الْأَحْمَرَ وَالْأَصْفَرَ، وَإِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي أَنْ لَا يُهْلِكَهَا بِسَنَةٍ عَامَّةٍ، وَأَنْ لَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ، وَإِنَّ رَبِّي قَالَ: يَا مُحَمَّدُ، "إِنِّي إِذَا قَضَيْتُ قَضَاءً فَإِنَّهُ لَا يُرَدُّ، وَإِنِّي أَعْطَيْتُكَ لِأُمَّتِكَ أَنْ لَا أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ عَامَّةٍ، وَأَنْ لَا أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ، فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ، وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا، أَوْ قَالَ: مَنْ بَيْنَ أَقْطَارِهَا حَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ يُهْلِكُ بَعْضًا، وَيَسْبِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دثوبان رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي زما دپاره زمکه راونغبنتله نو ما مشرق او مغرب اوليدلو يقينا زما دامت حکمراني به هغه خاي پوري رسيږي خومره پوري چي زما دپاره زمکه رانغبنتلي شوي ده او ماته سري او سپيني دوه خزاني راکړي شوي دي ما دخپل رب نه دخپل امت دپاره دعا اوغوښتله چي دوئ به کوم عام قحط باندي هلاك نکړي او نه په دوئ باندي کوم غير دوشمن مسلط کړي چي دوئ دجرړو نه ختم کړي زما رب ماته اوفرمائيل اي محمد زه چي کله کومه فيصله اوکړم نو بيا يي نه بدلوم ستا دامت په حق کي ما ستا دا دعا قبوله کړه چي په عام قحط به يي نه هلاکوم او نه به ورباندي داسي دوشمن مسلط کوم چي دوئ لره دجرړو نه تباه کړي اوختم يي کړي په داسي شان سره چي دزمکي تمام خلق ددي خلاف راجمع شي البته داسي به وي چي په دوئ کي به بعضي خلق بعضو لره هلاکوي او بعضي به قيديان کوي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

١٥_باب مَا جَاءَ كَيْفَ يَكُونُ الرَّجُلُ فِي الْفِتْنَةِ

دفتني په وخت کي دانسان دپاره څنګه کيدل پکاردي

٢١٧٧_حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مُوسَى الْقَزَّازُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ

---

[1] _ صحيح مسلم/الفتن ٥ (٢٨٨٩). سنن ابي داود/ الفتن ١ (٤٢٥٢). سنن ابن ماجه/الفتن ٩ (٣٩٥٢) (تحفة الأشراف:

جَادَةَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ أُمِّ مَالِكٍ الْبَهْزِيَّةِ، قَالَتْ: ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِتْنَةً فَقَرَّبَهَا، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ خَيْرُ النَّاسِ فِيهَا، قَالَ: "رَجُلٌ فِي مَاشِيَتِهِ يُؤَدِّي حَقَّهَا، وَيَعْبُدُ رَبَّهُ، وَرَجُلٌ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ يُخِيفُ الْعَدُوَّ، وَيُخِيفُونَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُمِّ مُبَشِّرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رَوَاهُ اللَّيْثُ بْنُ أَبِي سُلَيْمٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ أُمِّ مَالِكٍ الْبَهْزِيَّةِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه د ام مالك بهزيه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دفتني ذكر اوكړو او وي فرمانيل چي فتنه به ډيره زر ظاهريږي ماتپوس اوكړو اي دالله رسوله دفتني وخت كي به په ټولو كي بهتر څوك وي رسول الله اوفرمانيل يو خو به هغه كس وي څوك چي دخپلو څاروو سره اوسيږي او ددوئ دحق اداء كولو سره سره دخپل رب عبادت هم كوي، او بل به هغه كس وي چي دخپل اس سر يي نيولي وي او دشمن لره ويروي او دشمن ده لره ويروي

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي او ليث بن ابي سليم همدا حديث عن طاوس عن ام مالك البهزية عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل كړي دي . او په دي باب كي د ام مبشر، ابوسعيد خدري، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

١٦_باب

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢١٧٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ سِيمِينَ كُوش، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَكُونُ فِتْنَةٌ تَسْتَنْظِفُ الْعَرَبَ قَتْلَاهَا فِي النَّارِ، اللِّسَانُ فِيهَا أَشَدُّ مِنَ السَّيْفِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، يَقُولُ: لَا يُعْرَفُ لِزِيَادِ بْنِ سِيمِينَ كُوش غَيْرُ هَذَا الْحَدِيثِ، رَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ لَيْثٍ فَرَفَعَهُ، وَرَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ لَيْثٍ فَوَقَفَهُ. (2)

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٨٣٥٥)

2 - سنن ابي داود/ الفتن ٣ (٤٢٦٥). سنن ابن ماجه/الفتن ١٢ (٣٩٦٧) (تحفة الأشراف: ٨٦٣١). و مسند أحمد (٢/٢١٢)

ترجمه د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زر ده چي يو، داسي فتنه به ظاهره شي چي ټول عرب به راګير کړي . او ددي فتني مقتولين به جهنميان وي، اودغه وخت کي به خوله خوزول د توري وهلو نه زيات سخت وي

امام ترمذي وايي. دا حديث په دي سند غريب دی اود امام بخاري نه مي اوريدلي دي ونيل چي ددي حديث نه علاوه د زياد بن سيمين کوش نه کوم بل روايت مونږ ته معلوم نه دی دارنګي دا حديث حماد بن سلمه هم د ليث نه مرفوع نقل کړی دی، او حماد بن زيد د ليث نه موقوف نقل کړی دی.

****

١٧ـ باب مَا جَاءَ فِي رَفْعِ الأَمَانَةِ

د امانت پورته کيدو بيان

٢١٧٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَيْنِ قَدْ رَأَيْتُ أَحَدَهُمَا، وَأَنَا أَنْتَظِرُ الآخَرَ. حَدَّثَنَا: "أَنَّ الأَمَانَةَ نَزَلَتْ فِي جَذْرِ قُلُوبِ الرِّجَالِ. ثُمَّ نَزَلَ الْقُرْآنُ فَعَلِمُوا مِنَ الْقُرْآنِ، وَعَلِمُوا مِنَ السُّنَّةِ". ثُمَّ حَدَّثَنَا عَنْ رَفْعِ الأَمَانَةِ، فَقَالَ: "يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ. فَتُقْبَضُ الأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ الْوَكْتِ. ثُمَّ يَنَامُ نَوْمَةً. فَتُقْبَضُ الأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ. فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ الْمَجْلِ كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلَى رِجْلِكَ. فَنَفِطَتْ. فَتَرَاهُ مُنْتَبِرًا وَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ. ثُمَّ أَخَذَ حَصَاةً فَدَحْرَجَهَا عَلَى رِجْلِهِ. قَالَ: فَيُصْبِحُ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ لَا يَكَادُ أَحَدُهُمْ يُؤَدِّي الأَمَانَةَ حَتَّى يُقَالَ: إِنَّ فِي بَنِي فُلَانٍ رَجُلًا أَمِينًا. وَحَتَّى يُقَالَ لِلرَّجُلِ: مَا أَجْلَدَهُ وَأَظْرَفَهُ وَأَعْقَلَهُ. وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ. قَالَ: وَلَقَدْ أَتَى عَلَيَّ زَمَانٌ. وَمَا أُبَالِي أَيُّكُمْ بَايَعْتُ فِيهِ لَئِنْ كَانَ مُسْلِمًا لَيَرُدَّنَّهُ عَلَيَّ دِينُهُ. وَلَئِنْ كَانَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا لَيَرُدَّنَّهُ عَلَيَّ سَاعِيهِ. فَأَمَّا الْيَوْمَ فَمَا كُنْتُ لِأُبَايِعَ مِنْكُمْ إِلَّا فُلَانًا وَفُلَانًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دحذيفه بن يمان نه روايت دی چي مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلم دوه خبری

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٣٥ (٦٤٩٧) . والفتن ١٣ (٧٠٨٦) . والإعتصام ٣ (٧٢٧٦) . صحيح مسلم/الإيمان ٦٢ (١٤٣) (تحفة الأشراف: ٣٣٢٨)

کړی وی یوه می اولیده او دبلی انتظار کوم رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي وو چي امانت دخلقو دزړونو په جرړو کې ایخودلي شوی دی بیا چي قران نازل شو نو خلقو دا امانت اوپیژندو، بیا رسول الله صلي الله علیه وسلم دهغی تشریح اوکړه نو خلقو دسنتو نه دهغی تفصیل معلوم کړو. بله خبره یی راته دامانت پوره کیدو کړی وه چي سړی به په خپل عادت او ده شي نو امانت به یی دزړه نه واخیستی شي نو تته غوندی نخښه به پاتی شي بیا به په خپل عادت اوده شي نو پاتی امانت به یی هم دزړه نه واخیستلی شي نو نخښه به یی لکه دتنړاکی پاتي شي، لکه چي په پښه چي داور بخری اوغورځیږي نو تنړاکي شي، تاته به اوچته ښکاري خو پکې هیڅ نه وي بیایی یو ګیټی راواخیستله په خپله پښه یی اوغورځوله بیابه صبا خلق خپل کاروبار شروع کړي، خو یو کس به پکې هم امانت نه ادا کوي ، تردي چي ویلی به شي چي فلانئ قبیله کې یو امانت ګرسړی هم شته دی تردی چي یودیندار سړي ته به ونیلی شي چي ډیر بهادر دی، ډیر ښائسته دی، ډیر هوښیار دی او دهغه په زړه کې دشرشم دانی هومره ایمان هم نه وي (حذيفه فرمائي) په ماباندي داسي وخت راغلی دی چي دا پروا مي نه وه چي چانه څه اخلم یا خرڅوم (ټول خلق ایماندار وو) دا به مي ونیل که مسلمان وي نو خپل دین به یي راواپس کړي ټګي به راسره نه کوي او که یهودي یا عیسائي وي نو دهغوئ نګران به راته څیز واپس کړي او نن زه هیڅا سره کاروبار نشم کولی (په هیڅا اعتبار نشم کولی) بی دفلان او فلاني نه

امام ترمذي وایي: دا حدیث حسن صحیح دی.

لغات امام نووي وایي: جذر: دجیم زور دی او ټکي وال ذال ساکن دی دڅیز بیخ او بنیاد . الوکت: په دوه ټکو واله "ت" دی معمولي اثر المحل دمیم زور دی او جیم ساکن دی هغه تناکي چي په لاسو دکار په وجه راخیژي "منتبرا: اوچته ، ساعي: والي اونګران.

الوکت وکت وکتا دضرب نه معني یې په وروقدمونو تیز تلل دي .

المجل : مجل مجلا ومجولاد نصر نه معني دڅه کار کولو په وجه لاسونه تناکي کیدل.

دحرج: کانړي ارغړول

فنفط: نفط نفطا دسمع نه معني لاسونه تناکي کیدل.

تشريح: الامانة نزلت في جذر قلوب الرجال. یعني امانت دخلقو دزړونو ژور والي ته کوز شوی دی، دامانت بحث په "اناعرضنا الامانة علي السماوات والارض کې تیرشوی دی دبعضي محدثینو خیال دی چي دامانت نه مراد ایمان دی ځکه چي دحدیث په اخر کې وما في قلبه مثقال حبة من خردل من ایمان نه هم دا معلومیږي.

دحدیث مطلب دادي چي الله تعالي دخلقو په زړونو کې د امانت نور پیدا کړو تر دي چي ډدي

په دنړا کې دفلاح او هدايت په لاره لاړ شي او ددين او شريعت پيرو كاران وګرځي، مګر كله چي خلقو ددي نعمت عظمي ناقدري وكړله او دګناهونو ارتكاب يي شروع كړو نو الله تعالی ورنه دا نعمت واپس واخستلو . خوچي كله ددوئ دغفلت دخوب نه بيدار شي نو محسوس به كړي چي ددوئ دزړونو هغه حالت نه دي پاتي شوي كوم چي دامانت د موجودګئ په وخت كي وو. البته دامانت نشان به موجود پاتي شي او بيابه چرته د وكت پشان وي او كله به دمجل پشان وي مجل اګر چي مصدر دی ليكن دلته ورنه بي عقله نفس مراد دی او دوكت نه مراد كمتر دی وكت ديو څيز لكئ ته وئيلی شي

ينام الرجل النومة. يا خو ددي خوب نه حقيقي خوب مراد دي او يا كنايه ده دغفلت نه څكه چي په سړي سره داوكيدو نه هم غفلت راځي.

"وما اعقله وما اظرفه" يعنيي هغه څومره عقلمند او هوښيار دی چي ددي تعريف به اوكړي خو دايمان تعريف نه كوي او دايمان نه بغير خو هيڅ يو څيز معتبر نه وي، تعريف به دهغه څا معتبر وي څوك چي دايمان او تقوي حامل وي.

وما في قلبه مثقال حبة من خردل من ايمان، او حال دادی چي دده په زړه كي به داوري دداني برابر ايمان نه وي، محدثينو ددي دوه مطلبونه بيان كړي دي.

اول، دكامل ايمان نفي مراد ده ، دويم دنفس ايمان نفي مراد ده.

****

١٨_ باب مَا جَاءَ لَتَرْكَبُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ

ضرور به چليږئ تاسو په نقش او قدم دتيروشوو امتونو

٢١٨٠_ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سِنَانِ بْنِ أَبِي سِنَانٍ، عَنْ أَبِي وَاقِدٍ اللَّيْثِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا خَرَجَ إِلَى خَيْبَرَ. مَرَّ بِشَجَرَةٍ لِلْمُشْرِكِينَ، يُقَالُ لَهَا: ذَاتُ أَنْوَاطٍ. يُعَلِّقُونَ عَلَيْهَا أَسْلِحَتَهُمْ. فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اجْعَلْ لَنَا ذَاتَ أَنْوَاطٍ كَمَا لَهُمْ ذَاتُ أَنْوَاطٍ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " سُبْحَانَ اللَّهِ، هَذَا كَمَا قَالَ قَوْمُ مُوسَى: اجْعَلْ لَنَا إِلَهًا كَمَا لَهُمْ آلِهَةٌ (الأعراف : ١٣٨)، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَرْكَبُنَّ سُنَّةَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو وَاقِدٍ اللَّيْثِيُّ اسْمُهُ الحَارِثُ بْنُ عَوْفٍ. وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. (١)

---

[1] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف : ١٥٥١٦)

ترجمه دابوواقد ليثي رضي الله عنه بيان دي كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم حنين ته دتلو دپاره روان شو نو په يوه ونه يې تيريدل اوشول كومه چي په ذات انواط يادیدله دي وني ته به مشركانو خپلي اسلحي زوړندولي صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله زمونږ دپاره هم يوه ذات انواط مقرر كړه لكه دمشركانو دپاره چي څنګه ذات انواط دي. رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل سبحان الله داخو بالكل هغه شان خبره ده كومه چي دموسي عليه السلام قوم كړي وه چي زمونږ دپاره هم داسي معبودان مقرر كړه څنګه چي دمشركانو دپاره دي، زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په اختيار كي چي زما روح دي چي تاسو به دتيرو شوو امتونو پوره پوره پيروي كوئ

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او دابو واقد ليثي نوم حارث بن عوف دي او په دي باب كي دابوسعيد خدري او ابوهريره رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

دابوواقد حارث ابن عوف ليثي عنه مناقب

دده نوم حارث دی ليكن په ابو واقد مشهور وو او دپلار نوم يې عوف بن الحارث دی او دبعضو په نزد حارث بن مالك دی بعضي علماء وائي چي په بدر كې شريك شوی وو ليكن بعضي اسماء الرجال والا ددينه انكار كوي او بعضي اسماء الرجال والا واني چي دفتح مكه په ورځ دده په لاس كې دبني ضمره قبيلي او ليث قبيلي او بني سعد قبيلي جهنډه وه دبعضي علماؤ خيال دادی چي دی دفتح مكي په ورځ مسلمان شوی دی ليكن صحيح قول دادی چي په فتح مكه كې شريك وو او ددينه مخكې مسلمان شوی وو په مكه كې اوسيدو او په مكه كې په ۸۲هجري كې وفات شو او دمهاجرينو په قبرستان كې دفن كړی شو او په دغه وخت كې دده عمر ۷۵يا ۸۵كلونه وو دده دمروياتو شمير ۲۴دی چي يولس په دي كې متفق عليه دي

****

۱۹_ باب مَا جَاءَ فِي كَلَامِ السِّبَاعِ

دانسانانوسره دځناورودخبروكولوبيان

۲۱۸۱_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ. حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ القَاسِمِ بْنِ الفَضْلِ، حَدَّثَنَا أَبُو نَضْرَةَ العَبْدِيُّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُكَلِّمَ السِّبَاعُ الإِنْسَ، وَحَتَّى تُكَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ، وَشِرَاكُ نَعْلِهِ، وَتُخْبِرَهُ فَخِذُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ مِنْ بَعْدِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ القَاسِمِ بْنِ الفَضْلِ. وَالقَاسِمُ بْنُ الفَضْلِ ثِقَةٌ مَأْمُونٌ عِنْدَ أَهْلِ

الْحَدِيثِ، وَثَّقَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ. ([1])

ترجمه . دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دي په هغه ذات قسم وي دچا لاس کي چي زما روح دي چي تر هغه وخته پوري قيامت قائميدي نشي څو پوري چي درنده ګانو او ځناورو دانسانانو سره خبري کول شروع کړي نه وي او څو پوري چي ديو سړي سره دځپلي کوړي کناري خبري کړي نه وي او څو پوري چي ورسره دځپل پيزار دتړلو تسمي خبري کړي نه وي او څو پوري چي ورسره ځپل ورون دځپل کړي کار خبر ورکړي نه وي کوم چي به دده ښځي دده په غير موجودګئ کي کړي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او مونږ يي صرف دقاسم بن فضيل په روايت پيژنو قاسم بن فضل د محدثينو په نزد ثقه دي او مامون دي يحي بن سعيد قطان او عبدالرحمن مهدي دده توثيق کړي دي، او په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٢٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي انْشِقَاقِ الْقَمَرِ

دسپوږمئ دچاودلو (دوه ټوټي کيدو) بيان

٢١٨٢ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: " انْفَلَقَ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اشْهَدُوا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَنَسٍ، وَجُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي سپوږمئ دوه ټوټي شوه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو ګواه اوسيږئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابن مسعود، انس، او جبير بن مطعم رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٢٧١)، ومسند احمد (٣/٨٣٨٣)

2 ـ صحيح مسلم/صفات المنافقين ٨ (٢٨٠١) (تحفة الأشراف: ٧٣٩٠)

د قيامت علامات په احاديثو كي په كثرت سره وارد دي دارنګي مسلم هم يو روايت نقل كړى دى د ابوموسي اشعري رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په مسلمانانو به داسى وخت راشي چي ټول به دومره مالدار شي يو سړي به دسرو زرو زكواة اوباسي او ګرزوي به يى او داسى سړى به نه مومي چي دا زكواة ترى قبول كړي ،ځكه چي ټول به مالداراوي خپله به زكواة وركوي نو دبل نه به نشي اخستلى، او داسى وخت به راشي چي يو يو سړي پسى به څلويښت څلويښت ښځى روانى وي، دهغه نه به دخپل شهوت پوره كولو كوشش كوي دسرو دكمي او دښځو د ډيروالي په وجه

****

٢١_باب مَا جَاءَ فِي الْخَسْفِ

په زمكه كي دډوبيدلو بيان

٢١٨٣_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ فُرَاتٍ الْقَزَّازِ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ، قَالَ: أَشْرَفَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غُرْفَةٍ، وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ السَّاعَةَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَرَوْا عَشْرَ آيَاتٍ: طُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا، وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ، وَالدَّابَّةَ، وَثَلَاثَةَ خُسُوفٍ: خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ، وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ، وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ، وَنَارٌ تَخْرُجُ مِنْ قَعْرِ عَدَنَ تَسُوقُ النَّاسَ أَوْ تَحْشُرُ النَّاسَ، فَتَبِيتُ مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا، وَتَقِيلُ مَعَهُمْ حَيْثُ قَالُوا".([1])

ترجمه : دحذيفه بن يمان رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ طرف ته دخپلي كمري نه راتوپ كړل او دغه وخت كي مونږ دقيامت ذكر كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل قيامت به هغه وخته پوري نه قائميږي څو پوري چي تاسو لس علامات ليدلي نه وي. ، دمغرب طرف نه دنمر راختل ، دياجوج او ماجوج وتل ، د دابة الارض راوتل. ، دري پيري دزمكي راښكل يو خل په مغرب كي او يو خل په مشرق كي او يو خل په جزيرة العرب كي. ، او دعدن نه داور راوتل چي خلق به شړي او يوځاي ته به يي جمع كوي چرته چي به خلق شپه تيروي هلته به شپه تيره كړي او چرته چي خلق قيلوله كوي هلته به قيلوله اوكړي.

[1] ـ صحيح مسلم /الفتن ١٣ (٢٩٠١) . سنن ابي داود/ الملاحم ١٢ (٤٣١١) . سنن ابن ماجه/ الفتن ٢٨ (٤٠٤١) (تحفة الأشراف : ٣٢٩٧) . و مسند احمد (٤/٧)

****

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ فُرَاتٍ نَحْوَهُ، وَزَادَ فِيهِ: الدُّخَانَ. (1)

ترجمه فرات هم په دي سند دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي او په دي كي يې د "الدخان" ،لوكي، لفظ اضافه كړي ده

****

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ فُرَاتٍ القَزَّازِ، نَحْوَ حَدِيثِ وَكِيعٍ، عَنْ سُفْيَانَ. (2)

ترجمه په دي سند هم فرات دوكيع دحديث پشان روايت چي دسفيان نه يې نقل كړي بيان كړي دي

****

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، وَالْمَسْعُودِيِّ، سمعا من فرات القزاز نحو حديث عبد الرحمن، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ فُرَاتٍ، وَزَادَ فِيهِ: الدَّجَّالَ أَوِ الدُّخَانَ. (3)

ترجمه په دي سند هم فرات دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي مګر په دي كي د الدجال او الدخان الفاظو اضافه ده.

****

حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ الحَكَمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ العِجْلِيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ فُرَاتٍ، نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، وَزَادَ فِيهِ، قَالَ: "وَالعَاشِرَةُ إِمَّا رِيحٌ تَطْرَحُهُمْ فِي البَحْرِ، وَإِمَّا نُزُولُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَصَفِيَّةَ

---

1 ـ صحيح مسلم/الفتن ١٣ (٢٩٠١) . سنن ابي داود/ الملاحم ١٢ (٤٣١١) سنن ابن ماجه/ الفتن ٢٨ (٤٠٤١) (تحفة الأشراف: ٣٢٩٨)، و مسند احمد (٤/٧)

2 ـ صحيح مسلم/الفتن ١٣ (٢٩٠١) . سنن ابي داود/ الملاحم ١٢ (٤٣١١) . سنن ابن ماجه/الفتن ٢٨ (٤٠٤١) (تحفة الأشراف: ٣٢٩٨)، و مسند احمد (٤/٧)

3 ـ صحيح مسلم/الفتن ١٣ (٢٩٠١) . سنن ابي داود/ الملاحم ١٢ (٤٣١١) . سنن ابن ماجه/ الفتن ٢٨ (٤٠٤١) (تحفة الأشراف: ٣٢٩٨)، و مسند احمد (٤/٧)

بِنْتِ حُيَيٍّ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه په دي سند هم فرات دابوداود پشان حديث دشعبه نه نقل كړي دي مګر په دي كي دا اضافه ده " وَالْعَاشِرَةُ إِمَّا رِيحٌ تَطْرَحُهُمْ فِي الْبَحْرِ. وَإِمَّا نُزُولُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ "چي رسول الله صلي الله عليه وسلم لسم څيز دا بيان كړو يا خو به يو باد راشي چي دوئ به بحر ته اوغورځوي او يابه نزول دعيسي بن مريم عليه السلام اوشي.
امام ترمذي وايي. او په دي باب كي دعلي او ابوهريره او ام سلمه او صفيه بن حيي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

****

٢١٨٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْمُرْهِبِيِّ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ صَفْوَانَ، عَنْ صَفِيَّةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَنْتَهِي النَّاسُ عَنْ غَزْوِ هَذَا الْبَيْتِ حَتَّى يَغْزُوَ جَيْشٌ، حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالْبَيْدَاءِ أَوْ بِبَيْدَاءَ مِنَ الْأَرْضِ، خُسِفَ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ، وَلَمْ يَنْجُ أَوْسَطُهُمْ ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَمَنْ كَرِهَ مِنْهُمْ. قَالَ: "يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ عَلَى مَا فِي أَنْفُسِهِمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دصفيه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلق دالله تعالي په دي كور هغه وخته پوري دحملي كولو نه نه منع كيږي تردي پوري چي يو داسي لښكر دجنګ كولو دپاره راشي چي ددي لښكر يو سر به په بيداء مقام كي وي اوكه د خمكي په بيداء حصه كي به وي (د راوي شك دی) او ددي لښكر اولني سر او اخري سر به ډوب كړي شي او ددوئ مينځني خلق به هم نجات بيا نه مومي يعني ډوبيدو نه، ما عرض اوكړو اي دالله رسوله اوكه په چا باندي زور شوي وي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل خلق به دخپلو نيتونو موافق راپورته كولي شي
امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي

****

٢١٨٥_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا صَيْفِيُّ بْنُ رِبْعِيٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ،

---

[1] ـ صحيح مسلم/الفتن ١٣ (٢٩٠١) . سنن ابي داود/ الملاحم ١٢ (٤٣١١) سنن ابن ماجه/ الفتن ٢٨ (٤٠٤١) (تحفة الأشراف : ٤٧٩٤) . و مسند احمد (٤/٣)

[2] ـ سنن ابن ماجه/الفتن ٣٠ (٤٠٦٤) (تحفة الأشراف ١٥٩٠٢)

عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَكُونُ فِي آخِرِ الْأُمَّةِ خَسْفٌ، وَمَسْخٌ، وَقَذْفٌ ". قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ؟ قَالَ: " نَعَمْ، إِذَا ظَهَرَ الْخُبْثُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ عَائِشَةَ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ تَكَلَّمَ فِيهِ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. ([1])

ترجمه دعائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي زما دامت په اخري زمانه كي به دا واقعات ظاهر شي ، په زمكه كي ډوبيدل شكل بدليدل، داسمان نه كاڼړي وريدل عائشه وائي ما عرض اوكړو اي دالله رسوله ايا مونږ به هلاك كړي شو حال دادي چي په مونږ كي به نيك خلق هم وي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو كله چي فسق او فجور عام شي (نو همدا سي به كيږي).

امام ترمذي وايي: داحديث دعائشه رضي الله عنها په سند غريب دي او دا مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او په عبدالله بن عمري يحي بن سعيد قطان دحافظي متعلق كلام كړي دي

****

٢٢_باب مَا جَاءَ فِي طُلُوعِ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا

دمغرب دطرفه د نمر راختو بيان

٢١٨٦_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ حِينَ غَابَتِ الشَّمْسُ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ، فَقَالَ: يَا أَبَا ذَرٍّ، " أَتَدْرِي أَيْنَ تَذْهَبُ هَذِهِ؟ " قَالَ: قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: " فَإِنَّهَا تَذْهَبُ تَسْتَأْذِنُ فِي السُّجُودِ، فَيُؤْذَنُ لَهَا وَكَأَنَّهَا قَدْ قِيلَ لَهَا اطْلُعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ، فَتَطْلُعُ مِنْ مَغْرِبِهَا، قَالَ: ثُمَّ قَرَأَ ، وَذَلِكَ مُسْتَقَرٌّ لَهَا ، ". قَالَ: وَذَلِكَ قِرَاءَةُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي مُوسَى، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف . ١٧٥٢٢)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ٤ (٣١٩٩) . والتوحيد ٢٢ (٧٤٢٤) . صحيح مسلم /الإيمان ٧٢ (١٥٩) . ويأتي في تفسير يسين برقم : ٣٢٢٧) (تحفة الأشراف : ١١٩٩٣)

ترجمه دابوذر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يوه ورځ زه دنمر پريوتو نه پس مسجد ته داخل شوم او نبي كريم صلي الله عليه وسلم دغه وخت په مسجد كي موجود وو او ويې فرمائيل اي ابو ذر ايا تاته پته ده نمر چي غائب شي چرته ځي ما ورته اووئيل الله او دهغه رسول ښه پوهيږي رسول الله اوفرمائيل دا ددي دپاره ځي چي د دوه سجدو كولو دپاره اجازت ورته ملاؤ شي ليكن دغه وخت كي ورته دا اووئيلي شي دهغه ځاي نه روان شه دچرته نه چي راغلي يې لهذا نمر به دمغرب دطرفه راوخيژي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ايت كريمه "وذلك مستقرلها" تلاوت كړو يعني دا ددي ټهكانه او داوسيدو ځاي دي راوي وائي دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه قرائت همدا دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دصفوان بن غسال، حذيفه، اسيد، انس، او ابو موسي اشعري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٢٣_باب مَا جَاءَ فِي خُرُوجِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ

دياجوج اوماجوج دراوتلو بيان

٢١٨٧_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ نَافِعٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ حَبِيبَةَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ، قَالَتْ: اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَوْمٍ مُحْمَرًّا وَجْهُهُ وَهُوَ يَقُولُ: " لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ "، يُرَدِّدُهَا ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، " وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ، فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هَذِهِ "، وَعَقَدَ عَشْرًا، قَالَتْ زَيْنَبُ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ ؟ قَالَ: " نَعَمْ، إِذَا كَثُرَ الْخُبْثُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ جَوَّدَ سُفْيَانُ هَذَا الْحَدِيثَ، هَكَذَا رَوَى الْحُمَيْدِيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْحُفَّاظِ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ نَحْوَ هَذَا، وَقَالَ الْحُمَيْدِيُّ: قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: حَفِظْتُ مِنَ الزُّهْرِيِّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ أَرْبَعَ نِسْوَةٍ: زَيْنَبَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ حَبِيبَةَ، وَهُمَا رَبِيبَتَا النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ، زَوْجَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهَكَذَا رَوَى مَعْمَرٌ، وَغَيْرُهُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ حَبِيبَةَ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُ أَصْحَابِ

ابْنِ عُيَيْنَةَ هَذَا الحَدِيثَ، عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ. (١)

ترجمه دزينب بنت جحش رضي الله عنها بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو خل دخوب نه رابيدار شو او د مخ مبارك رنگ يي سور وو او فرمائيل يې "لااله الا الله" او دا كلمه يي دري پيري تكرار كړه او بيا يي اوفرمائيل دهغه شر په سبب دعربو دپاره تباهي ده كوم چي ډير رانژدي شوي دي نن دياجوج او ماجوج په ديوال كي دومره سوري شوي دي او رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپل لاس په گوتو دلسو غوټه واچوله ماعرض اوكړو اي دالله رسوله ايا مونږ به هلاك شو او حال دادي چي په مونږ كي نيك خلق هم موجود دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو كله چي گناهونه زيات شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي په سند كي دڅلورو ښځو په ذكر كولو سره سفيان بن عيينه دا حديث په بهتري طريقي بيان كړي دي حميدي او علي بن مديني او بعضي نورو محدثينو دا حديث دسفيان بن عيينه نه په همدي مضمون نقل كړي دي، حميدي وائي دسفيان بن عيينه قول دي ما ددي حديث په سند كي دزهري نه دڅلورو ښځو واسطه حفظ كړي ده: عن زينب بنت ابي سلمة عن حبيبة عن ام حبيبة عن زينب بنت جحش. زينب بنت ابي سلمه او حبيبه درسول الله صلي الله عليه وسلم پركتئ (ناسكه لونړه) دي او ام حبيبه او زينب بنت جحش ازواج مطهرات او امهات المؤمنين دي معمرو او بعضي نورو راويانو داحديث دزهري نه په همدي سند نقل كړي دي مگر په هغي كي دحبيبه واسطه نشته دابن عيينه بعضي شاگردانو دابن عيينه نه ددي حديث نقل كولو وخت كي دام حبيبه دواسطي ذكر نه دي كړي

دزينب بنت جحش رضي الله عنها

نوم زينب كنيه ام الحكم په قريشو كي يي دبني اسد قبيلي سره تعلق وو دپلار نوم يي جحش بن رباب وو او دمور نوم يي اميمه وه دا درسول الله صلي الله عليه وسلم حقيقي دترور لور وه ددي داسلام په باره كي صاحب دام اسد الغابه ليكلي دي كانت قديمة الاسلام يعني په اسلام راوړو كي مخكښ وه (اسد الغابه).

ددي مخكښ نكاح دزيد بن حارثه رضي الله عنه سره شوي وه څوك چي درسول الله صلي الله عليه وسلم ازاد كړى غلام او متبني وو، بيايي ددينه پس درسول الله صلي الله عليه وسلم سره نكاح اوشوه درسول الله ورسره ډير زيات محبت وو همدا وجه ده چي ام المومنين عائشه رضي

---

١ اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٧ (٣٣٤٦) . والمناقب ٢٥ (٣٥٩٨) . والفتن ٣ (٧٠٥٩) . و ٢٨ (٧١٣٥) . صحيح مسلم/الفتن ١ (٢٨٨٠) . سنن ابن ماجه/الفتن ٩ (٣٩٥٣) (تحفة الأشراف : ١٥٨٨٠) . و مسند احمد (٤٢٨/٦، ٤٢٩)

الله عنها فرمائي هي التي كانت تساوين من هن في المنزلة عند رسول الله صلي الله عليه وسلم
يعني درسول الله صلي الله عليه وسلم په نظر کې دعزت او مرتبې په لحاظ سره هغې زما سره مقابله کوله چې ډيره عبادت گذاره او بهترينو اخلاقو مالکه وه ام سلمه رضي الله عنها فرمائي كانت زينب صالحة صوامة قوامة يعني زينب يوه نيکه روژه داره او مونځ گذاره ښځه وه (زرقاني)
وفات دهجرت په شلم کال د درې پنځوس کالو په عمر کې وفات شوه چې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يې دنکاح په وخت کې عمر ۳۸کلونه وو ليکن علامه واقدي ۳۵کلونه ليکلي دي ليکن داکثرو په نزد اولنی قول راجح دی
ددي دمروياتو شمير يولس دی چې دوه پکې متفق عليه دي (زرقاني)
****

٢٤_باب فِي صِفَةِ الْمَارِقَةِ
دخوارجو پيژندگلي

٢١٨٨_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ قَوْمٌ أَحْدَاثُ الأَسْنَانِ، سُفَهَاءُ الأَحْلَامِ، يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ، يَقُولُونَ مِنْ قَوْلِ خَيْرِ الْبَرِيَّةِ، يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ فِي غَيْرِ هَذَا الْحَدِيثِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ وَصَفَ هَؤُلَاءِ الْقَوْمَ الَّذِينَ يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ، يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ، إِنَّمَا هُمُ الْخَوَارِجُ الْحَرُورِيَّةُ، وَغَيْرُهُمْ مِنَ الْخَوَارِجِ. [1]

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په اخري زمانه کې به داسې قوم پيدا شي چې افراد به يې کم عمره او سرسري عقل والاوي دوئ به قران لولي ليکن قران به ددوئ دحلق نه لاندي نه کوزيږي او دقران خبري به کوي ليکن دوئ به ددين نه داسې اوځي لکه دښکار نه چې غشي څنگه پوري راپوري اوځي.

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/المقدمة ١٢ (١٦٨) (تحفة الأشراف : ٩٢١٠) ، و مسند احمد (١/٤٠٢)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په يو بل حديث کي درسول الله نه مروي دي او په دي کي يي دهغه خلقو اوصاف بيان کړي دي چي دوئ به قران وائي مګردمرئ نه به يي لاندي نه کوزيږي او دوئ به ددين نه داسي اوځي لکه غشي چي دليندي نه څنګه اوځي او ددينه حروره مقام ته منسوب خوارج او بعضي نور خوارج مراد دي، او په دي باب کي دعلي، ابوسعيد، او ابوذر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٢٥_باب في الأَثَرَةِ

دترجيح ورکولو بيان

٢١٨٩_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، عَنْ أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنَ الأَنْصَارِ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، اسْتَعْمَلْتَ فُلَانًا وَلَمْ تَسْتَعْمِلْنِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً، فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْنِي عَلَى الحَوْضِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : داسيد بن حضير نه روايت دی يو انصاري رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوکړو يا رسول الله فلاني دي حاکم مقرر کړو او زه دي حاکم مقرر نکړم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي ډير زر به تاسو زمانه پس ترجيح ورکول اووينئ نو صبر کوئ تردي چي په حوض کوثر کي ماسره ملاقات اوکړي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات تستعملني: عمل عملا دسمع نه په معني دکار کولو او محنت کولو، استعمله يعني عامل يي مقرر کړو.

تشريح : الحوض: حوض د اوبو جمع کيدو خاي ته وئيلي شي، جمع يي احواض او حياض او حيضان راخي په جديد لغت کي حوض السفن دجهازونو د اودرولو خاي ته وئيلي شي.

استعملت فلاناً ولم تستعملني" يعني ما هم داسي عامل مقرر کړه لکه فلانی چي دی عامل مقرر کړی دی، په عامو وختونو کي رسول الله صلي الله عليه وسلم دعهدي غوښتلو نه ممانعت فرمائيلی دی او دا يي هم فرمائيلي دي که څوك پخپله ددي طلب کوي نو فرشتي دده مدد

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /مناقب الأنصار ٨ (٣٧٩٢)، والفتن ٢ (٧٠٥٧)، صحيح مسلم/الإمارة ١١ (١٨٤٥)، سنن النسائي/آداب القضاة ٢ (٥٣٨٥) (تحفة الأشراف: ١٣٨)، و مسند احمد (٤/٣٥١، ٣٥٢)

پريدي او كه بغير دطلب كولو نه چاته عهده وركړى شي نو دفرشتو مدد ورسره شامل وي.
"فاصبروا حتي تلقوني علي الحوض" يعني تردي پوري صبر اوكړئ چي په حوض كوثر كې زما سره ملاؤ شو درسول الله صلي الله عليه وسلم حاكمانه مزاج دا وو چي كله به دوه طرفه حقوق وو نو هلته به يي هر جانب ته دا حكم كولو چي دبل حق ادا كړي او دخپل حق په وصول كولو كې دصبر نه كار واخلي پس په دي حديث كې هم عوامو لره صبر ته متوجه كول دي چي په جائزو كارونو كې به داميرانو اطاعت كوئ اوكه چري بد حالت پيښ شي نو دصبر نه به كار اخلئ او اميرانو ته يي حكم كړى دى چي تاسو به دعوامو دحقوقو پوره خيال ساتئ كه ددوئ دطرف نه درته كوم تكليف اورسيږي نو دصبر مظاهره به كوئ ، ددنيا تاريخ شاهد دى چي كله كومو قومونو ددي سنهري اصولوخيال ساتلى دى په هغوئ كې خوشالياني راغلي دي اوچاچي پريخودلى دى په هغوئ كې شر او فساد اوبدامني پيدا شوي ده.

د اسيد بن حضير رضي الله عنه مختصر حالات:

نوم اسيد كنيه ابو عتيك داوس قبيلي سره يي تعلق وو داسيد پلار حضير دي داوس قبيلي سردار وو دجاهليت دزماني تمام جنګونه دده په قيادت كې شوي دي.
دده داسلام راوړو واقعه داده چي دبيعت عقبه نه پس مصعب بن عمير رضي الله عنه داسلام داشاعت دپاره مديني ته راغى او دراتلو سره يي داسعد بن زراره په كور كې قيام اوكړو، يو خل مصعب خلقو ته په باغ كې تعليم وركولو سعد بن معاذ اسيد ته اوونيل چي مصعب دتعليم وركولو نه منع كړه سعد بن معاذ خو لاټرو نو ده پخپله نيزه واخستله او دباغ په طرف ورروان شو دده ددي كيفيت په ليدو سره اسعد بن زراره مصعب ته اوونيل چي دقوم سردار مونږ ته راروان دى دى به نن مسلمانيږي اسيد مصعب ته اوونيل زمونږ دقوم خلق بي وقوفان ګنړي ددي خاي نه لاړ شه
په دي كې اختلاف دى چي په بدر كې شريك شوى وو او كه نه خو دبدر نه علاوه په باقي تمامو غزواتو كې دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره شريك شوى دى او په غزوه حنين كې داوس قبيلي جهنډه دده سره وه (طبقات ابن سعد)
دبيت المقدس په فتح كولو كې دهجرت په شپاړسم كال دعمر رضي الله عنه سره دمديني نه شام ته لاړو نهايت صفا خبري به يي كولي او په همدي وجه عمر رضي الله عنه ډير خوښولو.
اتلس روايتونه ورنه منقول دي او په پورتني حديث يي دبخاري او مسلم اتفاق دى ددينه علاوه يو بل حديث يي هم په بخاري كې شته دهجرت په شلم كال دشعبان په مياشت كې وفات شو او عمر رضي الله عنه ورباندي جنازه اوكړه.

****

٢١٩٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً وَأُمُورًا تُنْكِرُونَهَا". قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "أَدُّوا إِلَيْهِمْ حَقَّهُمْ وَسَلُوا اللَّهَ الَّذِي لَكُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دير زر به مانه روستو حقونه وهلى شي او داسي كارونه به كيږي چي ستاسو به خوښ نه وي، اصحابو عرض اوكړو (چي داسي وخت كښي) مونږ دپاره څه حكم دى؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو باندي چي دچا حق وي تاسو يې ادا كوئ او خپل حق دالله نه غواړئ (يعني صبر كوئ) اثره، په حق لرونكي (حقدار) باندي بل بنده ته ترجيح وركول امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دى.

لغات اثرة الاثرة ديته وئيلي شي چي يو انسان دبل په مقابله كښ دخان دپاره څه شي خوښ كړي او خپل خان ته په بل چا ترجيح وركړي، كوم ته چي انتهائي خود غرضي او خود پسندي وئيلي شي

تشريح : "ستكون بعدي اثرة" يعني زمانه پس به تاسو يو ته په بل باندي ترجيح وركوئ رسول الله په دي حديث كښ فرمائيلي دي چي زما دتلو نه پس به په دنيا كښ داسي حاكمان پيدا شي چي ستاسو جائز حقونه به هم نه ادا كوي او په تاسو به خپلو رشته دارو ته ترجيح وركوي خو تاسو به دصبر نه كار اخلئ په يو بل روايت كښ راغلي دي "انكم سترون بعدي اثرة وامورا تنكرونها قالوا. فما تامروا يا رسول الله؟ قال ادوا اليهم حقهم واسئلوا الله حقكم".

"واموراتنكرونها" يعني داسي كارونه به پيدا شي چي تاسو به يې نه خوښوئ محدثينو فرمائيلي دي چي كله دامير امارت په شرعي طريقي سره نافذ شي نو په جائز كارونو كښ به دهغه اطاعت ضروري وى او په دي باندي امام نووي اجماع نقل كړي ده

ليكن كه چري حاكم دناجائز كار حكم اوكړي نو خبره يې منل نه دي پكار مگر په دي صورت كښ دده دامارت نه بعاوت جائز نه دى البته كه چري سرگند كفر ورنه ښكاره شي نو بيابغاوت پكار دى اوكه دحاكم نه حلاف شرع حركات سرگند شي نو په زړه كښ يې بد گنړل پكار دي او ورسره ددي داصلاح دپاره دتدبير كولو سوچ هم پكار دى او څوك چي ورسره قلبا شريك وي نو

---

(1) ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/المناقب ٢٥ (٣٦٠٣)، والفتن ٢ (٧٠٥٢)، صحيح مسلم/الإمارة ١٠ (١٨٤٣) (تحفة الأشراف: ٩٢٢٩)، ومسند احمد (١/٣٨٣، ٣٨٤، ٤٣٣)

دی به هم د الله تعالي په نزد دنيرلو مستحق وي

****

٢٦_باب مَا جَاءَ مَا أَخْبَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ بِمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

دقيامت پوري واقع کيدونکو امور متعلق درسول الله پيشنکويي

٢١٩١_حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مُوسَى الْقَزَّازُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدِ بْنِ جُدْعَانَ الْقُرَشِيُّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا صَلَاةَ الْعَصْرِ بِنَهَارٍ، ثُمَّ قَامَ خَطِيبًا فَلَمْ يَدَعْ شَيْئًا يَكُونُ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا أَخْبَرَنَا بِهِ، حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ، وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ، وَكَانَ فِيمَا قَالَ: " إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ، وَإِنَّ اللَّهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا، فَنَاظِرٌ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، أَلَا فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ ". وَكَانَ فِيمَا قَالَ: " أَلَا لَا يَمْنَعَنَّ رَجُلًا هَيْبَةُ النَّاسِ أَنْ يَقُولَ بِحَقٍّ إِذَا عَلِمَهُ ". قَالَ: فَبَكَى أَبُو سَعِيدٍ، فَقَالَ: قَدْ وَاللَّهِ رَأَيْنَا أَشْيَاءَ فَهِبْنَا. فَكَانَ فِيمَا قَالَ: " أَلَا إِنَّهُ يُنْصَبُ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقَدْرِ غَدْرَتِهِ، وَلَا غَدْرَةَ أَعْظَمُ مِنْ غَدْرَةِ إِمَامِ عَامَّةٍ يُرْكَزُ لِوَاؤُهُ عِنْدَ اسْتِهِ " فَكَانَ فِيمَا حَفِظْنَا يَوْمَئِذٍ: " أَلَا إِنَّ بَنِي آدَمَ خُلِقُوا عَلَى طَبَقَاتٍ شَتَّى، فَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا وَيَحْيَا مُؤْمِنًا وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا، وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِرًا وَيَحْيَا كَافِرًا وَيَمُوتُ كَافِرًا، وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا وَيَحْيَا مُؤْمِنًا وَيَمُوتُ كَافِرًا، وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِرًا وَيَحْيَا كَافِرًا وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا، أَلَا وَإِنَّ مِنْهُمُ الْبَطِيءَ الْغَضَبِ سَرِيعَ الْفَيْءِ، وَمِنْهُمْ سَرِيعُ الْغَضَبِ سَرِيعُ الْفَيْءِ فَتِلْكَ بِتِلْكَ، أَلَا وَإِنَّ مِنْهُمْ سَرِيعَ الْغَضَبِ بَطِيءَ الْفَيْءِ، أَلَا وَخَيْرُهُمْ بَطِيءُ الْغَضَبِ سَرِيعُ الْفَيْءِ، أَلَا وَشَرُّهُمْ سَرِيعُ الْغَضَبِ بَطِيءُ الْفَيْءِ، أَلَا وَإِنَّ مِنْهُمْ حَسَنَ الْقَضَاءِ حَسَنَ الطَّلَبِ، وَمِنْهُمْ سَيِّئُ الْقَضَاءِ حَسَنُ الطَّلَبِ، وَمِنْهُمْ حَسَنُ الْقَضَاءِ سَيِّئُ الطَّلَبِ فَتِلْكَ بِتِلْكَ، أَلَا وَإِنَّ مِنْهُمُ السَّيِّئَ الْقَضَاءِ السَّيِّئَ الطَّلَبِ، أَلَا وَخَيْرُهُمُ الْحَسَنُ الْقَضَاءِ الْحَسَنُ الطَّلَبِ، أَلَا وَشَرُّهُمْ سَيِّئُ الْقَضَاءِ سَيِّئُ الطَّلَبِ، أَلَا وَإِنَّ الْغَضَبَ جَمْرَةٌ فِي قَلْبِ ابْنِ آدَمَ، أَمَا رَأَيْتُمْ إِلَى حُمْرَةِ عَيْنَيْهِ وَانْتِفَاخِ أَوْدَاجِهِ فَمَنْ أَحَسَّ بِشَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ فَلْيَلْصَقْ بِالْأَرْضِ "قَالَ: قَالَ: وَجَعَلْنَا نَلْتَفِتُ إِلَى الشَّمْسِ هَلْ بَقِيَ مِنْهَا شَيْءٌ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَلَا إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا فِيمَا مَضَى مِنْهَا إِلَّا كَمَا بَقِيَ مِنْ يَوْمِكُمْ هَذَا فِيمَا مَضَى مِنْهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ حُذَيْفَةَ، وَأَبِي مَرْيَمَ،

وَأَبِي زَيْدِ بْنِ أَخْطَبَ، وَالْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، وَذَكَرُوا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَهُمْ بِمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى أَنْ تَقُومَ السَّاعَةُ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يوه ورځ مونږ ته دورځي د مازيگر مونځ راكړو اود خطبي وركولو دپاره ودريدو او د قيامت دورځي پوري چي څومره حالات راتلونكي وو په هغوئ كي يي يو هم بغير بيانول پري نخودو مگر بيان يي كړو، پس چا چي ددي يادول غوښتل هغه ياد كړو او چاچي يادول نه غوښتل هغه هير كړو دهغوئ په خطبه كي يوه خبره دا هم شامل وه. بي شكه دنيا خوږه او تازه ده او الله تعالي به تاسو ته په دي كي واك دركړي چي تاسو څنگه كارونه كوئ نو تاسو ددنيا اودښځو نه ځانونه اوساتئ، او دهغوئ په خطبه كي يوه خبره دا هم شامل وه. خبردار حق لره ويرېدلو نه پس د چا د ويري په وجه بيانول پريخودل ندي پكار، دي وخت كي ابو سعيد خدي رضي الله عنه په ژړا شو او ويي فرمائيل په الله قسم مونږ ته ډير اشياء معلوم شوي دي خو د بيانولو نه يي ويريدلي يو، دهغوئ په خطبه كي يوه خبره دا هم شامل وه:د قيامت په ورځ د هر وعده ماتونكي دپاره به د مات كړي عهد مطابق يوه جنډه وي اود امام سره د مات كړي عهد نه بله لويه بد عهدي نشته، دداسي كس جنډه به دده دكوناټو سره نصب كولى شي ددغه ورځي كوم حالات چي مونږ ته ياد دي په هغي كي يوه دا هم ده خبردار په انسانانو كي مختلفي درجي دي بعضي كسان پيدائشي مومنان وي اود مومن په صفت زندگي تيروي اود ايمان په حالت كي ددنيا نه رخصتيږي، او بعضي كسان پيدائشي كافران وي اود كافر په صفت زندگي تيروي اود كفر په حالت كي ددنيا نه رخصتيږي ،او بعضي كسان پيدائشي مومنان وي اود مومن په صفت زندگي تيروي اود كفر په حالت كي ددنيا نه رخصت شي ، او بعضي كسان پيدائشي كافران وي ، اود كافر په صفت زندگي تيروي اود ايمان په حالت كي ددنيا نه رخصت شي ،بعضي كسانو ته غصه زر نه ورځي ، او غصه يي ډير زر ختميږي، او بعضي كسانو ته غصه ډير زر ورځي او ختميږي ډير وروسته ايا دوئ دواړه برابر دي ، واورئ بعضي كسان داسي دي چي غصه ورته ډير زر ورځي او ختميږي ډير وخت پس، واورئ په دوئ په ټولو كي بهتر هغه كسان دي چاته غصه زر نه ورځي او بيا غصه ډير زر ختميږي، او په ټولو كي ډير بد هغه دى خوك چي زر غصه كيږي او غصه يي ډير وخت پس ختميږي ، واورئ بعضي كسان په ځانسته طريقي قرض ادا كوي او په ځانسته طريقه يي وصول كوي ، او بعضي كسان بد سلوكئ سره قرض ادا كوي او په بدسلوك يي وصول كوي، واورئ په دوئ په ټولو كي بهتر هغه كسان دي

١ سنن ابن ماجه/الفتن ١٩ (٤٠٠٠) (تحفة الأشراف: ٤٣٦٦)

ځوك چي په بهتره طريقه قرض ادا كوي اوپه ښائسته طريقه يې وصول كوي، او په ټولو كې بد ترين هغه كسان دي چي بد سلوكئ سره قرض ادا كوي او په بدسلوك يې وصول كوي.واورئ غصه د انسان په زړه كې يو سكروټه ده ايا تاسو غصه شوي سړي ستركو اود هغه دمرئ د رګونو پړسوب ته نه ګورئ ، لهذا تاسو كې چي ځوك غصه محسوس كړي هغه دي زمكه پوري پيوست شي ، ابو سعيد خدري وايي چي مونږ نمر طرف ته ورتاو شو چي كتل مو ورته چي ايا اوس به د نمر په پريوتو كې څه وخت باقي وي او كنه ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل خبردار! ددنيا د تيري شوي حصي په نسبت چي اوس كومه حصه باقي ده دا دومره ده څومره حصه چي اوس ستاسو د ننه نئ ورځي د تيري شوي ورځ په نسبت باقي ده.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دى، او په دي باب كې د حذيفه، ابو مريم، ابو زيد بن اخطب او مغيره بن شعبه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي،دوئ وايي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم مونږ ته قيامت پوري راتلونكي څيزونه او حالات بيان كړل.

لغاتحلوة: حلا دنصر نه او حلو دكرم نه او حلي دسمع نه حلاوة وحلوانا په معني دخوږ كيدو دي.

فتنة په معني د ازمائش او جمع يې فتن راځي.

تشريح : "ان الدنيا حلوة حضرة" يعني دنيا شنه او خوږه ده ، لكه څنګه چي تازه ميوه په خوند كې او كتلو كې ښكلي ښكاري نو همدا حال ددنيا او ددي داسبابو دي، انسان ته دا هم ډير ښكلي ښكاري ، لكه څنګه چي يو څو ګنټي پس تر اوتازه ميوه خرابيږي نو داسي ددنيا حال هم دي

"فاتقوا الدنيا. يعني ددنيا نه ځان وساتئ" ځكه چي دنيا دپرهيزګارئ اولني دشمن دي، دتقوي او پرهيزګارئ نه لري كونكي څيز ددنيا سره محبت كول دي، دمال او دولت په جمع كولو سره الله دخلقو نه هيريږي ، په بل روايت كې دنيا خطرناكه فتنه ګرځولي شوي ده، ارشاد نبوي دي. لكل امة فتنة وفتنة امتي المال.

په يو بل روايت كې راغلي دي فوالله لا اخشي عليكم الفقر ولكن اخشي عليكم ان تبسط عليكم الدنيا كما بسطت علي من كان قبلكم فتنافسوا فيها كما تنافسوا فتهلككم كما اهلكتهم.

"واتقوا النساء" يعني دښځو نه په ډډه اوسئ، ځكه چي دښځو سره محبت هم دپرهيزګارئ دپاره دهلاكت سبب ګرځي، دتاريخ په سوونو واقعات په دي ګواه دي ، دا يو ناقابل انكار حقيقت دي چي دټولو نه لويه فتنه دښځو سره ړوند محبت كول دي.

ددي حديث شان نزول څه دی؟ ددي په باره کښ دمحدثينو ګڼړ اقوال دي مګر اکثرو واقعه دبلعام بن باعوره ليکلي ده چي دا يو نيك سړي وو مګر دخپلي ښځي سره دمحبت په وجه مردود ګرځيدلي وو

د "غادر" نه مراد عهد لره دکولو نه پس ماتول دي دحديث خلاصه داده چي دقيامت په ورځ به دوکه باز ته يو جهنډه ورکړی شي ددي دپاره چي مزيد نور هم رسوا شي او دده دمعاملي نقصانات هر چاته ښکاره شي او خلق يي په مجمع عام کړي په دوکه باز اوپيژني

"اعظم غدرا من امير عامة" يعني په ټولو کښ زيات عهد ماتونکی خو امير دی، اميرعامة نه مراد دوخت خليفه او حاکم دی دده دعهد ماتولو نه مراد دده خلاف بغاوت او خروج کول دي، دا ضروري خبره ده که چري په ده کښ غلطي اوليدی شي نو داصلاح کوشش يي پکار دی او دبغاوت کولو اجازت هچاته نشته ځکه چي بيا بدامني او فساد پيدا کيږي، بعضي علماء وائي په عربو کښ دا رواج وو چي د بدعهدي کونکي دپاره به يي په بازار کښ جهنډه ودروله ددي دپاره چي په خلقو کښ يي بدنام او ذليل کړي نو ددي رواج مطابق به دبدعهدي کونکي دپاره په اخرت کښ خاص قسم سزا وي ددي دپاره چي خلق ورنه په دنيا کښ منع کړی شي

****

۲۷_باب مَا جَاءَ فِي الشَّامِ

دشام علاقي بيان

۲۱۹۲_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا فَسَدَ أَهْلُ الشَّامِ فَلَا خَيْرَ فِيكُمْ، لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي مَنْصُورِينَ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ". قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، هُمْ أَصْحَابُ الْحَدِيثِ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَوَالَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دقره بن اياس المزني بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي په شام والاکي خرابي پيدا شي نو په تاسو کي به هيچا کي نيکي پاتي نشي او زما دامت يوي ډلي ته به هميشه مدد حاصليږي او ددوئ مدد نه کونکي به دوئ ته دقيامت دورځي پوري هيڅ نقصان نشي رسولي

---

[1] سنن ابن ماجه/المقدمة ۱(۶) (تحفة الأشراف: ۱۱۰۸۱)، و مسند احمد (۳/۳۶، ۵/۳۵)

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعبدالله بن حواله، ابن عمر، زيد بن ثابت، او عبدالله بن عمرو رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دامام بخاري قول دي علي بن مديني وائي ددينه مراد محدثين دي.

****

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيْنَ تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: "هَا هُنَا" وَنَحَا بِيَدِهِ نَحْوَ الشَّامِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه بهز بن حكيم دخپل پلار او دخپل نيكه نه روايت نقل كوي فرمائيل يي چي ما عرض اوكړو اي دالله رسوله كوم ځاي ته د تلو باره كي راته حكم كوئ؟ راوي وائي چي داسي يي اوفرمائيل "ههنا" يعني دلته او پخپلو لاسونو يي شام طرف ته اشاره اوكړه.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٨ـ بَاب مَا جَاءَ لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ

ددي ارشاد نبوي بيان: زما دتلو نه پس دكفر كولو په حال كي يو دبل څټونه مه وهئ

٢١٩٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا فُضَيْلُ بْنُ غَزْوَانَ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا، يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَجَرِيرٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَكُرْزِ بْنِ عَلْقَمَةَ، وَوَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، وَالصُّنَابِحِيِّ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو زما نه پس دكافر كيدو په حال كي يو دبل څټونه مه وهئ

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعبدالله بن مسعود، جرير، ابن عمر، كرز بن علقمه، واثله او صنابحي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٣٩٠)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع /الحج ١٣٢ (١٧٣٩)، والفتن ٨ (٧٠٧٩) (تحفة الأشراف: ٦١٨٥)، واحمد (١/٢٣٠، ٤٠٢).

تشريح: علماؤ ددي روايت دا مطلب بيان كړی دی مثلا دمسلمان چي كوم حق دی دهغي د ادا كولو په خاي تاسو هغه لره قتل كړئ دا سراسر ظلم او ناشكري ده ددي ناشكرئ نه په شكر سره تعبير شوی دی خلاصه داده چي كافر كيدل دلته حقيقتا مراد نه دي بلكه لغوي كفر مراد دی يعني ناشكري ددي دويم مطلب دادی چي يو دبل قتل كولو لره حلال اوګنړئ او ددي په سبب كافرشئ ددي مطلب دادیچي قتل انسان لره كفر او بدي خاتمي ته رسوي څلورم مطلب دادی چي قتل كول دمسلمانانو عمل نه دی كافرانو عمل دی تاسو به زما نه پس دكافرانو عمل نه شروع كوی

****

٢٩_بَاب مَا جَاءَ تَكُونُ فِتْنَةٌ الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ

دهغه فتني بيان په كومه كي چي به ناست كس دولاړ نه بهتر وي

٢١٩٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عَيَّاشِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الأَشَجِّ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ عِنْدَ فِتْنَةِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ: أَشْهَدُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْقَائِمُ خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي، وَالْمَاشِي خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي". قَالَ: أَفَرَأَيْتَ إِنْ دَخَلَ عَلَيَّ بَيْتِي وَبَسَطَ يَدَهُ إِلَيَّ لِيَقْتُلَنِي. قَالَ: "كُنْ كَابْنِ آدَمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَخَبَّابِ بْنِ الأَرَتِّ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي وَاقِدٍ، وَأَبِي مُوسَى، وَخَرَشَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، وَزَادَ فِي هَذَا الإِسْنَادِ رَجُلاً. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه. دبسر بن سعيد رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دعثمان بن عفان رضي الله عنه دخلافت په زمانه كي دپيداشوي فتني په وخت كي اوونيل زه ګواهي وركوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ډيره نزدي ده چي يوه داسي فتنه به پيدا شي په كومه كي چي به ناست كس دولاړ نه بهتر وي او ولاړ به دروان نه بهتر وي او روان به دمنډي وهونكي نه بهتر وي ما عرض اوكړو دا راته اووايئ كه څوك زما كور ته راننه وځي او زما دقتل كولو دپاره ماته لاس راوږدوي نو زه به څه كوم؟ رسول الله اوفرمائيل دادم دخوي (هابيل) پشان شه

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٨٢٦)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي بعضي راويانو ددي حديث دليث بن سعد نه دنقل کولوپه حال کي ددي په سند کي د رجلا (يونامعلوم راوي) اضافه کړي ده، دسعد بن ابي وقاص په واسطه هم دا حديث په بل سند دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي او په دي باب کي دابوهريره، خباب بن ارت، ابوبکره، ابن مسعود، ابوواقد ليثي، ابوموسي اشعري او خرشه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٠_باب مَا جَاءَ سَتَكُونُ فِتَنٌ كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ

ډير زرده چي داسي فتني به راشي کومي چي به دسختي تياري پشان وي

٢١٩٥_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيعُ أَحَدُهُمْ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي نيکو او ښه کارونو کي جلتي کوئ څکه چي ډير زر به داسي فتنی راشي لکه دتوري شپی حصی چي سحر به انسان مسلمان پاڅي او ماښام به کافر وي او ماښام به مسلمان وي نو سحر به کافر پاڅي خپل دين به ددنيا دسامان په عوض کي خرڅوي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

لغات: بادروا: بادر يبادر مبادرة دباب مفاعلي نه د کوم څيز طرف ته جلتي کول.

قطع: قطع، قطعا په معني دپريکولو او جدا کولو دي.

بعرض: العرض په معني داسباب او سامان دي او جمع يي عروض راځي.

تشريح: ((بَادِرُوا بِالأَعْمَالِ)) دي ته ترغيب دي چي تاسو دمشغوليت او او معذوريت راتلو نه مخکي نيك اعمال وکړئ

((فتناً كقطعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ)) ډيره نزدي ده چي دتياري شپي پشان فتني به ښکاره شي، دلته دقيامت قريب ترين علامات بيان شوي دي چي قيامت ته نزدي به مسلسل دفتنو ظهور کيږي او فتني به داسي سختي وي چي دسړي نه به خپل دين او ايمان هم هير شي او بيا به ددنيا

---

[1] - صحيح مسلم/الإيمان ٥١ (١١٨) (تحفة الأشراف: ١٤٠٤٥)

حاصلولو دپاره داسي منډي وهي چي ددنيوي مفاداتو په حصول کې به ددين او ايمان په خرڅولو هم صرفه ونکړي په داسي حالاتو کې رسول الله صلي الله عليه وسلم ايمان والاته تلقين فرمائيلي دي چي په داسي موقع کې داعمال صالحه په اداکولو کې تاخير مه کوئ، بلکه په ډيري جلتئ سره يې کوئ.(تحفة الاحوذي)

****

٢١٩٦_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ هِنْدٍ بِنْتِ الْحَارِثِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَيْقَظَ لَيْلَةً، فَقَالَ: " سُبْحَانَ اللَّهِ، مَاذَا أُنْزِلَ اللَّيْلَةَ مِنَ الْفِتْنَةِ؟ مَاذَا أُنْزِلَ مِنَ الْخَزَائِنِ؟ مَنْ يُوقِظُ صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ؟ يَا رُبَّ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٌ فِي الْآخِرَةِ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم يوه شپه رابيدار شو او فرمائيل يي سبحان الله همدا نن شپه څومره فتني او څومره خزاني نازل شوي او ايا حجرو والا (امهات المؤمنين) دپاره څوك راويخونكي شته؟ واورئ په دنيا كي ډيري جامي اغوستونكي ښځي به په اخرت كي بربنډي وي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٢١٩٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " تَكُونُ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ، فِتَنٌ كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يُصْبِحُ الرَّجُلُ فِيهَا مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيعُ أَقْوَامٌ دِينَهُمْ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَجُنْدَبٍ، وَالنُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، وَأَبِي مُوسَى، وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([2])

ترجمه د انس رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل د قيامت نه مخكي به ډير زر داسي فتنى راشي لكه دتوري شپى حصى چي سحر به انسان

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح/العلم ٤٠ (١١٥)، والتهجد ٥ (١١٢٦)، والمناقب ٢٥ (٣٥٩٩)، واللباس ٣١ (٥٨٤٤)، والأدب ١٢١ (٦٢١٨)، والفتن ٦ (٧٠٦٩) (تحفة الأشراف: ١٨٢٩٠)، ومسند احمد (٦/٢٩٨)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٥٠)

مسلمان پاخي او مابنام به كافر وي او مابنام به مسلمان وي نو سحر به كافر پاخي . داسي خلق به راشي چي خپل دين به ددنيا دسامان په عوض كي خرڅوي

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند غريب دي او په دي باب كي دابوهريره، جندب، نعمان بن بشير، او ابو موسي اشعري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٢١٩٨_حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنِ الْحَسَنِ، قَالَ: كَانَ يَقُولُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: " يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، قَالَ: يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُحَرِّمًا لِدَمِ أَخِيهِ وَعِرْضِهِ وَمَالِهِ وَيُمْسِي مُسْتَحِلًّا لَهُ، وَيُمْسِي مُحَرِّمًا لِدَمِ أَخِيهِ وَعِرْضِهِ وَمَالِهِ وَيُصْبِحُ مُسْتَحِلًّا لَهُ ".(1)

ترجمه . هشام وايي چي حسن به په دي حديث كي داسي فرمائيل: د قيامت نه مخكي به ډير زر داسي وخت راشي چي سحر به انسان مسلمان پاخي او مابنام به كافر وي او مابنام به مسلمان وي نو سحر به كافر پاخي ، او بيا يي اوفرمائيل:سحر به يو سړي ته د خپل ورور وينه حرامه ښكاري او مابنام به د خپل ورور وينه او عزت او مال حلال وګڼي

****

٢١٩٩_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجُلٌ سَأَلَهُ، فَقَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ عَلَيْنَا أُمَرَاءُ يَمْنَعُونَا حَقَّنَا وَيَسْأَلُونَا حَقَّهُمْ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا، فَإِنَّمَا عَلَيْهِمْ مَا حُمِّلُوا، وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(2)

ترجمه : دوائل بن حجر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي چي په دغه وخت كي ورنه علي رضي الله عنه سوال كولو او وئيل يي دا راته اووائي كه چري په مونږ باندي داسي حكمران راشي څوك چي مونږ ته زمونږ حق نه راكوي او دخپل حق مطالبه ورنه كوو (زمونږ دپاره څه كول پكاردي) رسول الله صلي الله عليه وسلم

---

1 ـ صحيح مسلم/الإمارة ١٣ (١٨٣٦) (تحفة الأشراف : ١١٤٤٢)

2 ـ تفرد به المؤلف رحمه الله

اوفرمائيل ددوئ حكم منئ او اطاعت به يي كوئ څكه چي دوئ دخپلي ذمه وارئ پخپله جواب وركونكي دي او تاسو دخپلي ذمه وارئ پخپله جواب وركونكي يئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: يو طرف ته په حكومت ذمه دارياني دي او بل طرف ته په رعيت هم ذمه وارياني دي دحكومت نظام به هله درست چليږي كله چي دواړه خپلي ذمه دارئ پوره كوي همدا وجه ده چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په حكيمانه انداز سره دواړو دپاره احكامات جاري كړي دي.

تاريخ شاهد دی چي كله دواړو طرفونو دارشادات نبوي خيال اوساتلو نو قومونه به خوشحاله وي اوكومو قومونو چي دا اوصول پريخودل هغوئ به په بدامنئ او شر او فساد كي مبتلا شي.

****

٣١_باب مَا جَاءَ فِي الْهَرْجِ وَالْعِبَادَةِ فِيهِ

دقتل او خنريزئ شروع كيدلو وخت كي عبادت كولو بيان

٢٢٠٠_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ وَرَائِكُمْ أَيَّامًا يُرْفَعُ فِيهَا الْعِلْمُ، وَيَكْثُرُ فِيهَا الْهَرْجُ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا الْهَرْجُ؟ قَالَ: "الْقَتْلُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَخَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ، وَمَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ستاسو نه پس يوه داسي ورځ راتلونكي ده په كومه كي چي به علم پورته كولي شي او هرج به زيات شي صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله هرج څه څيز دي؟ نو ويي فرمائيل ويني تويول (قتل قتال كول).

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي او په دي باب كي دابوهريره، خالد بن وليد، او معقل بن يسار رضي الله عنهم نه هم حاديث وارد دي.

****

٢٢٠١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ الْمُعَلَّى بْنِ زِيَادٍ، رَدَّهُ إِلَى مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، رَدَّهُ

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الفتن ٥ (٢٠٦٢،٢٠٦٣)، صحيح مسلم /العلم ٥ (٢٦٧٢)، سنن ابن ماجه/الفتن ٢٦ (٢٠٥١) (تحفة الأشراف: ٩٠٠٠)

إِلَى مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ، رَدَّهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الْعِبَادَةُ فِي الْهَرْجِ كَالْهِجْرَةِ إِلَيَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الْمُعَلَّى. [1]

ترجمه: معقل بن يسار رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دګړ بړ په وخت کې عبادت کول داسې دي لکه ما طرف ته هجرت کول (يعني دهجرت هومره ثواب يې دى).

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح غريب دي او مونږ يې صرف دحماد بن زيد په سند پيژنو کوم چي هغه دمعلي نه نقل کړي دي.

لغات: هجر يهجر هجرا وهجرانا تعلق قطع کول او ترک کول او اعراض کول، ديو کلي نه بل کلي ته هجرت کول.

تشريح: دحديث مطلب دادى کله چي دهر طرف نه بدي او ګناهونه راخواره شي او خاي په خاي فتني شروع شي نو په داسي وخت کې دانسان دپاره دخلقو دمعمول خلاف په عبادت کلکيدل مشکل شي لکه څنګه چي داسلام په ابتداء کې په مکه کې وو نو په داسي وخت کې دګناهونو خاي پريخودلو او بل خاي ته تللو ته ترغيب ورکړی شوی دی علماء وائي چي دفتني او فساد په وخت کې ددينه دبچ کيدو لاره به دا وي چي دسنت مطابق زندګي اختيار کړی شي لکه څرنګه چي درسول الله په زمانه کې عبادت کول مشکل وو مګر کومو صحابه کرامو چي مديني ته هجرت اوکړو هغوی ته عبادت کول اسان شو.

د معقل بن يسار رضي الله عنه مناقب

نوم معقل کنيه ابو عبدالله دپلار نوم يسار بن عبدالله بن صغير بن حراق، دصلح حديبيه نه مخکې مسلمان شوی وو او بيايي په صلح حديبيه کې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ملګرتيا هم وکړه کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دصحابه کرامو نه په مرګ بيعت اخستلو نو يوه لخته يي راواخستله او په رسول الله يي سوری اوکړو رسول الله ده لره دمزينه قبيلي قاضي مقررول اوغوښتل ليک ده دوه پيري انکار اوکړو بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله دقاضي سره وي.خو چي ظلم نه کوي بيا ددينه پس قاضي مقرر شو عمر فاروق رضي الله عنه به دده ډير عزت کولو او په اهمو کارونو کې به يې ورسره مشوره هم کوله کله چي عمر رضي الله عنه ابو موسي اشعري ته په بصره کې ديو نهر کنستلو حکم اوکړو نو

[1] _ صحيح مسلم/الفتن ٢٦ (٢٩٣٨)، سنن ابن ماجه/الفتن ١٣ (٣٩٨٥) (تحفة الأشراف: ١١٤٧٦)، و مسند احمد

بيايي اوفرمائيل چي دکنستلو نه پس دمعقل په لاسونو په دي کې اوبه جاري کړئ او بيا څه موده پس دامير معاويه په زمانه کې زياد دا نهر درست کړو او دمعقل په لاسونو يې په دي کې اوبه جاري کړي غرض دا چي دامير معايه په زمانه کې وفات شو او عمر يي دشپيتو او اويا کالو په مينځ کې وو (اصابه)

دده دمروياتو شمير ۱۳۴دی چي يو پکې متفق عليه دی او په يو کې بخاري او مسلم متفرد دي.

****

۳۲_باب

دفتني متعلق يوبل باب

۲۲۰۲_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا وُضِعَ السَّيْفُ فِي أُمَّتِي لَمْ يُرْفَعْ عَنْهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دثوبان رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي زما په امت کي توري چليدل شروع شو نو دا به دقيامت راتلو پوري نه بنديږي.

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي.

****

۳۳_بَاب مَا جَاءَ فِي اتِّخَاذِ سَيْفٍ مِنْ خَشَبٍ فِي الْفِتْنَةِ

دفتني په زمانه کي دلرګي دتوري جوړولو بيان

۲۲۰۳_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عُدَيْسَةَ بِنْتِ أُهْبَانَ بْنِ صَيْفِيٍّ الْغِفَارِيِّ، قَالَتْ: جَاءَ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ إِلَى أَبِي، فَدَعَاهُ إِلَى الْخُرُوجِ مَعَهُ، فَقَالَ لَهُ أَبِي: إِنَّ خَلِيلِي وَابْنَ عَمِّكَ "عَهِدَ إِلَيَّ إِذَا اخْتَلَفَ النَّاسُ أَنْ أَتَّخِذَ سَيْفًا مِنْ خَشَبٍ". فَقَدِ اتَّخَذْتُهُ فَإِنْ شِئْتَ خَرَجْتُ بِهِ مَعَكَ، قَالَتْ: فَتَرَكَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مَسْلَمَةَ. وَهَذَا

---

[1] _ سنن ابي داود/ الفتن ا (۴۲۵۲) ، سنن ابن ماجه/الفتن ۹ (۳۹۵۲) والفتن (۲۱۰۸) ، و مسند احمد (۵/۲۷۸، ۲۸۴) (۱۶۳۴:)

حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدٍ. ([1])

ترجمه : د عديسه بنت اهبان بن صيفي الغفاري بيان دي فرمائي چي زما پلار ته علي رضي الله عنه راغلو او هغه يي دخان سره جنگ ته بوتللو زما پلار ورته اوونيل زما دوست او ستا دتره خوي (رسول الله صلي الله عليه وسلم) ماته وصيت کړي دي چي کله په خلقو کي اختلاف پيدا شي نو د لرگي نه توره جوړه کړه لهذا ما دلرگي نه توره جوړه کړي ده که ستا خوښه وي دا به راواخلم او ستا سره به روان شم عديسه وائي چنانچي علي رضي الله عنه زما پلار پريخودو (او دخان سره يي بونه تلو)

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف عبيدالله بن عبدالله په سند پيژنو، او په دي باب کي دمحمد بن مسلمه رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٢٢٠٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جُحَادَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَرْوَانَ، عَنْ هُزَيْلِ بْنِ شُرَحْبِيلَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "فِي الْفِتْنَةِ كَسِّرُوا فِيهَا قِسِيَّكُمْ، وَقَطِّعُوا فِيهَا أَوْتَارَكُمْ، وَالْزَمُوا فِيهَا أَجْوَافَ بُيُوتِكُمْ، وَكُونُوا كَابْنِ آدَمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَرْوَانَ هُوَ أَبُو قَيْسٍ الْأَوْدِيُّ. ([2])

ترجمه : دابوموسي اشعري رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم يو خل دفتني باره کي اوفرمائيل چي دغه وخت کي تاسو خپلي ليندي ماتي کړئ او دليندو تسمي پري کړئ او پخپلو کورونو کي پټ کينئ او د ادم دخوي (هابيل) پشان جوړشئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي. او عبد الرحمن بن ثروان په ابو قيس اودي مشهور دی.

****

٣٤ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي أَشْرَاطِ السَّاعَةِ

دقيامت دعلاماتو بيان

---

[1] سنن ابن ماجه/الفتن ١٠ (٣٩٦٠) (تحفة الأشراف : ١٥٨٣٢)

[2] سنن ابي داود/ الفتن ٢ (٤٢٥٩) . سنن ابن ماجه/الفتن ١٠ (٣٩٦١) (تحفة الأشراف : ٩٠٣٢)

٢٢٠٥ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ قَالَ: أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُحَدِّثُكُمْ أَحَدٌ بَعْدِي أَنَّهُ سَمِعَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ: أَنْ يُرْفَعَ العِلْمُ، وَيَظْهَرَ الجَهْلُ، وَيَفْشُوَ الزِّنَا، وَتُشْرَبَ الْخَمْرُ، وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ، وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً قَيِّمٌ وَاحِدٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي مُوسَى، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمايي چي زه به تاسو ته يو داسي حديث بيان كړم كوم چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي دقيامت په علاماتو كي يوه علامه داده چي علم به پورته كړي شي، او جهالت به خور شي او زنا به عامه شي او شراب څكل او دښځو كثرت او دسړو قلت به پيدا شي تردي پوري چي دپنځوس ښځو دپاره به يو سړي نګران پاتي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابوموسي اشعري او ابوهريره رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

****

٣٥ـ باب مِنْهُ

دفتنو خوريدو متعلق يو بل باب

٢٢٠٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ الزُّبَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ، قَالَ: دَخَلْنَا عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: فَشَكَوْنَا إِلَيْهِ مَا نَلْقَى مِنَ الحَجَّاجِ، فَقَالَ: " مَا مِنْ عَامٍ إِلَّا الَّذِي بَعْدَهُ شَرٌّ مِنْهُ حَتَّى تَلْقَوْا رَبَّكُمْ ". سَمِعْتُ هَذَا مِنْ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دزبير بن عدي بيان دي فرمائي چي مونږ دانس بن مالك كور ته ورغلو او دحجاج دظلمونو شكايت مو ورته اوكړو انس بن مالك اوونيل راتلونكي هر كال به دتير شوي كال نه

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٢١ (٨٠، ٨١) ، والنكاح ١١٠ (٥٢٣١) ، والأشربه ١ (٥٥٧٧) ، صحيح مسلم/العلم ٥ (٢٦٧١) ، سنن ابن ماجه/الفتن ٢٥ (٤٠٤٥) (تحفة الأشراف : ١٢٤٠)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٧٥٢)

بدتروي تردي پوري چي تاسو خپل رب ته ورشئ او دا ما ستاسو دپيغمبر (صلي الله عليه وسلم) نه اوريدلي دي
امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي
تخريج. اورده البخاري في الجامع الصحيح /الفتن ٦ (٤٠٦٨) (تحفة الأشراف : ٨٣٦)

****

٢٢٠٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُقَالَ فِي الأَرْضِ: اللَّهُ اللَّهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قيامت هغه وخته پوري نه قائميږي چي څو پوري په زمکه کي الله الله ونيلي کيږي.
امام ترمذي وايي. داحديث حسن دي.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الحَارِثِ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنَ الحَدِيثِ الأَوَّلِ. (2)

ترجمه : حميد هم دانس رضي الله عنه نه په دي سند دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي مګر مرفوع يې نه دي بيان كړي او دا داولني حديث نه زيات صحيح دي.

****

٣٦_باب مِنْهُ

دفتنو متعلق يو بل باب

٢٢٠٨_حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَقِيءُ الأَرْضُ أَفْلَاذَ كَبِدِهَا أَمْثَالَ الأُسْطُوَانِ مِنَ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، قَالَ: فَيَجِيءُ السَّارِقُ، فَيَقُولُ: فِي مِثْلِ هَذَا قُطِعَتْ يَدِي، وَيَجِيءُ

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٥٣)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٣٠)

الْقَاتِلُ، فَيَقُولُ: فِي هَذَا قَتَلْتُ، وَيَجِيءُ الْقَاطِعُ، فَيَقُولُ: فِي هَذَا قَطَعْتُ رَحِمِي، ثُمَّ يَدَعُونَهُ فَلَا يَأْخُذُونَ مِنْهُ شَيْئًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي قيامت ته نژدې به زمکه خپلي دجګر ټوکړي يعني دخړيړي پشان سره او سپين زر رازرغون کړي او دغه وخت کي به غل راشي او وائي به همدي څيزونو دپاره زما لاس پري کړي شوي وو او قاتل به راشي وائي به همدي دپاره ما قتل کړي وو او رشته ماتونکي به راشي او وائي به همدي دپاره ما رشته داري ختمه کړي وه او بيا به دا خلق دا څيزونه پريږدي او هيڅ به ورنه وانخلي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او دا مونږ ته صرف په همدي سند رارسيدلي دي.

تشريح: قوله: "تَقِيءُ الْأَرْضُ أَفْلَاذَ كَبِدِهَا". قيامت ته نژدې به زمکه خپلي دجګر ټوکړي يعني دخړيړي پشان سره او سپين زر رازرغون کړي ، ددي تائيد د سورة الزلزال په لاندني ايت سره هم کيږي:

وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ۝ او را اوباسي زمکه بوجونه خپل! زمکي ته دويستلو نسبت مجازي دي يعني زمکه به خپل بوج لره بهر راوغورځوي، ابن ابي حاتم دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل کړي دي چه زمکه به پدغه ورځ مړو لره دقبرونو نه بهر راوغورځوي ګويا کي دابن عباس په نزد دااثقال نه مراد مړي دي ، فريابي هم دمجاهد دا قول نقل کړي دي ددي مطلب په بنا به دا واقعه د دويمي نفخي نه پس وي.

ابن ابي حاتم دعطيه قول نقل کړي دي چه زمکه به خپلي موجودي خزاني بهر راوغورځوي ددي قول په بنا به دااثقال نه مراد دزمکي موجودي خزاني وي . دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چه زمکه به دخپل زړه ټکړو لره دسرو او سپينو زرو دستنو شان راوغورځوي نو دزمکي په مخ به دسرو او سپينو زرو دډيري په ليدو سره به قاتل راشي او اوبه وائي چه هم ددي څيزونو په سلسله کي ما قتل کړي وو ، رشته داري قطع کونکي به راشي او اوبه وائي چه همددي دپاره ما رشته داري قطع کړي وه

[1] - صحيح مسلم/الزكاة ١٨ (١٠١٣) (تحفة الأشراف : ١٣٤٢٢)

او غل به راشي اوبه وائي چه همد دي په سلسله كي زما لاس پري كړي شوي وو او بيابه تول خلق دي لره پريږدي چه هيڅ به ورنه وانخلي (راه مسلم).

دصحيحينو په مرفوع حديث كي راغلي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ډيره نږدي ده چه دفرات نه به سره زر راوبهيږي كچري څوك پدغه زمانه كي هلته موجود وي نو ددينه دي هيڅ نااخلي ، دمسلم په روايت كي دي چه قيامت به دهغه وخته پوري قائم نشي تر څو پوري چه فرات دسرو زرو غر راويستلي نه وي او په همدي زرو به خلق پخپل مينځ كي يو بل لره قتل كوي تردي چه په سلو كي به نهه نوي قتل كړي شي او يو كس به پكي بچ شي او دا يو كس به وائي شايد خاص زه به هغه كس يم چه بچ كړي شوي يم . زه وايم شايد چه په شروع كي به جنګ كيږي او اخري نتيجه به يي دا وي چه هيڅوك به بچ پاتي نشي

****

٣٧_باب مِنْهُ

دفتنو متعلق يو بل باب

٢٢٠٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، قَالَ. ح وَحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَنْصَارِيُّ الْأَشْهَلِيُّ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكُونَ أَسْعَدَ النَّاسِ بِالدُّنْيَا لُكَعُ ابْنُ لُكَعٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو. [1]

ترجمه دحذيفه بن يمان رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قيامت به هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي دبي عقله او جاهلانو خلقو اولاد په دنيا كي دهر چانه زيات خوش نصيب اونه ګرځي

امام ترمذي وايي. داحديث حسن دي او دا مونږ صرف دعمرو بن ابي عمرو په سند پيژنو.

****

٣٨_باب مَا جَاءَ فِي عَلَامَةِ حُلُولِ الْمَسْخِ وَالْخَسْفِ

په زمكه كي ددوبيدلو او دشكل بدليدو (دقيامت دعلاماتو) بيان

---

[1] ـ تفرده به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٣٦٤)

٢٢١٠_حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللهِ التِّرْمِذِيُّ، حَدَّثَنَا الفَرَجُ بْنُ فَضَالَةَ أَبُو فَضَالَةَ الشَّامِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا فَعَلَتْ أُمَّتِي خَمْسَ عَشْرَةَ خَصْلَةً حَلَّ بِهَا البَلَاءُ". فَقِيلَ: وَمَا هُنَّ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: "إِذَا كَانَ المَغْنَمُ دُوَلًا، وَالأَمَانَةُ مَغْنَمًا، وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا، وَأَطَاعَ الرَّجُلُ زَوْجَتَهُ وَعَقَّ أُمَّهُ، وَبَرَّ صَدِيقَهُ وَجَفَا أَبَاهُ، وَارْتَفَعَتِ الأَصْوَاتُ فِي المَسَاجِدِ، وَكَانَ زَعِيمُ القَوْمِ أَرْذَلَهُمْ، وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ، وَشُرِبَتِ الخُمُورُ، وَلُبِسَ الحَرِيرُ، وَاتُّخِذَتِ القَيْنَاتُ وَالمَعَازِفُ، وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الأُمَّةِ أَوَّلَهَا، فَلْيَرْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ أَوْ خَسْفًا وَمَسْخًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا رَوَاهُ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ غَيْرَ الفَرَجِ بْنِ فَضَالَةَ، وَالفَرَجُ بْنُ فَضَالَةَ قَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ أَهْلِ الحَدِيثِ، وَضَعَّفَهُ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَقَدْ رَوَاهُ عَنْهُ وَكِيعٌ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ.[1]

ترجمه دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي زما امت كي پنخلس كارونه شروع شي نو دوئ باندي به مصيبت نازل شي عرض اوكړي شو اي دالله رسوله دا كوم كوم كارونه دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كله چي مال دغنيمت دولت اوګنړلي شي او امانت غنيمت اوګنړلي شي او دزرو زكواة تاوان اوګنړلي شي او خلق دخپلي ښځي فرمانبرداري شروع كړي، او پخپل دوست به احسان كول شروع شي او په پلار به ظلم كوي او په مساجدو كي به اوازونه تيز شي او رزيل خلق به دقوم مشران جوړ شي او دشر په وجه دانسان عزت كيږي، شراب څكل به شروع شي، او د ريښمو اغوستل به شروع شي، په كورونو كي به سندرو والا جينكئ او باجي ساتل شروع شي، او په دي امت كي اخري راتلونكي خلق به په مخكنو تير شوو خلقو لعنت وئيل شروع كړي نو داسي وخت كي تاسو دګرم باد يا په زمكه كي ددوبيدو او دشكل دبدليدو انتظار اوكړئ
امام ترمذي وايي داحديث غريب دي مونږ دا صرف دعلي بن ابي طالب په سند پيژنو او مونږ ته دفرج بن فضاله نه علاوه بل څوك نه دي معلوم چي دا يي ديحي بن سعيد انصاري نه نقل كړي وي او په فرج بن فضاله باندي بعضي محدثينو دحافظي متعلق كلام كړي دي مګر دده نه وكيع او بعضي نورو راويانو نقل دروايت كړي دي.

****

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٤٣)

۲۲۱۱_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الوَاسِطِيُّ، عَنْ الْمُسْتَلِمِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ رُمَيْحٍ الجُذَامِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا اتُّخِذَ الفَيْءُ دُوَلًا، وَالأَمَانَةُ مَغْنَمًا، وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا، وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّينِ، وَأَطَاعَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ وَعَقَّ أُمَّهُ، وَأَدْنَى صَدِيقَهُ وَأَقْصَى أَبَاهُ، وَظَهَرَتِ الأَصْوَاتُ فِي المَسَاجِدِ، وَسَادَ القَبِيلَةَ فَاسِقُهُمْ، وَكَانَ زَعِيمُ القَوْمِ أَرْذَلَهُمْ، وَأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ شَرِّهِ، وَظَهَرَتِ القَيْنَاتُ وَالمَعَازِفُ، وَشُرِبَتِ الخُمُورُ، وَلَعَنَ آخِرُ هَذِهِ الأُمَّةِ أَوَّلَهَا، فَلْيَرْتَقِبُوا عِنْدَ ذَلِكَ رِيحًا حَمْرَاءَ وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَمَسْخًا وَقَذْفًا، وَآيَاتٍ تَتَابَعُ كَنِظَامٍ بَالٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ. ( )[1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي مال دغنيمت دولت او امانت غنيمت او زكواة دزرو تاوان اوګنړلي شي او ددين تعليم كول دكوم بل مقصد دپاره اوكرخولي شي او دښځي فرمانبرداري او دمور نافرماني شروع شي او دوست خان ته نزدي كول او دپلار لري كول شروع شي او په مساجدو كي اوازونه دخلقو تيز شي او فاسقان او فاجران دقبيلي سرداران جوړ شي او رذيل خلق دقوم مشران جوړ شي او ديو كس دشر دويري نه دهغه عزت شروع شي اوسندرو والا ښځي او باجي عامي شي او شراب څكل شوع شي او ددي امت اخري خلق په مخكنو لعنت وئيل شروع كړي نو دي وخت كي دګرم باد او زلزلي او په زمكه كي دډوبيدو او دشكل بدليدو او دكاڼړو وريدو او دمسلسل ظاهريدونكو علاماتو انتظار اوكړئ كوم چي به دمخكني لړئ پشان مسلسل نازليږي دكومي چي تار شليدلي وي.

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي دا مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او په دي باب كي دعلي رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

****

۲۲۱۲_حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ يَعْقُوبَ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ القُدُّوسِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " فِي هَذِهِ الأُمَّةِ خَسْفٌ وَمَسْخٌ وَقَذْفٌ ". فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ المُسْلِمِينَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَتَى ذَاكَ ؟ قَالَ: " إِذَا

[1] -

ظَهَرَتِ الْقَيْنَاتُ وَالْمَعَازِفُ وَشُرِبَتِ الْخُمُورُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَابِطٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلا. وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په دي امت كي به خسف او مسخ او قذف واقع كيږي يومسلمان عرض اوكړو اي دالله رسوله داسي كار به كله كيږي رسول الله اوفرمانيل كله چي ګډيدونكي ښځي او باجي عامي شي او شراب څكل شروع شي.

امام ترمذي وايي: داحديث عن الاعمش عن عبدالرحمن بن سابط عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره مرسل مروي دي، او داحديث غريب دي.

****

٣٩ـ باب مَا جَاءَ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ يَعْنِي السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطَى

ددي ارشاد نبوي بيان بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ

٢٢١٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ هَيَّاجٍ الأَسَدِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الأَرْحَبِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدَةُ بْنُ الأَسْوَدِ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ الْفِهْرِيِّ، رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بُعِثْتُ فِي نَفَسِ السَّاعَةِ، فَسَبَقْتُهَا كَمَا سَبَقَتْ هَذِهِ هَذِهِ لِأُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [2]

ترجمه : مستورد بن شداد رضي الله عنه راوي دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي: خه اوقيامت دارنګي يوځايى رااليږلى شوى يو څنګه چي دا ګوتى دي او مسواكه او مينځ ګوته يي يو ځاي كړي او ويى خودلي.

امام ترمذي وايي. داحديث حسن غريب دى په سند د مستورد بن شداد، اومونږ ته يي ددي سند نه علاوه بل سند معلوم نه دى

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٨٩٥)

[2] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٨٦٣)

تخريج تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٢٦٢)

تشريح: "بعثت انا والساعة كهاتين" يعني زه او قيامت داسي رالیږلی شوي يو لکه څنګه چي دا دوه ګوتي دي او رسول الله دشهادت او مينځنۍ ګوتي اونيولي. يعني په دي دواړو ګوتو کې چي يوه لږه لويه ده او يوه لږه کمه ده نو زه او قيامت هم داسي يو قيامت به په ماپسي لږ وروسته راخي ددي تائيد په يو بل روايت سره هم کيږي رسول الله فرمائيلي دي بعثت في نفس الساعة فسبقتها كما سبقت هذه هذه والشاره باصبعيه الصبابة والوسطى".

د مستورد بن شداد رضي الله عنه مناقب

نوم مستورد دپلار نوم شداد قبيله فهري چي دقريشوسره يي تعلق دی او په کوفيانوکې شميرلی شوی دی او په مصر کې يي رهائش کولو(اسد الغابه).

دا عجيب اتفاق دی چي په کومه ورځ نبي کريم صلي الله عليه وسلم ددنيا نه رخصت شو نو دی ډير وړوکی وو ليکن ددي باوجود يي رسول الله نه احاديث اوريدلي دي تقريبا اوه احاديث ورنه مروي دي څلور داهل مصر نه او دوه داهل كوفه نه په مسلم کې ورنه دا روايت موجود دی او بخاري ورنه نقل دروايت نه دی کړی.

****

٢٢١٤ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ. أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ. عَنْ قَتَادَةَ. عَنْ أَنَسٍ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ". وَأَشَارَ أَبُو دَاوُدَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى. فَمَا فَضَّلَ إِحْدَاهُمَا عَلَى الأُخْرَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: د انس بن مالك رضي الله عنه راوي دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څه اوقيامت داسي يوځايی راليږلی شوی يو څنګه چي دا ګوتی دي او مسواکه اوپه مينځه ګوته يي اشاره وکړله.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دی

****

٤٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي قِتَالِ التُّرْكِ

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٣٩ (٦٥٠٥) . صحيح مسلم /الفتن ٢٧ (٢٩٥١) (تحفة الأشراف : ١٢٥٢) . و مسند احمد (٣/١٢٣، ١٣٠، ١٣١، ١٩٣، ٢٢٣، ٢٧٥، ٢٨٣، ٣١٩)

دترکیانو سره دجنګ کولو بیان

۲۲۱۵_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، وَعَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ الْعَلَاءِ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا نِعَالُهُمُ الشَّعَرُ، وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُقَاتِلُوا قَوْمًا كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَبُرَيْدَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَعَمْرِو بْنِ تَغْلِبَ، وَمُعَاوِيَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي قيامت هغه وخته پوري نه قائميږي ترڅو پوري چي تاسو دداسي قوم سره اونه جنګيږئ چي پيزار به يي دويختو وي او قيامت هغه وخته پوري نه قائميږي څو پوري چي تاسو داسي قوم سره جنګيدلي نه يئ دکومو مخونه چي دقت په قت ډالونو پشان نه وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوبکر صديق، بريده، ابوسعيد، عمرو بن تغلب، او معاويه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٤١_بَاب مَا جَاءَ إِذَا ذَهَبَ كِسْرَى فَلَا كِسْرَى بَعْدَهُ

دکسري دهلاکت نه پس دبل کسري راتلل نشته

۲۲۱٦_حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا هَلَكَ كِسْرَى، فَلَا كِسْرَى بَعْدَهُ، وَإِذَا هَلَكَ قَيْصَرُ، فَلَا قَيْصَرَ بَعْدَهُ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَتُنْفَقَنَّ كُنُوزُهُمَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ۹۵ (۲۹۲۸)، و ۹٦ (۲۹۲۹)، والمناقب ۲۵ (۳۵۸۷، ۳۵۹۰)، صحيح مسلم/الفتن ۱۸ (۲۹۱۲)، سنن ابي داود/ الملاحم ۹ (۴۳۰۳، ۴۳۰۴)، سنن النسائي/الجهاد ۴۲ (۳۱۹۸)، سنن ابن ماجه/الفتن ۳٦ (۴۰۹٦) (تحفة الأشراف: ۱۳۱۲۵)، ومسند احمد (۲/۲۳۹، ۳۰۰، ۳۱۹، ۳۳۸، ۴۶۵، ۴۹۳، ۵۳۰)

[2] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ۲۵ (۳٦۱۸)، والأيمان والنذور ۳ (٦٦۳۰)، صحيح مسلم/الفتن ۱۸ (۲۹۱۸) (تحفة الأشراف: ۱۳۱۴۳)، ومسند احمد (۲/۲۳۳، ۲۴۰)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي كسري هلاك شي نو دده نه پس به بل كسري نه وي او كله چي قيصر هلاك شي نو دده نه پس به بل قيصر نه وي، زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په اختيار كي چي زما روح دي تاسو به ددوئ خزاني دالله په لاره كي خرج كوئ او واقعا دا واقع شوي دي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٤٢_باب مَا جَاءَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَخْرُجَ نَارٌ مِنْ قِبَلِ الْحِجَازِ

قيامت به هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي دحجاز دطرفه اور راوتلي نه وي

٢٢١٧_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَتَخْرُجُ نَارٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ، أَوْ مِنْ نَحْوِ بَحْرِ حَضْرَمَوْتَ قَبْلَ يَوْمِ الْقِيَامَةِ تَحْشُرُ النَّاسَ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: عَلَيْكُمْ بِالشَّامِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ.(١)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دقيامت نه مخكي به دحضرموت يا دحضرموت دسمندر دطرفه يو اور راوخي چي خلقو له به راجمع كوي، صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله دهغه وخت باره كي ته مونږ ته څه حكم كوي رسول الله اوفرمائيل تاسو شام ته لاړ شئ
امام ترمذي وايي داحديث دابن عمر رضي الله عنهما په روايت حسن غريب صحيح دي او په دي باب كي دحذيفه بن اسيد، انس، ابوهريره، او ابوذر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٤٣_باب مَا جَاءَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ كَذَّابُونَ

قيامت به هغه وخته پوري نه قائميږي تر څوپوري چي كذابين (دروغژن) راپيداشوي نه وي

---

١ - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٧٦٥)

٢٢١٨_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَنْبَعِثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ قَرِيبٌ مِنْ ثَلَاثِينَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ وَابْنِ عُمَرَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قيامت به هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي ديرش دجالان او دروغژن راوتلي نه وي او په دوئ کي به هر يو دا دعوي کوي چي زه دالله رسول يم.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دجابر بن سمره او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٢٢١٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ الرَّحَبِيِّ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَلْحَقَ قَبَائِلُ مِنْ أُمَّتِي بِالْمُشْرِكِينَ، وَحَتَّى يَعْبُدُوا الْأَوْثَانَ، وَإِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي ثَلَاثُونَ كَذَّابُونَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ، وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

ترجمه : دثوبان رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قيامت هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو پوري چي زما دامت څه قبيلي دمشرکينو سره يوځاي شوي نه وي او دبتانو بندګي يي شروع کړي نه وي او ډيره نزدي ده چي زما په امت کي به ديرش دروغژن (دعوي دار دنبوت) پيدا کيږي او په دوئ کي به هر يو دا دعوي کوي چي زه دالله نبي يم او حال دادي چي زه خاتم النبيين يم زما نه پس هيڅ يو نبي راتلو والا نشته.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: په حديث کي راځي: "اوالدجال فشر غائب ينتظر" يعني ددجال دفتني انتظار کوئ کوم چه دهر شر نه بدترين شر دی ، د دجالْ فتنه به په ټولو فتنو کي لويه وي چه قيامت ته نزدي به ظاهريږي ددي په باره کي په يو روايت کي راغلي دي "مابين خلق ادم الي قيام

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ٢٥ (٣٦٠٩) . والفتن ٢٥ (٧١٢١) . صحيح مسلم /الفتن ١٨ (٨٤/١٥٧) . سنن ابي داود/ الملاحم ١٦ (٤٣٣٣، ٤٣٣٤، ٤٣٣٥) (تحفة الأشراف : ١٤٧١٩) . ومسند احمد (٢/٢٣٧، ٣١٣، ٣٤٩، ٤٥٠، ٤٥٧، ٥٣٠)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢١٠٩)

الساعه فتنة اكبر من الدجال" يعني د ادم عليه السلام دپيدانش نه واخله دقيامت دورخي پوري ددجال دفتني نه به بله لويه فتنه نه وي ددجال دفتني نه هر نبي خپل قوم يرولی دی مطلب دادی چه د دجال دراتلو نه مخکي دي هر کس دنيکو اعمالو کوشش اوکړي ځکه چه د دجال فتنه ډيره لويه فتنه ده پدغه وخت کي ډير ښه ښه خلق په دي فتنه کي مبتلا کيږي "فالساعة ادهي وامر" يعني قيامت ډير يرونکی اوتريخ دی دقيامت منظر ددنيا دتمامو مناظرو نه زيات تريخ دی.

هر نبي خپل قوم ددجال نه ويرولي دي

عن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: كُنَّا نَتَحَدَّثُ عَنْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ، وَالنَّبِيُّ ﷺ بَيْنَ أَظْهُرِنَا، وَلا نَدْرِي مَا حَجَّةُ الْوَدَاعِ حَتَّى حَمِدَ اللهَ رَسُول الله ﷺ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ ذَكَرَ الْمَسِيحَ الدَّجَّال فَأَطْنَبَ فِي ذِكْرِهِ، وَقَالَ: ((مَا بَعَثَ اللهُ مِنْ نَبِيٍّ إِلاَّ أَنْذَرَهُ أُمَّتَهُ أَنْذَرَهُ نُوحٌ وَالنَّبِيُّونَ مِنْ بَعْدِهِ، وَإِنَّهُ إِنْ يَخْرُجْ فِيكُمْ فَمَا خَفِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ شَأْنِهِ فَلَيْسَ يَخْفَى عَلَيْكُم، إِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وإِنَّهُ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى، كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ. أَلا إِنَّ الله حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دِمَاءكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي بلدكم هذا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، أَلا هَلْ بَلَّغْتُ؟)) قالُوا: نَعَمْ، قَالَ: ((اللَّهُمَّ اشْهَدْ)) ثلاثاً ((وَيْلَكُمْ أَوْ وَيْحَكُمْ، انْظُروا: لا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّاراً يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ)) رواه البخاري، وروى مسلم بعضه.

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وائي چه مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم په موجودګئ کي حجة الوداع باندي خبری کولی حالانکه مونږ ته دا پته نه وه چه دحجة الوداع مفهوم څه دی؟ چه رسول الله صلي الله عليه وسلم حمد او ثناء بيان کړه او د دجال ذکر يی ډير تفصيل سره اوکړو او دا يی هم اوفرمائيل چه الله تعالي هيڅ يو نبي نه دی رالیږلی مګر دا چه هغه خپل امت د دجال دفتنی نه ضرور ويرولی دی نوح عليه السلام او دهغوي روستو انبياء عليهم السلام هم هغوي اويرول خو دی به تاسو کي ښکاره کيږي (يعني دامت په اخره زمانه کښي)، که چري دهغه علامات تاسو نه پټ هم پاتی شي نو بيا به هم دا ښکاره ننښه وي چه ستاسو رب کانړه (يوسترګی) نه دی او دهغه ښی سترګه به نه وي دهغه سترګه به دانګور ددانی پشان بهر راوتلي وي، واورئ ځنګه چه نن ورځ موجوده مياشت ستاسو په نزد حرامه ده، دغسی الله تعالي ستاسو خپل مينځ کي مالونه اووينی هم حرام کړي دي (چه خپل مينځ کي ويني مه تويوئ) ديو بل مال په ظلم سره مه خورئ ښه دا راته اووائي چه ما تاسو ته دين اورسولو؟ ټولو اوونيل بيشکه (راودي رسولو) بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دري ځله اوفرمائيل ای الله ته (ددوي په قول) ګواه اوسی، رسول الله صلي الله عليه وسلم ويلکم يا ويحکم (نه يو لفظ استعمال کولو سره اوفرمائيل، ستاسو دپاره به هلاکت وي يا به ستاسو

دپاره دافسوس مقام وي (كه چري داسي اوشوه) غور سره واورئ خما نه پس كافران مه جوړيږئ چه ديو بل څټونه نه وحئ (بخاري) امام مسلم ددي حديث بعضي اجزاء روايت كړي دي

أخرجه: مسلم ١/٥٨ (٦٦) (١١٩) و(١٢٠) كتاب البر باب تحريم المظالم . وكتاب الايمان باب لا ترجعوا بعدي كفارا .والبخاري ٥/٢٢٣ (٤٤٠٢). كتاب المغازي باب حجة الوداع.

باعور: عور عورا دسمع نه په معني دكاڼي كيدودي، مذكر يي اعور راځي او مونث يي عوراء راځي.

عنبة العنب معني انګور جمع يي اعناب او يوي داني ته عنبة ونيلي شي.

"مابعث الله من نبي الا انذره امته" يعني الله تعالي داسي نبي نه دى ليږلى چه هغه ددجال نه خپل قوم ويرولى نه وي.

سوال: دجال خو به قيامت ته نزدي راځي هر كله چه داسي ده نو بيا خو پخوانو خلقو ته دده نه كومه خطره نه وه اوچه خطره نه وه نو پيغمبرانو څرنګه خپل قومونه دهغه نه ويرولي دي؟

جواب: الله تعالي ددجال دښكاره كيدو وخت په معين طور سره چاته نه دى خودلى مګر دومره يي ضرور فرمائيلي دي چه قيامت ته به نزدي راځي .

دجال به كاڼړي وي

ان ربكم ليس باعور، يعني ستاسو رب كاڼړي ندي.

رسول الله صلي الله عليه وسلم دا خبره كلم الناس بقدر عقولهم، يعني دخلقو سره دهغوئ دعقل مطابق خبري كوه، پدي مناسبت كړي ده ، ورنه الله تعالي دجسم نه پاك دي ، دذات او صفاتو په اعتبار سره دهر قسم عيوبو نه پاك دي.

" كانّ عينه عنبة طافيه" يعني سترګه يي داسي ده لكه دانګور چاودلي دانه . علامه توربشتي ليكلي دي چه ددجال دسترګي په باره كي ډير احاديث وارد دي چه په دوئ كي ظاهري تعارض هم ښكاري په دي كي تطبيق ته ضرورت دی

"ان الله حرم عليكم دمائكم واموالكم" يعني بيشكه الله تعالي په تاسو باندي ستاسو وينې او مالونه حرام كړي دي ددي مطلب دادى چه هر يو مسلمان دبل مسلمان ورور دى او دهغه د جان او مال او عزت حفاظت كول دده ذمه واري ده همداوجه ده چه دمسلمانانو پخپل مينځ كي خنريزي كول خيانت او قبيح جرم ګنړلى شوى دى .

"لاترجعوا بعدي كفار" يعني زمانه پس به نه كافر كيږي يعني لكه څنګه چه به دجاهليت په زمانه كي يو كافر بل لره قتل كولو نو تاسو به هم دكافرو پشان عمل نه اختياروئ چه په معمولي معمولي خبرو خپل ورور لره قتل كړئ (رياض الصالحين).

****

٤٤_باب مَا جَاءَ فِي ثَقِيفٍ كَذَّابٌ وَمُبِيرٌ

په بني ثقيف قبيله کي به يو دروغژن او يو هلاکونکي وي

٢٢٢٠_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُصْمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فِي ثَقِيفٍ كَذَّابٌ وَمُبِيرٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: يُقَالُ الْكَذَّابُ: الْمُخْتَارُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ، وَالْمُبِيرُ: الْحَجَّاجُ بْنُ يُوسُفَ.(١)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په بني ثقيف قبيله کي به يو دروغژن او يو هلاکونکي پيدا کيږي.

امام ترمذي وايي: ونيلي شوي دي چي دکذاب او دروغژن نه مراد مختار بن ابي عبيد ثقفي دي او دهلاکونکي نه مراد حجاج بن يوسف دي.

****

حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ سُلَيْمَانُ بْنُ سَلْمٍ الْبَلْخِيُّ، أَخْبَرَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، قَالَ: أَحْصَوْا مَا قَتَلَ الْحَجَّاجُ صَبْرًا، فَبَلَغَ مِائَةَ أَلْفٍ وَعِشْرِينَ أَلْفَ قَتِيلٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ.(٢)

ترجمه . دهشام بن حسان نه روايت دي چي حجاج بن يوسف دقتل کړو کسانو تعداد يو لاکه ديرش زرو ته رسيږي.

****

حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ وَاقِدٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ نَحْوَهُ بِهَذَا الإِسْنَادِ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ شَرِيكٍ، وَشَرِيكٌ يَقُولُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُصْمٍ، وَإِسْرَائِيلُ، يَقُولُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عِصْمَةَ.(٣)

---

1 _ تفرد به المؤلف، وأعاده في المناقب ٤٢ (٣٩٤٤) (تحفة الأشراف: ٤٢٨٢)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٥٠٨)

3 تفرد به المؤلف، وأعاده في المناقب ٤٢ (٣٩٤٤) (تحفة الأشراف: ٤٢٨٢)

ترجمه دشريك نه هم په دي سند دماقبل هم معني روايت مروي دي او داحديث حسن غريب دي په سند دابن عمر، او دشريك نه علاوه دا په بل سند مونږ ته نه دي معلوم شريك خپل استاذ عبدالله بن عصم بيان كړي دي او اسرائيل خپل استاذ عبدالله بن عصمة بيان كړي دي

****

٤٥_باب مَا جَاءَ فِي الْقَرْنِ الثَّالِثِ

د قرن ثالث د تابعينو د زماني بيان

٢٢١٢_حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفُضَيْلِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُدْرِكٍ، عَنْ هِلاَلِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ يَأْتِي مِنْ بَعْدِهِمْ قَوْمٌ يَتَسَمَّنُونَ وَيُحِبُّونَ السِّمَنَ، يُعْطُونَ الشَّهَادَةَ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلُوهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَى مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُدْرِكٍ، عَنْ هِلاَلِ بْنِ يَسَافٍ، وَرَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْحُفَّاظِ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ هِلاَلِ بْنِ يَسَافٍ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَلِيَّ بْنَ مُدْرِكٍ.[1]

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنهما نه مروي دي فرماني چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي په ټولو خلقو كي بهتر زما دزماني خلق دي، او بيا په دوئ پسي راتلونكي خلق دي او بيا په هغوئ پسي نور راتلونكي خلق دي او بيا به ددوئ نه پس داسي خلق پيدا شي چي ښاربه او تازه به وي او ښورب والي به خوښوي او دګواهئ طلب كيدو نه مخكي به ګواهي وركولو ته تيار وي.

امام ترمذي وايي. محمد بن فضيل دا حديث په همدي مضمون داعمش نه عن علي بن مدرك عن هلال بن يصاف سند سره نقل كړي دي، او نورو حافظانو دا مضمون عن الاعمش عن هلال بن يساف سند سره نقل كړي دي او هغوئ په دي سند كي دمدرك واسطه نه ده ذكر كړي.

دحديث دراوي عمران بن حصين رضي الله عنه دژوندكئ مختصر مناقب

نوم عمران كنيه ، ابو نجيد او دپلار نوم يي حصين وو دهجرت په ابتداء كي مسلمان شوى وو (مستدرك حاكم).

---

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /الشهادات ٩ (٢٦٥١) . و فضائل الصحابة ١ (٣٦٥٠) . والرقاق ٧ (٦٤٢٨) والأيمان ٧ (٦٦٩٥) . صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٥٢ (٢٥٣٥) . سنن ابي داود/ السنة ١٠ (٤٦٥٧) . سنن النسائي/الأيمان والنذور ٢٩ (٣٠٣٣) (تحفة الأشراف : ١٠٨٦٦) . و مسند احمد (٤/٤٢٦ . ٤٢٧ . ٤٣٦ . ٤٤٠)

په بعضي غزواتو کې یې درسول الله صلي الله علیه وسلم سره یې ملګرتیا کړي وه او درسول الله په تولـه زندګۍ کې دی په مدینه کې پاتي شوی دی او د وفات نبوي نه پس یې مدیني ته راتلل پریخودل او ګوشه نشیني یې اختیار کړه، عمرفاروق رضي الله عنه په زمانه کې چي کله بصره اباده شوه نو هلته منتقل شو او عمرفاروق رضي الله عنه ورته دتعلیم خدمت حواله کړو ,طبقات ابن سعد).

عمر رضي الله عنه ددور نه پس چي کله جنګونه شروع شول نو ده ورنه ځان اوساتلو (الاصابه)

علامه ابن عبدالبر مالکي لیکل دي : كان من فضلاء الصحابة وفقهائهم (الاستيعاب) .

دحسن بصري قول دی چي دعمران پشان بل بهترین سړی بصري ته نه دی راغلی (استیعاب).

دده په زندګۍ کې نو څو خصوصیات وو مثلا احترام رسول داسوه رسول پابندي په عبادت کې ریاضت کول باوجود ددي چي دده ذات مرجع الخلائق وو څوك چي به په لاره تیریدل نو دده نه به یې مسائل معلومول.

وفات: داستخساء په مرض مریض شو او هم دي مرض په نتیجه کې په ۵۲هجري کې په بصره کې وفات شو (مستدرك).

مرویات: دده دمرویاتو شمیر ۱۳۰ د ۲ په احادیثو کې به یې ډیر زیات احتیاط کولو نو ځکه یې دمرویاتو شمیر کم دی چي ۸ دهغي نه متفق علیه دي په بخاري کې څوارلس او نهه په مسلم کې دي.

****

قَالَ: وَحَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الأَعْمَشِ، حَدَّثَنَا هِلَالُ بْنُ يَسَافٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ، وَهَذَا أَصَحُّ عِنْدِي مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ فُضَيْلٍ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه: هلال بن یساف هم دعمران بن حصین رضي الله عنهما په واسطه دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه دماقبل هم معني روایت نقل کړي دي

---

1. اورده البخاري في الجامع الصحيح /الشهادات ۹ (۲٦٥۱) . و فضائل الصحابة ۱ (۳٦٥۰) . والرقاق ۷ (٦٤۲۸) . والأيمان ۷ (٦٦۹٥) . صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٥۲ (۲٥۳٥) . سنن ابي داود/ السنة ۱۰ (٤٦٥۷) . سنن النسائي/الأيمان والنذور ۲۹ (۳۸۰۹)(تحفة الأشراف : ۱۰۸٦٦) . و مسند احمد (٤۲٦/٤، ٤۲۷، ٤۳٦، ٤٤۰)

امام ترمذي وايي: دا روايت زما په نزد دمحمد بن فضيل دروايت نه زيات صحيح دي، او ددي سند نه علاوه دا روايت په نورو سندونو هم دعمران بن حصين په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي

****

٢٢٢٢ـحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُ أُمَّتِي الْقَرْنُ الَّذِي بُعِثْتُ فِيهِمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ "، قَالَ: وَلَا أَعْلَمُ ذَكَرَ الثَّالِثَ أَمْ لَا، " ثُمَّ يَنْشَأُ أَقْوَامٌ يَشْهَدُونَ وَلَا يُسْتَشْهَدُونَ، وَيَخُونُونَ وَلَا يُؤْتَمَنُونَ، وَيَفْشُو فِيهِمُ السِّمَنُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه . دعمران بن حصين رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما په امت كي دټولو نه بهتر خلق هغه دي دكومو په مينځ كي چي زه راليږلي شوي يم او بيا هغه كسان دي څوك چي ددوئ نه وروسته راتلونكي دي، عمران بن حصين وائي ماته معلومه نه ده چي رسول الله دريمه زمانه هم ذكر كړه او كه ذكر يي نكړه، بيا به ددينه پس داسي خلق پيدا شي چي دګواهئ طلب كيدو نه بغير به په ګواهئ وركولو پسي ګرځي، خيانت به كوي او امانتدار به نه وي او په دوئ كي به څربيدل عام شي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٤٦ـبَاب مَا جَاءَ فِي الْخُلَفَاءِ

دخلفاء راشدينو بيان

٢٢٢٣ـحَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عُبَيْدٍ الطَّنَافِسِيُّ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَكُونُ مِنْ بَعْدِي اثْنَا عَشَرَ أَمِيرًا "، قَالَ: ثُمَّ تَكَلَّمَ بِشَيْءٍ لَمْ أَفْهَمْهُ، فَسَأَلْتُ الَّذِي يَلِينِي، فَقَالَ: " كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى:

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الشهادات ٩ (٢٦٥١) . و فضائل الصحابة ١ (٣٦٥٠) . والرقاق ٧ (٦٤٢٨) . والأيمان ٧ (٦٦٩٥) . صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٥٢ (٢٥٣٥) . سنن ابي داود/ السنة ١٠ (٤٦٥٧) . سنن النسائي/الأيمان والنذور ٢٩ (٣٨٠٢) (تحفة الأشراف : ١٠٨٦٦) . و مسند احمد (٤/٤٢٦، ٤٢٧، ٤٣٦، ٤٤٠)

هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما نه پس به دولس اميران (خلفاء) راخي او بيا يي كومه داسي خبره اوكړه چي زه وربانددي پوهه نشوم لهذا ما د خان خوا كي دنزدي ناست كس نه تپوس اوكړو نو هغه اووئيل رسول الله اوفرمائيل چي دا دولس واړه خلفاء به دقريشو دقبيلي نه وي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مُوسَى، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مُوسَى، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. ([2])

ترجمه دجابر بن سمره نه هم په مذكوره سند درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني روايت مروي دي او دجابر بن سمره نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم دا روايت مروي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او غربت يي دابي بكر بن موسي په وجه دي چي دجابر بن سمره نه يي نقل كوي، او په دي باب كي دابن مسعود، او عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٤٧_باب مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللَّهِ فِي الأَرْضِ أَهَانَهُ اللَّهُ

په زمكه كي دحاكم توهين كول دالله تعالي دتوهين كولو پشان دي

٢٢٢٤_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مِهْرَانَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ زِيَادِ بْنِ كُسَيْبٍ الْعَدَوِيِّ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ أَبِي بَكْرَةَ تَحْتَ مِنْبَرِ ابْنِ عَامِرٍ، وَهُوَ يَخْطُبُ وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ رِقَاقٌ، فَقَالَ أَبُو بِلَالٍ: انْظُرُوا إِلَى أَمِيرِنَا يَلْبَسُ ثِيَابَ الْفُسَّاقِ، فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ: اسْكُتْ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢١٩٣)

[2] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢١٩٣)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللهِ فِي الأَرْضِ أَهَانَهُ اللهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه دزياد بن كسيب عدوي بيان دي فرمائي چي زه دابوبكره رضي الله عنه سره دابن عامر دمنبر لاندي ناست وم او هغه دي وخت كي خطبه وركوله او هغه ډيري نرئ جامي اغوستلي وي ابوبلال اوونيل زمونږ امير ته خو اوګوره دفاسقانو لباس يي اغوستلي دي ابوبكره رضي الله عنه اوونيل خاموش شه ما درسول الله سلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلي دي څوك چي په زمكه كي دالله تعالي دطرفه مقرر كړي حاكم تذليل اوكړي نو الله تعالي به هغه لره ذليل كړي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي

****

٤٨_باب مَا جَاءَ فِي الْخِلاَفَةِ

دخلافت بيان

٢٢٢٥_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قِيلَ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: لَوِ اسْتَخْلَفْتَ، قَالَ: " إِنْ أَسْتَخْلِفْ فَقَدِ اسْتَخْلَفَ أَبُو بَكْرٍ، وَإِنْ لَمْ أَسْتَخْلِفْ لَمْ يَسْتَخْلِفْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ، وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. [2]

ترجمه . دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته اوونيلي شول كاش چي ته خليفه مقرر كړي شوي وي، هغه اوونيل زه كه چا لره خليفه مقرروم نو ابوبكر رضي الله عنه خليفه مقرر كړي دي او كه چا لره خليفه مقرر نكړم نو رسول الله صلي الله عليه وسلم هم خليفه نه دي مقرر كړي.

امام ترمذي وايي په دي حديث كي يوه قصه هم مذكور ده او داحديث صحيح دي او په ډيرو سندونو دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي

****

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٦٤٣)

2 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأحكام ٥١ (٧٢١٨). صحيح مسلم/الإمارة ٢ (١٨٢٣). سنن ابي داود/ الخراج الإمارة ٨ (٢٩٣٩) (تحفة الأشراف: ١٠٥٢١). ومسند احمد (١/٤٣)

٢٢٢٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُرَيْجُ بْنُ النُّعْمَانِ، حَدَّثَنَا حَشْرَجُ بْنُ نُبَاتَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُمْهَانَ، قَالَ: حَدَّثَنِي سَفِينَةُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الخِلَافَةُ فِي أُمَّتِي ثَلَاثُونَ سَنَةً ثُمَّ مُلْكٌ بَعْدَ ذَلِكَ". ثُمَّ قَالَ لِي سَفِينَةُ: أَمْسِكْ خِلَافَةَ أَبِي بَكْرٍ، ثُمَّ قَالَ: وَخِلَافَةَ عُمَرَ، وَخِلَافَةَ عُثْمَانَ، ثُمَّ قَالَ لِي: أَمْسِكْ خِلَافَةَ عَلِيٍّ، قَالَ: فَوَجَدْنَاهَا ثَلَاثِينَ سَنَةً، قَالَ سَعِيدٌ: فَقُلْتُ لَهُ: إِنَّ بَنِي أُمَيَّةَ يَزْعُمُونَ أَنَّ الخِلَافَةَ فِيهِمْ، قَالَ: كَذَبُوا بَنُو الزَّرْقَاءِ بَلْ هُمْ مُلُوكٌ مِنْ شَرِّ المُلُوكِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ، قَالَا: لَمْ يَعْهَدِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الخِلَافَةِ شَيْئًا، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، قَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُمْهَانَ، وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سَعِيدِ بْنِ جُمْهَانَ. (1)

ترجمه دسعيد بن جمهان بيان دي چي مونږ ته سفينه رضي الله عنها اوونيل دابوبكر خلافت، دعمرخلافت، دعثمان خلافت، او دعلي خلافت اوشميرئ، حشرج بن نباته راوي وائي مونږ چي دا وشميرل نو ديرش كاله ورنه جوړ شو سعيد بن جمهان وائي ما سفينه ته اوونيل بنو اميه دا گمان كوي چي خلافت په همدوئ كي وي؟ سفينه اوونيل بنو زرقاء دروغژن دي او غلطه خبره يي كړي ده بلكه ددوئ شمير خو په بدترينو بادشاهانو كي وي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او ډيرو راويانو دا حديث دسعيد بن جمهان نه نقل كړي دي او مونږ يي دسعيد بن جمهان په روايت پيژنو، او په دي باب كي دعمر او علي رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دخلافت په باره كي هيڅ قسم وصيت نه دي كړي.

تخريج: سنن ابي داود/ السنة ٩ (٤٦٤٦، ٤٦٤٧) (تحفة الأشراف: ٤٤٨٠)، و مسند احمد (٥/٢٢١)

****

٤٩_باب مَا جَاءَ أَنَّ الخُلَفَاءَ مِنْ قُرَيْشٍ إِلَى أَنْ تَقُومَ السَّاعَةُ

دقيامت د راتلو پوري به خلفاء دقريشو نه راځي

٢٢٢٧_حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الحَارِثِ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي الهُذَيْلِ، يَقُولُ: كَانَ نَاسٌ مِنْ رَبِيعَةَ عِنْدَ عَمْرِو بْنِ العَاصِ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ بَكْرِ بْنِ وَائِلٍ: لَتَنْتَهِيَنَّ قُرَيْشٌ، أَوْ لَيَجْعَلَنَّ اللَّهُ هَذَا الأَمْرَ فِي جُمْهُورٍ مِنَ العَرَبِ

1

غَيْرِهِمْ. فَقَالَ عَمْرُو بْنُ العَاصِ: كَذَبْتَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " قُرَيْشٌ وُلَاةُ النَّاسِ فِي الخَيْرِ وَالشَّرِّ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دعبدالله بن ابي هذيل بيان دي چي دربيعه قبيلي څه كسان عمرو بن العاص رضي الله عنه ته ورغلل او دبكر بن وائل قبيلي يو كس اوونيل قريش دي منع شي او كنه نو الله تعالي به خلافت ددوئ نه علاوه په جمهور عربو كي راولي عمرو بن العاص رضي الله عنه اوونيل تا دروغ اوونيل او غلطه خبره اوكړه ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي چي قريش به دقيامت راتلو پوري په خير او شر (اسلام او جاهليت) كي دخلقو حاكمان وي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب صحيح دي، او په دي باب كي دابن مسعود، ابن عمر، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٥٠_باب

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٢٢٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ العَبْدِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الحَنَفِيُّ، عَنْ عَبْدِ الحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الحَكَمِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَذْهَبُ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ حَتَّى يَمْلِكَ رَجُلٌ مِنَ المَوَالِي، يُقَالُ لَهُ: جَهْجَاهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي شپه او ورځ به هغه وخته پوري باقي وي (يعني قيامت به نه راځي) ترڅو پوري چي د جهجاه په نوم يو بادشاه پيدا شوي نه وي.

امام ترمذي وايي. داحديث حسن غريب دي

****

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٤٣٦)

2 _ صحيح مسلم/الفتن ١٨ (٢٩١١) (تحفة الأشراف: ١٣٢٦٤)، و مسند احمد (٢/٣٢٩)

٥١_باب مَا جَاءَ فِي الأَئِمَّةِ المُضِلِّينَ

دګمراه کونکو حاکمانو بيان

٢٢٢٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ الرَّحَبِيِّ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّمَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي الأَئِمَّةَ المُضِلِّينَ ". قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الحَقِّ ظَاهِرِينَ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ يَخْذُلُهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ المَدِينِيِّ، يَقُولُ: وَذَكَرَ هَذَا الحَدِيثَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الحَقِّ " فَقَالَ عَلِيٌّ: هُمْ أَهْلُ الحَدِيثِ.

([1])

ترجمه . دثوبان رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه پخپل امت باندي دګمراه کونکو حاکمانو (مسلط کيدو متعلق) ويريږم او بيا يي اوفرمائيل زما دامت يو جماعت به هميشه په حق باندي غالب وي او ددوئ مدد نه کونکي به دوئ ته څه نقصان نشي رسولي تردي پوري چي دالله تعالي حکم (قيامت) راشي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، ما دامام بخاري نه اوريدلي دي دعلي بن مديني قول دي چي هغوئ دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دا حديث "لاتزال طائفة من امتي ظاهرين علي الحق" ذکر کړو او ونيل يي ددينه مراد محدثين دي.

****

٥٢_باب مَا جَاءَ فِي المَهْدِيِّ

دمهدي بيان

٢٢٣٠_حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ أَسْبَاطِ بْنِ مُحَمَّدٍ القُرَشِيُّ الكُوفِيُّ، قَالَ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَمْلِكَ العَرَبَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عَلِيٍّ،

---

[1] - صحيح مسلم/الإمارة ٥٣ (١٩٢٠)، سنن ابن ماجه/المقدمة ١(١٠) (تحفة الأشراف: ٢١٠٢)، ومسند احمد (٥/٢٧٩)

وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دنيا هغه وخته پوري نه ختميږي ترڅو پوري چي زما دكورنۍ يو كس چي زما په نامه به وي دعربو بادشاه جوړ شوي نه وي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي ، او په دي باب كي دعلي، ابوسعيد خدري، ام سلمه، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٢٢٣١ـحَدَّثَنَا عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الْجَبَّارِ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَلِي رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي يُوَاطِئُ اسْمُهُ اسْمِي". قَالَ عَاصِمٌ: وَأَخْبَرَنَا أَبُو صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا يَوْمٌ لَطَوَّلَ اللَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ حَتَّى يَلِيَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دكورنۍ يو كس چي نوم به يي زما په نامه وي حكومت كوي، ابوهريره رضي الله عنه وائي كه ددنيا صرف يوه ورځ هم باقي پاتي شي نو الله تعالي به دا ورځ دومره اوږده كړي چي دا سړي به په دي كي حكومت اوكړي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي.

٥٣ـباب مِنْهُ

دمهدي متعلق يوبل باب

٢٢٣٢ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ زَيْدًا الْعَمِّيَّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الصِّدِّيقِ النَّاجِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: خَشِينَا أَنْ يَكُونَ بَعْدَ نَبِيِّنَا حَدَثٌ، فَسَأَلْنَا نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنَّ فِي أُمَّتِي الْمَهْدِيَّ يَخْرُجُ يَعِيشُ خَمْسًا، أَوْ سَبْعًا، أَوْ تِسْعًا". زَيْدٌ الشَّاكُّ. قَالَ: قُلْنَا: وَمَا ذَاكَ؟ قَالَ: "سِنِينَ". قَالَ: "فَيَجِيءُ إِلَيْهِ رَجُلٌ، فَيَقُولُ: يَا مَهْدِيُّ، أَعْطِنِي أَعْطِنِي، قَالَ: فَيَحْثِي لَهُ فِي ثَوْبِهِ مَا اسْتَطَاعَ أَنْ يَحْمِلَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى:

---

[1] سنن ابي داود/ المهدي ١(٤٢٨٢) (تحفة الأشراف : ٩٢٠٨)

[2] ـ سنن ابي داود/ المهدي ١(٤٢٨٢) (تحفة الأشراف : ٩٢٠٨)

هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبُو الصِّدِّيقِ النَّاجِيُّ اسْمُهُ بَكْرُ بْنُ عَمْرٍو، وَيُقَالُ: بَكْرُ بْنُ قَيْسٍ. (1)

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي مونږ ددي خبري نه ويريږو چي زمونږ دنبي نه پس به څه حادثات راځي لهذا مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم نه سوال اوکړو نو هغوی اوفرمائيل زما په امت کي به مهدي راځي او ديځه، اوه يا نهو پوري به ژوندي وي (په دي شمير کي دزيد العمي دطرفه شك پيدا شوي دي) راوي وائي مونږ عرض اوکړو ددي شمير نه څه مراد دي؟ نو ويي فرمائيل کلونه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيا به دوی ته يو سړي راشي او دوی ته به اووائي مهدي ماته راکړی مهدي ماته راکړی رسول الله اوفرمائيل دوی به دهغه سړي په جامه کي دومره دينار او درهم واچوي چي هغه به يي پورته کولي نشي
امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي دابوسعيد خدري په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دا روايت په يو څو نورو سندونو هم مروي دي.

****

٥٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي نُزُولِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ

دعيسي بن مريم عليه السلام د نزول بيان

٢٢٣٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا مُقْسِطًا فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ الْمَالُ، حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په اختيار کي چي زما روح دي ډيره نزدي ده چي ستاسو په مينځ کي به عيسي عليه السلام دحاکم او منصف په صفت رانازليږي او صليب به ماتوي، او

---

1 - سنن ابن ماجه/الفتن ٢٢ (٢٠٨٣) (تحفة الأشراف : ٣٩٤٦)

2 - اورده البخاري في الجامع الصحيح /البيوع ١٠٢ (٢٢٢٢) والمظالم ٣١ (٢٤٧٦). والأنبياء ٤٩ (٣٤٤٨). صحيح مسلم/الأيمان ٧٠ (١٥٥). سنن ابن ماجه/الفتن ٣٣ (٤٠٧٨) (تحفة الأشراف : ١٣٢٢٨). ومسند احمد (٢/٢٤٠، ٢٧٢، ٢٩٠، ٥٣٨، ٤٨٢)

خنزير به قتل کوي او جزيه به ختموي او مال به دومره ډيرشي چي ددي اخستلو او قبلولو والا به هيڅوك نه پيدا کيږي
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٥٥_باب مَا جَاءَ فِي الدَّجَّالِ

د دجال بيان

٢٢٣٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الجُمَحِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ خَالِدٍ الحَذَّاءِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سُرَاقَةَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ الجَرَّاحِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ بَعْدَ نُوحٍ، إِلَّا قَدْ أَنْذَرَ الدَّجَّالَ قَوْمَهُ، وَإِنِّي أُنْذِرُكُمُوهُ" فَوَصَفَهُ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "لَعَلَّهُ سَيُدْرِكُهُ بَعْضُ مَنْ رَآنِي أَوْ سَمِعَ كَلَامِي". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَكَيْفَ قُلُوبُنَا يَوْمَئِذٍ، قَالَ: "مِثْلُهَا". يَعْنِي اليَوْمَ أَوْ خَيْرٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ الحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ الجَرَّاحِ، لَا أَعْرِفُهُ إِلا مِنْ حَدِيثِ خَالِدٍ الحَذَّاءِ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ أَيْضًا عَنْ خَالِدٍ الحَذَّاءِ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنَ الجَرَّاحِ اسْمُهُ عَامِرُ بْنُ عَبْدُ اللَّهِ بْنِ الجَرَّاحِ. [1]

ترجمه دابوعبيده بن جراح رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلي دي دنوح عليه السلام نه پس هيڅ يونبي داسي نه دي راغلي چاچي خپل امت لرد د دجال نه ويرولي نه وي او زه هم تاسو دده نه ويروم او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته د دجال حال بيان کړو او ويې فرمائيل کيدي شي چي زما ليدونکي او يا زما دخبرو اوريدونکي څه کسان ده لره بيامومي صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله په دغه ورځ به زمونږ زړونه څنګه وي؟ رسول الله اوفرمائيل دنن ورځي پشان او يا به ددينه هم بهتر وي
امام ترمذي وايي: داحديث دابوعبيده بن جراح په روايت حسن غريب دي او په دي باب کي دعبدالله بن بسر، عبدالله بن حارث جزي ، عبدالله بن مغفل او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

---

[1] سنن ابي داود/ السنة ٢٩ (٤٧٥٦) (تحفة الأشراف: ٥٠٢٦)

****

٥٦_باب مَا جَاءَ فِي عَلامَةِ الدَّجَّالِ

د دجال د نشانو او علاماتو بيان

٢٢٣٥_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النَّاسِ، فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، ثُمَّ ذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ: " إِنِّي لَأُنْذِرُكُمُوهُ، وَمَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَ قَوْمَهُ، وَلَقَدْ أَنْذَرَهُ نُوحٌ قَوْمَهُ، وَلَكِنِّي سَأَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ، تَعْلَمُونَ أَنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ ". قَالَ الزُّهْرِيُّ، وَأَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ ثَابِتٍ الأَنْصَارِيُّ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَئِذٍ لِلنَّاسِ وَهُوَ يُحَذِّرُهُمْ فِتْنَتَهُ: "تَعْلَمُونَ أَنَّهُ لَنْ يَرَى أَحَدٌ مِنْكُمْ رَبَّهُ حَتَّى يَمُوتَ، وَإِنَّهُ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ ك ف ر، يَقْرَؤُهُ مَنْ كَرِهَ عَمَلَهُ" قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ په مينځ کي اودريدو او الله تعالي دشان لائق يي دالله تعالي تعريف اوکړو او بيا يي د دجال ذکر اوکړو او وېي فرمائيل زه تاسو د دجال نه ويروم او تمامو انبياؤ هم خپل قومونه د دجال نه ويرولي دي او نوح عليه السلام هم خپل قوم دده نه ويرولي وو ليکن دهغه متعلق زه تاسو ته يوه خبره کوم کومه چي هيڅ يو نبي خپل قوم ته نه ده کړي تاسو په دي خبره بنه پوهه شئ چي دجال په يوه سترګه کانړي دي او الله تعالي کانړي نه دي، زهري وائي مونږ ته عمر بن ثابت انصاري خبر راکړي دي چي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم بعضي صحابه کرامو ونيلي دي په کومه ورځ چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د دجال دفتني نه خلق ويرول په هغه ورځ يي دا هم فرمائيلي وو ايا تاسو پوهيږئ چي هيڅ يو کس خپل رب لره دمرګ نه مخکي ليدلي نشي او دده دسترګو په مينځ کي به ك، ف، ر، ليکلي شوي وي دده عمل لره نه خوښونکي به دا لولي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي.

---

(١) ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجهاد ١٧٨ (٣٠٥٧) . وأحاديث الأنبياء ٣ (٣٣٣٧) . والمغازي ٧٧ (٤٤٠٢) . والأدب ٩٧ (٦١٧٥) . والفتن ٢٦ (٧١٢٧) . صحيح مسلم /الفتن ١٩ (٢٩٣١) . سنن ابي داود/ السنة ٢٩ (٤٧٥٧) (تحفة الأشراف: ٦٩٣٢) . ومسند احمد (٢/١٣٥، ١٤٩)

****

٢٢٣٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "تُقَاتِلُكُمُ الْيَهُودُ فَتُسَلَّطُونَ عَلَيْهِمْ حَتَّى يَقُولَ الْحَجَرُ: يَا مُسْلِمُ، هَذَا يَهُودِيٌّ وَرَائِي فَاقْتُلْهُ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يهود به تاسو سره جنګيږي او تاسو به ورباندي غالب کيږئ تردي پوري چي کاڼړي به اووائي اي مسلمانانو زما نه شاته يهودي دي ده لره قتل کړئ
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٥٧_بَاب مَا جَاءَ مِنْ أَيْنَ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ

دجال به دکوم ځاي نه راوځي

٢٢٣٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ سُبَيْعٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الدَّجَّالُ يَخْرُجُ مِنْ أَرْضٍ بِالْمَشْرِقِ، يُقَالُ لَهَا: خُرَاسَانُ، يَتْبَعُهُ أَقْوَامٌ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَاهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ شَوْذَبٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ، وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي التَّيَّاحِ. (٢)

ترجمه دابوبکر صديق رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دجال به په مشرق کي ديو ځاي نه راوځي چي خراسان به ورته وئيلي شي او په ده پسي به داسي خلق وي چي مخونه به يي قط په قط دډال پشان وي
امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي، عبدالله بن شوذب او بعضي نورو راويانو دا روايت دابو التياح په سند نقل کړي دي او مونږ يي صرف دابو التياح په روايت پيژنو، او په دي باب کي دابوهريره، او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٩٦١)

2 سنن ابن ماجه/الفتن ٣٣ (٤٠٧٢) (تحفة الأشراف: ٦٦١٣)

****

٥٨_باب مَا جَاءَ فِي عَلاَمَاتِ خُرُوجِ الدَّجَّالِ

د دجال د خروج د علاماتو بيان

٢٢٣٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا الْحَكَمُ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ سُفْيَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ قُطَيْبٍ السَّكُونِيِّ، عَنْ أَبِي بَحْرِيَّةَ صَاحِبِ مُعَاذٍ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْمَلْحَمَةُ الْعُظْمَى وَفَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ وَخُرُوجُ الدَّجَّالِ فِي سَبْعَةِ أَشْهُرٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنِ الصَّعْبِ بْنِ جَثَّامَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه: دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ملحمه عظمي (لوي جنګ) او فتح دقسطنطنيه او د دجال خروج (دا دري واړه واقعات به) په اوو مياشتو کي کيږي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او په دي باب کي د صعب بن جسامه، عبدالله بن بسر، عبدالله بن مسعود، او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٢٣٩_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلاَنَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " فَتْحُ الْقُسْطَنْطِينِيَّةِ مَعَ قِيَامِ السَّاعَةِ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، هِيَ مَدِينَةُ الرُّومِ، تُفْتَحُ عِنْدَ خُرُوجِ الدَّجَّالِ، قَدْ فُتِحَتْ فِي زَمَانِ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [2]

ترجمه: دانس بن مالک رضي الله عنه بيان دي د قسطنطنيه فتح به دقيامت قائميدو وخت کي کيږي

[1] سنن ابي داود، الملاحم ٢ (٤٢٩٥)، سنن ابن ماجه/الفتن ٣٥ (٤٠٩٢) (تحفة الأشراف: ١١٣٢٨)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٦٣)

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، دا دروم ښار دي (قسطنطنيه) چي د دجال دراوتو وخت كي به فتح كيږي، او دا ښار دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دبعضي صحابه كرامو په زمانه كي فتح شوي دي

****

٥٩_باب مَا جَاءَ فِي فِتْنَةِ الدَّجَّالِ

د دجال دفتني بيان

٢٢٤٠_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، دخل حديث أحدهما في حديث الآخر، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ جَابِرٍ الطَّائِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الْكِلَابِيِّ، قَالَ: ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدَّجَّالَ ذَاتَ غَدَاةٍ فَخَفَّضَ فِيهِ وَرَفَّعَ حَتَّى ظَنَنَّاهُ فِي طَائِفَةِ النَّخْلِ، قَالَ: فَانْصَرَفْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ رَجَعْنَا إِلَيْهِ فَعَرَفَ ذَلِكَ فِينَا، فَقَالَ: " مَا شَأْنُكُمْ ؟ " قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ذَكَرْتَ الدَّجَّالَ الْغَدَاةَ فَخَفَّضْتَ فِيهِ وَرَفَّعْتَ حَتَّى ظَنَنَّاهُ فِي طَائِفَةِ النَّخْلِ، قَالَ: " غَيْرُ الدَّجَّالِ أَخْوَفُ لِي عَلَيْكُمْ إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا فِيكُمْ فَأَنَا حَجِيجُهُ دُونَكُمْ، وَإِنْ يَخْرُجْ وَلَسْتُ فِيكُمْ فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِهِ وَاللَّهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، إِنَّهُ شَابٌّ قَطَطٌ عَيْنُهُ طَافِئَةٌ، شَبِيهٌ بِعَبْدِ الْعُزَّى بْنِ قَطَنٍ، فَمَنْ رَآهُ مِنْكُمْ فَلْيَقْرَأْ فَوَاتِحَ سُورَةِ أَصْحَابِ الْكَهْفِ، قَالَ: يَخْرُجُ مَا بَيْنَ الشَّامِ وَالْعِرَاقِ، فَعَاثَ يَمِينًا وَشِمَالًا، يَا عِبَادَ اللَّهِ، اثْبُتُوا ". قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا لَبْثُهُ فِي الْأَرْضِ ؟ قَالَ: " أَرْبَعِينَ يَوْمًا، يَوْمٌ كَسَنَةٍ، وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ، وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ، وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ ". قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ الْيَوْمَ الَّذِي كَالسَّنَةِ أَتَكْفِينَا فِيهِ صَلَاةُ يَوْمٍ ؟ قَالَ: " لَا، وَلَكِنْ اقْدُرُوا لَهُ ". قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَمَا سُرْعَتُهُ فِي الْأَرْضِ ؟ قَالَ: " كَالْغَيْثِ اسْتَدْبَرَتْهُ الرِّيحُ، فَيَأْتِي الْقَوْمَ فَيَدْعُوهُمْ فَيُكَذِّبُونَهُ وَيَرُدُّونَ عَلَيْهِ قَوْلَهُ فَيَنْصَرِفُ عَنْهُمْ، فَتَتْبَعُهُ أَمْوَالُهُمْ وَيُصْبِحُونَ لَيْسَ بِأَيْدِيهِمْ شَيْءٌ، ثُمَّ يَأْتِي الْقَوْمَ فَيَدْعُوهُمْ فَيَسْتَجِيبُونَ لَهُ وَيُصَدِّقُونَهُ، فَيَأْمُرُ السَّمَاءَ أَنْ تُمْطِرَ فَتُمْطِرَ، وَيَأْمُرُ الْأَرْضَ أَنْ تُنْبِتَ فَتُنْبِتَ، فَتَرُوحُ عَلَيْهِمْ سَارِحَتُهُمْ كَأَطْوَلِ مَا كَانَتْ ذُرًى وَأَمَدِّهِ خَوَاصِرَ وَأَدَرِّهِ ضُرُوعًا، قَالَ: ثُمَّ يَأْتِي الْخَرِبَةَ، فَيَقُولُ: لَهَا أَخْرِجِي كُنُوزَكِ، فَيَنْصَرِفُ مِنْهَا فَتَتْبَعُهُ كَيَعَاسِيبِ النَّحْلِ، ثُمَّ يَدْعُو رَجُلًا شَابًّا مُمْتَلِئًا شَبَابًا فَيَضْرِبُهُ بِالسَّيْفِ

فَيَقْطَعُهُ جِزْلَتَيْنِ، ثُمَّ يَدْعُوهُ فَيُقْبِلُ يَتَهَلَّلُ وَجْهُهُ يَضْحَكُ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ، إِذْ هَبَطَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامِ بِشَرْقِيِّ دِمَشْقَ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ، وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى أَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ إِذَا طَأْطَأَ رَأْسَهُ قَطَرَ، وَإِذَا رَفَعَهُ تَحَدَّرَ مِنْهُ جُمَانٌ كَاللُّؤْلُؤِ. قَالَ: وَلَا يَجِدُ رِيحَ نَفْسِهِ يَعْنِي أَحَدًا إِلَّا مَاتَ وَرِيحُ نَفْسِهِ مُنْتَهَى بَصَرِهِ. قَالَ: فَيَطْلُبُهُ حَتَّى يُدْرِكَهُ بِبَابِ لُدٍّ فَيَقْتُلَهُ. قَالَ: فَيَلْبَثُ كَذَلِكَ مَا شَاءَ اللَّهُ. قَالَ: ثُمَّ يُوحِي اللَّهُ إِلَيْهِ أَنْ حَرِّزْ عِبَادِي إِلَى الطُّورِ. فَإِنِّي قَدْ أَنْزَلْتُ عِبَادًا لِي لَا يَدَانِ لِأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ. قَالَ: وَيَبْعَثُ اللَّهُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ. وَهُمْ كَمَا قَالَ اللَّهُ: مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ (الأنبياء : ٩٦) . قَالَ: فَيَمُرُّ أَوَّلُهُمْ بِبُحَيْرَةِ الطَّبَرِيَّةِ فَيَشْرَبُ مَا فِيهَا. ثُمَّ يَمُرُّ بِهَا آخِرُهُمْ. فَيَقُولُ: لَقَدْ كَانَ بِهَذِهِ مَرَّةً مَاءٌ ثُمَّ يَسِيرُونَ حَتَّى يَنْتَهُوا إِلَى جَبَلِ بَيْتِ الْمَقْدِسِ. فَيَقُولُونَ: لَقَدْ قَتَلْنَا مَنْ فِي الْأَرْضِ هَلُمَّ. فَلْنَقْتُلْ مَنْ فِي السَّمَاءِ فَيَرْمُونَ بِنُشَّابِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ. فَيَرُدُّ اللَّهُ عَلَيْهِمْ نُشَّابَهُمْ مُحْمَرًّا دَمًا. وَيُحَاصَرُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَأَصْحَابُهُ. حَتَّى يَكُونَ رَأْسُ الثَّوْرِ يَوْمَئِذٍ خَيْرًا لِأَحَدِهِمْ مِنْ مِائَةِ دِينَارٍ لِأَحَدِكُمُ الْيَوْمَ. قَالَ: فَيَرْغَبُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ إِلَى اللَّهِ وَأَصْحَابُهُ. قَالَ: فَيُرْسِلُ اللَّهُ إِلَيْهِمُ النَّغَفَ فِي رِقَابِهِمْ فَيُصْبِحُونَ فَرْسَى مَوْتَى كَمَوْتِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ. قَالَ: وَيَهْبِطُ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ. فَلَا يَجِدُ مَوْضِعَ شِبْرٍ إِلَّا وَقَدْ مَلَأَتْهُ زَهَمَتُهُمْ وَنَتَنُهُمْ وَدِمَاؤُهُمْ. قَالَ: فَيَرْغَبُ عِيسَى إِلَى اللَّهِ وَأَصْحَابُهُ. قَالَ: فَيُرْسِلُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ طَيْرًا كَأَعْنَاقِ الْبُخْتِ. قَالَ: فَتَحْمِلُهُمْ. فَتَطْرَحُهُمْ بِالْمَهْبِلِ. وَيَسْتَوْقِدُ الْمُسْلِمُونَ مِنْ قِسِيِّهِمْ وَنُشَّابِهِمْ وَجِعَابِهِمْ سَبْعَ سِنِينَ. قَالَ: وَيُرْسِلُ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مَطَرًا لَا يَكُنُّ مِنْهُ بَيْتُ وَبَرٍ وَلَا مَدَرٍ. قَالَ: فَيَغْسِلُ الْأَرْضَ فَيَتْرُكُهَا كَالزَّلَفَةِ. قَالَ: ثُمَّ يُقَالُ لِلْأَرْضِ: أَخْرِجِي ثَمَرَتَكِ وَرُدِّي بَرَكَتَكِ. فَيَوْمَئِذٍ تَأْكُلُ الْعِصَابَةُ مِنَ الرُّمَّانَةِ. وَيَسْتَظِلُّونَ بِقِحْفِهَا. وَيُبَارَكُ فِي الرِّسْلِ. حَتَّى إِنَّ الْفِئَامَ مِنَ النَّاسِ لَيَكْتَفُونَ بِاللَّقْحَةِ مِنَ الْإِبِلِ. وَإِنَّ الْقَبِيلَةَ لَيَكْتَفُونَ بِاللَّقْحَةِ مِنَ الْبَقَرِ، وَإِنَّ الْفَخِذَ لَيَكْتَفُونَ بِاللَّقْحَةِ مِنَ الْغَنَمِ. فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللَّهُ رِيحًا فَقَبَضَتْ رُوحَ كُلِّ مُؤْمِنٍ. وَيَبْقَى سَائِرُ النَّاسِ يَتَهَارَجُونَ كَمَا تَتَهَارَجُ الْحُمُرُ فَعَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ. ([1])

---

[1] - صحيح مسلم/الفتن ٢٠ (٢٩٣٧) . سنن أبي داود/ الملاحم ١٤ (٤٣٢١) . سنن ابن ماجه/الفتن ٣٣ (٤٠٧٥) (تحفة الأشراف ١١٧١١) . و مسند احمد (٤/١٨١)

ترجمه دنواس بن سمعان كلابي نه روايت دى فرماني چي نبي عليه السلام د دجال ذكر وكړو اودده حقارت اودده دفتني سنګين كيدل يي بيان كړل اوخپلو كي يي اواز تيز او په قلاره كړو. تردي چي مونږ ګمان وكړو چي شايد دجال د مديني د كهجورو د باغونو سرد دى. او بيا مونږ درسول الله د خوانه واپس راغلو بيا چي كله واپس ورغلو نو رسول په مونږ ددجال دويري اثر وليدلو اوويىفرمائيل څه معامله ده مونږ عرض وكړو اي د الله رسوله تاسو سحر د دجال ذكر وكړو، اودده حقارت اودده دفتني سنګين كيدل مو بيان كړل، اوخپلو كي مو اواز تيز او په قلاره كړو. تردي چي مونږ ګمان وكړو چي دجال په دي نژدي كهجورو كي موجود دى. رسول الله اوفرمائيل ددجال نه علاوه د نورو اشياؤ په باره كي هم زه په تاسو ډير ويريږم. كه چري دى راوخي اوزه په تاسوكې موجود يم نوزه به دخلقونه مخكې دده مقابله اوكړم .او كه چري دى راوخي اوزه په تاسوكې موجود نه يم نوهريوكس به پخپله دده سره مقابله كوي او الله تعالي دهر مسلمان نګهبان دى . دجال به ګل ګوتي ويختو والاخوان وي اوبه يوه سترګه شيړا وي اود عبد العزي بن قطن سره به مشابه وي، لهذا په تاسوكې چي څوك ده لره بيامومي نوهغه لره پكاردي چي دسورة كهف اولني اياتونه په ده باندي ولولي ځكه چي دغه اياتونه ستاسودپاره ددي فتني نه پناه ده ، اود شام او عراق مينځ كي به راوخي او ښي او ګس طرف ته به فساد خوري، پس اي د الله بندګانو داسي وخت كي ثابت قدم اوسيږئ . بيامونږه عرض اوكړو چي دجال به په زمكه كي څومره وخت تيروي ؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل څلويښت ورځي اواوله ورځ به دكال برابر وي اودويمه ورځ به دمياشت برابروي اودريمه ورځ به دهفتي برابر وي اوباقي ورځي به يى ستاسو دورځوپشان وي ، مونږ عرض اوكړو اي دالله رسوله هغه يوه ورځ كومه چي دكال برابروي ايامونږ به پدي كې صرف ديوي ورځي او شپي مونځونه كوو ؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل نه، پدغه ورځ به تاسو اندازه كوئ ، مونږ عرض اوكړو يارسول الله دهغه دتلورفتار به څه وي، (چي په څوارلس مياشتى كې په ټوله دنيا ګرځي) رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دهغى وريځي په شان چي تيزه هوايى په منډه زغلوي. هغه به يو قوم ته ورشي دعوت به وركړي چي په ماايمان راوړئ هغوئ به يى دعوت قبول نكړي. ايمان به پرى رانوړي نو ددوئ نه به لاړ شي. او دهغوئ مالونه به په ده پسي وريسي شي اوبه داسي حال كي به سبا كړي چي هيڅ به ورسره نه وي ، بيابه يو بل قوم ته ورشي دعوت به وركړي چي په ماايمان راوړئ هغوئ به يى دعوت قبول كړي، ايمان به پرى راوړي اودهغه تابعدار به شي او دده تصديق به وكړي ، هغه به اسمان ته حكم وركړي باران به پرى اوكړي نو باران به ورباندي وشي بيا به زمكى ته حكم اوكړي چي فصلونه ورته راوټوكوي نو فصلونه به راوټوكيږي، نو دهغوئ څاروي به مابنام ماړه كورته راځي ښه به څاربه شي بچي به يى هم ډير شي او پيئ به يى هم زياتى شي (يعني ددي قوم به دنياوي مال دولت او راحت زيات شي) دجال

به په يو شاړه علاقه تيريږي نو هغې زمکې ته به حکم ورکړي چې خزاني رابهر کړه نو دهغې علاقې خزانې به ورپسې روانې شي، لکه دګبين مچئ چې خپل بادشاه يعسوب پسې روانې وي . بيابه يو تکړه خلمی رااوغواړي په توره به يې دوه ټوټې کړي او دواړه ټوټې به دومره لرې لرې کيدي. څومره چې دليندی غشی رسي اواز به ورکړي نو هغه به روغ رمټ په خدا خندا راشي دی به دانخری کوي چې په دی کې به الله عيسي بن مريم عليه السلام دده مقابلې ته راوليږي. هغه به ددمشق ښار نورخاته غاړې ته سپينه مناره باندې راکوز شي زعفراني رنګ جامې به يې اغوستي وي د دوو فرشتو په وزرو به يې لاسونه ايښي وي چې سر راټيټ کړي نو دسپينو مرغلرو په شان صفا څاڅکي به ترې پريوځي او چې اوچت يې کړي هم دمرغلرو په شان څاڅکي به ترې پريوځي په کوم کافر چې دهغه دساه خوشبوئي اولګي سمدستي به مړ شي او دهغه دساه خوشبوئي به ترهغې رسي ترکومې چې يې نظر رسي نو هغه به ددجال تلاش شروع کړي نو دبيت المقدس سره نژدې باب لد نومې ځايې کې به يې لاتدی کړي او قتل به يې کړي . په همدې حالت کې به چې الله تعالي څومره غواړي عيسي عليه السلام به دومره وخت تير کړي ، بيابه ورته الله تعالي وحي راوليږي چې زما بندګان جبل طور طرف ته بوځه، خکه چې ما خپل داسې بندګان نازل کړي دي چې په هيڅا کې دهغوئ سره دجنګيدو طاقت نشته، نو الله تعالي به ياجوج پيدا کړي او هغوئ به داسې وي لکه چې الله تعالي فرمائيلي دي. ومن كل حدب ينسلون. يعني هغوئ به دهر طرف نه په منډه راروان وي دومره بې حسابه به وي رومبی سر به يې په بحيره طبريه کې راتيريږي نو دهغې سمندر ټولې اوبه به اوڅکي (تشه وچې کنده به پاتي شي، تردې چې دوئ به د بيت المقدس غر ورسيږي، نو وايي به چې موږ زمکې والا قتل کړل راشي چې اوس اسمان والا قتل کړو نو اسمان طرف ته به غشي ويشتل شروع کړي. چنانچې الله تعالي به يې هم ورته په وينو سره راواپس کوي. او دغه وخت کې به عسي عليه السلام او دهغه ملګري محصور وي (دخوراك ذخيره به ورسره ختمه شي، دخاروي دسر غوښه به (چې نن يې څوك تپوس هم نه کوي، داسې قدرمنه وي چې دنن دسلو اشرفو نه به زياته وي (يعني ګراني به ډيره زياته وي، عيسي عليه السلام اودهغه اصحاب به الله تعالي ته زاري اوکړي نو الله تعالي به په ياجوج ماجوج داسې مرض راولي چې په څټونو کې به يې چينجي اوشي او ټول به په يوه شپه داسې مړه شي، لکه ديو کس. بيا به عيسي عليه السلام اودهغه اصحاب دکوهي طور نه راکوز شي نو په زمکه به دياجوج ماجوج دمړو نه يو لويشت ځايې هم خالي نه وي ټوله زمکه به دهغوئ دمړو اوبدبويی نه ډکه وي نو بيابه عيسي عليه السلام او دهغه اصحاب الله ته سوالونه اوکړي نو الله تعالي به داسې مرغان راواستوي چې داوښانو غوندې لويې لويې څټونه به يې وي هغوئ به دا مړي اوچت کړي، او چرته لرې به يې

اوغورځوي (خوبدبوني به بياهم پاتې وي) مسلمانان به دهغوئ په تير کشونو او ليندو باندې اوه کالو پوري اور بلوي ، بيا به الله تعالى دومره بارانونه اووروي چي په زمکه به يو دختې يا وېښتو كور (يعنى كچې كور ياخيمى) پاتې نشي ټوله زمكه به لكه دائنې صفا شي ټوله زمكه به اووينځي اوداسى به يې صفا كړي لكه ايينه بيابه زمكى ته حكم اوشي خپلې ميوى راواپس كړه نو ملك به داسى اباد شي چي پوره ډله به په يو انار مړيږي اودانار دپوټكي سوري ته به كيني او په څارو كې به بركت پيدا شي نو ديوى لنګې اوښې په پيو به ټول قوم مړيږي اوديوي لنګى غواپې به ټولي قبيلي ته بس وي او ديوى لنګى بيزى پې به دقبيلى يو شاخ ته كافي وي دوي به په دى خوشحالو شي وي چي الله تعالى به يوه پاكه هوار راوليږي چي ددوئ دترخونو لاندې به هم لګي او دهر مسلمان روح به قبض كړي په زمكه به صرف ناكاره كسان پاتې شي داسى به بې حياوي لكه دخروبه ديو بل مخكښې په ښځو سوريږي په دوئ به قيامت قايم شي او دا دنيا به ورانه شي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح غريب دى اود عبد الرحمن بن يزيد بن جابر د سند نه علاوه په بل سند مونږ ته معلوم نه دى.

لغات . الريح هوا ، جمع ارياح او ارواح او رياح او ريح راخي او جمع الجمعه يي راويح او اراويح دد معني بوي ، ښه څيز ، رحمت، مدت، قوت غلبه الريحة ، هوا او بوي، وبر: په معني دكور مدر معني خيمه.

"خله" معني ده لار. "عاث" لفظ په بې ټكي ع او ددريې ټكو ث ده. معني يې سخت فساد الذرى دذروة جمع ده اوچتې غونډئ ته ونيلى شي.

يعاسيب ديعسوب جمع ده دګبين مچو كې نر ته ونيلى شي.

جزلتين معني ده دا عبارت دلته رانقل كړي غرض ونيلى شي هغې نښى ته چي دغشو ويشتو نشانى صحيح كولو مشق دپاره كېښوى شي هدف هم ورته ونيلى شي، يعنى دواړه ټكړيي دومره لري اوغورزولى په څومره فاصله چي غشي ويشتوته ښه كيخودى شي

مهرودة لفظ بې ټكي دال دى او په ذال هم ونيلى شي رنګدارى جامى لايدان معني ده دهيڅ طاقت نشته.

نغف يو قسم چينجى دى فرسي دفريس جمع ده په معني دمقتول په معني الزلفة د ز ل ق دريواړو زور دى او يو روايت الزلفة هم دى د ، ر. پيښ دى دال سكون او ف زور دى ددواړو معنى يو ده صفا ائينه عصابة ډله. الرسل د ر زير دى پې: اللقحه، لنګه اوښه چي پې وركوي. فئام، دف زير دى وريسى همزه ده ډله فخد دقبيلى يو شاخ (رياض الصالحين نووي)

تشريح: "فأنا حجيجه دونكم" په دي کې ديته اشاره ده که چري ستاسو په ژوند کې دجال ظاهر شي نو رسول الله به دخپل امت دطرف نه کافي وي او درسول الله دوفات نه پس ددجال دظاهريدو په صورت کې دهر مومن ذمه داري داده چي تکليف به برداشت کوي مګر خان به د دجال دشر نه بچ کوي

شبيه بعبد العزي بن قطن: ګويا کې دعبدالعزي بن قطن سره به مشابه وي ، عبدالعزي ديو يهودي نوم وو اګر چي دنوم نه خو دکوم مشرك نوم معلوميږي

سوال عبدالعزي خو دبعثت نبوي نه مخکې مړ شوی وو رسول الله خو دده سره ليدل نه وو کړي نو تشبيه يې ورسره څنګه ورکړي ده.

جواب رسول الله ته دکشب يادخوب په ذريعه خودلی شوی وو څکه يې ورسره تشبيه ورکړي ده.

فاليقرء عليه فواتيح سورة الکهف: دسورة کهف په ابتدائي ايتونو دي دم کړي يعني د ان يقولونه نه د الاکذبا پوري اولولي.

علامه طيبي وائي چي دسورة کهف دابتدائي ايتونو خاصيت دادی چي ددي دلوستونکي زره د دجال دفتني نه بچ کيږي لکه چي داصحاب کهف په زمانه کې هغوئ دغټ شر او فتني نه بچ شوي وو.

"ربعون يوما" يعني دجال به په زمکه کې څلويښت ورځي تيروي په بل روايت کې دڅلويښت کالو ذکر راغلی دی يا ددي دا مطلب دی چي په زمکه کې به څلويښت کاله تيروي خو څلويښت ورځي به ښه شر او فساد خوروي.

کنوزها کيعاسيب النحل: دشهدو دمچو دسردارانو پشان په دوئ پسي شي

يعاسيب ديعسوب جمع ده معني يې دشهدو دمچو سردار دی مطلب دادی لکه څنګه چي دشهدو دمچو سردار مخکې روان وي او نوري مچې ورپسي وي نو دا رنګي دجال به هم مخکې روان وي او خزانه به هم ورسره وي او نور خلق به ورپسي وي

فينزل عند المنارة البيضاء شرقي دمشق بين مهرودتين: داسمان نه به د دمشق شرقي طرف ته دسپيني مناري سره په زيړ لباس کې راکوز شي

په يو بل روايت کې راځي چي عيسي عليه السلام به بيت المقدس ته راکوز شي او په يو روايت کې دي چي عيسي عليه السلام به دمسلمانانو په اجتماع ګاه کې راکوز شي په دي تولو روايتونو کې تعارض نشته علماء وائي چي عيسي عليه السلام به په بيت المقدس کې کوزيږي کومه چي د دمشق په مشريقي طرف کې دی او په بيت المقدس کې به دمسلمانانو اجتماع ګاه وي.

سوال په دي حديث كې خو دسپين مينار ذكر هم راغلی دی او دا مينار خو په بيت المقدس كې نشته

جواب ممكن ده چي دعيسي عليه السلام دراكوزيدو نه مخكې دا مينار په بيت المقدس كې جوړ كړی شي

فلايحل لكافر يجد ريح نفسه الا ماته : يعني هر كافر باندي چي دده دساه بوي اولګي نو مړ به شي

سوال نو دعيسي عليه السلام دساه په بوي باندي دجال ولي نه مړ كيږي دی خو به هم يو كافر وي

جواب دجال ددينه مستثني دی او عيسي عليه السلام به يي پخپله قتل كوي او په وينو ككړه خپله نيزه به مسلمانانو ته ښائي تردي چي تول په اطمينان شي دبعضو قول دی كله چي عيسي عليه السلام داسمان نه راكوز شي نو دهغه سره به په لاس كې دا معجزه وي چي كافران به دده په ساه اخستلو مري ليكن وروسته به دا معجزه ختم شي او دجال به ددي معجزي دختميدو نه پس ظاهر شي

اللد په شام كې ديو غر نوم دی او دبعضو په قول دبيت المقدس سره خوا كې ديو كلي نوم دی او دبعضو په قول په فلسطين كې ديو كلي نوم دی بيا به باران اوشي او هيڅ يو خاي به ددي باران نه بچ نشي چي زمكه به ورباندي بالكل صافه شي او بركتونه به په زمكه ظاهر شي لكه چي په يو حديث كې راغلي دي چي صرف يو انار به دپوره جماعت دپاره كافي وي.(روضة الصالحين، مباركپوري).

دنواس بن سمعان رضي الله عنه مناقب

نوم نواس دپلار نوم سمعان بن خالد بن عمرو بن قرط دبنو كلاب سره دده تعلق وو او دشام اوسيدونكی وو په شاميانو كې شميرلی شي دده پلار دوفد په شكل كې دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو او رسول الله ته يې يو جوړه پيزار هم په تحفه كې وركړل او رسول الله ورنه قبول هم كړل او دعا يي ورته هم اوكړه

****

٦٠_باب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الدَّجَّالِ

د دجال داوصافو او حليه بيان

٢٢٤١_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الدَّجَّالِ، فَقَالَ: " أَلَا

إِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ، أَلَا وَإِنَّهُ أَعْوَرُ عَيْنُهُ الْيُمْنَى كَأَنَّهَا عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ سَعْدٍ، وَحُذَيْفَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَسْمَاءَ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَالْفَلَتَانِ بْنِ عَاصِمٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. ([1])

ترجمه - دعبدالله بن عمررضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه د دجال باره كي تپوس اوكړي شو نو ويې فرمائيل واورئ ستاسو رب كاڼړي نه دي مګر دجال كاڼړي دي دده يوه ستركه به دانګور ددانې پشان بوته راوتلي وي

امام ترمذي وايي. داحديث دابن عمر په روايت حسن صحيح غريب دي. او په دي باب كي د سعد. حذيفه. ابوهريره . اسماء. جابر بن عبدالله. ابوبكره. او عائشه. انس. ابن عباس. او فلتان بن عاصم رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٦١_باب مَا جَاءَ فِي الدَّجَّالِ لاَ يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ

دجال به مديني ته داخليدي نشي

٢٢٤٢_حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْخُزَاعِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَأْتِي الدَّجَّالُ الْمَدِينَةَ فَيَجِدُ الْمَلَائِكَةَ يَحْرُسُونَهَا، فَلَا يَدْخُلُهَا الطَّاعُونُ وَلَا الدَّجَّالُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَفَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، وَسَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، وَمِحْجَنٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه دانس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجال چي مديني ته راشي نو فرشتي به دمديني دڅوكيدارئ په حال كي اووينئ خو مديني ته به طاعون مرض او دجال كه الله اوغواړي داخل نشي

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٣٨(٣٣٣٩)، والفتن ٢٦(٧١٣٢)، والتوحيد ١٧(٤٤٠٧). صحيح مسلم /الفتن ٢٠(١٠٠/١٦٩) وانظر أيضا ماتقدم برقم ٢٢٣٥ (تحفة الأشراف ٨١٢١)

[2] اورده البخاري في الجامع الصحيح /الفتن ٢٧(٧١٣٤)، والتوحيد ٣١(٧٤٧٣) (تحفة الأشراف ١٢٦٩) ومسند أحمد (٣/١٢٣، ٢٠٣، ٢٠٦، ٢٢٩، ٢٤٤، ٢٩٣)

امام ترمذي وايي. په دي باب کي دابوهريره، او فاطمه بنت قيس، اواسامه بن زيد او سمره بن جندب او محجن رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

دقتاده بن ملحان رضي الله عنه مناقب

نوم قتاده دپلار نوم ملحان په اخر کې په بصره کې اوسيدو علامه ابن اسير واني چي ده د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه صرف دوه احاديث نقل کړي دي.

****

٢٢٤٣ـحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الإِيمَانُ يَمَانٍ، وَالْكُفْرُ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ، وَالسَّكِينَةُ لِأَهْلِ الْغَنَمِ، وَالْفَخْرُ وَالرِّيَاءُ فِي الْفَدَّادِينَ أَهْلِ الْخَيْلِ وَأَهْلِ الْوَبَرِ، يَأْتِي الْمَسِيحُ إِذَا جَاءَ دُبُرَ أُحُدٍ صَرَفَتِ الْمَلَائِكَةُ وَجْهَهُ قِبَلَ الشَّامِ، وَهُنَالِكَ يَهْلِكُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ايمان ديمن دطرفه راوتلي دي او کفر دمشرق دطرفه راوتلي دي، دسکون او اطمينان والا زندګي دچيلو والا خلقو ده او دفخر او رياکارئ والا زندګي په فدادين يعني اسونو او اوښانو والا خلقو ده هر کله چي دجال داحد نه شاته راشي نو فرشتي به يي مخي شام طرف ته اوګرځوي او په شام کي به هلاك شي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٦٢ـباب مَا جَاءَ فِي قَتْلِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ الدَّجَّالَ

دجال لره دعيسي عليه السلام دقتل کولو بيان

٢٢٤٤ـحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عُبَيْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ الأَنْصَارِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ الأَنْصَارِيِّ مِنْ بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَمِّي مُجَمِّعَ ابْنَ جَارِيَةَ الأَنْصَارِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "يَقْتُلُ

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ١٥ (٣٣٠١)، والمناقب ١ (٣٤٩٩)، والمغازي ٧٤ (٤٣٨٨)، صحيح مسلم/الإيمان ٢١ (٨٥/٥٢، ٨٦) (تحفة الأشراف: ١٣٠٤٨)، ومسند احمد (٢/٢٥٨، ٥٢١)

ابْنُ مَرْيَمَ الدَّجَّالَ بِبَابِ لُدٍّ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَنَافِعِ بْنِ عُتْبَةَ، وَأَبِي بَرْزَةَ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَكَيْسَانَ، وَعُثْمَانَ بْنِ أَبِي العَاصِ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَسَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، وَالنَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ، وَعَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ اليَمَانِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه مجمع بن جاريه انصاري رضي الله عنه وائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي چي عيسى عليه السلام به دجال لره په باب لد مقام كي قتل كړي

امام ترمذي وايي: په دي باب كي دعمران بن حصين ، نافع بن عتبه، ابوبرده، حذيفه بن اسيد، ابوهريره، كيسان، عثمان، جابر، ابوامامه، ابن مسعود، عبدالله بن عمرو، سمره بن جندب، نواس بن سمعان، عمرو بن عوف، او حذيفه بن يمان رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٢٤٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسًا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَ أُمَّتَهُ الأَعْوَرَ الكَذَّابَ، أَلَا إِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ، مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ ك ف ر". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : د انس رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر يو پيغمبر په خپله زمانه كي خپل امت ددى ړوند كذاب نه ويرولى دى خبردار دجال په يوه ستركه ړوند دى اوستاسو رب كانړى نه دى (هغه خو دهر عيب نه پاك دى) د دجال په تندي به د دوارو ستركو ترمينځه قدرتي طور كافر ليكلى وي.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دى.

لغات اعور: اعوره اعوارا معني دچا ستركه كانړى كول .

تشريح : مامن نبي الا وقد انذر امته الخ. هيڅ يو نبي به نه راځي مګر هغه به خپل امت ددجال نه يرولى وي محدثينو ددي جملي مطلب دا بيان كړى دى چي الله تعالي ددجال دپاره وخت نه

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٢١٥)

2 - اورده البخاري في الجامع الصحيح/الفتن ٢٦ (٧١٣١) ، والتوحيد ١٧ (٧٤٠٨) . صحيح مسلم/الفتن ٢٠ (٢٩٣٣) . سنن أبي داود/الملاحم ١٣ (٤٣١٦) (تحفة الأشراف: ١٢٢١)

دی مقرر کړی صرف دومره يي خودلي دي چي قيامت ته نزدي به ظاهريږي او دقيامت دراتلو وخت خو چاته معلوم نه دی ددجال دښکاره کيدو وخت هم معلوم نه دی
انه اعور. دجال به کانړی وي او الله تعالي کانړی نه دی. دمسلمانانو عقيده داده چي دالله تعالي په ذات او صفاتو کي هيڅ قسم عيب او نقصان نشته
مکتوب بين عينه ك . ف . ر. علماء وائي چي دك ف ر نه مراد کفر دی چي ايمان والابه يي لولي او دا خبره هم ده چي دجال طرف ته درابللو او خورولوباعث به وي لهذا ددجال نه خان اوساتي او اطاعت يي اونکړئ دا دامت محمديه دپاره انعام دی چي الله تعالي ددوئ دپاره ددجال د دوه سترګو په مينځ کي کفر ليکلی‌دی چي ايمان والابه يي لوستلی شي ددي دپاره چي دمکر او فريب نه يي بچ شي.

****

٦٣_بَاب مَا جَاءَ فِي ذِكْرِ ابْنِ صَائِدٍ

دابن صائد (ابن صياد) بيان

٢٢٤٦_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنْ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: " صَحِبَنِي ابْنُ صَائِدٍ إِمَّا حُجَّاجًا، وَإِمَّا مُعْتَمِرِينَ. فَانْطَلَقَ النَّاسُ وَتُرِكْتُ أَنَا وَهُوَ. فَلَمَّا خَلَصْتُ بِهِ اقْشَعْرَرْتُ مِنْهُ وَاسْتَوْحَشْتُ مِنْهُ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ فِيهِ. فَلَمَّا نَزَلْتُ. قُلْتُ لَهُ: ضَعْ مَتَاعَكَ حَيْثُ تِلْكَ الشَّجَرَةِ. قَالَ: فَأَبْصَرَ غَنَمًا فَأَخَذَ الْقَدَحَ فَانْطَلَقَ. فَاسْتَحْلَبَ ثُمَّ أَتَانِي بِلَبَنٍ. فَقَالَ لِي: يَا أَبَا سَعِيدٍ، اشْرَبْ. فَكَرِهْتُ أَنْ أَشْرَبَ مِنْ يَدِهِ شَيْئًا لِمَا يَقُولُ النَّاسُ فِيهِ. فَقُلْتُ لَهُ: هَذَا الْيَوْمُ يَوْمٌ صَائِفٌ، وَإِنِّي أَكْرَهُ فِيهِ اللَّبَنَ. قَالَ لِي: يَا أَبَا سَعِيدٍ، هَمَمْتُ أَنْ آخُذَ حَبْلًا فَأُوثِقَهُ إِلَى شَجَرَةٍ ثُمَّ أَخْتَنِقَ لِمَا يَقُولُ النَّاسُ لِي، وَفِيَّ أَرَأَيْتَ مَنْ خَفِيَ عَلَيْهِ حَدِيثِي فَلَنْ يَخْفَى عَلَيْكُمْ. أَلَسْتُمْ أَعْلَمَ النَّاسِ بِحَدِيثِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الأَنْصَارِ. أَلَمْ يَقُلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ كَافِرٌ وَأَنَا مُسْلِمٌ. أَلَمْ يَقُلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ عَقِيمٌ لَا يُولَدُ لَهُ وَقَدْ خَلَّفْتُ وَلَدِي بِالْمَدِينَةِ. أَلَمْ يَقُلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ أَوْ لَا تَحِلُّ لَهُ مَكَّةُ وَالْمَدِينَةُ. أَلَسْتُ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ وَهُوَ ذَا أَنْطَلِقُ مَعَكَ إِلَى مَكَّةَ. فَوَاللَّهِ مَا زَالَ يَجِيءُ بِهَذَا حَتَّى قُلْتُ فَلَعَلَّهُ مَكْذُوبٌ عَلَيْهِ. ثُمَّ قَالَ: يَا أَبَا سَعِيدٍ، وَاللَّهِ لَأُخْبِرَنَّكَ خَبَرًا حَقًّا. وَاللَّهِ إِنِّي لَأَعْرِفُهُ وَأَعْرِفُ وَالِدَهُ وَأَعْرِفُ أَيْنَ هُوَ السَّاعَةَ مِنَ الأَرْضِ. فَقُلْتُ: تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

حَسَنٌ صَحِيحٌ.(1)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرماني چي په حج يا عمره كي ابن صياد زما سره وو خلق مخكي تير شول او مونږ دواړه روسته پاتي شو، هر كله چي زه دده سره يواځي پاتي شوم نو خلقو چي به دده باره كي څه ونيل دهغي په وجه زما غوني زيګ شو او زه ورنه اوويريدم چنانچي كله زه دسورلئ نه كوز شوم نو هغه ته مي اوونيل ددي اوني سره خپل سامان كيږده بيا هغه چيلئ اوليدي نو يو لوښي يي راواخستلو او دچيلو نه يي شوده راوړل بيا يي زما خواته شوده كينبودل او ماته يي اوونيل اي ابوسعيد اوڅكه ليكن ما دهغه دلاسه دكوم څيز څكل خوښ نكړل او وجه ددي دا وه چي خلقو به دده باره كي ونيل چي دجال دي، چنانچي ما ورته اووونيل نن ډيره سخته ګرمي ده څكه زه شوده څكل نه خوښوم هغه اوونيل اي ابوسعيد ما اراده كړي ده چي په يوبړي خپل ځان په دي اونه پوري اوتړم او يا خپله مرئ پري كړم او مړ شم ددي وجه داده چي خلق په مابانديدي بدګمانياني كوي، ته راته اووايه زما خبري خو به دخلقو نه پټي پاتي شي مګر ستا نه خو پټي نه پاتي كيږي اي دانصارو خلقو ايا تاسو درسول الله صلي الله عليه وسلم په احاديثو زيات پوهيدونكي نه يئ؟ او ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم د دجال باره كي دا نه دي فرمائيلي چي دجال كافر دي؟ او زه مسلمان يم ايا رسول الله دا نه دي فرمائيلي ؟ چي دجال شند دي اولاد به يي نه كيږي مګر ما خو په مدينه كي خپل اولاد پريخودلي دي ايا رسول الله دا نه دي فرمائيلي؟ چي دجال به مديني ته نشي داخليدي نو ايا زه په مدينه كي داخل نه يم چي ستاسو سره مكي ته روان يم ابوسعيد اوونيل په الله قسم هغه داسي دلائل پيش كول تردي چي ما اوونيل شايد خلق دده باره كي دروغ واني او بيا هغه اوونيل اي ابوسعيد په الله قسم په دي باره كي درته رښتيا اووايم زه دجال پيژنم او هغه دروازه هم پيژنم او ماته دا هم معلومه ده چي اوس دجال د زمكي په كومه حصه كي دي ما ورته اوونيل ستادپاره دي تمامه تباهي وي

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي

****

۲۲۴۷_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: لَقِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَ صَائِدٍ فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ فَاحْتَبَسَهُ، وَهُوَ غُلَامٌ يَهُودِيٌّ وَلَهُ ذُؤَابَةٌ وَمَعَهُ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ. فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَشْهَدُ أَنِّي

---

1 صحيح مسلم/الفتن ١٩ (٩١/٢٩٢٧) (تحفة الأشراف : ٤٢٢٨)

رَسُولُ اللَّهِ ؟ فَقَالَ: أَتَشْهَدُ أَنْتَ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: آمَنْتُ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ. قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا تَرَى ؟ قَالَ: أَرَى عَرْشًا فَوْقَ الْمَاءِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَرَى عَرْشَ إِبْلِيسَ فَوْقَ الْبَحْرِ. قَالَ: فَمَا تَرَى؟ قَالَ: أَرَى صَادِقًا وَكَاذِبِينَ، أَوْ صَادِقِينَ وَكَاذِبًا. قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لُبِسَ عَلَيْهِ فَدَعَاهُ".
قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُمَرَ، وَحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَجَابِرٍ، وَحَفْصَةَ.
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه . دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دابن صياد سره دمديني په لارو كي مخامخ شو او ويي نيولو او دا يو يهودي هلك وو چي په سر يي يوه كمڅئ وه او په دي وخت كي درسول الله سره ابوبكر او عمر رضي الله عنهما موجود وو رسول الله اوفرمائيل ايا ته ددي خبري ګواهي وركوي چي زه دالله رسول يم؟ نو هغه اووئيل ايا ته ګواهي وركوي چي زه دالله رسول يم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ما په الله تعالي اودهغه په فرشتو او دهغه په كتابونو او دهغه په رسولانو او په ورځ داخرت ايمان راوړي دي، رسول الله تپوس اوكړو ته څه ويني؟ هغه اووئيل داوبو دپاسه يو عرش وينم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ته دسمندر دپاسه دابليس عرش ويني رسول الله اوفرمائيل ته نور څه ويني؟ هغه اووئيل يو رښتوني او دوه دروغژن يا دوه دروغژن او يو رښتوني وينم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په ده باندي معامله مشتبه شوي ده او بيا يي دي پريخودو امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او په دي باب كي دعمر، حصين بن علي، عبدالله بن عمر، ابوذر، ابن مسعود، جابر، او حفصه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٢٤٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَمْكُثُ أَبُو الدَّجَّالِ وَأُمُّهُ ثَلَاثِينَ عَامًا لَا يُولَدُ لَهُمَا وَلَدٌ، ثُمَّ يُولَدُ لَهُمَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضَرُّ شَيْءٍ وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً، تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ". ثُمَّ نَعَتَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ، فَقَالَ: "أَبُوهُ طِوَالٌ ضَرْبُ اللَّحْمِ كَأَنَّ أَنْفَهُ مِنْقَارٌ، وَأُمُّهُ فِرْضَاخِيَّةٌ طَوِيلَةُ الْيَدَيْنِ". فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ: فَسَمِعْنَا بِمَوْلُودٍ فِي الْيَهُودِ بِالْمَدِينَةِ، فَذَهَبْتُ أَنَا وَالزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى أَبَوَيْهِ، فَإِذَا نَعْتُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

1 _ صحيح مسلم/الفتن ١٩ (٢٩٢٥/٨٧) (تحفة الأشراف: ٤٣٢٩)

وَسَلَّمَ فِيهِمَا. فَقُلْنَا: هَلْ لَكُمَا وَلَدٌ ؟ فَقَالَا: مَكَثْنَا ثَلَاثِينَ عَامًا لَا يُولَدُ لَنَا وَلَدٌ ثُمَّ وُلِدَ لَنَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضَرُّ شَيْءٍ وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً. تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ. قَالَ: فَخَرَجْنَا مِنْ عِنْدِهِمَا. فَإِذَا هُوَ مُنْجَدِلٌ فِي الشَّمْسِ فِي قَطِيفَةٍ لَهُ وَلَهُ هَمْهَمَةٌ فَكَشَفَ عَنْ رَأْسِهِ. فَقَالَ: مَا قُلْتُمَا ؟ قُلْنَا: وَهَلْ سَمِعْتَ مَا قُلْنَا ؟ قَالَ: نَعَمْ. تَنَامُ عَيْنَايَ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ.[1]

ترجمه دابوبکره رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي د دجال مور او پلار به دیرشو کالو پوري په داسي حال کي وخت تیروي چي ددوئ به دیرشتو کالو پوري بچي نه پیداکیږي او بیا به یي یو کوږ سترګي کاڼږي بچي پیدا شي چي نقصان به یي زیات او فائده به یي کمه وي سترګي به یي اودي کیږي مګر زړه به یي نه اوده کیږي او بیا رسول الله صلي الله علیه وسلم دده دمور او پلار دحلیه بیانولو په حال کي اوفرمائیل چي پلار به یي لوړ دنګ او اوچ جسم والاوي او پوزه به یي دمخوکي پشان وي او مور به یي دروند جسم او اوږدو لاسونو والاوي، ابوبکره وائي مونږ په مدینه کي په یهودو کي په یو داسي هلك باره کي واوریدل نو زه او زبیر بن عوام ورغلو تردي چي مور او پلار ته یي ورسیږو نو هغوئ بالکل همداسي وو څنګه چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي وو مونږ ورته اوونیل ایا ستا کوم خوي شته؟ هغوئ اوونیل هو، د دیرشتو کالو پوري زمونږ خوي نه وو خو بیا زمونږه یو بچي پیدا شو چي نقصان یي زیات او فائده یي کمه ده سترګي یي اودي کیږي مګر زړه یي نه اوده کیږي نو مونږ ددوئ دخوا نه روان شو او دغه هلك په غرمو کي په یو ډبل څادر کي پروت وو او خرړیدو چي بیا یي دخپل سر نه جامه لري کړه او تپوس یي اوکړو تاسو دواړو څه اوونیل؟ مونږ ورته اوونیل مونږ چي څه ونیلي دي ایا تا واوریدل؟ هغه اوونیل هو، زما سترګي اودي کیږي مګر زړه مي نه اوده کیږي.

امام ترمذي وایي: دا حدیث حسن غریب دي او مونږ یي صرف دحماد بن سلمه په سند پیژنو.

****

٢٢٤٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ. عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِابْنِ صَيَّادٍ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ. وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ عِنْدَ أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ وَهُوَ غُلَامٌ. فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى ضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٦٨٨)

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ، ثُمَّ قَالَ: "أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ؟" فَنَظَرَ إِلَيْهِ ابْنُ صَيَّادٍ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الأُمِّيِّينَ، ثُمَّ قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَشْهَدُ أَنْتَ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "آمَنْتُ بِاللَّهِ وَبِرُسُلِهِ". ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا يَأْتِيكَ؟" قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ: يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خُلِطَ عَلَيْكَ الأَمْرُ". ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي خَبَأْتُ لَكَ خَبِيئًا وَخَبَأَ لَهُ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَاءُ بِدُخَانٍ مُبِينٍ (الدخان: ١٠)". فَقَالَ ابْنُ صَيَّادٍ: هُوَ الدُّخُّ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اخْسَأْ فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ". قَالَ عُمَرُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ائْذَنْ لِي فَأَضْرِبَ عُنُقَهُ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنْ يَكُ حَقًّا فَلَنْ تُسَلَّطَ عَلَيْهِ، وَإِنْ لَا يَكُنْهُ فَلَا خَيْرَ لَكَ فِي قَتْلِهِ". قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: يَعْنِي الدَّجَّالَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دځپلو صحابه كرامو ديو جماعت سره چي عمر فاروق پكي هم شامل وو دابن صياد په خوا كي تير شو او دغه وخت كي ابن صياد دماشومانو سره دبني مغاله د ډيركو سره لوبي كولي دا يو وړوكي ماشوم وو نو په دي وجه ورته درسول الله دراتګ احساس دهغه وخته پوري اونه شو تر څو پوري چي رسول الله خپل لاس دهغه په خيټه نه وو راښكلي او رسول الله بيا اوفرمائيل ايا ته ګواهي وركوي چي زه دالله رسول يم؟ ابن صياد ورته اوكتل او ويي وئيل زه ګواهي وركوم چي ته داميانو رسول يي او بيا ابن صياد رسول الله ته اووئيل اياته ګواهي وركوي چي زه دالله رسول يم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه خو په الله تعالي او دهغه په رسولانو ايمان لرم خو بيا رسول الله تپوس اوكړو تاته (دغيب دطرفه) څه راځي ابن صياد اوونيل ماته يو رښتوني او يو دروغژن راځي رسول الله اوفرمائيل په تا باندي معامله مشتبه شوي ده رسول الله اوفرمائيل زه ستا دپاره په زړه كي يوه خبره پټوم او رسول الله په دي وخت كي "يوم تاتي السماء بدخان مبين" پټ كړو ابن صياد اووئيل په زړه كي پټ كړي شوي څيز "دخ" دي رسول الله اوفرمائيل كوري شه ته دځپل حد نه وړاندي نشي تيريدي عمر رضي الله عنه اووئيل اي دالله رسوله اجازت راكړه چي څټ يي اووهم رسول الله اوفرمائيل كه چري دي حقيقي دجال وي

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجنائز ٧٩ (١٣٥٤)، والجهاد ١٧٨ (٣٠٥٥)، والأدب ٩٧ (٦٦١٨)، صحيح مسلم/الفتن ١٩ (٢٩٣٠)، سنن ابي داود/ الملاحم ١٦ (٤٣٢٩) (تحفة الأشراف: ٦٩٣٢)، ومسند احمد (٢/١٤٨)

نو ته ورباندي غالب كيدي نشي او كه دجال نه وي نو ستادپاره دده په قتل كي هيڅ فائده نشته. عبدالرزاق وائي دحقا نه درسول الله مراد دجال دي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي
****

٦٤_باب مِنْهُ
دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٢٥٠_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا عَلَى الأَرْضِ نَفْسٌ مَنْفُوسَةٌ، يَعْنِي الْيَوْمَ تَأْتِي عَلَيْهَا مِائَةُ سَنَةٍ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَبُرَيْدَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه دجابررضي الله نه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي نن چي څوك هم د زمكي په مخ ژوندي دي سل كاله پس به دوئ مؤجود نه وي
امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او په دي باب كي دابن عمر، ابوسعيد خدري، او بريده رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي
****

٢٢٥١_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَبِي بَكْرِ بنِ سُلَيْمَانَ وَهُوَ ابْنُ أَبِي حَثْمَةَ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ صَلاَةَ الْعِشَاءِ فِي آخِرِ حَيَاتِهِ، فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ، فَقَالَ: " أَرَأَيْتَكُمْ لَيْلَتَكُمْ هَذِهِ عَلَى رَأْسِ مِائَةِ سَنَةٍ مِنْهَا لاَ يَبْقَى مِمَّنْ هُوَ عَلَى ظَهْرِ الأَرْضِ أَحَدٌ ". قَالَ ابْنُ عُمَرَ: فَوَهَلَ النَّاسُ فِي مَقَالَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ فِيمَا يَتَحَدَّثُونَهُ مِنْ هَذِهِ الأَحَادِيثِ عَنْ مِائَةِ سَنَةٍ، وَإِنَّمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لاَ يَبْقَى مِمَّنْ هُوَ الْيَوْمَ عَلَى ظَهْرِ الأَرْضِ أَحَدٌ " يُرِيدُ بِذَلِكَ أَنْ يَنْخَرِمَ ذَلِكَ الْقَرْنُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 - تفرد به المؤلف. وانظر صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٥٣ (٢٥٣٨) (تحفة الأشراف : ٢٣٢١) . و مسند احمد (٣/٣٠٥، ٣١٢، ٣٢٢، ٣٣٥، ٣٨٥)

2 - اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٤١ (١١٦) . والمواقيت الصلاة ٢٠ (٦٠١) . صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٥٣ (٢٥٣٧) . سنن ابي داود/الملاحم ١٨ (٤٣٤٨) (تحفة الأشراف : ٦٩٣٤)

ترجمه دعبدالله بن عمررضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په اخري عمر کي مونږ ته يوه شپه دماخوستن مونځ راکړو کله چي يې سلام اوګرځولو نو اودريدو او ويې فرمائيل ايا تاسو خپله نن شپه وينئ نن چي دزمکي په مخ څومره خلق موجود دي دسل کالو دتيريدو نه پس به په دوئ کي يو هم باقي پاتي نه وي، ابن عمر رضي الله عنه وائي خلق ددي خبري په اوريدو په مغالطه کي پريوتل چي ابن عمر دسول الله نه داسي حديث بيانوي چي دسلو کالو نه پس به قيامت راځي او حال دادي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمائيلي وو چي نن څوك موجود دي په دوئ کي به سل کاله پس څوك هم موجود نه وي يعني ددوئ نسل او قرن به ختم شي.

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي.

****

٦٥ـ باب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنْ سَبِّ الرِّيَاحِ

هواته دکنځلوکولو دمما نعت بيان

٢٢٥٢ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ ذَرٍّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَسُبُّوا الرِّيحَ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ مَا تَكْرَهُونَ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ الرِّيحِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ الرِّيحِ وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه . دابئ بن کعب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هوا او باد ته کنځل مه کوئ که په دي کي چرته کوم ناکاره او ناخوښه څيز اووينئ نو دا دعا وائي " اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ الرِّيحِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ "يعني اي الله مونږ ستا نه ددي هوا بهتري غواړو او هغه بهتري غواړو کومه چي په دې کي ده او هغه بهتري غواړو په کومه چي دا مامور ده او په تاباندي پناه غواړو د هوا دشر نه او دهغه شر نه کوم چي په دي کي موجود دي او دهغه شر نه دکوم چي ديته حکم شوي دي.

[1] ـ سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٧١ (٩٣٣،٩٣٦) (تحفة الأشراف: ٥٦)، ومسند احمد (٥/١٢٣)

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعائشه، ابوهريره، عثمان، انس، ابن عباس او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٦٦_ باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يو بل باب

٢٢٥٣_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَضَحِكَ، فَقَالَ: إِنَّ تَمِيمًا الدَّارِيَّ حَدَّثَنِي بِحَدِيثٍ فَفَرِحْتُ، فَأَحْبَبْتُ أَنْ أُحَدِّثَكُمْ، حَدَّثَنِي أَنَّ "نَاسًا مِنْ أَهْلِ فِلَسْطِينَ رَكِبُوا سَفِينَةً فِي الْبَحْرِ فَجَالَتْ بِهِمْ، حَتَّى قَذَفَتْهُمْ فِي جَزِيرَةٍ مِنْ جَزَائِرِ الْبَحْرِ، فَإِذَا هُمْ بِدَابَّةٍ لَبَّاسَةٍ نَاشِرَةٍ شَعْرَهَا، فَقَالُوا: مَا أَنْتِ ؟ قَالَتْ: أَنَا الْجَسَّاسَةُ، قَالُوا: فَأَخْبِرِينَا، قَالَتْ: لَا أُخْبِرُكُمْ وَلَا أَسْتَخْبِرُكُمْ، وَلَكِنْ ائْتُوا أَقْصَى الْقَرْيَةِ فَإِنَّ ثَمَّ مَنْ يُخْبِرُكُمْ وَيَسْتَخْبِرُكُمْ، فَأَتَيْنَا أَقْصَى الْقَرْيَةِ فَإِذَا رَجُلٌ مُوثَقٌ بِسِلْسِلَةٍ، فَقَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ عَيْنِ زُغَرَ، قُلْنَا: مَلْأَى تَدْفُقُ، قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنِ الْبُحَيْرَةِ، قُلْنَا: مَلْأَى تَدْفُقُ، قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنْ نَخْلِ بَيْسَانَ الَّذِي بَيْنَ الْأُرْدُنِّ وَفِلَسْطِينَ هَلْ أَطْعَمَ ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: أَخْبِرُونِي عَنِ النَّبِيِّ هَلْ بُعِثَ ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، قَالَ: أَخْبِرُونِي كَيْفَ النَّاسُ إِلَيْهِ ؟ قُلْنَا: سِرَاعٌ، قَالَ: فَنَزَّى نَزْوَةً حَتَّى كَادَ، قُلْنَا: فَمَا أَنْتَ ؟ قَالَ: إِنَّهُ الدَّجَّالُ، وَإِنَّهُ يَدْخُلُ الْأَمْصَارَ كُلَّهَا إِلَّا طَيْبَةَ، وَطَيْبَةُ: الْمَدِينَةُ "، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ قَتَادَةَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ. [1]

ترجمه دفاطمه بنت قيس رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم منبر ته وختلو او ويي خاندل او بيا يي اوفرمائيل تميم داري ماته يوه خبري كړي ده او زه ډير خوشحاله شوم او غوارم چي تاسو ته يي بيان كړم هغه اوويل چي دفلسطين څه كسان په سمندر كي په كشتئ كي سواره شول او دغه كشتئ دطوفان راتلو په وجه كوم بل طرفته لاړه تردي چي هغوئ يي دسمندر په جذيره كي اوغورځول او يو دم دي خلقو يو داسي زنده سر اوليدو چي ډيري جامي يي اغوستلي وي او ګڼوڼ ويخته يي وو دوئ ورته تپوس اوكړو ته

[1] - صحيح مسلم/الفتن ٢٢ (٢٩٤٢) . سنن ابي داود/ الملاحم ١٥ (٤٣٢٦) . سنن ابن ماجه/الفتن ٣٣ (٤٠٧٤) (تحفة الأشراف: ١٨٠٢٤) . و مسند احمد (٦/٣٧٣، ٤١٨)

ځوك يي هغه اوونيل زه جسامه (جاسوسي كونكي) يم دوئ ورته اوونيل مونږ ته دخان باره كي اووايه هغه بلا اوونيل زه نه تاسو ته څه وايم او نه درنه څه تپوس كول غواړم البته تاسو ددي علاقي اخير ته لاړ شئ او هلته يو سړي دي چي تاسو ته به حالات بيان كړي او تپوس به هم درنه اوكړي، چنانچي مونږ دعلاقي اخير ته لاړو نو هلته يو كس په خنزيرونو تړلي شوي موجود وو هغه اوونيل ماته د زغر (په شام كي ديو كلي نوم دي) دچيني باره كي معلومات راكړئ مونږ ورته اوونيل ډكه شوي ده چي تويونه وهي هغه اوونيل دبيسان مقام دكجورو باره كي معلومات راكړئ كوم چي دفلسطين او اردن په مينځ كي واقع دي چي ميوه يي نيولي ده او كنه مونږ ورته اوونيل هو، هغه اوونيل ماته داخري نبي باره كي معلومات راكړئ چي ايا هغه مبعوث شوي دي او كنه مونږ اوونيل هو، هغه اوونيل دا راته اووايه چي هغه ته به رسيدل څنګه اوشي؟ مونږ اوونيل په تيزئ سره نو هغه په ډير زور سره يو توپ اووهو تردي چي ازاديدو ته نژدي شو مونږ ورته اوونيل ته څوك يي؟ هغه اوونيل دجال يم او دطيبه نه علاوه به تمامو ښارونو ته داخليږم او دطيبه نه يي مراد مدينه وه.

امام ترمذي وايي: داحديث دشعبه په واسطه دقتاده په روايت حسن صحيح غريب دي دا روايت يو څو راويانو دشعبه په واسطه دفاطمه بنت قيس رضي الله عنها نه نقل كړي دي

دفاطمه بنت قيس مناقب

نوم فاطمه دپلار نوم قيس بن خالد اكبر بن وهب وو او دمور نوم يي اميمه بنت ربيعه وه دبني كنانه قبيلي سره يي تعلق وو او اولنئ نكاح يي دابوعمرو بن حفص سره شوي وه، داسلام په ابتدائي زمانه كي مسلمانه شوي وه او خاوند ورته دهجرت په لسم كال طلاق وركړل او بيايي دعبدالله بن ام مكتوم په كور كي عدت تير كړو او ددينه پس يي دويمه نكاح رسول الله صلي الله عليه وسلم داسامه بن زيد سره اوكړه، دفاطمه بيان دى چي زمونږ په مينځ كي دومره محبت وو كوم چي دكيني قابل وو دهجرت په ۲۳ كال چي كله عمر رضي الله عنه وفات شو نو دمجلس شوري اجلاس به ددي په كور كي كيدو صاحب داسد الغابه ليكلي دي لها عقل وكمال ، يعني فاطمه انتهائي قابله او عقلمنده اومالكه دكمال وه، دهجرت په ۵۴ كال اسامه وفات شو او بيايي بله نكاح اونكړه او دخپل ورور ضحاك سره به اوسيده كله چي يزيد ضحاك دعراق والي مقرر كړو او هلته منتقل شو نو فاطمه هم ورسره منتقل شوه، دمروياتو شمير يي ۳۴احاديث دى مزيد حالات يي اسد الغابه ليكلي دي.

****

٦٧_باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يو بل باب

٢٢٥٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ جُنْدَبٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ ". قَالُوا: وَكَيْفَ يُذِلُّ نَفْسَهُ؟ قَالَ: " يَتَعَرَّضُ مِنَ الْبَلَاءِ لِمَا لَا يُطِيقُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه دحذيفه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديو مومن دپاره دا مناسب نه دي چي خپل نفس لره ذليل كړي، صحابه كرامو عض اوكړو خپل نفس به څنګه ذليل كوي رسول الله اوفرمائيل چي خپل نفس په داسي مصيبت كي ګير كړي دكوم نه دوتلو چي دي طاقات نه لري

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي

****

٦٨_باب مِنْهُ

دظالم او مظلوم دواړو دمدد كولو بيان

٢٢٥٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْمُكْتِبُ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا ". قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، نَصَرْتُهُ مَظْلُومًا، فَكَيْفَ أَنْصُرُهُ ظَالِمًا؟ قَالَ: " تَكُفُّهُ عَنِ الظُّلْمِ فَذَاكَ نَصْرُكَ إِيَّاهُ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه دانس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دخپل ورور امداد كوه ظالم وي كه مظلوم وي يو سړي عرض اوكړو يا رسول الله ، كه مظلوم وي خو زه به يې امداد اوكړم ليكن داراته وښائي چي دظالم امدا څنګه اوكړم؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه دظلم نه منع كړه دا دهغه سره امداد دی

امام ترمذي وايي په دي باب كي دعائشي رضي الله عنها نه هم حديث مروي دی، اودا حديث حسن صحيح دی

---

[1] - سنن ابن ماجه/الفتن ٢١ (٣٠١٦) (تحفة الأشراف: ٣٣٠٥)، ومسند احمد (٥/٤٠٥)

[2] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /المظالم ٣ (٢٤٤٣، ٢٤٤٤)، والإكراه ٧ (٦٩٥٢)، (تحفة الأشراف: ٨٥١)، و مسند احمد (٣/٩٩، ٢٠١، ٢٢٣)

لغات تحجزه حجز حجزا وحجازة دنصر او ضرب نه په معني دمنع كولو دي

تشريح: انصر اخاك ظالما او مظلوما. يعني دخپل ورور مدد كوه ظالم وي اوكه مظلوم وي. دابن بطال په قول دا حديث دمعاشري داصلاح دپاره انتهايي اهميت لري، اود كامل جامعيت حامل دي. يعني تش دمظلوم سره په مدد كولو كار نه كيږي بلكه ظالم لره دظلم نه دمنع كولو كوشش هم پكار دي، تعجزه وتمنعه من الظلم، يعني چي ظالم لره دظلم نه منع كړي. په يو بل روايت كې تاخذون يده لفظ راغلي دي ، په يو بل روايت كې ددي مزيد وضاحت منقول دي چي ان كان مظلوما فخذ له بحقه وان كان ظالما فخذ له من نفسه.

"فان ذلك نصره" يعني همدا دده سره مدد كول دي، په يو بل روايت كې ددي مزيد وضاحت منقول دي چي تمسكه من الظلم فذلك نصرك اياه.

****

٦٩_باب مِنْهُ

په فتنو كي دواقع كيدونكو څيزونو متعلق يو بل باب

٢٢٥٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ سَكَنَ الْبَادِيَةَ جَفَا، وَمَنِ اتَّبَعَ الصَّيْدَ غَفَلَ، وَمَنْ أَتَى أَبْوَابَ السُّلْطَانِ افْتَتَنَ" قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عَبَّاسٍ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ. (١)

ترجمه . دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي په صحراء او بيابان كي سكونت اختيار كړو نو دي سخت طبيعته شو او څوك چي په ښكار پسي وريسي شو دي غافل شو او څوك چي دبادشاه دروازي ته ورغلو نو دي دفتنو ښكار شو.

امام ترمذي وايي: داحديث دابن عباس رضي الله عنهما په روايت حسن صحيح غريب دي او مونږ يي صرف دثوري په روايت پيژنو، او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

---

١ سنن ابي داود/ الصيد ٣ (٢٨٥٩)، سنن النسائي/الصيد ٢٤ (٤٣١٤) (تحفة الأشراف: ٦٥٣٩)، و مسند احمد (١/٣٥٧)

****

۷۰_باب مِنْهُ

دبعضي نورو پيشن ګويا نو بيان

۲۲۵۷_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّكُمْ مَنْصُورُونَ وَمُصِيبُونَ وَمَفْتُوحٌ لَكُمْ، فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَتَّقِ اللَّهَ وَلْيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَلْيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا ارشاد اوريدلي دي چي ددشمنانو په مقابل کي به ستاسو مدد کيږي تاسو ته به مال او دولت درکړي شي او ستاسو دپاره به دقلاګانو دروازي پرانيستلي شي په تاسو کي چي څوک داسي وخت بيامومي هغه لره پکار دي چي دالله تعالي نه ويره اوکړي او په نيکۍ باندي خلقو ته حکم اوکړي او دبدۍ نه منع کول اوکړي او څوک چي قصدا په ما پوري دروغ اوتړي نو دهغه داوسيدو خاي جهنم دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

۷۱_باب مِنْهُ

دسمندر دموج پشان دفتنو دراتلو ذکر

۲۲۵۸_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، وَحَمَّادٍ، وَعَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ، سمعوا أبا وائل، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ: أَيُّكُمْ يَحْفَظُ مَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْفِتْنَةِ ؟ فَقَالَ حُذَيْفَةُ: أَنَا. قَالَ حُذَيْفَةُ: " فِتْنَةُ الرَّجُلِ فِي أَهْلِهِ وَمَالِهِ وَوَلَدِهِ وَجَارِهِ يُكَفِّرُهَا الصَّلَاةُ وَالصَّوْمُ وَالصَّدَقَةُ وَالْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ ". فَقَالَ عُمَرُ: لَسْتُ عَنْ هَذَا أَسْأَلُكَ، وَلَكِنْ عَنِ الْفِتْنَةِ الَّتِي تَمُوجُ كَمَوْجِ الْبَحْرِ. قَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ: إِنَّ بَيْنَكَ وَبَيْنَهَا

[1] - تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الاشراف: ۹۳۵۹) (ويأتي الجزء الأخير منه برقم: ۲٦٥۹)

بَابًا مُغْلَقًا. قَالَ عُمَرُ: أَيُفْتَحُ أَمْ يُكْسَرُ؟ قَالَ: بَلْ يُكْسَرُ. قَالَ: إِذًا لَا يُغْلَقُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. قَالَ أَبُو وَائِلٍ فِي حَدِيثِ حَمَّادٍ: فَقُلْتُ لِمَسْرُوقٍ: سَلْ حُذَيْفَةَ عَنِ الْبَابِ، فَسَأَلَهُ. فَقَالَ عُمَرُ: قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دحذيفه رضي الله عنه بيان دي فرماني چي يو خل عمرفاروق رضي الله عنه د صحابه كرامو نه تپوس اوكړو رسول الله صلي الله عليه وسلم چي دفتنو باره كي څه فرمائيلي وو هغه چاته ياد دي؟ حذيفه رضي الله عنه اووئيل ماته ياد دي او بيا يي اوفرمائيل ديو كس دپاره چي كومه فتنه دهغه داهل، مال، اولاد، او ګاونډي په سلسله كي وي هغي لره دمونځ، روژي، زكواة ، امر بالمعروف او نهي عن المنكر په ذريعه ختمولي شي عمر رضي الله عنه اووئيل زه درنه ددي باره كي تپوس نه كوم بلكه دهغه فتنو باره كي تپوس كوم كومي چي به دسمندر دڅپو پشان راځي حذيفه اووئيل اي اميرالمؤمنين ستا او دهغه فتنو په مينځ كي يوه بنده دروازه ده عمر تپوس اوكړو ايا دا دروازه به پرانيستلي كيږي او كه ماتيږي به حذيفه اووئيل ماتيږي به عمر رضي الله عنه اووئيل بيا خو بي دقيامته پوري بنده پرته وي، دحماد په روايت كي دي چي ابووائيل شقيق بن سلمه اووئيل ما مسروق ته اووئيل چي دحذيفه نه ددي دروازي باره كي تپوس اوكړه نو هغه ورنه تپوس اوكړو نو حذيفه اووئيل هغه دروازه عمر دي. امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي.

****

٧٢_باب مِنْهُ

دناكاره حاكم متعلق پيښن كوي متعلق يوبل باب

٢٢٥٩_حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ. حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ أَبِي حَصِينٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَاصِمٍ الْعَدَوِيِّ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ. قَالَ: خَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ تِسْعَةٌ: خَمْسَةٌ، وَأَرْبَعَةٌ. أَحَدُ الْعَدَدَيْنِ مِنَ الْعَرَبِ، وَالْآخَرُ مِنَ الْعَجَمِ. فَقَالَ: اسْمَعُوا. " هَلْ سَمِعْتُمْ أَنَّهُ سَيَكُونُ بَعْدِي أُمَرَاءُ فَمَنْ دَخَلَ عَلَيْهِمْ فَصَدَّقَهُمْ بِكَذِبِهِمْ وَأَعَانَهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ فَلَيْسَ مِنِّي وَلَسْتُ مِنْهُ، وَلَيْسَ بِوَارِدٍ عَلَيَّ الْحَوْضَ. وَمَنْ لَمْ يَدْخُلْ عَلَيْهِمْ

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المواقيت ٤ (٥٢٥) . والزكاة ٢٣ (١٤٣٥) . والصوم ٣ (١٨٩٥) . والمناقب ٢٥ (٣٥٨٦) . والفتن ١٧ (٧٠٩٦) . صحيح مسلم /الإيمان ٦٥ (١٤٤) . والفتن ٧ (٢٦/١٤٤) . سنن ابن ماجه/الفتن ٩ (٣٩٥٥) (تحفة الأشراف: ٣٣٣٧) . ومسند احمد (٥/٣٨٦

وَلَمْ يُعِنْهُمْ عَلَى ظُلْمِهِمْ وَلَمْ يُصَدِّقْهُمْ بِكَذِبِهِمْ فَهُوَ مِنِّي وَأَنَا مِنْهُ وَهُوَ وَارِدٌ عَلَيَّ الْحَوْضَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ مِسْعَرٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

ترجمه دكعب بن عجره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ طرف ته راووتلو او مونږ نهه كسان وو، پنځه او څلور چي په دوئ كي يو شميرونكي عربي وو او بل شميرونكي عجمي وو رسول الله اوفرمائيل واورئ ' ايا تاسو واوريدل؟ زما نه پس به داسي حاكمان راځي چي څوك ورته ورشي او دهغوئ د دروغو تصديق اوكړي او په ظلم كي دهغوئ مدد اوكړي نو دا كسان به زما نه نه وي او نه به زه ددوئ نه يم او نه به په حوض كوثر كي دوئ ماته راورسيږي او څوك چي دوئ ته دتلو نه ځان اوساتي او په ظلم كي ورسره مدد اونكړي او نه ددوئ د دروغو تصديق اوكړي نو دوئ به زما نه وي او زه ددوئ نه يم او دوئ به په حوض كوثر كي ماته راورسيږي.

امام ترمذي وايي. داحديث غريب دي دا مونږ دمسعر په روايت په همدي سند پيژنو.

****

قَالَ هَارُونُ: فَحَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي حَصِينٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عَاصِمٍ الْعَدَوِيِّ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. ([2])

ترجمه دكعب بن عجره په روايت په مذكوره سند هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل كړى دي.

****

قَالَ هَارُونُ: وَحَدَّثَنِي مُحَمَّدٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ زُبَيْدٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ وَلَيْسَ بِالنَّخَعِيِّ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ مِسْعَرٍ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ حُذَيْفَةَ، وَابْنِ عُمَرَ. ([3])

ترجمه . دكعب بن عجره په روايت په مذكوره سند هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دمسعر د حديث هم معني روايت مروي دي، امام ترمذي وائي په دي باب كي دحذيفه او ابن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

[1] - النسائي/البيعة ٣٥ (٤٢١٢)، و ٣٦ (٤٢١٣) (تحفة الأشراف: ١١١١٠)، و مسند احمد (٤/٢٤٣)

[2] - النسائي/البيعة ٣٥ (٤٢١٢)، و ٣٦ (٤٢١٣) (تحفة الأشراف: ١١١١٠)، و مسند احمد (٤/٢٤٣)

[3] - النسائي/البيعة ٣٥ (٤٢١٢)، و ٣٦ (٤٢١٣) (تحفة الأشراف: ١١١١٠)، و مسند احمد (٤/٢٤٣)

****

٧٣_باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٢٦٠_حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ ابْنُ بِنْتِ السُّدِّيِّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ شَاكِرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَعُمَرُ بْنُ شَاكِرٍ شَيْخٌ بَصْرِيٌّ، قَدْ رَوَى عَنْهُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ. [1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په خلقو به يوه داسي زمانه راشي چي په دوئ كي به پخپل دين باندي صبركونكي انسان داسي وي لكه چاچي په لاس كي سكروټي نيولي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند غريب دي، عمر بن شاكر يو بصري شيخ دي او دده نه متعددو اهل علمو اخذ دروايت كړي دي.

****

٧٤_باب مِنْهُ

داسي وخت به راشي چي بد خلق به په نيكو خلقو غالب شي

٢٢٦١_حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكِنْدِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، أَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ عُبَيْدَةَ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا مَشَتْ أُمَّتِي الْمُطَيْطِيَاءِ وَخَدَمَهَا أَبْنَاءُ الْمُلُوكِ أَبْنَاءُ فَارِسَ وَالرُّومِ سُلِّطَ شِرَارُهَا عَلَى خِيَارِهَا"، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَاهُ أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ. [2]

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي زما امت په تكبر تلل شروع كړي او خلق دبادشاهانو داولاد يعني دروم او فارس

[1] . تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٠٧)

[2] . تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٧٢٥٢)

دبادشاهانو داولاد خدمت شروع کړي نو دغه وخت کي به بد خلق په نيکو خلقو باندي مسلط کړي شي

تشريح المطيطاء داسي چال چلن او رفتار ته ونيلي شي‌په کوم کي چي خان خودلن او تکبر وي

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، ابو معاويه هم دا حديث ديحي بن سعيد انصاري په واسطه نقل کړي دي.

****

حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ، وَلَا يُعْرَفُ لِحَدِيثِ أَبِي مُعَاوِيَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَصْلٌ، إِنَّمَا الْمَعْرُوفُ حَدِيثُ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، وَقَدْ رَوَى مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. [1]

ترجمه : عبدالله بن دينار هم دابن عمر رضي الله عنهما په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل روايت هم معني حديث نقل کړي دي، او کوم حديث چي ابو معاويه ديحي بن سعيد نه دعبدالله بن دينار په واسطه دابن عمر نه نقل کړي دي ددي حديث کوم مضبوط سند اواصل نشته او يقينا چي معروف او مشهور حديث دموسي بن عبيده دي دارنګي دا حديث مالك بن انس ديحي بن سعيد نه مرسل نقل کړي دي او په خپل سند کي يي د عبدالله بن دينار عن ابن عمر واسطي نه دي ذکر کړي

****

٧٥_باب مِنْهُ

هغه قوم هيڅ کله نشي کاميابيدي چي بادشاهي وريا ندي ښځه کوي

٢٢٦٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ الطَّوِيلُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: عَصَمَنِي اللَّهُ بِشَيْءٍ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمَّا هَلَكَ كِسْرَى قَالَ: مَنِ اسْتَخْلَفُوا؟ قَالُوا: ابْنَتَهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ

---

[1] - انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٧٢٦٠)

امْرَأَةٌ ". قَالَ: فَلَمَّا قَدِمَتْ عَائِشَةُ، يَعْنِي الْبَصْرَةَ، ذَكَرْتُ قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَصَمَنِي اللَّهُ بِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه دابوبكره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي الله تعالي زه دداسي يو څيز نه بچ كړم كوم چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي، كله چي كسري هلاك شو نو رسول الله تپوس اوكړو چي هغوئ څوك خپل خليفه مقرر كړو؟ صحابه كرامو اوونيل دهغه لور يې خليفه مقرر كړه دي وخت كي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه قوم هرګز نشي كاميابيدي چاچي يوي ښځي ته خپل حكومت اوسپارلو. او كله چي عائشه رضي الله عنها راغله يعني بصري ته نو دغه وخت كي ما درسول الله دا حديث ياد كړو، چنانچي الله تعالي زه ددينه بچ كړم

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٧٦_باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٢٦٣_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ عَلَى أُنَاسٍ جُلُوسٍ، فَقَالَ: " أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ ؟ " قَالَ: فَسَكَتُوا، فَقَالَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَالَ رَجُلٌ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَخْبِرْنَا بِخَيْرِنَا مِنْ شَرِّنَا، قَالَ: " خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ، وَشَرُّكُمْ مَنْ لَا يُرْجَى خَيْرُهُ وَلَا يُؤْمَنُ شَرُّهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبعضي ناستو خلقو خوا ته راغلو او اودريدو او ويي فرمائيل ايا زه تاسو ته په تاسو كي دښو او دبدو خلقو خبر درنكړم؟ خلق خاموش شول او رسول الله دري پيري دا خبره تكرار كړه دي وخت كي يو كس اوونيل اي دالله رسوله ولي نه؟ ته مونږ ته زمونږ نيك او بد خلق معرفي كړه رسول الله اوفرمائيل په تاسو كي بهتر هغه څوك دي دچا نه چي دنيكئ او خير او ښيګړي اميد

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المغازي ٨٢ (٤٤٢٥) . والتفن ١٨ (٧٠٩٩) . سنن النسائي/آداب القضاة ٨ (٥٣٩٠) (تحفة الأشراف : ١١٦٦٠) . و مسند احمد (٣٨/٥، ٤٨)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٠٤٦) . وانظر مسند احمد (٣٦٨/٢، ٣٧٨)

کيدي شي او دچا دشر نه چي تاسو محفوظ يئ، ناکاره او بد په تاسو کي هغه څوك دي دچا نه چي دخير ښيګړي او نيکئ اميد نه کيږي او دشر نه يي تاسو محفوظ نه يئ
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي
****

٧٧_باب مِنْهُ

دنيکاوبدحاکم معرفت

٢٢٦٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ العَقَدِيُّ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ. عَنْ أَبِيهِ. عَنْ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخِيَارِ أُمَرَائِكُمْ وَشِرَارِهِمْ ،خِيَارُهُمْ ؟ الَّذِينَ تُحِبُّونَهُمْ وَيُحِبُّونَكُمْ وَتَدْعُونَ لَهُمْ وَيَدْعُونَ لَكُمْ. وَشِرَارُ أُمَرَائِكُمُ الَّذِينَ تُبْغِضُونَهُمْ وَيُبْغِضُونَكُمْ وَتَلْعَنُونَهُمْ وَيَلْعَنُونَكُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي حُمَيْدٍ، وَمُحَمَّدٌ يُضَعَّفُ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. ([1])

ترجمه د عمر فاروق رضي الله عنه راوي دی چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلی چي ايا پتاسو کي ستاسو غوره او ناکاره امراء تاسو ته ښکاره نکړم؟ تاسو کي ستاسو غوره امير هغه دی چي تاسو ورسره محبت کوئ او هغه تاسو سره محبت کوي تاسو دهغه دپاره دعا کوئ اوهغه ستاسو دپاره دعا کوي او ستاسو ډير خراب حاکم هغه دی چي ستاسو دشمن وي او تاسو هغه سره بغض ساتئ او هغه په تاسو لعنت ليږي او تاسو په هغه لعنت ليږئ.

امام ترمذي وايي. داحديث غريب دي او دمحمد بن ابي حميد دسند نه علاوه يي موږ په بل سند نه پيژنو او محمد په باب دحديث کي دحفظ په اعتبار ضعيف دي

تشريح: په پورتني حديث کي دنيك او بد حاکم نښان دهي شوي ده نيك حکمران هغه دی څوك چي دعوامو خيرخواه وي او دهغوئ په حق کي عدل او انصاف کوي ددينه علاوه دا خبره ده چي حکمران به دخلقو دپاره دعا غواړي او خلق به دده دپاره دعا غواړي

ليکن بدحکمران هغه دی څوك چي صرف دخپل اقتدار او حفاظت غرضي وي او د عوامو دخيګړي او ددوئ سره دعدل او انصاف کولو غرضي نه وي او نه ورسره دلچسپي لري.

علماء وائي کله چي په کوم امير کي شرائط موجود دي او امارت يي متحقق شي نو دده

[1] - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٣٩٩)

دامارت نه بغاوت كول جائز نه دي البته كه كفر بواح ورنه ظاهر شي او دده په حكومت كې داسلام دپاره نقصان وي نو بيا به داسي امير معزول كولى شي او هم ددينه په پورتني حديث كې په مونځ قائمولو سره تعبير شوى دى

****

٧٨_باب مِنْهُ

څو پوري چې حاكمان دمونځ پابندي كوي ترهغي ددوئ اطاعت كول پكار دي

٢٢٦٥_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا هِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ ضَبَّةَ بْنِ مِحْصَنٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّهُ سَيَكُونُ عَلَيْكُمْ أَئِمَّةٌ تَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ، فَمَنْ أَنْكَرَ فَقَدْ بَرِيءَ، وَمَنْ كَرِهَ فَقَدْ سَلِمَ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ "، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ؟ قَالَ: " لَا مَا صَلَّوْا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ډيره نزدي ده چې په تاسو به داسي بادشاهان راشي چې بعضي كارونه به يې ستاسو خوښ شي او بعضي به مو خوښ نشي پس څوك چې ددوئ دبدواعمالو نه انكار اوكړي دوئ به دمداهنت او نفاق نه اوساتلي شي او چاچي په زړه كي ددوئ بدي بده اوګڼله نو دي محفوظ پاتي شو مګر څوك چې ددوئ نه راضي وي او ددوئ اتباع اوكړي هغوئ هلاك شول، عرض اوكړي شو اي دالله رسوله ايا جنګ ورسره اونكړو؟ رسول الله اوفرمائيل نه تر څو چې هغوئ دمونځ اهتمام كوي تر هغي ورسره جنګ كول پكارنه دي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

لغات صلوا صلي يصلي صلاة عليهم دعا كول اودسمع نه داور ګرم والي دبرداشت كولو په معني دي يا په اور كي دسوزيدو په معني دي

****

٢٢٦٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْأَشْقَرُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، وَهَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، قَالَا: حَدَّثَنَا صَالِحٌ الْمُرِّيُّ، عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ

---

[1] صحيح مسلم/الإمارة(١٨٥٤)، سنن ابي داود/السنة ٣٠(٤٧٦٠) (تحفة الأشراف: ١٨٢٦٦)، و مسند احمد(٦/٢٩٥)

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ خِيَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ سُمَحَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ شُورَى بَيْنَكُمْ فَظَهْرُ الأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ بَطْنِهَا. وَإِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ بُخَلاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ إِلَى نِسَائِكُمْ فَبَطْنُ الأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ صَالِحٍ الْمُرِّيِّ. وَصَالِحٌ الْمُرِّيُّ فِي حَدِيثِهِ غَرَائِبُ يَنْفَرِدُ بِهَا لَا يُتَابَعُ عَلَيْهَا. وَهُوَ رَجُلٌ صَالِحٌ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي ستاسو حاكمان به تاسوكي ښه خلق وي او ستاسو مالداران سخيان خلق وي او ستاسو معاملات او كارونه پخپل مينځ كي په مشوره باندي كيږي نو دزمكي مخ ستاسو دپاره دزمكي دخيتي نه بهتر دي، او كله چي ستاسو حاكمان په تاسو كي بد خلق شي او ستاسو مالداران بخيلان شي او ستاسو د كارونو اختيارات ښځو ته اوسپارلي شي داسي وخت كي ستاسو دپاره دزمكي خيټه دزمكي دمخ نه بهتره ده

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي او دصالح مري نه علاوه داروايت بل چا نه دي نقل كړي او صالح مري دغرائبو په نقل كولو كي منفرد دي چي هيڅ يو متابع نه لري او صالح يو نيك انسان دي

****

٧٩_باب مِنْهُ

داسي وخت به راشي په كوم كي چي به لږه نيكي هم باعث د نجات وي

٢٢٦٧_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ الْجَوْزَجَانِيُّ، حَدَّثَنَا نُعَيْمُ بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّكُمْ فِي زَمَانٍ مَنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَ مَا أُمِرَ بِهِ هَلَكَ. ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ بِعُشْرِ مَا أُمِرَ بِهِ نَجَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ نُعَيْمِ بْنِ حَمَّادٍ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ، وَأَبِي سَعِيدٍ. (2)

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٦٢٠)

2 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٤٢١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو په داسي زمانه كي يئ چي څوك ددي لسمه حصه پريږدي دكوم چي ورته حكم شوي دي نو هلاك به شي مګر روسته به داسي زمانه راشي چي څوك په دي كي په لسمه حصه عمل اوكړي دكوم چي ورته حكم شوي دي نو نجات به بيامومي
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف دنعيم بن حمادپه روايت پيژنو چي دسفيان بن عيينه نه يي نقل كړي دي، او په دي باب كي دابوذر او ابوسعيد خدري رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

****

٢٢٦٨_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ: " هَاهُنَا أَرْضُ الْفِتَنِ، وَأَشَارَ إِلَى الْمَشْرِقِ، يَعْنِي حَيْثُ يَطْلُعُ جِذْلُ الشَّيْطَانِ، أَوْ قَالَ: قَرْنُ الشَّيْطَانِ ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په منبر اودريدو او ويي فرمائيل دفتنو زمكه هلته ده او دمشرق طرف ته يي اشاره اوكړه يعني دكوم خاي نه چي دشيطان ښكر اوخي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٢٦٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا رِشْدِينُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ الزُّهْرِيِّ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ ذُؤَيْبٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَخْرُجُ مِنْ خُرَاسَانَ رَايَاتٌ سُودٌ لَا يَرُدُّهَا شَيْءٌ حَتَّى تُنْصَبَ بِإِيلِيَاءَ ". هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دخراسان نه به توري جهنډي راوخي چي هيڅ يوڅيز به يي واپس كولي نشي تردي چي دفلسطين په ايلياء ښار كي به نصب كړي شي.
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي.

---

1. اورده البخاري في الجامع الصحيح /الفتن ١٦ (٧٠٩٢، ٧٠٩٣)، صحيح مسلم /الفتن ١٦ (٢٩٠٥) (تحفة الأشراف: ٦٩٣٩)
2. تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٢٨٩)

****

كتاب الرؤيا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

د خوبونو مخصوص اداب او احكام او مسائل

تفسير مظهري ليكلي دي خوب په دري قسمه دی. اول حديث النفس ، دويم حلم يا شيطاني تخويف، دريم الهام يا غيبي بشارت

اولني قسم دا دي چي ، انسانان په خوب کې هغه څيزونهويني کوم چي يي په ويښه ليدلي وي او ياقوت خياليه ددي اختراع کړي وي او يه واقع کې يي کوم اصل نه وي نوداسي خوب ته حديث النفس ونيلي شي .

دويم قسم دادي چه، چي دانسان په بدن کې شيطان په هغه تمامو مقاماتو کې ګرځي چرته چي وينه ګرځي نوپدي وجه په بعضي وختونو کې په قوت خياليه کې هيبتي او ويرونکي شکل يا تفريحي شکل واچولي شي داسي خوب ته حلم يا تخويف شيطان ونيلي شي.

دريم قسم دادي چه، دالله تعالي دطرف نه دغيبو په خزانو کې دکوم کار اويا دهغه په مخفي صفاتو کې کوم خاص صفت ياپه مدارجو دقرب دذات کې دکومي خاصي درجي الهام او القاء کيږي او همدا الهام دبنده دپاره غيبي بشارت ګرځي.

دعباده بن صامت رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمومن خوب يو کلام وي کوم چي دبنده سره دهغه رب کوي (رواه الطبراني بسند صحيح)

رسول الله صلي الله عليه وسلم په يوحديث کې د شپږ څيزونو په خوب کې د ليدو تعبير فرمائيلي دي که چري ښځه په خوب کې اوليدي شي نودديـنه مراد کاميابي وي اوکه اوښ په خوب کې اوليدي شي نو مراد ورنه جنګ دي اوکه شوده په خوب کې اوليدي شي نو مراد ورنه فطرت دي اودسبزې نه مراد جنت دي اود کشتۍ نه مراد نجات دي اود کجورو نه مراد رزق دي دا روايت ابويعلي پخپل مسند کې په ضعيف سند سره بيان کړي دي

****

١ـ باب أَنَّ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ

د مؤمن خوب د نبوت شپږ څلويښتمه حصه ده

٢٢٧٠ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ. حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا اقْتَرَبَ الزَّمَانُ لَمْ تَكَدْ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ

تَكْذِبُ وَأَصْدَقُهُمْ رُؤْيَا أَصْدَقُهُمْ حَدِيثًا، وَرُؤْيَا الْمُسْلِمِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ. وَالرُّؤْيَا ثَلَاثٌ: فَالرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ بُشْرَى مِنَ اللهِ، وَالرُّؤْيَا مِنْ تَحْزِينِ الشَّيْطَانِ، وَالرُّؤْيَا مِمَّا يُحَدِّثُ بِهَا الرَّجُلُ نَفْسَهُ، فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ مَا يَكْرَهُ فَلْيَقُمْ فَلْيَتْفُلْ وَلَا يُحَدِّثْ بِهَا النَّاسَ، قَالَ: وَأُحِبُّ الْقَيْدَ فِي النَّوْمِ وَأَكْرَهُ الْغُلَّ، الْقَيْدُ ثَبَاتٌ فِي الدِّينِ". قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي قيامت نږدی شي، دمسلمان خوب به خطا نه خيژي، اوپه دوئ كي به زيات رښتوني خوب والا هغه كس وي څوك چي په خبرو كي زيات رښتوني وي، او دمومن خوب دنبوت دشپږ څلوېښت برخونه يو برخه ده

او خوب په دري قسمه دي. يو بهتر او ښه خوب دي او دا دالله تعالي دطرفه بشارت او زيري وي او بعضي خوب دشيطان دطرفه وي او شيطاني خوب باعث دتكليف او غم وي، او څه خوبونه دانسان په زړه كي په تيرشوو خيالاتو بنا وي، لهذا په تاسو كي چي كله څوك داسي خوب اوويني چي نه يي خوښوي نو پادي څيږي او دا دي چاته نه بيانوي. رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه په خوب كي قيد (په خپو كي بيړئ پريوتل) خوښوم او طوق نه خوښوم، او دقيد نه مراد په دين كي ثابت قدمي ده.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات : لم تكد: كاد يكاد كودا مكادا ومكادة يعني كار كولو ور نږدي كيدل ، داد افعال مقاربه نه دي او كله كله زائد هم راځي او كلام صله واقع كيږي لكه لم يكد يراها.

تشريح: اقترب الزمان: كله چي قيامت رانږدي شي. يعني كله چي دنيا ختمه شي نوخوبونه به عموما رښتيا كيږي.

رؤيا المومن جزمن ستة واربعين جزء من النبوة: يعني دمومن خوب دنبوت ۴۶حصه ده په پورتني حديث كي دښائسته خوب فضيلت بيان شوئ دی.

"دجزء نه څه مراد دي " علماء وائي ددي صحيح علم دالله تعالي سره دی ددي تفصيلي تشريح مخكي تيره شوي ده.

****

۲۲۷۱_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا يُحَدِّثُ،

---

[1] _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /التعبير ۲۶ (۷۰۱۷) . صحيح مسلم/الرؤيا ۱ (۲۲۶۳) . سنن ابي داود/ الأدب ۹۶ (۵۰۱۹) . سنن ابن ماجه/الرؤيا ۹ (۳۹۱۷) (تحفة الأشراف : ۱۴۴۴۴) . سنن الدارمي/الرؤيا ۲ (۲۱۸۳)

عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ " . قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ. قَالَ: وَحَدِيثُ عُبَادَةَ حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دعباده بن الصامت رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمومن خوب دنبوت شپږ څلويښتمه حصه ده .

امام ترمذي وايي دعباده حديث صحيح دي او په دي باب کي دابوهريره، ابورزين عقيلي ، ابوسعيد خدري، عبدالله بن عمرو، عوف بن مالك، ابن عمر، اوانس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

دعباده بن صامت رضي الله عنه مناقب

نوم عباده کنيه ابو الوليد په بني خزرج کې يي دسالم خاندان سره تعلق دی دپلار نوم يي صامت او دمور نوم يي قرة العين وو، په غزوه بدر او ددينه پس په تمامو غزواتو کې شريك پاتي شوی دی او په بيعة الرضوان کې هم موجود وو (طبقات ابن سعد).

خلافت صديقي او فاروقي کې هم په جنګونو کې شريك پاتي شوی دی.

عمرفاروق رضي الله عنه دخپل خلافت په زمانه کې دی دفلسطين قاضي مقرر کړی وو عباده د حفاظو صحابه کرامو دجملي نه وو چي اصحاب صفه ته به يي دقرائت تعليم ورکولو (مسند احمد)

عمرفاروق رضي الله عنه دی په شام کې دمسلمانانو دتعليم دپاره متعين کړی وو دقرائت نه علاوه په فقه کې ورته هم مال حاصل وو يوځل قتاده دعباده ملاقات ته لاړو نو ويې ونيل "وكان قد تفقه في دين الله" يعني عباده دالله په دين کې مهارت حاصل کړی وو.

وفات: د دوه اوياکالو په عمر کې دهجرت په ۳۴کال وفات شو دوفات وخت يي چي نژدي شو نو يو خوي يي ورته دوصيت کولو درخواست اوکړو نو ويې فرمائيل مانيغ کينوئ او بيايي ددينه پس اوفرمائيل ای بچيه په تقدير به يقين ساتي ورنه ايمان ته دي خيرنشته (مسند احمد).

دده د دفن کيدو دځاي په باره کې دعلماؤ دري اقوال دي ، اول ابن سعد رمله مقام ليکلی دی، دويم بعضي علماؤ بيت المقدس ليکلی دی او امام بخاري فلسطين ليکلی دی، ددي

1 - اورده البخاري في الجامع الصحيح /التعبير ۲ (۶۹۸۷) . صحيح مسلم/الرؤيا (۲۲۶۴) . سنن ابي داود/ الأدب ۹۶ (۵۰۱۸) (تحفة الأشراف : ۵۰۶۹) . وسنن الدارمي/الرؤيا ۲ (۲۱۸۳)

دري وارو په حقيقت کې څه اختلاف نشته ځکه چي رمله په فلسطين کې يوه صوبه ده او بيت المقدس هم يوه ضلع ده دده د مروياتو شمير ۱۸۱ دی چي شپږ متفق عليه دي او دوه صرف بخاري نقل کړي دي.

****

۲_باب ذَهَبَتِ النُّبُوَّةُ وَبَقِيَتِ الْمُبَشِّرَاتُ

دنبوت دختميدواو دبشارتونو دباقي پاتي کيدوبيان

۲۲۷۲_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ يَعْنِي ابْنَ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا الْمُخْتَارُ بْنُ فُلْفُلٍ، حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الرِّسَالَةَ وَالنُّبُوَّةَ قَدِ انْقَطَعَتْ، فَلَا رَسُولَ بَعْدِي وَلَا نَبِيَّ". قَالَ: فَشَقَّ ذَلِكَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ: "لَكِنِ الْمُبَشِّرَاتُ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا الْمُبَشِّرَاتُ؟ قَالَ: "رُؤْيَا الْمُسْلِمِ، وَهِيَ جُزْءٌ مِنْ أَجْزَاءِ النُّبُوَّةِ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأُمِّ كُرْزٍ، وَأَبِي أَسِيدٍ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ.[1]

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دنبوت دعلامو نه څه پاتی نه دي مګر مبشرات اصحابو عرض اوکړو مبشرات څه شی دی؟ هغوی اوفرمائيل بنه خوب ليدل. او دمومن خوب دنبوت دشپږ څلويښت برخونه يو برخه ده امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند يعني دمختار بن فلفل په روايت حسن صحيح غريب دي او په دي باب کي دابوهريره، حذيفه بن اسيد، ابن عباس، ام کرز اوابواسيد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

لغات : النبوة: نبيا ينبئ نبوءا ديو شي لوړ کيدل، تنبأ معني دنبوت دعوي کول، النبأ، خبر، النبوة معني په الهامي طور سره دغيبي خبرو خبر ورکول، يا د الله دطرفه پيغمبري.

تشريح : ابن حجر وای دمومن سړي او زنانه خوب زيری دی دوحي دختميدو او دخوب دباقي پاتي کيدو مطلب دادی چي رسول الله فرمائيلي دي زما دوفات نه پس دوحي سلسله ختمه شوه دکوم په ذريعه چي به راتلونکي کارونه معلوميدل البته الله تعالي به دراتلونکو کارونو معلومات خلقو ته دخوبونو په ذريعه ورکوي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف. وانظر صحيح البخارى/التعبير ۲ (۲۹۸۳). (تحفة الأشراف : ۱۵۸۲). والموطاء/الرؤيا ۱ (۱). و

سوال کله انسان په خوب کې ویرونکی مناظر هم وینې په دې خو ده ته خوشحالي نه رسیږي
جواب په پورتني حدیث کې تغلیبا ټولو ته مبشرات وئیلی شوي دي لکه والد او والده چې جمع شي والدین وئیلی شي نو والد ته په والدې غلبه ورکړی شوې وي او همدارنګې پورتنی حدیث هم دی

****

۳_باب قَوْله (لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا)

دالله تعالي ددې قول تفسير (لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا)

۲۲۷۳_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ مِصْرَ، قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ عَنْ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا (يونس: ٦٤)، فَقَالَ: مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ غَيْرُكَ إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ مُنْذُ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "مَا سَأَلَنِي عَنْهَا أَحَدٌ غَيْرُكَ مُنْذُ أُنْزِلَتْ، هِيَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُسْلِمُ أَوْ تُرَى لَهُ"، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. [1]

ترجمه دابوالدرداء رضي الله عنه نه د "لهم البشري في الحيوٰة الدنيا" دتفسير په باره کې تپوس اوکړې شو نو ويې فرمائيل دکله نه چې مې د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددې ايت دتفسير تپوس کړې دې تراوسه پورې بل چازما نه ددې دتفسير په باره کې تپوس نه دې کړې اوما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس کړې وو او فرمائيلي يې وو دکله نه چې دا ايت نازل شوې وو دهغه وخت نه تراوسه پورې ستا نه علاوه بل چا زما نه ددې دمراد په باره کې تپوس نه دې کړې (دبشرې نه مراد) ربښتوني خوب دې، کوم چې مومن ليدلي وي اويا د مومن باره اوليدلي شي.
امام ترمذي وايي. داحديث حسن دې او په دې باب کې داسامه بن صامت رضي الله عنه نه هم حديث وارد دې

تشريح: دا هغه بشارت دې کوم چې رسول الله صلي الله عليه وسلم صحابه کرامو ته عموما او بعضې خاص صحابه کرامو ته په خصوصي طور هم ورکړې وو ، ترمذي دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه په روايت سره او ابن ماجه دسعيد بن زيد په سند سره روايت بيان کړې دې چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دې ابوبکر په جنت کې دې (يعنې جنتي دې)، عمر

[1] ـ تفرد به المؤلف. وأعاده في تفسير يونس (٣١٠٦) (تحفة الأشراف: ١٠٩٧٧)

جنتي دي ، عثمان جنتي دي ، علي جنتي، طلحه جنتي، زبير جنتي دي، عبدالرحمن بن عرف جنتي دي. سعد بن ابي وقاص جنتي دي، سعيد بن زيد جنتي دي، ابوعبيده بن جراح رضي الله عنهم جنتي دي

ابوداود دابوهريره رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما په امت كې به دټولو نه مخكې اي ابكربكر ته جنت ته داخليږي .

دمسور بن مخرمه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي فاطمه زما تكړه ده چاچي هغه خفه كړه نويقينا چي زه يي خفه كړم (متفق عليه)

ترمذي دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي . . اودا يي هم اوفرمائيل چي حسين به دجنت دخوانانو سردار وي ، اودا يي هم اوفرمائيل چي په جنتي ښځو كې به دټولو نه بهتره مريم بنت عمران اوخديجه بنت خويلد وي اوبيايي اوفرمائيل په نورو ښځو دعائشي فضيلت داسي دي لكه دثريد چي په نورو طعامونو فضيلت دي اودا يي هم اوفرمائيل چي عبدالله يعني ابن عمر يو صالح سړي دي (رواه البخاري ومسلم عن ابن عمر)

****

٢٢٧٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ دَرَّاجٍ، عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَصْدَقُ الرُّؤْيَا بِالأَسْحَارِ".[1]

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي رښتوني خوب هغه وي كوم چي دسحر وخت كي اوليدلي شي

****

٢٢٧٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا حَرْبُ بْنُ شَدَّادٍ، وَعِمْرَانُ الْقَطَّانُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: نُبِّئْتُ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ: لَهُمُ الْبُشْرَى فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا سورة يونس آية ٦٤ ، قَالَ: "هِيَ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ يَرَاهَا الْمُؤْمِنُ أَوْ تُرَى لَهُ".، قَالَ أَبُو عِيسَى: قَالَ حَرْبٌ فِي حَدِيثِهِ: حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.[2]

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٠٥٢) . وانظر سنن الدارمي/الرؤيا ٩ (٢١٩٢)

[2] سنن ابن ماجه/الرؤيا ١ (٣٨٩٨) (تحفة الأشراف : ٥١٢٣)

ترجمه دعباده بن صامت رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه د "لهم البشري في الحيوٰة الدنيا" دتفسير په باره کې تپوس اوکړي شو نو ويې فرمائيل دبشري نه مراد نيك خوبونه دي كوم چي په انسان ويني او ياده دپاره اوليدلي شي
امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي، عرب پخپل حديث کي ديحي بن ابي كثير نه دعنعني په ځاي په صيغي دتحديث يعني حدثني صيغي سره روايت نقل کړي دي

****

٤ـ باب مَا جَاءَ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي

ددي ارشاد نبوي بيان مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي

٢٢٧٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ رَآنِي فِي الْمَنَامِ فَقَدْ رَآنِي فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لاَ يَتَمَثَّلُ بِي". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي قَتَادَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَجَابِرٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي مَالِكٍ الأَشْجَعِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَأَبِي جُحَيْفَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه : د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي زه په خوب کې اوليدم ډير زر به مې په ويښه اووينې يايې داسې فرمائيلي دي، دا داسې ده لکه چي په ويښه يې اوليدم ځکه چي شيطان زما شکل نه شي جوړولی
امام ترمذي وايي او په دي باب کي دابوهريره، ابوقتاده، ابن عباس، ابوسعيد خدري، جابر، انس، او ابومالك اشجعي عن ابيه، ابوبكره، او ابو جحيفه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي اوداحديث حسن صحيح دي.

لغات : يتمثل تمثل مشابه كيدل دنصر نه مثولا مماثل كيدل، فلانا بفلان مشابه كيدل، مثل دكرم او نصر نه مثولا مثلا يدي فلان دچا په وړاندي ودريدل

تشريح: په خوب کې درسول الله دليدو فضائل

"فكانما راني في اليقظة" او که داسي يې اوفرمائيل لکه چي زه يې په ويښه اوليدم ، په دي کې

[1] - سنن ابن ماجه/الرؤيا ٢ (٣٩٠٠) (تحفة الأشراف : ٩٥٠٩)، و مسند احمد (٣٧٥/١، ٤٠٠، ٤٤٠)، وسنن الدارمي/الرؤيا ٤ (٢١٨٥)

دراوي شك دی چي په دي دوه خبرو کې رسول الله يوه اوفرمائيله که اولنۍ خبره يي فرمائيلي وي نومطلب دادی چي په خوب کې ليدونکی به دقيامت په ورځ درسول الله په زيارت مشرف کيږي، ياداچي په خوب کې ليدل دده دمومن کيدو دليل دی . او که دويمه خبره يي کړي وي نو بياخو مفهوم واضح دی ابن حجر وائي انبياء په خوب کې ليدل دصالح کيدو او تقوي اولوړي مرتبې او فلاح علامه ده، رسول الله لره په خوب کې ليدل په اسلام باندي دمړکيدو اوپه اخرت کې دهغه سره دملاقات کولو علامه ده. ليکن که څوك هيڅ کله رسول الله په خوب کې اونه ويني نوهغه دي دا اونګڼي چي په دين کې يي څه نقصان او کمی دی. شيطان درسول الله په شکل کې نشي راتلی خکه چي رسول الله دخير اوهدايت امام دی او شيطان دشر او ضلالت امام دی دواړه ديوبل ضدونه دي . شيطان دالله په صورت کې راتلی شي ددي وجه داده چي دالله تعالي پاك ذات او صفات دهدايت او اضلال دواړو لره جامع دی.

****

٥_باب إِذَا رَأَى فِي الْمَنَامِ مَا يَكْرَهُ مَا يَصْنَعُ

دبد خوب ليدلو وخت کې څه کول پکاردي

٢٢٧٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: " الرُّؤْيَا مِنَ اللَّهِ، وَالْحُلْمُ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ شَيْئًا يَكْرَهُهُ فَلْيَنْفُثْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنْ شَرِّهَا فَإِنَّهَا لَا تَضُرُّهُ "، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَجَابِرٍ، وَأَنَسٍ، قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه دابوقتاده رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خوب دالله تعالي دطرفه دی او حلم دشيطان دطرفه دی نو څوك چي داسی خوب اوويني چي خوښې يې نه وي نو ګس طرف ته دری خله اوتوکي، او ددي د شر نه دي په الله پناهي اوغواړي نو دا خوب به ده ته نقصان نشي رسولی

[1] . اورده البخاري في الجامع الصحيح /بدء الخلق ١١ (٣٢٩٢) . والتعبير ٣ (٦٩٨٦) . صحيح مسلم /الرؤيا ١ (٢٢٦١) سنن ابي داود/ الأدب ٩٦ (٥٠٢١) . سنن ابن ماجه/الرؤيا ٣ (٣٩٠٩) (تحفة الأشراف : ١٢١٣٥) . والموطأ /الرؤيا ١ (٣) . وسنن الدارمي/الرؤيا ٥ (٢١٨٤)

امام ترمذي وايي او په دي باب کې دعبدالله بن عمرو، ابوسعيد خدري، جابر، او انس بن مالك رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

لغات: الحلم: مصدر دي معني يې خوب دي او جمع يې احلام راځي لکه چې ونيلي شي هذه احلام نائم يعني دروغژن خوبونه دي انحلم واحتلم في نومه يعني خوب يې وليدلو. فلينفث نفث نفثا ونفثانا په معني دتوکلو سره.

"النفث" په صفائي سره نرۍ غوندې پوکې دي چې ډيرې لاړې ورسره نه وي

تشريح: الرؤيا من الله. يعني ښه خوب دالله دطرفه وي، دداسې خوب نه په حديث کې په مبشرات سره هم تعبير شوي دي اود قران کريم په، لهم البشري الفاظو کې ورته هم اشاره شوي ده، اودنبوت څلويښتمه حصه ورته هم ويلې شوي ده.

په رؤيا او حلم کې فرق دی. په اصل کې بدخوب دشيطان دطرفه وي مخکې يې دخوب دپاره رؤيا لفظ استعمال کړو او دلته يې الحلم لفظ استعمال کړو دشريعت په قانون کې رؤيا ښه خوب ته ونيلی شي او حلم بد خوب ته دبد خوب دليدو نه پس په دي روايت کې ددي علاج بيانولی شي چې چپ طرف ته دي درې پيرې توکل اوکړي او دشيطان نه دي پناه اوغواړي.

حافظ ابن حجر دبد خوب ليدونکي دپاره يو څو اداب جمع کړي دي يو دا چې دالله نه دي پناه اوغواړي دويم دا دي چاته نه بيانوي، دريم چپ طرف ته دي توکل اوکړي، څلورم اړخ دي بدل کړي. پنځم مونځ دي اوکړي، شپږم يوپيره دي اية الکرسي اولولي، امام قرطبي واني په دي باره کې مونځ کول تمامو ادابو لره شامل دي دابراهيم نخعي قول دی که څوك بد خوب اووينی نو دا دعا دي اولولي "اعوذ بما عاذت به ملائکة الله ورسوله من شر هذه ان يصيبني فيما اکره في ديني ودنياي".

زه ددي خوب دتکليف وغيره امورو نه چې ماته په دين يا دنيا کې رارسيږي پناه غواړم لکه چې فرشتو اود الله رسول ورنه پناهي غوښتلي ده.

****

٦_باب مَا جَاءَ فِي تَعْبِيرِ الرُّؤْيَا

دخوبونو دتعبير بيان

٢٢٧٨_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: أَخْبَرَنِي يَعْلَى بْنُ عَطَاءٍ، قَالَ: سَمِعْتُ وَكِيعَ بْنَ عُدُسٍ، عَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ أَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ، وَهِيَ عَلَى رِجْلِ طَائِرٍ مَا لَمْ يَتَحَدَّثْ بِهَا، فَإِذَا تَحَدَّثَ

بِهَا سَقَطَتْ، قَالَ: وَأَحْسَبُهُ قَالَ: وَلَا يُحَدِّثُ بِهَا إِلَّا لَبِيبًا أَوْ حَبِيبًا ".[1]

ترجمه دابو رزين عقيلي بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمومن خوب دنبوت څلويښتمه حصه ده او دخوب چي کله تعبير بيان نکړي شي تر هغي پوري دا ديوي مرغۍ په پنجه کي وي، بيا چي کله دا بيان کړي شي نو واقع کيږي، ابو رزين وائي زما خيال دي چي رسول الله داهم فرمائيلي دي چي خوب صرف هغه چاته بيانوه چي عقل مند وي او يا ورسره ستا دوستي وي.

****

٢٢٧٩_حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الخَلَّالُ. حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ. أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ. عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ وَكِيعِ بْنِ عُدُسٍ، عَنْ عَمِّهِ أَبِي رَزِينٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " رُؤْيَا الْمُسْلِمِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ وَهِيَ عَلَى رِجْلِ طَائِرٍ مَا لَمْ يُحَدِّثْ بِهَا. فَإِذَا حَدَّثَ بِهَا وَقَعَتْ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو رَزِينٍ العُقَيْلِيُّ اسْمُهُ لَقِيطُ بْنُ عَامِرٍ. وَرَوَى حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ. عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ. فَقَالَ: عَنْ وَكِيعِ بْنِ حُدُسٍ، وَقَالَ شُعْبَةُ. وَأَبُو عَوَانَةَ. وَهُشَيْمٌ: عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ. عَنْ وَكِيعِ بْنِ عُدُسٍ. وَهَذَا أَصَحُّ.[2]

ترجمه : دابو رزين عقيلي بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمومن خوب دنبوت شپږ څلويښتمه حصه ده او دخوب چي کله تعبير بيان نکړي شي تر هغي پوري دا ديوي مرغۍ په پنجه کي وي، بيا چي کله دا بيان کړي شي نو واقع کيږي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او دابورزين عقيلي نوم لقيط بن عامر دي او حماد بن سلمه دا روايت ديعلي بن عطاء نه نقل کړي دي او هغه دوکيع بن حدس نه او شعبه وائي ابوعوانه او هشيم ديعلي بن عطاء نه او هغه دوکيع بن عدس نه او دا سند د ړومبي سند په نسبت زيات صحيح دي.

****

٧_باب فِي تَأْوِيلِ الرُّؤْيَا وَمَا يُسْتَحَبُّ مِنْهَا وَمَا يُكْرَهُ

---

[1] _ سنن ابي داود/ الأدب ٩٦ (٥٠٢٠) . سنن ابن ماجه/الرؤيا ٦ (٣٩١٤) (تحفة الأشراف : ١١١٧٤) . و سنن الدارمي/الرؤيا ١١ (٢١٩٤)

[2] سنن ابي داود/ الأدب ٩٦ (٥٠٢٠) . سنن ابن ماجه/الرؤيا ٦ (٣٩١٤) (تحفة الأشراف : ١١١٧٤) . و سنن الدارمي/الرؤيا ١١ (٢١٩٤)

دخوبونو دتعبير او دښه او بد خوب بيان

٢٢٨٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدِ اللَّهِ السَّلِيمِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الرُّؤْيَا ثَلَاثٌ: فَرُؤْيَا حَقٌّ، وَرُؤْيَا يُحَدِّثُ بِهَا الرَّجُلُ نَفْسَهُ، وَرُؤْيَا تَحْزِينٌ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَمَنْ رَأَى مَا يَكْرَهُ فَلْيَقُمْ فَلْيُصَلِّ ". وَكَانَ يَقُولُ: " يُعْجِبُنِي الْقَيْدُ وَأَكْرَهُ الْغُلَّ، الْقَيْدُ ثَبَاتٌ فِي الدِّينِ ". وَكَانَ يَقُولُ: " مَنْ رَآنِي فَإِنِّي أَنَا هُوَ، فَإِنَّهُ لَيْسَ لِلشَّيْطَانِ أَنْ يَتَمَثَّلَ بِي ". وَكَانَ يَقُولُ: " لَا تُقَصُّ الرُّؤْيَا إِلَّا عَلَى عَالِمٍ أَوْ نَاصِحٍ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَأُمِّ الْعَلَاءِ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي مُوسَى، وَجَابِرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ :حديث ابي هريرة حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خوبونه په دري قسمه دي يو هغه خوب دي چي رښتيا وي، او بل هغه خوب دي چي يو كس دكوم خيز سوچ كړي وي هغه په خوب كي اووينې، او بل هغه خوب دي كوم چي دشيطان دطرفه وي او دا دغم او صدمي سبب وي لهذا څوك چي داسي خوب اووينې كوم چي نه خوښوي ده لره پكار دي چي پاڅي او مونځ اوكړي رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمائيل. ماته په خوب كي بيړئ (زولنې) ليدل ښه ښكاري او طوق په خوب كي ليدل نه خوښوم د زولنو تعبير په دين كي ثابت قدمي ده ، او رسول الله صلي الله عليه وسلم به فرمائيل چاچي زه په خوب كي اوليدم نو همدا زه يم ځكه چي شيطان خپل خان زما په شكل نشي جوړولي، او رسول الله به فرمائيل خوب به كوم عالم يا خيرخواه انسان ته بيانوئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي ، په دي باب كي دانس، ابوبكره، ام العلاء، ابن عمر، عائشه، ابوموسي ، جابر، ابوسعيد خدري، ابن عباس، او عبدالله بن عمرو رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

تشريح: په رؤيا او حلم كي فرق دى ، په اصل كي بدخوب دشيطان دطرفه وي مخكي يي دخوب دپاره رؤيا لفظ استعمال كړو او دلته يي الحلم لفظ استعمال كړو دشريعت په قانون كي رؤيا ښه خوب ته ونيلى شي او حلم بد خوب ته دبد خوب دليدو نه پس په دي روايت كي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (وهو طرف من الحديث الأول في الكتاب رقم ٢٢٧٠) (تحفة الأشراف: ١٣٣٩٦)

ددي علاج بيانولی شي چي چپ طرف ته دي دري پيري توكل اوكړي او دشيطان نه دي پناه اوغواړي

حافظ ابن حجر دبد خوب ليدونكي دپاره يو څو اداب جمع كړي دي يو دا چي دالله نه دي پناه اوغواړي دويم دا دي چاته نه بيانوي ، دريم چپ طرف ته دي توكل اوكړي ، څلورم اړخ دي بدل كړي ، پنځم مونځ دي اوكړي، شپږم يوپيره دي اية الكرسي اولولي ، امام قرطبي وائي په دي باره کې مونځ كول تمامو ادابو لره شامل دي دابراهيم نخعي قول دی كه څوك بد خوب اووينې نو دا دعا دي اولولي "اعوذ بما عاذت به ملائكة الله ورسوله من شر هذه ان يصيبني فيما اكره في ديني ودنياي"

زه ددي خوب دتكليف وغيره امورو نه پناه غواړم لكه چي فرشتو اود الله رسول ورنه پناهي غوښتلي ده.

****

٨ـ باب فِي الَّذِي يَكْذِبُ فِي حُلُمِهِ

په خوب كې د دروغ ونيلو بيان

٢٢٨١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الأَعْلَى، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: أُرَاهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ كَذَبَ فِي حُلُمِهِ كُلِّفَ يَوْمَ القِيَامَةِ عَقْدَ شَعِيرَةٍ". [1]

ترجمه . دعلي رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي د دروغو خوب بيان كړي (او خوب يي ليدلي نه وي) دقيامت په ورځ به دي دوريشي په مينځ كي په غوټي اچولو مكلف كړي شي.

****

٢٢٨٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عَبْدِ الأَعْلَى، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ، عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَفِي البَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي شُرَيْحٍ، وَوَاثِلَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنَ الحَدِيثِ الأَوَّلِ. [2]

---

1. تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠١٤٢) ، وانظر مسند احمد (١/٧٦، ٩٠، ١٣١)
2. تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠١٤٢) ، وانظر مسند احمد (١/٧٦، ٩٠، ١٣١)

ترجمه په دي سند هم دعلي رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت مروي دي

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي او دا حديث دماقبل حديث نه زيات صحيح دي. او په دي باب كي دابن عباس، ابوهريره، ابوشريح، او واثله رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

۲۲۸۳_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ تَحَلَّمَ كَاذِبًا كُلِّفَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنْ يَعْقِدَ بَيْنَ شَعِيرَتَيْنِ، وَلَنْ يَعْقِدَ بَيْنَهُمَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي د دروغو خوب بيان كړي دقيامت په ورځ به د دوه وريشو مينځ كي په غوټي اچولو مكلف كړي شي او دي به ددوئ په مينځ كي غوټه نشي اچولي.

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي.

****

۹_باب فِي رُؤْيَا النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّبَنَ وَالْقُمُصَ

په خوب كي درسول الله صلي الله عليه وسلم دشودو او قميص ليدلو بيان

۲۲۸٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " بَيْنَمَا أَنَا نَائِمٌ إِذْ أُتِيتُ بِقَدَحِ لَبَنٍ، فَشَرِبْتُ مِنْهُ ثُمَّ أَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ. قَالُوا: فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: الْعِلْمَ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، وَخُزَيْمَةَ، وَالطُّفَيْلِ بْنِ سَخْبَرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَجَابِرٍ. قَالَ: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 - اورده البخاري في الجامع الصحيح /التعبير ٣٥ (٧٠٤٢) . سنن ابي داود/ الأدب ٩٦ (٥٠٢٤) . سنن ابن ماجه/الرؤيا ٨ (٣٩١٦) (تحفة الأشراف : ٩٥٨٦) . و مسند احمد (٢١٦/١، ٣٤٦، ٣٥٩) (وانظر تخريج حديث رقم ١٧٥١)

2 - اورده البخاري في الجامع الصحيح /العلم ٢٢ (٨٢) . وفضائل الصحابة ٦ (٣٦٨١) . والتعبير ١٥ (٧٠٠٦) . و ١٦ (٧٠٠٧) . و ٣٤ (٧٠٢٧) . و ٣٧ (٧٠٣٢) . صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٢ (٢٣٩١) . ويأتي عند المؤلف في المناقب ١٨ (٣٦٨٧) (تحفة الأشراف : ٦٧٠٠)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرماني چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا ارشاد مبارك اوريدلي دي يو خل زه اوده وم چي ماته دشودو يو جام راوړلي شو ما ورنه اوڅکل او بيا مي خپله جوټه عمر بن خطاب ته ورکړه صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله تاسو ددي څه تعبير اوويستلو رسول الله اوفرمائيل په علم سره
امام ترمذي وايي دابن عمر حديث صحيح دي، او په دي باب کي دابوهريره، ابوبکره، ابن عباس، عبدالله بن سلام، خزيمه، طفيل بن سنجره، ابوامامه او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٢٢٨٥_حَدَّثَنَا الحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الجُرَيْرِيُّ البَلْخِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بَيْنَمَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ عَلَيَّ وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ، وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ أَسْفَلَ مِنْ ذَلِكَ، فَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ يَجُرُّهُ، قَالُوا: فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: الدِّينَ ".[1]

ترجمه : دابوامامه رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه اوده وم په خوب کي مي اوليدل چي خلق زما په وړاندي پيش کولي شي او قميصونه يي اغوستلي دي چي دبعضو قميصونه تشو ته رسيدل او دبعضو ددينه اوږده وو بيا زما په وړاندي عمر پيش کړي شو دده په جسم چي کوم قميص وو ده هغه په خان پسي راښکلو صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله تاسو ددي څه تعبير اوويستلو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په دين سره.(دا حديث د عمر فاروق دپاره د فخر خبره ده او دهغه دفضيلت لوي دليل دی)

****

٢٢٨٦_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى

1 تفرد به المؤلف وانظر مابعده (تحفة الأشراف: ١٥٥٢٩)

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ: وَهَذَا أَصَحُّ. (1)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه په واسطه هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت مروي دي
امام ترمذي وايي دا حديث دماقبل حديث نه زيات صحيح دي

****

١٠ـ باب مَا جَاءَ فِي رُؤْيَا النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِيزَانَ وَالدَّلْوَ

درسول الله په خوب كي دتلي او بوكي ليدلو بيان

٢٢٨٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا أَشْعَثُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ: "مَنْ رَأَى مِنْكُمْ رُؤْيَا؟ فَقَالَ رَجُلٌ: أَنَا رَأَيْتُ كَأَنَّ مِيزَانًا نَزَلَ مِنَ السَّمَاءِ فَوُزِنْتَ أَنْتَ وَأَبُو بَكْرٍ، فَرَجَحْتَ أَنْتَ بِأَبِي بَكْرٍ، وَوُزِنَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ، فَرَجَحَ أَبُو بَكْرٍ، وَوُزِنَ عُمَرُ وَعُثْمَانُ، فَرَجَحَ عُمَرُ، ثُمَّ رُفِعَ الْمِيزَانُ فَرَأَيْنَا الْكَرَاهِيَةَ فِي وَجْهِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : دابوبكره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا په تاسو كي چا خوب ليدلي دي؟ يو كس اوونيل ما خوب ليدلي دي چي داسمان نه يوه تله راكوزه شوه او او په دي كي ستاسو او دابوبكر تول اوشو نو ستاسو تله دابوبكر دتلي په مقابل كي درنه وه بيا دابوبكر او دعمر وزن اوكړي شو نو دابوبكر تله درنه وه بيا دعمر او دعثمان تول اوكړي شو نو دعمر تله دعثمان په تلي درنه وه او بيا تله واپس پورته كړي شوه راوي وائي چي دي وخت كي مونږ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په مخ مبارك دناخوښئ اثار اوليدل
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دي.

****

٢٢٨٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ،

---

1 أورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ١٥ (٢٢)، ومناقب الصحابة ٦ (٣٦٩١)، والتعبير ١٧ (٧٠٠٨)، و ١٨ (٧٠٠٩). صحيح مسلم/فضائل الصحابة ٢ (٢٣٩٠)، سنن النسائي/ الإيمان ١٨ (٥٠١٣) (تحفة الأشراف : ٣٩٦١)، و مسند احمد (٣/٨٦)

2 - سنن ابي داود/السنة ٩ (٤٦٣٤) (تحفة الأشراف : ١١٦٦٢) و مسند احمد (٥/٤٤، ٥٠)

عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَرَقَةَ، فَقَالَتْ لَهُ خَدِيجَةُ: إِنَّهُ كَانَ صَدَّقَكَ، وَلَكِنَّهُ مَاتَ قَبْلَ أَنْ تَظْهَرَ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أُرِيتُهُ فِي الْمَنَامِ، وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ بَيَاضٌ وَلَوْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَكَانَ عَلَيْهِ لِبَاسٌ غَيْرُ ذَلِكَ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَعُثْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ لَيْسَ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ بِالْقَوِيِّ. ([1])

ترجمه دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرماني چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دورقه بن نوفل باره كي تپوس اوكړي شو نو خديجه رضي الله عنها رسول الله ته اوونيل چي هم هغه ستا تصديق كړي وو او ستا دنبوت داعلان نه مخكي وفات شوي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه ما په خوب كي ليدلي دي چي سپيني جامي يي اغوستلي وي كه چري دي جهنمي وي نو بل قسم لباس به يي په غاړه وو
امام ترمذي وايي داحديث غريب دي او عثمان بن عبدالرحمن دمحدثينو په نزد قوي نه دي

****

٢٢٨٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ، أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ رُؤْيَا النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّاسَ اجْتَمَعُوا، فَنَزَعَ أَبُو بَكْرٍ ذَنُوبًا أَوْ ذَنُوبَيْنِ فِيهِ ضَعْفٌ وَاللهُ يَغْفِرُ لَهُ، ثُمَّ قَامَ عُمَرُ فَنَزَعَ فَاسْتَحَالَتْ غَرْبًا، فَلَمْ أَرَ عَبْقَرِيًّا يَفْرِي فَرِيَهُ حَتَّى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ. ([2])

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه درسول الله دهغه خوب باره كي مروي دي په كوم كي چي يي ابوبكر او عمر ليدلي وو رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي چي خلق يو كوهي سره جمع شوي دي چي ابوبكر يوه بوكه يا دوه بوكي راوويستلي خو دده په راويستلو كي كمزوري وه الله تعالي دي ورته مغفرت اوكړي بيا عمر پاځيدو او دوه بوكي يي راوويستلي او دا بوكه په لويه بوكه بدل شوه ما هيچرته داسي مضبوط او طاقتور انسان نه دي ليدلي چاچي داسي كار كړي وي تردي پوري چي خلقو پخپلو ارام ګاهونو كي ځاي اونيولو.

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٥٣٦)

[2] اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ٢٥ (٣٦٣٣)، وفضائل الصحابة ٥ (٣٦٧٦)، و ٦ (٣٦٨٢)، والتعبير ٢٨ (٧٠١٩)، و ٢٩ (٧٠٢٠)، صحيح مسلم /فضائل الصحابة ٢ (٢٣٩٣) (تحفة الأشراف: ٧٠٢٢)

امام ترمذي وايي داحديث دابن عمر په روايت صحيح غريب دي. او په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم يو روايت وارد دي

****

٢٢٩٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ. حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ. أَخْبَرَنِي مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ. أَخْبَرَنِي سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ. عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ. عَنْ رُؤْيَا النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "رَأَيْتُ امْرَأَةً سَوْدَاءَ ثَائِرَةَ الرَّأْسِ خَرَجَتْ مِنَ الْمَدِينَةِ حَتَّى قَامَتْ بِمَهْيَعَةَ وَهِيَ الْجُحْفَةُ. وَأَوَّلْتُهَا وَبَاءَ الْمَدِينَةِ يُنْقَلُ إِلَى الْجُحْفَةِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.(1)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه درسول الله دخوب باره کي مروي دي چي فرمائيل يي ما په خوب کي کړوډ ويختو والا يوه توره ښځه اوليدله چي دمديني نه راووتله او په مهيعه مقام کي يي قيام اوکړو (مهيعه دجحفي دويم نوم دي) ما ددي دا تعبير اوويستلو چي دا د مديني دتبي والاوبا ده چي جحفي ته به لاړه شي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي

****

٢٢٩١_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ. أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ. عَنْ أَيُّوبَ. عَنِ ابْنِ سِيرِينَ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "فِي آخِرِ الزَّمَانِ لَا تَكَادُ رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ تَكْذِبُ وَأَصْدَقُهُمْ رُؤْيَا أَصْدَقُهُمْ حَدِيثًا. وَالرُّؤْيَا ثَلَاثٌ: الْحَسَنَةُ بُشْرَى مِنَ اللهِ. وَالرُّؤْيَا يُحَدِّثُ الرَّجُلُ بِهَا نَفْسَهُ. وَالرُّؤْيَا تَحْزِينٌ مِنَ الشَّيْطَانِ. فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمْ رُؤْيَا يَكْرَهُهَا فَلَا يُحَدِّثْ بِهَا أَحَدًا. وَلْيَقُمْ فَلْيُصَلِّ". قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: "يُعْجِبُنِي الْقَيْدُ وَأَكْرَهُ الْغُلَّ. الْقَيْدُ ثَبَاتٌ فِي الدِّينِ". قَالَ: قَالَ: وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رُؤْيَا الْمُؤْمِنِ جُزْءٌ مِنْ سِتَّةٍ وَأَرْبَعِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَيُّوبَ مَرْفُوعًا. وَرَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ. عَنْ أَيُّوبَ وَوَقَفَهُ.(2)

---

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /التعبير ٤١(٧٠٣٨)، و ٤٢(٧٠٣٩)، ٤٣(٧٠٤٠). سنن ابن ماجه الرؤيا ١٠(٣٩٢٤). (تحفة الأشراف. ٧٠٢٣). وسنن الدارمي/الرؤيا ١٣(٢٢٠٧)

2 . انظر حديث رقم ٢٢٧٠ و ٢٢٨٠)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په اخرت كي به دمومن خوب كم دروغ وي خوبونه به دهغه خلقو رښتيا وي دچا خبري چي بي زياتي رښتيا وي او خوبونه په دري قسمه دي ښه خوب دالله تعالي دطرف نه بشارت وي. او هغه خوب كوم چي ديو انسان په زړه كي سوچ كړي وي او هغه خوب كوم چي دشيطان دطرفه وي او دغم سبب وي لهذا كله چي څوك په تاسو كي ناكاره خوب اوويني نو دا دي هيچاته نه بيانوي ده لره پكار دي چي اودريږي او مونځ اوكړي ابوهريره رضي الله عنه فرمائي زه په خوب كي قيد ليدل ښه ګڼړم او زولني ليدل بد ګڼړم دقيد تعبير په ثابت قدمئ دي ابوهريره رضي الله عنه اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمومن خوب دنبوت څلويښتمه حصه ده

امام ترمذي وايي: عبدالوهاب ثقفي دايوب نه دا حديث مرفوعا نقل كړي دي او حماد بن زيد دايوب نه موقوفا نقل كړي دي.

****

٢٢٩٢_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ. عَنْ شُعَيْبٍ وَهُوَ ابْنُ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ ابْنِ أَبِي حُسَيْنٍ وَهُوَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي حُسَيْنٍ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ فِي يَدَيَّ سِوَارَيْنِ مِنْ ذَهَبٍ فَهَمَّنِي شَأْنُهُمَا، فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ أَنْفُخَهُمَا فَنَفَخْتُهُمَا فَطَارَا، فَأَوَّلْتُهُمَا كَاذِبَيْنِ يَخْرُجَانِ مِنْ بَعْدِي، يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا: مُسَيْلِمَةُ صَاحِبُ الْيَمَامَةِ، وَالْعَنْسِيُّ صَاحِبُ صَنْعَاءَ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ما په خوب كي اوليدل چي زما په لاسونو كي دسرو زرو دوه بنګړي دي او ددوئ حالت زه په غم كي واچولم بياماته وحي اوشوه چي زه په دوئ كي پوكي اوكړم لهذا ما په دي كي پوكي اوكړو نو دا دواړه والوتل او ما ددي دواړو بنګړو تعبير دنبوت په دوه دروغژنو دعوه كونكو باندي

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /المناقب ٢٥ (٣٦٢١) . والمغازي ٧٠ (٤٣٧٤ ٤٣٧٥) . و ٧١ (٤٣٧٩) . والتعبير ٣٨ (٧٠٣٤) . و ٤٠ (٧٠٣٧) . صحيح مسلم/الرؤيا ٤ (٢٢٧٤) . سنن ابن ماجه/الرؤيا ١٠ (٣٩٢٢) (تحفة الأشراف : ١٣٥٧٤) . و مسند احمد (٣١٩/٢ ، ٣٢٨ ، ٣٤٤)

اوويستلو چي زما نه پس به راخي ديو نوم به مسيلمه وي چي ديمامي اوسيدونکي به وي او ددويم نوم به عنسي وي چي دصنعاء اوسيدونکي به وي
امام ترمذي وايي داحديث صحيح غريب دي

****

٢٢٩٣ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ يُحَدِّثُ، أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ ظُلَّةً يَنْطِفُ مِنْهَا السَّمْنُ وَالْعَسَلُ، وَرَأَيْتُ النَّاسَ يَسْتَقُونَ بِأَيْدِيهِمْ فَالْمُسْتَكْثِرُ وَالْمُسْتَقِلُّ، وَرَأَيْتُ سَبَبًا وَاصِلًا مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ، وَأَرَاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَخَذْتَ بِهِ فَعَلَوْتَ، ثُمَّ أَخَذَ بِهِ رَجُلٌ بَعْدَكَ فَعَلَا، ثُمَّ أَخَذَ بِهِ رَجُلٌ بَعْدَهُ فَعَلَا، ثُمَّ أَخَذَ بِهِ رَجُلٌ فَقُطِعَ بِهِ، ثُمَّ وُصِلَ لَهُ فَعَلَا بِهِ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَيْ رَسُولَ اللَّهِ، بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي وَاللَّهِ لَتَدَعَنِّي أَعْبُرْهَا، فَقَالَ: "اعْبُرْهَا". فَقَالَ: أَمَّا الظُّلَّةُ فَظُلَّةُ الْإِسْلَامِ، وَأَمَّا مَا يَنْطِفُ مِنَ السَّمْنِ وَالْعَسَلِ، فَهُوَ الْقُرْآنُ لِينُهُ وَحَلَاوَتُهُ، وَأَمَّا الْمُسْتَكْثِرُ وَالْمُسْتَقِلُّ فَهُوَ الْمُسْتَكْثِرُ مِنَ الْقُرْآنِ وَالْمُسْتَقِلُّ مِنْهُ، وَأَمَّا السَّبَبُ الْوَاصِلُ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ فَهُوَ الْحَقُّ الَّذِي أَنْتَ عَلَيْهِ فَأَخَذْتَ بِهِ فَيُعْلِيكَ اللَّهُ، ثُمَّ يَأْخُذُ بِهِ بَعْدَكَ رَجُلٌ آخَرُ فَيَعْلُو بِهِ، ثُمَّ يَأْخُذُ بِهِ بَعْدَهُ رَجُلٌ آخَرُ فَيَعْلُو بِهِ، ثُمَّ يَأْخُذُ رَجُلٌ آخَرُ فَيَنْقَطِعُ بِهِ، ثُمَّ يُوصَلُ لَهُ فَيَعْلُو، أَيْ رَسُولَ اللَّهِ، لَتُحَدِّثَنِّي أَصَبْتُ أَوْ أَخْطَأْتُ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَصَبْتَ بَعْضًا وَأَخْطَأْتَ بَعْضًا". قَالَ: أَقْسَمْتُ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي لَتُخْبِرَنِّي مَا الَّذِي أَخْطَأْتُ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُقْسِمْ". قَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي ابوهريره رضي الله عنه به حديث بيانولو چي يو کس نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته راغلو او ونيل يي ما په خوب کي دوريځي يوه ټوټه ليدلي ده چي شهد او غوړي ورنه څڅيدل او څه خلق مي اوليدل چي ددينه يي پخپلو لاسونو څکل، چا ډير اوڅکل او چا کم اوڅکل او ما يوه رسۍ اوليده چي داسمان نه زمکي ته رازوړنده شوي وه. او اي دالله رسوله ماته په خوب کي اوليدلي چي دا رسۍ دي نيولي ده او پورته اوختلي بيا ستا نه پس دا رسۍ يو بل کس اونيوله او پورته اوختلو او بيا دهغه نه پس يو

---

[1] ـ سنن ابي داود/ الأيمان والنذور ١٣ (٣٢٦٨) . سنن ابن ماجه/الرؤيا ١٠ (٣٩١٨) . وانظر أيضا: اورده البخاري في الجامع الصحيح /التعبير ١١ (٧٠٠٠) ، و ٤٧ (٧٠٤٦) . وصحيح مسلم /الرؤيا ٣ (٢٢٦٩) (تحفة الأشراف : ١٣٥٧٥)

بل کس دا رسئ اونیوله او هغه هم پورته اوختلو بیا دا رسئ دهغه نه پس یو بل کس اونیوله نو دا اوشلیدله بیا دا پیوند کړي شوه او هغه هم پورته اوختلو. ابوبکر رضي الله عنه اووئیل اي دالله رسوله زما مور او پلار دي ستانه قربان شي په الله قسم ماته ددي خوب دتعبیر بیانولو اجازت راکړه رسول الله اوفرمائیل تاته دبیانولو اجازت دي. ابوبکر اووئیل دوریځي دتوکړي نه مراد اسلام دي او دشهد او غوړو نه مراد قران دي او دقران خوږوالي او نرمي ده او دزیات او کم څکونکو نه مراد دقران حاصلونکي دي او داسمان نه زمکي ته دزوړندي شوي رسئ نه مراد هغه حق دي په کوم چي ته قائم یي تا دا نیولي ده او بیا به دي الله تعالي پورته رخ ژوي او بیا به یي ستا نه پس یو بل کس اونیسي هغه به هم په دي باندي پورته اوخیژي بیا به یي دهغه نه پس بل کوم کس اونیسي هغه به هم اوخیژي بیا به یي بل (دریم) کس اونیسي نو هغه به هم اوخیژي بیا به ددینه پس یو بل کس دارسئ اونیسي اورسئ به اوشلیږ مګر دي کي به پیوند واچولي شي او هغه به هم اوخیژي، اي دالله رسوله دا راته اووایه چي ما دخوب تعبیر صحیح بیان کړو او که غلط رسول الله اوفرمائیل څه دي صحیح بیان کړو او څه غلط ابوبکر رضي الله عنه اووئیل زما مور او پلار درنه قربان شه زه.درته قسم درکوم چي ماته زما غلطي واضح کړه رسول الله اوفرمائیل قسم مه راکوه.

امام ترمذي وایي داحدیث حسن صحیح دي.

****

٢٢٩٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمِ "إِذَا صَلَّى بِنَا الصُّبْحَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ بِوَجْهِهِ، وَقَالَ: هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنْكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا؟"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَيُرْوَى هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَوْفٍ، وَجَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ، عَنْ أَبِي رَجَاءٍ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمُ فِي قِصَّةٍ طَوِيلَةٍ، قَالَ: وَهَكَذَا رَوَى مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ وَهْبِ بْنِ جَرِيرٍ مُخْتَصَرًا.[1]

ترجمه دسمره بن جندب رضي الله عنه نه روایت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم مونږ ته دسحر مونځ راکړو او فارغ شو نو خلقو طرف ته متوجه شو او ویي فرمائیل ایا په تاسو کي چا نن شپه خوب لیدلي دي

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجنائز ٩٣ (١٣٨٦) . والتعبير ٤٨ (٧٠٤٧) . صحيح مسلم/الرؤيا ٣ (٢٢٧٥) (تحفة الأشراف : ٤٦٣٠)

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او داحديث ديوي اوږدي قصي په ضمن كي دعوف او جرير بن حازم نه هم مروي دي او دوئ دواړو درجاء نه او رجاء دسمره او سمره دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي دارنګي محمد بن بشار هم دا حديث دوهب بن جرير نه مختصر نقل كړي دي

****

كتاب الشهادات (عن رسول الله صلى الله عليه وسلم)

د شهادت (ګواهي وركولو) احكام او مسائل

د شهادت لغوى معنى ،د مشاهدې نه پس د څه شى خبر وركول دي. اود فقهاؤ په اصطلاح كښې د چا حق ثابتولو دپاره د قاضى په مجلس كښې په لفظ د شهادت سره د رشتيا خبرې د خبر وركولو په معني دى . اود شهادت د تحمل سبب ددغه شى مشاهده كول دى،د كوم شى په باره كښې چې ګواهى وركولې شى يعنى كوم څيزونه چې په سترګو سره كتلې كيږى،په هغې كښې كتل ضرورى دى اوكوم څيزونه چې په غوږونو سره اوريدلې شى. په هغې كښې اوريدل ضرورى دى اود شهادت اداكولو سبب دادې چې يا خو دده مدعى ګواهى طلب كړى اويا د مدعى د حق فوت كيدلو يره وى،خودا به هغه وخت وى.كله چې مدعى ته دده شاهد كيدل معلوم نه وى اود شهادت شرط دادې چې شاهد كامل العقل وى،د شهادت ياد ساتلو صلاحيت وى،ولايت حاصل وى اود مدعى او مدعى عليه په منځ كښې فرق كولو باندې قدرت حاصل وى اوكه مدعى عليه مسلمان وى،نود شاهد مسلمان كيدل هم شرط دى،د شهادت ركن لفظ " اشهد " دې اوددې حكم د شاهدينو په نزد د تزكيه نه پس قاضى باندې د شهادت د مقتضى مطابق فيصله و اجبيدل دى. (عنايه علي الهدايه)

د شهادت بالحق. محاسنو نه يو حسن دادى چې شهادت بالحق مامور بها دې يعنى الله تعالى ددې امر فرمائيلې دې لكه چې د الله تعالى ارشاد دې: كونوا لله قوامين شهداء بالقسط . اود شهادت په جواز باندې دا آيت دلالت كوى واستشهدوا شهيدين من رجالكم. بلكه الله تعالى فرمائيلى دى كه مدعى د ګواهانو نه ګواهى طلب كړى نو ګواهانو له انكار كول پكار نه دى لكه چې ارشاد دې ولا ياب الشهداء اذا مادعوا (عنايه علي الهدايه)

١_باب مَا جَاءَ فِي الشُّهَدَاءِ أَيُّهُمْ خَيْرٌ

په ګواهانو كې بهتر ګواه څوك دي

٢٢٩٥_حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو

بْنِ حَزْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي عَمْرَةَ الأَنْصَارِيِّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَاءِ ؟ الَّذِي يَأْتِي بِالشَّهَادَةِ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا ".[1]

ترجمه دزيد بن خالد جهني رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاسو ته په ټولو کي دښه ګواه متعلق خبر درنکړم ؟ په ټولو کي بهتر ګواه هغه څوک دي چي دګواهئ طلب کيدو نه مخکي خپله ګواهي اورسوي

دزيد بن خالد رضي الله عنه حالات

نوم زيد کنيه ابو عبدالرحمان دپلار نوم خالد دقبيله جهينه سره يي تعلق وو، دصلح حديبيه نه مخکي مسلمان شوی وو او په مدينه کي يي رهائش اختيار کړی وو دفتح مکي په ورځ دده دقبيلي جهنډه دده په لاس کي وه (الاصابه).

وفات دده د وفات کيدو دکال په تاريخ کي اختلاف دی زيات صحيح قول دادی چي په مدينه کي ۷۸هجري کي وفات شوی وو او دوفات کيدو په وخت کي يي عمر ۸۵کلونه وي (طبقات ابن سعد تهذيب التهذيب)

****

۲۲۹٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ نَحْوَهُ، وَقَالَ ابْنُ أَبِي عَمْرَةَ. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَكْثَرُ النَّاسِ، يَقُولُونَ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي عَمْرَةَ، وَاخْتَلَفُوا عَلَى مَالِكٍ فِي رِوَايَةِ هَذَا الْحَدِيثِ، فَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ أَبِي عَمْرَةَ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنِ ابْنِ أَبِي عَمْرَةَ وَهُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي عَمْرَةَ الأَنْصَارِيُّ، وَهَذَا أَصَحُّ لِأَنَّهُ قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ حَدِيثِ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ غَيْرُ هَذَا الْحَدِيثِ، وَهُوَ حَدِيثٌ صَحِيحٌ أَيْضًا، وَأَبُو عَمْرَةَ مَوْلَى زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، وَلَهُ حَدِيثُ الْغُلُولِ، وَأَكْثَرُ النَّاسِ، يَقُولُونَ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي عَمْرَةَ.[2]

---

1 صحيح مسلم/الأقضية ۹ (۱۷۱۹)، سنن ابي داود/ الأقضية ۱۳ (۳۵۹٦)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۲۸ (۲۳٦۴) (تحفة الأشراف: ۳۷۵۴)، وط/الأقضية ۲ (۳)

2 صحيح مسلم/الأقضية ۹ (۱۷۱۹)، سنن ابي داود/ الأقضية ۱۳ (۳۵۹٦)، سنن ابن ماجه/الأحكام ۲۸ (۲۳٦۴) (تحفة الأشراف: ۳۷۵۴)، وط/الأقضية ۲ (۳)

ترجمه . په دي سند هم دماقبل هم معني روايت مروي دي
امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي، اكثرو راويانو پخپل روايت كي عبدالرحمن بن ابي عمره ذكر كړي دي، مگر ددي حديث په نقل كولو كي دمالك په شاگردانو كي اختلاف دي دهغه بعضي شاگردانو دا روايت د ابي عمره نه نقل كړي دي او بعضو دابن ابي عمره نه چي نوم يي عبدالرحمن بن ابي عمره انصاري دي او ابن ابي عمره زيات صحيح دي خكه چي دمالك نه علاوه نورو دوه راويانو عن عبدالرحمن بن ابي عمره عن زيد بن خالد سند ذكر كړي دي او عن ابن ابي عمره عن زيد بن خالد سند سره ددي حديث نه علاوه بل حديث هم مروي دي او هغه حديث صحيح دي ابوعمره دزيد بن خالد جهني ازاد كړي غلام وو او دابوعمره په واسطه دخالد نه حديث دغلول هم مروي دي او اكثر علماء عبدالرحمن بن ابي عمره واني

****

٢٢٩٧_حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ آدَمَ ابْنُ بِنْتِ أَزْهَرَ السَّمَّانِ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا أُبَيُّ بْنُ عَبَّاسِ بْنِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ عُثْمَانَ، حَدَّثَنِي خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي عَمْرَةَ، حَدَّثَنِي زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ الْجُهَنِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " خَيْرُ الشُّهَدَاءِ مَنْ أَدَّى شَهَادَتَهُ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه . دزيد بن خالد جهني رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي په ټولو گواهانو كي بهتر گواه هغه دي څوك چي دهغه نه دگواهۍ كولو دمطالبي نه مخكي هغه پخپله خوښه د گواهۍ فريضه اداء كړي
امام ترمذي وايي. داحديث په دي سند حسن غريب دي

****

٢_بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ لَا تَجُوزُ شَهَادَتُهُ

دچاچا شهادت مقبول او درست نه دي

٢٢٩٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ زِيَادٍ الدِّمَشْقِيِّ،

---

[1] صحيح مسلم/الأقضية ٩ (١٧١٩)، سنن ابي داود/ الأقضية ١٣ (٣٥٩٦)، سنن ابن ماجه/الأحكام ٢٨ (٢٣٦٤) (تحفة الأشراف ٣٧٥٤)، وط/الأقضية ٢ (٣)

عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ خَائِنٍ، وَلَا خَائِنَةٍ، وَلَا مَجْلُودٍ حَدًّا، وَلَا مَجْلُودَةٍ، وَلَا ذِي غِمْرٍ لِأَخِيهِ، وَلَا مُجَرَّبِ شَهَادَةٍ، وَلَا الْقَانِعِ أَهْلَ الْبَيْتِ لَهُمْ، وَلَا ظَنِينٍ فِي وَلَاءٍ، وَلَا قَرَابَةٍ". قَالَ الْفَزَارِيُّ: الْقَانِعُ التَّابِعُ. هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَزِيدَ بْنِ زِيَادٍ الدِّمَشْقِيِّ، وَيَزِيدُ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ، وَلَا يُعْرَفُ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ إِلَّا مِنْ حَدِيثِهِ، وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ: وَلَا نَعْرِفُ مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ، وَلَا يَصِحُّ عِنْدِي مِنْ قِبَلِ إِسْنَادِهِ، وَالْعَمَلُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي هَذَا أَنَّ شَهَادَةَ الْقَرِيبِ جَائِزَةٌ لِقَرَابَتِهِ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي شَهَادَةِ الْوَالِدِ لِلْوَلَدِ، وَالْوَلَدِ لِوَالِدِهِ، وَلَمْ يُجِزْ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ شَهَادَةَ الْوَالِدِ لِلْوَلَدِ، وَلَا الْوَلَدِ لِلْوَالِدِ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا كَانَ عَدْلًا، فَشَهَادَةُ الْوَالِدِ لِلْوَلَدِ جَائِزَةٌ، وَكَذَلِكَ شَهَادَةُ الْوَلَدِ لِلْوَالِدِ، وَلَمْ يَخْتَلِفُوا فِي شَهَادَةِ الْأَخِ لِأَخِيهِ أَنَّهَا جَائِزَةٌ، وَكَذَلِكَ شَهَادَةُ كُلِّ قَرِيبٍ لِقَرِيبِهِ، وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا تَجُوزُ شَهَادَةٌ لِرَجُلٍ عَلَى الْآخَرِ وَإِنْ كَانَ عَدْلًا إِذَا كَانَتْ بَيْنَهُمَا عَدَاوَةٌ، وَذَهَبَ إِلَى حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ صَاحِبِ إِحْنَةٍ، يَعْنِي: صَاحِبَ عَدَاوَةٍ، وَكَذَلِكَ مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ حَيْثُ قَالَ: "لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ صَاحِبِ غِمْرٍ لِأَخِيهِ". يَعْنِي: صَاحِبَ عَدَاوَةٍ. (1)

ترجمه . دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دخيانت كر سړي او خيانتګري ښځي ګواهي درسته او مقبول نه ده او نه دهغه سړو او ښځو ګواهي مقبول ده په چاچي حد نافذ او جاري شوي وي او نه دخپل ورور سره د دشمني لرونکي ګواهي مقبول ده اونه دهغه کس ګواهي قبلیږي چا باندي چي يو خل د دروغو ګواهي ثابته شوي وي او نه دهغه چا ګواهي مقبول ده څوك چي دبل چا د كفالت لاندي وي او دي دهغه دپاره ګواهي کوي او نه دهغه چا ګواهي قبليږي څوك چي دولاء يا رشته دارئ په نسبت متهم وي.

امام ترمذي وايي. داحديث غريب دي او مونږ دا صرف ديزيد بن زياد دمشقي په سند پيژنو او يزيد په باب دحديث كي ضعيف دي دا رنګي دا حديث دزهري په روايت صرف په همدي سند متصل دي، او په دي باب كي دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي، فزاري وائي دقانع نه مراد تابع دي، ددي حديث په مطلب مونږ نه پوهيږو او نه دسند په اعتبار سره دا حديث زما په نزد صحيح دي، او داكثرو اهل علمو په دي باندي عمل دي چي درشته دار

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٦٩٠)

دپاره درښتي ګواهي درسته ده البته دخوي په حق کي دپلار ګواهي یا دپلار په حق کي دخوي ګواهي باره کي داهل علمو اختلاف دي اکثر اهل علم یي درست نه ګڼړي مګر بعضي اهل علم وائي کله چي ګواه عادل وي نو دپلار ګواهي به دخوي په حق کي او دارنګي دخوي ګواهي به دپلار په حق کي درست وي، او د ورور ګواهي دجواز باره کي اختلاف نشته دارنګي درشته دار دپاره درشته دار په ګواهئ کي هم اختلاف نشته. امام شافعي وائي کله چي ددوه کسانو مینځ کي دشمني وي نو دیو په خلاف به دبل ګواهي درست نه وي اګر که ګواهي کونکي عادل هم وي او امام شافعي په دي باره کي دعبدالرحمن اعرج دحدیث نه استدلال کړي دي کوم چي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه مرسل مروي دي چي ددشمني کونکي ګواهي درست نه وي دارنګي د مذکوره حدیث هم دا مفهوم دي په کوم کي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چي دخپل ورور سره ددشمني کونکي ګواهي درسته نه ده

تشریح: صاحب د قدوری فرمائی چي د پلار ګواهی به د هغه د اولاد. او د اولاد اولاد په حق کښې نشی قبلولې اونه به د اولاد ګواهی د هغوی د مور پلار او نیکونو په حق کښې قبلولې شی،په دې باره کښې دا حدیث اصل دې،رسول الله ﷺ فرمائیلی دی،چه. د خوی ګواهی د هغه د پلار په حق کښې اود پلار ګواهی د هغه د خوی په حق کښې نه قبلیږی اونه د ښځې ګواهی د هغې د خاوند په حق کښې قبلیږی اونه د خاوند ګواهی د هغه د ښځې په حق کښې قبلیږی اونه د غلام ګواهی د هغه د آقا په حق کښې قبلیږی او نه د آقا ګواهی د هغه دغلام په حق کښې قبلیږی اونه د مزدورګواهی په اجرت باندې د اختونکی په حق کښې قبلیږی.

عقلی دلیل دادې چې د اولاد او پلار نیکونو په منځ کښې منافع یوځائې وی یعنی د پلار مملوکه څیز نه خوې اود خوی مملوکه څیز نه پلار نفع اوچتوی او په عرف کښې دا بد هم نه ګڼړلې کیږی.په دې وجه د پلار خپل خوی ته اود خوی خپل پلار ته زکاة ورکول جائز نه دې نوکه پلار د خپل خوی یا نمسی په حق کښې ګواهی ورکوی،یا خوې د خپل پلار دپاره ګواهي ورکوی نو ددوی په منځ کښې چونکه منافع متصل او مشترك دی څکه به دا شهادت من وجه د خپل ذات دپاره وی،یا به کم ازکم په دې کښې دا شبه وی چې ګواه د خپلې نفع دپاره ګواهی ورکړې ده اودا خبره منلې شوې ده چې ګواه له داسې ګواهی په کومې سره چې د هغه ذات ته نفع رسیږی،یا د نفع رسیدلو شبه وی،د تهمت په وجه نه قبلیږی نود پلار ګواهی د اولاد په حق کښې اود اولاد ګواهی د مور پلار په حق کښې نه قبلیږی.

****

٣_باب مَا جَاءَ فِي شَهَادَةِ الزُّورِ
په دروغه ګواهۍ کولو دمذمت بيان

٢٢٩٩_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ زِيَادٍ الأَسَدِيِّ، عَنْ فَاتِكِ بْنِ فَضَالَةَ، عَنْ أَيْمَنَ بْنِ خُرَيْمٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ خَطِيبًا، فَقَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، " عَدَلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ إِشْرَاكًا بِاللَّهِ ". ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ (الحج : ٣٠)، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ سُفْيَانَ بْنِ زِيَادٍ، وَاخْتَلَفُوا فِي رِوَايَةِ هَذَا الْحَدِيثِ عَنْ سُفْيَانَ بْنِ زِيَادٍ، وَلَا نَعْرِفُ لِأَيْمَنَ بْنِ خُرَيْمٍ سَمَاعًا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه : دايمن بن خريم رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم خطبي وركولو دپاره اودريدو اوويي فرمائيل اي خلقو په دروغه ګواهي وركول الله تعالي سره دشرك كولو سره په ګناه كي برابره ده اوبيا يي دا ايت كريمه " فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ "تلاوت كړو يعني دبتانو دپليتۍ نه خان اوساتئ (يعني بندګي يي مه كوئ) او د دروغ ونيلونه خان اوساتئ

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي دا مونږ ته صرف دسفيان بن زياد په سند رارسيدلي دي او اهل علمو دسفيان بن زياد نه ددي حديث په نقل كولو كي اختلاف كړي دي، دارنګي دائمن بن خريم سماع هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ثابت نه ده

لغات : قول الزور : معني دروغ خبري

تشريح: صاحب دقاموس اللغات ليكلي دي زُور په ضمي سره په معني دشرك دي او ديهودو او نصاري دميلي په معني دي او دسرور او دګانو مجلس او ددينه علاوه دبل معبود او قوت په معني دي . زه وايم صاحب دقاموس چي كوم معاني بيان كړي دي پدي كي درئيس او قوت نه علاوه پدي ايت كي هره معني مراد كيدي شي

"شهادة الزور" په دروغه ګواهي كول يعني چي غلطه خبره په داسي انداز كي پيش كړي چي اوريدونكي يي رښتيا اوګڼري

تفسير مظهري ددي ايت كريمه وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ متعلق داسي وايي

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٢٨)

زور لفظ د الزّور نه مشتق دي په معني دوړيدلو سره اودروغ خبره هم د حق نه منحرف كول كوي لكه د افك پشان چي د افك نه مشتق دي اودروغ خبره هم دصداقت نه اړول كوي زور لفظ اگرچي عام دي او هرقسم دروغ خبرو ته شامل دي ليكن دلته ورنه دكافرانو مشركانه مقولي مراد دي . مثلا هغوی ونيل چي فرشتو لره الله تعالي لونړه نيولي دي . اوبتان به دالله په دربار كي زمونږ سفارش كوي اود لبيك ونيلو په وخت كي به يي داسي وئيل: "لبيك لا شريك لك لبيك الا شريكا تملكه وما ملك".

امام احمد ، ابوداود ، ابن ماجه ، طبراني او ابن المنذر دخريم بن فاتك نه روايت نقل كړي دي چي رسول الله دسحر مونځ وكړو اود مونځ نه پس ودريدو او وئي فرمائيل په دروغه گواهي كول دشرك سره برابر دي اود كلام يي دري پيري اعاده كړو او بيا يي ايت كريمه "فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ"تلاوت كړو.

بخاري د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل كړي دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي په روژه كي دروغ خبری اوغلط كارونه نه پريدي نو خوراك څكاك پريښودوته يی دالله تعالي هيڅ حاجت نشته.

يعني په دروغو غيبت او نورو غلطو كارونو دروژی ثواب كميږي نو چي بنده خوله دخوراك څكاك نه بنده كړی وي، او په ځان تكليف تيروي، نو پكار ده چي ژبه هم د دروغو او غلطو خبرونه او نور اندامونه هم دناجائزو كارونونه منع كړي چي ثواب يی پوره شي دا مطلب نه دی كه څوك ژبه او نور اندامونه دناجائزو كارونو نه نشي بچ كولی نو روژه دی هم نه نيسي ځكه چي كه روژه اونه نيسي نو گناه به يی ډبله شي هم دروژی نه نيوو او هم دناجائزو كارونو. اوكه روژه اونيسي نو اگرچي ثواب يی كم وي، خو ديو گناه نه خوبه بچ شي.

وقال تعالی: ﴿ وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ ﴾ [الفرقان: ٧٢].

[اوداهغه كسان دي چي نه حاضريږي دروغوته].

د اكثرو مفسرينو په نزد د يشهدون نه مراد گواهي كول دي ددي تفسير په بنا دايت مطلب دا شو چي دا خلق د دروغو په گواهئ كي شركت نه كوي قاضي ثناء الله فاني پتي رحمة الله عليه په دي باره كي بهترين وضاحت كړی دی كوم چي مندرجه ذيل دی

دعلي بن طحه په نزد دشهادت الزور نه مراد دخلقو په خلاف په دروغه شهادت كول دي، بغوي دا هم ليكلي دي چي عمر رضي الله عنه فرمائيلي دي په دروغه گواهي كونكي به ځلوينبت كوړي وهلي شي او مخ به يي تورولي شي او په بازار كي به گرځولي شي.

ابن ابي شيبه دابو خالد په روايت سره دحجاج نه او هغه دمكحول نه دوليد بيان نقل كړي دي چي عمر رضي الله عنه خپلو هغو عاملانو ته چي په شام كي مقرر وو يو تحرير ليږلي وو چي په

- دروغه ګواهي کونکي به څلويښت کوړي وهي او مخ به يي توروي او سر به يي خروي او تراوړدي مودي به يي قيد کوي ، عبدالرزاق په مصنف کې دمکحول په سند سره روايت بيان کړي دي چي عمر فاروق رضي الله عنه په دروغه ګواهي کونکي لره څلويښت کوړي سزا ورکړي وه .

عبدالرزاق دا هم ليکلي دي چي ماته يحيي بن علاء او هغه ته احوص بن حکيم روايت بيان کړي دي او احوص دخپل پلارنه روايت نقل کړي دي چي عمر فاروق رضي الله عنه په دروغه د شهادت کونکي متعلق حکم کړي وو چي دداسي کس مخ دي تور کړي شي او دده پټکي دي دده په مري کې واچولي شي او په ټولو قبيلو کې دي اوګرځولي شي.

دعمرفاروق رضي الله عنه ددي احکامو په رڼا کې امام مالك ، شافعي، ابويوسف او محمد په نزد به په دروغه ګواهي کونکي ته تعذيري سزا ورکولي شي او دي به دقوم په وړاندي اودرولي شي ددي دپاره چي هغوی يي اوپيژني چي دي په دروغه ګواهي کونکي دي امام مالك دومره اضافه کړي ده چي په مساجدو او بازارونو کې دي داسي کس حاضر کړي شي .

دذکر شوو امامانو قول دي چي په دروغه شهادت کول کبيره ګناه ده لکه چي صحيحينو درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان دانس رضي الله عنه نه نقل کړي دي . دبخاري په روايت کې دي چي رسول الله اوفرمائيل ايا زه تاسو ته اونه ښايم چي په ټولو کې لويه ګناه کومه يوه ده، صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله ضرور يي راته اوښايه نو ويي فرمائيل دالله تعالي سره په عبادت کې بل څوك شريکول او بل چالره دهغه په شان ګڼړل . او دپلار نه سرکشي کول ، رسول الله ددي وخته پوري ډډه وهلي وه او ددينه پس فورا کيناستو او ويي فرمائيل واوري او په دروغه ګواهي کول هم لويه ګناه ده رسول الله صلي الله عليه وسلم په دروغه دګواهي کولو لفظ دومره ډيري بار بار تکرار کړو چي مونږ اووئيل کاش چي رسول الله خاموش شوي وي نو بهتره به وه .

دامام ابو حنيفه په نزد دتعذيري سزا دپاره صرف تشهير کافي دي وهل او قيد کول يي جائز نه دي ځکه چي دتعذير مقصد دمجرم منع کوم دي او دا مقصد په تشهير سره حاصليږي وهل او قيد کول په زجر او منع کولو کې شدت دي تردي چي دداسي سختي سزا تصور مجرم لره دخپل دروغو دشهادت اقرار او دشهادت نه دواپس کيدو نه منع کول دي اودشهادت دروغژن کيدل بغير ددينه نه ثابتيږي چي مجرم پخپله دخپل شهادت ددرغژن کيدو اقرار وکړي او د ورکړي شهادت نه واپس شي لهذا دورکړي شهادت په سزا کې تخفيف پکار دي . پاتي شو دعمر رضي الله عنه اثر نو هغه يو سياسي حکم وو (يعني کوم جاري قانون نه وو)

دامام ابو حنيفه دقول پشان د قاضي شريح يو قول هم په يوروايت کې راغلي دي چي امام محمد په کتاب الاثار کې بيان کړي دي چي شريح به کله کوم دروغژن ګواه اونيولو او مجرم به

څوك بازاري سړي وو نو شريح به خپل قاصد ته حکم اوکړو چې ورشه او بازاريانو ته اووايه چې شريح په تاسو سلام وائي او دسلام نه پس هغه دا ونيلي دي چې دا کس مونږ د دروغو په ګواهۍ اوليدلو لهذا تاسو ورنه پرهيز اوکړئ او که چرې مجرم به په عربو کې دکومې قبيلې نه وو نو ددغه قبيلې مسجد ته به يې قاصد اوليږلو او مذکوره پيغام به يې ددې قاصد په خوله اوليږلو ابن ابي شيبه هم دشريح دا فيصله نقل کړې ده، دابن جريج په نزد دشهادت الزور نه مراد هر قسم دروغ مراد دي صرف شرك نه دي

بغوي ليکلي دي دزور اصل معني کوم څيز لره بنائسته کول او داصل حالت په خلاف په بل حالت خودل دي، پس دزور معني په باطل باندې داسې ټينګيدل تردې چې هغه خلقو ته حق ښکاره شي.(قاضي ثناء الله پاني پتي)

****

٢٣٠٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ وَهُوَ ابْنُ زِيَادٍ الْعُصْفُرِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ النُّعْمَانِ الأَسَدِيِّ، عَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ الأَسَدِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَامَ قَائِمًا، فَقَالَ: " عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ بِالشِّرْكِ بِاللَّهِ " ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الآيَةَ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ (الحج : ٣٠) إِلَى آخِرِ الآيَةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا عِنْدِي أَصَحُّ. وَخُرَيْمُ بْنُ فَاتِكٍ لَهُ صُحْبَةٌ. وَقَدْ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَادِيثَ وَهُوَ مَشْهُورٌ.[1]

ترجمه دخريم بن فاتك اسدي رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دسحر مونځ وركړو كله چې دمونځ نه فارغ شو نو خطبي وركولو دپاره اودريدو او ويې فرمائيل په دروغه ګواهي وركول په ګناه كې الله تعالي سره دشرك كولو سره برابر دي. او دا كلمات يې درې ځيرې تکرار کړل او بيا يې دا ايت كريمه "واجتنبوا قول الزور" پوره تلاوت کړو يعني د دروغو دګواهۍ نه ځانونه اوساتئ.

امام ترمذي وايي: داحديث زما په نزد زيات صحيح دي او خريم بن فاتك ته شرف دصلاحيت حاصل دي او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه يې متعدد احاديث نقل کړي دي او مشهور صحابي دي

دابو يحيي خريم بن فاتك رضي الله عنه مناقب

نوم خريم دپلار نوم فاتك دبنو اسد قبيلې سره تعلق لري او كنيه يې ابو يحيي ده په صلحه

[1] ـ سنن ابن ماجه/الأحكام ٣٢(٢٣٧٢)

حديبيه کې شريك شوی وو او دشام اوسيدونكی وو ليكن بعضو په كوفيانو کې شميرلی دی لس روايات ورنه منقول دي چي په سنن کې موجود دی بخاري او مسلم ورنه نقل دروايت نه دی کړی.

****

۲۳۰۱ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟" قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ، وَشَهَادَةُ الزُّورِ، أَوْ قَوْلُ الزُّورِ". قَالَ: فَمَا زَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهَا حَتَّى قُلْنَا لَيْتَهُ سَكَتَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. (١)

ترجمه: ابوبكره رضي الله عنه دخپل پلار نه روايت نقل كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاسو خبر كړم چي په غټو ګناهونو کې تولو نه غټه ګناه كومه يوه ده مونږ عرض اوكړو ضرور مونږ خبر كړه يا رسول الله! رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله سره شريك جوړول اودمور پلار نافرماني كول رسول الله صلي الله عليه وسلم ډډه وهلی وه نو كيناستو او وبی فرمائيل او دروغ ونيل بيا بيا به ی دا جمله ونيله تردی چي مونږ اوونيل كاش چي غلی شوی.

لغات: عقوق د عقّ نه ماخوذ دي معني يي قطع كول دي ، نافرماني كول، بد سلوك كول.

تشريح: علماء وائي چي ګناهونه په دوه قسمه دي اول صغيره دويم كبيره ددي په تعريف کې مختلف اقوال دي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وائي يه كومو ګناهونو چي الله تعالي غضب ، لعنت ، عذاب وغيره وعيد فرمائيلی وي هغه كبيره ګناهونه دي.

"ثلاثا" رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به كله كومه جمله دري پيري تكرار كړه :هغي مقصد به تاكيد وو.

"الاشراك بالله" يعني دالله تعالي سره شريك مقررول په دي کې كفر هم داخل دي شرك يي په خصوصيت سره په دي وجه بيان كړی دی چي دا مرض په عربو کې ډير زيات خور وو

"عقوق الوالدين" عقوق دعق نه ماخوذ دی معني يي قطع كول دي يعني بد سلوك كول او نافرماني كول

"شهادة الزور" په دروغه ګواهي کول يعني چي غلطه خبره په داسي انداز کې پيش کړي چي اوريدونکی يي رښتيا اوګڼي

دشهادت الزور مطلب دادي چي په دروغه ګواهي ورکړی شي نر دي چي ددي په ذريعه دچا مال يا جان په ناحقه تباه او برباد شي ظاهره ده چي دشرك نه پس دا دټولو نه لوي جرم دی او همدا په قران کريم کې بيان شوي دي اول فقضي ربك قضي الله ان لاتعبدوا الااياه وبالوالدين احسانا ، دويم فاجتنبوا الرجس من الاوثان واجتنبوا قول الزور

****

٤_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٣٠٢_حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُدْرِكٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثَلَاثًا، ثُمَّ يَجِيءُ قَوْمٌ مِنْ بَعْدِهِمْ يَتَسَمَّنُونَ وَيُحِبُّونَ السِّمَنَ يُعْطُونَ الشَّهَادَةَ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلُوهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ مُدْرِكٍ، وَأَصْحَابُ الأَعْمَشِ إِنَّمَا رَوَوْا عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ. [1]

ترجمه : دعمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا حديث اوريدلي دي په ټولو خلقو کي بهتر خلق زما دزماني خلق دي او بيا هغه ځوك دي کوم چي په دوی پسي متصل راتلونکي دي (تابعين) او بيا هغه ځوك دي ځوك چي په هغوی پسي متصل راتلونکي دي تبع تابعين او رسول الله دا خبري دري ځلي تکرار کړي، او بيا به دهغوی نه پس داسي خلق راشي چي ځورب کيدل به خوښوي، اودګواهۍ طلب کيدو نه مخکي به ګواهي ورکوي.

امام ترمذي وايي: داحديث داعمش په واسطه دعلي بن مدرك په روايت غريب دي، داعمش نورو شاګردانو عن الاعمش عن هلال بن يسار عن عمران بن حصين په سند سره نقل کړي دي.

****

[1] ـ انظر حديث رقم (٢٢٢١)

حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الأَعْمَشِ، حَدَّثَنَا هِلَالُ بْنُ يَسَافٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ فُضَيْلٍ، قَالَ: وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ يُعْطُونَ الشَّهَادَةَ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلُوهَا إِنَّمَا يَعْنِي: شَهَادَةَ الزُّورِ، يَقُولُ: يَشْهَدُ أَحَدُهُمْ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُسْتَشْهَدَ. (1) 5/27

ترجمه : په مذكوره سندهم دعمران بن حصين په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل روايت هم معني حديث مروي دي.

امام ترمذي وايي داحديث دمحمد بن فضيل دحديث نه زيات صحيح دي او محدثينو دا حديث ضعيف ګنړلي دي، او ددي حديث معني داده دبعضي اهل علمو په نزد چي دشهادت طلب كيدو نه مخكي شهادت وركړي شي يعني په دروغه ګواهي وركړي يعني يو سړي په داسي حال كي ګواهئ كولو ته تيار وي چي ګواهي ورنه غوښتلي شوي نه وي

تخريج: انظر حديث رقم (٢٢٢١)

****

٢٣٠٣ـ وَبَيَانُ هَذَا فِي حَدِيثِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ يَفْشُو الْكَذِبُ حَتَّى يَشْهَدَ الرَّجُلُ وَلَا يُسْتَشْهَدُ، وَيَحْلِفُ الرَّجُلُ وَلَا يُسْتَحْلَفُ "، وَمَعْنَى حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيْرُ الشُّهَدَاءِ الَّذِي يَأْتِي بِشَهَادَتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسْأَلَهَا " هُوَ عِنْدَنَا إِذَا أُشْهِدَ الرَّجُلُ عَلَى الشَّيْءِ أَنْ يُؤَدِّيَ شَهَادَتَهُ وَلَا يَمْتَنِعَ مِنَ الشَّهَادَةِ، هَكَذَا وَجْهُ الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ. (2)

ترجمه : دعمر بن خطاب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په ټولو خلقو كي بهترين خلق زما دزماني دي بيا هغه څوك دي چي په دوئ پسي متصل راځي او بياهغه دي كوم چي هغوئ پسي متصل راشي او بيا به دروغ عام شي تردي پوري چي يو كس نه به ګواهي غوښتلي شوي نه وي او هغه به ګواهئ كولو ته تيار وي او يو سړي ته به دقسم خوړلو پيش كش شوي نه وي او هغه به قسم كولو ته تيار وي او درسول الله ددي حديث مطلب چي په ګواهانو كي بهتر ګواه هغه دي څوك چي دګواهئ طلب كولو نه بغير ګواهي

---

1 ـ انظر حديث رقم (٢٢٢١)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ا (٦٤٢٩) . سنن ابن ماجه/الزهد ١٥ (٤١٤٠) (تحفة الأشراف : ٥٢٦٦). و مسند احمد (٢٥٨/١، ٣٢٢) . وسنن الدارمي/الرقاق ٢ (٢٧٤٩)

ورکوي زما په نزد دادي چي کله کوم څيز باره کي دحق کيدو په بنياد ورنه ګواهي اوغوښتلي شي نو دي ګواهي ورکوي او دګواهۍ ورکولو نه خان نه ساتي دبعضي اهل علمو په نزد ددي دواړو حديثونو مينځ کي دتطبيق صورت همدا دي.

****

كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

دپرهيزګارۍ او تقوي مسائل او احکام

١ـ باب مَا جَاءَ فِي أَنَّ الصِّحَّةَ وَالْفَرَاغَ نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ

دصحت او تندرستۍ او فراغت نعمتونو کي اکثر خلق خپل تاوان کوي

٢٣٠٤ـ حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَسُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، قَالَ صَالِحٌ: حَدَّثَنَا، وَقَالَ سُوَيْدٌ: أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ".(١)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دوه نعمتونه داسي دي چي ډير خلقو ورکي تاوانيان دي يو نعمت صحت او بل نعمت فراغت دي (يعني ددواړو حق نه ادا کوي، څومره چي دالله تعالي عبادت پکار دي هومره يې نکوي).

لغات مغبون غبن غبنا دنصر نه په معني ددهوکي کولو دي په خريد او فروخت کښي، فاعل يي غابن او مفعول يي مغبون راخي.

الفراغ: فرغ فراغا وفروغا دسمع او نصر او فتح نه په معني کار پوره کيدو او خالي کيدو دي.

تشريح : "لعمتان" انسان خو هسي هم دالله دنعمتونو پوره قدرداني کونکی نه دی مګر ددي دوه عظيم نعمتونو په سلسله کي په خصوصيت سره ډير ناقدري کونکی دی چي يو په هغوی کي صحت او بل صراغت دی، دا نعمت انسان ته دکوم وخته پوري ميسر وي؟ انسان ته ددي پته نه لګي بيماري چي کله راخي نو چاته خبر نه ورکوي خو بيا انسان حسرت او افسوس کوي چي کاش دصحت په وخت کي مي څه کړي وی ليکن په دغه وخت کي حسرت او افسوس فائده نه ورکوي.

"الفراغ" دويم ځيز فراغت دى ددي متعلق صاحب دروضة الصالحين دنزدي تير شوي وخت دعلماؤ يوځو واقعات ذكر كړي دي مثلا دمولانا يحيي دهلوي كوم چې دشيخ الحديث مولانا زكريا والد محترم دى دهغه واقعه يې ذكر كړي ده او همدارنګې دشاانورشا كشميري څه مناقب يې هم ليكلي دي، او د شيخ الادب مولانا اعزاز علي بعضي سوانح يې هم نقل كړي دي او د ميانوړ محمد جان جانوي څه حالات يې هم ليكلي دي او دمولانا زكريا صاحب يو خصوصي خيال يې هم بيان كړى دى ليكن مونږ سره ددي دنقل كولو ګنجائش نشته او نه دحديث الباب ددي سره څه تعلق شته.

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ فَرَفَعُوهُ، وَأَوْقَفَهُ بَعْضُهُمْ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ. [1]

ترجمه: په مذكوره سند هم دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما په واسطه رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت مروي دي.

امام ترمذي وايي: په دي باب كي دانس بن مالك رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او داحديث حسن صحيح دي او دعبدالله بن سعيد نه هم ډيرو راويانو دا روايت نقل كړي دي او مرفوع يې بيان كړي دي او بعضو دعبدالله بن سعيد بن ابي هند نه موقوف نقل كړي دي.

****

٢ـ بَاب مَنِ اتَّقَى الْمَحَارِمَ فَهُوَ أَعْبَدُ النَّاسِ

دحرامو نه بچ كيدونكي انسان دهر چا نه لوي عابد او لوي پرهيزګار دي

٢٣٠٥ـ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الصَّوَّافُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي طَارِقٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ يَأْخُذُ عَنِّي هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ فَيَعْمَلُ بِهِنَّ أَوْ يُعَلِّمُ مَنْ يَعْمَلُ بِهِنَّ؟" فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَقُلْتُ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَخَذَ

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/الرقاق ا (٦٣١٢). سنن ابن ماجه/الزهد ١٥ (٤٢١٠) (تحفة الأشراف: ٥٦٦٦). و مسند احمد (٢٥٨/١، ٣٤٣). وسنن الدارمي/الرقاق ٢ (٢٧٤٩)

يَدِي فَعَدَّ خَمْسًا. وَقَالَ: " اتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ، وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللَّهُ لَكَ تَكُنْ أَغْنَى النَّاسِ، وَأَحْسِنْ إِلَى جَارِكَ تَكُنْ مُؤْمِنًا، وَأَحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ تَكُنْ مُسْلِمًا، وَلَا تُكْثِرِ الضَّحِكَ فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِكِ تُمِيتُ الْقَلْبَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ جَعْفَرِ بْنِ سُلَيْمَانَ، وَالْحَسَنُ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ شَيْئًا هَكَذَا، رُوِيَ عَنْ أَيُّوبَ، وَيُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، وَعَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، قَالُوا: لَمْ يَسْمَعِ الْحَسَنُ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَرَوَى أَبُو عُبَيْدَةَ النَّاجِيُّ، عَنِ الْحَسَنِ هَذَا الْحَدِيثَ قَوْلَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمانيل داسي به څوك وي چي دا كلمات زما نه ياد كړي او عمل ورباندي اوكړي يا داسي به څوك وي چي خلقو نه ددي كلماتو تعليم وركړي او هغوئ ورباندي عمل اوكړي. ابوهريره واني ما اوونيل اي دالله رسوله زه دي كار ته تيار يم نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دا كارونه اوشميرل او بيان يي كړل دحرامو نه ځان ساته دهرچانه به زيات پرهيزګار شي او دالله تعالي دطرفه په تقسيم شوي رزق قناعت كوه دهر چانه به بي پرواه شي، او دخپل ګاونډي سره احسان كوه ربښتوني او پوخ مومن به جوړ شي، او دنورو دپاره هغه څه خوښوه كوم چي ه دځان دپاره خوښوي نو ربښتوني مسلمان به جوړ شي او خندا زياته مه كوه ځكه چي خندا زړه لړه وژني

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي مونږ يي صرف جعفر بن سليمان په سند پيژنو. دحسن بصري سماع دابوهريره رضي الله عنه نه ثابت نه ده، دا رنګي دايوب، يونس بن عبيد. او علي بن زيد رضي الله عنه نه مروي دي چي دابوهريره نه دحسن بصري سماع ثابت نه ده، ابوعبيده ناجي دا حديث دحسن بصري نه نقل كړي دي او دهغه خپل قول يي ګڼړلي دي او دا يي نه دي ذكر كړي چي دا حديث حسن بصري دابوهريره نه نقل كړي دي او ابوهريره دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي.

****

٣_باب مَا جَاءَ فِي الْمُبَادَرَةِ بِالْعَمَلِ

په نيكو كارونو كي د خلقو نه دمخكي كيدو دكوشش كولو بيان

٢٣٠٦_حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدَنِيُّ، عَنْ مُحْرَزِ بْنِ هَارُونَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ سَبْعًا هَلْ تَنْتَظِرُونَ إِلَّا فَقْرًا

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٢٤٧)، ومسند احمد (٢/٣١٠)

مُنْسِيًا، أَوْ غِنًى مُطْغِيًا، أَوْ مَرَضًا مُفْسِدًا، أَوْ هَرَمًا مُفَنِّدًا، أَوْ مَوْتًا مُجْهِزًا، أَوِ الدَّجَّالَ فَشَرُّ غَائِبٍ يُنْتَظَرُ، أَوِ السَّاعَةَ فَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَرَّرِ بْنِ هَارُونَ، وَقَدْ رَوَى بِشْرُ بْنُ عُمَرَ وَغَيْرُهُ، عَنْ مُحَرَّرِ بْنِ هَارُونَ هَذَا، وَقَدْ رَوَى مَعْمَرٌ هَذَا الحَدِيثَ، عَمَّنْ سَمِعَ سَعِيدًا المَقْبُرِيَّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَقَالَ: تَنْتَظِرُونَ. [1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي نيكو كارونو كې داوو خبرو واقع كيدلو نه مخكې مخكې تلوار اوكړي، ايا تاسو ددی انتظار كوئ چي ټول هر څه هيرونكی فقرتاسو راګير كړي (نوبيابه عمل كوئ) يادسركشه مالدارئ انتظار كوئ ، يادداسی بيمارئ انتظاردی چي ټول هر څه خراب كړي، يا داسی بوډاوالی چي عقل او هوش ختم كړي، ناڅاپي مرګ، يا ددجال ، دا دټولونه لويی شر او فتنه ده، يا بيا دقيامت چي هغه ډير سخت او تريخ دی .

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، داعرج په واسطه دابوهريره حديث مونږ صرف دمحرز بن هارون په واسطه پيژنو، بشر بن عمر او دهغه نه علاوه راويانو هم دارو ايت دمحرز بن هارون نه نقل كړي دي او معمرو ديو داسي كس نه اوريدلي دي چاچي په سند د سعيد المقبري عن ابي هريره عن النبي صلي الله عليه وسلم سره دماقبل هم معني نقل كړي دي مګر په دي روايت كي د "هل تنتظرون" په ځاي تنتظرون الفاظ راغلي دي

لغات : مطغيا. اطغي يطغي اطغاءً دباب افعال نه په معني د سركشئ كولو دي هرما ، ډير بوډاوالي . دنفس او عقل.

تشريح : بادروا بالاعمال سبعا. يعني داوه څيزونو دراتلو نه مخكې دنيك عملونو په كولو كې جلتئ اوكړئ او دا اوه څيزونه هغه دي كوم چي انسان لره دنيكو عملونو نه منع كوي نو په دي وجه ترغيب وركولی شي چي ددي دراتلونه مخكې نيكئ اوكټئ ورنه بيابه دافسوس نه علاوه نور هيڅ نه وي.

او غني مطغيا. يعني دداسي دولت انتظار دی كوم چي په ګناه كې اچونكی دی "فقرا منسيا" ايا دداسي فقر انتظار دی كوم چي الله لره هيرونكی وي په دي جمله كې اميرانو ته ترغيب دی چي هغوئ پخپلي اميرئ كې دنيكو اعمالو په ذريعه الله راضي كړي، او مرضا مفسدا، يا داسي بيماري كومه چي دانسان بدن لره خرابوي په دي كې صحت مند سري ته ترغيب وي چي

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٩٥١)

ـدي صحت لره دي غنيمت اوګنړي او دالله په عبادت کې دي مشغول شي داسي نه چي بيماري ورباندي راشي او بدن يي کمزوری او سست شي بيابه عبادت کول غواړي خوکولی به يي نشي.

"اوهرماًمفندا" ياداسي بوډاوالی کوم چي عقل لره ختموي په دي کې خوانانو ته ترغيب دی چي خواني په عبادت کې تيره کړئ دبوډاوالي دراتلو نه مخکې چي بيابه مو عقل کار نه کوي. اشرف علي تهانوي ليکلي دي چي دالله دذکر باره کې شکون او اطمينان ته انتظار مه کوئ په هر حالت کې چي يئ خو الله به ياد ساتئ رشيد احمد ګنګوهي واني که ذکر په سکون کې اوکړی شي او که په پريشانئ کې خو په هر حالت کې فائده لري

****

٤ـ باب مَا جَاءَ فِي ذِكْرِ الْمَوْتِ

دمرګ يادولوبيان

٢٣٠٧ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ ". يَعْنِي الْمَوْتَ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دلذتونو ختمونکی څيز يعني مرګ ډير ډير يادوئ ، دا حديث امام ترمذي نقل کړی دی او حديث حسن صحيح غريب يي ورته ونيلی دی.

لغات : هاذم : هذم يهذم هذما دضرب نه معني زر کټ کيدل ، ختميدل.دباب نصر او ضرب نه هم راځي.

تشريح . درسول الله دا حکم په مختلفو رواياتو کې راغلی‌دی مثلاً دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي دلذتونو ختمونکي څيز يعني مرګ لره ډيريادوئ او چي څوك يي په تنګئ کې ياد کړي نو وسعت او سهولت به ورباندي راشي او چي څوك يي په فراغت کې يادوي نودهغه دپاره په اخراجاتو کې دتنګئ سبب ګرځي. دانس رضي الله عنه په روايت کې راغلي دي چي يو ځل نبي کريم صلي الله عليه وسلم راغی او صحابه کرامو خاندل رسول الله ورته اوفرمائيل لذتونو لره ماتونکی څيز زيات يادوئ څوك

---

1 ـ سنن النسائي/الجنائز ٣ (١٨٢٥) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣١ (٤٢٥٨) (تحفة الأشراف : ١٥٠٨٠) . و مسند احمد (٢/٢٩٣)

چې دي لره په فراخئ کې ياد کړي نو دی به ورباندې تنګۍ کوي او چې څوك يې په تنګئ کې ياد کړي نو فراخي به ورباندې راولي.
دامضمون په نورو ډيرو روايتونو کې هم راغلی دی په دومره اهتمام سره ددې دبيانولو وجه علماؤ دا ليکلې ده چې مرګ يادول دمرګ دپاره دتياري سبب وي او دا کار دنيا نه دبې رغبتئ ذريعه ده او هم ددې په وجه انسان داخرت دپاره د کار کولو دپاره هروخت تياروي، دويم داچې انسان لره دظلم نه منع کوي اونور ډيرفوائد هم لري (روضة الصالحين)

****

٥_باب مِنْهُ

دقبر د دهشت متعلق يوبل باب

٢٣٠٨_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ بَحِيرٍ، أَنَّهُ سَمِعَ هَانِئًا مَوْلَى عُثْمَانَ، قَالَ: كَانَ عُثْمَانُ إِذَا وَقَفَ عَلَى قَبْرٍ بَكَى حَتَّى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ. فَقِيلَ لَهُ: تُذْكَرُ الجَنَّةُ وَالنَّارُ فَلَا تَبْكِي وَتَبْكِي مِنْ هَذَا. فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ القَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الآخِرَةِ. فَإِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ. وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ". قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلَّا وَالقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ يُوسُفَ. [1]

ترجمه: هاني دعثمان رضي الله عنه ازاد کړي غلام وائي چې عثمان رضي الله عنه به کله قبرونو ته ورغلو نو دومره به يې وژړل چې ږيره به يې لمده شوه چا ورته اووئيل کله چې ستا په وړاندې دجنت او جهنم ذکر کيږي نو تاله ژړا نه درځي او دقبر ليدو سره دومره ژړا کوې؟ هغه اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي داخرت په منزولونو کې اولني منزل قبر دی چاچې دقبر دعذاب نه نجات حاصل کړو هغه دپاره به روستني راتلونکي مراحل اسان وي، او چاچې دقبر دعذاب نه نجات اونه موندلو دهغه دپاره به روسته راتلونکي منازل سخت ترين وي او بيا يې مزيد اووئيل ارشاد نبوي دې دويري او سختئ په اعتبار مې چرته بل دقبر نه سخت تر منزل نه دی ليدلی
امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دی او دا روايت مونږ دهشام بن يوسف په سند پيژنو.

****

---

[1] سنن ابن ماجه/الزهد ٣٢ (٤٢٦٧) (تحفة الأشراف: ٩٨٣٩)، و مسند احمد (٦٣/١)

٦_باب مَا جَاءَ مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ

څوک چې دالله تعالي سره ملاقات کول خوښوي الله تعالي دهغه سره ملاقات کول خوښوي

٢٣٠٩_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسًا يُحَدِّثُ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ، وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللَّهِ كَرِهَ اللَّهُ لِقَاءَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي مُوسَى، قَالَ: حَدِيثُ عُبَادَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(١)

ترجمه د عائشى رضي الله عنها نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچاچي الله تعالي سره ملاقات خوښ وي الله تعالي هم دهغه سره ملاقات خوښوي اودچاچي الله تعالي سره ملاقات خوښ نه وي الله تعالي هم ورسره ملاقات نه خوښوي
امام ترمذي وايي: په دي باب كي دابوهريره او عائشه او انس او ابو موسي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

****

٧_باب مَا جَاءَ فِي إِنْذَارِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْمَهُ

د نبي كريم صلي الله عليه وسلم خپل قوم لره ويرول

٢٣١٠_حَدَّثَنَا أَبُو الأَشْعَثِ أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ الْعِجْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الطُّفَاوِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الآيَةُ: وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ (الشعراء : ٢١٤) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا صَفِيَّةُ بِنْتَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، يَا فَاطِمَةُ بِنْتَ مُحَمَّدٍ، يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، "إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا، سَلُونِي مِنْ مَالِي مَا شِئْتُمْ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي مُوسَى، وَابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، هَكَذَا رَوَى بَعْضُهُمْ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ نَحْوَ هَذَا، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَائِشَةَ.(٢)

---

1 انظر حديث رقم ١٠٦٦

2 صحيح مسلم /الإيمان ٨٩ (٢٠٥) . سنن النسائي/الوصايا ٦ (٣٦٤٨) ويأتي عند المؤلف برقم ٣١٨٣ (تحفة الأشراف : ١٦٢٣٤) . ومسند أحمد (٦/١٤٨)

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي كله چي ايت كريمه "وانذرعشيرتك الاقربين" نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي دعبدالمطلب لورې صفيه، اي دمحمد لوري فاطمي ، او دعبدالمطلب اولاده ! دالله تعالي دطرفه تاسوته دنفع او نقصان رسولو زه هيڅ اختيار نه لرم او زما په مال كي چي تاسو څه څيز غواړئ هغه زما نه غوښتلي شي

امام ترمذي وايي دعائشه حديث حسن غريب دي او په دي باب كي دابوهريره ابوموسي او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او حديث دعائشه حسن غريب دي دا رنګي بعضو راويانو دا حديث دهشام بن عروه نه دماقبل حديث هم معني نقل كړي دي او بعضو راويانو دهشام نه او هغه دخپل پلار نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي او په دي كي يي دعائشي واسطه نه ده ذكر كړي

تشريح: وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ۝

[اووه ويروه ته قبيله خپله كومه چي تاته ډيره نژدي وي(د نسب په لحاظ سره].
قاضي ثناء الله ددي ايت په تفسير كي ليكلي دي: د ايت مطلب دادي
دټولو نه مخكې هغو لره وويروه كوم چي تاته ځومره زيات نژدي وي او بيا وروسي ددينه كوم قرابت لرونكو لره او بيا ددينه ښه كم قرابت لرونكو لره په تدريجي طور سره څكه چي دڅا قرابت ورسره ځومره زيات وي نو هغه هومره دهدايت په حصول كې او په مخكې والي كې زيات مستحق وي او پدي طريقي سره به خلقو ته دبدګمانئ موقعه هم په لاس ورنشي څكه چي اكثر پداسي وختونو كې خلق پخپلو قريب ترينو عزيزانو چشم پوشي كوي ، ياپدي وجه دقريب ترينو عزيزانو دويرولو حكم مخكې شوي دي تردي چي نورو ته معلومه شي چي دالله تعالي عذاب لره هيڅوك واپس كونكي نشته (يعني پيغمبر هم دخپلو نژدي رشته دارو نه عذاب نشي دفع كولي دنجات لاره صرف داده چي دده خبره د اومنلي شي او دده په هدايت دي عمل اوكړي شي).

بغوي ليكلي دي چي محمد بن اسحاق دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت بيان كړي دي چي علي رضي الله عنه اوفرمائيل كله چي دا ايت په رسول الله نازل شو نو زه يي راطلب كړم او ماته يي ووئيل اي علي الله تعالي ماته حكم كړي دي چي زه خپلو قريب ترينو عزيزانو لره دالله دعذاب نه اوويروم ، ماچي دا واوريدل نو په سوچ كې پريوتم چي څه اوكړم څكه چي ماته معلومه وه چي كه زه خلقو لره دالله دعذاب نه اوويروم او ددي كار دپاره يي راوبلم نو دهغوئ دطرف نه به ماته څه جواب راكولي كيږي هغه به خامخازما خوښ نه وي نو پدي سوچ كې زه خاموش پاتي شوم ليكن اوس راته جبرائيل اووئيل چي اي محمد (صلي الله عليه وسلم) كه

چري ته داسي ونكړي نو الله تعالي به درته عذاب دركړي لهذا اي علي ته ديو صاع اوړو نه ډوډۍ تياره كړه او دچيلۍ يو پتون پوخ كړه او ورسره يي كيږده او يو لوي جام دپيو نه ډك راكړه او بيا بني عبدالمطلب راجمع كړه ترڅو چي دكومي خبري حكم ماته شوي دي هغه زه دوئ ته ورسوم علي رضي الله عنه وائي مادحكم تعميل اوكړو او ټولو ته مي دعوت وركړو او ټول راغلل چي پكښي درسول الله صلي الله عليه وسلم ترونه ابو طالب، حمزه، عباس، او ابو لهب هم شامل وو ټول تقريبا څه كم او زيات څلويښت كسان وو كله چي ټول راجمع شول نو رسول الله هغه خوراك راوغوښتلو كوم چي ما تيار كړي وو نو ما خوراك پيش كړو نو رسول الله ددينه دغوښي يوه ټكړه په غاښونو كښ اوجويله او بيايي واپس په پليټ كښ كيخوده او ووي فرمائيل بسم الله اوكړي او خورئ يي ټولو خوراك اوكړو ترڅو چي ماړه شول په الله قسم څومره خوراك چي ما دټولو دپاره راوړي وو دومره خو په دوئ كښ صرف ديو كس دخوراك دپاره كافي وو مګر دومره بركت پكښ پيدا شو چي ټول ماړه شول او هيڅا ته دنور خوړلو ضرورت پاتي نشو بيايي اوفرمائيل چي په دوئ باندي شوده هم اوڅكوه نو ما دوئ ته دپيو ډك لوښي راوړو په الله قسم دا شوده ټول دومره وو چي يو كس څكلي شوو ليكن ټولو اوڅكل او ماړه شول اوس چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دخبرو كولو موقعه بياموندله ليكن دهغه دخبرو كولو نه مخكښ ابو لهب پاڅيدو او ويي ونيل چي ستاسو دي ملګري په تاسو جادو كړي دي نو ددي په اوريدو سره خلق ټول خواره شول او رسول الله ورسره خبري اونكړي شوي.

په بله ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ته بيا اوونيل اي علي تاته معلومه ده چي دا كس په خبرو كښ مخكښ شو او زما د خبرو شروع كولو نه مخكښ خلق خواره شول خو نن بيا هم هغه شان خوراك تيار كړه څنګه چي دي مخكښ تيار كړي وو او خلق راوغواړه چي جمع شي نو مادحكم تعميل اوكړو اوټول خلق مي بيا راجمع كړل نو رسول الله چي خوراك طلب كړو ما راوړو او پيش مي كړو نو هم هغه عمل يي اوكړو كوم چي يي په تيره ورځ كړي وو ددينه پس بيا ټولو خلقو خوړل څكل اوكړل او بيا ددينه پس رسول الله خبري شروع كړي او ويي فرمائيل اي بني عبدالمطلب ما تاسو ته ددنيا او اخرت خير او كاميابي راوړي ده الله تعالي ماته حكم كړي دي چي تاسو ته هم ددي دعوت دركړم ايا په تاسو كښ داسي څوك شته چي پدي كار كښ زما مدد وكړي او زما ورور او وصي او نائب اوګرځي ددي په اوريدو سره خلق ټول خاموش شول زه يو كم عمره هلك وم ما اوونيل اي دالله نبي پدي كار كښ به درسره زه مددګاريم ددي په اوريدو سره رسول الله صلي الله عليه وسلم زما مرئ اونيوله او ويي فرمائيل دي زماورور او وصي اونائب دي تاسو دده خبري واورئ او ويښا يي اومنئ نو خلق پداسي حال كښ واپس شول چي خاندل يي او ويي ونيل ده مونږ ته حكم كړي دي چي مونږ دعلي خبري واورو او دده اطاعت اوكړو.

صحيحينو دسعيد بن جبير په واسطه دابن عباس بيان نقل كړي دي چي كله ايت كريمه وَأَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْأَقْرَبِيْنَ نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم په صفا غر اوختلو اودقريشو مختلف خاندانونه يي راوبلل چي اي بني فخر ، ابي عدي ، داواز په اوريدو سره خلق راجمع شول اوكه څوك پخپله نشو راتلي نو خپل قاصد يي راوليږلو تردي چي درسيدونه پس اوګوري چي څه واقعه پيښه شوي ده پدي كسانو كي ابو لهب هم راغي او نورقريشيان هم راغلل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا راته اووائي كه زه درته خبر دركړم چي پدي علاقه كي پدي وخت كي څه سواره موجود دي چي په تاسو حمله كول غواړي نو اياتاسو به يي اومنئ خلقو اووئيل ضرور به يي اومنو خكه چي هيڅ كله مونږ په تا كوم دروغ ثبوت كړي نه دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دشديد عذاب راتلو نه مخكي زه تاسو ته ويره دركوم ‹يعني شديد عذاب زما په وړاندي دي كوم چي راتلونكي دي› ابو لهب اووئيل دهميشه دپاره هلاك شي ايا دهمدي دپاره دي مونږ راجمع كړي وو نو پدي باره كي تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ . مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ . سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ . وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ . فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِنْ مَسَدٍ نازل شو۔

صحيحينو دابوهريره رضي الله عنه بيان نقل كړي دي چي كله ايت كريمه وَأَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْأَقْرَبِيْنَ نازل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اودريدو او وېي فرمائيل اي دقريشو ډلي ‹دراوي بيان دي چي دا لفظ يي اوفرمائيلو او كه ددي پشان كوم بل لفظ وو› چي خپل خانونه واخلئ ‹يعني دعذاب نه يي بچ كړئ› زه دالله تعالي په عذاب كي ستاسو نه څه شي نشم دفع كولي

اي بني عبدمناف زه دالله په مقابل كي ستاسو هيڅ په كار راتلي نشم ، اي عباس بن عبدالمطلب زه تاسو لره دالله دعذاب نه دبچ كولو دپاره بالكل پكار راتلي نشم او اي دالله درسول تروري صفيه زه هم تالره دالله تعالي دعذاب نه نشم بچ كولي او اي دمحمد ‹صلي الله عليه وسلم› لورې فاطمي زما په مال كي چي ته دڅه غوښتل غواړي زمانه يي اوغواړه خو دالله تعالي په مقابل كي زه ستا هيڅ په كار راتلي نشم

****

٨_باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْبُكَاءِ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ

دالله تعالي دويري نه دژړا كولو دفضيلت بيان

٢٣١١_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمَسْعُودِيِّ.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عِيسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَلِجُ النَّارَ رَجُلٌ بَكَى مِنْ خَشْيَةِ اللهِ حَتَّى يَعُودَ اللَّبَنُ فِي الضَّرْعِ، وَلَا يَجْتَمِعُ غُبَارٌ فِي سَبِيلِ اللهِ وَدُخَانُ جَهَنَّمَ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي رَيْحَانَةَ وَابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ هُوَ مَوْلَى آلِ طَلْحَةَ، وَهُوَ مَدَنِيٌّ ثِقَةٌ، رَوَى عَنْهُ شُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمانيل دالله تعالي دويري نه ژړيدونكى به دوزخ ته نه خي ترڅو چي پئ غلانزي ته واپس لاړ نشي اوداسي څو هيڅري نشي كيدى ، نو دالله تعالي دويري نه ژړيدونكى به هم دوزخ ته نه خي، او دالله تعالي دلاري ګرد هم او ددوزخ لوګى هم يوځايى نه جمع كيږي (ترمذي، مطلب دادى چي مجاهد في سبيل الله به هم دوزخ ته نه خي.

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابوريحانه او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او محمد بن عبدالرحمن دال طلحه ازاد كړي غلام دي دمديني اوسيدونكي او ثقه دي شعبه او سفيان ثوري ورنه نقل درروايت كړي دي

لغات الدخان معني لوګي جمع يي ادخنة او دواخن او دواخين راځي ، دمولدينو په اصطلاح كې سګرټ او تمباكو نوشئ ته ونيلي شي.دخنت دنصر او ضرب نه دخنا او دخونا وادّخنت النار يعني د اور نه لوګي پورته شو.

تشريح : "لايلج النار" يعني جهنم ته به داخل نشي هغه كس څوك چي دالله تعالي ديري نه ژړا كوي په يويل حديث كې راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به اكثر دا دعا ونيله "اللهم ارزقني عينين حطالتين حطا تسقيان القلب بذروف الدمع من خشيتك قبل ان تكون الدموع دما والاضراس جمرا" (جامع الصغير).

ترجمه اي الله. ماته داسي دوه سترګي راكره چي ستا ديري نه ژړيدونكي وي دخشيت الهي اوښكي زړونو ته شفا وركونكي وي مخكې ددينه چي اوښكي دجهنم په عذاب سره وينې جوړي شي او دغاښونو نه سكروټي جوړي شي.

ددي حديث په باره كې دجامع صغير مشهور شارح علامه عبدالروف مناري ليكلي دي قال الحافظ العراقي اسناده حسن.

---

1 - انظر حديث رقم ١٦٣٣

مطلب دادی چې هغه سترګي دمبارکې قابلې دي کومې چې دالله ديري نه ژاړي او همدارنګي حال دزړونو هم دی دا اوښکي دالله په نزد ډيري محبوبي دي
حتي يعود اللبن في الضرب، ترډي چې دغلانځو نه وتلي شوده واپس شي دا مثال په هغه وخت کې ورکولی شي کله چې يو کار محال وي لکه دالله تعالي دا قول حتي يلج الجمل في سم الخياط ، يعني ترډي پورې چې اوښ دستني په سوري کې تير شي
ولايجتمع غبار في سبيل الله، په دي جمله کې دالله په لار کې دوتونکي فضيلت بيانولی شي چي دالله په لار کې دوتلو نه پس په جسم کوم غبار اوګرد پريوځي ددي ګرد سره دجهنم لوګی جمع کيدی نشي.
دمشکواة په يو روايت کې راځي په يو سفر کې صحابه کرام جدا جدا روان وو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورنه دوجي تپوس اوکړو نو معلومه شوه چي دګرد نه بچ کيدل غواړي ليکن کله چي رسول الله ددي ګرد فضيلت بيان کړو نو بيا به دوئ ته ددي ګرد نه زيات بل محبوب نه وو
حتي يعود اللبن في الضرع، يعني ترډي پورې چي شوده غلانځ ته واپس شوي نه وي، دا مثال په هغه وخت کې ورکولی شي چي کله کوم کار محال وي او ددي پشان دالله تعالي قول هم دی "حتي يلج الجمل في سم الخياط".

ولايجتمع غبار في سبيل الله. په دي جمله کې دالله په لار کې دوتلو فضيلت بيانولی شي چي دالله په لار کې دوتلو نه پس په چا باندي کوم ګرد او غبار پريوځي هغه ګرد او غبار او دجهنم لوګی يوځای کيدی نشي. پس مجاهد في سبيل الله به جهنم ته نه ځي.

****

٩ــ بَاب فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً

دارشاد نبوي لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً بيان

٢٣١٢ــ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْمُهَاجِرِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ مُوَرِّقٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي أَرَى مَا لَا تَرَوْنَ، وَأَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُونَ، أَطَّتِ السَّمَاءُ وَحُقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعِ أَصَابِعَ إِلَّا وَمَلَكٌ وَاضِعٌ جَبْهَتَهُ سَاجِدًا لِلَّهِ، وَاللَّهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا، وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا، وَمَا تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَاءِ عَلَى الْفُرُشِ، وَلَخَرَجْتُمْ إِلَى الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُونَ إِلَى اللَّهِ لَوَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ شَجَرَةً تُعْضَدُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَنَسٍ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ

حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَيُرْوَى مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، أَنَّ أَبَا ذَرٍّ، قَالَ: لَوَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ شَجَرَةً تُعْضَدُ. (1)

ترجمه. دابوذر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يقينا زه هغه څيز وينم كوم چي تاسو نه وينئ او زه هغه څه اورم كوم چي تاسو نه اورئ او اسمان چراری كوي او هغه ته حق دی چي چراری اوكړي، هغه كې دڅلورو ګوتو برابر ځايی هم داسی نشته چي هلته يوه فرښته الله تعالي دپاره سجده كونكی نه وي (او دا دفرښتو دسجدو بوج دی چي اسمان ورسره چراری كوي) په الله پاك قسم! كوم څه چي ماته معلوم دي كه چري تاسو ته دهغي پته اولګي نو شايد چي تاسو به هيڅكله اونه خاندئ او ژړا به ډيره كوئ او بسترو باندي به ځپلو بيبيانو سره دنزديكت لذت هم هير كړئ او په ځنګلونو او غرونو كې به دالله پاك نه پناه اوغواړئ

ابو ذر رضي الله عنه به فرمائيل كاش چي زه يوه ونه وي كومه چي خلق كټ كولي شي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي ، او ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي، او په دي باب كي دابوهريره، عائشه، ابن عباس، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. ابو ذر رضي الله عنه به فرمائيل كاش چي زه يوه ونه وي كومه چي خلق كټ كولي شي.

لغات "اطت" په همزه باندي زور ، تاء باندي شد ، او تئط په تاء باندي دزور نه پس همزه مكسوره او "اطيط" د كجاوی لرګو يا ددی قسم څيزونو اواز دپاره دا الفاظ استعماليږي چي هغی ته چرار وائي، مطلب دادی چي دفرښتو عبادت كثرت سره داسی دروند دی چي دهغی په وجه اسمان هم چراری شروع كړو.

اطت: اطّ اطيطا دضرب معني اواز ويستل اط الابل معني د اوښ هنراري ، وهم اهل اطيط وصهيل يعني اوښان او اسونه لري.

"صعدات" دصاداو عين دواړو پيش سره په معني دلاری ددی واحد صعيد دی.

"تجارون" په معني دمدد طلب كولودی.

تشريح : په دي حديث كې هم خوف الهي بيانولی شي چي دكوم بنده په زړه كې چي څومره دالله تعالي دشان عظمت وي نوهم دومره به دی دالله نه ويريږي اودرحمت اوميدبه يي كوي "اطت السماء وحق لها ان تئط"اسمان چغيږي او مناسب ده چي وچغيږي ددي مثال داسي دی لكه په يو كټ چي ډير كسان كيني اوهغه چغار شروع كړي نوهمدارنګي اسمان هم دالله ديري نه چغار كوي او فرياد كوي دي خبري ته توجه كول پكار دي چي اسمان يو بي روح او منجمد

1 - سنن ابن ماجه/الزهد ١٩ (٤١٩٠) (تحفة الأشراف: ١١٩٨٦)

ځيزدی مګر دی هم دالله نه يريږي او دالله ديري نه چغار کوي خو انسان دروح والا دی مګر په ګناه کې هر وخت مبتلا وي دده دپاره خو داسمان نه زياته يره پکار وه چي دالله نه داسمان په نسبت زيات ويريدلی وی

"وملك واضع جبهته ساجدالله تعالي" يعني فرشتو هم دسجدي په حالت کې خپل تندي الله تعالي ته په زمکه ايخودلي وي

سوال رسول الله صلي الله عليه وسلم په يوبل مقام کې فرمانيلي دي چي په اسمان کې بعضي فرشتي په قيام ولاړي دي او ځوك په رکوع کې او ځوك په سجده کې دي او په دي حديث کې راغلل چي ټولي فرشتي په سجده پرتي دي؟

جواب: دلته رسول الله صلي الله عليه وسلم دکوم خاص اسمان فرشتي ذکر کړي دي چي هغوی په مختلفو حالتونو کې دي او دلته چي دا ذکر شول چي ټولي په سجده پرتي دي دا حکم ديوخاص اسمان دفرشتو په باره کي دي.

الصعدات: تجأرون الي الله. الصعدات دصعد جمع ده په معني دلاري دلته ورنه ځنګل مراد دي

****

٢٣١٣_حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ الْفَلَّاسُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا، وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا ". هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي د کومو ځيزونو نه چي زه خبر يم که چري تاسو هم ددينه خبر وي نو خاندلي به مو کم او ژړلي به مو زيات

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي.

****

١٠_بَاب فِيمَنْ تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ يُضْحِكُ بِهَا النَّاسَ

په غير شرعي طريقي دخلقو خندولو دمما نعت بيان

٢٣١٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاق، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عِيسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٠٢٩) . وانظر مسند احمد (٢/٢٥٧، ٣١٣)

الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ لَا يَرَى بِهَا بَأْسًا يَهْوِي بِهَا سَبْعِينَ خَرِيفًا فِي النَّارِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بعضي وخت يو بنده داسي خبري كوي په كوم كي چي هغه ته څه ګناه نه ښكاري او حال دادي چي ددي په وجه داويا كالو په مزل په جهنم كي لري لاړ شي.

امام ترمذي وايي: ددي سند په بنياد داحديث حسن غريب دي.

****

٢٣١٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "وَيْلٌ لِلَّذِي يُحَدِّثُ بِالْحَدِيثِ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ فَيَكْذِبُ، وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. [2]

ترجمه : معاويه بن حيده رضي الله عنه نه مروي دي فرماني چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلي دي تباهي او بربادي دي وي دهغه كس دپاره څوك چي داسي خبري كوي چي خلق يي واوري؛ او اوخاندي او حال دادي چي دا خبري دروغ وي پس دداسي كس دپاره صرف تباهي ده.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن دي او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

١١_باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٣١٦_حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الْجَبَّارِ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: تُوُفِّيَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ يَعْنِي رَجُلًا: أَبْشِرْ بِالْجَنَّةِ،

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٢٣ (٦٤٧٧، ٦٤٧٨). صحيح مسلم/الزهد ٦ (٢٩٨٨) (تحفة الأشراف: ١٢٢٨٣)، و مسند احمد (٢/٢٣٦، ٣٥٥، ٣٧٩)

[2] ـ سنن ابي داود/ الأدب ٨٨ (٤٩٩٠) (تحفة الأشراف: ١١٣٨١)، و مسند احمد (٣/٥)، وسنن الدارمي/الاستئذان ٦٦ (٢٧٤٤)

فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَوَلَا تَدْرِي فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ فِيمَا لَا يَعْنِيهِ، أَوْ بَخِلَ بِمَا لَا يَنْقُصُهُ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يو صحابي وفات شو او يو كس اوونيل چي تاته دي دجنت بشارت وي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمانيل شايد تاته نه ده معلومه چي ده به كومه داسي خبره كړي وي چي دفائدي نه به خالي وي او يا به يي په داسي خيز كي دبخل نه كار اخستلي وي دكوم په خرچ كولو چي دده ثه نقصان نه كيږي

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي

****

٢٣١٧ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ نَصْرٍ النَّيْسَابُورِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو مُسْهِرٍ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَمَاعَةَ، عَنْ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ قُرَّةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمانيل ديوانسان داسلام خواهش ښائست او خوبي داده چي دلغواو بيكاره خبرونه خان اوساتي

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي دا حديث مونږ دابو سلمه په روايت سره كوم چي هغه دابوهريره نه او ابوهريره دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي صرف په همدي سند پيژنو.

تشريح : په دي حديث كي انتهائي ضرور اصول بيان شوي دي چي دبي فائدي كارونو نه دي انسان اجتناب اوكړي كه چا دا اصول خپل كړل نو پخپله به دډيرو ګناهونو نه بچ شي بي فائدي كار هر هغه كار وي په كوم كي چي نه ددنيا او نه داخرت ثه فائده وي

په يو بل روايت كي راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوذر رضي الله عنه ته اوفرمانيل ايا يو داسي عمل درته اونه ښايم چي دا عمل خو به بدن ته اسان او سپك ښكاري مګر په ميزان كي به دروند وي او هغه دادى "الصمت وحسن الخلق وترك مالايعنيك" يعني

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٩٣)

2 _ سنن ابن ماجه/الفتن ١٢ (٣٩٧٦) (تحفة الأشراف: ١٥٢٣٤)

خاموشي او خوشحلاقي اختيار كړه او بې فائدې کارونه پريږده
ددې حديث داهميت پيش نظر بعضي علماؤ قول کړی دی چې په دې کې داسلام څلورمه حصه ده او بعضو په نيم قول کړی دی او بعضو ورنه په تمام اسلام تعبير کړی دی علامه نووي هم څلور حديثونه دتمامو احاديثو بنياد ګنړلی دی او په هغه حديثونو کې يو دادی

****

٢٣١٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكَهُ مَا لَا يَعْنِيهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكٍ مُرْسَلًا. وَهَذَا عِنْدَنَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ لَمْ يُدْرِكْ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ. ([1])

ترجمه : دعلي بن حسين (زين العابدين) رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ديوانسان داسلام خواهش، ښائست او خوبي داده چې دلغواو بيكاره خبرونه څان اوساتي.

امام ترمذي وايي: دزهري په شاګردانو کې بعضي کسانو عن الزهري عن علي بن حصين عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره دمالك دحديث پشان مرسل روايت نقل کړي دي، او زمونږ په نزد داحديث دابوسلمه په واسطه دابوهريره نه دمروي حديث نه زيات صحيح دي، او دعلي بن حصين ملاقات دعلي رضي الله عنه سره ثابت نه دي.

****

١٢_باب فِي قِلَّةِ الْكَلَامِ

دكمو خبرو كولو دخوبئ بيان

٢٣١٩_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، قَالَ: سَمِعْتُ بِلَالَ بْنَ الْحَارِثِ الْمُزَنِيَّ صَاحِبَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللَّهِ مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ فَيَكْتُبُ اللَّهُ لَهُ بِهَا رِضْوَانَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ. وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ مَا يَظُنُّ أَنْ تَبْلُغَ مَا بَلَغَتْ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (١٩١٣٢)

فَيَكْتُبُ اللَّهُ عَلَيْهِ بِهَا سَخَطَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهَكَذَا رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو نَحْوَ هَذَا، قَالُوا: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ بِلَالِ بْنِ الحَارِثِ، وَرَوَى هَذَا الحَدِيثَ مَالِكٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ بِلَالِ بْنِ الحَارِثِ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ جَدِّهِ.[1]

ترجمه : بلال بن حارث مزني رضي الله عنه نه روايت دی چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي چي فرمائيل يي كله كله بنده داسي خبره اوكړي چي الله تعالي پري راضي شي او ددي باره کي ده ته خبر هم نه وي او ددي په وجه دده مرتبه چرته ورسيده او حال دادي چي الله تعالي ددي په وجه دده په حق کي ترهغي ورخي پوري خپله رضا ليكلي وي په كومه ورخ چي به دي دهغه سره مخامخ كيږي او كله كله په تاسو کي بعضي کس دالله تعالي دناراضتيا يوه داسي خبره اوکړي دکوم باره کي چي ده ته علم هم نه وي چي دي خبري دي چرته ورسولو مګر الله تعالي ددي خبري په وجه دده په حق کي دهغي ورخي پوري خپله ناراضتيا اوليکي په کومه ورخ چي به دي ورسره مخامخ کيږي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او ددي پشان روايتونه نورو راويانو دمحمد بن عمرو نه هم نقل کړي دي يعني عن محمد بن عمرو عن ابيه عن جده عن بلال بن حارث سند سره، او دا حديث مالك هم عن محمد بن عمرو عن ابيه عن بلال بن حارث سند سره نقل کړي دي ليکن په دي کي د عن ابيه ذکر نشته، په دي باب کي دام حبيبه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دي.

تشريح: علماء ددي حديث باره کې وائي چي په انسان باندي دا لازم دي چي دخپلي ژبي حفاظت اوکړي او بـه ازاده پرينـه ايږدي ډير کرتـه دژبي داژاد پريخودو پـه وجه جهنم تـه سـرى ورسيږي او دژبي دقابو کولو پـه وجه دجنت اعلي درجاتو تـه ورسيږي، پـه نورو الفاظو کومه خبره چي دالله درضا کيدو سبب ګرځي هغه ددرجاتو دلوړ والي سبب ګرځي او کومـه خبره ده چي دالله دناراضتيا سبب ګرځي هغه جهنم ته دتلو باعث وي.

****

۱۳_بَاب مَا جَاءَ فِي هَوَانِ الدُّنْيَا عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ

دالله تعالي په نزد ددنيا دحقارت بيان

[1] _ سنن ابن ماجه/الفتن ۱۲ (۳۹۶۹) (تحفة الأشراف: ۲۰۲۸)

۲۳۲۰ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الحَمِيدِ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ"، وَفِي البَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ. (١)

ترجمه: دسهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي که چري دالله تعالي په نزد ددنيا اهميت او قدر دماشي دوزر برابر هم وي نو کافر ته به يې ددی نه يو گوټ اوبه هم نه وی ورکړی.

امام ترمذي وايي: په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه هم روايت وارد دي او داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

لغات: جناح الجناح معني دماشي وزر او چي انسان ته يې نسبت وشي نو مټ ورنه مراد وي اجنحة يې جمع ده

تشريح: علامه قطب الدين ليکلي دي که چري دالله په نظر کې ددنيا څه وقعت وی نوددنيا کوم ادني ترين څيز به يې هم کافر ته نه وو ورکړی ځکه چي کافر خو دالله دشمن دی او ظاهره ده چي هر يو څيزعزت لري هيڅ يو ورکونکی داسي څيز خپل دشمن ته نه ورکوي، او همدارنگي که دالله په نظر کې ددنيا به وقعت وی نو کافرته به يې دمسلمان نه زياته نه وه ورکړي

دنيا کافرانو ته زياته ملاويږي همدا رنگي دنيا دالله په نظر کې څه عزت نه لري نو ځکه يې کافرانو ته ورکوي او ددي دنيا يو بد مثال دی ځکه ورنه الله تعالي خپل بندگان بچ کوي لکه چي ارشاد الهي دی.

ولولا ان يكون الناس امة واحدة لجعلنا لمن يكفر بالرحمان لبيوتهم سقفا من فضة. که چري دا خبره نه وی چي دا تمام خلق به کافران شي نو مونږ به دکافرانو دکورونو چتونه دسپينو زرو گرځولي وو

ليکن دمومنانو باره کې قراني ارشاد دی.

وما عندالله خير للابرار: او دنيکانو دپاره دالله تعالي سره خير دی.

ورزق ربك خير وابقى: يعني ستاسو دپاره ستاسو درب سره بهترين او باقي پاتي کيدونکی رزق دی، دهارون رشيد باده خوي به دا اشعار ونيل

---

[1] سنن ابن ماجه/الزهد ۳ (۴۱۱۰) (تحفة الأشراف: ۴۶۹۹)

یاصاحي لاتغرر بالتنعم   فالعمر ينفد والنعيم يزول

يعني ای ملګرو ددنيا په نعمتونو دوكه نشئ عمر ضرور يوه ورځ ختميدونکی دی او نعمتونه هم زائل کيدونکي دي

****

۲۳۲۱_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ الرَّكْبِ الَّذِينَ وَقَفُوا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى السَّخْلَةِ الْمَيِّتَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَتُرَوْنَ هَذِهِ هَانَتْ عَلَى أَهْلِهَا حِينَ أَلْقَوْهَا ". قَالُوا: مِنْ هَوَانِهَا أَلْقَوْهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: " فَالدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللَّهِ مِنْ هَذِهِ عَلَى أَهْلِهَا ". وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْمُسْتَوْرِدِ حَدِيثٌ حَسَنٌ. (١)

ترجمه دمستورد بن شداد رضي الله عنه بيان دي زه هم دهغه سورو دقافلي سره وم کومه چي دچيلئ په يو مردار شوي بچي باندي تيريدل او هلته اودريدل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاسو دا وينئ چي دا دمالکانو په نزد حقيره او بي قيمته ده نو هغوئ دلته غورځولي ده صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله په همدي وجه يي غورځولي ده چي دا بي قيمته دد رسول الله اوفرمائيل ددنيا قيمت دالله تعالي په نزد ددينه هم زيات حقير او بي حيثيته دي لکه څنګه چي دا دخپلو مالکانو په نزد حقيره او بي قيمته وه

امام ترمذي وايي دمستورد حديث حسن دي او په دي باب کي دجابر او ابن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

د مستورد بن شداد رضي الله عنه مناقب

نوم مستورد دپلار نوم شداد قبيله فهري چي دقريشوسره يي تعلق دی او په کوفيانوکي شميرلی شوی دی او په مصر کي يي رهائش کولو(اسد الغابه)

دا عجيب اتفاق دی چي په کومه ورځ نبي کريم صلي الله عليه وسلم ددنيا نه رخصت شو نو دی ډير وړوکی وو ليکن ددي باوجود يي رسول الله نه احاديث اوريدلي دي تقريبا اوه احاديث ورنه مروي دي څلور داهل مصر نه او دوه داهل کوفه نه په مسلم کي ورنه دا روايت موجود دی او بخاري ورنه نقل دروايت نه دی کړی

****

---

١ سنن ابن ماجه (الزهد ٣ (٤١١١) (تحفة الأشراف : ١١٢٥٨) و مسند احمد (٤/٢٢٩، ٢٣٠)

١٤_باب مِنْهُ

دد نیا دملعون او حقیر کیدو متعلق یو بل باب

٢٣٢٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْمُكْتِبُ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ ثَابِتٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَابِتِ بْنِ ثَوْبَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَطَاءَ بْنَ قُرَّةَ، قَال، سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ ضَمْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ، مَلْعُونٌ مَا فِيهَا إِلَّا ذِكْرُ اللهِ وَمَا وَالَاهُ وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.(1)

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي . چي فرمائيل يي دادنيا ملعونه ده اوپه دی کي چي څه دي ټول ملعون دي بغير د الله تعالي دذکر اوعبادت نه اوبغير دعالم اوعلم دين حاصلونکي نه ،ديني طالب علم نه،

امام ترمذي وايي او داحديث حسن غريب دي

لغات الدنيا : دني يدني دنوا ، په معني دذليل کيدو دي، ملعون معني لعنتي کړي شوي

تشريح: امام نووي فرمائي . دماوالاه مطلب دی دالله تعالي عبادت يعني دذکر اوعبادت اوعلم نه علاوه ددنيا هر شی خراب دی

په ډيرو احاديثو کې ددنيا مذمت راغلی دی په يو روايت کې داسي دي ددنيا محبت دهري خطا ژرړي دي په يو روايت کې دا هم دي ددنيا نه يره اوکړئ دا دهاروت او ماروت نه هم زياته جادوگرده ده،

يوځل نبي کريم صلي الله عليه وسلم ديوي مړي چيلئ په خوا کې تير شول چي غوږونه او پوزه يي پري کړی شوي وو او بدبويي ورنه روانه وه رسول الله صحابه کرامو ته اوفرمائيل ايا دا به څوك په قيمت واخلي ؟ صحابه کرامو عرض اوکړو چي مفته يي هم نه اخلي رسول الله اوفرمائيل په الله قسم ددنيا قيمت دالله تعالي په نزد ددي مړي چيلئ دقيمت سره هم برابر نه دی

الا ذکر الله: ددي دنيا په څيزونو کې يو څو څيزونه مستثني دي چي اول دالله تعالي ذکر دی ملا علي قاري وائي چي دالله تعالي دذکر نه حقيقي ذکر هم مراد کيدی شي يعني په ژبه الله يادول او که مجازي معني هم مراد شي نو په دي کې به تمام طاعات الهيه داخل وي

دويمه استثنا موالاه ده ددي هم دوه معني دي يعني هر هغه څيز چي دالله ذکر ته نزدي کونکی

---

1 سنن ابن ماجه/الزهد ٣ (٤١١٢) (تحفة الأشراف : ١٣٥٤٢)

دی یا پخپله الله ته نزدي کونکی وي
دریمه استثناء دعالم او متعلم ده.
سوال: په والاه کې خو عالم او متعلم داخل دي نو بیایي جدا ولي ذکر کړل.
جواب: ددي دخصوصیت او اهتمام په وجه یي دا جدا ذکر کړل
دعالم او متعلم فضیلت
دعالم متعلم فضیلت په ډیرو روایاتو کې راغلی دی مثلا په یو روایت کې دا ارشاد نبوي مروي دی چي دعالم فضیلت په عابد داسي دی لکه زما فضیلت چي په تاسو کې په یو ادني کس دی.
دعمر رضي الله عنه بیان دی چي دقائم اللیل او صائم النهار زرګونو عابدانو مرګ دیو حلال او حرام پیژندونکي دانه او بینا دمرګ په مقابله کې هیڅ هم نه دی.
دطالب علم دفضیلت په باره کې دقتاده قول دی که څوك دعلم یو باب دخپل خان داصلاح په نیت ازده کړي نو دا دده دپاره دیو کال دعبادت نه افضل دی دحسن بصري قول دی دعلم یو باب زده کول او په دي عمل کول ددنیا او ددنیا دتمامو نعمتونو نه بهتر دي دا حدیث محدثینو په جوامع الکلم کې شمیرلی دی.

****

۱۵_باب مِنْهُ

داخرت په مقابله کې دنیا دسمندر دیو څاڅکي پشان ده

۲۳۲۳_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ، حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ مُسْتَوْرِدًا أَخَا بَنِي فِهْرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَاذَا يَرْجِعُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ يُكْنَى أَبَا عَبْدِ اللَّهِ، وَوَالِدُ قَيْسٍ أَبُو حَازِمٍ اسْمُهُ عَبْدُ بْنُ عَوْفٍ، وَهُوَ مِنَ الصَّحَابَةِ. [1]

ترجمه: مستورد بن شداد روایت کوي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل ددنیا نسبت اخرت سره بس دومره دی لکه چي یوسړی سمندر کې ګوته بنکته کړي او اوګوري چي

---

[1] صحیح مسلم/صفة الجنة ۱۴ (۲۸۵۸). سنن ابن ماجه/الزهد ۳ (۴۱۰۸) (تحفة الأشراف: ۱۱۲۵۵). و مسند احمد (۲۲۰،۴/۲۲۹)

دی پوری څومره لوندوالی لګیدلی دی.
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي، داسماعيل بن ابي خالد اسم كنيه ابوعبدالله ده، او دقيس دپلارنوم عبد بن عوف دي او صحابي دي

لغات اليم سمندر، مار، خنګي كمتره يمّ يمّا په معنې دقصد كولو دي اهمدارنګي په سمندر كې غورځيدو ته ونيلي شي.الساحل دسمندر بيخ ته رسيدل يممه ، قصد كول.

تشريح: "ماالدنيا في الاخرة الا مثل ما يجعل" يعني ددنيا مثال داخرت په مقابله كې داسې دی لكه څوك چې خپله يوه ګوته دنيا ته ښكته كړي دحديث مطلب دادی چې څوك سمندرته خپله يوه ګوته كوزه كړي او بيا په هغه ګوته پوري صرف لوندوالی راوخيژي نو همدارنګي په دي پوهيدل پكار دي چې داخرت دنعمتونو په مقابله كې ددنيا نعمتونه دومره كم دي.
بعض محدثين وايي چې دا مثل صرف تمثيل او پوهولو دپاره دی چې دنيوي څيزونه متناهي دي او ددي په مقابله كې داخرت نعمتونه غيرمتناهي دي.
د ملا علي قاري قول دی انسان لره پكار دي چې ددنيوي نعمتونو په ملاويدو سره نه تكبر اوكړي او نه ددنيا په مصيبتونو شكوي اوكړي ځكه چې ارشاد نبوي دی اللهم لاعيش الا عيش الاخرة ، يعني اصل زندګي خو بس داخرت زندګي ده.

****

١٦_بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ

ددي ارشاد نبوي بيان چې دنيا دمومن دپاره جيل خانه ده او دكافر دپاره جنت دي

٢٣٢٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ ".
وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه : دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دنيا دمومن دپاره په منزله دقيدخانې ده او د كافر دپاره جنت دی
امام ترمذي وايي: په دي باب كې دعبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي او دا حديث حسن صحيح دي.

---

[1] ـ صحيح مسلم/الزهد ١ (٢٩٥٦) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣ (٤١١٣) (تحفة الأشراف : ١٤٠٥٥) ، و مسند احمد (٢/٣٢٣، ٣٨٩، ٤٨٥)

لغات سجن السجن معني جيل خانه جمع يې سجون دي او سجان معني جيلر. السجين قيدي . سجنا قيد كول

تشريح: علماو ددې حديث ډير مطلبونه بيان كړي دي اولنی مطلب دادی مومن كه په دنيا كې په هرڅومره راحت او ارام كې وي ليكن داخرت او دجنت دنعمتونو په مقابله كې ددوی ددنيوي راحت هيڅ حيثيت نشته كومه چې دجيل پښان ده همدا رنګې كافران هم په دنيا كې كه هر څومره بد حالت كې وي مګر ددوزخ په مقابله كې ددوی دا سختي هيڅ حيثيت نه لري.
دويم مطلب دادی چې په جيل كې دسړي ازادي سلب شوي وي او په ناسته ولاړه خوراك څښاك كې خپل خواهش پوره كولی نشي نوهمدارنګې مومن هم په دنيا كې په هر وخت كښ دالله داحكامو پابند وي خو ددي برعكس كافر ازاد وي. دريم مطلب دا هم بيان شوی دی كه په جيل كې دي دسړي دپاره هر څومره راحت راجمع كړی شي خو زړه يې هلته نه لګي او همدا كيفيت دمسلمان ددنيوي زندګۍ دی څلورم مطلب يې دا هم بيان شوی دی چې مومن دكافر په نسبت په دنيا كې دمصيبتونو زيات ښكار دی چنانچې په يو ارشاد نبوي كې راغلي دي "اشد البلاء الانبياء ثم الامثل فالامثل".
يعني په دنيا كې افات او مصائب دهر چا نه زيات په انبياو راغلي دي او بيا په ترتيب ترتيب سرد په هغه خلقو څوك چې ددوی په نقش او قدم روان دي
ددي برعكس كافر ته دالله تعالي دطرف نه مهلت وركولی شي تردې چې رخصت شي نو ګويا كې دده دراحت او ارام سلسله منقطع شي.

****

١٧ـ باب مَا جَاءَ مَثَلُ الدُّنْيَا مَثَلُ أَرْبَعَةِ نَفَرٍ

ددنيا مثال دڅلور قسمه خلقو پشان دي

٢٣٢٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، حَدَّثَنَا عُبَادَةُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ خَبَّابٍ، عَنْ سَعِيدٍ الطَّائِيِّ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو كَبْشَةَ الأَنَّمَارِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ثَلاَثَةٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا فَاحْفَظُوهُ، قَالَ: " مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ، وَلاَ ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلَمَةً فَصَبَرَ عَلَيْهَا إِلاَّ زَادَهُ اللَّهُ عِزًّا، وَلاَ فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ إِلاَّ فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا " . وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا فَاحْفَظُوهُ، قَالَ: إِنَّمَا الدُّنْيَا لأَرْبَعَةِ نَفَرٍ: عَبْدٍ رَزَقَهُ اللَّهُ مَالاً وَعِلْمًا فَهُوَ يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ وَيَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ وَيَعْلَمُ لِلَّهِ فِيهِ حَقًّا فَهَذَا بِأَفْضَلِ الْمَنَازِلِ، وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللَّهُ عِلْمًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ مَالاً فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ، يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالاً لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ

فُلَانٍ فَهُوَ بِنِيَّتِهِ فَأَجْرُهُمَا سَوَاءٌ، وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللَّهُ مَالًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ عِلْمًا فَهُوَ يَخْبِطُ فِي مَالِهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ لَا يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ وَلَا يَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ وَلَا يَعْلَمُ لِلَّهِ فِيهِ حَقًّا فَهَذَا بِأَخْبَثِ الْمَنَازِلِ، وَعَبْدٍ لَمْ يَرْزُقْهُ اللَّهُ مَالًا وَلَا عِلْمًا، فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالًا لَعَمِلْتُ فِيهِ بِعَمَلِ فُلَانٍ فَهُوَ بِنِيَّتِهِ فَوِزْرُهُمَا سَوَاءٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دابوكبشه انماري رضي الله عنه بيان دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي زه به دري خبرو قسم خورم او تاسو ته يو خبره بيانول غواړم او تاسو دا ياد اوساتئ چي په صدقي وركولو سره ديو كس په مال كي كمي نه راځي (دا اولنۍ خبره ده) او په كوم بنده چي هر قسم ظلم اوشي او هغه په دي باندي صبر اوكړي نو الله تعالي دده عزت زياتوي (دا دويمه خبره ده) او كه يو كس دسوال كولو دپاره دسوال دروازه پرانيزي نو الله تعالي دهغه دپاره دفقر او محتاجۍ دروازه پرانيزي (او يا يي ددي هم معني نور كلمات اوفرمائيل) (دا دريمه خبره ده) او ددينه علاوه تاسو ته يوه بله خبره بيانوم او دا هم په ښه شان سره ياد اوساتئ دا دنيا دڅلور قسمه خلقو دپاره ده يو هغه بنده دي چاته چي الله تعالي دمال او علم دولت وركړي وي او هغه دخپل رب نه ددي مال په ګټلو او خرچ كولو كي ويريږي او ددي مال په ذريعه صله رحمي كوي او په دي كي دالله تعالي دحقونو اداء كولو هم خيال ساتي نو دداسي كس درجه به دټولو درجو نه اوچته وي، او بل هغه بنده دي چاته چي الله تعالي علم وركړي وي ليكن دمال او دولت نه يي محروم كړي وي مګر بيا هم دده نيت صفا وي او وائي چي كاش چي ماسره هم مال وي نو مابه هم ددي كس پشان عمل كړي وو لهذا ده ته به دده دصفا نيت په وجه د اولني كس برابر اجر وركولي شي. او بل هغه بنده دي چاته چي الله تعالي مال او دولت وركړي وي ليكن دعلم نه يي محروم ساتلي وي او هغه پخپل مال كي غلط روش اختياروي نو داسي كس درجه په ټولو درجو كي بدتره ده او بل هغه بنده دي چاته چي الله تعالي مال او دولت او علم دواړه نه وي وركړي دي وائي چي كاش زما سره مال وي نو ما به هم دفلاني پشان عمل كړي وو (يعني په بدو كارونو كي به مي خرچ كړي وو) نو ده ته به دده دبد نيت سزا ملاويږي او ددواړو دعذاب او دګناه بار به يو برابر وي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

١٨_ باب مَا جَاءَ فِي الْهَمِّ فِي الدُّنْيَا وَحُبِّهَا

---

1 تفرد به المؤلف. وأخرج ابن ماجه نحوه في الزهد ٢٦ (٤٢٢٨) (تحفة الأشراف: ١٢١٤٥)

د نیا حاصلولو پسي دکوشش کولو او دي سره دمحبت کولو بیان

۲۳۲٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ بَشِيرٍ أَبِي إِسْمَاعِيلَ، عَنْ سَيَّارٍ، عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ نَزَلَتْ بِهِ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهُ، وَمَنْ نَزَلَتْ بِهِ فَاقَةٌ فَأَنْزَلَهَا بِاللَّهِ فَيُوشِكُ اللَّهُ لَهُ بِرِزْقٍ عَاجِلٍ أَوْ آجِلٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [1]

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمانیل که چری څوك په لوږه او ناچارۍ کې مبتلا شي او خلقو ته یي ښکاره کړي یعني دخلقو نه غوښتل او سوال شروع کړي، نو دی طریقی سره به یی لوږه او تنګسیا لری نه کړی شي لیکن څوك چي خپل الله تعالي ته هغه ښکاره کړي (یعني دهغی دلری کولو دعا اوکړي) نو خامخا به ورته زریابه څه موده پس دلوږی نه خلاصی ملاؤ شي او الله تعالي به ورله درزق انتظام اوکړي

امام ترمذي وايي: دا حدیث حسن غریب دی.

لغات: لم تسدّ؛ سدا دضرب او سمع نه په معني ددرست کیدو دي.

تشریح: "لم تسد فاقته" یعني دده ولږه به هیڅ کله ختمه نشي مطلب دادی نن خو ده سوال اوکړو او خپل ضرورت یي پوره کړو خو صبا به دده ددینه غټ ضرورت پیښ شي او بیابه دهغي دپاره هم سوال کوي غرض داچي دده دا سلسله به دمرګه پوري چلیږي همدا وجه ده چي په یو بل روایت کې راغلي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم یو څو جملي په قسم سره فرمانیلي دي چي یوه په هغو جملو کې داده څوك چي دخلقو نه دغوښتلو د دروازي پرانیستل غواړي یعني سوال کوي نو الله تعالي به ده ته دفقر دروازه پرانیزي

"ومن انزلها بالله فیوشك الله له برزق عاجل او اجل" یعني څوك چي الله ته دخپل فقر اظهار کوي نو الله تعالي به ده ته رزق ورکړي زر وي او که په تاخیر سره وي په یو بل حدیث کې هم داسي راغلي دي "ومن انزلها بالله اوشك الله له بالغني اما بموت عاجل او غني عاجل". مطلب دادي څوك چي فقر او فاقه دالله په دربار کې پیش کوي نو الله تعالي به یي ورنه لري کړي ، کله دا په مرګ ورکولو سره ختموي او کله په مال ورکولو سره او یا دبل چا په مرګ سره دده فقر ختم کړي چي ده ته په وراثت کې مال ملاو شي.

[1] سنن ابي داود/ الزكاة ٢٩ (١٦٤٥) (تحفة الأشراف: ٩٣١٩) ، و مسند احمد (١/٣٨٩)

****

۱۹_باب مِنْهُ

په دنيا کې دانسان دپاره صرف خادم او دجهاد دپاره سورلي کافي ده

۲۳۲۷_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، وَالأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، قَالَ: جَاءَ مُعَاوِيَةُ إِلَى أَبِي هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ وَهُوَ مَرِيضٌ يَعُودُهُ، فَقَالَ: يَا خَالُ، مَا يُبْكِيكَ أَوَجَعٌ يُشْئِزُكَ أَمْ حِرْصٌ عَلَى الدُّنْيَا، قَالَ: كُلٌّ لَا، وَلَكِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهِدَ إِلَيَّ عَهْدًا لَمْ آخُذْ بِهِ، قَالَ: "إِنَّمَا يَكْفِيكَ مِنْ جَمْعِ الْمَالِ خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ". وَأَجِدُنِي الْيَوْمَ قَدْ جَمَعْتُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى زَائِدَةُ، وَعَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ سَهْمٍ، قَالَ: دَخَلَ مُعَاوِيَةُ عَلَى أَبِي هَاشِمٍ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ. وَفِي الْبَابِ عَنْ بُرَيْدَةَ الأَسْلَمِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

ترجمه: دابووائل شقيق بن سلمه بيان دي چي معاويه رضي الله عنه دابو هاشم بن عتبه بن ربيعه القرشي دبيمارئ په وخت کي دهغه دعيادت دپاره ورغلو او ورته يي اوويل اي زما ماما ولي ژاړي دکوم درد په وجه درته تکليف دي او که ددنيا دحرص په وجه ژاړي؟ ابوهاشم اوويل داسي هيڅ خبره نشته زه په دي ژاړم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم چي ماته کوم وصت کړي وو په هغي مي عمل اونکړي شو، رسول الله فرمائيلي وو ستا دپاره په ټوله سرمايه کي بس يو خادم او يو سورلئ پکار ده چي دالله په لار کي به استعماليږي دا به ستا دپاره کافي وي مګر نن ما دخان سره ډير څه جمع کړي دي.

امام ترمذي وايي: زائده او عبيده بن حميد عن منصور عن ابي وائل عن سمره بن سهم سند سره روايت نقل کړي دي او پخپل روايت کي يي دا نقل کړي دي چي معاويه رضي الله عنه ابو هاشم ته ورغلو او باقي حديث يي دماقبل پشان ذکر کړو ، او په دي باب کي دبريده اسلمي په واسطه هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه روايت مروي دي

دابووائل شقيق ابن سلمه رضي الله عنه مناقب

نوم شقيق کنيه ابو وائيل قبيله بني اسد، دکوفي اوسيدونکي وو، دتابعينو دجملي نه وو، دابن حجر په قول په ۲۴ هجري کي وفات شوي دي (التقريب).

---

1 _ سنن النسائي/الزينة ۱۱۹ (۵۳۷۳) ، سنن ابن ماجه/الزهد ۱ (۴۱۰۳) (تحفة الأشراف : ۱۱۱۸) و مسند احمد (۵/۲۹۰)

****

٢٠_باب مِنْهُ

زمكه او جائيدادونه مه جوړوئ ځکه چې دې سره دنيا ته ستاسو رغبت پيدا کيږي

٢٣٢٨_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شِمْرِ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ سَعْدِ بْنِ الأَخْرَمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَتَّخِذُوا الضَّيْعَةَ فَتَرْغَبُوا فِي الدُّنْيَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل جائيداد جوړولو کې مه مشغول کيږئ ، هسی نه چي چرته دنيا کې راګير شئ، امام ترمذي وايي دا روايت حسن دی .

لغات الضيعة : جائداد ، زمکه ضاع ضيعا ضائع کيدل او برباديدل بي کاره کيدل

تشريح: "لاتتخذوا الضيعة" يعني جائيدادونه مه اخلئ، علماء وائي په دي حديث کې دهغه کسانو دپاره دجائيدادونو داخستلو نه ممانعت راغلی دی څوک چي په دي کې هميشه مشغول وي او اخرت يې هير کړی وي مګر که دجائيداد حاصلونکی داسي وي چي ددي دحاصلولو سره سره حقوق الله او حقوق العباد هم ادا کوي نو بيا دداسي کس دپاره جائيداد حاصلول ممنوع نه دي.

فترغبوا في الدنيا . يعني دجائيداد حاصلونکي سړي زړه به دنيا طرف ته راغب شي، دشريعت منشا، داده چي انسان دي هميشه داخرت په فکرکې مشغول وي چا ډير ښه مثال وړکړی دی چي الله تعالي دنيا لره دپل پشان جوړه کړي ده جنت ته دتلو دپاره او پل خو صرف دتيريدو دپاره جوړولی شي دعمارت جوړولو دپاره نشي جوړولی

امام غزالي دعيسي عليه السلام قول نقل کړی دی چي ددنيا مثال ديو پل پشان دی صرف تيريدل ورباندي اوکړئ او ابادئ ورباندي مه جوړوئ

امام غزالي دعيسي عليه السلام قول نقل کړي دي چي ددنيا مثال دير پل پشان دي چي د تيريدو دپاره ده د اوسيدو دپاره نده

****

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٢٢١)

٢١_باب مَا جَاءَ فِي طُولِ الْعُمُرِ لِلْمُؤْمِنِ

دمومن دپاره داوږد عمر دبهتر کيدو بيان

٢٣٢٩_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ خَيْرُ النَّاسِ ؟ قَالَ: " مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

ترجمه دابو صفوان عبدالله بن بسر اسلمي رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په خلقو کې بهتر سړی هغه دی چي عمر يی اوږد او عمل يی ښه وي.

امام ترمذي دغه حديث ته په دي سند حسن غريب وئيلي دی او په دي باب کي دابوهريره او جابر رضي الله عنه نه هم احاديث وارد دي.

بسر د "ب" پيښ او په "س" جزم دی (ترمذي)

لغات طال : طال يطول طولا دنصر نه په معني داوږد کيدو دي

****

٢٢_باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٣٣٠_حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلًا، قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ قَالَ: " مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ " قَالَ: فَأَيُّ النَّاسِ شَرٌّ؟ قَالَ: " مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَسَاءَ عَمَلُهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

ترجمه . دابوبکره رضي الله عنه نه روايت دي يو کس عرض اوکړو اي دالله رسوله په خلقو کي دټولو نه بهتر څوك دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دچاچي عمر اوږد او

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥١٩٤) . مسند احمد (٤/١٨٨، ١٩٠)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٦٨٩)

عمل يې نيك وي، دي كس بيا تپوس اوكړو چې په خلقو كې دټولو نه بدترين څوك دي؟ رسول الله اوفرمائيل دچاچې عمر اوږد او عمل بد وي
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٢٣_باب مَا جَاءَ فِي فَنَاءِ أَعْمَارِ هَذِهِ الأُمَّةِ مَا بَيْنَ السِّتِّينَ إِلَى السَّبْعِينَ

دامت محمديه د افرادو اوسط عمر به دشپيتو نه داوياؤ په مينځ كې وي

٢٣٣١_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنْ كَامِلٍ أَبِي العَلَاءِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عُمْرُ أُمَّتِي مِنْ سِتِّينَ سَنَةً إِلَى سَبْعِينَ سَنَةً "، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دامت داكثرو خلقو عمر به دشپيتو كالو نه تر اويا كالو په مينځ كې وي.
امام ترمذي وايي: دابوصالح دا حديث چې دابوهريره نه يې نقل كوي حسن غيب دي او دا حديث دابوهريره نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي.

****

٢٤_باب مَا جَاءَ فِي تَقَارُبِ الزَّمَانِ وَقِصَرِ الأَمَلِ

دقيامت درانژدې كيدو او دارزوګانو دكميدو بيان

٢٣٣٢_حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَخْلَدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ العُمَرِيُّ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَتَقَارَبَ الزَّمَانُ فَتَكُونُ السَّنَةُ كَالشَّهْرِ، وَالشَّهْرُ كَالجُمُعَةِ، وَتَكُونُ الجُمُعَةُ كَاليَوْمِ، وَيَكُونُ اليَوْمُ كَالسَّاعَةِ، وَتَكُونُ السَّاعَةُ كَالضَّرَمَةِ بِالنَّارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَسَعْدُ بْنُ سَعِيدٍ هُوَ أَخُو يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الأَنْصَارِيِّ. (2)

---

1 سنن ابن ماجه/الزهد ٢٧ (٤٢٣٦)، ويأتي عند المؤلف في الدعوات ١٠٢ (٣٥٥٠) (تحفة الأشراف: ١٢٨٤٦)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٤٦)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي قيامت به هغه پوري نه قائميږي ترڅو چي زمانه رانزدي شوي نه وي داسي وخت به راشي چي کال به دمياشتي سره برابر شي او مياشت به دهفتي سره برابر شي او هفته به ديوي ورځي سره برابر شي او يوه ورځ به ديو ساعت سره برابر شي او يو ساعت به داور ديوي سکروټي سره برابر شي

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند غريب دي

****

٢٥_باب مَا جَاءَ فِي قِصَرِ الأَمَلِ

دکموارزوګانوکولوبيان

٢٣٣٣_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ لَيْثٍ. عَنْ مُجَاهِدٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ: أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبَعْضِ جَسَدِي بِمَنْكِبِي، فَقَالَ: "كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ. وَعُدَّ نَفْسَكَ فِي أَهْلِ الْقُبُورِ". فَقَالَ لِي ابْنُ عُمَرَ: إِذَا أَصْبَحْتَ فَلَا تُحَدِّثْ نَفْسَكَ بِالْمَسَاءِ. وَإِذَا أَمْسَيْتَ فَلَا تُحَدِّثْ نَفْسَكَ بِالصَّبَاحِ. وَخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ قَبْلَ سَقَمِكَ. وَمِنْ حَيَاتِكَ قَبْلَ مَوْتِكَ. فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي يَا عَبْدَ اللهِ مَا اسْمُكَ غَدًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ الْأَعْمَشُ. عَنْ مُجَاهِدٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ. نَحْوَهُ. (1)

ترجمه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم څما دواږه اوږي نيولو په حال کي يي اوفرمائيل په دنيا کي دمسافر يا لاروي پشان اوسيږه، اوخپل ځان په قبرونو والا کي شميره، ابن عمر رضي الله عنهما به دا هم فرمائيل چي بيګاه درته نصيب شو نو دصبا انتظا مه کوه او چي صبا ملاؤ شو نو دبيګاه انتظار مه کوه، دبيماري نه مخکي صحت او دمرګ نه مخکي ژوند غنيمت اوګڼره ،خکه چي اي عبد الله تاته معلومه نه ده چي سبا به دي نوم څه وي؟

امام ترمذي وايي اعمش دمجاهد نه او هغه دابن عمر نه ددي حديث هم معني روايت نقل کړي دي

لغات غريب الغريب هغه څوک چي دوطن نه لري او سيږي او ناشنا وي

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٣ (٦٤١٦) . سنن ابن ماجه/الزهد ٣ (٤١١٤) (تحفة الأشراف ٧٣٨٦) . و مسند احمد (٢/ ٢٤، ١٣١)

من الكلام، لري دفهم نه كلام، مونث يي غريبة جمع يي غرائب ده، غرب دنصر نه غربا تلل، جدا كيدل، في سفره، سفر كول.

تشريح: امام نووي ددي حديث په تشريح كي داسي وايي. قالوا في شَرْحِ هَذَا الحديث معناه: لاَ تَرْكَنْ إِلَى الدُّنْيَا وَلاَ تَتَّخِذْهَا وَطَناً. وَلاَ تُحَدِّثْ نَفْسَكَ بِطُولِ البَقَاءِ فِيهَا. وَلاَ بِالاعْتِنَاءِ بِهَا. وَلاَ تَتَعَلَّقْ مِنْهَا إِلاَّ بِمَا يَتَعَلَّقُ بِهِ الغَرِيبُ فِي غَيْرِ وَطَنِهِ. وَلاَ تَشْتَغِلْ فِيهَا بِمَا لاَ يَشْتَغِلُ بِهِ الغَرِيبُ الَّذِي يُرِيدُ الذَّهَابَ إِلَى أَهْلِهِ. وَبِاللهِ التَّوْفِيقُ.

عالمانو ددی حدیث دشرحی په طور دا فرمائیلي دي چي دنيا مه دسکونت مقام جوړوه او مه یی خپل وطن جوړوه د اوږدی زمانی پوری دژوند تصور مه کوه مه منصوبی جوړوه، دی سره دومره او داسی تعلق اوساته څومره اوځنګه تعلق چي يو مسافر دناشنا ځایی سره ساتي او داسی کارونو یا خبرو کي مه مشغول کیږئ چي اهل وعیال ته درسیدلو اراده لرونکی مسافر هغه نکوي.

علامه نووي ددي حديث په تشريح كي ليكلي دي چي انسان په دنيا كي دمسافر پشان دی ددنيا محبت دزړه نه دويستو بغير دا كار ممكن نه دی او دا خكه دچا په زړه كي چي ددنيامحبت وي نو دی په مزه مزه دنيا والاجوړ شي اګر كه دی داخرت اعمال هم كوي ليكن دا ناپاكه دنيا ده لره بغير درنګ راوړلو نه نه پريږدي همداوجه ده چي مالك بن دينار رحمة الله عليه وئيلي دي چي ددي جادوګري دنيانه ځان بچ اوساتئ دا خو دعلماؤ په زړونو هم جادو كوي

دیحیي بن معاذ قول دی چي عقل مندان دري قسمه كسان دي يو خو هغه كس دی څوك چي دنيا لره مخكي ددينه پريږدي چي دنيا دی پريږدي دويم هغه كس دی چي قبر ته دتلو نه مخكي ده هلته دتلو دپاره تياری كړی وي او دريم هغه كس دی چي خپل مولي يي دملاقات كولو نه مخكي راضي كړی وي.

****

٢٣٣٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ. (١)

---

[1] : اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٣ (٦٤١٦). سنن ابن ماجه/الزهد ٣ (٤١١٤) (تحفة الأشراف: ٧٣٨٦). ومسند احمد (٢/٢٤، ١٣١)

ترجمه: په دي سند هم د ابن عمر په واسطه د نبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل حديث هم معني روايت مروي دي

****

٢٣٣٤ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " هَذَا ابْنُ آدَمَ وَهَذَا أَجَلُهُ " وَوَضَعَ يَدَهُ عِنْدَ قَفَاهُ ثُمَّ بَسَطَهَا، فَقَالَ: " وَثَمَّ أَمَلُهُ وَثَمَّ أَمَلُهُ وَثَمَّ أَمَلُهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. ([1])

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دا بني ادم دي او دادهغه مرګ دي او رسول الله خپل لاس پخپله ګدئ کيخودو او بيايي اوږد کړو او ويي فرمائيل دا دهغه اميد دي او دهغه اميد دي او دا دهغه اميد دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٢٣٣٥ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي السَّفَرِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: مَرَّ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نُعَالِجُ خُصًّا لَنَا، فَقَالَ: " مَا هَذَا؟ " فَقُلْنَا: قَدْ وَهَى فَنَحْنُ نُصْلِحُهُ، قَالَ: " مَا أَرَى الأَمْرَ إِلاَّ أَعْجَلَ مِنْ ذَلِكَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو السَّفَرِ اسْمُهُ سَعِيدُ بْنُ يُحْمِدَ، وَيُقَالُ: ابْنُ أَحْمَدَ الثَّوْرِيُّ. ([2])

ترجمه: دعبدالله بن عمررضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ په وړاندي تير شو او مونږ دخپل کور څپر سمولو رسول الله اوفرمائيل دا څه دي؟ مونږ عرض اوکړو دا کور وروست شوي دي لهذا مونږ يي سمولو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ماته خو معامله ددينه هم زياته نزدي ښکاري

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٢٧ (٤٢٣٢) (تحفة الأشراف: ١٠٤٩)

[2] ـ ابي داود/ الأدب ١٦٩ (٥٢٣٥)، سنن ابن ماجه/الزهد ١٣ (٤١٦٠) (تحفة الأشراف: ٨٦٥٠)

٢٦_باب مَا جَاءَ أَنَّ فِتْنَةَ هَذِهِ الأُمَّةِ فِي الْمَالِ

دامت محمديه فتنه مال دي

٢٣٣٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ سَوَّارٍ، حَدَّثَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ حَدَّثَهُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ كَعْبِ بْنِ عِيَاضٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً، وَفِتْنَةُ أُمَّتِي المَالُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ. [1]

ترجمه كعب بن عياض رضي الله عنه راوي دى چي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلى دى چي دهر امت دپاره څه ناڅه څيز دازميښت په طور وي او خما دامت ازميښت مال او دولت كې دى.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح غريب دي او مونږ يي صرف دمعاويه بن صالح په روايت پيژنو

لغات فتنة: الفتنة معني ازمائش، گمراهي، كفر، رسوايي، غم او ليوتوب. عبرت. عذاب، مرض او اختلاف او جنگ او جدال واقع كيدو ته فتنة ويلي شي جمع يي فتن راځي. دضرب نه فتنة ومفتونا فلانا معني گمراه كول، ازمائش كول. فتنة الصائغ الذهب يعني زرگر زر وخوټكول او كره كوټه يي معلوم كړل.

تشريح: "ان لكل امة فتنة" امام غزالي وائي دفتني نه مراد داخرت عذاب دى چي ددي مال په وجه ډير خلق په فتنو كې مبتلا كيږي ددي مطلب تائيد په يو حديث سره هم كيږي چي دقيامت په ورځ به ددوه درهمو والانه ديو درهم والا په نسبت زيات سوال كيږي.

مولانا منظور نعماني وائي ددي حديث مطلب دادى چي زما دپيغمبرۍ په دور كې دخلقو دپاره په فتنه كې زياته اچونكى شي مال دى په قران كريم كې هم راغلي دي "انما اموالكم واولادكم فتنة" يعني ستاسو مالونه او ستاسو اولاد ستاسو دپاره دازمائش سبب دى

يادحديث مطلب دادى چي دمال دگيرولو محبت يو ليوتوب دى او دا ليوتوب خلقو لره داحكام الهيه دتعميل نه په غفلت كې اچوي او دا يو داسي مرض دى چي دانسان دين او اخلاق خرابوي.

كعب بن عياض رضي الله عنه مناقب

---

[1] (النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ١١١٣٩)، و مسند احمد (٤/١٦٠)

نوم كعب دپلار نوم عياض اشعري قبيلي سره تعلق لري چي په شاميانو كې شميرلي شي عموما دجابر بن عبدالله او جابر بن نفيل نه نقل دروايت كوي دده نه ترمذي او نسايي روايتونه اكثر نقل كوي په باقي صحاح سته كې دده روايتونه نشته

****

٢٧_باب مَا جَاءَ لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغَى ثَالِثًا

كه چري ديوانسان سره دوه كندي دمال نه ډكي وي نو دريمي خواهش به هم كوي

٢٣٣٧_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ ذَهَبٍ لَأَحَبَّ أَنْ يَكُونَ لَهُ ثَانِيًا، وَلَا يَمْلَأُ فَاهُ إِلَّا التُّرَابُ، وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَى مَنْ تَابَ "، وَفِي الْبَابِ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ الزُّبَيْرِ، وَأَبِي وَاقِدٍ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كه چري يو انسان سره د دوه كندو د ډكوالي په مقدار سره زر وي نو دي به په دي قناعت نه كوي بلكه، د دريمي به هم خواهش كوي خو دده خيته په هيڅ څيز نه ډكيږي علاوه دخاورو نه او الله تعالي دهر هغه چا توبه قبلوي څوك چي ورته توبه اوباسي

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي. او په دي باب كي دابي بن كعب. ابوسعيد خدري. عائشه. ابن زبير، ابوواقد، جابر، ابن عباس، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٢٨_باب مَا جَاءَ فِي "قَلْبُ الشَّيْخِ شَابٌّ عَلَى حُبِّ اثْنَتَيْنِ"

بيان ددي ارشاد نبوي چي د بوداګا نو زړونه د دوه څيزونو په محبت كي ځوان وي چي عمر او مال دي

٢٣٣٨_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قَلْبُ الشَّيْخِ شَابٌّ عَلَى حُبِّ اثْنَتَيْنِ: طُولُ

---

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ١٠ (٦٤٣٩)، صحيح مسلم /الزكاة ٣٩ (١٠٤٨) (تحفة الأشراف: ١٥٠٨)، و مسند احمد (١٢٢/٣، ١٧٦، ١٩٢، ١٩٨، ٢٣٨، ٢٤٣)، وسنن الدارمي/الرقاق ٦٢ (٢٨٢٠)

الْحَيَاةِ وَكَثْرَةُ الْمَالِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي د دوه څيزونو په محبت کي دبوډا سړي زړه ځوان وي يو داوږدي زندګئ سره محبت او دويم دمال سره محبت

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٢٣٣٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَيَشِبُّ مِنْهُ اثْنَتَانِ: الحِرْصُ عَلَى العُمُرِ، وَالحِرْصُ عَلَى المَالِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په يو سړي بوډا والي راشي خو دوه څيزونه پکي ځوان پاتي شي يو داوږد عمر خواهش دي او دويم دمال حرص دي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٩_باب مَا جَاءَ فِي الزَّهَادَةِ فِي الدُّنْيَا

ددنيا نه دبي رغبتئ بيان

٢٣٤٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ وَاقِدٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ حَلْبَسٍ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الخَوْلَانِيِّ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الزَّهَادَةُ فِي الدُّنْيَا لَيْسَتْ بِتَحْرِيمِ الحَلَالِ وَلَا إِضَاعَةِ المَالِ، وَلَكِنَّ الزَّهَادَةَ فِي الدُّنْيَا أَنْ لَا تَكُونَ بِمَا فِي يَدَيْكَ أَوْثَقَ مِمَّا فِي يَدَيِ اللَّهِ، وَأَنْ تَكُونَ فِي ثَوَابِ المُصِيبَةِ إِذَا أَنْتَ أُصِبْتَ بِهَا أَرْغَبَ فِيهَا لَوْ أَنَّهَا أُبْقِيَتْ لَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَأَبُو إِدْرِيسَ الخَوْلَانِيُّ

---

[1] _ سنن ابن ماجه/الزهد ٢٧ (٤٢٣٣) (تحفة الأشراف : ١٢٨٦٩) . و مسند احمد (٢/٣١٧، ٣٣٥، ٣٣٨، ٣٣٩، ٣٥٨، ٣٧٩، ٣٩٤، ٤٤٣، ٤٤٧)

[2] _ صحيح مسلم /الزكاة ٣٩ (١٠٤٧) . سنن ابن ماجه/الزهد ٢٧ (٤٢٣٤) (تحفة الأشراف : ١٤٣٣) . و مسند احمد (٣/١١٥، ١١٩، ١٦٩، ١٩٢، ٢٥٦، ٢٧٥)

اسْمُهُ عَائِذُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَعَمْرُو بْنُ وَاقِدٍ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ. ([1])

ترجمه دابوذر غفاري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ددنيا دا مطلب نه دي چي يو كس دي په خان باندي حلال څيز حرام كړي او مال دي برباد كړي، بلكه ددي مطلب دادي چي كوم مال ستا لاس ته راغلي دي په دي باندي ستا دپاره دهغه مال نه زيات اعتماد كول پكار نه دي كوم چي دالله تعالي په لاس كي دي، او ستا دپاره دمصيبت ثواب ته دومره رغبت پكار دي چي كله ته په مصيبت كي گرفتار شي چي ته دا خواهش اوكړي چي دا مصيبت دي باقي پاتي شي.

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو او په دي سند كي عمرو بن واقد راوي منكر الحديث دي او دابو ادريس خولاني نوم عائذالله بن عبدالله دي

****

٣٠_ باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٣٤١_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا حُرَيْثُ بْنُ السَّائِبِ، قَالَ: سَمِعْتُ الْحَسَنَ، يَقُولُ: حَدَّثَنِي حُمْرَانُ بْنُ أَبَانَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَيْسَ لِابْنِ آدَمَ حَقٌّ فِي سِوَى هَذِهِ الْخِصَالِ بَيْتٌ يَسْكُنُهُ، وَثَوْبٌ يُوَارِي عَوْرَتَهُ، وَجِلْفُ الْخُبْزِ وَالْمَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ حَدِيثُ الْحُرَيْثِ بْنِ السَّائِبِ، وَسَمِعْتُ أَبَا دَاوُدَ سُلَيْمَانَ بْنَ سَلْمٍ الْبَلْخِيَّ يَقُولُ: قَالَ النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ: جِلْفُ الْخُبْزِ يَعْنِي: لَيْسَ مَعَهُ إِدَامٌ. ([2])

ترجمه عثمان بن عفان (دريم خليفه) رضي الله عنه بيان كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم او فرمائيل چي بنيادم ته د دريو څيزونونه زياتولو دپاره (دكوشش) ته ضرورت نشته. اوسيدلو دپاره كور، (بدن) پټولو دپاره كپړې ؛ خوراك دپاره روټۍ اوبه

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او دا حديث مونږ ته دحريص بن سائب په سند رارسيدلي دي، ما دابوداود سليمان بن سالم بلخي نه او هغه دنضر بن شميل نه دا وينا اوريدلې ده چي جلف په غير دانگلي نه وچې ډوډۍ ته وائي، بعضي نورو دجلف معني غټه

[1] سنن ابن ماجه/الزهد ا (٤١٠٠) (تحفة الأشراف : ١١٩٢٥)

[2] (تحفة الأشراف : ٩٧٩٠) ، مسند احمد (١/٦٢)

روتۍ بیان کړی ده او هروي وائي چي دلته مراد دروتۍ لوښی دی لکه چي جوالق او خرج دروتۍ لوښوته وائي

تشریح: امام نووي ددي حدیث مطلب بیان کړی دی چي علماء وائي "لیس لابن ادم حق في سوا هذه الخصال" یعني ددي څیزونو نه علاوه په هیڅ څیز کې دبني ادم حق نشته. دحق نه مراد هغه څیز دی کوم چي دالله تعالي دطرفه دانسان دپاره واجب شوی وي نو دداسي څیز باره کې به دانسان نه تپوس نه کیږي

یعني څوك چي دا شیان په حلالو ذرائعو حاصلوي او په قدر دضرورت اکتفاء کوي نو دده نه به ددي په باره کې په اخرت کې سوال نه کیږي خکه چي په قدر دضرورت مذکور شیان داسي دي د کوم نه بغیر چي دنفس انساني دپاره څه چاره نوي.

لکه چي په یو روایت کې راغلي دي دا څیزونه چي چاته ملاؤ شي نو هغه ته ټوله دنیا ملاؤ شوه . ارشاد نبوي دی څوك چي پخپل کور کې په امن سره اوسیږي او الله تعالي ورته صحت ورکړی وي او دیوي ورځي خوراك هم ورسره موجود وي نو دا داسي ده لکه چي الله تعالي ورته هر څه ورکړي دي، دمحمد بن واسع رحمة الله علیه یوه عجیبه عادت وو وچي دوډۍ به یي په اوبو کې لمدوله او په هغي به یي قناعت کولو او ونیل به یي که څوك داسي کوي نو هیچاته به محتاج نشي

عثمان بن عفان رضي الله عنه مناقب

نوم عثمان کنیه ابوعبدالله ، ابو عمر، ابولیلي او ذي النورین یي لقب وو دپلار نوم یي عفان وو او دمورنوم یي اروي . دعثمان رضي الله عنه خاندان داسلام نه مخکې هم ډیر عزت او اقتدار لرلو

دعام الفیل په شپږم کال یي پیدائش شوی وو او په اسلام کې یي دداخلیدو نمبر ۳۴ دی رسول الله صلي الله علیه وسلم دخپلي لور روقیه رضي الله عنها نکاح چونکه دعتبه بن ابو لهب سره کړي وه لیکن چي عتبه طلاق ورکړل نو دعثمان رضي الله عنه سره یي نکاح اوشوه حبشي ته دهجرت کونکو نه وو لیکن کله چي مدیني ته هجرت شروع شو نو ده هم هجرت اوکړو (طبقات ابن سعد)

په عزوه بدر کې یي درقیه رضي الله عنها دبیمارۍ په وجه شرکت اونکړی شو او ددینه علاوه په نورو تمامو عزواتو کې شریك شوی دی. عثمان رضي الله عنه کاتب دوحي هم وو (کنز العمال)

دقران پاك سره یي ډیره مینه وه ددنیا نه چي رخصتیدو نو رخصتي یي هم دقران لوستلو په حال کې شوي وه ددینه علاوه پکې نوري ډیري خوبیاني هم وي لکه خوف الهي . حب رسول ،

اتباع سنت، احترام رسول، حياء، تواضع، زهد، سخاوت، ايثار، حسن سلوك
وفات دجمعي په ورځ دمازيگر په وخت كې په ظالمانه طور سره شهيد شو چې دوه ورځو پورې بې كفه او بې گوره پروت وو او بيا يو څو كسانو دفن كړو ، دمسند احمد دروايت نه معلوميږي چې جنازه وربانديې زبير رضي الله عنه كړي وه او دابن سعد دروايت نه معلوميږي چې زبير بن مطعم وربانديې جنازه كړي وه، دجنت البقيع نه شاته په حش كوكب كې خاورو ته اوسپارلی شو او بيا دغه ديوال مات كړى شو او په جنة البقيع كښې شامل كړی شو
مرويات. چونكه په نقل دروايت كې ډير محتات وو نو په دې وجه ورنه صرف ۱۴۲ روايات منقول دي چې اته پكې متفق عليه دي او پنځه په مسلم كې دي او شپاړس په بخاري كې دي

****

۳۱_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٣٤٢_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ: "أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ (التكاثر : ١)، قَالَ: يَقُولُ ابْنُ آدَمَ: مَالِي مَالِي، وَهَلْ لَكَ مِنْ مَالِكَ إِلَّا مَا تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ أَوْ أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ، أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه . مطرف د خپل پلار عبدالله بن شخير نه روايت كوي چې څه يو ځل د رسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت كې حاضر شوم نو هغوی سورة تكاثر تلاوت كړو (دتلاوت نه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو چې بنيادم وائي څما مال (دادی ، څما مال (هغه دی ، ليكن ای دادم خويه! ستا مال خو هغه دی كوم چې دې اوخوړلو او فنا دې كړو يا دې واغوستلو او زوړ دې كړو
امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي.
لغات فامضيت امضيٰ ، امضاء نافذ كول، جاري كول، او كار پوره كولو ته ونيلي شي. او همدارنگې دسبنخت وغيره كولو ته هم ونيلي شي

[1] صحيح مسلم/الزهد (٢٩٥٩) . سنن النسائي/الوصايا (٣٦٤٣) . ويأتي عند المؤلف في تفسير "التكاثر" (٣٣٢٩) (تحفة الأشراف : ٥٣٤٦) . ومسند احمد (٢٦،٤/٢٤)

تشريح : ددي حديث وضاحت دبخاري په يو بل حديث كې راغلى دى چي "لوكان لابن ادم واديا من ذهب لاحب ان يكون، له واديان ولا يملاء فاه الاالتراب ويتوب الله علي من تاب" كه چري دانسان دپاره دسرو زرو غر هم وي خو دى به بيا هم دا تمني كوي چي دا دوه وى نو ډيره به ښه وه او دده خولي لره نه ډكوي مګر خاوري او الله تعالي توبه قبلوي دهغه چا څوك چي ورته توبه اوباسي

دابئ بن كعب رضي الله عنه بيان دى فرمائي چي مونږ به دمذكوره حديث الفاظ قراني وحي ګڼرله تردي چي بيا الله تعالي سورة التكاثر نازل كړو

ددينه معلومه شوه چي رسول الله به د الهاكم التكاثر مذكوره الفاظ ددي دتفسير په طور لوستل ، ددي په وجه بعض كسان په شبه كې پريوتل چي ګويا كې دابه هم دقران الفاظ وي خوچي كله پوره سورت التكاثر نازل شو او دا الفاظ پكې نه وو نود حقيقت پته ولګيدله چي دا الفاظ تفسيري دي قراني الفاظ ندي

****

٣٢_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٣٤٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ هُوَ الْيَمَامِيُّ. حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ. حَدَّثَنَا شَدَّادُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ. قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ. يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا ابْنَ آدَمَ. إِنَّكَ إِنْ تَبْذُلِ الْفَضْلَ خَيْرٌ لَكَ. وَإِنْ تُمْسِكْهُ شَرٌّ لَكَ. وَلَا تُلَامُ عَلَى كَفَافٍ. وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ. وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَشَدَّادُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ يُكْنَى: أَبَا عَمَّارٍ. (١)

ترجمه : ابوامامه رضي الله عنه روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اى دادم خويه، كه چرى ته دضرورت نه زياتي څيز (دالله په لاره كښي) خرج كړى نو داستا دپاره بهتره ده او كه هغه منعه كړى نو دا خبره درته بده ده دضرورت په قدر څيز ساتلو باندي به ته دملامتيا مستحق نه يى ، په خرج كې ترجيح خپل اهل وعيال ته وركوه، او پورتني لاس (يعني وركونكي لاس) دلاندېني (غوښتونكي او سوال كونكي) لاس نه بهتر وي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

---

1 صحيح مسلم/الزكاة ٣٢(١٠٣٦) (تحفة الأشراف: ٣٨٧٩) . و مسند احمد (٥/٢٦٢)

لغات كفاف: كفاف من الرزق يعني دګزاري والارزق کوم چي دخلقو ضرورت دپاره کافي کيږي . کفا الاناء يعني لوښي ډک شو

تشريح: رسول الله صلي الله عليه وسلم دضرورت نه دزياتي مال دخرچ کولو دومره پيري ترغيب ورکړی دی چي دبعضو صحابه کرامو دا خيال راغی چي ګويا کې يو سړی بالکل د خان سره دضرورت نه دزياتي څيز دساتلو بالکل حق نه لري ابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دی چي يو څل مونږ رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په سفر روان وو او يو سړي خپله اوښه کله ديخوا او کله اخوا بوتلله په دي وخت کې رسول الله اوفرمائيل دچا سره چي دضرورت نه زياتي سورلئ وي هغه دي هغه چاته ورکړي چي سورلئ ورسره نه وي او که دچا سره توخه زياته وي نو هغه دي هغه چاته ورکړي چي توخه ورسره نه وي تردي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو يو څيز په دي شان سره ذکر کړو دصحابه کرامو قول دی زمونږ دا خيال راغی چي ګويا کې سړی دضرورت نه په زياتي څيز کې هډوحق نه لري.

"وابداء بمن تعول" يعني شروع به دهغه کسانو نه کوي دچاچي ته پرورش کوي، يعني اهل او عيال، په يو روايت کې راغلي دي چي يو درهم دغلام په ازادولو کې خرچ کړه او يو درهم چرته کوم فقير ته ورکړه او بل درهم پخپل اهل او عيال خرچ کړه ، په يو بل روايت کې دخرچ کولو ترتيب داسي راغلی دی چي دټولو نه مخکې په سړي باندي داهل او عيال حق دی او بيا درشته دارو دی او کوم چي ددينه زياتي شي نو هغه دي يو او بل ته ورکړي

****

٣٣_ باب في التَّوَكُّلِ عَلَى اللَّهِ

په الله تعالي باندي داعتماد کولو بيان

د توکل متعلق ارشاد الهي دی ﴿ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ ﴾ [الفرقان: ٥٨].

(اوخان اوسپاره په هغه ژوندي ذات باندي چه مرګ پري نه راځي) کوم اشخاص چه ژوندي وي ليکن مرګ ورباندي راتلونکي وي يووخت به دوئ ته مرګ ضرور را رسيږي اوپه دوئ باندي اتکاء کول به اتکاء کونکو لره ضرور بي مدده پريږدي اوهغوئ به تباه شي مګر رب الله باندي هيڅکله مرګ راتلي نشي نوپدي وجه ، الله ددي خبري مستحق دي چه په ده باندي دمخالفينو دشر نه دمحفوظ کيدو دپاره اعتماد او اتکاء وکړي شي (١) ابن کثير ٣/٣٣٣٥

﴿ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴾ [إبراهيم: ١١].

(اوخاص په الله تعالي دي توکل کوی مومنان) پدي کلام سره انبياؤ نور مومنانو ملګرو ته

هدايت وكړو چه دكافرانو په مقابله كښي تاسو په الله اعتماد وكړئ .دايت نه ضمنا
معلوميږي چه په الله اعتماد كول دايمان تقاضا ده خكه چه دمومن پدي خبره عقيده مضبوطه
شي چه دخير اوشر پيدا كونكي اونفع اونقصان رسونكي دالله تعالي نه علاوه بل څوك نشته
نولازما به تمام معاملات دهغه په اختيار كښي وي

﴿ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ ﴾ [آل عمران : ١٥٩] .

پس كله چه دمشوري نه پس ستاسو اراده محكمه شي نوپه الله تعالي باندي بهروسه وكړئ
اوخپله معامله الله تعالي ته اوسپارئ اوپه هغه باندي اعتماد اوساتئ ، اودرسول الله صلي
الله عليه وسلم هم دا حالت وو ، هم پدي وجه باندي كله چه داحد په ورځ دجنگ په اراده
باندي را ووتلو ، اودفريشانه كيدونه پس خلقو هغه لره بندول غوښتل، نو وئې فرمائيل دكوم
نبي سره لائق ندي چه دجنگ په اراده زغره واغوندي اوبغير دجنگ كولونه ئې اوباسي
دايت مطلب دادي په مشوره كښي په طي شده خبره باندي عمل كوئ او اعتماد په الله تعالي
باندي ساتئ ، دامطلب ندي چه پخپله رائي باندي عمل كوئ، اومشوري لره نظر انداز كړئ،
خكه چه دغيبو علم خو د الله تعالي سره دي ، مكرپخپل مينځ كښي په مشوري كولو سره
دافكارو دردوبدل په نتيجه كښي هغه خبره اوخي كومه چه زياته مفيده وي . خوبياهم
اجتماعي مشوره قابل بهروسه نه وي چه په يقيني طور دي مفيده وي خكه چه دانساني
افكارو رفتار كله كله منتشر وي اوكله كله الله تعالي دمعمول خلاف نتيجه پيدا كوي
نوپدي وجه باندي بهروسه دخلقو په راي باندي نده پكار صرف په الله تعالي باندي پكارده
دتوكل مطلب دادي چه هرڅيز دي الله تعالي ته وسپارلي شي او درخواست ورته وكړي شي
چه دكوشش نتيجه بنه ثابته شي اوپه الله تعالي باندي بدګماني ونكړي شي حسن ظن
ورباندي وكړي شي(چه هغه ضرور بنه نتيجه را اوباسي)
بعضي علماؤ وئيلي دي چه دتوكل معني داده چه خپل ذات دپاره دالله تعالي نه علاوه بل
چالره رازق . ناصر . خازن. اود اعمالو نګران ونه ګڼرلي شي
دعمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي
دي كچري تاسو په الله تعالي باندي توكل وكړئ لكه څنګه چه دتوكل كولو حق دي نو الله
تعالي به درته داسي رزق دركړي لكه څنګه چه مرغو ته وركوي چه په سحر كښي اوږي روان
شي اومابنام ماړه واپس راشي (رواه الترمذي في جامعه وابن ماجة) معارف القران٢ ،٢٢٢

وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ﴾ [الطلاق : ٣] : أي كافِيهِ .

(اوچاچه اوسپارلو په الله تعالي باندي خان خپل نوهغه پوره دي ده لره يقينا الله تعالي پوره
كوونكي دي خپل كار لره يقينا جوړ كړي دي الله تعالي دپاره دهرڅيز خاص اندازه)

"فَهُوَ حَسْبُهُ" يعني دهغه فكر دتمامو راتلونكو كارونو دپاره دي . دعمر فاروق رضي الله عنه بيان دي چه ماپخپله اوريدلي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيل كه چري تاسوپه الله تعالي باندي داسي اعتماد وكړئ لكه څنګه چه داعتماد كولو حق دي نو الله تعالي به تاسو ته داسي رزق دركړي لكه څنګه چه مرغوته وركوي چه سحر اوكې لاړې شي اوماښام مړي واپس راشي (رواه الترمذي وابن ماجه)

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَاناً وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ﴾ [الأنفال:٢]

اخكه چه مومنان خوداسي وي چه كله الله ددوئ په وړاندي ياد كړي شي نوزړونه يي او ريږي اوكله چه دالله كلام دوئ ته اور ولي كيږي نوبدي سره ددوئ ايمان نور قوي كيږي اودوئ پخپل دين اعتماد هم كوي.

"إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ" يعني كامل ايمان والا هغه كسان دي "وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ" يعني دالله تعالي په عظمت او جلال هيبت او عزت سره ددوئ زړونه ويريږي . بعضي علماؤ ونيلي دي ددينه هغه خلق مراد دي كله چه دكومي ګناه اراده اوكړي ليكن چه الله ورته ياد كړي شي نو دوئ اويريږي او وائي چه داسي مه كوئ اوبيا دالله دعذاب نه دويږي په وجه هغوئ دګناه نه منع شي . ددي صورت په اعتبار په "ذكروالله" كښي دالله نه مخكښي مضاف محذوف دي يعني كله چه دوئ ته دالله دعذاب يا دوعيد ذكر اوكړي شي.

"وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا" خو كله چه ددوئ په وړاندي دقران تلاوت اوكړي شي نو چونكه دقران دتلاوت په وخت كښي بركتونه نازليږي اوراسخ الايمان دلائل مسلسل بيانيږي دكوم په وجه چه يقين مضبوطيږي اوزړه ته اطمينان راخي نوبدي وجه ددوئ په ايمان كښي مزيد استحكام پيدا كيږي "وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ" اوهغوئ خپل تمام كارونه الله ته سپاري نه دالله نه علاوه دچانه اميد كوي او نه خوف.

دحسن بصري نه چا تپو اوكړو چه ايا ته مومن يي نو ورته يي اوفرمائيل كچري ستا مراد دا وي چه ايا زما په الله او په فرشتو او په كتابونو اورسولانو او په جنت او په دوزخ او په حشر او حساب او اخرت ايمان شته او كه نه نو بيا خو يقينا زه مومن يم ځكه چه ددي ټولو څيزونو مي ايمان دي، او كچري ته دا تپوس كول غواړي چه زه ددي ايت كريمه "إِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ إِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ" مصداق يم اوكه نه نو ماته معلومه نه ده چه زه پدغو خلقو كښي داخل يم اوكه نه.

په سلفو علماؤ کښې یو اختلاف دي چه انا مؤمن انشاء الله ونیل جائز دي اوکه نه ځکه چه ان حرف شرط دي دشك دپاره راځي نوېدي وجه بعضي علماء وائي چه ایمان لره دشرط سره معلق کول درست نه دي ایمان قطعي کیدل پکار دي په ایمان کښې شك ایمان لره زائل کوي ، بعضي علماء وائي چه اعتبار انجام لره دي معلومه نه ده چه دخاتمي په وخت کښې ایمان وي اوکه نه وي نوېدي وجه دا حروف شرط کوم چه ماضي لره دمستقبل په معني ګرځوي دلته استعمالول صحیح دي مؤلف رحمة الله علیه فرمائیلي دي زما په نزد دحسن بصري مراد دا دي چه زه مومن خو یم لیکن دکامل مومن کیدو علم راته نشته معلومه نه ده چه دالله تعالي په نزد په کاملو او صالحو مومنانو کښې شمار یم اوکه نه.

دعلقمه بیان دي چه په یو سفر کښې زمونږ ملاقات دبعضي خلقو سره اوشو مونږ ورنه تپوس اوکړو تاسو څوك يئ نوپه جواب کښې يې اوونیل نحن المومنون حقا ، یعني مونږ یقیني او پاخه مومنان یو مونږ لاجوابه شو اوراته نه معلومیده چه دوئ ته څه اووایو لیکن کله چه زمونږ ملاقات دابن مسعود رضي الله عنه سره اوشو نو مونږ ورته دا واقعه بیان کړه نوزمونږ نه يې تپوس اوکړو چه تاسو ورته څه جواب ورکړو مونږ اوونیل مونږ ورته هیڅ جواب نشو ورکولي نو وې فرمائیل تاسو ورنه تپوس ولي نه کولو چه ایاتاسو یقیني جنتیان يئ حق مومنین خو یقیني جنتیان وي.

دثوري بیان دي څوك چه دعوه کوي چه زه قطعا مومن یم یا داسي اووائي چه زه دالله په نظر کښې مومن یم او بیا دځپل خان دجنتي کیدو شهادت ورنکړي نو دده ایمان به په نیم ایت وي او څوك چه د انا مؤمن ان شاء الله دونیلو دجواز قائل دي نو هغوئ دسفیان ثوري ددي قول نه استدلال کوي او وائي چه دان شاء الله ونیلو نه مراد دا دي چه دحسن خاتمه یقین نشته او خاتمه په خیر کیدل موجب دجنت دي دهغوئ دا مطلب نه دي چه په موجوده ایمان کښې زمونږ شك دي ځکه چه ایمان نوم دي دپخي او قطعي عقیدي او پدي کښې خو شك نشي کیدي. دامام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد انا مؤمن انشاء الله ونیل مکروه دي ځکه چه پدي سره په ایمان کښې دشك وهم پیدا کیږي بلکه دانا مؤمن نه پس دانشاء الله ونیلو په ځاي حقا ونیل صحیح دي یعني د نحن المؤمنون حقا ونیلو دا مطلب نه دي چه ماته دځپلي خاتمي په خیر باندي کیدل یقیني معلوم دي بلکه مراد دادي چه په دي وخت کښې زه قطعي مومن یم او زما ایمان دشك اوشبهي نه پاك دي ګویا کښې په اولني قول کښې اودامام صاحب په قول کښې صرف لفظي نزاع ده معنوي اختلاف نشته اوزیات احتیاط دامام صاحب په قول کښې دي (چه داسي لفظ استعمالول هم مکروه دي دکوم نه چه دعدم ایمان وهم پیدا کیږي).

امام ابو حنيفه دقتاده نه تپوس اوکړو چه ایا ته خپل ایمان دانشاء الله سره مشروط کوي؟ قتاده اوونیل دابراهیم علیه السلام ددي قول په تقلید کښي، ابراهیم علیه السلام فرمائیلي وو "وَالَّذِي أَطْمَعُ أَنْ يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ" پدي کښي طمعه لفظ راغلي دي کوم چه په عدم یقین دلالت کوي، امام ابو حنیفه اوفرمائیل تاد ابراهیم علیه السلام ددي قول تقلید ولي نه کولو کله چه ورته الله تعالي اوفرمائیل "اولم تؤمن" ایاتا ایمان نه دي راوړي نو ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل بلي ولکن لیطمئن قلبي (یعني ایمان مي ولي نه دي راوړي لیکن زه داطمینان قلبي دپاره مشاهده کول غواړم) دابراهیم تیمي مقوله ده چه نحن المؤمنون حق وائي کچري ستا داقول ربنتوني وي نوثواب به درکړي شي اوکچري غلط وي (اوپه واقع کښي ته مومن نه یي) نو بیا ستا کفر ددي قول نه دزیات شدید عذاب موجب دي. (روضة الصالحین)

د توکل متعلق ارشاد نبوي دی: "هذه امتك ومعهم سبعون الفا يدخلون الجنة" یعني دا ستا امت دی په دي کښي اویا زره داسي کسان دي چه جنت ته به بغیر دکساب او کتاب نه داخل شي.

دویم مطلب دادی چه ستا په امت کښي به داویا زرو نه علاوه نور کسان هم وي چه جنت ته به بغیر دحساب او کتاب نه داخلیږي لیکن اولنۍ معني زیاته بهتره ده ځکه چه په یو بل روایت سره هم ددي تائید کیږي چه الفاظ یي دادي "هذه امتك يدخلون الجنة من هولاء سبعون الفا"

لیکن داویا زرو نه مراد تکثیر دی یعني ډیر زیات به زما په امت کښي داسي کسان وي

"لايرقون ولايسترقون" یعني نه به په چا باندي دمونه اچوي او نه به خان په چا باندي دموي ددینه مراد دم تعویذ دی کوم چه دقراني کلماتو او ماثوره دعاګانو او اسماء الهیه نه بغیر وي.

شیخ عبدالحق دهلوي فرمائیلي دي زیاته صحیح خبره داده چه ددي دم تعویذ نه دجاهلیت دزماني دم تعویذ مراد دی چه دقران او سنت دتعلیماتوسره یي هیڅ واسطه نشته او ددي په وجه به هغوئ په شرك کښي مبتلا کیدل.

"ولايتطيرون" او نه به بدفالي نیسي رسول الله صلي لله علیه وسلم به نیك فال خوښولو، دجاهلیت په زمانه کښي دا رواج وو چه کله به چا کوم کار کول غوښتل یابه یي په سفر دتلو اراده وه نو کومه مرغۍ به یي والوزوله نو که هغه به دالوتونه پس په ښي طرف لاړه نو دا کار اوسفر به یي بختور ګڼړلو او که په ګس طرف به لاړه نو منحوس اوسپیره به یي ګڼړلو.

"ثم قام رجل اخر فقال ادع الله ان يجعلني منهم فقال سبقك بها عكاشة"يعني بيايو بل كس اودريدو او عرض يې اوكړو چه اې دالله رسوله زما دپاره هم دعا اوغواړه چه الله تعالي مي په هغه كسانو كښې شامل كړي رسول الله اوفرمائيل اوس درنه عكاشه مخكښې شوې دی

ددي سوال نه محدثينو متعدد جوابونه كړي دي اولني جواب دادی چه دالله تعالي دطرف نه صرف ديو كس په باره كښې د دعا كولو اجازت وركړی شوی دی او رسول الله په دغه وخت كښې دعكاشه په حق كښې دعا كړي وه او په دي وجه دبل كس دپاره گنجائش نه وو پاتي شوی دويم جواب دا دی چه دغه كس دباطني حيثيت او حالت په اعتبار سره ددي مرتبي مستحق نه وو نو خكه رسول الله دهغه دپاره دعا اونه غوښتله. دريم جواب دادی چه دا كس په اصل كښې منافق وو او رسول الله ته ددي خبري علم وو مگر دشريفانه اخلاقو په بنا يې يو مجمل جواب وركړو چه تا تاخير كړی دی او بل كس درنه مخكښې كيدل اوكړل

څلورم جواب دادی چه دعكاشه په حق كښې دوحي خفيفه ذريعه معلومه شوي وه نوپه دي وجه رسول الله صرف دعكاشه په حق كښې دعا اوغوښتله او دا اخري جواب زيات صحيح دی كه چه په يو روايت كښې راغلي دي چه دا دويم كس سعد بن عباده رضي الله عنه وو كوم چه دمشهورو صحابه كرامو دجملي نه دی.

****

٢٣٤٤ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ هُبَيْرَةَ، عَنْ أَبِي تَمِيمٍ الْجَيْشَانِيِّ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَوَكَّلُونَ عَلَى اللَّهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ، لَرُزِقْتُمْ كَمَا تُرْزَقُ الطَّيْرُ تَغْدُو خِمَاصًا وَتَرُوحُ بِطَانًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو تَمِيمٍ الْجَيْشَانِيُّ اسْمُهُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَالِكٍ. (1)

ترجمه : دعمر رضي الله عنه نه روايت دی چي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يي كه تاسو په الله تعالي توكل كولی څنگه چي دتوكل حق دی نو تاسو ته به يی هم داسي روزي دركولی لكه چي مرغانو ته به يی وركوي چي سحر اوږي دچالي نه اولوزي او ماښام ورته واپس ماړه راځي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او دا مونږ صرف په همدي سند پيژنو

1 _ سنن ابن ماجه/الزهد ١٣ (٤١٦٤) (تحفة الأشراف: ١٠٥٨٦) . و مسند احمد (٣٠،١/٥٢)

لغات تغدو غدوا دنصر نه په معني دتلو دي دسحر په وخت کې اود مطلق تلو اود صار په معني هم راخي

خماصا خمص خمصا دسمع نه په معني دخالي کيدو دخيتي دي

تروح الرواح مصدر دي يعني د مابنام په وخت کې خي، او اصباح يي مقابل دي.

بطانا البطن په معني دخيتي دي يعني دهر څيز اندروني حصه

تشريح: مطلب يې دادی چې مرغان دورځ په شروع کې تشي ججوري دجالي نه روان شي او مابنام ورته ډکې ججوري ماړه واپس شي (يعني مارغان خانته خوراکه ذخيره کوي نه، او هره ورځ الله تعالي رزق ورکوي او ورځ نه پاتي کيږي)

ددي حديث مفهوم دادی چې سعي او کوشش او کسب او عمل په حقيقت کې درزق سبب نه دی بلکه رزق ورکونکی الله تعالي دی ددي حديث دا مطلب نه دی چې انسان دي دخپل رزق ګټلو دپاره حرکت او عمل کول پريږدي څکه چې دتوکل او اعتماد تعلق دزړه سره دی کوم چې داعضاء دظاهري حرکت او عمل سره منافي نه دی په همدي وجه امام غزالي وائي که دچا داګمان وي چې توکل نوم دی دکسب او عمل پريخودو او دلاسو اوخپو اودرولو او دشل ګوډ دناستي په شان کيناستلو نو که دچا دا خيال وي نو خيال يي غلط دی

دامام قشيري قول دی چې دتوکل اصل مقام زړه دی اودمعاش دحصول دپاره معقول او مناسب طريقه باندي کوشش کول په الله تعالي باندي داعتماد کولو سره منافي نه دي لکه چې الله تعالي فرمائيلي دي "وکاين من دابة لاتحمل رزقها الله يرزقها واياکم" ملاعلي قاري يوه واقعه بيان کړي ده چې الله تعالي څنګه پرورش کوي تاسو اوګورئ کله چې د بنارو بچی داندي نه بهر کيږي نو بالکل سپين وي چې موريي کله اوويني نو بد ورته ښکاره شي او پخپل خاي يي پريږدي او ورنه روانه شي يادد ينه پس الله تعالي مچان او ميږي دي بچي ته راوليږي چې دابچی يي اوخوري اوبيادا هم تور شي ددينه پس يي چې کله خپله مور اوګوري نو واپس ورته راشي او پرورش يي شروع کړي.

****

٢٣٤٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " كَانَ أَخَوَانِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكَانَ أَحَدُهُمَا يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالآخَرُ يَحْتَرِفُ، فَشَكَا الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

فَقَالَ: لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: دانس رضي الله عنه نه روايت دى چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي دوه ورونه وو يو به د رسول الله صلي الله عليه وسلم په مجلس كي حاضريدو او بل به كار كسب كولو نو هغه كاروباري رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دخپل ورور شكايت اوكړو چي دى هيڅ كار كسب نه كوي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوويل شايد تاته رزق دده په بركت دركولى شي.

امام ترمذي وايي حسن صحيح دي

تخريج تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۸۲۹)

لغات ديحترف، معني ده يكتسب ويتسبب، يعني كار كسب كول او ظاهري اسباب اختيارول.

فشكا .شكا شكوي وشكاية دنصر نه په معني دشكايت كولو دي

لعل دحروف مشبه بالفعل دجملي نه دي اسم ته نصب وركوي او خبر ته رفع أود توقع معني لري . كله كله په حذف دلام سره عل هم راځي او ماكافه ورباندي هم داخليدي شي لكه لعلما معني داده شايد كيدي شي خو كله چي داد الله دطرفه وي نو معني يې واجب وي

تشريح: كان اخوان. يعني دوه رونړه وو ددوئ دواړو دنومونو په باره كي محدثين خاموش دي.

دتوكل لفظي معني ده په څه شي اعتماد او تكيه كول ليكن دشريعت په اصطلاح كي خالص الله باندي اعتماد او تكيه كولو ته توكل ويلى شي ليكن په الله توكل دى ته نشي ويلي چي ظاهري اسباب بالكل ترك كړي لكه څني جاهلان صوفيان چي وائي بلكه مطلب يې دادى چي ظاهري اسبابو اختياولو نه پس دا يقين ساتل چي كه دالله تعالي رضا وي، نو زمونږ دا ظاهري اسباب به برابر كړي، يعني په ظاهري اسبابو اعتماد نه كول. بلكه اصلي مؤثر او كاميابي وركوونكى الله تعالي ګڼړل (والله اعلم).

****

۳۴_بَابٌ مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

۲۳٤٦_حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَالِكٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ خِدَاشٍ الْبَغْدَادِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ،

1 سنن ابن ماجه/الزهد ۱۲ (۴۱۶۴) (تحفة الأشراف: ۱۰۵۸٦) ، ومسند احمد (۳۰۲/۱، ۵۲)

حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي شُمَيْلَةَ الأَنْصَارِيُّ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مِحْصَنٍ الْخَطْمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ، مُعَافًى فِي جَسَدِهِ، عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ، فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مَرْوَانَ بْنِ مُعَاوِيَةَ، وَحِيزَتْ: جُمِعَتْ. [1]

ترجمه عبدالله بن محسن انصاري رضي الله عنه راوي دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دچا دورځی شروع داسی حالت کي وي چي دځان څه خطره ورته نه وي . صحتمند وي او دټولی ورځی دضرورت خوراك ورسره موجود وي نو داسي شوه لکه چي ددنيا دپوره عيش او ژوند ټول نعمتونه هغه ته حاصل دي

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي او د مروان بن معاويه دسند نه علاوه موږ ته ددې بل سند معلوم نه دي او دحيزت لفظ معني جمع کيدل دي.

لغات "سربه" دسين زير سره مراد دهغه ځان دی او بعضي وائي چي دهغه خاندان او قوم تری مراد دی. سربه دهوسو اود مرغو سيل او يو تعداد وني او فراخي او زړه ته ونيلی شي، لکه فلان واسع سربه يعني فلاني فراخ زړه والادي جمع يي اسراب ده ، سرب دنصر نه سروبا الماء داوبو جاري کيدل، بهيدل، الابل داوښانو دڅريدو ځاي ته تلل.

تشريح: "من اصبح منکم امنا في سربه" يعني چي په تاسو کي څوك په داسي حال کي صبا کړي چي په امن کي وي، مطلب دادی چي دکوم دشمن نه دضرر رسيدو خطره ورته نه وي بعضو علماؤ ددي دا مطلب بيان کړی دی چي د بدو مجلسونو او لغزشونواو الله ته په توبي ويستلو کي ورته دکوم افت خطره نه وي

"سربه" په معني دلاري دی او زړه ته هم ونيلی شي دلته دواړه معني مراد کيدی شي مطلب دادی که سړی په داسي حال کي صبا کړي چي دمذکوره څيزونونه ورته خطره نه وي ليکن بعضو ونيلي دي چي سرب دلته په معني د سوري دی، دسين او راء دواړو په زور سره، مطلب به دا وي چي صبا کي په داسي حال کي چي دخپل کور دسوړو نه چي په هغي کي حشرات وي لکه مار . لړم وغيره دهغي نه په امن کي وي ، دحديث خلاصه داده چي څوك په صحت او امن کي او په داسي حال کي چي رزق ورته موېسر وي صبا کي نو ايا دا داسي نه ده لکه چي دده ته ټوله دنيا ورکړی شوي وي؟ او که امن او صحت نه وي نو بيا خو دټولي دنيا خزاني دده دپاره فائده نه ورکوي ځکه چي دولت خو نه ده ته امن ورکولی شي او نه صحت.

[1] سنن ابن ماجه/الزهد ۹ (۴۱۴۱) (تحفة الأشراف : ۹۷۳۹)

دعبدالله بن محسن انصاري رضي الله عنه مناقب

نوم عبدالله دپلار نوم محسن دي داهل مدينه دجملي نه دي ، اکثرو علماؤ د رسول الله سره دده څه قدري اوسيدل ثابت کړي دي او بعضو ورنه انکار کړي دي، دده خوي سلمه اکثر دده نه نقل دروايت کوي ، ابن عبد البر وايي بعضي علماو دده روايت مرسل ګڼړلي دي

****

حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل. حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ نَحْوَهُ. وفي الباب عن أَبِي الدَّرْدَاءِ. (١)

ترجمه حميدي دمروان بن معاويه په سند دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي او په دي باب کي دابو الدرداء رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

****

٣٥_باب مَا جَاءَ فِي الْكَفَافِ وَالصَّبْرِ عَلَيْهِ

په کفاف(مايکفي) رزق باندي دصبر کولو دفضيلت بيان

٢٣٤٧_أَخْبَرَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زَحْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ الْقَاسِمِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ أَغْبَطَ أَوْلِيَائِي عِنْدِي لَمُؤْمِنٌ خَفِيفُ الْحَاذِ ذُو حَظٍّ مِنَ الصَّلَاةِ أَحْسَنَ عِبَادَةَ رَبِّهِ وَأَطَاعَهُ فِي السِّرِّ وَكَانَ غَامِضًا فِي النَّاسِ لَا يُشَارُ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ وَكَانَ رِزْقُهُ كَفَافًا فَصَبَرَ عَلَى ذَلِكَ ثُمَّ نَفَضَ بِيَدِهِ، فَقَالَ: عُجِّلَتْ مَنِيَّتُهُ قَلَّتْ بَوَاكِيهِ قَلَّ تُرَاثُهُ". (٢)

ترجمه دابوامامه رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما په دوستانو کي زما په نزد دټولو نه زيات درشك لائق هغه مومن دي څوك چي دمال او اولاد په لحاظ کم تر وي او په مونځ کي ورته راحت ملاويږي او دخپل رب عبادت په ښه شان او خوند سره کونکي وي او دخلوت وخت کي هم دخپل رب مطيع او فرمانبردار وي او دخلقو په مينځ کي دګمنامۍ زندګي تيروي چي په ګوتو ورته اشاري نه کيږي او رزق يې هم کفاف وي او دي بيا هم په دي باندي صابر وي بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل لاس په زمکه رابنګلو او

---

1 سنن ابن ماجه/الزهد٩ (٤١٢١) (تحفة الأشراف ٩٤٣٩)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٩٠٩)

ويي فرمانيل داسې كس ته دې زر مرګ راشي تردې چې په دې باندې ژړيدونكې كمې نې او دده ميراث كم وي

****

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " عَرَضَ عَلَيَّ رَبِّي لِيَجْعَلَ لِي بَطْحَاءَ مَكَّةَ ذَهَبًا، قُلْتُ: لَا يَا رَبِّ وَلَكِنْ أَشْبَعُ يَوْمًا وَأَجُوعُ يَوْمًا. أَوْ قَالَ ثَلَاثًا أَوْ نَحْوَ هَذَا. فَإِذَا جُعْتُ تَضَرَّعْتُ إِلَيْكَ وَذَكَرْتُكَ. وَإِذَا شَبِعْتُ شَكَرْتُكَ وَحَمِدْتُكَ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وفي الباب عن فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ. وَالْقَاسِمُ هَذَا هُوَ: ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَيُكْنَى: أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ. وَيُقَالُ أَيْضًا: يُكْنَى أَبَا عَبْدِ الْمَلِكِ. وَهُوَ مَوْلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ مُعَاوِيَةَ. وَهُوَ شَامِيٌّ ثِقَةٌ. وَعَلِيُّ بْنُ يَزِيدَ ضَعِيفُ الْحَدِيثِ. وَيُكْنَى أَبَا عَبْدِ الْمَلِكِ. (١)

ترجمه او په دې سند هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي فرمائيل يې چه زما پروردګار ماته دا پيشكش اوكړو چې دمكې ميداني علاقې نه زما دپاره سره زر جوړ كړي ما عرض اوكړو اي زما پروردګاره ددې څيز خواهش مې نشته بلكه زما دا خواهش دې چې يوه ورځ په مړه تيروم او بله ورځ اوږې ګرځم (دراوي شك دې يا شايد دا الفاظ يې اووئيل) د دريو ورځو په باره كې رسول الله داسې اووئيل او يا يې ددې پشان نور الفاظ اووئيل او بيا يې اوفرمائيل كله چې زه اوږې يم نو ستا په دربار كې به ژړا او زاري كوم او ستا ذكر به كوم او چې كله موړ يم نو ستا شكر به اداء كوم او ستا حمد به بيانوم

امام ترمذي وايي داحديث حسن دې او په دې باب كې دفضاله بن عبيد نه هم روايت وارد دې او قاسم د عبدالرحمن خوي دې او دده كنيه ابوعبدالرحمن ده او دا هم وئيلې شوي دي چې دده كنيه ابوعبدالملك ده او دې د عبدالرحمن بن خالد بن يزيد بن معاويه ازاد كړې غلام دې او دشام اوسيدونكې او ثقه راوي دې او علي بن يزيد په باب دحديث كې ضعيف دې او ابوعبدالملك دده اسم كنيه ده.

****

٢٣٤٨_حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ شُرَحْبِيلَ بْنِ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ وَكَانَ رِزْقُهُ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللَّهُ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

١ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ٤٩٠٩)

صَحِيحٌ. (¹)

ترجمه عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څومره ډير خوش قسمته دی هغه څوك چي اسلام يی راوړو او په قدر دضرورت ورته رزق ملاؤ شو او كوم څه چي ورته ملاؤ دي هغی باندي الله تعالي هغه صابر هم اوګرځولو

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

لغات : قنعه راضي كول قنع المرئة يعني ښځي پروني واچولو ، قنع قنعا وقنعانادسمع نه په معني دصبر كولو ، قنع قنوعا په معني دعاجزئ خودلو، الجبل . په غر ختل

تشريح: "قد افلح" په قران او حديث كي فلاح لفظ په كثرت سره راغلی دی صاحب دقاموس ليكلي دي فلح هغه سړي ته ونيلی شي چي هر مراد يي حاصل شي او دهر تكليف نه خلاص شي علماء وائي دا ډير جامع لفظ دی داسي كيدل خو دچا په اختيار كي نه دي اګر كه دی په دنيا كي بادشاه ولي نه وي ددي صفاتو والاچي په پورتني حديث كي بيانيږي نو دوی ته به فلاح كامل خو په جنت كي ملاويږي ليكن ددي سوری او عكس به دوی ته په دنيا كي هم ملاويږي

په پورتني حديث كي دري صفات بيانيږي اول چاته چي داسلام هدايت اوشي يعني الله تعالي يي سينه اسلام ته پرانيزي اوبيا ددي متعلق عمل اوكړي ، دويم "رزقه كفافا" او په قدر دكفايت رزق ورته وركړي چي دده ګذاره وربانديُ روانه شي ، دريم وقنع الله بما اتاه" او څه چي ورته الله وركړي دي په هغي ورته دقناعت توفيق هم وركړي او بيا چاته شكوي نه كوي ، په پورتني حديث كي داسلام دنعمت نه پس دقناعت تعليم وركړی شوی دی چي دا نعمت چاته حاصل شي نو بيا انسان داخرت دپاره ډير ښه تياری كولی شي

****

٢٣٤٩ـ حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ. أَخْبَرَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو هَانِئٍ الْخَوْلَانِيُّ، أَنَّ أَبَا عَلِيٍّ عَمْرَو بْنَ مَالِكٍ الْجَنْبِيَّ أَخْبَرَهُ، عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "طُوبَى لِمَنْ هُدِيَ إِلَى الْإِسْلَامِ وَكَانَ عَيْشُهُ كَفَافًا وَقَنَعَ".

---

¹ ـ صحيح مسلم /الزكاة ٤٣ (١٠٥٤) . سنن ابن ماجه/الزهد ٩ (٤١٣٨) (تحفة الأشراف : ٨٨٤٨) . و مسند احمد (٢/١٦٨).

قَالَ: وَأَبُو هَانِئٍ اسْمُهُ: حُمَيْدُ بْنُ هَانِئٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه دابومحمد فضاله بن عبيد انصاري رضي الله عنه نه روايت دى چي هغوي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلى دى ، چي خوش نصيبه دى هغه څوك چي داسلام راوړلو توفيق ورته ملاؤ شو او دضرورت په اندازه دژوند سامان ورته ملاؤ شو او قناعت ورته نصيب شو

امام ترمذي وايي دابوهاني نوم حميد بن هاني دي او دا حديث حسن صحيح دي

لغات: طوبي، كينه سعادت، خير، بهتري، طاب دضرب نه طيبا وتطيابا معني مزيدار ، خوګ ، بهترين

قنعه: معني راضي كول لكه قنعت المراة يعني ښځي خادر واغوستو. قنع قنعا وقنعانا دسمع نه په معني دصبر كولو دي په خپلي حصي باندي

تشريح: "طوبي" ددي لفظ دوه معني دي اوله معني داده چي دا دجنت نوم دى ياپه جنت كي ديوي وني نوم دى دويمه معني داده چي طوبي مبارك بادئ ته ونيلى شي او زيري وركولو ته هم ونيلى شي دلته دا دواړه معني مراد كيدى شي يعني هغه كس دزياتي مباركئ لائق دى چاته چي الله تعالي داسلام توفيق وركړى وي او په قدر دكفايت رزق يي وركړى وي او په دي رزق باندي ده ته قناعت نصيب شي او دا ګمان اوكړي چي دا هرڅه زمادپاره دالله تعالي دطرفه ليكلى شوي دي او بيا په دي باندي شكر ادا كړي

په يو بل روايت كي راځي ارشاد نبوي دى متقيان جوړ شئ او دټولو نه لوي عبادت ګذار جوړ شئ او دكم نه په كم مقدار قناعت كونكي جوړ شئ نوتاسو به دټولو نه لوي شكرګذا اوګرځئ په يو حديث كي راځي چي دقيامت په ورځ څوك غريب وي يا امير وي دا به داسي نه وي چي ددي خبري تمنا نه كوي چي كاش دنيا راته دضرورت په درجه كي ملاؤ شوي وى اودډينه زياته نه وى

د فضاله بن عبيد انصاري رضي الله عنه مناقب

نوم فضاله كنيه ابو محمد دپلار نوم عبيد بن نافذ او دمور نوم عقبه بنت محمد بن عقبه وو مديني ته دراتلونكو سره مسلمان شوى وو چي دغزوه بدر نه علاوه په تمامو غزواتو كي شريك شوى دى او په بيعة الرضوان كي هم شامل وو (الاصابه)

دوفات نبوي نه پس شام ته لاړو او هلته يي كور جوړ كړو مسند احمد

ابوالدرداء رضي الله عنه د دمشق قاضي وودوفات كيدو نه مخكي يي اوفرمائيل چي زمانه

---

١ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف ١١٠٣٣)

پس به فضاله بن عبيد قاضي مقرروئ خلق به ورته ډېر لري لري نه درسول الله داحاديثو داوريدلو دپاره راتلل يو سړى ورته ددي دپاره راغلى وو چي احاديث ورنه واوري هغه چي اوكتل چي ويخته يي ګډ وډ او په خپو بربنډ دى نو په تعجب سره يي تپوس اوكړو چي ته ددي ښار قاضي يي او حالت دي داذى فضاله رضي الله عنه اوفرمائيل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ داساني او ډول او سنګار خوښولو نه منع كړي يو او كله كله به يي راته په بربنډو خپو ډګرځيدو حكم كولو (مسند احمد)

وفات دهجرت په ۵۳ كال دامير معاويه په دور كې وفات شو او په دمشق ښار كې يي تراوسه پوري قبر موجود دى چي پنځوس روايات ورنه منقول دي چي دوه ددينه په مسلم كې دي.

****

٣٦_باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْفَقْرِ

دفقيرئ زندګئ فضيلت

٢٣٥٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ نَبْهَانَ بْنِ صَفْوَانَ الثَّقَفِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ أَسْلَمَ، حَدَّثَنَا شَدَّادٌ أَبُو طَلْحَةَ الرَّاسِبِيُّ، عَنْ أَبِي الْوَازِعِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَاللَّهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ. فَقَالَ: "انْظُرْ مَاذَا تَقُولُ؟" قَالَ: وَاللَّهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ، فَقَالَ: "انْظُرْ مَاذَا تَقُولُ؟" قَالَ: وَاللَّهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ. ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. فَقَالَ: "إِنْ كُنْتَ تُحِبُّنِي فَأَعِدَّ لِلْفَقْرِ تِجْفَافًا. فَإِنَّ الْفَقْرَ أَسْرَعُ إِلَى مَنْ يُحِبُّنِي مِنَ السَّيْلِ إِلَى مُنْتَهَاهُ". [1]

ترجمه عبدالله بن مغفل رضي الله عنه وائي چي يو سړي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوكړو يا رسول الله! زما تاسو سره محبت دى رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اوګوره. څه وائي؟ هغه اوونيل والله ځما تاسو سره محبت دى ، او دايى دري ځله اوونيل ، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه چرى ستا زما سره محبت وي نو فقراوفاقى ته تيار شه ځكه چي څوك زما سره محبت كوي هغى ته فقر اوفاقه دسيلاب دتيزئ نه هم زياتي چټي سره راځي

لغات "التجفاف" دتاء ، زير، دجيم جزم او فاء مكرر سره تلفظ دى دا هغه كپړى او دوړئ بسترى وغيره ته ونيلى شي چي په اس دى دپاره اچولى شي چي دګندګئ وغيره نه بچ پاتى شي چي هغى ته جهول هم ونيلى شي، بعضي داسى كپړه انسان هم اغوندي

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٦٢٤)

تشريح په دي حديث كې ددي خبري صراحت دی چي دچا كه درسول الله سره څومره محبت وي نو دومره به يي الله ددنيا نه بچ کوي خکه چي په مشاهدي سره ثابته ده چي بخل، حسد، كبر، كينه، ريا، تفاخر او قلبي مرضونه اكثر د مال په وجه پيدا کيږي او دچا په زړه کې چي مرض وي دهغه سره دالله او درسول مينه څرنګه پيدا کيدی شي همدا وجه ده چي په يو بل ارشاد نبوي كې راغلي دي الله تعالي چي دچا سره محبت کوي نو هغه ته ددنيا نه حفاظت وركوي لكه څرنګه چي تاسو خپل مريض داوبو نه بچ کوئ په يوبل روايت كې راغلي دي ابا په تاسو كې داسي څوك شته چي په اوبو كې روان وي او خپي يي لمدي نشي؟ صحابه كرامو عرض اوكړو ای دالله رسوله داسي خو هيڅوك نه وي رسول الله اوفرمائيل دا حال ددنيادارو دی چي دهغه دپاره ددنيا نه بچ كيدل مشكل دي.

****

حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ شَدَّادٍ أَبِي طَلْحَةَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو الْوَازِعِ الرَّاسِبِيُّ اسْمُهُ: جَابِرُ بْنُ عَمْرٍو وَهُوَ بَصْرِيٌّ. (1)

ترجمه: په مذكوره سند هم د ماقبل هم معني روايت د شداد بن ابي طلحه نه مروي دي.

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن غريب دي، اود ابو الوازع راسبي نوم جابر بن عمرو دي، اود بصري سره تعلق لري.

****

٣٧ـ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ

غريبانان مهاجرين به دمالدارانو نه مخكې جنت ته داخليږي،

٢٣٥١ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِخَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ ". وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

---

1 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٦٢٤)

2 سنن ابن ماجه/الزهد ٦ (٤١٢٣) (تحفة الأشراف: ٤٢٠٤)

ترجمه د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي غريبانان مهاجرين به دمالدارانو نه پنځه سوه کاله مخکي جنت ته داخليږي.
دا حديث امام ترمذي نقل کړی دی او ددي سند په بنياد يي حسن غريب ګڼلي دي، اوپه دي باب کي د ابو هريره، عبدالله بن عمرو، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي
لغات فقراء الفقر مفلس، محتاج مونث فقيرة راځي او جمع يي فقيرات راځي . فقر دضرب نه په معني دکنستلو دي الخزر معني ملغلري.
تشريح: دپدي حديث يدخلها الفقراء الجنة قبل الاغنياء خمسمائة عام . الفاظ دي او په يو بل روايت کي دا الفاظ دي يدخلون الجنة قبل اغنيائهم اربعين خريفا يعني فقيران به جنت ته دغنيانو نه څلويښت کاله مخکي داخل شي.
سوال فقيران به دغنيانو نه جنت ته څومره کلونه مخکي داخليږي ددي متعلق په روايتونو کي ظاهرا تعارض ښکاري چي څلويښت کاله مخکي او که پنځه سوه کاله؟
اول جواب: فقراء مهاجرين صحابه به دغنيانو نه جنت ته پنځه سوه کاله مخکي داخليږي او ددوی نه علاوه فقراء به څلويښت کاله مخکي داخليږي.
دويم جواب دبعضو په نزد دڅلويښت او پنځه سوه نه مراد عدد تحديد نه دی بلکه تکثير مراد دی يعني فقيران به دغنيانونه نه ډيره موده مخکي جنت ته داخليږي
دريم جواب لکه څرنګه چي په رسول الله وحي راغلي ده هم هغه شان يي بيان کړي ده په شروع کي ورباندي دڅلويښتو کالو وحي راغلي وه او بيا ورباندي دپنځه سوه کالو وحي نازله شوه
څلورم جواب هغه فقراء په کومو کي چي صبر او رضا غلط تقدير او شکر په کامله درجه موجود وي نو هغوی به پنځه سوه کاله مخکي داخليږي او په چا کي چي دا شيان کم وي هغه به څلويښت کاله مخکي داخليږي
ددي وروستني جواب تائيد دجامع الاصول يو حديث هم کوي په کوم کي چي وارد دي چي د دنيوي لذتونو نعمتونو خواهش لرونکي فقيران به د حرص ناکو غنيانو نه څلويښت کاله مخکي داخليږي او بي پرواه فقيران به پنځه سوه کاله مخکي داخليږي

****

٢٣٥٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ وَاصِلٍ الْكُوفِيُّ. حَدَّثَنَا ثَابِتُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْعَابِدُ الْكُوفِيُّ. حَدَّثَنَا الْحَارِثُ بْنُ النُّعْمَانِ اللَّيْثِيُّ، عَنْ أَنَسٍ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينًا وَأَمِتْنِي مِسْكِينًا وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِينِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». فَقَالَتْ عَائِشَةُ: لِمَ يَا رَسُولَ

اللهِ؟ قَالَ: "إِنَّهُمْ يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا، يَا عَائِشَةُ لَا تَرُدِّي المِسْكِينَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، يَا عَائِشَةُ أَحِبِّي المَسَاكِينَ وَقَرِّبِيهِمْ فَإِنَّ اللهَ يُقَرِّبُكِ يَوْمَ القِيَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه دانس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا دعا اوغوښتله " اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينًا وَأَمِتْنِي مِسْكِينًا وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ المَسَاكِينِ يَوْمَ القِيَامَةِ " يعني اي الله ما دفقيرۍ په حالت کي اوساتي او دفقيرۍ په حالت کي مي وفات کړي او دقيامت په ورځ مي دمسکينانو په ډله کي راپورته کړي، عائشه رضي الله عنها تپوس اوکړو اي دالله رسوله دا ولي رسول الله اوفرمائيل ځکه چي مسکينان به جنت ته دغنيانو نه څلويښت کاله مخکي داخليږي لهذا اي عائشي هيڅ يو مسکين د دروازي نه مه واپس کوه اګر که دکجوري يوه توکړه ولي نه وي اي عائشي دمسکينانو سره محبت کوه او خان ته يې نژدي ساته يقينا چي الله تعالي به تالره دقيامت په ورځ خان ته رانژدي کړي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي.

لغات: بشق: الشق دکهجوري نيم طرف يعني کناره.

تشريح: د صحيحينو په روايت کي داسي راځي "اتقوا النار ولو بشق تمرة" يعني ددوزخ داور نه خان بچ کړئ اګر که په نيمه کجوره ولي نه وي په دي حديث کي ترغيب دی چي انسان دي دخپل خان او جهنم په مينځ کي دصدقي په ذريعه پرده جوړه کړي، که چري زياته صدقه نشي ورکولی نو يوه کجوره دي ورکړي او که دا هم نشي کولی نو نيمه کجوره دي ورکړي "فمن لم يجد فبكلمة طيبة" يعني که څوک نيمه کجوره هم نشي ورکولی نو ښي خبري خو دي اوکړي او دخير خبري خو دي اوکړي په دي باندي هم انسان دجهنم نه بچ کيږي دا مضمون دقران کريم په يو ايت کي هم راغلی دی "قول معروف ومغفرة خير من صدقة يتبعها اذي".

مفسرينو او خاصکر قاضي ثناء الله پاني پتي ددي ايت مطلب داسي واضح کړی دی

قَوْلٌ مَعْرُوفٌ... (نيکه خبره کول اوپه نرمۍ سره سائل رخصتول) کلبي ونيلي دي ددينه مراد نيکه دعاء ده چه کوم مسلمان ئي دخپل مسلمان ورور دپاره ذهغه په غياب کښي اوغواړي ، ضحاك ونيلي دي دکورنۍ جګړي دختمولو متعلق دايت نزول اوشو (يعني قول معروف نه هغه خبره مراد ده کومه چه دمسلمانانو په مينځ دجګړي دختمولو دپاره وکړي شي).

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥١٩)

وَمَغْفِرَةٌ او معافي كول، يعني كوم سائل چه په اصرار كولو سره سوال كوي مناسب ده چه په مناسبو الفاظو سره رد كړي شي (اوسخت الفاظ استعمال نكړي شي)، بغوي ونيلي دي چه دسائل پرده پاش نه كړي اوده په محتاجي باندي پرده اچولي پريږدي (ګوياكښي دبغوي په نزد لغوي معني مراد نده كوم چه پتول دي معني مجازي چه پټول دي مراد دي)
بعضو ونيلي دي چه ددينه مراد په نرمو الفاظو سره دسائل رد كولومقصود دالله تعالي دطرف نه دثواب حصول دي دبعضو قول دادي چه دمغفرت نه مراد دسائل درد كونكي انكارنه معافي كول اودي لره معذور وګڼړي، دكلبي اوضحاك په نزد مراد دادي چه چا حق تلفي كړي وي هغه ته معافي وكړي شي

خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَتْبَعُهَا أَذًى .. نيكه خبره اومغفرت كول ددينه بهتردي په كوم پسي چه دوركونكي دطرف نه اخستونكي ته تكليف ورسيږي قول معروف ومغفرة مبتداء ده اوخير ددواړو خبردي ، قول نكره مخصوصه ده نوځكه مبتداء ګرځول ئي درست دي.

****

٢٣٥٣_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَدْخُلُ الْفُقَرَاءُ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ بِخَمْسِ مِائَةِ عَامٍ نِصْفِ يَوْمٍ"، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي غريبانان به دمالدارانو نه پنځه سوه كاله مخكي جنت ته داخليږي، او دا موده به د قيامت د نيمي ورځي سره برابر وي.
امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دى.

****

٢٣٥٤_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَدْخُلُ فُقَرَاءُ الْمُسْلِمِينَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِنِصْفِ يَوْمٍ وَهُوَ خَمْسُ مِائَةِ عَامٍ". وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

---

1 سنن ابن ماجه/الزهد ٦ (٤١٢٢) (تحفة الأشراف : ١٥٠٢٩)

2 انظر ماقبله (تحفة الأشراف : ١٥٠٣٩)

ترجمه د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي غريبانان مسلمانان به دمالدارانو مسلمانانونه نيمه ورځ مخکي جنت ته داخليږي او نيمه ورځ به د پنځه سوه کالو سره برابر وي
امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی

****

٢٣٥٥_حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ جَابِرٍ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يَدْخُلُ فُقَرَاءُ الْمُسْلِمِينَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مسلمان فقير به جنت ته دمالدارو نه څلوېښت کاله مخکي داخليږي
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن دی.

****

٣٨_باب مَا جَاءَ فِي مَعِيشَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلِهِ

د نبي كريم صلي الله عليه وسلم او دهغه دببيا نو معاشي ژندګي

٢٣٥٦_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ الْمُهَلَّبِيُّ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَدَعَتْ لِي بِطَعَامٍ، وَقَالَتْ: " مَا أَشْبَعُ مِنْ طَعَامٍ فَأَشَاءُ أَنْ أَبْكِيَ إِلَّا بَكَيْتُ، قَالَ: قُلْتُ: لِمَ؟ قَالَتْ: أَذْكُرُ الْحَالَ الَّتِي فَارَقَ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا وَاللَّهِ مَا شَبِعَ مِنْ خُبْزٍ وَلَحْمٍ مَرَّتَيْنِ فِي يَوْمٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه . دمسروق بيان دي دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها په خدمت كي حاضر شوم نو هغي زما دپاره خوراك راوغوښتلو او فرمائيل يي زه په هيڅ يو خوراك نه مړيږم او ژړيدل غواړم او بيا به ژړا شوه ما ورنه تپوس اوکړو دا ولي نو ام المؤمنين اووئيل ماته هغه حالت

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٥٠٣)

2 ـ تفرد به المؤلف، وانظر ما يأتي بعده (تحفة الأشراف : ١٧٦٢٤)

رایادیږي په کوم چي رسول الله صلي الله علیه وسلم وفات شوي دي په الله قسم رسول الله صلي الله علیه وسلم په غوښه او ډوډۍ په یوه ورځ کي دوه پیري کله هم نه دي موړ شوي
امام ترمذي وایي داحدیث حسن صحیح دي

دمسروق رضي الله عنه مناقب

نوم مسروق کنیه ابو عائشه دجاهلیت په زمانه کي یي دپلار نوم اجدع وو بیا په عبدالرحمان باندي تبدیل شو په یمن کي یي دهمدان خاندان سره تعلق لرلو دده داسلام راوړو په باره کي دومره معلومیږي چي دصدیق اکبر رضي الله عنه په باره کي مسلمان شوی وو دی پخپل واني زما په ابوبکر صدیق رضي الله عنه پسي مونځ کړی دی (طبقات ابن سعد).
کله چي دعمر فاروق په زمانه کي مدیني ته راغی نو دنوم په باره کي ورنه امیرالمومنین تپوس اوکړو نو ده ورته اووئیل مسروق بن اجدع عمر فاروق ورته اوفرمائیل داسي مه وایه نه مسروق بن عبدالرحمان شوي.
دشعبي قول دی چي د مسروق پشان دعلم زده کولو شوقي ما بل څوک چرته نه دی لیدلی عائشه رضي الله عنها به ده ته دخپل خوي درجه ورکوله او ورته به یي وئیل بچیه دهغي نه یي کافي علم حاصل کړی وو حافظ ذهبي وائي مسروق فقیه وو علامه نووي قول دی چي دده جلالت شان . توثیق، او فضیلت او امامت باندي دټولو علماؤ اتفاق دی ددي هر څه سره مسروق دالله تعالي نه یریدونکی هم ډیر وو او ښکلی عبادت به یي هم کولو توبه او استغفار کونکی وو او ددنیا نه اعراض کونکی وو او دالله تعالي په ذات ډیر اعتماد کونکی وو چي دهجرت په ۶۳ کال وفات شو.

****

۲۳۵۷_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ يُحَدِّثُ، عَنْ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " مَا شَبِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خُبْزِ شَعِيرٍ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وفي الباب عن أبي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه: ام المومنین عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائي چي د رسول الله صلي الله علیه وسلم تروفاته پوری دوه ورځی پرله پسی داسی نه دي تیری شوی چي دهغوی دکور خلقو پکي داوربشو روټۍ په مړه خیټه خوړلی وي.

---

[1] _ مسلم/الزهد۱(۲۹۷۰)، سنن ابن ماجه/الأطعمة ۴۹ (۳۳۴۶) (تحفة الأشراف : ۱۶۰۱۳)

امام ترمذي وايي: دا حديث په دي سند صحيح حسن دي او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي

لغات شبع شبعا دِسمع نه په معني دمړيدو دي

تشريح "يومين متتابعين" يعني دوه ورځي مسلسل نبي كريم صلي الله عليه وسلم او دهغه دكورنۍ دا معمول وو چي كه يوه ورځ خوراك به يي اوكړو نو دويمه ورځ به يي نهږه تيرولـه او دا شان زندګي تيرول دهغوی دپاره اختياري وو ورنه هغه ته دالله تعالي دطرفه دټولي دنيا دخزانو او دمكي دغرونو دسرو زرو كرځولو پيشكش شوی وو، ددي په مقابله كي رسول الله صلي الله عليه وسلم فقر او تنګدستي خوښه كړه او ويې فرمائيل زه خو دا غواړم چي يوه ورځ موړ يم او يوه ورځ نهر او هر وخت دالله تعالي شكر ادا كړم او كله چي نهر يم نو په هغه ورځ صبر اوكړم

حتي قبض. تردي پوري چي ددنيا نه رخصت شو بعضي خلقو خو دا وئيلي دي چي رسول الله په اخري زمانه كي غني شوی وو نو په پورتني حديث كي ددي ترديد هم اوشو چي دمرګه پوري يي وخت په ولږه او فقر كي تير كړی وو.

مګر دومره خبره ضرور ده چي دنبوت په اخري زمانه كي دفتوحاتو دسلسلي په وجه دغنميت مالونه دربار نبوت ته ډير راتلل ليكن دا خبره هم درواياتِ صحيحه نه ثابته ده چي دا مالونه به رسول الله په خلقو تقسيمول او ددينه به يي دخان سره هيڅ نه ساتل

رسول الله صلي الله عليه وسلم په فقيرانه زندګۍ كي دغريبانانو دپاره دتسلۍ ډير انتظام دی پدي كي د اميرانو دپاره هم سبق دی چي په خپلو حاجاتو به مسكينانو ته ترجيح وركوي

****

٢٣٥٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ كَيْسَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " مَا شَبِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلُهُ ثَلَاثًا تِبَاعًا مِنْ خُبْزِ الْبُرِّ حَتَّى فَارَقَ الدُّنْيَا ". هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

ترجمه ابو هريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم او د رسول الله كورنۍ دري ورځي پرله پسي دغنمو دوډۍ هيڅكله په مړه خيټه نه ده خوړلې ترڈي چي ددنيا نه رخصت شو.

١ ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأطعمة ٢٣ (٥٤١٣) نحوه) . صحيح مسلم /الزهد ١ (٢٩٧٦) . سنن ابن ماجه/الأطعمة ٤٨ (٣٣٤٣) (تحفة الأشراف : ١٣٤٣٠)

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي

****

٢٣٥٩_حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ. حَدَّثَنَا حَرِيزُ بْنُ عُثْمَانَ، عَنْ سُلَيْمِ بْنِ عَامِرٍ. قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ يَقُولُ: " مَا كَانَ يَفْضُلُ عَنْ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُبْزُ الشَّعِيرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَيَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ هَذَا كُوفِيٌّ، وَأَبُو بُكَيْرٍ وَالِدُ يَحْيَى رَوَى لَهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَيَحْيَى بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُكَيْرٍ مِصْرِيٌّ صَاحِبُ اللَّيْثِ. (1)

ترجمه دابو امامه بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم دكور دخلقو دضرورت نه دوربشو ډوډۍ چرته زياته شوي نه ده.

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، يحي بن ابي بكير كوفي دي او ابو بكير چي ديحي پلار دي دهغه نه سفيان ثوري نقل دروايت كړي دي، يحي بن عبدالله بن بكير مصري دي او دليث شاګرد دي.

****

٢٣٦٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ، حَدَّثَنَا ثَابِتُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يَبِيتُ اللَّيَالِي الْمُتَتَابِعَةَ طَاوِيًا وَأَهْلُهُ لَا يَجِدُونَ عَشَاءً وَكَانَ أَكْثَرُ خُبْزِهِمْ خُبْزَ الشَّعِيرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم او دهغوي كور والو به دماسخوتن خوراك نه ملاويدو په وجه څوڅو شپې لوږه تيروله او دهغوي خوراك به داوربشو ډوډۍ وه.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دى.

لغات طويا : طوي يطوي دضرب نه طيا الثوب دكپړي انغښتل ، الله عمره، مرګ وركول طوي دسمع نه طوي واطوي اوږي كيدل.

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٤٨٧٠) . وانظر مسند احمد (٥/٢٥٣)

2 سنن ابن ماجه/الأطعمة ٤٩ (٣٣٤٧) (تحفة الأشراف : ٦٢٣٣)

تشريح: "يبيت الليالي المتتابعة طاويا" يعني ډيري شپي رسول الله اوګی پاتي شوی دی دا درسول الله دزندګئ حال دی چي په ډيرو احاديثو کښ راغلی دی . او په يو دوه کښ نه بلکه په قول مولانا ذکريا په سلګونو احاديثو کښ بيان شوي دي
په شمائل ترمذي کښ دعائشه رضي الله عنها نه روايت دی فرمائيل يي چي زه کله په مړه خيټه خوراك اوکړم نو بيا ماله ژړا راځي چا ورته عرض اوکړو چي ددي څه وجه ده نو ويی فرمائيل ماته درسول الله صلي الله عليه وسلم زمانه رايادة شي چي دوفات کيدو پوري يي غوښه او ډوډئ دوه وخته مسلسل په مړه خيټه خوړلي نه وه
په يو بل روايت کښ راغلي دي يو ځل فاطمه رضي الله عنها يوه قطره ډوډئ رسول الله صلي الله عليه وسلم ته پيش کړه ورته يي اوفرمائيل څه دي راوړل هغي عرض اوکړو ای دالله رسوله ما نن ډوډئ پخه کړي وه او زړه مي نه غوښتل چي ستانه بغير مي خوړلي وی ، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په دريو ورځو کښ دښته دا اولنی څيز دی کوم چي ستادپلار خولي ته روان دی.

****

٢٣٦١_حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ. حَدَّثَنَا وَكِيعٌ. عَنِ الأَعْمَشِ. عَنْ عُمَارَةَ بْنِ الْقَعْقَاعِ. عَنْ أَبِي زُرْعَةَ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللَّهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه . ابوهريره رضي الله عنه راوي دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ای الله! د رسول الله (صلي الله عليه وسلم) کور والو ته په قدر دضرورت رزق ورکړی
امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی

لغات : اهل لغت وائي چي قوت هغه رزق ته وائي چي دلوږی طلب ختم کړي
رزق: معني روزي جمع يي ارزاق راځي، رزق حسن هغه وي چي بغير دمشقت نه حاصل شي، الرزقة جمع يي رزقات راځي

تشريح : "اللهم اجعل رزق ال محمد قوتا" يعني ای الله د محمد (ص) کورنئ ته په قدر دضرورت او کفايت رزق ورکړي، په يو بل روايت کښ راغلي دي "اللهم ارزق ال محمد قوتا".
دملا علي قاري په قول دال محمد نه مراد اولاد او اهل بيت دي او يا دامت رښتوني تابعداران

---

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ١٧ (٦٤٦٠) . صحيح مسلم /الزكاة ٤٣ (١٠٥٥) . والزهد ١ (١٠٥٥/١٨) . سنن ابن ماجه/الزهد ٩ (٤١٣٦) (تحفة الأشراف : ١٤٨٩٨) . ومسند احمد (٢/٢٣٢، ٤٤٦، ٤٨١)

دي مګر شيخ عبدالحق دهلوي وائي دال نه مراد دامت محمدي تمام متبعين دي او قوت درزق هغه مقدار ته وئيلی شي چي صرف زندګي وربانديي بچ پاتي کيدی شي او دبعضو په قول دقوت نه مراد دومره مقدار دی چي دسړي ساه وربانديي اوساتلی شي او ديته مجبوري جوړه نشي چي چاته لاس اونيسي

خلاصه داده چي دنيا په قدر دضرورت ساتل پکار دي دضرورت تعريف اشرف علي تهانوي داسي کړی دی ضرورت ديته وئيلی شي چي دهغه څيز دنشتوالي په وخت کې سړي ته نقصان رسيږي برابره خبره ده چي دنيوي نقصان وي او که اخروي. (مبارکپوري)

****

٢٣٦٢_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدَّخِرُ شَيْئًا لِغَدٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. (١)

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه هيڅ کله دراتلونکي سبا دپاره خان سره څه نه پريخودل.

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي او دا حديث عن جعفر بن سليمان عن ثابت عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره مرسل هم مروي دي.

****

٢٣٦٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: "مَا أَكَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خِوَانٍ، وَلَا أَكَلَ خُبْزًا مُرَقَّقًا حَتَّى مَاتَ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ. (٢)

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم کله هم په ميز باندي خوراک نه دي کړي او نه يي چرته دچانړشوو اوړو ډوډۍ خوړلي ده تردي چي ددنيا نه رخصت شو

امام ترمذي وايي: دا حديث دسعيد بن ابي عروبه په سند حسن صحيح غريب دي

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٧٣)

2 انظر حديث رقم ١٧٨٨ (تحفة الأشراف: ١١٧٤)

****

٢٣٦٤_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ الْحَنَفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، أَنَّهُ قِيلَ لَهُ: "أَكَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّقِيَّ" يَعْنِي الْحُوَّارَى، فَقَالَ سَهْلٌ: مَا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّقِيَّ حَتَّى لَقِيَ اللَّهَ، فَقِيلَ لَهُ: هَلْ كَانَتْ لَكُمْ مَنَاخِلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: مَا كَانَتْ لَنَا مَنَاخِلُ، قِيلَ: فَكَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ بِالشَّعِيرِ؟ قَالَ: كُنَّا نَنْفُخُهُ فَيَطِيرُ مِنْهُ مَا طَارَ ثُمَّ نُثَرِّيهِ فَنَعْجِنُهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَاهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ.

(١)

ترجمه دسهل بن سعد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي چارانه تپوس اوکړو ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم کله دميده او چاڼ شوو اوړو ډوډئ خوړلي ده؟ سهل په جواب کي اوويل رسول الله صلي الله عليه وسلم دچاڼ شوو اوړو نه پخه شوي ډوډئ چرته ليدلي هم نه ده تردي پوري چي ددنيا نه رخصت شو بيا ورنه تپوس اوکړي شو چي ايا تاسو سره درسول الله په زمانه کي غلبيلونه موجود وو؟ نو ويي فرمائيل هغه وخت زمونږ سره غلبيلونه موجود نه وو بيا ورنه تپوس اوکړي شو چي تاسو به اوړه څنګه پاکول؟ نو ويي فرمائيل مونږ به ورته پوکي اوکړو چي کوم بوس به پکي وو هغه به ورنه والوتل او بيا به مو په اوبو خوشته کړل او اخکل به مو امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي دا حديث مالك بن انس هم دابوحازم نه نقل کړي دي.

تشريح د پورتني حديث تائيد لاتديني ارشادات الهيه هم کوي

قَالَ اللهُ تعالى: ﴿ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ﴾ [الحشر: ٩].

يعني مقدم کوي نورو لره په خپلو خانونو اګرکه دوئ پخپله په تکليف او تنګسيا کښي وي په پورتني ايت کښي دمديني دانصارو يو خاص وصف بيان شوی دی . ددوئ عادت دا وو چه دنورو خواهش او حاجت به يي پخپل خواهش او حاجت مقدم کولو اګر چه دوئ ته به ډير ضرورت وو

---

١ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأطعمة ٢٢ (٥٤١٣) (وانظر أيضا ٥٤١٠). سنن ابن ماجه/الأطعمة ٤٢ (٣٣٣٥) (تحفة الأشراف ٤٧٠٣)، و مسند احمد (٥،٣٣٢)

مفسرينو ددي ايت مختلف شان نزول بيان کړی دی ليکن څه اختلاف پکښي نشته. دا څکه لکه څرنګه چه کومه واقعه ددي ايت دنزول مصداق ګرځيدی شي دهغي نه دلته دوه درج کيږي
دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی چه په صحابه کرامو کښي يو کس ته چا دچيلۍ سر په تحفه کښي ورکړو نو هغه دا خيال اوکړو چه زمونږ فلانی ورور او دهغه اهل او عيال زمونږ نه زيات محتاج دي نو دا سر يي هغوئ ته اوليږلو او په دي شان سره دويم کس دريم ته اوليږلو او دريم څلورم ته غرض دا چه دا سر په دي شان سره په اوه کورونو اوګرځيدو او په ټولو دګرځيدو نه پس واپس اولني کور ته راغی نو په دي باره کښي دا ايت نازل شو
دويم: دحذيفه رضي الله عنه نه روايت دی چه زه په جنګ يرموك کښي دخپل تره خوي په لټولو پسي اووتلم او لږي اوبه مي دځان سره واخستلي ما خيال دا اوکړو که په هغه کښي ساه وي نو دا به ورباندي اوڅکم ليکن کله چه ورته زه وروړسيدم نو ساه پکښي باقي وه ما ورته اوونيل اوبه درکړم؟هغه په اشاري سره اوونيل چه هو ، نو ما فورا دهغه خواته ديو بل زخمي اواز واوريدو نو په دي وخت کښي زما ورور اوونيل چه اوبه ده ته ورکړه خو چه زه هغه ته وروړسيدم نو د دريم کس اواز مي واوريدو نو هغه اوبه دريم ته دورکولو دپاره اشاره اوکړه تردي چه داوه شهيدانو سره دا معامله اوشوه کله چه زه اوم ته ورسيدم نو هغه وفات شوی وو نو زه واپس خپل ورور ته راغلم او هغه هم وفات شوی وو ددي واقعي په باره کښي دا ايت نازل شوی دی ددينه علاوه تفسير قرطبي دلته متعدد واقعات ليکلي دي.
وقال تعالى: ﴿ وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِيناً وَيَتِيماً وَأَسِيراً ﴾ [الدهر : ٨].
اوركوي خوراك سره دمحبت ددوئ نه ددي سره، مسكين ته اويتيم ته اوقيدي ته؛
په دي ايتونو کښي دجنتيانو اوصاف بيانولی شي مفسرين وائي په دي ايت کښي علي په معني دمع دی مطلب دادی چه دا خلق په داسي حالت کښي هم غريبانو ته خوراك ورکوي په داسي حال کښي چه دوئ ورته پخپله محتاج دي.
په پورتني ايت کښي دري قسمه کسانو ته دخوراك ورکولو ذکر شوی دی مسکين او يتيم دواړه محتاج دي نو په دي وجه دوئ ته دخوراك ورکولو اجر اوثواب ظاهر دی او قيدي ته خوراك ورکول خو دبيت المال او حکومت ذمه واري وي نو څوك چه قيدي ته خوراك ورکوي هغه دبيت المال سره اعانت کوي نو په دي وجه قيدي که کافر هم وي هغه ته په خوراك ورکولو کښي اجر دی

د "يطعمون الطعام علي حبه" شان نزول

مجاهد او عطاء دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل کړی دی چه علي رضي الله عنه ديو يهودي سره مزدوري اوکړه او څه اوړه يي حاصل کړل چه دهغي په دري حصو کښي د دوو نه دوه ړوډئ پخي کړي او بيا دخوراك دپاره کښيناستو نو چه يو مسکين راغی سوال يي اوکړو نو دوئ ورته ټول خوراك ورکړو بيا يي پاتي شوي دريمه حصه پخه کړه نو يويتيم راغی او سوال يي اوکړو نو دوئ ورته ټول خوراك ورکړو په دريم خل چه کوم اوړه باقي پاتي شوي وو هغه يي پاخه کړه کله چه دخوراك دپاره تيار شول نو يو قيدي راغی او سوال يي اوکړو نو دا خوراك يي هغه ته ورکړو او دوئ اوږي پاتي شول نو په دي باره کښي دا ايت نازل شو ليکن بعضي نورو مفسرينو ددي ايت نور شان نزول بيان کړی دی .

عن عبد اللهِ بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما : أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ رسول الله ﷺ : أَيُّ الإسلامِ خَيْرٌ؟ قَالَ: ((تُطْعِمُ الطَّعَامَ ، وَتَقْرَأُ السَّلاَمَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ))متفقٌ عَلَيْهِ.

عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روايت کوي چه يو کس د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو چه داسلام کومی خوبيانی بهتری دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل، خلقو باندي خوراك خوروِل ، اشنا او نااشنا هر چا باندي سلام اچول

أخرجه : البخاري كتاب الايمان باب اطعام الطعام ومسلم في كتاب الايمان باب تفاضل الايمان الاسلام وفي اي اموره افضل . واحمد وابوداؤد والنسائي وابن ماجه وابن حبان.

الاسلام: اسلم يعني مطيع او فرمانبردار شو اواسلامي مذهب يي قبول کړو. العدو، دشمن پريخودل. امره الي الله، دده معامله الله ته سپارل ، سلم دسمع نه سلاما وسلامة من عيب وافة، دکوم عيب يا افت نه نجات موندل بري کيدل

رجلا: دابن حجر او علامه عيني قول دي چه درجلا نه څوك مراد دي دا معلوم نه دي ليکن بعضي علماؤ ددينه ابوذر رضي الله عنه مراد کړی دی.

اي الاسلام خير، يعني په اسلامي اعمالو کښي دټولو نه افضل عمل کوم يو دی

بهترين عمل کوم يو دی

سوال دصحابي سوال يو دی چه کوم يو عمل بهتر دی ليکن جواب درسول الله دطرفه مختلف دی افضل عمل خو صرف يو کيدل پکار دي

جواب جواب چه مختلف شوی دی دسائل دحالاتو دمختلف کيدو په وجه چه په سائل کښي دکوم څيز کمی محسوسيدو نو رسول الله دده دپاره هم هغه عمل افضل ګرځولی دی

دويم جواب دا اختلاف دزماني په اعتبار دی چه دجن په زمانه کښي جنګ کول او دفقر په

حالت کښي مال خرج کول هر يو پخپل وخت کښي افضل دی.

تطعم الطعام يعني چه اوکو ته خوراك ورکوي. صحابه کرامو په دي دومره حده پوري عمل کړی دی باوجود ددي چه دوی ته به دخوراك ضرورت وو او اهل او عيال به يي مجبور وو خو چه کله يي دا دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه واوريدل نو په دي وجه يي خان او اهل او عيال وږي پريخودل او خوراکونه يي نورو ته ورکړل نو په دي باره کښي دا قرآني ارشاد نازل شو

يوسيرون علي انفسهم ولوکان بهم خصاصة (الحشر)

****

٣٩ـ باب مَا جَاءَ فِي مَعِيشَةِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دصحابه کرامو دمعاشي زندګۍ بيان

٢٣٦٥ـ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُجَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ بَيَانٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ يَقُولُ: "إِنِّي لَأَوَّلُ رَجُلٍ أَهْرَاقَ دَمًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَإِنِّي لَأَوَّلُ رَجُلٍ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَقَدْ رَأَيْتُنِي أَغْزُو فِي الْعِصَابَةِ مِنْ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا نَأْكُلُ إِلَّا وَرَقَ الشَّجَرِ وَالْحُبْلَةِ حَتَّى إِنَّ أَحَدَنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ أَوِ الْبَعِيرُ وَأَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ يُعَزِّرُونِي فِي الدِّينِ لَقَدْ خِبْتُ إِذًا وَضَلَّ عَمَلِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ بَيَانٍ. (1)

ترجمه سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وائي چي خه په عربو کي هغه رومبی کس يم چاچي دالله پاك په لاره کي غشی وويشتلو او مونږ به د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په داسي حالت کي جهاد کولو چي دسمر او حبله دپاڼو نه بغير به راته هيڅ هم نه ملاويدل چي دهغی په وجه به زمونږ بعضو ملګرو دچيلۍ اود اوښ دپچو پشان اودس ماتی کولو چي پخپل مينځ کي به ملاؤ شوي نه وو، او د بني اسد قبيلي قبيلي خلقو به په ما باندي ددين په سلسله کي طعن ونيلو نو که زه ددي لائق شم نو د لويي محرومۍ ښکار به شم او اعمال به زما برباد شي امام ترمذي وايي دا حديث د بيان په سند حسن صحيح غريب دی

"الحبلة" په حاء باندي پيش، باء باندي جزم دی او "سمره" دواړه دخنګل مشهوری او معلومی ونی دي يعني کيکر

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ١٥(٣٨٢٨)، والأطعمة ٢٣(٥٤١٢)، والرقاق ١٧(٦٤٥٣)، صحيح مسلم /الزهد١(٢٩٦٦)، سنن ابن ماجه/المقدمة ١١(١٣١) (تحفة الأشراف: ٣٩١٣)، و مسند احمد (١٨٦،١٨١،١/١٧٤)

خلط موني كور غشي، دا هر هغه څيز وي چي دبل څيز سره يوځاي شوي وي

****

٢٣٦٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ، حَدَّثَنَا قَيْسٌ، قَالَ: سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: "إِنِّي أَوَّلُ رَجُلٍ مِنَ الْعَرَبِ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا لَنَا طَعَامٌ إِلَّا الْحُبْلَةَ وَهَذَا السَّمُرَ حَتَّى إِنَّ أَحَدَنَا لَيَضَعُ كَمَا تَضَعُ الشَّاةُ ثُمَّ أَصْبَحَتْ بَنُو أَسَدٍ يُعَزِّرُونِي فِي الدِّينِ لَقَدْ خِبْتُ إِذًا وَضَلَّ عَمَلِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وفي الباب عن عُتْبَةَ بْنِ غَزْوَانَ. (1)

ترجمه سعد بن مالك رضي الله عنه واني چي خه په عربو كې هغه ړومبى كس يم چاچي دالله پاك په لاره كې غشى وويشتلو او موږ به د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په داسي حالت كې جهاد كولو چي دسمره او حبله دپاڼو نه بغير به راته هيڅ هم نه ملاويدل چي دهغى په وجه به زموږ بعضو ملګرو دچيلۍ اود اوښ دپچو پشان اودس ماتى كولو چي پخپل مينځ كې به ملاو شوي نه وو، او د بني اسد قبيلي قبيلي خلقو به په ما باندي ددين په سلسله كې طعن وښيلو نو كه زه ددي لائق شم نو د لويي محرومۍ ښكار به شم او اعمال به زما برباد شي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دى او په دي باب كې د عتبه بن غزوان نه هم حديث وارد دي

****

٢٣٦٧_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ مُمَشَّقَانِ مِنْ كَتَّانٍ فَتَمَخَّطَ فِي أَحَدِهِمَا، ثُمَّ قَالَ: "بَخٍ بَخٍ يَتَمَخَّطُ أَبُو هُرَيْرَةَ فِي الْكَتَّانِ لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَإِنِّي لَأَخِرُّ فِيمَا بَيْنَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحُجْرَةِ عَائِشَةَ مِنَ الْجُوعِ مَغْشِيًّا عَلَيَّ فَيَجِيءُ الْجَائِي فَيَضَعُ رِجْلَهُ عَلَى عُنُقِي يَرَى أَنَّ بِيَ الْجُنُونَ وَمَا بِي جُنُونٌ وَمَا هُوَ إِلَّا الْجُوعُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

---

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ١٥(٣٨٢٨) ، والأطعمة ٢٣(٥٤١٢) ، والرقاق ١٧(٦٤٥٣) ، صحيح مسلم /الزهد ١(٢٩٦٦) سنن ابن ماجه /المقدمة ١١(١٣١) (تحفة الأشراف ٣٩١٣) ، و مسند احمد (١٧٤/١، ١٨١، ١٨٦)

2 اورده البخاري في الجامع الصحيح /الاعتصام ١٦(٧٣٢٤) (تحفة الأشراف : ١٤٤١٤)

ترجمه محمد بن سيرين وائي فرمائي چي مونږ دابوهريره رضي الله عنه سره موجود وو او هغه سرور رنګ والا دوه جامي اغوستلي وي او په يوه يي پوزه پاکه کړه او بيا يي اوونيل ډير ښه ابوهريره ډير ښه ته په دي جامو پوزه پاکوي يوه ورځ داسي وه کله چي زه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دمنبر او دعائشه رضي الله عنها دحجري په مينځ کي دولږي په وجه بيهوشه پريوتلي وم او تيريدونکو خلقو به دا ګمان کولو چي دا ليوني دي او زما په څټ يي خپه ايخودله او حال دادي چي زه ليوني نه وم دولږي په وجه زما دا حالت وو

****

۲۳٦٨ـ حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، أَخْبَرَنِي أَبُو هَانِئٍ الخَوْلَانِيُّ، أَنَّ أَبَا عَلِيٍّ عَمْرَو بْنَ مَالِكٍ الجَنْبِيَّ أَخْبَرَهُ، عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ إِذَا صَلَّى بِالنَّاسِ يَخِرُّ رِجَالٌ مِنْ قَامَتِهِمْ فِي الصَّلَاةِ مِنَ الخَصَاصَةِ وَهُمْ أَصْحَابُ الصُّفَّةِ، حَتَّى يَقُولَ الأَعْرَابُ: هَؤُلَاءِ مَجَانِينُ أَوْ مَجَانُونَ. فَإِذَا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ: "لَوْ تَعْلَمُونَ مَا لَكُمْ عِنْدَ اللهِ لَأَحْبَبْتُمْ أَنْ تَزْدَادُوا فَاقَةً وَحَاجَةً. قَالَ فَضَالَةُ: وَأَنَا يَوْمَئِذٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

ترجمه فضاله بن عبيد رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به کله خپلو اصحابو ته مونځ ورکولو نو دهغوي بعضي مقتديان به دسختۍ لوږی په وجه راپريوتل او دا اصحاب صفه وو ، باندچيانو به دوي ته ليوني ونيل چي کله به رسول الله صلي الله عليه وسلم فارغ شو نو دوي ته به متوجه شو او ارشاد به يی اوفرمائيلو چي دالله تعالي په نزد ستاسو کوم اجر او ثواب دی کچری تاسو ته هغه معلوم شو نو تاسو به دا خوښوه کړئ چي ستاسو په لوږه او غريبۍ کې نور هم زياتوالی اوشي،فضاله رضي الله عنه وايي زه هم په دغه ورځ د رسول الله سره موجود وم.

دا حديث امام ترمذي نقل کړی دی او حديث حسن صحيح يی ګڼلی دی

لغات : الخصاصة خص دسمع نه خصاصة وخصا وخصاصا محتاج کيدل مفلس کيدل فقير کيدل، تنګدست کيدل وغيره

"الخصاصة" معني ده فاقه او سخته لوږه

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٠٣٥)

تشريح: "هؤلاء مجانين" يعني دا ليوني دي او په دي حديث کې داصحاب صفه دحالت بيان دی چي په هغي باندي ځومره فقر او فاقه تيره شوي وه.
امام نووي داصحاب صفه په باره کې داسي ليکلي دي "اصحاب الصفة زهاد من الصحابة رضي الله عنهم وهم الفقراء الغرباء الذين كانوا يأوون الي مسجد النبي صلي الله عليه وسلم وكانت لهم في اخره صفة وهي مكان منقطع من المسجد مظلل يبيتون عليه ويأوون عليه . قال ابراهيم الحربي والقاضي عياض الخ(تهذيب الاسماء واللغات). يعني په اصحاب صفه باندي يو کمزوری شان سوری جوړ شوی وو او دوئ د بي سر او سامان صحابه کرامو يوه ډله وه چي دنيا ته يي هيڅ رغبت نه وو او درسول الله مسجد يي قيام ګاه ګرځولی وو بيا په اخره کې ددوئ دپاره يوه صفه جوړه شوه کومه چي دمسجد نه جدا وه او عارضي شان سوریورباندي جوړ کړی شوی وو چي په دي کې به يي دژوند شپي تيرولي ابراهيم حربي او قاضي عياض هم داسي وئيلي دي چي اصحاب صفه به کله کميدل او کله به ډيريدل دايي دسورة ال عمران دايت "للفقراء الذين احصروا في سبيل الله " دتفسير لاندي ليکلي دي، يعني چي کله به ډيريدل وجه يي دا وه چي نوي کسان به ورته راغلل او چي کله به کميدل نو دکميدو وجه داوه چي بعضي کسان به ورنه وفات شول، په يو بل روايت کې راغلي دي، ترجمه دالله تعالي په نزد ستاسو څه مقام ی که تاسو پوهه شوئ نو ددينه په زيات فقر او حاجت کي به مبتلا شئ فقر او فاقه يو ډير لوي نعمت دی خو په دي شرط چي څوك يي قدر اوکړي لکه چي په يو روايت کې راغلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم عائشه رضي الله عنها ته اوفرمائيل ای عائشي دمسکينانو سره محبت ساته او خاته يي رانزدي کوه نو په دي شان سره به الله تعالي تا خپل خان ته نزدي کړي په يو بل روايت کې راغلي دي چي فقراء به دقيامت په ورځ دمالدارانو نه پنځه سوه کاله مخکې جنت ته داخل شي.

****

٢٣٦٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل، حَدَّثَنَا آدَمُ بْنُ أَبِي إِيَاسٍ، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَاعَةٍ لَا يَخْرُجُ فِيهَا وَلَا يَلْقَاهُ فِيهَا أَحَدٌ، فَأَتَاهُ أَبُو بَكْرٍ، فَقَالَ: " مَا جَاءَ بِكَ يَا أَبَا بَكْرٍ؟ " فَقَالَ: خَرَجْتُ أَلْقَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْظُرُ فِي وَجْهِهِ وَالتَّسْلِيمَ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ جَاءَ عُمَرُ، فَقَالَ: " مَا جَاءَ بِكَ يَا عُمَرُ؟ " قَالَ: الْجُوعُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَأَنَا قَدْ وَجَدْتُ بَعْضَ ذَلِكَ فَانْطَلِقُوا إِلَى مَنْزِلِ أَبِي الْهَيْثَمِ بْنِ التَّيْهَانِ

الْأَنْصَارِيِّ". وَكَانَ رَجُلًا كَثِيرَ النَّخْلِ وَالشَّاءِ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ خَدَمٌ فَلَمْ يَجِدُوهُ. فَقَالُوا لِامْرَأَتِهِ: أَيْنَ صَاحِبُكِ ؟ فَقَالَتْ: انْطَلَقَ يَسْتَعْذِبُ لَنَا الْمَاءَ. فَلَمْ يَلْبَثُوا أَنْ جَاءَ أَبُو الْهَيْثَمِ بِقِرْبَةٍ يَزْعَبُهَا. فَوَضَعَهَا ثُمَّ جَاءَ يَلْتَزِمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُفَدِّيهِ بِأَبِيهِ وَأُمِّهِ. ثُمَّ انْطَلَقَ بِهِمْ إِلَى حَدِيقَتِهِ فَبَسَطَ لَهُمْ بِسَاطًا. ثُمَّ انْطَلَقَ إِلَى نَخْلَةٍ. فَجَاءَ بِقِنْوٍ فَوَضَعَهُ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفَلَا تَنَقَّيْتَ لَنَا مِنْ رُطَبِهِ". فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَرَدْتُ أَنْ تَخْتَارُوا. أَوْ قَالَ: تَخَيَّرُوا مِنْ رُطَبِهِ وَبُسْرِهِ فَأَكَلُوا وَشَرِبُوا مِنْ ذَلِكَ الْمَاءِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مِنَ النَّعِيمِ الَّذِي تُسْأَلُونَ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. ظِلٌّ بَارِدٌ. وَرُطَبٌ طَيِّبٌ. وَمَاءٌ بَارِدٌ". فَانْطَلَقَ أَبُو الْهَيْثَمِ لِيَصْنَعَ لَهُمْ طَعَامًا. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَذْبَحَنَّ ذَاتَ دَرٍّ". قَالَ: فَذَبَحَ لَهُمْ عَنَاقًا أَوْ جَدْيًا فَأَتَاهُمْ بِهَا. فَأَكَلُوا. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ لَكَ خَادِمٌ". قَالَ: لَا. قَالَ: "فَإِذَا أَتَانَا سَبْيٌ فَأْتِنَا". فَأُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَأْسَيْنِ لَيْسَ مَعَهُمَا ثَالِثٌ. فَأَتَاهُ أَبُو الْهَيْثَمِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اخْتَرْ مِنْهُمَا". فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ اخْتَرْ لِي. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ خُذْ هَذَا فَإِنِّي رَأَيْتُهُ يُصَلِّي وَاسْتَوْصِ بِهِ مَعْرُوفًا". فَانْطَلَقَ أَبُو الْهَيْثَمِ إِلَى امْرَأَتِهِ فَأَخْبَرَهَا بِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَتِ امْرَأَتُهُ: مَا أَنْتَ بِبَالِغٍ مَا قَالَ فِيهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا أَنْ تُعْتِقَهُ. قَالَ: فَهُوَ عَتِيقٌ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَبْعَثْ نَبِيًّا وَلَا خَلِيفَةً إِلَّا وَلَهُ بِطَانَتَانِ. بِطَانَةٌ تَأْمُرُهُ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَاهُ عَنِ الْمُنْكَرِ. وَبِطَانَةٌ لَا تَأْلُوهُ خَبَالًا. وَمَنْ يُوقَ بِطَانَةَ السُّوءِ فَقَدْ وُقِيَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دمعمول خلاف داسي وخت كي دكور نه اووتلو كوم وخت كي چي به عموما نور كله نه وتلو او نه به ورسره دغه وخت كي چا ملاقات كولو او بيا ورته ابوبكر رضي الله عنه راورسيدو او تپوس يي ورنه اوكړو اي ابوبكر څنگه راغلي؟ هغه عرض اوكړو اي دالله رسوله زه ددي دپاره راوتلي يم چي تاسره ملاقات اوكړم او ستا مخ مبارك اووينم او سلام درته پيش كړم، څه وخت پس عمر رضي الله عنه هم درسول الله په خدمت كي حاضر شو رسول الله ورنه تپوس اوكړو اي عمر څنگه راغلي نو دي وخت كي عمر دولږي نه شكايت اوكړو رسول الله اوفرمائيل زه هم وږي شوي يم او بيا

1 سنن ابي داود/ الأدب ١٢٣ (٥١٢٨)، سنن ابن ماجه/الأدب ٣٧ (٣٧٤٥)

دري واړه يوځاي شول او دابو الهيثم بن تيهان انصاري کور ته ورسيدل او دهغه دکجورو ديري زياتي وني او چيلۍ وي مګر کوم خادم ورسره نه وو دوئ چي ورغلل نو ابو الهيثم يي په کور کي اونه موندلو نو دابو الهيثم دښځي نه يي تپوس اوکړو خاوند دي چرته تلي دي؟ هغي په جواب کي اووئيل زمونږ دپاره خوږو اوبو راوړلو پسي تلي دي خبري جاري وي چي په دي دوران کي ابوالهيثم داوبو يو ډك مشك راورسولو مشك يي کيخودو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي غاړه ورکړه او ويي وئيل زما مور پلار دي ستا نه قربان شي او بيا يي ټول خپل باغ ته بوتلل بستره يي ورته اوغوړوله او دکجوري يوي وني ته ورغلو او دهغي نه يي دکجورو يو غونچك راوړو او درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي يي کيخودو رسول الله اوفرمائيل زمونږ دپاره به دي ددينه تازه کجوري چانړ کړي وي او راوړي به دي وي هغه عرض اوکړو اي دالله رسوله ما غوښتل چي تاسو ورنه پخپله چانړ اوکړئ. او که داسي يي اووئيل چي تاسو ښخو کجورو لره دخامو کجورو نه پخپله جدا کړئ او خوښي يي کړئ بهر حال ټولو کجوري اوخوړلي او دده راوړي اوبه يي اوڅکلي بيا ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په اختيار کي چي زما روح دي يقينا دا دهغه نعمتونو دي دکومو باره کي چي به دقيامت په ورځ سوال کيدي شي او هغه همدا نعمتونه دي: دباغ يخ سوري او بهترينې ښخي کجوري او يخي اوبه، بيا ابو الهيثم پاڅيدو تردي چي ددوئ دپاره خوراك تيار کړو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل پيو والا لنګه چيلۍ مه ذبح کوه چنانچي درسول الله دحکم مطابق ابو الهيثم دچيلۍ يوه ښځه بچۍ يا يو نر بچي ذبح کړو او دپخولو نه پس يي دوئ ته پيش کړو ټولو خوراك اوکړو او بيا يي دابوالهيثم نه تپوس اوکړو ايا تاسره څوك غلام شته؟ ابو الهيثم په نفي کي جواب ورکړو رسول الله اوفرمائيل کله چي مونږ ته قيديان راشي نو بيا مونږ سره مخامخ شه، بيا رسول الله ته دوه قيديان راغلل چي دريم ورسره نه وو او دغه وخت کي ابوالهيثم هم راغلو نو رسول الله ورته اوفرمائيل چي په دي دواړو کي يو دخان دپاره خوښ کړه ابوالهيثم اووئيل اي دالله رسوله ته يي پخپله زما دپاره خوښ کړه رسول الله اوفرمائيل يقينا چي دچا نه مشوره اوغوښتلي شي هغه امين وي لهذا ته دا غلام واخله (او يو غلام ته يي اشاره اوکړه) ځکه چي دا غلام مونږ په مونځ کولو ليدلي دي او ددي غلام سره ښه سلوك کوه، ابوالهيثم خپلي ښځي ته ورغلو او درسول الله صلي الله عليه وسلم دخبرو خبر يي ورته ورکړو د ابو الهيثم ښځي اووئيل غلام خو دي راوستلو مګر کيدي شي چي درسول الله وصيت پوره نکړي شي مګر دا چي دا غلام ازاد کړي نو په دي وجه ابوالهيثم هغه فورا ازاد کړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي هيڅ يو نبي يا هيڅ يو خليفه نه دي ليږلي مګر دهغه سره يي دوه رازدار ملګري هم ليږلي وي يو ورته دنيکئ حکم کوي او دبدئ نه يي منع کوي مګر دويم ملګري دده په خرابولو

كي كوم تقصير نه كوي پس څوك چي دبد ملګري نه بچ كړي شو ګويا كي هغه دلوي افت نه نجات اوموندلو
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح غريب دي

****

٢٣٧٠ـحَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ فَذَكَرَ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَحَدِيثُ شَيْبَانَ أَتَمُّ مِنْ حَدِيثِ أَبِي عَوَانَةَ، وَأَطْوَلُ، وَشَيْبَانُ ثِقَةٌ عِنْدَهُمْ صَاحِبُ كِتَابٍ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَيْضًا. (1)

ترجمه ابوسلمه عبدالرحمن نه مرسل روايت مروي دي چي يوه ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم او ابوبكر او عمر رضي الله عنهما دكور نه اووتل او بيا ددينه پس راوي دمذكوره حديث پشان حديث بيان كړو ليكن په دي كي دابوهريره ذكر نشته، دشيبان سابقه روايت دابوعوانه په سند ددي حديث نه زيات كامل اوطويل دي، شيبان دمحدثينو په نزد ثقه دي او صاحب كتاب دي، دابوهريره نه دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او داحديث دابن عباس نه هم مروي دي.

****

٢٣٧١ـحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا سَيَّارُ بْنُ حَاتِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي مَنْصُورٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي طَلْحَةَ، قَالَ: شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُوعَ وَرَفَعْنَا عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ حَجَرٍ " فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ حَجَرَيْنِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه دابوطلحه بيان دي مونږ دجنګ خندق په دورن كي دولږي شكايت اوكړو او دخپلي خيټي نه مو جامه پورته كړه چي يو يو كاڼړي وريوري تړلي شوي وو نو رسول الله هم دخپلي خيټي نه جامه پورته كړه مونږ چي اوكتل نو دوه كاڼړي وريوري تړلي شوي وو
امام ترمذي وايي داحديث غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو

1 سنن ابي داود/الأدب ١٣٢ (٥١٢٨). سنن ابن ماجه/الأدب ٣٧ (٣٧٤٥)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٧٧٣)

****

۲۳۷۲_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، يَقُولُ: أَلَسْتُمْ فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ ؟ "لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلأُ بِهِ بَطْنَهُ. قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (۱)

ترجمه سماك بن حرب وايي چي ما د نعمان بن بشير رضي الله عنه نه اوريدلي دي فرمانيل يي چي تاسو سره خو خوراك څښاك به په كافي مقدار موجود دی او ما ستاسو نبي محترم رسول الله صلي الله عليه وسلم (په داسی حال كې هم) ليدلی دی چي ردي كهجوری هم ورته دومره ملاؤ نه وی چي په مړه خيټه يی خوړلی وی.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی

لغات "الدقل" ردي كهجوري، د باد بان ډنده، دجسم كمزوري، ادقل النخل يعني د كهجورو نه يي ردي او ادني قسم جدا كړو.

تشريح: په "رائيت نبيكم صلي الله عليه وسلم" كې دوه احتمالات دي يو دادی چي نعمان بن بشير د رسول الله دوفات نه پس دصحابه كرامو په وړاندي وئيلي وي دويم قول دادی چي دادتابعينو مخاطب كول دي.

نبيكم، ستاسو نبي، مخاطبينو ته نسبت كول ددي دپاره وي چي په دوی كې غيرت راپيدا شي چي تاسو دكوم نبي امت يئ او دنوم په يادولو يي فخر كوئ دهغه نبي خو دا حال وو چي دخوراك دپاره ورته عمده كجوري هم نه ملاويدي يو خو تاسو يئ چي قسماقسم خوراكونه په يو وخت كې كوئ.

مايجد من الدقل مايملاء به طنه، يعني رسول الله ته دومره ردي كجوري هم نه ميسر كيدي چي خيټه ورباندي ډكه شوي وی، دا حديث ددي خبري دليل دی چي درسول الله په نظر كې ددنيا او ددنيا دڅيزونو څه اهميت او عزت نه وو هر يو څيز چي به ورته راغی نو په بل چا به يي خرچ كړو.

په دي حديث كې سبق دي چي رسول الله پخپله عملي زندګئ سره امت ته دا تعليم وركړی دی چي دعيش او عشرت والاژوند نه اجتناب اوكړي قناعت او توكل او ايثار والاوصف په ځان كې پيدا كړي او خپل حقيقي مقصد حيات په لاره كې سختياني او مشقت برداشت كړي الله تعالي دي اوكړي چي دا بيانات دامت په پوهه كې راشي

---

۱ _ صحيح مسلم/الزهد۱(۲۹۷۷) (تحفة الأشراف : ۱۱٦۲۱)

په دي کې دويمه خبره داده چي رسول الله دخپلي عملي زندګۍ په ذريعه خپل امت ته واضح ارشاد کړی دی چي ددنيوي عيش او عشرت نه ځان اوساتئ او دتوکل اوقناعت وصف ځان کې پيدا کړئ اودخپلي زندګۍ د اصلي مقصد په لاره کې دسختيانو اومشقتونو برداشت کولو تعليم ورکړئ الله دي دی امت ته پوهه ورکړي «روضة الصالحين»

****

قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى أَبُو عَوَانَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ نَحْوَ حَدِيثِ أَبِي الأَحْوَصِ، وَرَوَى شُعْبَةُ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنْ عُمَرَ. ([1])

ترجمه امام ترمذي وائي ابوعوانه او نورو ډيرو راويانو هم دا حديث دسماك بن حرب نه دابوالاحوص دحديث پشان روايت بيان کړي دي ، او شعبه دا حديث عن سماك بن حرب عن النعمان بن بشير عن عمر سند سره نقل کړي دي.

****

٤٠_باب مَا جَاءَ أَنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ

اصلي او حقيقي بې نيازي او استغناء دزړه استغناء ده

٢٣٧٣_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بُدَيْلِ بْنِ قُرَيْشٍ اليَامِيُّ الكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي حَصِينٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ الغِنَى عَنْ كَثْرَةِ العَرَضِ، وَلَكِنَّ الغِنَى غِنَى النَّفْسِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو حَصِينٍ اسْمُهُ: عُثْمَانُ بْنُ عَاصِمٍ الأَسَدِيُّ. ([2])

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مالداري دسازو سامان دکثرت نوم نه دي بلکه اصل مالداري دنفس مالداري ده

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي

لغات. العرض : اسباب ، سامان، جمع يې عروض راځي کله کله په معني دپيش کولو هم راځي لکه عرض المتاع للبيع سامان دخرڅون دپاره پيش شو

1 صحيح مسلم الزهد١(٢٩٧٤)(تحفة الأشراف : ١١٦٣١)

2 اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ١٥ (٦٤٤٦) . صحيح مسلم/الزكاة ٣٠ (١٠٥١) . سنن ابن ماجه/الزهد ٩ (٤١٣٧) (تحفة الأشراف : ١٢٨٣٥) . وحم(٢/٢٤٣، ٢٦١، ٣١٥، ٣٩٠، ٤٣٨، ٤٤٣، ٥٣٩، ٥٤٠)

تشريح په یو بل روایت کې ددي وضاحت راغلی دی ابوذر رضي الله عنه فرمائي چي یو ځل راته رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل ای ابوذر ایاستاداخیال دی چي دمال زیاتوالی غني ده؟ ماعرض اوکړو یقینا نو بیایي راته اوفرمائیل ایا ستا دا خیال دی چي دمال کموالی فقر وي؟ ماعرض اوکړو یقینا نوراته یې اوفرمائیل غني خوصرف دزړه غني وي او فقر هم صرف دزړه فقر وي، او دا خبره حقیقت دی چي که دسړي سره هر څومره مال وي خو چي زړه یې غني نه وي نو دی به په خرچ کولو کې بخل کوي هر وخت به ورسره دا خطره وي چي مال مي چرته په خرچ کولو ختم نشي په خلاف دهغه کس چي زړه یې غني وي دهغه په خرچ کولو کې دبخل نه کار نه اخلي او دمال جمع کولو څه غم نه کوي بلکه دهغه سره دالله درضا کولو فکر وي.

****

٤١_باب مَا جَاءَ فِي أَخْذِ الْمَالِ بحقه

په حلال او جائز طریقي دمال حاصلولو بیان

٢٣٧٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي الْوَلِيدِ، قَالَ: سَمِعْتُ خَوْلَةَ بِنْتَ قَيْسٍ، وَكَانَتْ تَحْتَ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، تَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ مَنْ أَصَابَهُ بِحَقِّهِ بُورِكَ لَهُ فِيهِ، وَرُبَّ مُتَخَوِّضٍ فِيمَا شَاءَتْ بِهِ نَفْسُهُ مِنْ مَالِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ لَيْسَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا النَّارُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو الْوَلِيدِ اسْمُهُ: عُبَيْدُ سَنُوطَا.[1]

ترجمه : دحمزه بن عبدالمطلب دښځي خوله بنت قیس رضي الله عنها بیان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله علیه وسلم دا فرمان اوریدلي دي چي مال یو شین او خوږ څیز دي چاچي دا په حلاله طریقه حاصل کړو دده دپاره به په دي ی برکت واچولي شي مګر ډیر خلق داسي دي کوم چي دالله اودرسول مال په حرامه اوناجائزه طریقه حاصلونکي دي ددوئ دپاره دجهنم اور تیار کړي شوي دي

امام ترمذي وایي داحدیث حسن صحیح دي. اود ابو الولید نوم عبید بن سنوطا دی.

لغات متخوض، تخوض تخوضا دتفعل نه اوبو ته کوزیدو ته وئیلي شي

تشریح : دا مضمون په متعددو احادیثو کې راغلي دي مثلا. ان الدنیا حلوة خضرة وان رجالا

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٨٢٩)

يتخوضون في مال الله بغير حق لهم النار يوم القيامة ، يعني دنيا شنه او تازه ده او ډير خلق دالله تعالي په مالونو کې په ناحقه دخپلي خوښي تصرف کوي ددوئ دپاره اور دي دقيامت په ورځ،

ددي تمامو روايتونو خلاصه داده چي کوم کسان په ناحقه دخلقو په مالونو کې تصرف کوي او دمصالح عامه په ځاي يي په مصالح خاصه کې استعمالوي نو دوئ دکبيره ګناه ارتکاب کوي، نو ځکه يي دوئ ته دجهنم دسزا وعيد بيان کړو.

دخوله بنت عامر انصاريه مناقب

نوم خوله کنيه ام محمد يا ام حبيبه دپلار نوم يي عامر وو او بعضي علماؤ قيس ليکلی دی دبعضي علماؤ قول دی چي عامر دقيس بن فهد لقب وو چي دخولاتيه قبيلي سره يي تعلق وو مرويات: علماء وائي چي دده نه صرف يو روايت منقول دي او بعضي وائي چي اته روايات ورنه منقول دي يو خو دا موجوده روايت دی چي په بخاري کې دی باقي روايتونه يي په نورو کتابونو کې راغلي دي اکثر ورنه نعمان بن ابي العياش نقل د روايت کوي.

****

٤٢_باب مِنْهُ

د درهم او دينار بندګي کونکي لعنتيان دي

٢٣٧٥_حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الصَّوَّافُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لُعِنَ عَبْدُ الدِّينَارِ لُعِنَ عَبْدُ الدِّرْهَمِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْضًا أَتَمَّ مِنْ هَذَا وَأَطْوَلَ.[1]

ترجمه : ابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول اللّٰه صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي د دينار بنده ملعون دي، او د درهم بنده ملعون دي

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي دا حديث ددي سند نه علاوه په سند د عن ابي صالح عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سره هم مروي دي او دا سند دسابقه سند نه زيات اكمل او طويل دي.

تشريح: د بخاري په روايت کي داسي دي ((تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ ، وَالدِّرْهَمِ ، وَالْقَطِيفَةِ ،

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٢٢٨)

وَالخَمِيصَةِ، إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطَ لَمْ يَرْضَ)) رواه البخاري.

د درهم او دينار عبادت کونکی اودقيمتي او اعلي کپړو والابنده برباد شو چي دا ورته ملاؤ شي نو په ګډا ګډا، خوشحاله ګرځي او که ورته ملاؤ نشي نوتندی يې تريو وي او، خفه وي

لغات: القطيفة يو خاص قسم څادر دي

الخميصة الخميص مونث دي دتورو کنارو والا جبي ته ونيلي شي ، جمع يې اخماص او خمُص راځي

تشريح : "تعيس عبدالدينار والدرهم والقطيفة والخصيفة " يعني هلاك دي شي دا دينار او درهم او شالونو والابنده . ددي دبنده او غلام کيدو مطلب دادی چي دالله داحکامو او ايتونو په مقابله کې هغوی ددنيا څيزونو ته ترجيح ورکوي او شپه او ورځ ددي په حاصلولو کې مصروف وي داسي ښکاري ګويا کې لکه دوی چي دالله بندګان نه دي او ددنيا بندګان دي.

دمسند احمد په يو روايت کې راغلي دي "لاباس بالغني لما اتقي الله عزوجل" دهغه ځا دپاره په مالدارۍ کې نقصان نشته ځوك چي دالله نه يريږي او په دي باره کې عزيز الحسن مجذوب يو شعر هم ونيلی دی

****

٤٣_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٣٧٦_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ. أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعْدِ بْنِ زُرَارَةَ، عَنِ ابْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ الأَنْصَارِيِّ، عَنْ أَبِيهِ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَيُرْوَى فِي هَذَا الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا يَصِحُّ إِسْنَادُهُ. (١)

ترجمه دکعب بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل يو دوه وږي ليوان چي د ګډو په رمه کي پريږدي نو دومره نقصان نشي رسولي څومره نقصان چي يو انسان ته دمال او عزت حرص ورسولي شي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي او هغه يي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کوي ليکن سند يي صحيح نه دي. 5/32

لغات. الشرف: لوړوالي او بزرګي، خانداني شرافت، جمع يي اشراف راځي يا لوړ کور، لوړه پوزه، شرف الجير، داوښ کوب ته وئيلي شي، شرف د کرم نه په دين کي لوړي مرتبي والا کيدلو ته وئيلي شي

تشريح په پورتني حديث کي دوه اهمي خبري دي يو دسند حديث او دويم مفهوم

دحديث په بعضي کتابونو کي ددي سند داسي دی عن کعب بن مالك عن ابيه قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم، ددي مطلب دادی چي دا روايت کعب بن مالك دخپل پلار نه او هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نقل کړی دی، ليکن په دي کي اشکال دادی چي دکعب بن مالك پلار داسلام دقبلولو سعادت نه وو قبول کړی نو بيا دی روايت څنګه کولی شي خو دلته صحيح سند داسي دی عن ابن کعب بن مالك عن ابيه کوم چي ترمذي وغيره ذکر کړی دی يعني ابن کعب دخپل پلار کعب بن مالك نه روايت نقل کوي او دا صحيح دی خکه چي کعب بن مالك دهغه دري صحابه کرامو نه دی څوك چي په غزوه تبوك کي دشرکت کولو نه پاتي شوي وو چي قصه يي په قران او حديث کي مشهوره ده.

دشرمخانو دګډو سره دشمني ضرب المثل ده په دي پورتني حديث کي کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ددنيا او ددنيا دمال تشبيه داوګو شرمخانو سره ورکړي ده او دسړي ددين تشبيه يي دګډو درمي سره ورکړي ده او داسي يي فرمائيلي دي دوه اوګي شرمخان چي قصدا دګډو په رمه کي پريخودی شي نو دوئ به دګډو دومره نقصان اونکړی شي لکه څومره چي دا دوه څيزونه دانسان دين لره بربادوي او دا خکه دچا په زړه کي چي دمال حرص وي نو دی ددي په حاصلولو کي دومره منهمك وي چي دی دحلال او دحرام دجائز او دناجائز پرواه هم نه ساتي او همدا دمال دمحبت اوګرخي ده دا ګمان وي مال چي څومره زما سره زيات وي نو دومره به خلقو ته عزتمند ښکارم ليکن که چري دا وهم نه وي نو بيا شرعا ممانعت نشته

دتهانوي رحمة الله عليه ملفوظات

لکه څرنګه چي اشرف علي تهانوي قول دی چي شرعا هغه حرص نه دی دکوم په مقتضا چي عمل نه وي، شرعي حرص هغه دی دکوم په سبب چي په دين باندي دنيا ته ترجيح ورکولی شي . چنانچي عمر فاروق رضي الله عنه ارشاد دی چي مونږ خو مال ته احتياج هم لرو او تبعا ددي په ملاويدو خوشحالي هم کوو ليکن ای الله ددي مال محبت زمونږ دپاره دخپلي رضا وصيله اوګرخي . ليکن يوه درجه مال مطلوب هم دی مثلا دمال سره دومره محبت دکوم په ذريعه چي

دمال حفاظت کیدی شي ځکه چې دمال ظاهر کول حرام دي.(دليل الفالحين، روضة الصالحين وغيره)

****

٤٤_باب مِنْهُ
ددنيا نه دبې رغبتۍ متعلق يو بل باب

٢٣٧٧_حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، أَخْبَرَنِي الْمَسْعُودِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: نَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حَصِيرٍ، فَقَامَ وَقَدْ أَثَّرَ فِي جَنْبِهِ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَوِ اتَّخَذْنَا لَكَ وِطَاءً، فَقَالَ: "مَا لِي وَمَا لِلدُّنْيَا مَا أَنَا فِي الدُّنْيَا إِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په يو پوزكي باندي پريوتو كله چې بيدار شو نو په اړخونو يې دپوزكي نشان جوړ شوي وو صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله كه اجازت وي مونږ به ستا دپاره يوه بستره جوړه كړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما ددنيا سره څه كار دي زما او ددنيا مثال داسې دي لكه په سورلۍ يو سور مسافر چې ديوي ونې لاندي سوري حاصلولو دپاره دمه اوكړي او بيا ورنه روان شو او ونه په همدي ځاي پريږدي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عمر، او ابن عباس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

لغات اثر اثر فيه اثرا يعني اثر پيدا كول ، يعني په كوم څيز باندي اثر انداز كيدل دا لفظ دمجردو نه علاوه دباب افعال او تفعيل وغيره نه هم مستعمل دي لكه چې دلته شوي دي

تشريح : "وقد اثر في جنبه" يعني درسول الله په ډډو يې نشانات جوړ كړي وو علماء وائي دي روايت ته په توجه كولو سره سړي ته ددنيا نه دبې رغبتۍ نقشه پيش كيږي چې رسول الله به ددنيوي څيزونو هيڅ احتمام نه كولو او نه به يې دراحت دپاره بستره خوښوله هر كله چې داسې ده نو ددينه علاوه نور تكلفات كول خو دهغه دپاره ډيره لري خبره ده

لو اتخذنا لك وطاء. يعني چې مونږ ستا دپاره يوه نرمه بستره تياره كړي وی. په بل روايت كې

1. سنن ابن ماجه/الزهد ٣ (٤١٠٩) (تحفة الأشراف: ٩٤٢٣)

داسي دي . لو امرتنا ان نبسط لك ونعمل ، ددينه معلوميږي چي درسول الله زهد او فقر دکومې مجبورئ په وجه نه وو بلکه اختياري وو ځکه چي درسول الله قرباني ورکونکو صحابه کرامو خو دهغه نه هر څه قربانول او دهري قربانئ دپاره حاضر اوسيدو ليکن رسول الله قصدا فقر خوښ کړی وو

"الا کرا کب استظل تحت شجرة ثم راح" مګر ديو مسافر پشان چي دارام کولو دپاره ديوي وني دڅوري لاندي کيني په دي جمله کې رسول الله ددنيا حيثيت بيانوي چي مسافر په تلو تلو کې ددمي دپاره دوني دڅوري لاندي کيني خو بيا هلته نه پاتي کيږي زر ورنه روانيږي نو تاسولره هم نه دي پکار چي ددنيا په لذت کې مونهمك شئ او خپل منزل مقصود پريږدئ

سوال دسورلئ ذکر دلته ولي شوي دي؟

جواب سرعت مشي: يعني که څوك په سورلئ وي او بيا دوني لاندي کيني او دمه اوکړي نو دپيدل تلونکي نه ډير کم حصاريږي، بعضي علماء وائي چي سورلئ په خصوصيت سره ځکه ذکر شوي ده چي کله دمسافر منزل لري وي نو بيا هغه دسفر په دوران کې دراحت او ارام خيال نه ساتي دده په ذهن کې صرف دا وي چي په څه ناڅه طريقي سره زه خپل سفر پوره کړم نو بعينه دا رنګي دنيا هم يوه مسافرګاه ده داخرت دمنزل دپاره دلته هم کوم څيز ته داسي التفات کول نه دي پکار کوم چي منزل مقصود ته په رسيدو کې رکاوټ جوړيدی شي.

****

٤٥_باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٣٧٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، وَأَبُو دَاوُدَ، قَالَا: حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ وَرْدَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ، فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بنده دخپل دوست په طريقه چليږي نوهرچاته کتل پکار دي چي دچا سره دوستي جوړوي امام ترمذي وايي دا حديث حسن غريب دي

لغات: يخالل خاله مخاللة وخلالا دوستي او ورور ولي کول ، الخليل خالص دوست ته وئيلي

---

[1] ابي داود/الأدب١٩(٤٨٣٣) (تحفة الأشراف: ١٣٦٢٥)، و مسند احمد (٢/٣٠٣، ٣٣٤)

شي
تشريح "الرجل علي دين خليله" يعني هر كس دخپل دوست په دين وي، دپورتني حديث مطلب دادی چي ددوستئ كولو نه مخكې اوگورئ څنگه چي هغه وي داسي به تاسو هم شئ څكه چي صحبت ضرور اثر لري
امام غزالي ليكلي دي كه څوك دچا سره دوستي كول غواړي نو په هغه كې دي پنځه خبري اولټوي ، اول دعقل مند دپاره دبي عقله په دوستئ كې هيڅ فائده نشته، دسفيان ثوري قول دی چي دكم عقل دشكل په ليدو كې هم گناه ده، دويم چي اخلاق يي ښه وي، دريم چي فاسق نه وي ددي وجه داده چي څوك دالله نه نه ويريږي نو هغه به دبل چاسره څه وفاداري اوكړي ، څلورم دا چي بدعتي نه وي څكه چي په دين كې ددوئ سره دتعلق ختمولو حكم راغلی دی دتعلق جوړولو نه دی راغلی ، پنځم داچي ددنيا حريص نه وي بهر حال په دي روايت كې دغلطو دوستانو سره دناستي نه منع راغلي ده وجه داده چي دهغوئ سره دناستي په وجه په مزه مزه هغه څيز په تا كې هم پيدا كيدی شي كوم چي په هغه كې موجود دی
بهرحال په پورتني حديث كې دغلطو دوستانو سره دناستي نه منع راغلي ده ددي په وجه به په تاكې په مزه مزه هغه څيزونه سرايت شروع كړي كوم چي په هغوئ كې دي، او بيا به ددوست طريقه اختار كړئ

****

٤٦ـ باب مَا جَاءَ مَثَلُ ابْنِ آدَمَ وَأَهْلِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ وَعَمَلِهِ

دبني ادم داهل او عيال او مال او عمل مثال

٢٣٧٩ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ هُوَ ابْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ الأَنْصَارِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلاَثٌ فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى وَاحِدٌ، يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ، فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ، وَيَبْقَى عَمَلُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)
ترجمه انس بن مالك رضي الله عنه بيان كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دمړي سره دري څيزونه خي يو اهل وعيال، دويم دهغه مال او دريم دهغه عمل دي كي

---

1. اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٤٢ (٦٥١٤)، صحيح مسلم /الزهد ١ (٢٩٦٠)، سنن النسائي/الجنائز ٥٢ (١٩٣٩) (تحفة الأشراف : ٩٥٠)، و مسند احمد (٣/١١٠)

دوه څيزونه اهل او مال خو (هغه ترقبره پورې اورسوي او) راواپس شي، صرف خپل اعمال ورسره پاتي وي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دي

لغات : يتبع. تبع دسمع نه په معني دورروسته ورپسې تلو دي، اود ورسره تلو په معني هم دي، اودتابعدار كيدو په معني هم دي، صفت يې تبع راځي او جمع يې اتباع راځي

يتبع الميت ثلاثة دري څيزونه دمړي سره ځي دده رشته داران ، مال، او عمل.

تشريح سوال مال خو دمړي سره قبر ته نه ځي.

جواب: دا جمله دعربو د دستور په اعتبار سره ده چې هلته به هغوئ دمړي سره دهغه مال هم قبر ته اوړلو. يبقي عمله، يعني صرف عمل به ورسره پاتي شي او باقي څيزونه به ورسره واپس راځي.

علامې قطب الدين وائي انسان چې كله ددې دنيا نه رخصت شي او داخرت اولنې منزل قبرته ورسيږي نو هلته هغه مرحله شروع كيږي چرته چې عزيزان او اقربا دوستان او مال پاتي كيږي او صرف اعمال ورسره باقي پاتي كيږي كوم چې ده په دنيا كې كړي وي شايد په همدي وجه ونيلى شوي دي چې القبر صندوق العمل ، يعني قبر داعمالو صندوق دى.

****

٤٧ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ كَثْرَةِ الأَكْلِ

د ډير خوراك كولو د كراهت بيان

٢٣٨٠ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ الْحِمْصِيُّ، وَحَبِيبُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ جَابِرٍ الطَّائِيِّ، عَنْ مِقْدَامِ بْنِ مَعْدِ يكَرِبَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ أُكُلَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ، فَإِنْ كَانَ لَا مَحَالَةَ، فَثُلُثٌ لِطَعَامِهِ وَثُلُثٌ لِشَرَابِهِ وَثُلُثٌ لِنَفَسِهِ". (1)

ترجمه مقدام بن معد يكرب رضي الله عنه وائي چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلى دى چې انسان دخيټې نه زيات هيڅ يو لوښي نه دى ډك كړى انسان دپاره خو يو څو نمړئ كافي دي چې دهغه ملا نيغه اوساتي، او كه چرې خيټه ډكول غواړي نو بيا هغه درې حصې كړئ، يوه حصه خوراك دپاره، يوه د اوبو دپاره او يوه ساه اخستلو دپاره،

1 سنن ابن ماجه/الأطعمة ٥٠ (٣٣٤٩) (تحفة الأشراف: ١١٥٧٥)، و مسند احمد (٤/١٣٢)

لغات "اكلات" يعني نمرئ وعاء الوعاءة معني لوښي

تشريح: "ماملاء ادمي وعاء شرا من بطن بحسب ابن ادم" يعني چا لاتراوسه پوري داسي يو لوښي نه دی ډك كړی كوم چي دخيتي نه غټ وي . ددي روايت دا مطلب دی چي دخيتي تشبيه يي دلوښي سره وركړي ده او بيا دا لوښی دخه شي نه ډك كړی شي نو همدارنگي خيته هم ده كومه چي دخوراك نه ډكولی شي او دكوم په وجه چي جسماني طاقت باقي پاتي كيږي خو كه دضرورت نه زياته ډكه كړی شي نو دده نه به خپل اصل مقصد فوت شي اوبيا به داسي نقصانونه پيدا شي كوم چي دين او دنيا ته نقصان رسوي په دي اعتبار سره خيتي ته دتولو نه بد لوښی ونيلی شوی دی.

طيبي هم په شرح دمشكاة كي ليكلي دي چي ددي حديث مطلب دادی چي دا واجب دي چي په ډكولو كي دحد نه تجاوز اونكړی شي او څوك چي دزيات مقدار خوړلو خواهش لري هغه دي ددينه زيات اونه خوري چي ديو ثلث نه زيات وي يوه حصه به دخوراك دپاره وي دويمه به داوبو دپاره وي او دريمه به دساه اخستلو دپاره وي

دامام غزالي قول دی څوك چي په دنيا كي دخوراك مقدار كم ساتي نو الله تعالي په هغه باندي په فرشتو كي فخر كوي او ورته وائي چي ده كومه لقمه دخپل رزق نه كمه كړي ده زه به ورته ددي په بدل كي دجنت درجي وركوم.

****

حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ نَحْوَهُ. وَقَالَ المِقْدَامُ بْنُ مَعْدِ يكَرِبَ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه . اسماعيل بن عياش هم په مذكوره سند دماقبل هم معني روايت نقل كړي دي او داسماعيل بن عياش سند داسي دي "وقال المعدام بن معدي كرب" عن النبي صلي الله عليه وسلم يعني په عن سره يي روايت نقل كړي دي او دسماع تصريح يي درسول الله نه نه ده كړي امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي.

****

٤٨_باب مَا جَاءَ فِي الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ

[1] سنن ابن ماجه/الأطعمة ٥٠ (٣٣٤٩) (تحفة الأشراف ١١٥٤٥) . ومسند احمد (٢/١٣٢)

درياكارۍ او شهرت حاصلولو دپاره دعمل كولو دمذمت بيان

٢٣٨١ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ فِرَاسٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ يُرَاءِ يُرَاءِ اللَّهُ بِهِ، وَمَنْ يُسَمِّعْ يُسَمِّعِ اللَّهُ بِهِ قَالَ: قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ لَا يَرْحَمْهُ اللَّهُ". وفي الباب عن جُنْدَبٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چې رياكاري كوي الله تعالي به دده دا رياكاري دقيامت په ورځ دخلقو په وړاندي ظاهره كړي او څوك چې د مشهورتيا حاصلولو دپاره دالله تعالي عبادت كوي الله تعالي به يې دقيامت په ورځ رسوا او ذليل كړي او بيا يې اوفرمائيل څوك چې په خلقو رحم نه كوي الله تعالي په هغه باندي رحم نه كوي
امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي اوپه دي باب كي دجندب او عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

****

٢٣٨٢ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، أَخْبَرَنِي الْوَلِيدُ بْنُ أَبِي الْوَلِيدِ أَبُو عُثْمَانَ الْمَدَائِنِيُّ، أَنَّ عُقْبَةَ بْنَ مُسْلِمٍ حَدَّثَهُ، أَنَّ شُفَيًّا الْأَصْبَحِيَّ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ دَخَلَ الْمَدِينَةَ فَإِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَدِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِ النَّاسُ، فَقَالَ: مَنْ هَذَا؟ فَقَالُوا: أَبُو هُرَيْرَةَ، فَدَنَوْتُ مِنْهُ حَتَّى قَعَدْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُوَ يُحَدِّثُ النَّاسَ، فَلَمَّا سَكَتَ وَخَلَا قُلْتُ لَهُ: أَنْشُدُكَ بِحَقٍّ وَبِحَقٍّ لَمَا حَدَّثْتَنِي حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَلْتَهُ وَعَلِمْتَهُ. فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: أَفْعَلُ لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَلْتُهُ وَعَلِمْتُهُ. ثُمَّ نَشَغَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَشْغَةً فَمَكَثَ قَلِيلًا. ثُمَّ أَفَاقَ، فَقَالَ: لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِي وَغَيْرُهُ. ثُمَّ نَشَغَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَشْغَةً أُخْرَى. ثُمَّ أَفَاقَ فَمَسَحَ وَجْهَهُ. فَقَالَ: لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَأَنَا وَهُوَ فِي هَذَا الْبَيْتِ مَا مَعَنَا أَحَدٌ غَيْرِي وَغَيْرُهُ. ثُمَّ نَشَغَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَشْغَةً أُخْرَى. ثُمَّ أَفَاقَ وَمَسَحَ وَجْهَهُ. فَقَالَ: أَفْعَلُ

1 سنن ابن ماجه/الزهد ٢١ (٤٢٠٦) (تحفة الأشراف: ٤٢٢٠)، و مسند احمد (٣/٤٠)

لَأُحَدِّثَنَّكَ حَدِيثًا حَدَّثَنِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَعَهُ فِي هَذَا الْبَيْتِ مَا مَعَهُ أَحَدٌ غَيْرِي وَغَيْرُهُ. ثُمَّ نَشَغَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَشْغَةً شَدِيدَةً. ثُمَّ مَالَ خَارًّا عَلَى وَجْهِهِ فَأَسْنَدْتُهُ عَلَيَّ طَوِيلًا. ثُمَّ أَفَاقَ. فَقَالَ: " حَدَّثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَنْزِلُ إِلَى الْعِبَادِ لِيَقْضِيَ بَيْنَهُمْ وَكُلُّ أُمَّةٍ جَاثِيَةٌ فَأَوَّلُ مَنْ يَدْعُو بِهِ رَجُلٌ جَمَعَ الْقُرْآنَ. وَرَجُلٌ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ. وَرَجُلٌ كَثِيرُ الْمَالِ. فَيَقُولُ اللهُ لِلْقَارِئِ: أَلَمْ أُعَلِّمْكَ مَا أَنْزَلْتُ عَلَى رَسُولِي؟ قَالَ: بَلَى يَا رَبِّ. قَالَ: فَمَاذَا عَمِلْتَ فِيمَا عُلِّمْتَ؟ قَالَ: كُنْتُ أَقُومُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ. فَيَقُولُ اللهُ لَهُ: كَذَبْتَ. وَتَقُولُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ: كَذَبْتَ. وَيَقُولُ اللهُ لَهُ: بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: إِنَّ فُلَانًا قَارِئٌ فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ. وَيُؤْتَى بِصَاحِبِ الْمَالِ فَيَقُولُ اللهُ لَهُ: أَلَمْ أُوَسِّعْ عَلَيْكَ حَتَّى لَمْ أَدَعْكَ تَحْتَاجُ إِلَى أَحَدٍ؟ قَالَ: بَلَى يَا رَبِّ. قَالَ: فَمَاذَا عَمِلْتَ فِيمَا آتَيْتُكَ؟ قَالَ: كُنْتُ أَصِلُ الرَّحِمَ وَأَتَصَدَّقُ. فَيَقُولُ اللهُ لَهُ: كَذَبْتَ. وَتَقُولُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ: كَذَبْتَ. وَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: فُلَانٌ جَوَادٌ فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ. وَيُؤْتَى بِالَّذِي قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ. فَيَقُولُ اللهُ لَهُ: فِي مَاذَا قُتِلْتَ؟ فَيَقُولُ: أُمِرْتُ بِالْجِهَادِ فِي سَبِيلِكَ فَقَاتَلْتُ حَتَّى قُتِلْتُ. فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى لَهُ: كَذَبْتَ. وَتَقُولُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ: كَذَبْتَ. وَيَقُولُ اللهُ: بَلْ أَرَدْتَ أَنْ يُقَالَ: فُلَانٌ جَرِيءٌ. فَقَدْ قِيلَ ذَاكَ. ثُمَّ ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رُكْبَتِي. فَقَالَ: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أُولَئِكَ الثَّلَاثَةُ أَوَّلُ خَلْقِ اللهِ تُسَعَّرُ بِهِمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". وَقَالَ الْوَلِيدُ أَبُو عُثْمَانَ: فَأَخْبَرَنِي عُقْبَةُ بْنُ مُسْلِمٍ. أَنَّ شُفَيًّا هُوَ الَّذِي دَخَلَ عَلَى مُعَاوِيَةَ فَأَخْبَرَهُ بِهَذَا. قَالَ أَبُو عُثْمَانَ. وَحَدَّثَنِي الْعَلَاءُ بْنُ أَبِي حَكِيمٍ. أَنَّهُ كَانَ سَيَّافًا لِمُعَاوِيَةَ. فَدَخَلَ عَلَيْهِ رَجُلٌ فَأَخْبَرَهُ بِهَذَا. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. فَقَالَ مُعَاوِيَةُ: قَدْ فُعِلَ بِهَؤُلَاءِ هَذَا. فَكَيْفَ بِمَنْ بَقِيَ مِنَ النَّاسِ ثُمَّ بَكَى مُعَاوِيَةُ بُكَاءً شَدِيدًا حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ هَالِكٌ. وَقُلْنَا: قَدْ جَاءَنَا هَذَا الرَّجُلُ بِشَرٍّ. ثُمَّ أَفَاقَ مُعَاوِيَةُ وَمَسَحَ عَنْ وَجْهِهِ. وَقَالَ: صَدَقَ اللهُ وَرَسُولُهُ مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ . أُولَئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (هود ١٥-١٦). قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٤٩٢). وأخرج نحوه: صحيح مسلم/الإمارة ٤٣ (١٩٠٥). سنن النسائي الجهاد

ترجمه عقبه بن مسلم د شفيا اصبحي نه روايت نقل كوي چي يوځل هغه مديني ته داخل شو او ناڅاپه يي يو كس اوليدو چي خلق ورته راجمع شوي دي نو تپوس يي اوكړو دا څوك دي خلقو په جواب كي اووئيل دا ابوهريره رضي الله عنه دي دشفيا اصبحي بيان دي چي زه ورته نزدي ورغلم تردي چي مخامخ ورته كيناستم او خلقو ته يي احاديث بيانول كله چي يي احاديث بيان كړل او يواځي پاتي شو نو ما ورته اووئيل زه تاته بار بار دالله تعالي واسطه دركوم اوسوال درنه كوم چي ماته يو داسي حديث بيان كړه كوم چي تا درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي وي او په ښه شان سره ورباندي پوهه شوي يي او په ښه شان سره دي ياد كړي وي، ابوهريره اووئيل درسته ده يقينا چي زه به درته همداسي حديث بيانوم كوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم بيان كړي وي او ما ورنه ښه ياد كړي وي او زه ورباندي ښه پوهه شوي يم او بيا يي يوه تيزه چغه اووهله او بيهوش پريوتو يوه شيبه پس چي په هوش كي راغي نو وېي فرمائيل يقينا زه تاته هغه حديث بيانوم كوم چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم په همدي كور كي بيان كړي وو او چرته چي زما او دهغه نه علاوه بل هيڅوك موجود نه وو او بيا دوباره ابوهريره يوه تيزه چغه اووهله او بيهوش پريوتو بيا چي يوه شيبه پس په هوش كي راغي نو خپل مخ يي پاك كړو او وېي فرمائيل ضرور به درته هغه حديث بيانوم كوم چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم بيان كړي دي او په دي كور كي هغه وخت زما او دهغه نه علاوه بل هيڅوك موجود نه وو او ابوهريره بيا يوه تيزه چغه اووهله او بيهوش پريوتلو كله چي په هوش كي راغي نو مخ يي پاك كړو او ويي فرمائيل ضرور به درته داسي حديث بيانوم كوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته بيان كړي دي او په دي كور كي زما او دهغه نه علاوه بل هيڅوك موجود نه وو او دي وخت كي يي يوه بله تيزه چغه اووهله او بيهوش نسكور په زمكه پريوتلو، ما دډير ساعته پوري خان ته راجوخت كړي نيولي وو مګر چي په هوش كي راغي نو وېي فرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته په دي كور كي دا حديث بيان كړي دي دقيامت په ورځ چي كله هر امت به په زنګنونو پراته وي نو دغه وخت به الله تعالي دخپلو بندګانو په مينځ كي دفيصلي كولو دپاره نزول اوكړي او بيا به دټولو نه مخكي دفيصلي كولو دپاره هغه كسان راوغوښتلي شي څوك چي دقران حافظان دي، دويم به شهيد راوستلي شي او دريم به مالداران خلق راوستلي شي الله تعالي به حافظ ته اووائي ايا ماتاته پخپل رسول دنازل كړي كتاب علم نه وو دركړي؟ حافظ به اووائي يقينا اي زما پروردګاره همداسي ده الله تعالي به اوفرمائي كوم علم چي تاته خودلي شوي وو دهغي مطابق دي څه عمل كړي دي؟ حافظ به اووائي ماخو به ددي قران دپاره شپي شوګيرولي او ورځو كي به هم په دي كي مصروف وم او ستا عبادت به مي كولو الله تعالي به اوفرمائي دروغ دي اووئيل او فرښتي به ورته هم اووائي چي دروغ دي اووئيل بيا به الله تعالي اوفرمائيل دقران زده كولو نه خو ستا مقصد دا وو چي

خلق درته قاري اوواني نو هغه خو درته ونيلي شوي دي (لهذا ستا مونږ سره څه اجر نه دي پاتي) بيا به مالداران پيش کړي شي الله تعالي به اوفرمائي ايا ماتاسو ته هر څيز په وسيع مقدار نه وو درکړي ترديء پوري چي تاسو مي هيچاته محتاج نه وئ پريخودلي؟ هغوئ به عرض اوکړي يقينا اي زمونږ ربه همداسي ده الله تعالي به اوفرمائي ما چي تاسو ته څه درکړي وو په هغي کي مو څه عمل کړي دي؟ هغوئ به اوواني صله رحمي به مي کوله او صدقي او خيراتونه به مو ورکول الله تعالي به اوفرمائي تاسو دروغ اوونيل او فرشتي به هم ددوئ تکذيب اوکړي بيا به الله تعالي اوفرمائي بلکه تاسوخو دا غوښتل چي سخيان درته اوونيلي شي نو دا خو تاسو ته ونيلي شوي دي بيا به ددينه پس شهيدان پيش کړي شي الله تعالي به ورنه تپوس اوکړي تاسو دڅه دپاره قتل کړي شوي وئ؟ هغوئ به عرض اوکړي مونږ ته ستا په لاز کي دجهاد کولو حکم شوي وو چنانچي مونږ جهاد اوکړو ترديء چي شهيدان کړي شو الله تعالي به اوفرمائي تاسو دروغ اوونيل او فرشتي به هم ددوئ تکذيب اوکړي بيابه الله تعالي اوفرمائي ستاسو مقصد خو دا وو چي تاسو ته بهادر اوونيلي شي او دا خو درته ونيلي شوي دي بيا ددينه پس رسول الله صلي الله عليه وسلم زما په زنګون لاس کيخودو او وې فرمائيل اي ابوهريره دا هغه اولني دري کسان دي په کومو چي به دقيامت په ورځ دجهنم اور ګرمولي شي.

امام ترمذي وايي: وليد بن عثمان وائي عقبه بن مسلم ماته خبر راکړي دي چي شفيا اصبحي معاويه رضي الله عنه ته ورغلو او ددي حديث خبر يي ورکړو، ابوعثمان وائي علاء بن ابي حکيم ماته خبر راکړي دي چي دا کس دمعاويه رضي الله عنه جلاد وو، بيا معاويه ته يو داسي کس راغلو او دابوهريره په واسطه يي ددي حديث نه خبر کړو نو معاويه اوونيل ددي دري کسانو سره چي داسي معامله کيږي نو دنورو خلقو به څه حال وي او په دي حال کي معاويه رضي الله عنه په ژړا شو ترديء پوري چي مونږ دا ګمان اوکړو چي دي به ژوندي پاتي نشي او مونږ خو دومره پوري ونيلي وو چي شرهمدي کس راوړي دي، مګر بيا چي کله معاويه رضي الله عنه په هوش کي راغي نو خپل مخ يي پاك کړو او وې ونيل يقينا الله تعالي او دهغه رسول رښتيا ونيلي دي او دا ايت کريمه يي تلاوت کړو " مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لا يُبْخَسُونَ . أُولَئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الآخِرَةِ إِلا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ "

هغه څوك چي غواړي په عمل خپل سره ژوند ددنيا (اوددول) دهغي نوپوره به ورکړودوي ته بدله دعملونوددوي په دنيا کښ اوددوي نه به په هغي کښ څه کمي نشي کيدي اوداهغه کسان دي

چي ددوئ دپاره په اخرت کې داور نه علاوه نوره حصه نشته . وبرباد به شي اجر دهغه عملونو چي دوئ په دنيا کې کول. اوبې فائدي دي هغه نيکياني چي دوي ني په دنيا کې کوي
امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي

تشريح يعني څوك چي دخپل عمل اودنيکئ په عوض کې (محض د دنيوي ژوند، اوږدوالي، صحت، اودمال او اولاد کثرت اوبښځي او نوکران اوخدمت ګاران حاصلول پکار دي اومونږ دا څيزونه دوئ ته ددوئ دنيکو اعمالو په بدله کې ورکوو اوهيڅ قسم حق تلفي او دعوض په ادا کولو کې کمي نه کوو مګر په اخرت کې به دوئ ته ددوئ دعمل کومه بدله ورنکړي شي اوهلته به ددوزخ نه علاوه دوئ ته نور څه ملاؤ نشي ځکه چي دنيکو عملونو بدله دوئ ته په دنيا کې ملاؤ شوي وه او صرف بد عملونه يي پاتي شوي وو نوددي بدله به ورته په اخرت کې ملاؤ شي.

په دنيا کې چي دوئ کومي نيکئ کړي وي دهغي اجر به اخرت ته پاتي نشي يا دا مطلب دي چي په اخرت کې به ددوئ دپاره کوم ثواب نه وي ځکه چي دوئ خو دالله درضا دحاصلولو دپارد نيکئ نه وي کړي چي په اخرت کې ورته اجر ورکول دالله په ذمه ضروري شي، فيها ضمير که چري اخرت ته راجع کړي شي نو تعلق به يي دحبط سره وي او که دنيا ته راجع شي نو بيا به يي تعلق دصنعوا سره وي.

بخاري دعمر فاروق رضي الله عنه په روايت سره يو طويل حديث ذکر کړي دي دعمر فاروق رضي الله عنه بيان دي ماچي پورته اوکتل نو په الله قسم ماد رسول الله په کور کې علاوه د دري چمړو نه نور څه اونه ليدل ما عرض اوکړو اي دالله رسوله دالله تعالي نه دعا اوغواړه چي ستا په امت باندي فراخي راولي او رسول الله صلي الله عليه وسلم پدغه وخت کې تکيه وهلي وه ددي وينا په اوريدو سره نيغ کيناستو او ويي فرمائيل اي دخطاب ځويه ايا ستا دا ګمان دي (چي دا خلق ددنيا طلب ګار دي) پس دوئ ته په دنيا کې دومره لذتونه ورکړي شوي دي ليکن دمومن مقصد دنيا او اخرت دواړه دي او داخرت اراده يي غالبه وي نوپه دي وجه ده ته دنيکو بدله په دنيا کې هم ملاويږي او په اخرت کې به ورته هم ملاؤ شي.

دانس رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي په مومن ظلم نه کوي ددي دنيکئ اجر ده ته په دنيا کې هم ورکوي او په اخرت کې به ورته هم ورکړي شي، پاتي شو کافر چي ده ته دده دنيکو عوض په دنيا کې دخوړلو دپاره ورکولي شي خوچي کله اخرت ته لاړ شي نو دده به هيڅ نه وي پاتي شوي دکوم په وجه چي دده سره څه نيکي اوکړي شي (رواه مسلم واحمد).

دبعضي علماؤ قول دي چي ددي ايت نزول درياکارانو په حق کې شوي دي

دابو سعيد بن فضاله نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي دقيامت په ورځ دكومي په راتلو كې چي هيڅ شك نشته الله تعالي خلقو لره راجمع كړي نو يو اعلان كونكي به اعلان اوكړي چي چا دالله دپاره كوم عمل كړي وي او په دي كې يې دالله تعالي سره څوك شريك كړي وي نو دي دخپل عمل اجر ددغه شريف نه طلب كړي او الله تعالي دهر شرك نه بي پرواه دي (رواه احمد)

دانس رضي لله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دچا نيت چي طلب اخرت وي نو الله تعالي دده په زړه كې په دنيا كې دهر څيز نه بي پرواهي پيدا كوي او دده پريشاني درست كوي اودنيا به ده ته په ذلت سره په منډه راخي اوكه چا ددنيا دطلب نيت كړي وي نو الله تعالي فقر لره دده د دواړو دستر ګو په مينځ كې اوليكي (يعني دده په وړاندي حاجتونه او ضرورتونه په غير محدود طور راشي) او الله تعالي ده لره پريشانه كړي او دنيا ورته دومره ملاويږي څومره چي الله تعالي دده دپاره ليكلي وي (رواه الترمذي) دا حديث امام احمد او دارمي په واسطه دابان د زيد بن ثابت رضي الله عنه نه نقل كړي دي (مظهري)

****

٢٣٨٣_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنِي الْمُحَارِبِيُّ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ سَيْفٍ الضَّبِّيِّ، عَنْ أَبِي مُعَانٍ الْبَصْرِيِّ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ جُبِّ الْحَزَنِ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا جُبُّ الْحَزَنِ، قَالَ: "وَادٍ فِي جَهَنَّمَ تَتَعَوَّذُ مِنْهُ جَهَنَّمُ كُلَّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ". قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَنْ يَدْخُلُهُ، قَالَ: "الْقُرَّاءُ الْمُرَاءُونَ بِأَعْمَالِهِمْ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (١)

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دجب الحزن (دغم كوهي) نه په الله تعالي باندي پناه اوغواړئ صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله جب الحزن څه ته واني رسول الله اوفرمانيل دا په جهنم كي ديوي كندي نوم دي دكومي نه چي جهنم هم هره ورځ سل پيري پناه غواړي بيا صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله ديته به څوك څوك داخليږي؟ رسول الله اوفرمانيل رياكار قاريان
امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي

****

---

1 سنن ابن ماجه/المقدمة ٢٣ (٢٥٦) (تحفة الأشراف . ١٤٥٨٦)

٤٩_باب عَمَلِ السِّرِّ
په پټه د نیک عمل کولو بیان

٢٣٨٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا أَبُو سِنَانٍ الشَّيْبَانِيُّ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، الرَّجُلُ يَعْمَلُ الْعَمَلَ فَيُسِرُّهُ فَإِذَا اطُّلِعَ عَلَيْهِ أَعْجَبَهُ ذَلِكَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَهُ أَجْرَانِ أَجْرُ السِّرِّ وَأَجْرُ الْعَلَانِيَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَاهُ الْأَعْمَشُ، وَغَيْرُهُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَأَصْحَابُ الْأَعْمَشِ لَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ فَسَّرَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ: إِذَا اطُّلِعَ عَلَيْهِ فَأَعْجَبَهُ فَإِنَّمَا مَعْنَاهُ أَنْ يُعْجِبَهُ ثَنَاءُ النَّاسِ عَلَيْهِ بِالْخَيْرِ، لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ فَيُعْجِبُهُ ثَنَاءُ النَّاسِ عَلَيْهِ، لِهَذَا لِمَا يَرْجُو بِثَنَاءِ النَّاسِ عَلَيْهِ فَأَمَّا إِذَا أَعْجَبَهُ لِيَعْلَمَ النَّاسُ مِنْهُ الْخَيْرَ، لِيُكْرَمَ عَلَى ذَلِكَ وَيُعَظَّمَ عَلَيْهِ فَهَذَا رِيَاءٌ ". وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا اطُّلِعَ عَلَيْهِ فَأَعْجَبَهُ رَجَاءَ أَنْ يَعْمَلَ بِعَمَلِهِ فَيَكُونُ لَهُ مِثْلُ أُجُورِهِمْ، فَهَذَا لَهُ مَذْهَبٌ أَيْضًا. [1]

ترجمه دابوهریره رضي الله عنه بیان دي یو کس عرض اوکړو اي دالله رسوله اکثر یو کس نیک عمل کوي او بیا ددي دپټ ساتلو کوشش کوي لیکن کله چي وربانديِ خلق خبر شي نو دي دخلقو خبریدل خوښوي؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دداسي کس دپاره دوه اجرونه دي یو دنیکئ پټولو اجر دي او دویم ددوئ دظاهریدو اجر دي

امام ترمذي وایي: داحدیث حسن غریب دي، اعمش وغیره دا حدیث عن حبیب بن ابي ثابت عن ابي صالح عن النبي صلي الله علیه وسلم سند سره مرسل نقل کړي دي او داعمش شاګردانو په دي کي عن ابي هریره واسطه نه ده ذکر کړي بعضي اهل علمو ددي حدیث په تفسیر کي ونیلي دي چي دده دنیك عمل خلقو ته دظاهریدو مطلب دادي چي دخلقو تعریف کول خوښوي نو خکه رسول الله اوفرمائیل تاسو په زمکه کي دالله ګواهان شئ یقینا هغه دخلقو تعریف خوښوي خکه چي دي سره دخلقو په تعریف داخرت دخیر امید کیږي البته که څوك دخلقو په خبریدو ددي دپاره خوشحالیږي چي دده دنیك عمل نه خبر شي او خلق یي تعظیم اوکړي نو دا عمل بیا په ریا کي داخلیږي او بعضي اهل علمو ددي دا تفسیر کړي دي

[1] سنن ابن ماجه/الزهد ٢٥ (٤٢٢٦) (تحفة الأشراف: ١٢٣١١)

چي خلق په ده باندي خبر شي او دي ورباندي په دي وجه خوشحاليږي چي خلق په نيك عمل کي دده اقتداء اوکړي نو ده ته به هم دهغوئ په اعمالو کي اجر ملاويږي نو دا خوشحالي هم مناسب ده

****

٥٠_ باب مَا جَاءَ أَنَّ الْمَرْءَ مَعَ مَنْ أَحَبَّ

هر څوک به په قيامت کي دهغه چا سره وي دچا سره چي يې (په دنيا کي) محبت وي

٢٣٨٥_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّهُ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَتَى قِيَامُ السَّاعَةِ. فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الصَّلَاةِ، فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ، قَالَ: " أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ قِيَامِ السَّاعَةِ ؟ " فَقَالَ الرَّجُلُ: أَنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: " مَا أَعْدَدْتَ لَهَا ؟ " قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَعْدَدْتُ لَهَا كَبِيرَ صَلَاةٍ، وَلَا صَوْمٍ إِلَّا أَنِّي أُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ وَأَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ ". فَمَا رَأَيْتُ فَرِحَ الْمُسْلِمُونَ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَرَحَهُمْ بِهَذَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه دانس رضي الله عنه نه مروي دي يو کس دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو او عرض يې اوکړو اي دالله رسوله قيامت به کله راځي؟ رسول الله دمونځ کولو دپاره اودريدو او بيا چي کله دمونځ نه فارغ شو نو ويې فرمائيل دقيامت باره کي سوال کونکي چرته دي؟ دي کس عرض اوکړو زه موجود يم اي دالله رسوله رسول الله اوفرمائيل دقيامت دپاره دي کوم خاص تياري کړي دي؟ هغه عرض اوکړو اي دالله رسوله څه خاص زيات مونځونه او روژي خو مي نه دي جمع کړي (يعني نوافل وغيره)، مګر دومره خبره شته چي زه دالله او دهغه درسول سره محبت لرم، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هرڅوك به په اخرت کي دهغه چاسره وي دچاسره چي يې محبت وي او ته به هم دهغه چا سره يې دچاسره چي ستا محبت وي، دانس رضي الله عنه بيان دي چي داسلام راوړلو نه پس ما مسلمانان کله دومره خشحاله نه دي ليدلي څومره چي مي درسول الله په دي قول هغوئ خوشحاله اوليدل

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /فضائل الصحابة ٦ (٣٦٨٨) . والأدب ٩٥ (٦١٦٧) . و ٩٦ (٦١٧١) . والأحكام ١٠ (٧١٥٣) . صحيح مسلم /البر والصلة ٥٠ (٢٦٣٩) (تحفة الأشراف : ٥٨٥) . و مسند احمد (٣/١٠٤، ١١٠، ١٥٩، ١٦٥، ١٦٧، ١٦٨، ١٧٣، ١٧٨، ١٩٢، ١٩٨، ٢٠٠)

امام ترمذي وايي داحديث صحيح دي
تشريح "المرء مع من احب" ددي مطلب دادي چي سړي که په دنيا کې دخپل محبوب نه اګر که لري وي ليکن په اخرت کې به ورنه لري نه وي ، دا سوال صرف دي ديهاني نه دي کړي بلکه نورو ډيرو صحابه کرامو هم کړي وو
انس رضي الله عنه فرمائي چي صحابه کرام په دنيا کې په بل هيڅ څيز دومره نه وو خوشحاله شوي څومره چي ددي حديث په اوريدو خوشحاله شوي وو
علماؤ ليکلي دي چي په دي حديث کې يو لوي زيري هم دی په دي کې دخاتمه بالخير بشارت دي ، سړي به په قيامت کې دنيکو خلقو سره هله وي کله چي يي خاتمه په خير سره شوي وي
ملا علي قاري قول دي چي که چري څوك دنيك خلقو سره محبت لري نو دقيامت په ورځ به دهغوئ سره وي او که چري دکوم فاسق فاجر سره يي محبت وي نو بيا به دهغوئ سره وي.
ددي حديث مطلب دادی چي څوك دکوم عالم سره محبت لري نو دی به دهغه سره په اخرت کې يو ځاي وي په دي حديث کې هغه خلقو دپاره بشارت دی څوك چي ددين دماهرينو او علماؤ سره مخلصانه عقيدت اومحبت لري اودوستي ورسره کوي دوئ به انشاء الله په قيامت کې ورسره وي.
ملا علي قاري ليکلي دي چي دپورتني حديث ظاهري مفهوم په عموم دلالت کوي چي دقيامت په ورځ به دانسان حشر دهغه چا سره وي دچا سره چي يي محبت وي ددي تائيد په يو بل حديث سره هم کيږي په کوم کې چي ارشاد دی "المرء علي دين خليله".
دنيکانو خلقو سره دمحبت کولو په وجه په ايمان دخاتمي اميد کيدی شي په دي حديث کې يو لوي بشارت دا هم دی چي څوك ديو نيك او صالح انسان سره محبت لري ددوئ سره حشر په هغه وخت کې ممکن دی چي کله خاتمه په ايمان باندي اوشي.
په يو بل مقام کې ملا علي قاري وايي وقد ورد ان حلاوة الايمان اذا دخلت قلبا لا تخرج منه ابدا ففيه اشارة الي بشارة حسن الخاتمة يعني وارد دي کله چي د ايمان حلاوت دچا زړه ته کوز شي نو هيڅکله ورنه نه اوځي ، پدي کې ديته اشاره ده چي دي کس ته به دحسن خاتمه دولت نصيب کيږي

****

٢٣٨٦_حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ أَشْعَثَ، عَنِ الحَسَنِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "المَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ وَلَهُ مَا اكْتَسَبَ". وفي الباب عن عَلِيٍّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَصَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي مُوسَى، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ الحَسَنِ البَصْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر يو سړي به دهغه چا سره وي دچاسره چي يي محبت وي او ده ته به هم هغه بدله ملاويږي كومه چي ده كټلي وي.

امام ترمذي وايي داحديث دحسن بصري په روايت حسن غريب دي او حسن بصري دانس بن مالك نه او انس درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي دا حديث درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په نورو سندونو هم مروي دي، او په دي باب كي دعلي، عبدالله بن مسعود، صفوان بن عسال، ابوهريره، او ابوموسي اشعري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. بلكه دا روايت د رسول الله نه په ډيرو سندونو مروي دی

****

٢٣٨٧_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ، قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ جَهْوَرِيُّ الصَّوْتِ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ الرَّجُلُ يُحِبُّ القَوْمَ وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " المَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دصفوان بن عسال رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي يو باندچي چي اواز يي ډير دروند وو درسول الله په خدمت كي حاضر شو اوعرض يي اوكړو اي محمد (صلي الله عليه وسلم) يو كس چي د يو قوم سره محبت كوي مګر په عمل كي ورنه روسته وي (دهغه به څه حال وي) رسول الله اوفرمائيل هر څوك به دهغه چا سره وي دچاسره چي يي محبت وي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ مَحْمُودٍ. [3]

---

1 انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ٥٢٠)

2 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٩٥٢)

3 - تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٩٥٢)

ترجمه ذر بن حبيش هم دصفوان بن عسال رضي الله عنه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دمحمود د حديث هم معني روايت نقل كړي دي

5/33

****

٥١_باب مَا جَاءَ فِي حُسْنِ الظَّنِّ بِاللَّهِ

په الله تعالي باندي دښه ګمان کولو بيان

٢٣٨٨_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ بُرْقَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْأَصَمِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي وَأَنَا مَعَهُ إِذَا دَعَانِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي فرمائي زه دخپل بنده دګمان مطابق يم څنګه چي هغه په ما ګمان کوي زه ورسره هغه شان معامله کوم چي کله دي ما رابلي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

تشريح: "په دي حديث کي الله تعالي باندي حسن ظن کولو ته ترغيب ورکولی شي لکه څرنګه چي په الله تعالي دبنده ګمان وي هم هغه شان معامله به ورسره کوي مثلا دچا په الله دا ګمان وي چي الله تعالي معافي کونکی دی نو اميد دی چي معافي به ورته اوکړي او که دچا په الله دا ګمان وي چي الله تعالي سخت عذاب ضرور ورکوي نو کيدی شي چي دده سره دده دګمان مطابق معامله اوکړي بعضي علماء وائي په پورتني حديث کي دي خبري ته ترغيب دی چي دالله تعالي درحمت او کرم اميد دهغه دعذاب په خوف باندي غالب کول پکار دي، په يو روايت کي راغلي دي دقيامت په ورځ چي به کله ديوسړي په حق کي دجهنم فيصله کولی شي نو دی به داسي وائي چي ای الله ماخو په تا باندي ښه ګمان لرلو الله تعالي به ورته اووائي ورشئ او دی واپس راولئ يقينا چي زه دبنده سره دهغه دګمان مطابق فيصله کوم

وانا معه اذا ذکرني، مطلب دادي چي کله به بنده الله يادوي نو الله تعالي ورته هم متوجه کيږي او مدد او نصرت ورسره کوي خو پدي شرط چي الله په اخلاص يادوي

---

[1] مسلم /الدعاء والذكر ٦ و أيضا: اورده البخاري في الجامع الصحيح /التوحيد ١٥ (٧٤٠٥) . و ٣٥ (٧٥٣٧) . و مسلم /التوبة ١ (٢٦٧٥) . وماعند المؤلف في الدعوات برقم ٣٦٠٣) . وسنن ابن ماجه/الأدب ٥٨ (٣٨٢٢) . و مسند احمد (٢/٢٥١) . ٢٩١ . ٤١٣ . ٤٤٥ . ٤٨٠ . ٤٨٢ . ٥١٦)

****

٥٢_باب مَا جَاءَ فِي الْبِرِّ وَالإِثْمِ

د نیکۍ او بدۍ بیان

٢٣٨٩_حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكِنْدِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ الْحَضْرَمِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْبِرِّ وَالإِثْمِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ، وَالإِثْمُ مَا حَاكَ فِي نَفْسِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ ". [1]

ترجمه دنواس بن سمعان رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي نيكي ښه خوئ دى او بد هغه كار دى چي ستا په زړه كې شك پيدا كړي، او ته دانه خوښوی چي خلق پرى خبر شي.

لغات حاك حاك يحاك يحيك حوكا د كوم څيز په باره كې په زړه كې شك او تردد كول.دباب نصر او ضرب نه. (مسلم) حاك په "ح" دى بى ټكي او په ك دى يعني تردد او شك

تشريح: "البر حسن الخلق"نيكي دښو اخلاقو نوم دى په اسلام كې ښه اخلاق اختيارولو ته بار بار ترغيب وركړى شوى دى دښو اخلاقو دجملي نه دا هم دي چي دخلقو سره په رونړ تندي مخامخ شي اوچاته تكليف ورنكړي او ارام ورته ورسوي اودخلقو سره په نيك كارونو كې تعاون اوكړي داټول په نيكو اخلاقو كې داخل دي.

"والاثم ماحاك في صدرك" يعني ګناه ديته ونيلى شي كوم څيز چي په زړه كې تردد پيدا كوي مطلب دادى چي چرته كوم داسي كار اوكړى شي چي دهغي په وجه دسړي په زړه او دماغو كې داويره پيداشي كه چري خلقو ته ددي كار پته ولګي نو زه به څه جواب وركوم په دي حديث كې دشر او ګناه دوه علامات بيانيږي اول ماحاك في نفسك، دويم كرهت ان يطلع الناس عليه.

ددي حديث نه دا هم معلومه شوه كه چري الله تعالي دچا زړه مسخ نكړي نوبياخو په زړه كې داخوبي شته چي هغه حق لره حق او باطل لره باطل اوګڼري مګر كه دچا زړه مسخ شوى وي نو بيا هغه داسي نشي كولى.

د نواس بن سمعان رضي الله عنه مناقب

نوم نواس دپلار نوم سمعان بن خالد بن عمرو بن قرط دبنو كلاب سره دده تعلق وو او دشام

---

[1] صحيح مسلم/البر والصلة ٥ (٢٥٥٣) (تحفة الأشراف: ١١٧١٣)، و مسند احمد (١٨٢/٤)

اوسیدونکی وو په شامیانو کې شمیرلی شي دده پلار دوفد په شکل کې دنبي کریم صلي الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او رسول الله ته یې یو جوړه پیزار هم په تحفه کې ورکړل او رسول الله ورنه قبول هم کړل او دعا یي ورته هم اوکړه

دده دمروياتو شمير ۱۷ دی چې دري په مسلم کې دي او باقي اصحاب سنن نقل کړي دي

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، نَحْوَهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه مهدي هم دمعاويه بن صالح نه دماقبل روایت هم معني حدیث نقل کړي دي مګر دده په روایت کي دومره اضافه ده چي درسول الله صلي الله علیه وسلم نه مي تپوس اوکړو

امام ترمذي وايي داحدیث حسن صحیح دي.

****

٥٣ـ باب مَا جَاءَ فِي الْحُبِّ فِي اللَّهِ

دالله تعالي درضادپاره دمحبت کولوبیان

٢٣٩٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا كَثِيرُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ بُرْقَانَ، حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ أَبِي مَرْزُوقٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيِّ، حَدَّثَنِي مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: الْمُتَحَابُّونَ فِي جَلَالِي لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُورٍ يَغْبِطُهُمُ النَّبِيُّونَ وَالشُّهَدَاءُ ". وفي الباب عن أَبِي الدَّرْدَاءِ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَعُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيُّ اسْمُهُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ ثُوَبَ. (2)

ترجمه : دمعاذ رضي الله عنه نه روایت دی چي ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلي دي فرمانیل یی ، الله تعالي فرماني زما دعظمت او جلال په وجه چي څوك یو بل سره محبت کوي نو ‹دقیامت په ورځ به› دنور په داسی منبرونو ناست وي چي پیغمبران او شهیدان به یی ارماني وي

---

1 _ صحيح مسلم /البر والصلة ٥ (٢٥٥٣) (تحفة الأشراف : ١١٤١٢) ، و مسند احمد (٤/١٨٢)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٣٢٥) ، وانظر: مسند احمد (٥/٢٢٩، ٢٣٩)

امام ترمذي وايي او په دي باب کي دابو الدرداء، ابن مسعود، عباده بن الصامت، ابوهريره او ابو مالك اشعري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي. دا حديث حسن صحيح دی اود ابو ادريس خولاني نوم عبد الله بن ثوب دي

لغات يغبطهم غبط دضرب نه اوغبط دسمع نه دکوم څيز نظر ته ورختل يعني دخان دپاره دبل چا دنعمت پشان نعمت تمني کول. غابط يي اسم فاعل دي يعني غبطه کونکي

تشريح "المتحابون في جلالي" يعني زما دجلالت دعظمت په وجه پخپل مينځ کي محبت کونکي څه شول په دي حديث کي هم دالله دپاره دتعلق لرونکو فضيلت بيان شوی دی چي دالله دپاره دتعلق مطلب علماؤ دا بيان کړی دی چي دکوم بنده سره کوم تعلق قائم کړی شي دهغي غرض صرف دالله رضا وي او نور څه لالچ پکي نه وي.

"لهم منابر من نور" يعني ددوئ دپاره به دنور منبرونه وي ملا علي قاري يو روايت نقل کړی دی چي المتحابون في الله علي کراسي من ياقوت حول العرش. دملا علي قاري په قول دا ممکن ده چي دا نعمت دوئ ته په محشر کي نصيب شي.

يغبطهم النبيون والشهداء. يعني په دوي انبياء غبطه کوي

سوال انبياء خو علي الاطلاق دټولو خلقو نه افضل دي ددوئ مقام خو دهر چانه لوړ وي نوبيا په دوئ باندي درشك کيدو څه مطلب دی.

جواب درشك کيدو نه مقصود ددوئ په اجراوثواب او انعام باندي دخلقو خوشحاليدل مراد دي حقيقي رشك مراد نه دی

دويم جواب بالفرض په انبياء او شهداء چا رشك کولی نو دا خلق دد قابل دي چي رشك يي کړی وی

دريم جواب انبياؤ او شهداء خو په تمامو صفاتو کي افضل دي او دوئ ته به اعلي مقامات ملاويږي خو ددي باوجود به هغوئ په دي لوي فضيلت رشك کوي

****

٢٣٩١ـ حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَوْ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ، إِمَامٌ عَادِلٌ، وَشَابٌّ نَشَأَ بِعِبَادَةِ اللَّهِ، وَرَجُلٌ كَانَ قَلْبُهُ مُعَلَّقًا بِالْمَسْجِدِ إِذَا خَرَجَ مِنْهُ حَتَّى يَعُودَ إِلَيْهِ، وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللَّهِ فَاجْتَمَعَا عَلَى ذَلِكَ وَتَفَرَّقَا، وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللَّهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ، وَرَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ حَسَبٍ وَجَمَالٍ، فَقَالَ: إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ، وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ

فَأَخْفَاهَا حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَهَكَذَا رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ. عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ مِثْلَ هَذَا وَشَكَّ فِيهِ. وَقَالَ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. أَوْ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ. وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ. رَوَاهُ عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ. وَلَمْ يَشُكَّ فِيهِ. يَقُولُ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه دابوهريره يا ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اوه قسمه خلق داسي دي چي الله تعالي به هغوي ته په داسي ورځ دخپل (رحمت) دسوري لاندي ځايى ورکړي په کومه ورځ چي به دهغه دسوري نه سوا بل سورى نه وي، اول عادل بادشاه، دويم هغه خوان چي په خوانئ کي دالله تعالي عبادت کوي ، دريم هغه سړى چي زړه يى جومات سره ليګدلى وي (چي وخت به کله راشي چي خه جومات ته لاړشم) څلورم هغه دوه کسان چي صرف دالله تعالي درضا دپاره خپل مينځ کي محبت ساتي، هم پدى يى ملاويدل وي او په هم دى ددوئ جدا کيدل وي، پنځم هغه سړى چي يوه ښائسته ښځه يى خپل خاتته راوبلي (دپاره دګناه) او دى اووائي چي زه دالله تعالي نه ويريږم، شپږم هغه سړى چي صدقه او خيرات دومره پټ اوکړي چي کس لاس ته هم پته اونه لګي چي ښي لاس څه ورکړل، اوم هغه سړى چي په تنهايئ کي دالله پاك ذکر اوکړي او دسترګو نه يى اوښکى اوبهيږي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دا حديث دمالك بن انس نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم دماقبل هم معني مروي دي په دي کي هم راوي شك کړي دي او وئيلي يي دي عن ابي هريرة او عن ابي سعيد او عبيدالله بن عمر داحديث دحبيب بن عبدالرحمن نه دشك نه بغير نقل کړي دي او په هغه روايت کي يي صرف عن ابي هريرة وئيلي دي

لغات: نشأ دفتح نه او نشؤ د کرم نه په معني دپيدا کيدو دي او ژونذي کيدودي. لکه نشأ الطفل يعني ماشوم خوانئ ته ورسيدو

تشريح ددي حديث تشريح په باب فضل الحب في الله کي تيره شوي ده. دلته يي ددوباره راوړلو مقصد دادي چي چي دالله تعالي ديري نه ژړل دقيامت په ورځ دعرش لاندي دسوري ملاويدو سبب دى

---

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأذان ٣٦ (٦٦٠) . والزكاة ١٦ (١٤٢٣) . والرقاق ٢٤ (٦٤٧٩) . والحدود ١٩ (٦٨٠٦) . صحيح مسلم /الزكاة ٣٠ (١٠٣١) . سنن النسائي/القضاة ٢ (٥٣٨٢) (تحفة الأشراف : ١٢٢٦٤. و ٣٩٩٦) . وط/الشعر ٥ (١٤) . و مسند احمد (٢/٤٣٩)

دا اوبنکي دالله تعالي درسول په نزد دومره قيمتي دي چي يو خل عائشه رضي الله عنها سوال اوکړو چي ا ی دالله رسوله ستا په امت کې ايا داسي هم څوك شته چي بغير دحسابه به جنت ته داخليږي؟ ويې فرمائيل هو ، څوك چي دخپلو ګناهونو په رايادولو سره اوژاړي

****

حَدَّثَنَا سَوَّارُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْعَنْبَرِيُّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، حَدَّثَنِي خُبَيْبٌ، عَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ بِمَعْنَاهُ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: " كَانَ قَلْبُهُ مُعَلَّقًا بِالْمَسَاجِدِ، وَقَالَ: ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه . حفص بن عاصم هم دابوهريره په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه د مالك بن انس دحديث نه هم معني روايت نقل کړي دي مګر دده په روايت کي دا اضافه ده چي زړه يي په مسجدونو پوري تړلي وي، او دا چي خاوند دمنصب او جمال وي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٥٤_باب مَا جَاءَ فِي إِعْلَامِ الْحُبِّ

دمحبت باره کي دخبرداري ورکولو بيان

٢٣٩٢_حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنَا ثَوْرُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي يكَرِبَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا أَحَبَّ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُعْلِمْهُ إِيَّاهُ ". وفي الباب عن أَبِي ذَرٍّ، وَأَنَسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْمِقْدَامِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَالْمِقْدَامُ يُكْنَى: أَبَا كَرِيمَةَ. ([2])

---

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأذان ٣٦ (٦٦٠) . والزكاة ١٦(١٤٢٣) . والرقاق ٢٤ (٦٤٧٩) . والحدود ١٩(٦٨٠٦) . صحيح مسلم /الزكاة ٣٠ (١٠٣١) . سنن النسائي/القضاة ٢ (٥٣٨٢) (تحفة الأشراف : ١٢٢٦٤، و ٢٩٩٦) . وط/الشعر ٥ (١٤) . و مسند احمد (٢/٤٣٩)

2 سنن ابي داود/ الأدب ١٢٢ (٥١٢٤) . سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٤٨ (٢٠٦) (تحفة الأشراف : ١١٥٥٢) . و مسند احمد (٤/١٣٠)

ترجمه : ابو كريمه بن مقدام بن معد يكرب رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي ځوك چي دخپل يو مسلمان ورور سره (دالله دپاره) محبت كوي نو پكار ده چي هغه ته اووائي چي زما درسره محبت دي

امام ترمذي وايي: دمقدام حديث حسن صحيح غريب دي او په دي باب كي دابوذر او انس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

تشريح: يعني خبر دي ورته وركړي چي زما ستاسره محبت دى. علماء وائي په اطلا وركولو كي دا حكمت معلوميږي چي كه هغه كس ته دده د دوستئ پته اولګي نو هغه به هم دده سره ددوستئ كولو كوشش اوكړي او ددوستئ دحقوقو ادا كولو كوشش به شروع كړي او دده په حق كي به دعاګو او خيرخواه ثابت شي او دده دديني راهنمائي اهتمام به شروع كړي.

ابو كريمه بن مقدام بن معد يكرب رضي الله عنه مناقب

نوم مقدام كنيه ابو كريمه په وزن دحليمه يا ابويحيي وو دپلار نوم يي معدي بن سناد بن عبدالله بن وهب بن ربيعه بن حارث بن معاويه وو دى دوفد په شكل كي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دشام نه راغلى وو او مسلمان شوى وو او په شام كي يي زندګي تيره كړي وه چي دهجرت په ۷۸ كي د ۹۱ كلونو په عمر كي وفات شوى وو او دمروياتو شمير يي ۴۷دى

****

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَقُتَيْبَةُ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ مُسْلِمٍ الْقَصِيرِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ سَلْمَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ نُعَامَةَ الضَّبِّيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا آخَى الرَّجُلُ الرَّجُلَ فَلْيَسْأَلْهُ عَنِ اسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ وَمِمَّنْ هُوَ، فَإِنَّهُ أَوْصَلُ لِلْمَوَدَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَلَا نَعْرِفُ لِيَزِيدَ بْنِ نُعَامَةَ سَمَاعًا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَيُرْوَى عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا وَلَا يَصِحُّ إِسْنَادُهُ.[1]

ترجمه ديزيد بن نعامه الضبي بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي كله چي يو كس دبل سره د ورور ولئ كولو اظهار كوي نو دهغه نه دي دهغه دنوم او دپلار دنوم او داوسيدو دځاي او دقبيلي باره كي سوال اوكړي خكه چي دا طريقه محبت لره زياته مضبوطونكي ده

****

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٨٢٣)

٥٥_باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْمِدْحَةِ وَالْمَدَّاحِينَ

دتعريف كونكواو تعريف كولودكراهت بيان

٢٣٩٣_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ. عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ. عَنْ مُجَاهِدٍ. عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ. قَالَ: قَامَ رَجُلٌ فَأَثْنَى عَلَى أَمِيرٍ مِنَ الأُمَرَاءِ. فَجَعَلَ الْمِقْدَادُ يَحْثُو فِي وَجْهِهِ التُّرَابَ. وَقَالَ: "أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَحْثُوَ فِي وُجُوهِ الْمَدَّاحِينَ التُّرَابَ". وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَى زَائِدَةُ. عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ. عَنْ مُجَاهِدٍ. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. وَحَدِيثُ مُجَاهِدٍ. عَنْ أَبِي مَعْمَرٍ أَصَحُّ. وَأَبُو مَعْمَرٍ اسْمُهُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَخْبَرَةَ. وَالْمِقْدَادُ بْنُ الأَسْوَدِ هُوَ الْمِقْدَادُ بْنُ عَمْرٍو الْكِنْدِيُّ وَيُكْنَى: أَبَا مَعْبَدٍ وَإِنَّمَا نُسِبَ إِلَى الأَسْوَدِ بْنِ عَبْدِ يَغُوثَ لِأَنَّهُ كَانَ قَدْ تَبَنَّاهُ وَهُوَ صَغِيرٌ. (١)

ترجمه ابو معمرو وائي چي يو كس اودريدو او ديو امير تعريف يي شروع كړو دي وخت كي مقداد بن اسود رضي الله عنه دده مخ ته دخاورو وروېشتل شروع كړل او بيا يي اووئيل نبي كريم صلي الله عليه وسلم مونږ ته دا تعليم راكړي دي چي دتعريف كونكو مخونو ته خاوري ورروشيندو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، زائده دا حديث دمجاهد نه او مجاهد دابن عباس نه نقل كړي دي او حال دادي مجاهد چي كوم روايت دمعمرو نه نقل كړي دي هغه زيات صحيح دي او دابو معمرو نوم عبدالله بن سنجره دي او مقداد بن اسود مقداد بن عمرو الكندي دي چي كنيه يي ابو معبد ده اسود بن عبد يغوث ته يي نسبت څكه شوي دي چي ده مقداد لره په وړوكوالي كي په خوي ولئ نيولى وو، او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

تشريح: كله چي تاسو تعريف كونكي اووينئ نو مخ ته يي خاوري ورروغورځوئ، علماؤ ددي دا مطلب بيان كړى دى كه څوك ستاسو تعريف اوكړي نو تاسو يي مخ ته خاوري ورروشيندئ مطلب دادى چي په تعريف وركولو ورته هيڅ مه وركوئ بلكه محروم يي كړئ ليكن بعضي علماء وائي چي يو څه ناڅه ورته وركړئ ددي مطلب دادى كه چري خالي يي پريږدئ هسي نه چي په بل خاي كي ستاسو بد وئيل شروع كړي علماء وائي كه چري څوك دچا تعريف اوكړي

١_ صحيح مسلم/الزهد ١٤ (٣٠٠٢). سنن ابي داود/ الأدب ١٠ (٤٨٠٤). سنن ابن ماجه/ الأدب ٣٦ (٣٧٤٢) (تحفة الأشراف: ١١٥٤٥). و مسند احمد (٦/٥)

نو هغه دي دا دعا اووائي "اللهم اغفرلي مالايعلمون ولا تواخذني بما يقولون واجعلني خيرا بما يظنون".

****

٢٣٩٤ـحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ الْكُوفِيُّ. حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ سَالِمٍ الْخَيَّاطِ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَحْثُوَ فِي أَفْوَاهِ الْمَدَّاحِينَ التُّرَابَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ. (١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته حکم اوکړو چي مونږ د بي ځايه تعريف کونکو خلقو په خولو کي خاوري واچوو

امام ترمذي وايي: داحديث دابوهريره په سند غريب دي.

****

٥٦ـبَاب مَا جَاءَ فِي صُحْبَةِ الْمُؤْمِنِ

دمومن د ملګرتيا اختيارولو بيان

٢٣٩٥ـحَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ حَيْوَةَ بْنِ شُرَيْحٍ، حَدَّثَنِي سَالِمُ بْنُ غَيْلَانَ، أَنَّ الْوَلِيدَ بْنَ قَيْسٍ التُّجِيبِيَّ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، قَالَ سَالِمٌ، أَوْ عَنْ أَبِي الْهَيْثَمِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا، وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (٢)

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي دمومن نه علاوه د بل هيڅ سره ملګرتيا مه کوئ او ستاسو خوراک دي صرف متقيان اوخوري

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

لغات تقي. تَقى وتقيٌ وتقاءٌ د ضرب نه په معني دپرهيزګار کيدو دي

تشريح: "لاتصاحب الا مؤمنا" په پورتني حديث کي دوه اداب بيان شوي دي چي يو دهغوئ نه

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ١٢٢٢٩)

2 _ سنن ابي داود/ الأدب ١٩ (٤٨٣٢) (تحفة الأشراف: ٤٠٤٩ و ٤٣٩٩)، و مسند احمد (٣/٣٨)

دادی ملګرتیا به نه کوئ مګر دمومن سره دلته هم دیندارو سره دوستئ کولو ته ترغیب ورکړی شوی دی او دا خبرداري ورکړی شوي ده دچاچي ددين سره تعلق نه وي نو دداسي خلقو د دوستئ نه ځان اوساتئ

"ولايأكل طعامك الا تقي" يعني ستا خوراك دي اونه خوري مګر نيك خلق ددي حديث مضمون په ډيرو روايتونو کې راغلی دی علماؤ ليکلي دي چي دلته دخوراك ورکولو نه مراد دتقريب او دعوت خوراك مراد دی ورنه دضرورت په وخت کې په کافر باندي خوراك کول هم جائز دي لکه چي په قران کريم کې وارد دي "ويطعمون الطعام علي حبه مسكينا ويتيما واسيرا" مفسرين وائي په دي ايت کې چي دکوم قيدي ذکر دی هغه کافر وو او دولړي نه دبچ کولو دپاره کافر ته خوراك ورکول هم جائز دي، په يو بل روايت کې راغلي دي چي يوي بدکرداره ښځي يو سپی ته اوبه ورکړي وي او هم ددغه سپي په وجه الله تعالي ورته مغفرت وکړو علماء وائي چي په متقيانو خوراك کول په نيکئ او اطاعت کې اعانت کول دي او په فاسقانو خوراك کول په ګناه کې اعانت کول دي.

****

٥٧_باب مَا جَاءَ فِي الصَّبْرِ عَلَى الْبَلَاءِ

په مصيبت دصبر کولو بيان

٢٣٩٦_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدِهِ الخَيْرَ عَجَّلَ لَهُ العُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا، وَإِذَا أَرَادَ اللهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ حَتَّى يُوَافِيَ بِهِ يَوْمَ القِيَامَةِ".[1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه روايت دی فرمائي : رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي، الله تعالي چي دخپل بنده سره دښيګړی اراده اوکړي نو هغه ته دغلطيو سزا په دنيا کې سمدستي ورکړي او چي کوم بنده سره سختي کول غواړي دګناهونو په سزا ورکولو کې يې تاخير کوي تردی چي دقيامت په ورځ پوره سزا ورکړي.

لغات: عجَل عجل عجلا وعجلة دسمع نه په معني جلتي کولو دي لکه چي وئيلي شي عجل به اليه يعني ديو کار نه يي بل کار ته جلتي وکړله په جديد لغت کې مستعجل په معني دارجنټ او هنګامي حالت دي

1. تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٢٩)

العقوبة: العقاب والمعاقبة په معني بدلي ورکولو دي دبدی
امسك امسك امساکا په معني دمنع کولو دي د کرم نه مسك مساکة يعني دمشکيزي نه اوبه بهيدلو ته نه پريښودل ، دضرب او نصر نه مسکا په معني دانختلو او متعلق کلي يدلو دي
عظم عظم عظاما وعظامة د کرم نه په معني دلونيدو دي
سخط سخط سخطا په معني دغصه کيدو دي
تشريح هر کله چي دالله تعالي دطرف نه ازمانش راخي نو توبه او استغفار ونيل پکار دي لکه چي ارشاد نبوي دی "اذا اراد الله بعبده الخير" يعني کله چي الله تعالي خپل بنده ته دخير ورکولو اراده اوکړي نو په دنيا کې په هغه باندي مصيبتونه راولي
په دي حديث کې دهر مومن دپاره يو سبق دی چي هر کله دی په کوم مصيبت يابيماری کې مبتلا شي نو ده لره پکار دي چي فورا دخپلو شپي او ورځو اعمالو جائزه واخلي که چرې کومه گناه ورنه شوي وي نو فورا دي استغفار اووائي او توبه دي اوباسي او که دچا حق يي برباد کړی وي نو زر ترزره دي دهغه بدله ادا کړي.
اوځوك چي دازمانش په وخت کې په جزع او فزع کې مبتلا وي او پخپل تقدير راضي نه وي نو الله تعالي ورنه هم ناراضه کيږي تقدير خو ددينه مخکې مرتب شوی وي نو په دي وجه په دي باندي راضي کيدل پکار دي .

****

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ عِظَمَ الجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ البَلَاءِ، وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا، وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السَّخَطُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ. [1]

ترجمه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي چي داجر زياتيدل د تکليف زياتوالي سره دی او رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دالله تعالي چي چاسره مينه وي تکليف پري راولي نو ځوك چي دا تکليف برداشت کړي الله تعالي تری راضي شي او ځوك چي ورباندي خفه شي الله ورته په غضب شي
امام ترمذي وايي. دا حديث حسن غريب دي

****

٢٣٩٧ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الأَعْمَشِ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٢٩)

وَائِلٍ يَقُولُ: قَالَتْ عَائِشَةُ: "مَا رَأَيْتُ الوَجَعَ عَلَى أَحَدٍ أَشَدَّ مِنْهُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم د درد نه زيات شديد درد ما په بل چا باندي نه دي ليدلي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٢٣٩٨ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ بَهْدَلَةَ. عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلاءً؟ قَالَ: "الأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الأَمْثَلُ، فَالأَمْثَلُ. فَيُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ، فَإِنْ كَانَ دِينُهُ صُلْبًا اشْتَدَّ بَلاؤُهُ، وَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ رِقَّةٌ ابْتُلِيَ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ، فَمَا يَبْرَحُ البَلاءُ بِالعَبْدِ حَتَّى يَتْرُكَهُ يَمْشِي عَلَى الأَرْضِ مَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأُخْتِ حُذَيْفَةَ بْنِ اليَمَانِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلاءً؟ قَالَ: الأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الأَمْثَلُ فَالأَمْثَلُ. [2]

ترجمه دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله د ټولو نه زيات لوي مصيبتونه په چا باندي راځي؟ نو ويي فرمائيل په انبياؤ باندي او په رسولانو باندي او بيا په هغه چا باندي څوك چي ددوئ نه په مرتبه کي په دوئ پسي متصل وي او بيا هغه څوك دي څوك چي په هغوئ پسي په ازمائښ کي وريسي وي ازمائښ په هر چا باندي دهغه ددين د استحکام مطابق کيږي که يو بنده په دين کي سخت وي نو مصيبت ورباندي هم سخت راځي او که ددين په معامله کي نرم وي نو مصيبت ورباندي هم نرم ددين په مطابق راځي او بيا مصيبت دبنده سره هميشه ورسره وي تردي پوري چي بنده په مخ دزمکه په داسي حال کي پاتي شي چي هيڅ ګناه ورباندي نه وي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوهريره. حذيفه بن يمان خور دفاطمه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم نه سوال اوکړي شو مصيبتونه په چاباندي زيات راځي نو ويي فرمائيل په انبياؤ او رسولانو باندي او

---

[1] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /المرضى ٣ (٥٦٤٦) (تحفة الأشراف: ١٦١٥٥)

[2] - سنن ابن ماجه/الفتن ٢٣ (٤٠٢٣) (تحفة الأشراف: ٣٩٣٤) . وسنن الدارمي/الرقاق ٦٧ (٢٨٢٥) . و مسند احمد (١/١٧٢، ١٧٤، ١٨٠، ١٨٥)

بيا په هغه چا څوك چي په مرتبه كي په دوئ پسي وي او بيا په هغه چا څوك چي په دوئ پسي وي

****

۲۳۹۹_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِي نَفْسِهِ وَوَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى اللَّهَ وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: هميشه په مسلمان نر او ښځه بانديی په خپل خان او اولاد او مال تكليفونه نه راځي تردی چي الله تعالي سره يی ملاقات اوشي، په داسي حال كي چي يوه گناه پري هم نه وي پاتي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: البلاء: بلاء په معني دغم دي او په معني دازمانش دي چي په خير يا شر سره وي

يلقي: لقي لقاءً ولقاءة په معني د ملاقات او استقبال كولو دي.

تشريح: ((مَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِي نفسِهِ ووَلَدِهِ وَمَالِهِ حَتَّى يَلْقَى الله تَعَالَى وَمَا عَلَيْهِ خَطِيئَةٌ)) يعني هميشه په مسلمان نر او ښځه بانديی په خپل خان او اولاد او مال تكليفونه نه راځي تردی چي الله تعالي سره يی ملاقات اوشي، په داسي حال كي چي يوه گناه پري هم نه وي پاتي.

ددي حديث مطلب دادی چي دسړي اولاد يا مال وغيره كي كمی زياتی راځي دا ازمانښ وي كه په دي باندي صبر اوكړي نو ددي په سبب يي گناهونه معاف كيږي او كه په دي باندي دالله شكر ادا كړي نو په دي صبر به ورته الله تعالي انعام وركړي نو په دي وجه كله چي په مومن داسي حالات راشي يايي په مال او دولت كي كمی راشي نو ده لره پكار نه دي چي جزع فزع او واويلا اوكړي بلكه صبر به كوي او دا به دالله تعالي دطرفه امتحان گڼري لكه چي په قران كريم كي ارشاد الهي دی"ونبلوكم بالشر والخير فتنة" (الانبياء).

وما عليه خطيئة يعني دده په ذمه څه گناه پاتي نه وي ، علماء وائي چي دصبر كولو په وجه صغيره گناهونه معاف كيږي او كبيره گناهونه خو په توبه او استغفار سره معاف كيږي

****

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۵۱۱۳)

٥٨_باب مَا جَاءَ فِي ذَهَابِ الْبَصَرِ .

د نظر د ختميدو فضيلت بيان

٢٤٠٠_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا أَبُو ظِلَالٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ يَقُولُ: " إِذَا أَخَذْتُ كَرِيمَتَيْ عَبْدِي فِي الدُّنْيَا لَمْ يَكُنْ لَهُ جَزَاءٌ عِنْدِي إِلَّا الجَنَّةَ ". وفِي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَأَبُو ظِلَالٍ اسْمُهُ: هِلَالٌ. (1)

ترجمه : د انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دي فرمايلي دي الله تعالي فرماني زه چي دخپل بنده نه دوه غوره څيزونه (يعني دوه ستركي) په دنيا كي واخلم نو ما سره دده دپاره د جنت نه علاوه بله بدله نشته

امام ترمذي وايي دا حديث حسن غريب دي ، او په دي باب كي دابوهريره او زيد بن ارقم رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

****

٢٤٠١حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: " مَنْ أَذْهَبْتُ حَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ وَاحْتَسَبَ لَمْ أَرْضَ لَهُ ثَوَابًا دُونَ الجَنَّةِ ". وفِي الباب عن عِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه : د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمايل يي چي الله تعالي فرماني زه چي دخپل بنده نه دوه غوره څيزونه (يعني دوه ستركي) واخلم اودى صبر اوكړي اود اجر اميد شروع كړي نو زه ددى په عوض كي جنت وركوم

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعرباض بن ساريه رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي اود ابو ظلال نوم هلال دى

لغات ابتليت ابتلي ، ابتلاء په چ دازمانښ كولو او يا چاته دقسم وركولو په معني دي

---

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /المرضى ، (تحفة الأشراف : ١٦٢٢)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ١٢٣٨٦) ، و مسند احمد (٢/٢٦٥)

حبيب محب ، محبوب ،عوضته عاض عوضا دنصر باب نه دي په معني دبدلي ورکولو

تشريح : ((إِذَا ابْتَلَيْتُ عبدي بحَبِيبتَيه فَصَبرَ عَوَّضتُهُ مِنهُمَا الجَنَّةَ)) په دي حديث کې د يونابينا صابر شاکر فضيلت بيان شوي دي چې د کمزورو عقيدو والايمان خراب نشي چې دا کس دزيات احترام مستحق دي دداسي کس سره بي اعتنايي کول د محرومۍ خبره ده . نابينا ته دا فضيلت ځکه ورکړي شوي دي چې دي دفاني دنيا نه پوره فانده نشي اوچتولي نو په دي وجه ده ته دالله دطرفه دا انعام ورکولي شي تردي چې دي په خپل تقدير باندي راضي شي

دسترګو په فقدان پوري ولي دا اجر مخصوص دي دا ځکه چې په انساني اعضاؤ کې دسترګې ډير لوي مقام او اهميت دي او دا کس ورنه محروم دي نو په دي سبب ده ته دا فضيلت ورکړي شوي دي ځکه چې الله تعالي جزا په قدر دمشقت ورکوي نو ځکه يې ده ته جنت ورکولو وعده کړي ده

****

٢٤٠٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، وَيُوسُفُ بْنُ مُوسَى القَطَّانُ البَغْدَادِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَغْرَاءَ أَبُو زُهَيْرٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَوَدُّ أَهْلُ العَافِيَةِ يَوْمَ القِيَامَةِ حِينَ يُعْطَى أَهْلُ البَلَاءِ الثَّوَابَ لَوْ أَنَّ جُلُودَهُمْ كَانَتْ قُرِضَتْ فِي الدُّنْيَا بِالمَقَارِيضِ». وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ بِهَذَا الإِسْنَادِ إِلَّا مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الحَدِيثَ عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ قَوْلَهُ شَيْئًا مِنْ هَذَا. [1]

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چې دقيامت په ورځ داسي خلقو ته ثواب ورکړي شي په چا باندي چې په دنيا کې ازمائش شوي وي نو اهل عافيت به دا خواهش اوکړي چې کاش په دنيا کې زمونږ څمړي په قينچيانو پرې کړي شوي وي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او دا مونږ صرف په همدي سند پيژنو ، بعضي راويانو ددي حديث څه حصه عن الاعمش عن طلحه بن مصرف عن مسروق سند سره دمسروق قول نقل کړي دي.

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٤٤٣)

****

٢٤٠٣_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَال: سَمِعْتُ أَبِي، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ أَحَدٍ يَمُوتُ إِلَّا نَدِمَ"، قَالُوا: وَمَا نَدَامَتُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "إِنْ كَانَ مُحْسِنًا نَدِمَ أَنْ لَا يَكُونَ ازْدَادَ، وَإِنْ كَانَ مُسِيئًا نَدِمَ أَنْ لَا يَكُونَ نَزَعَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَيَحْيَى بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ قَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ شُعْبَةُ، وَهُوَ يَحْيَى بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ مَدَنِيٌّ. (١)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر څوك چي مري هغه نادم او شرمنده كيږي، صحابه كرامو عرض اوكړو اي دالله رسوله دشرم او دندامت څه وجه ده؟ رسول الله اوفرمائيل كه چري دا كس نيك وي نو دي به دي خبره ندامت كوي چي زياته نيكي مي ولي نه ده كړي او كه چري بد عمله وي نو به دي خبره ندامت كوي چي مابدي دخان نه ولي نه ده ويستلي.

امام ترمذي وايي. داحديث مونږ صرف په همدي سند پيژنو او په يحي بن عبيدالله شعبه كلام كړي دي او يحي بن عبيدالله بن موهب مدني دي

****

٢٤٠٤_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَال: سَمِعْتُ أَبِي، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ رِجَالٌ يَخْتِلُونَ الدُّنْيَا بِالدِّينِ، يَلْبَسُونَ لِلنَّاسِ جُلُودَ الضَّأْنِ مِنَ اللِّينِ، أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ، وَقُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الذِّئَابِ، يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَبِي يَغْتَرُّونَ أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُونَ، فَبِي حَلَفْتُ لَأَبْعَثَنَّ عَلَى أُولَئِكَ مِنْهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الْحَلِيمَ مِنْهُمْ حَيْرَانًا". وفي الباب عن ابْنِ عُمَرَ. (٢)

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په اخره زمانه كي به بعضي داسي كسان راشي چي ددين سره به ددنيا هم طلب ګار وي هغوئ به خلقو نه دخپلي سادګئ او نرمئ خودلو دپاره د ګډو څرمني اغوستلي وي ژبي به يي دشكرو نه زياتي خوږي وي مګر زړونه به يي دشرمخانو وي الله تعالي فرمائي ايا دوئ په ما باندي دوكه

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣١٢٣)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٣١٢٢)

كيږي يا په ما باندي جرئت كوي زما دي پخپل ذات قسم وي ضرور به زه په دوئ باندي داسي ازمائش نازل كړم په كوم چي به ددوئ عقلمند انسان هم حيران پاتي شي
امام ترمذي وايي او په دي باب كي دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه هم حديث وارد دي
****

٢٤٠٥_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الدَّارِمِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبَّادٍ، أَخْبَرَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، أَخْبَرَنَا حَمْزَةُ بْنُ أَبِي مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ: "لَقَدْ خَلَقْتُ خَلْقًا أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ وَقُلُوبُهُمْ أَمَرُّ مِنَ الصَّبْرِ. فَبِي حَلَفْتُ لَأُتِيحَنَّهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الْحَلِيمَ مِنْهُمْ حَيْرَانًا، فَبِي يَغْتَرُّونَ أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُونَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي فرمائي ما يو داسي مخلوق پيدا كړي دي چي ژبي يي دشهدو نه زياتي خوږي دي مګر زړونه يي دصبر بوټي دميوي نه زيات ترخه دي زما دي پخپل ذات قسم وي چي ضرور به په دوئ کي داسي فتنه نازل کړم په کومي چي به ددوئ عقلمند هم حيران پاتي شي او دوئ بيا هم په ما باندي غرور كوي يا په ما باندي جرئت كوي؟
امام ترمذي وايي: داحديث دابن عمر په روايت حسن غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو

****

٥٩_باب مَا جَاءَ فِي حِفْظِ اللِّسَانِ
دژبي د حفاظت بيان

٢٤٠٦_حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ. ح وحَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زَحْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا النَّجَاةُ؟ قَالَ: "أَمْسِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. [2]

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨/١٢٨)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٩٢٨) . وانظر مسند احمد (٤/١٤٨) . و (٥/٢٥٩)

ترجمه عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی چي ما عرض اوکړو یا رسول الله نجات به څنګه حاصل کړم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل خپله ژبه قابو کې اوساته اوخپل کور کې ناست اوسه خلقو سره ډير ګډون مه کوه او په خپلو غلطيانو ژاړه الله تعالي نه معافي غواړه

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی

لغات النجات معني خلاصي موندل ، اود باب افعال نه خلاصي ورکول. وابك بكي يبكي بكاء دضرب نه معني ژړل او دباب افعال نه معني ژړول

تشريح: "ژبه دي په قابو کې اوساته" يعني دبي فائدي خبرو نه يي منع کړه او پخپل کور کې اوسه او دکور نه په داسي وخت کې اوځه چي کله کوم ضروري کار وي په داسي کولو سره انسان دډيرونقصانونو نه بچ کيږي.

علامه طيبي وائي په کور کې داوسيدو نه مراد عبادت کول دي، او پخپلو خطاګانو باندي دژړا مطلب دادی چي ددي په سبب به ګناه معاف شي

ډير کرته ددي ګناهونو په ځاي نيکياني وليکلي شي، ملا علي قاري وايي دګناهونو معافي غوښتل اوژړل په هرحال کې فائده لري که دګناهونو په ځاي نيکياني ملاو نه هم شي نو معاف خوبه شي

****

٢٤٠٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي الصَّهْبَاءِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَفَعَهُ، قَالَ: "إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ، فَإِنَّ الأَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ. فَتَقُولُ: اتَّقِ اللَّهَ فِينَا فَإِنَّمَا نَحْنُ بِكَ فَإِنِ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا وَإِنِ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا". [1]

ترجمه ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په بنيادم چي صبا شي نو ټول اندامونه يي ژبي ته منت زاري کوي چي زمونږ په حق کې دالله نه اوويريږه اورته مو مه اچوه ځونږ خو ستا تابع يو که ته سمه يي مونږ سم يو او که ته کږه شوی مونږبه هم کاږه شو

لغات الاعضاء جمع دعضوه ده معني اندامونه ، اتق امر دي د باب افتعال نه ، مجرد وقاية مصدر دي دضرب نه.

تشريح : امام نووي فرمائي دتکفر اللسان مطلب دی ژبي ته په عاجزئ اومنت زارئ خواست

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٠٢٧)

اوكړي
دحديث مطلب دادی که دچا ژبه صحيح وي نو تمام جسم به يي صحيح وي او که دچا ژبه غلطه شي نو بيا دا په تمام جسم باندي زور وراچوي
ديوسوال جواب
سوال په بل حديث کې خو دا دتمام جسماني دارومدار ګرخولی شوی دی چي که زړه صحيح وي نو ټول جسم به صحيح وي او که زړه فاسد شي نو ټول اعضاء به فاسد شي لکه چي په يو روايت کې دي "ان في الجسد مضعة ان صلحت صلح الجسد كله واذا فسدت فسد الجسد كله الا وهي القلب الا وهي القلب الا وهي القلب: په جسم کې دغوښي يود ټکړه ده که دا درسته وي نو ټول جسم به درست وي او که دا فاسده شي نو ټول جسم به فاسد شي واورئ هغه زړه دی. واورئ هغه زړه دی، واورئ هغه زړه دی.
جواب اصل بادشاه خو زړه دی ليکن ددي زړه ترجمان او خليفه ژبه ده په زړه کې چي څه راځي ژبه يي بيانوي نو چي زړه صالح يا فاسد شي نو ژبه ورسره هم صالح يا فاسده کيږي او بيا ټول جسم ددي تابع شي انسان ددي دواړو دجمموعي نوم دی لکه چي ونيلی شوي دي لسان الفتى نصف ونصف فواده، يعني نيم انسان ژبه ده او نيم يي زړه دی او باقي اعضاء ددي تابع دي
****

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ. عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ. نَحْوَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ مُوسَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ. وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ. عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ. وَلَمْ يَرْفَعُوهُ. [1]

ترجمه ابواسامه هم دحماد بن زيد نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي مګر مرفوع يي نه دي بيان کړي اودا حديث دمحمد بن عيسي دحديث نه زيات صحيح دي
امام ترمذي وايي داحديث مونږ ته دحماد بن زيد دسند نه علاوه په بل سند نه دي معلوم او دحماد بن زيد نه متعددو راويانو نقل کړي دي مګر مرفوع يي نه دي ذکر کړي.
****

حَدَّثَنَا صَالِحُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ. عَنْ أَبِي الصَّهْبَاءِ. عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ. عَنْ أَبِي

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٠٢٤)

Scanned with

سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، قَالَ: أَحْسِبُهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَذَكَرَ نَحْوَهُ. [1]

ترجمه سعيد بن جبير دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت نقل كړي دي زما خيال دي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه يي نقل كړو او باقي حديث يي دماقبل هم معني ذكر كړو.

****

٢٤٠٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ يَتَكَفَّلُ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ، وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ، أَتَكَفَّلُ لَهُ بِالجَنَّةِ". وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَهْلٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ. [2]

ترجمه : ابو سعيد رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي ماته د دواړو ژامو ترمينځه او دواړو ښپو ترمينځه شرمګاه دحفاظت ذمه واري راكړي زه يې دجنت ضامن يم.

امام ترمذي وايي: په دي باب كي د ابو هريره او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او دا حديث د سهل بن سعد په سند حسن صحيح غريب دی.

لغات . يضمن ضمن يضمن ضمنا معني ضامن كيدل رِجل معني پيدل ، رَجل معني سړي.

تشريح: ددي روايت مفهوم دادی چي څوك په دي خبرو عهد اوكړي او بيا خپل عهد پوره كړي چي خپله ژبه دفحش خبرو او بدكلامئ او حرامو خوړلو نه اوساتي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ددي خبري ضمانت وركوي چي دی به دهغه كسانو دجملي نه وي څوك چي به ابتدائي نجات يافته وي او جنت ته به داخل شي.

علماء وايي چي دا ضمانت درسول الله دالله دطرفه دي په طور دشفقت دا ضمانت اخستلي شوي دي

****

٢٤٠٩_حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ وَقَاهُ اللَّهُ شَرَّ مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَشَرَّ مَا بَيْنَ

1 انظر رقم ٢٣٠٤

2 اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٢٣ (٦٤٧٤) . والحدود ١٩ (٦٨٠٧) (تحفة الأشراف : ٤٧٣٦)

رِجْلَيْهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: أَبُو حَازِمٍ الَّذِي رَوَى عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ اسْمُهُ: سَلْمَانُ مَوْلَى عَزَّةَ الْأَشْجَعِيَّةِ وَهُوَ كُوفِيٌّ. وَأَبُو حَازِمٍ الَّذِي رَوَى عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ هُوَ أَبُو حَازِمٍ الزَّاهِدُ مَدَنِيٌّ وَاسْمُهُ: سَلَمَةُ بْنُ دِينَارٍ، وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دځوك چي الله تعالي د دواړو ژامو ترمينځه دشر نه او ددواړو ښپو ترمينځه شرمګاه دشر نه بچ کړو هغه جنتي دى.

امام ترمذي وايي کوم ابوحازم چي دابو هريره نه نقل درروايت کوي دهغه نوم سلمان دي چي داشجعي قبيلي ازاد کړي غلام دي او دکوفي اوسيدونکي دي او کوم ابو حازم چي دسهل بن سعد نه نقل درروايت کوي هغه په ابوحازم الزاهد مشهور دي او دمديني اوسيدونکي دي او نوم يي سلمه بن دينار دي او دا حديث حسن غريب دي.

لغات : وقاه :وقاية دضرب نه معني حفاظت کول، محفوظ کيدل ، شر اسم جمع دي جمع يي اشرار راځي دهر بد شي دپاره ددي لفظ استعمال کيږي

تشريح: "مابين لحييه" يعني ددوه جامو په مينځ کې ددينه مراد ژبه ده چي انسان خپله ژبه په قابو کې اوساتي لغوه او فحش او سختي خبري او دچا زړه ازارولو خبري وغيره اونکړي.

شرمابين رجليه. او دشر دهغه ځه نه چي په خپو کې وي يعني شرمګاه دشرمګاه دحفاظت نه مراد دزنا نه ځان ساتل دي او يا دداسي ګناه نه کومي نه چي شريعت منع صادر کړي وي جهنم ته تلل به ددي دوه ځيزونو په وجه زيات کيږي نو ځوك چي دا دواړه په قبضه کې اوساتي او دشريعت مطابق يي استعمال کړي نو همدا دوه ځيزونه به دوئ لره جنت ته اورسوي

****

٢٤١٠ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَاعِزٍ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ حَدِّثْنِي بِأَمْرٍ أَعْتَصِمُ بِهِ، قَالَ: " قُلْ رَبِّيَ اللهُ ثُمَّ اسْتَقِمْ ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ فَأَخَذَ بِلِسَانِ نَفْسِهِ، ثُمَّ قَالَ: هَذَا، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٢٢٩)

عَبْدِ اللَّهِ الثَّقَفِيِّ. (1)

ترجمه سفيان بن عبدالله نه روايت دى چي ما عرض اوکړو يا رسول الله داسى يو کار راته اوښايئ چي زه ورباندې کلك اودريږم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ووايه زما رب الله دى اوبيا پرې مضبوط اودريږه ما عرض اوکړو يا رسول الله ما دپاره کوم شى ډير خطرناك دى رسول الله صلي الله عليه وسلم خپلې ژبې مبارکې ته اشاره اوکړه چي "دا"

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دى اود سفيان بن عبد الله نه ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دى

لغات : اعتصم: اعتصام مصدر دي دباب افعال نه په معني دمضبوط نيولو اود باب ضرب نه په معني دمحفوظ کولو دي، استقم : استقامة دباب استفعال نه مصدر دي او مجرد يي دنصر نه معني ودريدل

تشريح : ددي روايت مفهوم په قران کريم کښ هم راغلى دى ارشاد الهي دى "فاستقم كما امرت" اوهمدارنگي په بل مقام کښ راغلي دي "ثم استقاموا تتنزل عليهم الملئكة ان لا تخافوا ولا تحزنوا".

دعمر فاروق رضي الله عنه بيان دى چي داستقامت مطلب دادى چي تاسو دالله تعالي په احکامو اوامرو او نواهيو باندي کلك شئ او اخوا ديخوا نه تختئ دعلي او عبدالله بن عباس رضي الله عنهم نه روايت دى چي استقامت دفرضو ادا کولو ته وئيلى شي حسن بصري وائي داستقامت مطلب دادى چي ته په تمامو اعمالو کښ دالله اطاعت اوکړي او دمعصيت نه يي خان اوساتي

علماء واني چي استقامت يي مختصر لفظ دى مگر تمام شرائع اسلاميه لره جامع دى.

****

٦٠_ باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يو بل باب

٢٤١١_ حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ اللَّهِ مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي ثَلْجٍ الْبَغْدَادِيُّ صَاحِبُ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حَفْصٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَاطِبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ

---

[1] صحيح مسلم/الإيمان ١٣ (٣٨) . سنن ابن ماجه/الفتن ١٢ (٣٩٧٢) (تحفة الأشراف : ٤٤٤٨) . و مسند احمد (٣/٤١٣)

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُكْثِرُوا الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ فَإِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللَّهِ قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ، وَإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللَّهِ الْقَلْبُ الْقَاسِي". (١)

ترجمه دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي دذکر نه علاوه نوری خبری ډيری مه کوئ ځکه چي دذکر نه علاوه نوری ډيری خبری زړه سختوي اوسخت زړي بنديان دالله جل جلاله درحمت نه ډير لری وي.

لغات القسوة: په معني دسخت قسي يقسي قسوة دنصر او ضرب نه په معني دسخت زړي کيدو، ابعد: معني لري کيدل

تشريح: ددي روايت مطلب دادی څوك چي دنياوي خبري زياتي کوي نو دده زړه به سخت شي او دا به دده دزړه دسختوالي علامه وي چي دهيڅ قسم خبري نه به عبرت نه اخلي او هيڅ اثر به نه قبلوي او دا دانسان دانتهائي بدبختئ علامه ده لهذا انسان لره پکار دي چي دالله ذکر په کثرت سره کوي ترڅو چي دا کيفيت پيدا نشي.

****

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي النَّضْرِ، حَدَّثَنِي أَبُو النَّضْرِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَاطِبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَاطِبٍ. (٢)

ترجمه: عبدالله بن دينار دابن عمر رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل هم معني روايت نقل کړي دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او دابراهيم بن عبدالله بن حاطب دسند نه علاوه په بل سند مونږ ته معلوم نه دي.

****

٦١_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤١٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ بْنِ خُنَيْسٍ الْمَكِّيُّ، قَالَ:

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٧١٢٣)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٧١٢٣)

سَمِعْتُ سَعِيدَ بْنَ حَسَّانَ الْمَخْزُومِيَّ، قَالَ: حَدَّثَتْنِي أُمُّ صَالِحٍ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "كُلُّ كَلَامِ ابْنِ آدَمَ عَلَيْهِ لَا لَهُ، إِلَّا أَمْرٌ بِمَعْرُوفٍ، أَوْ نَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ، أَوْ ذِكْرُ اللهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ خُنَيْسٍ. ([1])

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دانسان تولي خبري دده دپاره داوبال سبب گرخي او دده دپاره دليل او دفائدي څيز نه گرخي مگر هغه څوك چي حكم كوي په نيكئ باندي او منع كول كوي دبدئ نه او يا دالله ذكر كوي (يعني ددينه علاوه په بل قسم خبرو كولو باندي چاته كوم اجر نه ملاويږي)
امام ترمذي وايي. داحديث حسن غريب دي او دمحمد بن يزيد بن خنيس دسند نه علاوه په بل سند مونږ ته نه دي معلوم.

****

٢٤١٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْعُمَيْسِ، عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "آخَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ سَلْمَانَ وَبَيْنَ أَبِي الدَّرْدَاءِ فَزَارَ سَلْمَانُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَرَأَى أُمَّ الدَّرْدَاءِ مُتَبَذِّلَةً، فَقَالَ: مَا شَأْنُكِ مُتَبَذِّلَةً؟ قَالَتْ: إِنَّ أَخَاكَ أَبَا الدَّرْدَاءِ لَيْسَ لَهُ حَاجَةٌ فِي الدُّنْيَا، قَالَ: فَلَمَّا جَاءَ أَبُو الدَّرْدَاءِ قَرَّبَ إِلَيْهِ طَعَامًا، فَقَالَ: كُلْ فَإِنِّي صَائِمٌ، قَالَ: مَا أَنَا بِآكِلٍ حَتَّى تَأْكُلَ، قَالَ: فَأَكَلَ، فَلَمَّا كَانَ اللَّيْلُ ذَهَبَ أَبُو الدَّرْدَاءِ لِيَقُومَ، فَقَالَ لَهُ سَلْمَانُ: نَمْ، فَنَامَ، ثُمَّ ذَهَبَ يَقُومُ، فَقَالَ لَهُ: نَمْ، فَنَامَ، فَلَمَّا كَانَ عِنْدَ الصُّبْحِ قَالَ لَهُ سَلْمَانُ: قُمِ الْآنَ فَقَامَا فَصَلَّيَا، فَقَالَ: "إِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَلِرَبِّكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَلِضَيْفِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَإِنَّ لِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، فَأَعْطِ كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ"، فَأَتَيَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَا ذَلِكَ فَقَالَ لَهُ: صَدَقَ سَلْمَانُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الْعُمَيْسِ اسْمُهُ: عُتْبَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، وَهُوَ أَخُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمَسْعُودِيِّ. ([2])

ترجمه ابوجحيفه وهب بن عبدالله رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسلمان او ابو الدرداء رضي الله عنه تر مينځه رورولي قائمه كړي وه يوه ورځ سلمان

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/الفتن ١٢ (٣٩٧٤) (تحفة الأشراف: ١٥٨٧٤)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع /الصوم ٥ (١٩٦٨)، والأدب ٨٦ (٦١٣٩) (تحفة الأشراف: ١١٨١٥)

رضي الله عنه د ابوالدرداء رضي الله عنه ملاقات ته ورغلو نو دهغه بی بی یي په خیرنو جامو کې ولیده ورته یی اوونیل تابانديي څه چل دی (په داسي خراب حالت کې یي) هغې ورته اوونیل ستا ورور ابوالدرداء ددنیا هیڅ څیز سره تعلق نه ساتي (شپه او ورځ په عبادت کې مشغول وي) بیا ابوالدرداء رضي الله عنه راغلو سلمان رضي الله عنه ته یي خوراك مخکې کیخودو، ورته یي اوونیل ته خوره او زما روژه ده. سلمان ورته اوونیل زه نه خورم تر څو چي ته راسره اونه خوري نو هغه هم ورسره شریك شو (نفلي روژه وه دمیلمه ورور دخاطره یي ماته کړه) بیا چي شپه شوه نو هغه مانځه ته پاڅیدو سلمان رضي الله عنه ورته اوونیل اوده شه نو اوده شو. بیا چي شپه اخره شوه نو سلمان ورته اوونیل اوس پاڅه. نو دواړو په یو خاي مونځ اوکړو بیا ورته سلمان رضي الله عنه اوونیل او ستادنفس په تا حق دی. دستا درب په تا حق دی ، او ستا دمیلمه په تا باندي حق دي، او ستادکور والا په تا حق دی، هر حقدار ته خپل حق اورسوه سحر بیا دواړه د رسول الله صلي الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شول او دا ټول حال یی ورته بیان کړو، رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل سلمان رښتیا وئیلي دي

امام ترمذي وايي داحدیث صحیح دي او دابو العمیس نوم عتبه بن عبیدالله دي اوعتبه د عبدالرحمن بن عبدالله مسعودي ورور دي.

لغات اخيٰ اخيٰ مواخاة دمفاعلي نه په معني د ورور ولئ کولو دي.

متبذلة تبذل تبذلا دتفعل نه په معني د روزانه استعمال کپړي.

تشریح اخي النبي صلي الله علیه وسلم بین سلمان وابي الدرداء ، یعني رسول الله صلي الله علیه وسلم د ابو الدرداء او سلمان فارسي رضي الله عنهما په مینځ کې روزولي قائمه کړي وه، یعني مدیني ته دهجرت کولو نه پس رسول الله دیو مهاجر او یو انصاري په مینځ کې روز ولي قائمه کړي وه.

ام الدرداء متبذلة. یعني دام الدرداء کپړي خیرني وي ، مطلب دادي چي دزینت دکپړو په خاي ام الدرداء خیرني کپړي اغوستلي وي

ماشانك ؟ یعني ستا څه حال دی په یو بل روایت کې ماشانك متبذلة الفاظ راغلي دي یعني جامي دي ولي خیرني دي ددینه معلومیږي چي په قدر دضرورت دغیر محرم سره دخبرو کولو گنجائش شته

لیس له حاجة في الدنیا، او په بل روایت کې لیس له حاجة في نساء الدنیا . الفاظ راغلي دي، او په یو روایت کې ورسره دا الفاظ هم راغلي دي چي ام الدرداء ووئیل یصوم النهار ویصلي اللیل.

فاکل، یعني ابو الدرداء روژه ماته کړه، او خوراك یي وکړو. مسئله داده چي دمیلمه دپاره نفلي روژه ماتول جائز دي، خو وروسته یي قضا ضروري ده.

قال سلمان قم الان فصليا سلمان رضي الله عنه اوونيل پاځه مونځ اوکړه، په بل روايت کې راغلي دي فقاما فتوضا ثم ركعا ثم خرجا الي الصلاة.

لاهلك عليك حقا. يعني ستا دښځي هم په تاباندي حق دي، په يو روايت کې داسې دي چې ولضيفك عليك حقا ، په بعضي رواياتو کې دا الفاظ راغلي دي فصم وافطر وصل وات اهلك.

صدق سلمان يعني سلمان رښتيا اوونيل او په يو بل روايت کې سلمان افقه منك الفاظ راغلي دي يعني سلمان ستانه زيات فقيه دی او په يو روايت کې داسې دي فقال رسول الله صلي الله عله وسلم مثل ماقال سلمان.

****

٦٢ـ باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤١٤ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عَبْدِ الْوَهَّابِ بْنِ الْوَرْدِ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، قَالَ: كَتَبَ مُعَاوِيَةُ إِلَى عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا. أَنِ اكْتُبِي إِلَيَّ كِتَابًا تُوصِينِي فِيهِ وَلَا تُكْثِرِي عَلَيَّ، فَكَتَبَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا إِلَى مُعَاوِيَةَ سَلَامٌ عَلَيْكَ. أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَنِ الْتَمَسَ رِضَاءَ اللهِ بِسَخَطِ النَّاسِ كَفَاهُ اللهُ مُؤْنَةَ النَّاسِ، وَمَنِ الْتَمَسَ رِضَاءِ النَّاسِ بِسَخَطِ اللهِ وَكَلَهُ اللهُ إِلَى النَّاسِ، وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ". [1]

ترجمه دعبدالوهاب بن ورد بيان دي چې دمديني ديوكس نه مي واوريدل معاويه رضي الله عنه ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها ته اوليکل ددعا او سلام نه پس تاته دي دا معلومه وي چې ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي څوك چې دخلقو په خفګان ختمولو کې دالله تعالي رضا لټوي نو دخلقو د طرفه رسيدلو تکليفونو کې به الله تعالي دده دپاره کافي وي او څوك چې دالله په ناراضه کولو کې دخلقو رضا لټوي نو الله تعالي به همدا خلق ده ته دتکليف رسولو دپاره مقرر کړي ؛والسلام عليك، يعني دالله دطرفه دي په تاباندي سلامتي نازل شي،

****

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ـ ١٦٨١٥)

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا كَتَبَتْ إِلَى مُعَاوِيَةَ فَذَكَرَ الحَدِيثَ بِمَعْنَاهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. ([1])

ترجمه هشام بن عروه دخپل پلار نه روايت كوي چي ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها معاويه رضي الله عنه ته اوليكل او باقي حديث يي دماقبل هم معني بيان كړو او مرفوع يي ذكر نكړو

****

كتاب صفة القيامة والرقائق والورع (عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

دقيامت دحالاتو، او دزړه درقت او پرهيزګارئ بيان

١ـ باب في القِيَامَةِ

دقيامت دحالاتو او اوصافو بيان

٢٤١٥ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا مِنْكُمْ مِنْ رَجُلٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ، فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلَا يَرَى شَيْئًا إِلَّا شَيْئًا قَدَّمَهُ، ثُمَّ يَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى شَيْئًا إِلَّا شَيْئًا قَدَّمَهُ، ثُمَّ يَنْظُرُ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَتَسْتَقْبِلُهُ النَّارُ ". قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَقِيَ وَجْهَهُ حَرَّ النَّارِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ فَلْيَفْعَلْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دعدي بن حاتم رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو كي هيڅوك داسي نشته مګر دهغه رب به دده سره دقيامت په ورځ خبري كوي او ددواړو په مينځ كي به ترجمان نه وي هر څوك چي خپل ښي طرف ته اوګوري نو دخپل عمل نه علاوه به ورته هيڅ نه ښكاري بيا چي كس طرف ته اوګوري نو دخپل عمل نه علاوه به نور هيڅ نه ويني بيا به مخامخ اوګوري نو جهنم به ورته ښكاره شي رسول الله صلي الله عليه وسلم

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٦٩٣٠)

[2] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٤٩ (٦٥٣٩) . والتوحيد ٣٢ (٧٤٤٣) . و٣٦ (٧٥١٢) . صحيح مسلم/الزكاة ٢٠ (١٠١٦) . سنن ابن ماجه/المقدمة ١٣ (١٨٥) . والزكاة ٢٨ (١٨٤٣) (تحفة الأشراف : ٩٨٥٢) . ومسند احمد (٢/٢٥٦)

اوفرمائيل په تاسو کي چي څوك دجهنم دګرمۍ نه خپل مخ بچ کول غواړي هغه دپاره داسي کول پکار دي چي ديوي کجوري د يوي توکړي په ذريعه ولي نه وي خو خان دي دجهنم نه بچ کړي
امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي

****

حَدَّثَنَا أَبُو السَّائِبِ. حَدَّثَنَا وَكِيعٌ يَوْمًا بِهَذَا الحَدِيثِ. عَنِ الأَعْمَشِ. فَلَمَّا فَرَغَ وَكِيعٌ مِنْ هَذَا الحَدِيثِ. قَالَ: مَنْ كَانَ هَا هُنَا مِنْ أَهْلِ خُرَاسَانَ فَلْيَحْتَسِبْ فِي إِظْهَارِ هَذَا الحَدِيثِ بِخُرَاسَانَ. لِأَنَّ الجَهْمِيَّةَ يُنْكِرُونَ . هَذَا حديث صحيح . واسْمُ أَبِي السَّائِبِ سَلْمُ بْنُ جُنَادَةَ بْنِ سَلْمِ بْنِ خَالِدِ بْنِ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ الكُوفِيُّ. (١)

ترجمه دابوسائب بيان دي چي وكيع يوه ورځ دا حديث مونږ ته داعمش نه بيان کړو کله چي فارغ شو نو ويې وئيل کچرته دخراسان څوك اوسيدونکي دلته موجود وي نو هغه دي دا حديث خراسان والاته بيان کړي او ثواب دي حاصل کړي.
امام ترمذي وايي: داځکه چي جهميه ددي خبري نه انکار کوي، او دا حديث حسن صحيح دي.

****

٢٤١٦ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ. حَدَّثَنَا حُصَيْنُ بْنُ نُمَيْرٍ أَبُو مِحْصَنٍ. حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ قَيْسٍ الرَّحَبِيُّ. حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ. عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا تَزُولُ قَدَمَا ابْنِ آدَمَ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عِنْدِ رَبِّهِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ: عَنْ عُمُرِهِ فِيمَ أَفْنَاهُ، وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ، وَمَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ، وَفِيمَ أَنْفَقَهُ، وَمَاذَا عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الحُسَيْنِ بْنِ قَيْسٍ، وَحُسَيْنُ بْنُ قَيْسٍ يُضَعَّفُ فِي الحَدِيثِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. وفي الباب عن أَبِي بَرْزَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ. (٢)

ترجمه د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم

---

1 تفرد به المؤلف

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٣٣٦)

اوفرمائيل چي دقيامت په ورځ به بنده تر هغې وخته پورې دځپل ځايې نه اونه خوزي تر څوچي ترينه پنځه تپوسونه اونکړی شي چي کوم ژوند ورته ملاؤ شوی وو هغه يې په څه کار کې خرچ کړو؟ او چي کومه ځواني ورته ورکړې شوې وه هغه په څه کې زړه کړه، او کوم مال چي ورسره وو هغه يې څنګه ګټلی وو ، ، او چرته يې خرچ کړو؟، او کوم علم چي ورته حاصل وو هغه يې چرته صرف کړو

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي او دا مونږ ته دابن مسعود په روايت دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه صرف دحسين بن قيس په سند رارسيدلی دي او حسين بن قيس دحافظې په اعتبار ضعيف دي، په دې باب کې دابو برزه ، ابو سعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات : ابلاه: ابلي فلان عذره يعني دچا په وړاندې يې عذر پيش کړواو همدارنګې عذر قبلولو ته هم ونيلي شي، مثلا دملامتيا دختمولو دپاره عذر بيانول.

تشريح : په پورتني حديث کې ددنيوي زندګۍ بې قدري بيانولی شي چي دقيامت په ورځ به ددې زندګۍ دمختلفو حالاتو په باره کې تپوس کولی شي اولنی سوال به دعمر په باره کې کيږي، چي د ژوند هره يوه لمحه قيمتي ده چي دادې دالله په اطاعت کې تيره کړې ده اوکه په نافرمانۍ کې ، همدا مضمون په قران کريم کې په دې الفاظو بيان شوی دي.

افحسبتم انما خلقنا کم عبثاوانکم الينالا ترجعون. ايا تاسو دا ګمان کوئ چي مونږ تاسو عبث پيدا کړي يئ چي تاسو به مونږ ته واپس رانشئ.

په يو بل روايت کې دعمر سره دځوانۍ باره کې ورسره جدا سوال دي

ذويم سوال به دځوانۍ په باره کې کيږي

او دريم سوال به دمال په باره کې کيږي چي چرته دي ګټلی وو او په څه کې دي خرچ کړی وو يعني حلال مال دی حاصل کړی او که حرام او که حلال مال دي حاصل کړی وي نو بيابه درنه تپوس اوکړی شي چي په حلال کار کې دي خرچ کړی دی او که په حرام کار کښې

په حرامو ذرائعو مال حاصلولو باره کې په احاديثو کې ډير وعيدونه راغلي دي . مثلا په يو روايت کې راځي چي په ناجائزه طريقه حاصل شوي مال نه صدقه نه قبليږي او که خرچ کوي يې نو برکت به پکې نه وي او که په ترکه کې يې پريږدي نو دابه دده دپاره په جهنم کې ذخيره کړی شي.

او څلورم تپوس به دعلم په باره کې کيږي منقول دي چي ابو الدرداء رضي الله عنه يوه ورځ عويمرته اوفرمائيل اې عويمر! دقيامت په ورځ به ستا څه حالت وي چي تپوس درنه اوکړی شي چي ته عالم يې او که جاهل يې که ته جواب ورکوې چي عالم يم نو بيا خو به درنه تپوس کيږي

چي پخپل علم دي څومره عمل کړی دی او که جواب دي ورکړو چي جاهل يم نو تپوس به درنه کيږي چي جاهل ولي پاتي شوی يې او علم دي ولي نه دی حاصل کړی

****

٢٤١٧ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا الأَسْوَدُ بْنُ عَامِرٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ، وَعَنْ عِلْمِهِ فِيمَ فَعَلَ، وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ، وَعَنْ جِسْمِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَسَعِيدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جُرَيْجٍ هُوَ بَصْرِيٌّ وَهُوَ مَوْلَى أَبِي بَرْزَةَ. وَأَبُو بَرْزَةَ اسْمُهُ: نَضْلَةُ بْنُ عُبَيْدٍ. ([1])

ترجمه : ابو برزه نضله بن عبيد اسلمي رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دقيامت په ورځ به بنده تر هغی وخته پوری دځپل ځايی نه اونه خوزي تر څوچي ورنه دا تپوس اونکړی شي چي هغه ته کوم ژوند ملاؤ شوی دی هغه يی په څه کار کي خرچ کړو، او کوم علم چي ورته حاصل وو هغه يی چرته صرف کړو، او کوم مال چي ورسره و هغه يی څنګه ګټلی وو ،، او چرته يی خرچ کړو، او کوم بدن چي ورکړی شوی وو هغه يی په کومو کارونو کي زوړ کړو (ترمذي) امام ترمذي ونيلي دي چي ذا حديث حسن صحيح دی

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي، سعيد بن عبدالله بن جريج دبصري اوسيدونکي دي او دابو برزه ازاد کړي غلام دي او دابو برزه نوم نضله بن عبيد دي

****

٢ـ باب مَا جَاءَ فِي شَأْنِ الْحِسَابِ وَالْقِصَاصِ

دقيامت په ورځ دحساب او قصاص بيان

٢٤١٨ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ؟" قَالُوا: الْمُفْلِسُ فِينَا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمُفْلِسُ مِنْ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٥٩٤)

أُمَّتِي مَنْ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاتِهِ وَصِيَامِهِ وَزَكَاتِهِ، وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا وَأَكَلَ مَالَ هَذَا وَسَفَكَ دَمَ هَذَا وَضَرَبَ هَذَا، فَيَقْعُدُ فَيَقْتَصُّ هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ. فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْتَصَّ مَا عَلَيْهِ مِنَ الْخَطَايَا أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاسو ته پته ده چي مفلس څوك دی؟ صحابو عرض اوكړو چا سره چي روپۍ پيسې او مال او اسباب نه وي مونږ هغه ته مفلس وايو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمايل چي خما دامت مفلس غريب به هغه څوك وي چي دقيامت په ورځ به مونځ، روژه زكوة وغيره ټول اعمال صالح راوړي خو په دنيا كې به يې چاته كنځل كړي وي، چا باندي به يې تهمت لګولی وي، دچا مال به يې په ظلم سره خوړلی وي او څوك به ناحقه وژلی وي او څوك به يې وهلی وي نو دده نيكۍ به دي ټولو مظلومانو ته وركولی شي، بيا چي كه دده نيكۍ ختمې شي او دحقونو بدله لاپوره نه وي نو دحقدارو بدۍ او ګناهونه به دده په كاته كې اچولی شي او بيا به هغه دوزخ ته حواله كړی شي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات شتم شتم شتما د ضرب او نصر نه په معني دكنځلو كولو.
قذف قذف قذفا دضرب نه په معني دتهمت لګولو.
طرح: طرح طرحا دفتح نه په معني د غورځولو.

تشريح: ان من امتي من ياتي يوم القيامة. يعني زما په امت كې مفلس هغه څوك دي چي رابشي په ورځ دقيامت مونځ او روژه راوړي، ددينه معلومه شوه چي دمونځ او روژي او زكواة ادا كولو سره سره داخلاقو اهتمام كول هم ضروريي دي او د معاملاتو اصلاح هم ضروري ده صرف په عباداتو دقيامت په ورځ نجات موندل مشكل دي او همدارنګي ددي عكس هم دي يعني څوك صرف داخلاقوخيال ساتي او احياء كوي او عبادات نه كوي نو دا هم دنجات دپاره كافي نه دي (روضة الصالحين)

****

٢٤١٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَنَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكُوفِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ، عَنْ أَبِي خَالِدٍ يَزِيدَ بْنِ

1 مسلم/البر والصلة ١٥ (٢٥٨١) (تحفة الأشراف: ١٣٠٤٣)، واحمد (٢/٣٠٣، ٣٣٤، ٣٧٢)

عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَحِمَ اللَّهُ عَبْدًا كَانَتْ لِأَخِيهِ عِنْدَهُ مَظْلَمَةٌ فِي عِرْضٍ أَوْ مَالٍ فَجَاءَهُ فَاسْتَحَلَّهُ قَبْلَ أَنْ يُؤْخَذَ، وَلَيْسَ ثَمَّ دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ فَإِنْ كَانَتْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ حَمَّلُوا عَلَيْهِ مِنْ سَيِّئَاتِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، وَقَدْ رَوَاهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي الله تعالي دي په داسي بنده رحم اوکړي په چا باندي چي دده د يو ورور دعزت يا په مال کي کومه بدله باقي وي او بيا هغه دمرګ نه مخکي مخکي ده ته راشي او په دنيا کي ورباندي دا معاف کړي خکه چي دقيامت په ورځ خو به نه دده سره دينار وي او نه به درهم وي بيا که دظالم سره څه نيکياني وي نو دده نيکياني به هغه ته دظلم په بدله کي ورکړي شي او که نيکياني ورسره هم باقي نه وي نو دمظلومانو ګناهونه به ددي ظالم په سر واچولي شي.

امام ترمذي وايي: دا حديث دسعيد مقبري په روايت حسن صحيح غريب دي، مالك بن انس، عن سعيد المقبري عن ابي هريره عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره ددي هم معني روايت نقل کړي دي.

****

٢٤٢٠ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقُ إِلَى أَهْلِهَا حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ". وفي الباب عن أَبِي ذَرٍّ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُنَيْسٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دقيامت په ورځ به حقدراو ته ضرور حق ورکولی شي تردي چي دبی ښکرو چيلۍ بدله به دښکرونو والانه (که چري وهلي يي وي) وا خستلی شي

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٩٥٨) (الصحيحة ٣٢٦٥)

2 مسلم/البر والصلة ١٥ (٢٥٨٢) (الأعراف: ١٤٠٧٤). واحمد (٢/٢٣٥، ٣٠١، ٣٢٣، ٤١١)

امام ترمذي وايي. په دي باب کي دابوذر او عبدالله بن انيس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي او حديث دابوهريره حسن صحيح دي.

لغات الجلحاء جلح جلحا دسمع نه معني دسر ددواړو ښکرونو نه ويخته غورځيدل. الشاة الجلحاء يعني دچيلي بي ښکرو کيدل

القرناء قرن قرنا دسمع نه معني ښکرو والاځاروي

تشريح: "حتي يقاد للشاة الجلحاء من الشاة القرناء" دحديث مطلب دادی چي دقيامت په ورځ به انتهائي او مثالي عدالت وي تردي پوري که ځاروو هم چرته په يو بل ظلم کړی وي نو الله تعالي به دمظلوم ځاروي فرياد واوري، په دي کي انسانانو ته خبرداری ورکول مقصود دي چي کله دبيشعوره ځارو سره انصاف کيدی شي نو شعور والاظالم انسانان څنګه معاف کيدی شي ددوئ نه به هم ضرور بدله اخستلی شي.نو پدي وجه هم په دنيا کي دظلم نه توبه وکړئ چي ددي تلافي وکړي شي.

****

٢٤٢١ـحَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، حَدَّثَنِي سُلَيْمُ بْنُ عَامِرٍ، حَدَّثَنَا الْمِقْدَادُ صَاحِبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أُدْنِيَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْعِبَادِ حَتَّى تَكُونَ قِيدَ مِيلٍ أَوِ اثْنَيْنِ". قَالَ سُلَيْمٌ: لاَ أَدْرِي أَيَّ الْمِيلَيْنِ عَنَى، أَمَسَافَةَ الأَرْضِ، أَمِ الْمِيلُ الَّذِي تُكْتَحَلُ بِهِ الْعَيْنُ، قَالَ: "فَتَصْهَرُهُمُ الشَّمْسُ فَيَكُونُونَ فِي الْعَرَقِ بِقَدْرِ أَعْمَالِهِمْ، فَمِنْهُمْ مَنْ يَأْخُذُهُ إِلَى عَقِبَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَأْخُذُهُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَأْخُذُهُ إِلَى حِقْوَيْهِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يُلْجِمُهُ إِلْجَامًا، فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُشِيرُ بِيَدِهِ إِلَى فِيهِ أَيْ يُلْجِمُهُ إِلْجَامًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وفي الباب عن أَبِي سَعِيدٍ وَابْنِ عُمَرَ.[1]

ترجمه دمقداد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلي دي دقيامت په ورځ به نمر خلقو ته رانژدي کړي شي تردي پوري چي نمر به ددوئ نه ديو ميل يا دوه ميلونو په فاصله موجود وي سليم بن عامر راوي وائي ماته معلومه نه ده چي دميل نه درسول الله مراد څه وو (چي دزمکي دمصافي ميل يي مراد وو او که درنجو لګولو سلائي يي مراد وو) بيا به نمر دوئ لره اوخوټکوي او خلق به دخپلو اعمالو په مناسبت

---

[1] ـ صحيح مسلم/الجنة ١٥ (٢٨٦٣) (تحفة الأشراف: ١١٥٤٣)، ومسند احمد (٦/٣)

په خولو کي ډوب وي دبعضي کسانو خولي به دګيتو پوري وي او دبعضو به دملا پوري وي او د بعضو خولي به دخولي سره برابر وي، دمقداد رضي الله عنه بيان دي ما اوليدل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپل لاس خپلي خولي ته اشاره کوله چي خلق به دي ځايه پوري په خولو کي ډوب وي لکه چي واګي ورته اچولي شوي وي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوسعيد خدري، عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

****

٢٤٢٢_حَدَّثَنَا أَبُو زَكَرِيَّا يَحْيَى بْنُ دُرُسْتَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ حَمَّادٌ: وَهُوَ عِنْدَنَا مَرْفُوعٌ: يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ (المطففين: ٦.) قَالَ: "يَقُومُونَ فِي الرَّشْحِ إِلَى أَنْصَافِ آذَانِهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه نافع هم د ابن عمر نه دا حديث نقل کړي دی، مګر حماد وايي دا زمونږ په نزد مرفوع دی، او دا حديث ددي ايت. يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ تفسير دی، وبي فرمائيل چي خولي به د خلقو د غوږونو د نيمايي پوري وي.
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

****

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ عَوْنٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. [2]

ترجمه: په مذکوره سندهم نافع دابن عمر نه دا حديث د نبي کريم صلي الله عليه وسلم نه مرفوع د سابقه حديث هم معني نقل کړی دی

****

[1] - البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٤٧ (٦٥٣١). وتفسير المطففين (٤٩٣٨)، و مسلم/ الجنة ١٥ (٢٨٦٢). سنن ابن ماجه/الزهد ٣٣ (٤٢٧٨). ويأتي عند المؤلف في تفسير المطففين (٣٣٣٥) (تحفة الأشراف: ٧٥٤٢)، و مسند احمد (٢/١٣، ١٩، ٣١، ٦٤، ٧٠، ١٠٥، ١١٢، ١٢٥، ١٢٦)

[2] - اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٤٧ (٦٥٣١). وتفسير المطففين (٤٩٣٨)، مسلم/الجنة ١٥ (٢٨٦٢). سنن ابن ماجه/الزهد ٣٣ (٤٢٧٨)، و عند المؤلف في تفسير المطففين (٣٣٣٥) (تحفة الأشراف: ٧٥٤٢)، و مسند احمد (٢/١٣، ١٩، ٣١، ٦٤، ٧٠، ١٠٥، ١١٢، ١٢٥، ١٢٦)

٣_باب مَا جَاءَ فِي شَأْنِ الْحَشْرِ

د حشر د متعلقاتو بيان

٢٤٢٣_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا كَمَا خُلِقُوا. ثُمَّ قَرَأَ: كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ (الأنبياء : ١٠٤) وَأَوَّلُ مَنْ يُكْسَى مِنَ الْخَلَائِقِ إِبْرَاهِيمُ. وَيُؤْخَذُ مِنْ أَصْحَابِي بِرِجَالٍ ذَاتَ الْيَمِينِ وَذَاتَ الشِّمَالِ. فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أَصْحَابِي. فَيُقَالُ: إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ إِنَّهُمْ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ. فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ: إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (المائدة : ١١٨)". ([1])

ترجمه ابن عباس رضي الله عنهما بيان كوي چي يو خل رسول الله صلي الله عليه وسلم او فرمائيل . خلق به په ورځ دمحشر دالله تعالي وړاندي خپي ابله ، بربنړ ، ناسنته حالت کي پاخولی شي ځنګه چي دالله تعالي ارشاد دی:

مونږ چي کوم حالت کي اول ځل پيدا کړي وی هغه حالت کي به دوباره واپس کړی شی دا زمونږ وعده ده او مونږ به دا پوره کوو

واوری چي په مخلوق کي به دټولو نه مخکي ابراهيم عليه السلام ته کپړي اغوستولی کيږي دا هم واوری چي ځما دامت ځني خلق به نيولي شي چي دوزخ طرف ته به روان کړی بوتللي ش نو ځه به اووايم ای الله! دا خو زما امتيان دي، الله تعالي به ارشاد اوفرمائي چي كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ (الأنبياء : ١٠٤) يعني تاته پته نشته، دوي ستا نه پس کومی کومی نوی خبري (بدعات ستا په دين کنبي) ايجاد کړي وو، بيابه ځه هم هغه وايم کم چي دالله تعالي يونيك بنده (عيسي عليه السلام) ونيلي وو يعني : إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (المائدة : ١١٨) يعني كه ته دوی ته عذاب ورکوي نو

[1] _ اورده البخاري في الجامع /أحاديث الأنبياء ٨ (٣٣٤٩) . و ٤٨ (٣٤٤٧) . و المائدة ١٣ (٤٦٢٥) . ١٥ (٤٦٢٦). تفسير الأنبياء ٢ (٤٧٤٠) . والرقاق ٤٥ (٦٥٢٤ ٦٥٢٦).مسلم / الجنة ١٤ (٢٨٦٠) . النسائي/الجنائز ١١٨ (٢٠٨٣) . و ١١٩ (٢٠٨٩) . ويأتي في تفسير الأنبياء (٣١٦٧) (تحفة الأشراف : ٥٦٢٢) . و مسند احمد (١/٢٢٠ . ٢٢٣ . ٢٢٩ . ٢٥٣ . ٣٩٨) . و الدارمي/الرقاق ٨٢ (٢٨٤٤)

دوئ خو ستا بندګان دي (يعني دوئ ستا ملکيت دی) اوکه ته دوئ ته مغفرت کوي نو يقينا ته په خپلو مخالفينو غالب او خاوند د حکمت يې. بيا به ماته اوونيلی شي چي ستاسو دجدا کيدلو نه پس دوي مسلسل ستاسو ددين نه په شابيرته واپس کيدونکي وو

لغات حفاة حفي حفاً دسمع نه په معني د خپي ابله ګرخيدو او دګرخيدو په وجه دخپو دپرسيدو دي

عراة عري عرية وعريا دسمع نه په معني دبربنډيدو دي

غرلا غرل غرلا دسمع نه ناسنته ماشوم ته ونيلي شي.

تشريح: حفاة عراة غرلا: يعني بربنډي خپي او بربنډ بدن او بغير دختني نه به راپورته کړي شي . دا مضمون په ډيرو احاديثو کي اوپه قران کريم کي هم راغلي دي مثلا کما بدء کم تعودون. کما بدءنا اول خلق نيعده..

علامه ابن عبد البر وايي دقيامت په ورځ چي کله انسانان راپورته کولی شي نو دوئ به په داسي حالت کي وي لکه چي په دنيا کي څنګه دپيدائش په وخت کي وو. په دنيا کي چي ورنه څه کټ شوي وي هغه به هم ورسره پيوند کړي شي لکه دختني څرمن

په حديث کي راځي ان اول الخلائق يکسي يوم القيامة ابراهيم عليه السلام. علماؤ ددينه متعدد وجوهات بيان کړي دي يو دادي چي هغه به په دنيا کي مسکينانو ته جامي ډيري ورکولي . بل دادي کله نمرود اور ته غورځولو نو دده جامي ويستلي شوي وي. بله داچي په دنيا کي دستر پوشئ ډير زيات اهتمام کولو

اوپه همدي وجه خلق وايي چي د ټولو نه مخکي اول دپرتوګ استعمال ابراهيم عليه السلام کړي وو . اول به ابراهيم عليه السلام ته لباس واغوستولی شي. ددي دا مطلب نه دی چي ابراهيم عليه السلام ته به درسول الله نه مخکي جامي واغوستولی شي ځکه چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په باره کي په يو روايت کي راځي

انا اول من يشق عنه الارض فاكسي حلة من حلل الجنة ثم اقوم عن يمين العرش. يعني دقيامت په ورځ به زمکه اوشليږي او زه به دټولو نه مخکي راپاځيږم او دجنت لباس به واغوندم او دعرش په ښي طرف کي به اودريږم

فاقول کما قال العبد الصالح هو عيسي عليه السلام . يعني زه به هغه کلمات اووايم کوم چي دالله نيك بنده عيسي عليه السلام ونيلي وو کله چي به دعيسي عليه السلام نه سوال کيږي : هغه دقوم دګمراهئ په باره کي نو هغه به دبيزارئ اظهار کوي نو داسي سوال به درسول الله نه هم کيږي او هغه به هم دبيزارئ اظهار اوکړي (شرح رياض الصالحين للنووي، تحفة الاحوذي)

****

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ النُّعْمَانِ بِهَذَا الإِسْنَادِ فَذَكَرَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه: شعبه هم په مذكوره سند دمغيره بن نعمان نه ددي هم معني روايت بيان كړي دي

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٤٢٤_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ رِجَالًا وَرُكْبَانًا وَتُجَرُّونَ عَلَى وُجُوهِكُمْ ". وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه: بهز بن حكيم دخپل پلار حكيم نه او هغه دده دنيكه نه روايت نقل كوي فرماني چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي دي چي تاسو به دقيامت په ورځ پياده او سواره راپورته كولي شي او دمخونو دطرفه به رابنكلي كيږئ.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

****

٤_باب مَا جَاءَ فِي الْعَرْضِ

دقيامت په ورځ (دالله تعالي په وړاندي) دپيش كيدو بيان

٢٤٢٥_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَلِيٍّ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُعْرَضُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَ عَرَضَاتٍ، فَأَمَّا عَرْضَتَانِ فَجِدَالٌ وَمَعَاذِيرُ، وَأَمَّا الْعَرْضَةُ الثَّالِثَةُ فَعِنْدَ ذَلِكَ تَطِيرُ الصُّحُفُ فِي الأَيْدِي، فَآخِذٌ بِيَمِينِهِ، وَآخِذٌ بِشِمَالِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَلَا يَصِحُّ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ قِبَلِ أَنَّ الْحَسَنَ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ عَلِيٍّ الرِّفَاعِيِّ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٣٩١)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٣٩١)

عِيسَى: وَلَا يَصِحُّ هَذَا الحَدِيثُ مِنْ قِبَلِ أَنَّ الحَسَنَ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي مُوسَى. (1)

ترجمه . دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به دخلقو دري پيشياني کيږي په دوه پيرو پيشي: کي به بحث او تکرار او غدر او بهاني کيږي او په دريم خل به خلقو ته ددوی عمل نامي دالوتلو په حال کي لاسونو ته وررسيږي څوك به يي په ښي لاس نيسي او څوك به يي په ګس لاس

امام ترمذي وايي. داحديث صحيح نه دي ځکه چي دحسن سماع دابوهريره رضي الله عنه نه ثابت نه ده، او بعضي راويانو دا حديث عن الرفاعي عن الحسن عن ابي موسي عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره ذکر کړي دي او دا حديث په دي سند هم صحيح نه دي ځکه چي دحسن سماع دابوموسي اشعري نه ثابت نه دي

****

٥_باب مِنْهُ

دقيامت په ورځ پيش کيدو متعلق يوبل باب

٢٤٢٦_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ المُبَارَكِ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الأَسْوَدِ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ نُوقِشَ الحِسَابَ هَلَكَ ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ . فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا (الانشقاق ٧-٨)، قَالَ: " ذَلِكَ العَرْضُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ حَسَنٌ، وَرَوَاهُ أَيُّوبُ أَيْضًا عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ. (2)

ترجمه . دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلي وو چي دچا سره په حساب او کتاب کي سختي اوشي او هغه هلاك شو . ما عرض اوکړو اي دالله رسوله الله تعالي فرمائيلي دي "فاما من اوتي كتابه بيمينه فسوف يحاسب حسابا يسيرا" يعني چاته چي په ښي لاس عمل نامه ورکړي شي دهغه

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٢٥٠)

[2] اورده البخاري في الجامع /العلم ٣٦ (١٠٣) . وتفسير سورة الانشقاق (٤٩٣٩) . والرقاق ٤٩ (٦٥٣٦) . صحيح مسلم/الجنة ١٨ (٢٨٧٦) . ويأتي عند المؤلف في تفسير الانشقاق (٣٣٣٧) (تحفة الأشراف ١٦٢٥٣) . و مسند احمد (٦/٤٨)

سره به په حساب کي اساني اوکړي شي (الانشقاق) رسول الله اوفرمائيل ددينه مراد صرف داعمالو پيشي ده
امام ترمذي وايي.داحديث صحيح حسن دي او ايوب هم دابن ابي مليکه نه دا حديث نقل کړي دي

****

٦_باب مِنْهُ
دقيامت په ورځ دحساب اوپيشي متعلق يوبل باب

٢٤٢٧_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنِ الْحَسَنِ، وَقَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يُجَاءُ بِابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ بَذَجٌ، فَيُوقَفُ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ، فَيَقُولُ اللَّهُ لَهُ: أَعْطَيْتُكَ وَخَوَّلْتُكَ وَأَنْعَمْتُ عَلَيْكَ، فَمَاذَا صَنَعْتَ؟ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ جَمَعْتُهُ وَثَمَّرْتُهُ فَتَرَكْتُهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ، فَيَقُولُ لَهُ: أَرِنِي مَا قَدَّمْتَ، فَيَقُولُ: يَا رَبِّ جَمَعْتُهُ وَثَمَّرْتُهُ فَتَرَكْتُهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ كُلِّهِ، فَإِذَا عَبْدٌ لَمْ يُقَدِّمْ خَيْرًا فَيُمْضَى بِهِ إِلَى النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ غَيْرُ وَاحِدٍ عَنِ الْحَسَنِ قَوْلَهُ وَلَمْ يُسْنِدُوهُ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ مُسْلِمٍ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. (1)

ترجمه : دانس رضي الله عنه نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بني ادم به دقيامت په ورځ دګډوري په شکل کي دالله تعالي حضور ته راوستلي شي او الله تعالي به ورنه تپوس کوي ما تاته مال او اسباب درکړي وو او په تا مي انعام کړي وو په دي کي تا څه عمل کړي دي بنده به وائي اي زما پروردګاره ډير مال مي جمع کړو او زيات مي کړو او دمځکي نه مي دزياتولو په حال کي په دنيا کي پريخودو او راغله. پس ما دوباره دونيا نه اوليږه ترڅو چي دغه ټول راوړم الله تعالي به اوفرمائي تا چي کومه نيکي کړي وي هغه اوښايه دي به اووائي اي زما پروردګاره ما ډير مال ګټلي وو او ښه مي زيات کړي وو او په دنيا کي مي په داسي حال کي پريخودو او راغلم چي دمځکي نه زيات شوي وو ما دوباره دنيا ته اوليږله چي دلته يي راوړم، دا به دهغه بنده حال وي چاچي دنيکئ په لاره کي هيڅ قدر مال خرچ کړي نه وي چنانچي دي به دالله تعالي دحکم مطابق جهنم ته اوغورځولي شي.

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٢١، و١١٢١)

امام ترمذي وايي داحديث نورو راويانو دحسن بصري نه نقل کړي دي او دا قول يي کړي دي چي دا دحسن بصري قول دي او مرفوع يي نه دي ذکر کړي، اسماعيل بن مسلم په باب دحديث کي ضعيف دي په هغه باندي دحفظ په اعتبار کلام شوي دي، او په دي باب کي دابوهريره او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****

٢٤٢٨ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الزُّهْرِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ سُعَيْرٍ أَبُو مُحَمَّدٍ التَّمِيمِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُؤْتَى بِالعَبْدِ يَوْمَ القِيَامَةِ، فَيَقُولُ اللَّهُ لَهُ: أَلَمْ أَجْعَلْ لَكَ سَمْعًا وَبَصَرًا وَمَالًا وَوَلَدًا وَسَخَّرْتُ لَكَ الأَنْعَامَ وَالحَرْثَ وَتَرَكْتُكَ تَرْأَسُ وَتَرْبَعُ، فَكُنْتَ تَظُنُّ أَنَّكَ مُلَاقِي يَوْمَكَ هَذَا ؟ قَالَ: فَيَقُولُ: لَا، فَيَقُولُ لَهُ: اليَوْمَ أَنْسَاكَ كَمَا نَسِيتَنِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ اليَوْمَ أَنْسَاكَ، يَقُولُ: اليَوْمَ أَتْرُكُكَ فِي العَذَابِ هَكَذَا فَسَّرُوهُ، قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ فَسَّرَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ هَذِهِ الآيَةَ فَالْيَوْمَ نَنْسَاهُمْ سورة الأعراف آية ٥١، قَالُوا: إِنَّمَا مَعْنَاهُ اليَوْمَ نَتْرُكُهُمْ فِي العَذَابِ. [1]

ترجمه دابوهريره او ابوسعيد خدري رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي بنده به دقيامت په ورځ راوستلي شي او الله تعالي به اوفرمائي ايا ماتاته غوږونه او سترګي او اولاد درکړي نه وو؟ خاروي او فصلونه مي ستا تابع کړي نه وو؟ او ته مي دقوم سردار ګرځولي وې چي هغوئ به دي خدمت کولو نو ايا ستا دا خيال هم وو چي په تنه نن ورځ به زما سره مخامخ کيږي؟ بنده به عرض اوکړي نه الله تعالي به اوفرمائي نن به زه هم تا هير کړم لکه چي تا څنګه په دنيا کي هير کړي وم

امام ترمذي وايي داحديث صحيح غريب دي او دالله تعالي دفرمان "اليوم انساك" مطلب دادي چي نن ورځ به دي زه په عذاب کي داسي پريږدم لکه چي يو هير شوي څيز پاتي شوي وي بعضي اهل علمو ددي دا تفسير کړي دي بلکه بعضي نور اهل علم ددي دا تفسير کوي چي نن ورځ به تا دهير شوي څيز پشان په عذاب کي پريږدم

****

٧ـ بابٌ مِنْهُ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٠١٣، ١٢٤٥٦)

دقيامت په ورځ په انساني اعمالو دځمکې ګواهئ بيان

٢٤٢٩_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ. أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ. أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ. عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا سورة الزلزلة آية ٤. قَالَ: أَتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا؟ ". قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: " فَإِنَّ أَخْبَارَهَا: أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا. أَنْ تَقُولَ عَمِلَ كَذَا وَكَذَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا. قَالَ: فَهَذِهِ أَخْبَارُهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرماني چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ايت كريمه "يومئذٍ تحدث اخبارها" تلاوت كړو او ويي فرمائيل ايا تاسو ته معلومه ده چي ددي خبر به څه وي؟ صحابه كرامو عرض اوكړو الله او دهغه رسول ښه پوهيږي رسول الله اوفرمائيل ددي خبر دادي چي دا به دهر زنانه او نارينه خلاف ګواهي وركوي په هغه اعمالو چي دوئ په ځمكه كي كړي دي او وائي به چي ده فلاني فلاني كار په فلانئ ورځ كړي دي رسول الله اوفرمائيل همدا ددي خبر وركول دي.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن غريب دي.

****

٨_بَاب مَا جَاءَ فِي شَأْنِ الصُّورِ

دصور (شپيلئ وهلو كيدو) بيان

٢٤٣٠_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ. أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ. أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ. عَنْ أَسْلَمَ الْعِجْلِيِّ. عَنْ بِشْرِ بْنِ شَغَافٍ. عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ. قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا الصُّورُ؟ قَالَ: " قَرْنٌ يُنْفَخُ فِيهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ سُلَيْمَانَ التَّيْمِيِّ. وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِهِ. ([2])

---

1. تفرد به المؤلف وأعاده في تفسير إذا زلزلت (٣٣٥٣) (تحفة الأشراف: ١٣٠٤٦)

2. سنن ابي داود/ السنة ٢٣ (٤٧٤٢) (تحفة الأشراف: ٨٦٠٨) . ومسند احمد (٢/١٦٢، ١٩٢) . وسنن الدارمي/الرقاق ٧٩ (٢٨٣٠) ويأتي عند المؤلف في تفسير سورة القيامة (٣٢٣٩)

ترجمه دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يوه ورځ يو باندچي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو صور څه شي دي؟ رسول الله اوفرمائيل دا يو ښكر دي چي پوكي به پكي اوكړي شي

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي متعددو راويانو دسليمان تيمي نه نقل كړي دي او دا روايت مونږ صرف دسليمان تيمي په سند پيژنو.

****

٢٤٣١_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ أَبُو العَلَاءِ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَيْفَ أَنْعَمُ وَصَاحِبُ القَرْنِ قَدِ التَقَمَ القَرْنَ وَاسْتَمَعَ الإِذْنَ مَتَى يُؤْمَرُ بِالنَّفْخِ فَيَنْفُخُ". فَكَأَنَّ ذَلِكَ ثَقُلَ عَلَى أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ لَهُمْ: قُولُوا: "حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الوَكِيلُ عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ هَذَا الحَدِيثُ عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. ([1])

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه به څنګه ارام اوكړم چي اسرافيل عليه السلام شپيلۍ په خوله كي نيولي ده او ديته انتظار كوي چي ماته به كله دپوكي كولو حكم كيږي او په دي كي به پوكي كوم پس دي خبري صحابه كرام پريشانه كړل او رسول الله اوفرمائيل دا كلمات اووائي "حسبنا الله ونعم الوكيل علي الله توكلنا" يعني زمونږ دپاره الله تعالي كافي دي او ډيره ښه كار ساز دي او خاص په هغه باندي مونږ توكل كړي دي

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي او دا حديث عطيه په يو څو سندونو دابوسعيد خدري په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي هم معني نقل كړي دي

****

٩_باب مَا جَاءَ فِي شَأْنِ الصِّرَاطِ

دپل صراط بيان

٢٤٣٢_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ

[1] تفرد به المؤلف. وأعاده في تفسير سورة الزمر (٣٢٤٣) (تحفة الأشراف: ٤١٩٥). ومسند احمد (٣/٧،٣/٤٣)

سَعْدٍ، عَنْ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " شِعَارُ الْمُؤْمِنِ عَلَى الصِّرَاطِ رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (1)

ترجمه دمغيرد بن شعبه رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په پل صراط به دتيريدو وخت کي دمومن علامه دا وي "رب سلم سلم" يعني اي زما پروردګاره سلامتي زما نصيب کړي او سلامت مي اوساتي

امام ترمذي وايي داحديث دمغيره بن شعبه په سند غريب دي او مونږ يي صرف دعبدالرحمن بن اسحاق واسطي په سند پيژنو او په دي باب کي دابوهريره رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي.

****

٢٤٣٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الصَّبَّاحِ الْهَاشِمِيُّ، حَدَّثَنَا بَدَلُ بْنُ الْمُحَبَّرِ، حَدَّثَنَا حَرْبُ بْنُ مَيْمُونٍ الْأَنْصَارِيُّ أَبُو الْخَطَّابِ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنْ يَشْفَعَ لِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَقَالَ: " أَنَا فَاعِلٌ " قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَيْنَ أَطْلُبُكَ. قَالَ: " اطْلُبْنِي أَوَّلَ مَا تَطْلُبُنِي عَلَى الصِّرَاطِ ". قَالَ: قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عَلَى الصِّرَاطِ؟ قَالَ: " فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْمِيزَانِ ". قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عِنْدَ الْمِيزَانِ؟ قَالَ: " فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْحَوْضِ فَإِنِّي لَا أُخْطِئُ هَذِهِ الثَّلَاثَ الْمَوَاطِنَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرماني چي ما نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته درخواست اوکړو چي تاسو دقيامت په ورځ زما شفاعت اوکړئ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ضرور به يي کوم. ما عرض اوکړو اي دالله رسوله زه به تاسو په قيامت کي چرته لټوم؟ رسول الله اوفرمائيل دټولو نه اول به مي دپل صراط سره ګوري.ما عرض اوکړو که پل صراط سره مي درسره ملاقات اونه شي؟ نو ويي فرمائيل ددينه پس مي دميزان سره ګوره ما اووئيل که دلته هم ملاقات اونه شي؟ ويي فرمائيل ددينه پس مي دحوض کوثر سره ګوره خکه چي زه به په دي دري ځايونو کي په يو ځاي کي ضرور ملاويږم.

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٥٢٢)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٢٢)

١٠_باب مَا جَاءَ فِي الشَّفَاعَةِ

دقيامت په ورځ دشفاعت (سفارش) كولو بيان

٢٤٣٤_أَخْبَرَنَا أَخْبَرَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا أَبُو حَيَّانَ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: أُتِيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ فَأَكَلَهُ، وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا نَهْسَةً، ثُمَّ قَالَ: "أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، هَلْ تَدْرُونَ لِمَ ذَاكَ ؟ يَجْمَعُ اللهُ النَّاسَ الْأَوَّلِينَ وَالآخِرِينَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَيُسْمِعُهُمُ الدَّاعِي، وَيَنْفُذُهُمُ الْبَصَرُ، وَتَدْنُو الشَّمْسُ مِنْهُمْ فَيَبْلُغُ النَّاسُ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا لَا يُطِيقُونَ، وَلَا يَحْتَمِلُونَ، فَيَقُولُ النَّاسُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: أَلَا تَرَوْنَ مَا قَدْ بَلَغَكُمْ ؟ أَلَا تَنْظُرُونَ مَنْ يَشْفَعُ لَكُمْ إِلَى رَبِّكُمْ ؟ فَيَقُولُ النَّاسُ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: عَلَيْكُمْ بِآدَمَ، فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ: أَنْتَ أَبُو الْبَشَرِ، خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِهِ، وَنَفَخَ فِيكَ مِنْ رُوحِهِ، وَأَمَرَ الْمَلَائِكَةَ فَسَجَدُوا لَكَ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى مَا نَحْنُ فِيهِ، أَلَا تَرَى مَا قَدْ بَلَغَنَا، فَيَقُولُ لَهُمْ آدَمُ: إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنَّهُ قَدْ نَهَانِي عَنِ الشَّجَرَةِ فَعَصَيْتُ، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى نُوحٍ، فَيَأْتُونَ نُوحًا فَيَقُولُونَ: يَا نُوحُ أَنْتَ أَوَّلُ الرُّسُلِ إِلَى أَهْلِ الأَرْضِ، وَقَدْ سَمَّاكَ اللهُ عَبْدًا شَكُورًا اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى إِلَى مَا نَحْنُ فِيهِ، أَلَا تَرَى مَا قَدْ بَلَغَنَا، فَيَقُولُ لَهُمْ نُوحٌ: إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنَّهُ قَدْ كَانَ لِي دَعْوَةٌ دَعَوْتُهَا عَلَى قَوْمِي، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى إِبْرَاهِيمَ، فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُونَ: يَا إِبْرَاهِيمُ أَنْتَ نَبِيُّ اللهِ، وَخَلِيلُهُ مِنْ أَهْلِ الأَرْضِ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى مَا نَحْنُ فِيهِ، فَيَقُولُ: إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنِّي قَدْ كَذَبْتُ ثَلَاثَ كَذِبَاتٍ، فَذَكَرَهُنَّ أَبُو حَيَّانَ فِي الْحَدِيثِ، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى مُوسَى، فَيَأْتُونَ مُوسَى فَيَقُولُونَ: يَا مُوسَى أَنْتَ رَسُولُ اللهِ فَضَّلَكَ اللهُ بِرِسَالَتِهِ وَبِكَلَامِهِ عَلَى الْبَشَرِ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى مَا نَحْنُ فِيهِ، فَيَقُولُ: إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَإِنِّي قَدْ قَتَلْتُ نَفْسًا لَمْ أُومَرْ بِقَتْلِهَا، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى، فَيَأْتُونَ عِيسَى فَيَقُولُونَ: يَا عِيسَى أَنْتَ رَسُولُ اللهِ، وَكَلِمَتُهُ

أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ، وَرُوحٌ مِنْهُ، وَكَلَّمْتَ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ، اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى مَا نَحْنُ فِيهِ. فَيَقُولُ عِيسَى: إِنَّ رَبِّي قَدْ غَضِبَ الْيَوْمَ غَضَبًا لَمْ يَغْضَبْ قَبْلَهُ مِثْلَهُ، وَلَنْ يَغْضَبَ بَعْدَهُ مِثْلَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ ذَنْبًا، نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي، اذْهَبُوا إِلَى غَيْرِي، اذْهَبُوا إِلَى مُحَمَّدٍ، قَالَ: فَيَأْتُونَ مُحَمَّدًا فَيَقُولُونَ: يَا مُحَمَّدُ أَنْتَ رَسُولُ اللهِ، وَخَاتَمُ الأَنْبِيَاءِ، وَقَدْ غُفِرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ. اشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، أَلَا تَرَى مَا نَحْنُ فِيهِ. فَأَنْطَلِقُ فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ فَأَخِرُّ سَاجِدًا لِرَبِّي، ثُمَّ يَفْتَحُ اللهُ عَلَيَّ مِنْ مَحَامِدِهِ وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ عَلَى أَحَدٍ قَبْلِي، ثُمَّ يُقَالُ: "يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ، سَلْ تُعْطَهْ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، فَأَرْفَعُ رَأْسِي". فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أُمَّتِي، يَا رَبِّ أُمَّتِي، يَا رَبِّ أُمَّتِي، فَيَقُولُ: "يَا مُحَمَّدُ أَدْخِلْ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِ مِنَ الْبَابِ الأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ، وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الأَبْوَابِ". ثُمَّ قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَهَجَرَ، وَكَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَبُصْرَى". وفي الباب عن أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، وَأَنَسٍ، وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو حَيَّانَ التَّيْمِيُّ اسْمُهُ: يَحْيَى بْنُ سَعِيدِ بْنِ حَيَّانَ كُوفِيٌّ وَهُوَ ثِقَةٌ، وَأَبُو زُرْعَةَ بْنُ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ اسْمُهُ: هَرِمٌ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په يو دعوت کې شريك وو هغوئ ته دليچى غوښته ورکړى شوه او دهغوئ دليچى غوښه خوښه وه رسول الله صلي الله عليه وسلم تري يو چك اووهلو بيايى اوفرمائيل زه به دقيامت په ورځ دټولو بنيادمو سرداريم ، اياتاسو ته معلومه ده چي دا سرداري به څه طريقه او څنګه ده. دا به داسي وي دقيامت په ورځ به الله تعالي وړبني وروستي ټول بنيادم په يولوئ ډاګ کي راجمع کړي داسی هموار ډاګ به وي چي ټول مخلو ق به په يو نظر ليدی شي او يو اواز به اوريدی شي نمر به ورته دومره رانژدي شي (چي ګرمئ تاب به يی څوك نشي راوړی) ټول مخلوق به په داسي غم او تکليف کې ګير وي چي دبرداشت طاقت به يی نه لري. (خلق به په انتظار ولاړ وي حساب به لاشروع شوی نه وي) نوخلق به يو بل ته اوواني ايا تاسو نه وينئ چي زمونږ تکليف او پريشاني کوم حدته اورسيده څوك شفيع کتل پکاردي چي الله تعالي ته دحساب دشروع کولو سفارش اوکړي اودا انتظار ختم شي، خنی کسانو اوونيل زمونږ پلار ادم عليه السلام دی هغه به دا سفارش اوکړي ټول به ادم عليه السلام ته لاړ شي ورته به اوواني

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٣ (٣٣٤٠) ، و ٩ (٣٣٦١) ، وتفسير سورة الإسراء ٥ (٤٧١٢) . صحيح مسلم /الإيمان ٨٤ (١٩٤) ، سنن ابن ماجه/الأطعمة ٢٨ (٣٣٠٧) (برقم ١٨٢٤) (تحفة الأشراف : ١٤٩٢٧)

ته ابوالبشر يعنی دټولو بنيادمو پلار يی الله تعالي په خپل لاس پيدا کړی يی او خپل روح يی درکې واچولو، بيايی فرشتو ته حکم اوکړو تاته يی سجده اوکړه اوپه جنت کې يی ديره کړی، نو خپل رب ته زمونږ سفارش اوکړه چې حساب شروع کړي ته نه ګوری چې مونږ څومره په تکليف کې يو، هغه به ورته اووائي خما رب نن دومره په قهر دی، چې تر اوسه هيچری دومره په قهر شوی نه دی او نه به ددی نه پس شي او الله تعالي زه ديو بوټي نه منع کړی وم ما نافرماني اوکړه نونن ورته نشم مخامخ کيدی ما سره خپل خان غم دی تاسو بل چاته لاړ شئ تاسونوح عليه السلام ته لاړ شئ هغوئ به نوح عليه السلام ته ورشي ورته به اووائي اي نوح ته په دنيا کې رومبی اول رسول يی او الله تعالي درته شکرګذار بنده وئيلی دی ايا ته نه ګوری چې مونږ څومره په تکليف يو، ايا نه به خپل رب ته زمونږ سفارش اونه کړی هغه به ورته اووائي خما رب نن داسی په قهر دی چې ددی نه مخکې هيچری داسی په قهر شوی نه دی، او نه به ددی نه پس شي اوماته يی ديوی دعا حق راکړی وو په هغی ما خپل قوم ته خيری اوکړی نو تباه شو ، ماسره دخپل خان غم دی تاسو بل چاته لاړ شئ ابراهيم عليه السلام ته تاسو لاړ شئ هغوئ به ابراهيم عليه السلام ته لاړ شي ورته به اووائي اي ابراهيم ته دالله رسول اودزمکی په مخلوق کې دالله جل جلاله خصوصي دوست يی خپل رب ته زمونږ سفارش اوکړه ايا ته نه ګوری چې مونږ څومره په تکليف کې يو، هغه به ورته اووائي خما رب نن داسی په قهر دی چې ددی نه مخکې هيچری داسی په قهر شوی نه دی او نه به ددی نه پس دومره په قهر شي او ما دری خله په دنيا کې دروغ وئيلي دي (ابو حيان راوي پخپل روايت کې ددي دروغو ذکر کړي دي) ما سره دخان غم دی تاسو بل چاته ورشئ موسي عليه السلام ته ورشئ خلق به موسي عليه السلام ته ورشي ورته به ووائي ای موسي ته دالله جل جلاله رسول يی تاته الله تعالي دخپلو پيغامونو او خپلو خبرو په وجه په ټول ملوق کې فضيلت درکی دی، خپل رب ته زمونږ سفارش اوکړه ايا ته نه وينی چې مونږ څومره په تکليف يو، هغه به ورته اووائي خما رب نن داسی په قهر دی، چې ددی نه مخکې هيچری داسی په قهر شوی نه دی او نه به ددی نه پس دومره په قهر شي ما يو داسی بنده قتل کړی دی چې دهغه دقتل کولو حکم راته نه وو شوی ماسره دخان غم دی تاسو بل چاته لاړ شئ تاسو عيسي عليه السلام ته لاړ شئ خلق به عيسي عليه السلام ته ورشي ورته به اووائي ای عسي بن مريم ته دالله جل جلاله رسول يی اود الله جل جلاله دقدرت نښه يی چې بي بي مريم رضي الله عنها ته يی ورکړی يی روح الله يی خلقو سره دی په زانګو کې خبری کړی دي خپل رب ته زمونږ سفارش اوکړه ايا ته نه وينی چې مونږ څومره په تکليف کې يو، هغه به ورته اووائي خما رب نن داسی په قهر دی چې ددی نه مخکې هيچری په قهر شوی نه دی او نه به ددی نه پس شي خپله څه غلطي به بيان نه کړي خو اوبه وائي خما سره دخپل خان غم دی تاسو بل چاته لاړ شئ تاسو محمد الله صلي الله عليه وسلم ته

ورشئ ، دابوهريره بيان دي چناچي خلق به محمد صلي الله عليه وسلم ته ورشي او عرض به اوكړي اي محمد ته دالله رسول يى او اخري نبي يى الله تعالي تاته وړاندنى وروستني ټولي غلطئ معاف كړي دي خپل رب ته زمونږ سفارش اوكړه ايا ته نه وينى چي په مونږ څه حال دى «وړاندي رسول الله فرمائي» زه به لاړ شم دعرش لاندى به دتعظيم دپاره په سجده پريوځم الله جل جلاله به څما سينه فراخه كړي او دحمد وثنا هغه بهترين كلمات به راته په زړه كي واچوي كوم چي يى ددى نه مخكي هيچاته نه دي خودلي بيابه راته حكم اوشي اى زما رسوله سر پورته كړه غواړه چي څه غواړى دركولى به شي او سفارش اوكړه منلى به شي زه به سر پورته كړم اوبه وايم اى ربه څما امت څما امت «يعني دخپل امت» بخشش غواړم اودخپل امت دګنهګارو شفاعت كوم ارشاد به اوشي اى محمد دخپل امت هغه كسان چي هيڅ حساب به ورسره نه كيږي دجنت ښئ طرف والا دروازه باندى ننه باسه او دوئ په نورو دروازو كي هم دخلقو سره شريك وي «يعنى په هره دروازه ننوتى شي خو دابنې دروازه خاص ددوئ دپاره ده» بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيل قسم دى په هغه ذات چي څما روح يى قبضه كي دى دجنت د دروازه د دوو درشلو ترمينځه دومره فاصله ده څومره چي دمكى معظمى اوهجرترمينځه ده يادمكى معظمى اوبصرى ښار ترمينځه ده.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح ، او په دي باب كي دابوبكر صديق، انس، عقبه بن عامر، او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

لغات . ابواب جمع دباب ده معني دروازه، ، الاعمال، دعمل جمع ده مصدر دي معني د كار اراده كول. عامل معني كار كونكي.

تشريح: دقيامت په ورځ به دنبي كريم صلي الله عليه وسلم فضيلت په تمامو انبياؤ باندي ظاهر كړى شي كله چي دقيامت په ورځ دپريشانئ حالت وي كله چي به هر يو سړى پريشان وي نو په دغه وخت كي به رسول الله دتمام امت شفاعت كوي او درسول الله په شفاعت شروع كولو سره به دالله تعالي غصه كمه شي.

سوال: تمام خلق به يو دبل نه پس يو يو خپل پيغمبر ته راځي ، تردي چي اخر به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راشي او سفارش به يي اوكړي نو چي وروسته راځي نو داول نه ورته ولي نه راځي؟

جواب: په داسي كولو كي الله تعالي درسول الله فضيلت دتمامو خلقو په وړاندي ظاهرول غواړي.

"كنت كذبت ثلاث كذبات" ابراهيم عليه السلام به اووائي ما دري پيري دروغ وئيلي دي، حالانكه علماء وائي چي هغه دروغ نه وو بلكه تعريض او توريه وه چي ظاهرا دروغ ښكاره

كيدل او په حقيقت کې دروغ نه وو په هغه دري خبرو کې يوه دا وه چي زه بيمار يم ستاسو سره تلی نشم او سړی خو څه ناڅه بيمار ضرور وي، دويم دا کاردي غټ بوت کړی دی دده نه تپوس اوکړئ دا يي ددي دپاره وئيلي وو چي خلقو ته دبتانو حقيقت ښکاره شي چي دوئ دڅا عبادت کوي هغه څومره مجبور دي، دريم دخپلي ښځي په باره کې يي وئيلي وو چي دا زما خور ده، نو داسلامي رشتي په اعتبار سره هر مسلمان دبل مسلمان ورور دی او مسلمانه ښځه هم خور وي

"ولم يذكر ذنبا" يعني عيسي عليه السلام کوم عذر يي بيان نکړو او هر يو نبي به څه ناڅه عذر بيانوي علماؤ ددي وجه دا بيان کړي ده چي عيسايانو په عيسي عليه السلام يوتهمت لګولی وو چي ته دالله څوي يي نو په دې وجه به عيسي عليه السلام دومره شرمنده وي چي په خاموشئ اختيارولو کې به بهتري اوګڼړي.

خلاصه داده چي هر يو نبي به دخپلو لغزشونو په وجه معذرت کوي ددي وجه دا ده چي انبياء عليهم السلام دايمان او تقوي په اعلي درجه فائض وي خو هغوئ معمولي لعزش هم غلطي ګڼړي او په دي وجه بياخان مجرم ګڼړي په همدي وجه وئيلی شوي دي حسنات الابرار سيات المقربين.

واشفع تشفع : سفارش کوه ستا شفاس به قبلولی شي ددي شفارس نه مخکې به رسول الله دالله تعالي حمد او تعريف بيان کړي.

مصاريع الجنة کمابين مکة وهجر : دجنت په محلونو کې به دومره فاصله وي څومره چي دهجر او مکي په مينځ کې ده، هجر په بحرين کې ديو ښار نوم دی دا ددينه کنايه ده چي دجنت د دروازي دمينځ فاصله به ډيره زياته وي

****

١١_باب مِنْهُ

دشفاعت متعلق يوبل باب

٢٤٣٥_حَدَّثَنَا العَبَّاسُ العَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " شَفَاعَتِي لِأَهْلِ الكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وفي الباب عن جَابِرٍ. ([1])

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٨١)

5/36

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما شفاعت به زما د امت دکبیره گناهونو دمرتکبينو دپاره وي
امام ترمذي وايي په دي سند دا حديث حسن صحيح غريب دي، په دي باب کي دجابر رضي الله عنه نه هم حديث وارد دي

****

٢٤٣٦_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " شَفَاعَتِي لِأَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِي ". قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيٍّ: فَقَالَ لِي جَابِرٌ: يَا مُحَمَّدُ مَنْ لَمْ يَكُنْ مِنْ أَهْلِ الْكَبَائِرِ فَمَا لَهُ وَلِلشَّفَاعَةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ. ([1])

ترجمه دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به زما شفاعت زما په امت کي دکبيره گناهونو دمرتکبينو دپاره وي محمد بن علي الباقر وائي ماته جابر رضي الله عنه اوونيل اي محمد که څوك داهل کبائر دجملي نه نه وي دهغه دشفاعت سره څه تعلق دي؟
امام ترمذي وائي دا حديث دمحمد بن علي جعفر الصادق بن محمد الباقر په روايت حسن غريب دي

****

١٢_بَاب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يو بل باب

٢٤٣٧_حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ الْأَلْهَانِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " وَعَدَنِي رَبِّي أَنْ يُدْخِلَ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعِينَ أَلْفًا لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ وَلَا عَذَابَ مَعَ كُلِّ أَلْفٍ سَبْعُونَ أَلْفًا وَثَلَاثُ حَثَيَاتٍ مِنْ حَثَيَاتِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([2])

---

1 سنن ابن ماجه/الزهد ٣٧(٤٣١٠) (تحفة الأشراف . ٢٦٠٨) . و مسند احمد (٣/٢١٣)

2 ابن ماجه/الزهد ٣٣ (٤٢٨٦) (تحفة الأشراف : ٤٩٢٣) . و مسند احمد (٥/٢٥٠ . ٢٦٨)

ترجمه دابو امامه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلي دي زما رب ما سره وعده کړي ده چي هغه به زما په امت کي اويا زره کسان جنت ته په داسي حال کي داخلوي چي نه به ورسره حساب کوي او نه به په هغوئ باندي عذاب وي، او بيا به دهر زرو سره اويا اويا زره کسان داخليږي او ددينه علاوه به زما درب په موټو د دري موټو سره برابر خلق به په دي طريقه جنت ته داخليږي

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي

"هذه امتك ومعهم سبعون الفا يدخلون الجنة" يعني دا ستا امت دی په دي کي اويا زره داسي کسان دي چي جنت ته به بغير دحساب او کتاب نه داخل شي.

دويم مطلب دادی چي ستا په امت کي به داويا زرو نه علاوه نور کسان هم وي چي جنت ته به بغير دحساب او کتاب نه داخليږي ليکن اولنئ معني زياته بهتره ده ځکه چي په يو بل روايت سره هم ددي تائيد کيږي چي الفاظ يي دادي "هذه امتك يدخلون الجنة من هولاء سبعون الفا".

ليکن داويا زرو نه مراد تکثير دی يعني ډير زيات به زما په امت کي داسي کسان وي

****

٢٤٣٨_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ رَهْطٍ بِإِيلِيَاءَ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنْهُمْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "يَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِشَفَاعَةِ رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَكْثَرُ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ". قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، سِوَاكَ؟ قَالَ: "سِوَايَ". فَلَمَّا قَامَ، قُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: هَذَا ابْنُ أَبِي الْجَذْعَاءِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، أَبِي الْجَذْعَاءِ، هُوَ عَبْدُ اللَّهِ، وَإِنَّمَا يُعْرَفُ لَهُ هَذَا الْحَدِيثُ الْوَاحِدُ.[1]

ترجمه دعبدالله بن شقيق بيان دي فرمائي چي زه په ايلياء مقام کي ديو جماعت سره موجود وم اوپه دوئ کي يوکس اوونيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چي زما دامت ديو فرد په شفاعت به دبني تميم قبيلي دتعداد نه هم زيات خلق جنت ته داخل شي، چا عرض اوکړو اي دالله رسوله ايا دا کس به ستاسونه علاوه، ويي فرمائيل هو دا کس به زما نه علاوه وي. بيا چي کله راوي دحديث پاځيدو نو ما ورنه تپوس اوکړو دا څوك دي؟ خلقو اوونيل دا ابن ابي جذعاء رضي الله عنه دي.

[1] - سنن ابن ماجه/الزهد ٣٧ (٤٣١٦) (تحفة الأشراف : ٥٢١٢)

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح غريب دي او دابن ابي الجزع نوم عبدالله دي او دده نه صرف هم دا يوحديث مشهور دي

****

٢٤٣٩_حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ الْكُوفِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْيَمَانِ، عَنْ جِسْرٍ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنِ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَشْفَعُ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِمِثْلِ رَبِيعَةَ، وَمُضَرَ". [1]

ترجمه دحسن بصري بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي عثمان بن عفان رضي الله عنه به دقيامت په ورځ دربيعه او مضر قبيلي تعداد برابر خلقو شفاعت كوي

****

٢٤٤٠_حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، أَخْبَرَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَشْفَعُ لِلْفِئَامِ مِنَ النَّاسِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ لِلْقَبِيلَةِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ لِلْعَصَبَةِ، وَمِنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ لِلرَّجُلِ، حَتَّى يَدْخُلُوا الْجَنَّةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. [2]

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما دامت بعضي كسان به ديو جماعت دپاره شفاعت كوي او بعضي كسان به ديوي قبيلي دپاره شفاعت كوي او بعضي كسان به ديوي ډلي شفاعت كوي او بعضي كسان به ديو كس شفاعت كوي تردي پوري چي ټول به جنت ته داخل کړي شي.
امام ترمذي وايي داحديث حسن دي

****

١٣_باب مِنْهُ
دشفاعت متعلق يوبل باب

٢٤٤١_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ

---

[1] _ تفرد به المؤلف.

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤١٩٨)

الأَشْجَعِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَتَانِي آتٍ مِنْ عِنْدِ رَبِّي فَخَيَّرَنِي بَيْنَ أَنْ يُدْخِلَ نِصْفَ أُمَّتِي الجَنَّةَ وَبَيْنَ الشَّفَاعَةِ، فَاخْتَرْتُ الشَّفَاعَةَ، وَهِيَ لِمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا ". وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي المَلِيحِ، عَنْ رَجُلٍ آخَرَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ يَذْكُرْ عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، وَفِي الحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ. [1]

ترجمه دعوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ماته زما درب دطرفه يو راتلونكي (جبرائيل) راغلو او ماته يي اختيار راكړو چي يابه دي نيم امت جنت ته داخل شي او يابه درته دشفاعت حق دركړي شي چنانچي ما شفاعت اختيار كړو دا شفاعت به دهر هغه كس دپاره وي دچا خاتمه چي په شرك نه وي شوي
امام ترمذي وايي دا حديث ابو المليح ديو بل صحابي نه نقل كړي دي او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي ليكن په دي كي دعوف بن مالك ذكر نشته او په دي حديث كي يوه اوږده قصه مذكور ده

****

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أبو عوانة، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. [2]

ترجمه په دي سند هم عوف بن مالك دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دماقبل حديث هم معني روايت نقل كړي دي.

****

١٤_باب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الْحَوْضِ

دحوض كوثر بيان

٢٤٤٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ أَبِي حَمْزَةَ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِنَّ فِي حَوْضِي مِنَ الأَبَارِيقِ بِعَدَدِ

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٩٢٠)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٩٢٠)

نُجُومِ السَّمَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بيشكه زما دحوض سره به داسمان دستورو دتعداد برابر جامونه وي

امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي

****

٢٤٤٣ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ نَيْزَكَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكَّارٍ الدِّمَشْقِيُّ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ بَشِيرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوْضًا، وَإِنَّهُمْ يَتَبَاهَوْنَ أَيُّهُمْ أَكْثَرُ وَارِدَةً، وَإِنِّي أَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ وَارِدَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَى الأَشْعَثُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلاً، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ سَمُرَةَ وَهُوَ أَصَحُّ. [2]

ترجمه دسمره بن جندب رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دقيامت په ورځ به دهر نبي دپاره يوحوض وي او انبياء به پخپل مينځ كي يوپه بل باندي فخر كوي چي دچا حوض ته داوبو څکلو دپاره ډير راځي مګر زما اميد دي چي دالله په فضل به زما حوض ته دټولو نه زيات خلق راځي

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، اشعث بن عبدالملك دا حديث دحسن بصري په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي او په دي كي يي دسمره ذكر نه دي كړي او دا روايت زيات صحيح دي.

****

١٥ـ باب مَا جَاءَ فِي صِفَةِ أَوَانِي الْحَوْضِ

دحوض كوثر دلوښو دصفاتو بيان

٢٤٤٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، عَنِ الْعَبَّاسِ، عَنْ أَبِي سَلاَّمٍ الْحَبَشِيِّ، قَالَ: بَعَثَ إِلَيَّ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، فَحُمِلْتُ عَلَى الْبَرِيدِ،

---

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٥٣ (٦٥٨٠)، صحيح مسلم /الفضائل ٩ (٢٣٠٣)، سنن ابن ماجه /الزهد ٣٦ (٤٣٠٥) (تحفة الأشراف: ١٥٠٣)، ومسند احمد (٣/٢٢٥، ٢٣٨)

2 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٦٠٢)

قَالَ: فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ، قَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ لَقَدْ شَقَّ عَلَى مَرْكَبِي الْبَرِيدُ. فَقَالَ: يَا أَبَا سَلَّامٍ مَا أَرَدْتُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ وَلَكِنْ بَلَغَنِي عَنْكَ حَدِيثٌ تُحَدِّثُهُ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَوْضِ فَأَحْبَبْتُ أَنْ تُشَافِهَنِي بِهِ. قَالَ أَبُو سَلَّامٍ: حَدَّثَنِي ثَوْبَانُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " حَوْضِي مِنْ عَدَنَ إِلَى عَمَّانَ الْبَلْقَاءِ، مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، وَأَكَاوِيبُهُ عَدَدُ نُجُومِ السَّمَاءِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهُ شَرْبَةً لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا، أَوَّلُ النَّاسِ وُرُودًا عَلَيْهِ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ الشُّعْثُ رُءُوسًا الدُّنْسُ ثِيَابًا الَّذِينَ لَا يَنْكِحُونَ الْمُتَنَعِّمَاتِ وَلَا تُفْتَحُ لَهُمُ السُّدَدُ ". قَالَ عُمَرُ: لَكِنِّي نَكَحْتُ الْمُتَنَعِّمَاتِ وَفُتِحَ لِيَ السُّدَدُ، وَنَكَحْتُ فَاطِمَةَ بِنْتَ عَبْدِ الْمَلِكِ لَا جَرَمَ أَنِّي لَا أَغْسِلُ رَأْسِي حَتَّى يَشْعَثَ وَلَا أَغْسِلُ ثَوْبِي الَّذِي يَلِي جَسَدِي حَتَّى يَتَّسِخَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ مَعْدَانَ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبُو سَلَّامٍ الْحَبَشِيُّ اسْمُهُ: مَمْطُورٌ وَهُوَ شَامِيٌّ ثِقَةٌ. (1)

ترجمه: ابوسلام حبشي وائي عمر بن عبدالعزيز ماته دبلني پيغام راوليږلو چنانچي زه دډاګ اوږلو دسورلۍ په خچر سور شوم او عمر بن عبدالعزيز ته ورسيدم ما ورته اوونيل اي اميرالمؤمنين د ډاګ داوږلو دخچر سورلي په ما پريشاني تيره کړه هغه اوونيل اي ابو سلام ماتاته تکليف درکول نه غوښتل ليکن ما ستا باره کي اوريدلي دي چي ته دثوبان رضي الله عنه په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه حوض کوثر باره کي يو حديث نقل کوي چنانچي زما دا خواهش وو چي دغه حديث ستا نه براه راست واورم ابوسلام اوونيل ثوبان رضي الله عنه ماته روايت بيان کړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي زما حوض دومره لوي دي څومره چي دعدن نه د عمان والا اردن پوري فاصله ده او ددي اوبه دشودو نه زياتي سپيني او دشهدو نه زياتي خوږي دي او ددي جامونه داسمان دستورو دتعداد برابر دي او هر څوک چي ددينه يو ځل اوڅکي هيڅ کله به تږي نشي او دېولو نه اول به ديته فقراء مهاجرين راځي چي ببرسري او ګردوهلي او خيرن به وي چي دناز او نعمت والاښځو سره نکاح نشي کولي او نه ورته دجاه او منزلت دروازي پرانيستلي کيږي، عمر بن عبدالعزيز اوونيل ليکن ما خو په ناز او نعمت کي پاللي شوو ښځو سره نکاح کړي وه او ماته خو دجاه او منزلت دروازي هم پرانيستلي شوي دي ما دفاطمه بنت عبدالملک سره نکاح کړي ده، البته

1 ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٦ (٤٣٠٣) (تحفة الأشراف: ٢١٣٩)

دومرد خبره ضرور ده چي خپل سر نه وينخم چي ، پوري په خاورو گردونو الوده شوي سه وي او د خپل بدن جامي هغه وخته پوري نه وينخم تر څو پوري چي خيرني شوي نه وي
امام ترمذي وايي داحديث په دي سند غريب دي، او دا حديث دمعدان بن ابي طلحه په واسطه عن ثوبان عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره هم مروي دي. او دابوسلام حبشي نوم مطمور دي او دي دشام اوسيدونكي اوثقه راوي دي

****

٢٤٤٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ الصَّمَدِ الْعَمِّيُّ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ، حَدَّثَنَا أَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا آنِيَةُ الْحَوْضِ ؟ قَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ وَكَوَاكِبِهَا فِي لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ مُصْحِيَةٍ مِنْ آنِيَةِ الْجَنَّةِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا شَرْبَةً لَمْ يَظْمَأْ آخِرَ مَا عَلَيْهِ، عَرْضُهُ مِثْلُ طُولِهِ مَا بَيْنَ عُمَانَ إِلَى أَيْلَةَ، مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وفي الباب عن حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ، وَابْنِ عُمَرَ، وَحَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ، وَالْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " حَوْضِي كَمَا بَيْنَ الْكُوفَةِ إِلَى الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ ". [1]

ترجمه : دابوبرزه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما عرض اوكړو اي دالله رسوله دحوض كوثر لوښي څنګه دي؟ رسول الله اوفرمائيل زما دي په هغه ذات قسم وي دچا لاس كي چي زما روح ذي يقينا دحوض كوثر لوښي دستورو دتعداد نه هم زيات دي په داسي تورتم شپه كي په كومه كي چي داسمان نه وريخ راخوره شوي وي او ددي جامونه به دجنت دلوښو نه وي په دي چي څوك هم يو خل اوڅكي هيڅ كله به تږي نشي او ددي پلن والي او اوږدوالي يو برابر دي ددي فاصله دومره ده څومره چي دعمان نه دايله پوري فاصله ده ددي اوبه دشودو نه زياتي سپيني دي او دشهدو نه زياتي خوږي دي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح غريب دي، او په دي باب كي دحذيفه بن يمان، عبدالله بن عمرو، ابوبرزه اسلمي، ابن عمر، حارثه بن وهب، او مستورد بن شداد رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي زما نه دحوض فاصله دومره ده څومره چي دكوفي نه حجراسود پوري فاصله ده.

---

1 صحيح مسلم/الفضائل٩(٢٣٠٠) (تحفة الأشراف: ١١٩٥٢)

****

١٦_باب مِنْهُ

دحوض كوثر دلوښو دصفاتو متعلق يو بل باب

٢٤٤٦_حَدَّثَنَا أَبُو حَصِينٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ يُونُسَ كُوفِيٌّ. حَدَّثَنَا عَبْثَرُ بْنُ الْقَاسِمِ. حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ هُوَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَمَّا أُسْرِيَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ يَمُرُّ بِالنَّبِيِّ وَالنَّبِيَّيْنِ وَمَعَهُمُ الْقَوْمُ وَالنَّبِيِّ وَالنَّبِيَّيْنِ وَمَعَهُمُ الرَّهْطُ وَالنَّبِيِّ وَالنَّبِيَّيْنِ وَلَيْسَ مَعَهُمْ أَحَدٌ حَتَّى مَرَّ بِسَوَادٍ عَظِيمٍ. فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قِيلَ: مُوسَى وَقَوْمُهُ. وَلَكِنِ ارْفَعْ رَأْسَكَ فَانْظُرْ. قَالَ: فَإِذَا سَوَادٌ عَظِيمٌ قَدْ سَدَّ الْأُفُقَ مِنْ ذَا الْجَانِبِ وَمِنْ ذَا الْجَانِبِ. فَقِيلَ: هَؤُلَاءِ أُمَّتُكَ وَسِوَى هَؤُلَاءِ مِنْ أُمَّتِكَ سَبْعُونَ أَلْفًا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ فَدَخَلَ. وَلَمْ يَسْأَلُوهُ وَلَمْ يُفَسِّرْ لَهُمْ. فَقَالُوا: نَحْنُ هُمْ. وَقَالَ قَائِلُونَ: هُمْ أَبْنَاؤُنَا الَّذِينَ وُلِدُوا عَلَى الْفِطْرَةِ وَالْإِسْلَامِ. فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: هُمُ الَّذِينَ لَا يَكْتَوُونَ وَلَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ. فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ فَقَالَ: أَنَا مِنْهُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. ثُمَّ قَامَ آخَرُ فَقَالَ: أَنَا مِنْهُمْ؟ فَقَالَ: سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دی کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم معراج ته بوتللي شوي وو هلته به يو نبي او يو څو انبياؤ تير شو. اوبه دوئ کي به دبعضي نبي سره خپل تمام امت وو، او د چا سره به يو جماعت وو. او د چا سره به هيڅوك هم نه وو، تردي چي درسول الله تيريدل په يوي لويي ډلي وشول. فرماني چي ما دا خيال وکړو چي دا به زما امت وي راته اووئيلی شو دا موسي او دهغه امت دی، ليکن ته داسمان کناري ته اوګوره ما چي اوکتل نو يوه ډيره لويه جمع وه بيا راته اووئيلی شول دی بلی کناري ته اوګوره نو ديخوا هم ډيره زياته ګڼړه وه چي اسمان يي د يوي کناري نه تر بلي کناري پوري را ګير کړی وو. راته اووئيلی شو چي دا ټول ستا امت دی په دی کي اويا زره داسي کسان دي چي بی حسابه او بی کتابه به جنت ته ځي، نو رسول الله داخل شو او هغوئ ورنه تپوس ونکړو. او

---

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /أحاديث الأنبياء ٣١ (٣٤١٠). والطب ١٧ (٥٧٠٥). و ٤٢ (٥٧٥٢). والرقاق ٢١ (٦٤٧٢). و ٥٠ (٦٥٤١). صحيح مسلم /الإيمان ٩٣ (٢٢٠) (تحفة الأشراف ٥٤٩٣). و مسند احمد (١/٢٧١)

هغوئ ته يي وضاحت هم ونكړو، په هغوئ كي بعضو وونيـل چي شايد دا كسان بـه مونږ يو.
مگر بعضو وونيـل دا بـه هغـه كسان وي چي داسلام پـه دور كې پيدا شوي وي وړوكوالي نه مسلمانان وي شرك يې هډو كړى نه وي، چا نورى خبرى او كړي په دي كې رسول الله صلي الله عليه وسلم دكور نه را اووتلو او وي فرمائيل. دا به هغه كسان وي چي نه پخپله دم درهه كوي نه او نه ده بل چانه دم درهه اخلي، او نه بدفالي نيسي بس پخپل رب توكل كوي. نو عكاشه بن محصن اودريدو عرض يې اوكړو ايا زه به ددوئ نه يم؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل هو ته به ددوئ نه يي، بيا يو بل كس اودريدو عرض يې اوكړو ايا زه به ددوئ نه يم؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل عكاشه ستا نه مخكې شو
امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د ابو هريره او ابو سعيد خدري رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

لغات يرقون. رقي رقيا د ضرب نه په معني دنفع رسولو يا ضرر رسولودپاره دم كول دي ياد عام دمولو دپاره دا لفظ استعماليږي.
امام نووي فرمائي الرهيط په "ر" پيښ دى درهط تصغير دى دلسو نه كمو كسانو ته وئيلى شي الاقق كناره غاړه عكاشه دعين پيښ او په كاف شدد دى په تخفيف هم روايت شوى دى خو شد لوستل بهتر دي.

تشريح: "هذه امتك ومعهم سبعون الفا يدخلون الجنة" يعني دا ستا امت دى په دي كې اويا زره داسي كسان دي چي جنت ته به بغير دكساب او كتاب نه داخل شي
دويم مطلب دادى چي ستا په امت كې به داويا زرو نه علاوه نور كسان هم وي چي جنت ته به بغير دحساب او كتاب نه داخليږي ليكن اولنئ معني زياته بهتره ده خكه چي په يو بل روايت سره هم ددي تائيد كيږي چي الفاظ يي دادي "هذه امتك يدخلون الجنة من هولاء سبعون الفا".
ليكن داويا زرو نه مراد تكثير دى يعني ډير زيات به زما په امت كې داسي كسان وي
"لايرقون ولايسترقون" يعني نه به په چا باندي دمونه اچوي او نه به خان په چا باندي دموي ددينه مراد دم تعويذ دى كوم چي دقراني كلماتو او ماثوره دعاگانو او اسماء الهيه نه بغير وي.
شيخ عبدالحق دهلوي فرمائيلي دي زياته صحيح خبره داده چي ددي دم تعويذ نه دجاهليت دزماني دم تعويذ مراد دى چي دقران او سنت دتعليماتوسره يي هيڅ واسطه نشته او ددي په وجه به هغوئ په شرك كې مبتلا كيدل.

"ولايتطيرون" او نه به بدفالي نيسي رسول الله صلي لله عليه وسلم به نيك فال خوښولو، دجاهليت په زمانه کې دا رواج وو چې کله به چا کوم کار کول غوښتل يابه يې په سفر دتلو اراده وه نو کومه مرغۍ به يې والوزوله نو که هغه به دالوتونه پس په ښي طرف لاړه نو دا کار اوسفر به يې بختور ګڼړلو او که په ګس طرف‌به‌لاړه نو منحوس اوسپيره به يې ګڼړلو.

"سبقك بها عكاشة"يعني اوس درنه عکاشه مخکې شوی دی

ددي سوال نه محدثينو متعدد جوابونه کړي دي اولنی جواب دادی چې دالله تعالي دطرف نه صرف ديو کس په باره کې د دعا کولو اجازت ورکړی شوی دی او رسول الله به دغه وخت کې دعکاشه په حق کې دعا کړي وه او په دي وجه دبل کس دپاره ګنجائش نه وو پاتي شوی دويم جواب دا دی چې دغه کس دباطني حيثيت او حالت په اعتبار سره ددي مرتبي مستحق نه وو نو ځکه رسول الله دهغه دپاره دعا اونه غوښتله، دريم جواب دادی چې دا کس په اصل کې منافق وو او رسول الله ته ددي خبري علم وو مګر دشريفانه اخلاقو په بنا يي يو مجمل جواب ورکړو چي تا تاخير کړی دی او بل کس درنه مخکښ کيدل اوکړل

څلورم جواب دادی چي دعکاشه په حق کې دوحي خفيفه ذريعه معلومه شوي وه نوپه دي وجه رسول الله صرف دعکاشه په حق کې دعا اوغوښتله او دا اخري جواب زيات صحيح دی که چي په يو روايت کې راغلي دي چي دا دويم کس سعد بن عباده رضي الله عنه وو، کوم چي دمشهورو صحابه کرامو دجملي نه دی، دا احتمالات يقيني نه دی محض احتمالات دي «روضة الصالحين».

****

۱۷_باب مِنْهُ

ددين نه دلري والي دقباحت بيان

۲٤٤۷_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ الرَّبِيعِ، حَدَّثَنَا أَبُو عِمْرَانَ الْجَوْنِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: مَا أَعْرِفُ شَيْئًا مِمَّا كُنَّا عَلَيْهِ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقُلْتُ: أَيْنَ الصَّلَاةُ؟ قَالَ: "أَوَلَمْ تَصْنَعُوا فِي صَلَاتِكُمْ مَا قَدْ عَلِمْتُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، مِنْ حَدِيثِ أَبِي عِمْرَانَ الْجَوْنِيِّ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَنَسٍ. (1)

---

[1] ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح/المواقيت ۷(۵۲۹، ۵۳۰)(تحفة الأشراف: ۱۰۷۳)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائيلي يي چي نن زه هغه څيز نه وينم په کوم چي به مونږ دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په زمانه کي عمل کولو، دحديث راوي ابوعمران جوني اووئيل ايا مونځ نه ويني؟ انس اووئيل ايا تاسو خلقو په مونځ کي هغه کارونه اونکړل کوم چي تاسو وينئ؟

امام ترمذي وايي. داحديث دابوعمران جوني په روايت حسن غريب دي او دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم دانس بن مالك نه مروي دي

****

٢٤٤٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الأَزْدِيُّ الْبَصْرِيُّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ. حَدَّثَنَا هَاشِمٌ وَهُوَ ابْنُ سَعِيدٍ الْكُوفِيُّ. حَدَّثَنِي زَيْدٌ الْخَثْعَمِيُّ. عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ الْخَثْعَمِيَّةِ. قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَخَيَّلَ. وَاخْتَالَ وَنَسِيَ الْكَبِيرَ الْمُتَعَالِ. بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَجَبَّرَ وَاعْتَدَى وَنَسِيَ الْجَبَّارَ الأَعْلَى. بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ سَهَا وَلَهَا وَنَسِيَ الْمَقَابِرَ وَالْبِلَى. بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ عَتَا وَطَغَى وَنَسِيَ الْمُبْتَدَا وَالْمُنْتَهَى. بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدُّنْيَا بِالدِّينِ. بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدِّينَ بِالشُّبُهَاتِ. بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ طَمَعٌ يَقُودُهُ. بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ هَوًى يُضِلُّهُ. بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ رَغَبٌ يُذِلُّهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ. [1]

ترجمه داسماء بنت عميس رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي ډير بد دي هغه بنده څوك چي تكبر كوي او ځان په خلقو اوچت ګڼړي او لوي ذات والا الله تعالي هير كړي، او ډير بد دي هغه بنده څوك چي په مظلومانو او بې وسه خلقو زور زياتي كوي او دحد نه تير شي او دسركشۍ لاره اختيار كړي او لوي او زورور ذات هير كړي چي په لهو او لعب كي دمشغوليدو په حال كي يي قبرونه او په قبرونو كي موجود وراسته هډوكي هير كړل او هغه بنده هم ډير بد دي څوك چي سركشي او نافرماني اوكړي او دخپل خلقت ابتداء او انتهاء هيره كړي دا رنګي هغه بنده هم ډير بد دي څوك چي دين لره دمال ګټلو ذريعه اوګرځوي او هغه بنده هم ډير بد دي څوك چي په دين كي شكوك شبهات پيدا كوي او خلق په دي بې لاري كوي او ډير بد دي هغه بنده څوك چي حرص لره

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٧٥٥)

راهنما اوگرځوي او ډير بد دي هغه بنده چالره چي خپل خواهشات گمراه کړي او هغه بنده هم ډير بد دي چالره چي خپل حرص ذليل کړي
امام ترمذي وايي دا حديث صرف مونږ په همدي سند پيژنو او داسند څه خاص قوت او صحت نه لري

****

١٨_باب مِنْهُ
دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٤٩_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْمُؤَدِّبُ، حَدَّثَنَا عَمَّارُ بْنُ مُحَمَّدٍ ابْنُ أُخْتِ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو الْجَارُودِ الأَعْمَى وَاسْمُهُ: زِيَادُ بْنُ الْمُنْذِرِ الْهَمْدَانِيُّ، عَنْ عَطِيَّةَ الْعَوْفِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّمَا مُؤْمِنٍ أَطْعَمَ مُؤْمِنًا عَلَى جُوعٍ أَطْعَمَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ، وَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَقَى مُؤْمِنًا عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الرَّحِيقِ الْمَخْتُومِ، وَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ كَسَا مُؤْمِنًا عَلَى عُرْيٍ كَسَاهُ اللهُ مِنْ خُضْرِ الْجَنَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ مَوْقُوفًا، وَهُوَ أَصَحُّ عِنْدَنَا وَأَشْبَهُ. [1]

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي څوك چي كوم وږي مومن بنده ته خوراك وركړي په ده به الله تعالي دقيامت په ورځ دجنت ميوي اوخوروي اوڅوك چي په كوم تږي مومن اوبه اوڅكي الله تعالي به په هغه باندي دقيامت په ورځ رحيق المختوم (مهر كړي شوي شراب) اوڅكوي او څوك چي كوم بربنډ مومن ته جامي وركړي الله تعالي به هغه ته په اخرت كي دجنت شنه جوړه ورواغوندوي
امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي، او دا حديث د عطيه په واسطه دابوسعيد خدري نه موقوفا مروي دي او زمونږ په نزد همدا سند دنورو په نسبت زيات اقرب او صحيح دي

****

٢٤٥٠_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي النَّضْرِ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَقِيلٍ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو فَرْوَةَ يَزِيدُ بْنُ سِنَانٍ التَّمِيمِيُّ، حَدَّثَنِي بُكَيْرُ بْنُ فَيْرُوزَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ خَافَ أَدْلَجَ وَمَنْ أَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ، أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللهِ غَالِيَةٌ، أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللهِ

[1] سنن ابي داود/ الزكاة ٤١ (١٦٨٢) (تحفة الأشراف: ٤٢٠١)، ومسند احمد (٣/١٣)

الْجَنَّةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي النَّضْرِ. (1)

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه راوي دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو چا سره چي ويره وي هغه دشپې په اوله حصه کې روانيږي او څوک چي دشپې په اول کې روان شو هغه به منزل بيامومي (مطلب دا چي څوک په عيش او ارام کې پريوتو . نو فاصله بې قطع نکړله، دی په وخت منزل مقصود ته نشي رسيدلی ، او واورئ دالله تعالي سودا ډيره ګرانه ده . قيمتي ده او دالله تعالي دا قيمتي سودا جنت دی امام ترمذي دي حديث ته حسن غريب وئيلی دی.

لغات : "ادلج" د دال په سکون سره د شپې په وخت کې تللو ته وائي، حديث شريف کې بندګانو ته دالله تعالي داطاعت شوق پيدا کول دي او ددی ترغيب ورکول دي (چي که چري دالله دا قيمتي سودا حاصلول غواړئ نو دالله تعالي تابعداري کولو سره هغی دپاره سرمايه جمع کړئ کني دا قيمتي سودا به اونکړی شي).

ادلج ادلج ادلاجا وادّلج وادّلاجا تمامه شپه يا په اخري حصه کښ سفر کول، دلج دلوجا د نصر نه په معني اوبو ويستلو دي دکوهي نه چي په حوض کې يي اچوي.

تشريح : علامه طيبي وائي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم پورتنی مثال داخرت دسفر کونکو دپاره بيان کړی دی خکه چي شيطان دهغوئ په لار کې ناست دی او دانسان نفس ورسره هم ملګرتياکوي نو که انسان دنيکو اعمالو اهتمام اوکړي او دشيطان دمکر اوفريب نه بچ شي نو ده ته به دجنت لاره اسانه شي

پدي حديث کې ديته هم اشاره ده چي داخرت دمنازلو نه تيريدل انتهائي سخت او ګران کار دی ددي دپاره ډير کوشش کول پکار دي خکه چي جنت انتهائي قيمتي څيزدی ترڅو پوري چي خلقو ددي دپاره دخان او مال قرباني نه وي ورکړي ترهغي دجنت مستحق ګرځيدی نشي او همدي ته قران کريم په دي ايت ان الله اشتري من المؤمنين انفسهم واموالهم بان لهم الجنة" يعني الله تعالي ستاسو نه دجنت په بدل کې ستاسو نفسونه او مالونه اخستلي دي ، کې اشاره ده.

****

۱۹ـ بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٢٢٥)

٢٤٥١_حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي النَّضْرِ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَقِيلٍ الثَّقَفِيُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَقِيلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنِي رَبِيعَةُ بْنُ يَزِيدَ، وَعَطِيَّةُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ عَطِيَّةَ السَّعْدِيِّ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهِ حَذَرًا لِمَا بِهِ الْبَأْسُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

ترجمه عطيه بن عروه سعدي رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي بنده پوره پرهيزګار کيدی نه شي تردی چي هغه څيزونه پريدي کومو کې چي څه نقصان نه وي دهغي څيزونو نه دبچ کيدو دپاره کومو کې چي نقصان وي (يعني حرامو نه دبچ کيدو دپاره) مشتبهات هم پريدي.

امام ترمذي وايي دعطيه سعدي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي يو بنده هغه وخته پوري دمتقيانو مقام ته نشي رسيدلي تر څو پوري چي هغه هغي خبري لره په کومه کي چي هيڅ خرج نه وي دهغي خبري نه دبچ کيدو دپاره پري نږدي په کومه کي چي بدي او ګناه وي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

لغات حذراً حذر يحذر حذرا معني بچ کيدل او پرهيز کول او حساس اوسيدل په مجردو کي دضرب او نصر نه راځي.

تشريح: "حتي يدع مالاباس به حذرا مابه باس" يعني تردي پوري چي هغه څيزونه پرېږدي دکومو په کولو کې چي حرج نشته، په پورتني حديث کې هم دمشتبه څيزونو پريخودلو ته ترغيب ورکړی شوی دی علماؤ ليکلي دي چي کومي خبري ياکارونه کول شرعا ممنوع نه دي هغي ته مباح ونيلی شي يعني کول يي جائز دي . مباح په دوه قسمه دي اول هغه دی په کوم کې چي ددين يا دنيا فائده وي، دويم هغه دی په کوم کې چي نه ددين فائده وي او نه ددنيا فائده وي دغه شان خني ته لايعني ونيلی شي دداسي څيز نه دځان بچ کولو هم په حديث کې ترغيب ورکړی شوی دی چي دانسان زندګي ډيره قيمتي ده او بي مقصده نه ده چي په فضول کارونو او خبرو کې دي تيره کړی شي.

خلاصه داده چي په انسان کې کمال په هغه وخت کې پيدا کيدی شي کله چي دی هغه څيزونه هم پرېږدي کوم چي په شريعت کې ممنوع نه دي او شريعت يي اجازت ورکړی وي مګر نه کول

---

[1] ـ سنن ابن ماجه/الزهد ٢٣ (٢٢١٥) (تحفة الأشراف : ٩٩٠٢)

يي بهتر گرخولي وي

عطيه بن عروه سعدي رضي الله عنه مختصر مناقب

نوم: عطيه يې ابو عمرو ده او دپلار نوم يې قيس بن سعد دي، بعضو دده نسب نامه داسې بيان کړي ده . عطيه بن عروه بن خيثم ، بن سعد بن بکر بن هوازن الخ اهل يمن او اهل شام اکثر دده نه نقل دروايت کوي.

****

٢٠_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٥٢_حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ الْقَطَّانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ حَنْظَلَةَ الأُسَيِّدِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَوْ أَنَّكُمْ تَكُونُونَ كَمَا تَكُونُونَ عِنْدِي لأَظَلَّتْكُمُ الْمَلاَئِكَةُ بِأَجْنِحَتِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ عَنْ حَنْظَلَةَ الأُسَيِّدِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وفي الباب عن أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

ترجمه دحنظله اسيدي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که چرې (هميشه دپاره) ستاسو کيفيت هغه وي کوم چې تاسو زما په وړاندې موجود يئ نو فرشتې به په تاسو باندې پخپلو وزرو سورې کول شروع کړي

امام ترمذي وايي داحديث په دې سند حسن غريب دي او دا حديث دحنظله اسيدي په واسطه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددې سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي، په دې باب کې دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

****

٢١_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٥٣_حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ سَلْمَانَ أَبُو عُمَرَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ،

[1] _ صحيح مسلم/التوبة ۳ (۲۷۵۰)، سنن ابن ماجه/الزهد ۲۸ (۴۲۳۹) (تحفة الأشراف : ۳۴۴۸) ، و مسند احمد (۴/۳۴۶) . ويأتي برقم ۲۵۱۴

عَنِ الْقَعْقَاعِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ شِرَّةً وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةً، فَإِنْ كَانَ صَاحِبُهَا سَدَّدَ وَقَارَبَ فَارْجُوهُ، وَإِنْ أُشِيرَ إِلَيْهِ بِالأَصَابِعِ فَلَا تَعُدُّوهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يُشَارَ إِلَيْهِ بِالأَصَابِعِ فِي دِينٍ أَوْ دُنْيَا إِلَّا مَنْ عَصَمَهُ اللهُ". (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي يقينا دهر يو څيز دپاره يو حرص او يو نشاط وي او هر حرص او نشاط يوه كمزوري ده نو كه چري ددي حاصلونكي په معتدل او مناسب رفتار اوچليده او حق ته د رسيدو په كوشش كي وو نو بيا ددي دبهترئ اميد اوساتئ او كه ده ته په ګوتو اشاري اوكړي شي نو بيا دا په هيڅ كي مه شميرئ

امام ترمذي وايي. دا حديث په دي سند حسن صحيح غريب دي، دانس بن مالك نه مروي دي رسول الله فرمائيلي دي ديو سړي دخرابيدو دپاره هم دومره كافي ده چي دده ددين يا ددنيا په بارد كي ده ته ګوتي اونيولي شي مګر هغه څوك چاله چي الله تعالي محفوظ اوساتي

****

۲۲_باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يو بل باب

۲٤٥٤_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي يَعْلَى، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "خَطَّ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا مُرَبَّعًا، وَخَطَّ فِي وَسَطِ الْخَطِّ خَطًّا، وَخَطَّ خَارِجًا مِنَ الْخَطِّ خَطًّا، وَحَوْلَ الَّذِي فِي الْوَسَطِ خُطُوطًا. فَقَالَ: هَذَا ابْنُ آدَمَ، وَهَذَا أَجَلُهُ مُحِيطٌ بِهِ، وَهَذَا الَّذِي فِي الْوَسَطِ الإِنْسَانُ، وَهَذِهِ الْخُطُوطُ عُرُوضُهُ إِنْ نَجَا مِنْ هَذَا يَنْهَشُهُ هَذَا، وَالْخَطُّ الْخَارِجُ الأَمَلُ". هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (2)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو څلوركوتي (چورس) كرخه رابنكله او يوه بله كرخه يي ددي په مينځ كي ددينه بهر

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۲۸٤۰)

2 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٤ (٦٤١٧)، سنن ابن ماجه/الزهد ٢٧ (٤٢٣١) (تحفة الأشراف: ٩٢٠٠)

اوويستله او بيا يې د درمياني كرخې طرف ته وړې وړې كرخې راښكلې او ويې فرمانيل دا بني ادم دي او دا كرخه دده مرګ ده چې دهر طرف نه يې په ده باندې احاطه كړې ده او دا مينځنۍ كرخه انسان دي (يعني دده ارزوګاني او اوميدونه دي) او دا وړې وړې كرخې په انسان باندې راتلونكې حالات او حوادث دي كه چرې دې ديوې حادثې نه بچ پاتې شو نو دويمه حادثه به وربانديې حمله اوكړي او دا بهر وتونكې كرخه دده اميد دي

امام ترمذي وايي اودا حديث صحيح دي

****

٢٤٥٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَيَشِبُّ مِنْهُ اثْنَانِ الحِرْصُ عَلَى المَالِ، وَالحِرْصُ عَلَى العُمُرِ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه دانس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يقينا انسان بوډاكيږي ليكن دود خواهشونه يې ځوان پاتې كيږي چې يو دمال شوق دي او دويم داوږد عمر تمنا كول دي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٢٤٥٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ مُحَمَّدُ بْنُ فِرَاسٍ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو العَوَّامِ وَهُوَ عِمْرَانُ القَطَّانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مُثِّلَ ابْنُ آدَمَ وَإِلَى جَنْبِهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ مَنِيَّةً، إِنْ أَخْطَأَتْهُ المَنَايَا وَقَعَ فِي الهَرَمِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (2)

ترجمه دعبدالله بن شخير رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دانسان مثال داسې دي چې دده اړخ ته ٩٩افتونه دي كه چرې دې ددې افتونو نه بچ پاتې شي نو په بوډاوالي كې به ګرفتار شي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح غريب دي

****

1 ـ انظر حديث رقم ٢٢٣٩

2 ـ انظر حديث رقم ٢١٥٠

٢٣_ باب مِنْهُ
دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٤٥٧_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنِ الطُّفَيْلِ بْنِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَهَبَ ثُلُثَا اللَّيْلِ قَامَ، فَقَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا اللهَ، اذْكُرُوا اللهَ جَاءَتِ الرَّاجِفَةُ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ". قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي أُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِي؟ فَقَالَ: "مَا شِئْتَ". قُلْتُ: الرُّبُعَ؟ قَالَ: "مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ". قُلْتُ: النِّصْفَ؟ قَالَ: "مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ". قُلْتُ: فَالثُّلُثَيْنِ؟ قَالَ: "مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ". قُلْتُ: أَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِي كُلَّهَا. قَالَ: "إِذًا تُكْفَى هَمَّكَ وَيُغْفَرُ لَكَ ذَنْبُكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

([1])

ترجمه ابی بن کعب رضي الله عنه روایت بیانوي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم به دشپې دری حصی تیریدلو نه پس رابیدار شو او اوبه یی فرمائیل خلقو! الله یاد کړئ، لړزونکي خبره مخي ته راتلونکی ده، مرګ خپلی سختئ راوړي، مرګ دخپلو سختو سره راروان دی . ما عرض اوکړو چي خه خپله دعا کې تاسو باندي کثرت سره درود شریف لولم ، تاسو دی دپاره څه حصه مقرر کړئ، څومره چي تاسو مناسب ګنړئ، نو ویی فرمائیل چي څومره دي خوښه وي ما عرض اوکړو څلورمه، رسول الله صلي الله علیه وسلم بیا اوفرمائیل څومره چي ته مناسب ګنړی خو که ته دي کې اضافه اوکړی نو ستا دپاره به بهتر وي، ما عرض اوکړو ایا نیمه، رسول الله صلي الله علیه وسلم عرض اوکړو چي څومره ته مناسب ګنړي خو که زیات یی کړی نو ستادپاره بهتر ده، ما عرض اوکړو، دوه ثلثه؟ دی باندي یی هم اوفرمائیل چي څومره ته غواړی او که زیاتی اوکړی نو ستا دپاره بهتر ده . ما عرض اوکړو څه به خپله ټوله دعا تاسو باندي درود شریف وئلو باندي شامله کړم، رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل نو بیا خو به ستا ټول فکرونه او پریشانئ لری کړی شي

امام ترمذي وایي داحدیث حسن صحیح دي

لغات : الراجفة دقیامت په ورځ چي کله اولنئ شپیلئ ووهلي شي هغي ته راجفه وئیلي شي الرادفة دقیامت په ورځ چي کله دویمه شپیلئ ووهلي شي هغي ته رادفه وئیلي شي رادفه

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٠) ، وانظر مسند احمد (١٣٥/٥)

ورته خکه ونيلي شي چي دا په اولنۍ پسي ورپسي وي او اولنۍ ته راجفه خکه ونيلي شي چي هغه د زلزلي پشان انسانان لړزوي

تشریح: "الراجفة" علامه طيبي وائي ددينه مراد نفخه اولي ده په کومه کې چي به ټول ژوندي خلق مړه شي او د "الرادفة" نه مراد نفخه ثانيه ده په کومه کې چي به ټول خلق دوباره راژوندي شي

علامه سخاوي دمسند احمد دا روايت نقل کړی دی چي يو کس عرض اوکړو ای دالله رسوله که چري زه خپل ټول عمر په تاباندي درود ونيلو ته مقرر کړم نو څنګه به وي رسول الله ورته اوفرمائيل بياخو به الله تعالي ستاددنيا او اخرت دواړو دپاره کافي شي

علامه سخاوي فرمايي دپورتني حديث مثال داسي دی لکه چي په بل روايت کې ارشاد الهي دی څوك چي زما په ذکر کې ددعا غوښتلو نه زيات کوشش کوي نو زه هغه ته ددعا کونکو نه زيات ورکوم او همدا رنګي درود ويونکو ته الله تعالي هر څه ورکې

يارب صل وسلم دائما ابدا علي حبيبك خير الخلق كليهم

سوال په پورتني حديث کې بهتر ورد او وظيفه درود شريف خودلی شوی دی ليکن په بعضي رواياتو کې افضله دعا الحمدلله او په بعضو کې استغفار خودلی شوی دی

جواب په دي باب کې دخلقو حالاتو او دوختونو مختلف کېدو لره اعتبار دی.(روضة الصالحين)

****

٢٤_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٥٨_حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ أَبَانَ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الصَّبَّاحِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُرَّةَ الْهَمْدَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اسْتَحْيُوا مِنَ اللَّهِ حَقَّ الْحَيَاءِ " قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا لَنَسْتَحْيِي وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، قَالَ: " لَيْسَ ذَاكَ وَلَكِنَّ الِاسْتِحْيَاءَ مِنَ اللَّهِ حَقَّ الْحَيَاءِ أَنْ تَحْفَظَ الرَّأْسَ وَمَا وَعَى، وَتَحْفَظَ الْبَطْنَ وَمَا حَوَى، وَتَتَذَكَّرَ الْمَوْتَ وَالْبِلَى، وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ تَرَكَ زِينَةَ الدُّنْيَا، فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدِ اسْتَحْيَا مِنَ اللَّهِ حَقَّ الْحَيَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَبَانَ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ

الصَّبَّاحِ بْنِ مُحَمَّدٍ. (١)

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دالله تعالي نه شرم او حياء اوکړئ څنګه چي دهغه نه دشرم او حياء کولو حق دي مونږ عرض اوکړو اي دالله رسوله مونږ خو دالله تعالي نه شرم او حياء کوو او په دي دالله تعالي شکر اداء کوو رسول الله اوفرمائيل دحياء حق دا نه دي دکوم چي تاسو ګمان کړي دي. دالله تعالي نه دشرم او حياء کولو حق دادي چي تاسو دخپل سر او دسر سره چي څومره څيزونه دي دټول حفاظت اوکړئ و دخپلي خيټي او په خيټه کي چي دننه څيزونه دي دټولو حفاظت اوکړئ. او خپل مرګ او دهډوکو ورستيدل ياد اوساتئ او څوك چي داخرت کاميابي حاصلول غواړي هغه دي ددنيا زيب او زينب پريږدي پس چاچي دا کارونه پوره کړل هغه په حقيقت کي دالله تعالي نه داسي حياء اوکړله څنګه چي دهغه نه دحياء کولو حق دي

امام ترمذي وايي دا حديث غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند د ابان بن اسحاق په سند پيژنو او هغه دصباح بن محمد نه نقل کړي دي

****

٢٥_باب مِنْهُ

دماقبل باب متعلق يوبل باب

٢٤٥٩_حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ. وَحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ ضَمْرَةَ بْنِ حَبِيبٍ، عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ، وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنَّى عَلَى اللَّهِ ". قَالَ ابو عيسي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. قَالَ: وَمَعْنَى قَوْلِهِ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ، يَقُولُ: حَاسَبَ نَفْسَهُ فِي الدُّنْيَا قَبْلَ أَنْ يُحَاسَبَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. وَيُرْوَى عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: حَاسِبُوا أَنْفُسَكُمْ قَبْلَ أَنْ تُحَاسَبُوا، وَتَزَيَّنُوا لِلْعَرْضِ الأَكْبَرِ وَإِنَّمَا يَخِفُّ الْحِسَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى مَنْ حَاسَبَ نَفْسَهُ فِي الدُّنْيَا. وَيُرْوَى عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ قَالَ: لاَ يَكُونُ الْعَبْدُ تَقِيًّا حَتَّى يُحَاسِبَ نَفْسَهُ كَمَا يُحَاسِبُ شَرِيكَهُ مِنْ أَيْنَ

١ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٥٥٣) (صحيح الترغيب ٣٣٣٤، ١٦٣٨، ١٤٢٥، ١٤٢٣)

مَطْعَمُهُ وَمَلْبَسُهُ.(۱)

ترجمه : دشداد بن اوس رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي هوښيار انسان هغه دى چي پخپله دخپل خان سره محاسبه كوي او اخرت كې په كار راتلونكي اعمال كوي او عاجزاوبيوقوف هغه دى چي خپل خان د خواهشاتو تابع او غلام اوګرځوي او الله تعالي سره (دنيكئ اوميدونه) اوتړي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن دى، اود ارشاد نبوي"من دان نفسه" مطلب دادى چي په دنيا كي د خپل نفس سره مخكي ددي نه حساب وكړه چي په اخرت كي درسره حساب وكړى شي . او عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يي چي دخپلو خانو سره حساب پخپله مخكي ددينه حساب وكړئ چي حساب درسره وكړى شي. اود لويي پيشئ دپاره خانونه مزين كړئ . او يقينا چي په اخرت كي به د هغه چا سره په حساب كي تخفيف كيږي چا چي د خان سره په دنيا كي پخپله حساب كړى وي ، ميمون بن مهران به فرمائيل . يو بنده دهغه وخته پوري پرهيزګار نشي كيدى څو پوري چي هغه پخپله د خپل خان سره داسي حساب نه وى كړي، څنګه چي دى د خپل شريك سره كوي، اوخان سره به حساب په دي باره كي كوي چي زما خوراك او لباس ما د كوم خاي نه په څه طريقه حاصل كړى دى

لغات: الكيس كاس كيسا د ضرب نه په معني عقلمند او ذهين كيدو دي هواها هوي هويً دسمع نه په معني خواهش او عشق دي. تمني په معني د خواهش او ارادي كولو دي الاماني د امنية جمع ده په معني دارزو كولو لايعنيه عني عنا دسمع نه په معني دمفيد كيدو دي عالمانو د "دان نفسه" معني دمحاسبه نفس كړي ده

تشريح: "من دان" ددينه مراد دنفس سره محاسبه كول دي معلومه شوه چي انسان دي دخپل خان سره شپه او ورځ محاسبه كوي كه دنيكو غلبه ورته معلومه شي نو په دي دي دالله تعالي شكر ادا كړي هغه به نور توفيق هم وركړي او كه دبدئ غلبه ورته معلومه شي نو استغفار دي اوكړي او دا خيال دي اوكړي چي دا دشيطان او نفس په وجه شوي دي په يو بل حديث پاك كي دنفس دمحاسبي مزيد اهميت داسي بيان شوى دى "حاسبوا انفسكم قبل ان تحاسبوا". يعني دخان سره پخپله حساب وكړئ مخكي ددينه چي حساب درسره وكړي شي.

"من اتبع نفسه هواها" يعني څوك چي دخواهشاتو تابعداري كوي . امام غزالي دحسن بصري دا قول نقل كړى دى چي دباطل ارزو ګانو او اوميدونو نه ډير لري اوسيږه په الله قسم الله تعالي تش په اوميدونو په دنيا كي څوك نه كاميابوي او نه په اخرت كښي. په دي حديث كي

---

۱ سنن ابن ماجه/الزهد٣١ (٤٢٦٠) (تحفة الأشراف : ٤٨٢٠)

چي دناداان او بې وقوف کومه علامه بيان کړی شوي ده که انسان په دي غور اوکړي او زندګي تيره کړي او دخپل نفس سره محاسبه کول معمول اوګرځوي نو انشاء الله يوه ورځ به داسي هم راشي چي فرشتي به په ده باندي کينه شروع کړي

دشداد بن اوس رضي الله عنه مناقب

نوم شداد کنيت ابو يعلي يا ابوعبدالرحمن ابو خزرج کې يې د بنو نجار قبيلي سره تعلق وو شداد دمشهور شاعر حسان بن ثابت وراره وو دپلار نوم يې اوس بن ثابت وو او دمور نوم يې عرصيه وو پلار او تره وغيره تمام خاندان يې په يو خاي اسلام قبول کړی وو دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دوفات نه پس په شام ، فلسطين، بيت المقدس، او حمص کې اوسيدلی وو ، عباده بن ثامت رض الله عنه به فرمائيل شداد دهغه خلقو نه دی څوك چي دعلم او حلم مجمع البحرين دي (اسد الغابه)

شداد ډير عبادت ګذار وو اکثر به چي دشپي دارام کولو دپاره پريوتو نو واپس به پاڅيدو او ټوله شپه به يې په مونځ کې تيروله او دا به يې فرمائيل "اللهم ان النار قد حالت بيني وبين النوم" يعني ای زما پروردګاره اور زما او زما دخوب په مينځ کې حائل شوی دی (اسد الغابه)

****

٢٦_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٦٠_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ مَدُّوَيْهِ، حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ الْحَكَمِ الْعُرَنِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ الْوَلِيدِ الْوَصَّافِيُّ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصَلَّاهُ فَرَأَى نَاسًا كَأَنَّهُمْ يَكْتَشِرُونَ، قَالَ: " أَمَا إِنَّكُمْ لَوْ أَكْثَرْتُمْ ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ لَشَغَلَكُمْ عَمَّا أَرَى، فَأَكْثِرُوا مِنْ ذِكْرِ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الْمَوْتِ فَإِنَّهُ لَمْ يَأْتِ عَلَى الْقَبْرِ يَوْمٌ إِلَّا تَكَلَّمَ فِيهِ، فَيَقُولُ: أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ، فَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ قَالَ لَهُ الْقَبْرُ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا، أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ، قَالَ: فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْفَاجِرُ أَوِ الْكَافِرُ، قَالَ لَهُ الْقَبْرُ: لَا مَرْحَبًا وَلَا أَهْلًا، أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِيَ بِكَ، قَالَ: فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حَتَّى يَلْتَقِيَ عَلَيْهِ وَتَخْتَلِفَ أَضْلَاعُهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصَابِعِهِ: فَأَدْخَلَ بَعْضَهَا فِي جَوْفِ بَعْضٍ، قَالَ: وَيُقَيِّضُ اللهُ لَهُ

سَبْعِينَ تِنِّينًا لَوْ أَنَّ وَاحِدًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ شَيْئًا مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا فَيَنْهَشْنَهُ وَيَخْدِشْنَهُ حَتَّى يُفْضَى بِهِ إِلَى الْحِسَابِ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

ترجمه دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله مصلي ته راغلو او ويي ليدل چي خلق خندا كوي دوئ ته يې اوفرمائيل خبردار كه چري تاسو لذتونو لره ختمونكي څيز ياد ساتلي وي نو دا كارونه به مو نه وو كړي او رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دلذتونو ختمونكي څيز يعني مرګ ډير ډير يادوئ . خكه چي قبر روزانه اواز كوي او وائي چي زه ديواخي والي او ناشناوالي كور يم، زه دخاورو كور يم او زه دچينجو كور يم مګر چي كله مومن بنده دفن كړي شي نو قبر ورته پخير راغلي وائي او مباركي وركوي او ده ته وائي يقينا ته زما په نزد په هغه خلقو كي دټولو نه زيات محبوب يي كوم چي به په ما ګرځيدل، مګر بيا چي كله زه ستا دكار نګرانه شوم او ته ماته راغلي نو اوس به كتلي شي چي زه تاسره څرنګه ښه سلوك كوم او بيا به دده دنظر دحده پوري قبر فراخه كړي شي او ده ته به دجنت يوه دروازه پرانيستلي شي ، مګر كله چي فاجر يا كافر دفن كړي شي نو قبر ورته نه پخير راغلي وائي او نه ورته مباركي وركوي بلكه دا ورته وائي بيشكه ته زما په نزد په هغه ټولو خلقو كي زيات قابل دنفرت وي كوم چي به په ماباندي ګرځيدل اوس چي زه ستا دكار نګران شوم او ته ماته راغلي نو اوس به ته دخپل خان سره بدسلوكي اووينې او بيا به ورته يو زور وركړي او دهر طرف نه به ورباندي زور راوړي تردي چي ديو طرف پوختئ به يې په بل طرف پوختو كي ننوخي او رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپلو ګوتو اشاره اوكړه او ديو لاس ګوتي يې په بل كي داخل كړي شي او بيا يې اوفرمائيل الله تعالي به ورباندي اويا اژدها ماران مسلط كړي دا به داسي ماران وي چي په دوئ كي يو هم يو خل په زمكه كي پوكي اوكړي نو په دي زمكه كي به هيڅ قسم ګيا شنه نشي، او بيا به دا اژدهاګاني ده لره دحساب او كتاب مخامخ كيدو پوري په غاښونو چيچي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيشكه چي قبر دجنت په باغونو كي يو باغ دي او يا دجهنم په كندو كي يوه كنده ده

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي مونږ يې صرف په همدي سند پيژنو.

لغات: هاذم هذم يهذم هذما دضرب نه معني زر كټ كيدل ، ختميدل دباب نصر او ضرب نه هم راخي

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۴۲۱۳)

تشريح: درسول الله دا حكم په مختلفو رواياتو کې راغلې دی مثلا دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي چې دلذتونو ختمونکي څيز يعني مرګ لره ډيريادوئ او چې څوك يې په تنګئ کې ياد کړي نو وسعت او سهولت به ورباندي راشي او چې څوك يې په فراغت کې يادوي نو دهغه دپاره په اخراجاتو کې دتنګئ سبب ګرځي دانس رضي الله عنه په روايت کې راغلي دي چې يو خل نبي کريم صلي الله عليه وسلم راغی او صحابه کرامو خاندل رسول الله ورته اوفرمائيل لذتونو لره ماتونکی څيز زيات يادوئ څوك چې دي لره په فراخئ کې ياد کړي نو دی به ورباندي تنګي کوي او چې څوك يې په تنګئ کې ياد کړي نو فراخي به ورباندي راولي

دامضمون په نورو ډيرو روايتونو کې هم راغلی دی په دومره اهتمام سره ددي دبيانولو وجه علماؤ دا ليکلي ده چې مرګ يادول دمرګ دپاره دتياري سبب وي او دا کار دنيا نه دبي رغبتئ ذريعه ده او هم ددي په وجه انسان داخرت دپاره د کار کولو دپاره هروخت تياروي. دويم داچي انسان لره دظلم نه منع کوي اونور ډيرفوائد هم لري

****

٢٧_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٦١_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي ثَوْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ: أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَإِذَا هُوَ مُتَّكِئٌ عَلَى رَمْلِ حَصِيرٍ فَرَأَيْتُ أَثَرَهُ فِي جَنْبِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ. (١)

ترجمه . دعمر بن الخطاب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کې په داسې حال کې حاضر شوم چې په يو پوزکي يې ارام کولو او ما دپوزکي دنښو اثر دهغه په بدن اوليدلو.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کې يوه اوږده قصه ده.

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /المظالم ٢٥ (٢٤٦٨)، والنكاح ٨٣ (٥١٩١)، واللباس ٣١ (٥٨٤٣)، صحيح مسلم/الطلاق ٥ (١٤٧٩)، سنن ابن ماجه/الزهد ١١ (٤١٥٣) (ويأتي برقم ٣٣١٨) (تحفة الأشراف: ١٠٥٠٧)، و مسند احمد (٣٩١،١/٣٠١)

****

٢٨_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٦٢_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مَعْمَرٍ، وَيُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ أَخْبَرَهُ، أَنَّ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ أَخْبَرَهُ، أَنَّ عَمْرَو بْنَ عَوْفٍ وَهُوَ حَلِيفُ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ فَقَدِمَ بِمَالٍ مِنَ الْبَحْرَيْنِ، وَسَمِعَتِ الأَنْصَارُ بِقُدُومِ أَبِي عُبَيْدَةَ فَوَافَوْا صَلاَةَ الْفَجْرِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ، فَتَعَرَّضُوا لَهُ، فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ رَآهُمْ، ثُمَّ قَالَ: " أَظُنُّكُمْ سَمِعْتُمْ أَنَّ أَبَا عُبَيْدَةَ قَدِمَ بِشَيْءٍ ". قَالُوا: أَجَلْ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: " فَأَبْشِرُوا وَأَمِّلُوا مَا يَسُرُّكُمْ، فَوَاللهِ مَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ وَلَكِنِّي أَخْشَى أَنْ تُبْسَطَ الدُّنْيَا عَلَيْكُمْ كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ قَبْلَكُمْ فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا فَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : عمرو بن عوف انصاري رضي الله عنه بيان کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم امين الامة ابو عبيده بن جراح رضي الله عنه دبحرين نه دجزيې راوړلو دپاره اوليږلو، کله چي هغه دبحرين نه مال راوړلو او واپس راغی او دمدينې انصارو ته پته اولګيده چي هغوي مال سره واپس راغلي دي نو اهل مدينه دسحر دمانځه دپاره د رسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت کي حاضر شول، کله چي رسول الله مونځ ادا کړو، نو دوی ورته رامخکي شول، رسول الله صلي الله عليه وسلم چي اوليدل نو مسکی شو او ارشاد يې اوفرمائيلو خما خيال دی چي تاسو دا اوريدلي دي چي ابو عبيده دبحرين نه څه مال راوړی دی ، هغوي عرض اوکړو چي همدا خبره ده، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي خوشحاله شئ او د داسي څيز اميد ساتئ چي کوم ستاسو دخوشحالئ باعث دی، په الله تعالي قسم ماسره ستاسو دفقراوفاقی دومره ويره نشته څومره چي راسره ددی خبری ويره ده چي دنيا به تاسو باندي راوخوره کړی شي څنګه چي ستاسو نه وړاندي خلقو باندي فراخه کړی شوی وه او تاسو به هم

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /الجزيه ١ (٣١٥٨) ، والمغازي ١٢ (٤٠١٥) ، والرقاق ٧ (٦٤٢٥) ، صحيح مسلم/الزهد١ (٢٩٦١) ، سنن ابن ماجه/الفتن ١٨ (٣٩٩٧) (تحفة الأشراف : ١٠٧٨٣)

دنيا کې داسې اونخلې څنګه چې په دې کې هغوی انختي وو او بيا به دهغوي پشان تاسو هم په هلاکت کې پريوځئ
امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي.
لغات : بجزيتها جزيه دزمکي او محصول او ټيکس ته وئيلي شي کوم چې دذميانو نه اخستلي شي جمع يي جزي وجزي وجزاء دضرب نه راځي
املوا صيغه دجمع مذکر حاضر باب تفعيل ده په معني د اميد کولو او امال يي جمع راځي
تشريح: ما الفقر اخشي عليکم. يعني زه په تاسو باندې دفقير کيدو متعلق يره نه کوم ددينه معلوميږي چې ددنيا فراخي دانسان دپاره دغفلت سبب ګرځي ځکه چې دنيا کله چاته راشي نو دهغه ورسره محبت هم پيدا شي دکوم په باره کې چې رسول الله فرمائيلي دي "حب الدنيا راس کل خطيئة. يعني ددنيا سره محبت کول دهري خطا جرړي دي
د ابو حازم قول دي چې ددنيا نه بچ اوسئ دقيامت په ورځ به سړي اودرولي شي او وبه ويلي شي چې دا هغه کس دي چې يوداسې څيز يي لوي ګڼرلي وو کوم چې د الله په نزد حقير وو.
داسې فقر چې کفر ته رسونکي نه وي
داکثرو علماؤ قول دي دلته داسې فقر مراد دي چې سړي ورسره ګذاره کولي شي اوکه زيات فقر وي چې سړي فقر ته رسوي هغه ورنه مراد ندي . کاد الفقر ان يکون کفرا ، يعني شديده تنګدستي کله کله ضعيف الايمان اشخاص کفر ته رسوي.

د عمرو بن عوف رضي الله عنه مناقب

نوم عمرو کنيه ابوعبدالله چې داسلام په ابتداء کې مسلمان شوی وو او بيايي ددينه پس مديني ته هجرت هم کړی وو (استيعاب)
کله چې په غزوه تبوک کې سخت قحط وو نو رسول الله ددې دپاره تياری شروع کړو او عمرو بن عوف په دربارنبوت کې حاضر شو او عرض يي اوکړو که زمونږ دپاره هم څه انتظام اوکړی شي نو مونږ به ددې جهاد نه محروم پاتي نشو غرض داچې ددې دپاره څه انتظام اونه شو ليکن الله تعالي دداسې خلقو په باره کې دا ايت کريمه
ولا علي الذين اذا ما اتوك لتحملهم قلت لااجد ما احملکم عليه تولوا واعينهم تفيض من الدمع حزنا الا يجدوا ماينفقون (توبه) نازل کړو.
يعني او نه په هغه خلقو الزام شته کوم چې تاته دسورلئ غوښتلو دپاره راغلل او تا ورته اووئيل زما سره خو هيڅ څيز نشته چې تاسو پرې سواره کړم نو ددې وينا په اوريدو سره دغم په وجه دهغوئ دسترګو نه اوښکي بهيدلي.

وفات: دامير معاويه رضي الله عنه په زمانه کې په مدينه کې وفات شو (استيعاب) دده دمروياتو شمير اوو ته رسيږي

****

۲۹_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

۲٤٦٣_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، وَابْنِ الْمُسَيَّبِ، أَنَّ حَكِيمَ بْنَ حِزَامٍ، قَالَ: "سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَأَعْطَانِي، ثُمَّ قَالَ: "يَا حَكِيمُ، إِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ فَمَنْ أَخَذَهُ بِسَخَاوَةِ نَفْسٍ بُورِكَ لَهُ فِيهِ وَمَنْ أَخَذَهُ بِإِشْرَافِ نَفْسٍ لَمْ يُبَارَكْ لَهُ فِيهِ، وَكَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ، وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى"، فَقَالَ حَكِيمٌ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَرْزَأُ أَحَدًا بَعْدَكَ شَيْئًا حَتَّى أُفَارِقَ الدُّنْيَا. فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَدْعُو حَكِيمًا إِلَى الْعَطَاءِ فَيَأْبَى أَنْ يَقْبَلَهُ، ثُمَّ إِنَّ عُمَرَ دَعَاهُ لِيُعْطِيَهُ فَأَبَى أَنْ يَقْبَلَ مِنْهُ شَيْئًا. فَقَالَ عُمَرُ: إِنِّي أُشْهِدُكُمْ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى حَكِيمٍ أَنِّي أَعْرِضُ عَلَيْهِ حَقَّهُ مِنْ هَذَا الْفَيْءِ فَيَأْبَ أَنْ يَأْخُذَهُ، فَلَمْ يَرْزَأْ حَكِيمٌ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ شَيْئًا بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى تُوُفِّيَ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (۱)

ترجمه: حکيم بن حزام رضي الله عنه وائي چي ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه څه اوغوښتل، هغوي راته راکړل، ما بيا اوغوښتل نو هغوي راکړل ما تري بيا سوال اوکړو نو رابی کړل بيا يي راته اوفرمائيل اي حکيمه! دا مال ډير خوږ او زړه راخکونکی شي دی، څوک چي دا دزړه بی رغبتئ سره حاصلوي هغه دپاره په دي کې برکت اچولی شي او څوک چي دا دزړه په لالچ سره اخلي هغه دپاره پکې خير او برکت نشي اچولی اودداسی انسان حالت دهغه کس پشان دی چي خوراك څښاك کوي خو مړيږي نه او پاسنی لاس (ورکونکی) دلاندينی لاس (کوم چي سوال دپاره نيولی شي) بهتر دی حکيم وائي ما عرض اوکړو يا رسول الله! په هغه ذات مي دي قسم وي چاچي تاسو په حقه پيغمبرراليږلي يی! خه دا لوظ کوم چي ستاسو نه پس به ترمرګه پوری دهيچا نه سوال نکوم، نو اميرالمومنين ابوبکر صديق رضي الله عنه دخلافت

---

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الزكاة ٥٠ (١٤٧٢) . والوصايا ٩ (٢٧٥٠) . وفرض الخمس ١٩ (٣١٤٣) والرقاق ١١ (٦٤٤١) صحيح مسلم/الزكاة ٣٢ (١٠٣٥) . سنن النسائي/الزكاة ٥٠ (٢٥٣٢) . و ٩٣ (٢٦٠٢،٢٦٠٣) (تحفة الأشراف : ٣٤٢٦) . وحم(٣/٤٠٢، ٤٣٣، ٤٣٤) . وسنن الدارمي/الزكاة ٢٢ (١٦٦٠)

په زمانه کې دی راوغوښتلو ،دعامو مسلمانانو پشان، څه یې ورکول غوښتل نو ده دقبلولو نه انکار اوکړو بیا امیر المومنین عمرفاروق رضي الله عنه دخپل خلافت په زمانه کې هغه دڅه ورکولو دپاره راوبللو نو بیایې هم دڅه اخستلو نه انکار اوکړو چې دی باندې عمر رضي الله عنه دمسلمانانو په وړاندې اعلان اوکړو چې ما دغنیمت دمال نه حکیم بن حزام ته دهغه حصه ورکول اوغوښتل او دادهغه حق وو چې الله تعالي دې مال کې هغه دپاره مقرر کړی وو لیکن هغه ددی داخستلو نه انکار اوکړو. تاسو ګواه اوسئ ،هغوي په خپله وعده کې کلك پاتې شول چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم دوفات نه پس یې دهیچا نه څه وانخستل.
امام ترمذي وایي داحدیث صحیح دي.
لغات: "یرزا" اول راء بیا زاء بیا روستو همزه ده مطلب دادی چې دچانه هیڅ څیز نه اخستل "الرزاء" اصل کې دکمي او نقصان په معني سره راځي . یاهغه دچا نه څه څیز اخستلو سره دهغه مال کم نکړو "اشرف النفس" معني ده دنفس خبریدل او دده طمع او حرص کول "سخاوة النفس" معني ده عدم خواهش او بی پرواهي اولالچ نه کول.
لاازرأ معني څه شي نه حاصلول.
تشریح : "سألته فاعطاني" یعني مادرسول الله نه اوغوښتل او هغه راته راکړل، په سوال کولو کې عموما په درې خرابیانو کې یوه ضرور وي دضرورت په وخت کې سوال کول جائز دي ورنه جائز نه دي او که چا بغیر دضرورت سوال اوکړو نو په لاندینو درې خرابې کې به یوه خرابي ضرور راځي کوم چې حرام دي،
اول. دالله تعالي نه دشکایت اظهار کول دي چې په ماباندې الله تعالي تنګي راوستلې ده.
دویم، سوال کونکي خپل نفس لره دغیرالله په وړاندې ذلیل کوي
دریم، دچانه چې سوال کیږي دهغه دطرفه اکثر ضرر رسیږي او هغه داچې په خوشحالئ سره یې نه ورکوي محض دشرم او حیاء په وجه ورکول کوي او که انکار اوکړي نو بیا ورنه دی خفه کیږي.
"لاارزا احدا بعدك شیئا حتي افارق الدنیا" یعني زه به ستا نه پس دهیچا نه هیڅ څیز نه غواړم او بیایې ددینه پس تردې پورې دچا نه څه نه غوښتل چې ددنیا نه رخصت شو علماؤ لیکلي دي که بغیر داشراف نه چاته څه شی ورکول کیږي نو اخستل یې جائز دي مګر کله چې رخصت او عزیمت جمع شي نو فضیلت په دې کې دی چې وانه خستلی شي او په همدې عزیمت حکیم بن حزام رضي الله عنه تمام عمر عمل اوکړو او درسول الله سره یې کړې وعده پوره کړه.
****

٣٠_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٦٤_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو صَفْوَانَ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: "ابْتُلِينَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالضَّرَّاءِ فَصَبَرْنَا، ثُمَّ ابْتُلِينَا بِالسَّرَّاءِ بَعْدَهُ فَلَمْ نَصْبِرْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

ترجمه دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه بيان دي فرماني چي دسختئ او تنگئ په حالاتو كي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره ود ازمائيلي شو او مونږ په دي باندي صبر اوكړو، بيا درسول الله دزماني نه پس حالاتو كي په فراخئ او خوشحالئ باندي اوزمائيلي شو نو مونږ صبر اونكړي شو.
امام ترمذي وايي. داحديث حسن دي

****

٢٤٦٥_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ صَبِيحٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبَانَ وَهُوَ الرَّقَاشِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كَانَتِ الآخِرَةُ هَمَّهُ جَعَلَ اللهُ غِنَاهُ فِي قَلْبِهِ، وَجَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ، وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ، وَمَنْ كَانَتِ الدُّنْيَا هَمَّهُ جَعَلَ اللهُ فَقْرَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ، وَفَرَّقَ عَلَيْهِ شَمْلَهُ، وَلَمْ يَأْتِهِ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا مَا قُدِّرَ لَهُ". (2)

ترجمه دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچامقصد چي زندگي داخرت وي الله تعالي دهغه په زړه كي استغناء او موړوالي پيدا كوي او دده زړه كي اطمينان اچوي او دنيا به ورته دذليل كيدو په حال كي راځي او دچا مقصد چي طلب ددنيا وي الله تعالي محتاجي دهغه د دوه ستركو په مينځ كي پيدا كړي او دده زړه دپريشانئ نه ډك كړي او دنيا به ورته صرف دومره راځي څومره چي دده دپاره ليكلي شوي وي•

****

٢٤٦٦_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ زَائِدَةَ بْنِ نَشِيطٍ،

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٧١٩)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٧٣)

عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي خَالِدٍ الْوَالِبِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: "يَا ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ، وَإِلَّا تَفْعَلْ مَلأْتُ يَدَيْكَ شُغْلًا وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو خَالِدٍ الْوَالِبِيُّ اسْمُهُ: هُرْمُزُ. (1)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي فرمائي اي بني ادم ته زما دعبادت دپاره يو طرفه او متوجه شه زه به ستا سينه داستغناء نه ډكه كړم او ستا محتاجي به ختمه كړم او كه چري تا داسي اونكړل نو زه به ستا زړه دمشغوليت نه ډك كړم او محتاجي به دي ختمه نكړم

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي اود ابو خالد والبي نوم هرمز دی

****

٣١_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٦٧_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "تُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَنَا شَطْرٌ مِنْ شَعِيرٍ فَأَكَلْنَا مِنْهُ مَا شَاءَ اللَّهُ، ثُمَّ قُلْتُ لِلْجَارِيَةِ: كِيلِيهِ فَكَالَتْهُ، فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ فَنِيَ، قَالَتْ: فَلَوْ كُنَّا تَرَكْنَاهُ لَأَكَلْنَا مِنْهُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَمَعْنَى قَوْلِهَا شَطْرٌ تَعْنِي شَيْئًا. (2)

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال كي وفات شو چي دغه وخت كي زمونږ سره لږ شان وربشي وي بيا چي څومره دالله خوښه وه دومره وخته پوري مونږ وربشي اوخوړلي بيا مونږ وينځي ته دوربشو دتول خبره اوكړه نو هغي اوتللي بيا چي كومي باقي پاتي وي هغه هم ډيري زر ختمي شوي ليكن كه چرته مونږ پريخودلي وي او تللي مو نه وي نو دا به مونږ ډيري مودي پوري خوړلي وي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي، دلته دعائشه په قول كي دشطر معني قدر دي

---

1 _ سنن ابن ماجه/الزهد ٢ (٤١٠٧) (تحفة الأشراف: ١٤٨٨١)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٢٢٤)

****

٣٢_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٦٨_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ عَزْرَةَ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الحِمْيَرِيِّ، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ لَنَا قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ عَلَى بَابِي، فَرَآهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: "انْزَعِيهِ فَإِنَّهُ يُذَكِّرُنِي الدُّنْيَا". قَالَتْ: وَكَانَ لَنَا سَمَلُ قَطِيفَةٍ تَقُولُ عَلَمُهَا مِنْ حَرِيرٍ كُنَّا نَلْبَسُهَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ. [1]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي زمونږ سره يوه نرئ پرده وه چي تصويران ورباندي جوړ شوي وو او زما په دروازه کي زوړنده وه کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا اوليده نه ويي فرمائيل دا ددي ځاي نه لري کړه ځکه چي دا ماته دنيا رايادوي. دعائشه رضي الله عنها بيان دي زمونږ سره دمالوچو جوړ يو زوړ څادر وو چي دريښمو نشانات ورباندي جوړ وو او هغه به مونږ اغوستلو.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي

****

٢٤٦٩_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَتْ وِسَادَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي يَضْطَجِعُ عَلَيْهَا مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. [2]

ترجمه : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دچمړي نه جوړ يو بالښت وو چي ارام به يي ورباندي کولو او دکجورو دنړو لختو او پټکو نه ډک وو

[1] _ صحيح مسلم/اللباس ٢٦ (٢١٠٧/٨٨) . سنن النسائي/الزينة ١١١ (٥٣٥٥) . انظر أيضا: اورده البخاري في الجامع الصحيح/المظالم ٣٢ (٢٤٧٩) . واللباس ٩١ (٥٩٥٤) . والأدب ٧٥ (٦١٠٩) . وسنن النسائي/القبلة ١٢ (٧٦٣) (تحفة الأشراف: ١٦١٠١) ومسند احمد (٦/٣٩، ٢٤١)

[2] صحيح مسلم/اللباس ٦ (٢٠٨٢) (تحفة الأشراف: ١٧٠٦٣)

امام ترمذي وايي داحديث صحيح دي

****

۳۳_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

۲٤۷۰_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي مَيْسَرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهُمْ ذَبَحُوا شَاةً، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا بَقِيَ مِنْهَا؟" قَالَتْ: مَا بَقِيَ مِنْهَا إِلَّا كَتِفُهَا، قَالَ: "بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو مَيْسَرَةَ هُوَ الْهَمْدَانِيُّ اسْمُهُ: عَمْرُو بْنُ شُرَحْبِيلَ. ([1])

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي صحابه كرمو يوه چيلۍ ذبح كړه رسول الله صلي الله عليه وسلم تپوس اوكړو چي دچيلۍ څه حصه باقي پاتي ده، عائشه رضي الله عنه اوونيل ديو لاس نه علاوه نور څه باقي نه دي پاتي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دلاس نه علاوه نور ټول باقي پاتي دي.

امام ترمذي وايي داحديث صحيح دي

****

۳٤_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

۲٤۷۱_حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "إِنْ كُنَّا آلَ مُحَمَّدٍ نَمْكُثُ شَهْرًا مَا نَسْتَوْقِدُ بِنَارٍ إِنْ هُوَ إِلَّا الْمَاءُ وَالتَّمْرُ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي زمونږ دال محمد يو وخت كي داسي حال وو چي پوره مياشت به زمونږ په نغري كي اور بل نشو او صرف په كجورو او اوبو به زمونږ وخت تيريدو

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱٦۳۱۹)

[2] ـ صحيح مسلم/الزهد ١ (۲۹٧۲) . سنن ابن ماجه/الزهد ١٠ (٤١٤٥) (تحفة الأشراف ۱٦٠٦٥) وراجع أيضا صحيح البخاري/الهبة ١ (۲٥٦٧) والرقاق ١٧ (٦٤٥٨، ٦٤٥٩) (تحفة الأشراف ١٦٠٦٥) . ومسند احمد (٦/٥٠، ٧١، ٨٦)

امام ترمذي وايي داحديث صحيح دي

5/38

****

٢٤٧٢_حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ أَسْلَمَ أَبُو حَاتِمٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَقَدْ أُخِفْتُ فِي اللهِ وَمَا يُخَافُ أَحَدٌ، وَلَقَدْ أُوذِيتُ فِي اللهِ وَمَا يُؤْذَى أَحَدٌ، وَلَقَدْ أَتَتْ عَلَيَّ ثَلَاثُونَ مِنْ بَيْنِ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ وَمَا لِي وَلِبِلَالٍ طَعَامٌ يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ إِلَّا شَيْءٌ يُوَارِيهِ إِبْطُ بِلَالٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ حِينَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَارِبًا مِنْ مَكَّةَ وَمَعَهُ بِلَالٌ إِنَّمَا كَانَ مَعَ بِلَالٍ مِنَ الطَّعَامِ مَا يَحْمِلُهُ تَحْتَ إِبْطِهِ. [1]

ترجمه : دانس رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه دالله په لاره كي داسي اوويرولي شوم چي داسي هيڅوك نه دي ويرولي شوي، او دالله په لاره كي ماته داسي تكليفونه اورسولي شو چي چاته نه دي رسولي شوي په مونږ به مسلسل ديرش ورخي داسي تيري شوي چي زما او دبلال دپاره به دخوړلو كوم څيز نه وو چي څوك زنده سر يي اوخوري مګر علاوه د معمولي شان څيز نه كوم چي به بلال پخپل ترخ كي پټ ساتل وو

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، او په دي حديث كي هغه ورځ مراد ده كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داهل مكه نه بيزاره شو او دوطن پريخودو په اراده اووتلو او بلال رضي الله عنه ورسره وو ددوئ سره لږ شان خوراك وو چي هغه په ترخ كي نيولي وو

****

٢٤٧٣_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ، حَدَّثَنِي مَنْ، سَمِعَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ، يَقُولُ: "خَرَجْتُ فِي يَوْمٍ شَاتٍ مِنْ بَيْتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ أَخَذْتُ إِهَابًا مَعْطُوبًا فَحَوَّلْتُ وَسَطَهُ فَأَدْخَلْتُهُ عُنُقِي وَشَدَدْتُ وَسَطِي، فَحَزَمْتُهُ بِخُوصِ النَّخْلِ وَإِنِّي لَشَدِيدُ الْجُوعِ وَلَوْ كَانَ فِي بَيْتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَعَامٌ لَطَعِمْتُ مِنْهُ، فَخَرَجْتُ أَلْتَمِسُ شَيْئًا، فَمَرَرْتُ بِيَهُودِيٍّ فِي مَالٍ لَهُ وَهُوَ يَسْقِي بِبَكَرَةٍ لَهُ فَاطَّلَعْتُ عَلَيْهِ مِنْ ثُلْمَةٍ فِي الْحَائِطِ، فَقَالَ: مَا لَكَ يَا أَعْرَابِيُّ، هَلْ لَكَ فِي كُلِّ دَلْوٍ بِتَمْرَةٍ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، فَافْتَحِ الْبَابَ حَتَّى أَدْخُلَ، فَفَتَحَ فَدَخَلْتُ فَأَعْطَانِي دَلْوَهُ، فَكُلَّمَا نَزَعْتُ دَلْوًا أَعْطَانِي تَمْرَةً حَتَّى إِذَا

١ _ سنن ابن ماجه/المقدمة ١١ (١٥١) (تحفة الأشراف: ٣٣١)

امْتَلَأَتْ كَفِّي أَرْسَلْتُ دَلْوَهُ، وَقُلْتُ: حَسْبِي، فَأَكَلْتُهَا ثُمَّ جَرَعْتُ مِنَ الْمَاءِ فَشَرِبْتُ، ثُمَّ جِئْتُ الْمَسْجِدَ فَوَجَدْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي په يوه يخه ورځ كي د رسول الله صلي الله عليه وسلم دكور نه اووتلم اويوه داسي بدبوداره څمړه مي دخان سره واخستله چي ويخته ورنه دوړيدلي وو، بيا مي دا په مينځ كي كټ كړه او پخپل څټ مي واچوله او خپله ملا مي دكجوري په لختيه اوتړله ، او ډير وږي شوي وم كه چري د رسول الله په كور كي دخوړلو كوم څيز موجود وي نو ما به ضرور خوړلي وو چنانچي زه دخوراك پيداكولو دپاره اووتلم په لاره كي ديو يهودي سره تيريدم چي خپل باغ يي اوبه كولو ما ورته د ديوال په يو سوري كي ورودانګل هغه راته اوونيل اي بانډچيه څه خبره ده ايا ته به په يوه كجوره يوه بوكه اوبه راوباسي؟ ما اوونيل هواو دروازه دي پرانيزه تردي چي زه درداخل شم هغه دروازه پرانيستله او زه ورداخل شوم ماته يي خپله بوكه راكړه بيا چي به ما كله هم يوه بوكه اوبه راوويستلي نو هغه به يوه كجوره راكړه تردي پوري چي زما لپه ډكه شوه نو ما دهغه بوكه پريخودله او ورته مي اوونيل چي دومره زما دپاره كافي دي چنانچي ما هغه كجوري اوخوړلي او دوه دري ګوټه اوبه مي اوڅكلي بيازه مسجد ته راغلم او هلته مي رسول الله صلي الله عليه وسلم موجود اوموندلو

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٢٤٧٤_حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبَّاسٍ الْجُرَيْرِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا عُثْمَانَ النَّهْدِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ أَصَابَهُمْ جُوعٌ "فَأَعْطَاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَمْرَةً تَمْرَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي صحابه كرام يو خل وږي شول نو رسول الله صلي الله عليه وسلم دوی ټولو ته صرف يوه كجوره وركړه

امام ترمذي وايي. داحديث حسن صحيح دي

****

٢٤٧٥_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠٢٣٩)

2 سنن ابن ماجه/الزهد ١٢ (٤١٥٧) (تحفة الأشراف: ١٣٦١٧)

اللهِ، قَالَ: " بَعَثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ ثَلَاثُ مِائَةٍ نَحْمِلُ زَادَنَا عَلَى رِقَابِنَا، فَفَنِيَ زَادُنَا حَتَّى إِنْ كَانَ يَكُونُ لِلرَّجُلِ مِنَّا كُلَّ يَوْمٍ تَمْرَةٌ. فَقِيلَ لَهُ: يَا أَبَا عَبْدِ اللهِ وَأَيْنَ كَانَتْ تَقَعُ التَّمْرَةُ مِنَ الرَّجُلِ ؟ فَقَالَ: لَقَدْ وَجَدْنَا فَقْدَهَا حِينَ فَقَدْنَاهَا، وَأَتَيْنَا الْبَحْرَ فَإِذَا نَحْنُ بِحُوتٍ قَدْ قَذَفَهُ الْبَحْرُ، فَأَكَلْنَا مِنْهُ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ يَوْمًا مَا أَحْبَبْنَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، وَرَوَاهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ وَهْبِ بْنِ كَيْسَانَ أَتَمَّ مِنْ هَذَا وَأَطْوَلَ. (١)

ترجمه : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ د دري سوو كسانو په تعداد كي اوليږلو او په مونږ كي هر چا دسفر خپل خپل سامان پورته كړي وو، زمونږ دسفر خرڅي ختمه شوه او خبره ديته اورسيده چي دهر يو سړي په حصه كي صرف يوه يود كجوره پاتي شوه دوئ ته اوونيلي شول اي ابوعبدالله په يوه كجوره به ديو سړي څه كار اوشي او هغه هم ختمي شوي نو مونږ ته ددي قدر معلوم شو هغوئ اوونيل مونږ دسمندر كناري ته ورسيدو او يو مهي راته ملاؤ شو چي سمندر بهر غورځولي وو چنانچي مونږ ددي مهي نه اتلس ورځو پوري چي څنګه زمونږ خوښه وه په مړه خيټه خوراك اوكړو

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي، دا حديث دجابر رضي الله عنه په واسطه په نورو سندونو هم مروي دي، او دا حديث مالك بن انس د وهب بن كيسان نه ددينه زيات كامل او مطول نقل كړي دي.

****

٣٥_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٧٦_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي يَزِيدُ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ، حَدَّثَنِي مَنْ، سَمِعَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ، يَقُولُ: إِنَّا لَجُلُوسٌ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ مَا عَلَيْهِ إِلَّا بُرْدَةٌ لَهُ مَرْقُوعَةٌ بِفَرْوٍ،

---

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /الشركة ١ (٢٤٨٣) . والجهاد ١٢٤ (٢٩٨٣) . والمغازي ٦٥ (٤٣٦٠-٤٣٦٢) . والأطعمة ١٢ (٥٤٩٤) . صحيح مسلم /الصيد ٤ (١٩٣٥) سنن النسائي/الصيد ٣٥ (٤٣٥٦، ٤٣٥٩) . سنن ابن ماجه/الزهد ١٢ (٤١٥٩) (تحفة الأشراف : ٣١٢٥) . موطا امام مالک/صفة النبي ١٠ (٢٤) . وسنن الدارمي/الصيد ٦ (٢٠٥٥)

فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكَى لِلَّذِي كَانَ فِيهِ مِنَ النِّعْمَةِ، وَالَّذِي هُوَ اليَوْمَ فِيهِ. ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَيْفَ بِكُمْ إِذَا غَدَا أَحَدُكُمْ فِي حُلَّةٍ وَرَاحَ فِي حُلَّةٍ وَوُضِعَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ صَحْفَةٌ وَرُفِعَتْ أُخْرَى وَسَتَرْتُمْ بُيُوتَكُمْ كَمَا تُسْتَرُ الكَعْبَةُ؟" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مِنَّا اليَوْمَ نَتَفَرَّغُ لِلعِبَادَةِ وَنُكْفَى المُؤْنَةَ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَأَنْتُمُ اليَوْمَ خَيْرٌ مِنْكُمْ يَوْمَئِذٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَيَزِيدُ بْنُ زِيَادٍ هُوَ ابْنُ مَيْسَرَةَ وَهُوَ مَدَنِيٌّ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ العِلْمِ. وَيَزِيدُ بْنُ زِيَادٍ الدِّمَشْقِيُّ الَّذِي رَوَى عَنِ الزُّهْرِيِّ، رَوَى عَنْهُ وَكِيعٌ، وَمَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ. وَيَزِيدُ بْنُ أَبِي زِيَادٍ كُوفِيٌّ رَوَى عَنْهُ سُفْيَانُ، وَشُعْبَةُ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ. [1]

ترجمه دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په مسجد کي ناست وو چي مصعب بن عمير راغي او دده په بدن دڅمړي پيوند شوي يو څادر خوږ وو کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دي اوليدلو نو دده دناز او نعمت دحالت په ليدو سره په ژړا شو چي کوم دده مخکني حال وو او په کوم حالت کي چي دوئ دواړه وو بيارسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هغه وخت به څه حال وي ستاسو کله چي به په تاسو کي ديو کس سحر کي يوه جوړه په غاړه وي او ماښام به يي بله جوړه په غاړه وي او دده مخي ته به دخوراك يو لوښي ايخودلي شي او بل به ورنه پورته کولي شي او تاسو به پخپلو کورونو کي داسي پردي اولګوئ څنګه چي په کعبي باندي اچولي شوي وي صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله ايا دغه وخت به مونږه ډير ښه يو او دعبادت دپاره به فارغ يو او دمحنت او مشقت نه به بچ يو رسول الله اوفرمائيل هرګزنه بلکه په ننه نن ورځ تاسو دهغه ورځو نه بهتر يئ

امام ترمذي وايي. داحديث حسن غريب دي، ديزيد بن زياد نه مراد يزيد بن زياد بن ميسره مدني دي دده نه مالك بن انس او انورو اهل علمو نقل دروايت کړي دي او بل يزيد بن زياد د مشقي دي چاچي دزهري نه نقل دروايت کړي دي او ددمشقي نه وکيع او مروان بن معاويه نقل دروايت کړي دي او دريم يزيد بن زياد کوفي دي

****

٣٦_باب مِنْهُ

[1] _ تفرد به المؤلف، التحفة: ١٠٢٢٩)

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٧٧_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ ذَرٍّ، حَدَّثَنَا مُجَاهِدٌ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " كَانَ أَهْلُ الصُّفَّةِ أَضْيَافُ أَهْلِ الإِسْلَامِ لَا يَأْوُونَ عَلَى أَهْلٍ وَلَا مَالٍ، وَاللَّهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، إِنْ كُنْتُ لَأَعْتَمِدُ بِكَبِدِي عَلَى الأَرْضِ مِنَ الجُوعِ، وَأَشُدُّ الحَجَرَ عَلَى بَطْنِي مِنَ الجُوعِ، وَلَقَدْ قَعَدْتُ يَوْمًا عَلَى طَرِيقِهِمُ الَّذِي يَخْرُجُونَ فِيهِ، فَمَرَّ بِي أَبُو بَكْرٍ فَسَأَلْتُهُ عَنْ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ مَا أَسْأَلُهُ إِلَّا لِيَسْتَتْبِعَنِي، فَمَرَّ وَلَمْ يَفْعَلْ، ثُمَّ مَرَّ بِي عُمَرُ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ مَا أَسْأَلُهُ إِلَّا لِيَسْتَتْبِعَنِي فَمَرَّ وَلَمْ يَفْعَلْ، ثُمَّ مَرَّ أَبُو القَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَتَبَسَّمَ حِينَ رَآنِي، وَقَالَ: أَبَا هُرَيْرَةَ، قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: الحَقْ، وَمَضَى فَاتَّبَعْتُهُ وَدَخَلَ مَنْزِلَهُ فَاسْتَأْذَنْتُ فَأَذِنَ لِي فَوَجَدَ قَدَحًا مِنْ لَبَنٍ، فَقَالَ: مِنْ أَيْنَ هَذَا اللَّبَنُ لَكُمْ، قِيلَ: أَهْدَاهُ لَنَا فُلَانٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَبَا هُرَيْرَةَ، قُلْتُ: لَبَّيْكَ، فَقَالَ: الحَقْ إِلَى أَهْلِ الصُّفَّةِ فَادْعُهُمْ وَهُمْ أَضْيَافُ الإِسْلَامِ لَا يَأْوُونَ عَلَى أَهْلٍ وَلَا مَالٍ إِذَا أَتَتْهُ صَدَقَةٌ بَعَثَ بِهَا إِلَيْهِمْ وَلَمْ يَتَنَاوَلْ مِنْهَا شَيْئًا، وَإِذَا أَتَتْهُ هَدِيَّةٌ أَرْسَلَ إِلَيْهِمْ فَأَصَابَ مِنْهَا وَأَشْرَكَهُمْ فِيهَا، فَسَاءَنِي ذَلِكَ وَقُلْتُ: مَا هَذَا القَدَحُ بَيْنَ أَهْلِ الصُّفَّةِ وَأَنَا رَسُولُهُ إِلَيْهِمْ، فَسَيَأْمُرُنِي أَنْ أُدِيرَهُ عَلَيْهِمْ، فَمَا عَسَى أَنْ يُصِيبَنِي مِنْهُ وَقَدْ كُنْتُ أَرْجُو أَنْ أُصِيبَ مِنْهُ مَا يُغْنِينِي، وَلَمْ يَكُنْ بُدٌّ مِنْ طَاعَةِ اللَّهِ وَطَاعَةِ رَسُولِهِ، فَأَتَيْتُهُمْ فَدَعَوْتُهُمْ، فَلَمَّا دَخَلُوا عَلَيْهِ فَأَخَذُوا مَجَالِسَهُمْ، فَقَالَ أَبَا هُرَيْرَةَ: خُذِ القَدَحَ وَأَعْطِهِمْ فَأَخَذْتُ القَدَحَ، فَجَعَلْتُ أُنَاوِلُهُ الرَّجُلَ فَيَشْرَبُ حَتَّى يَرْوَى، ثُمَّ يَرُدُّهُ، فَأُنَاوِلُهُ الآخَرَ حَتَّى انْتَهَيْتُ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ رَوَى القَوْمُ كُلُّهُمْ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ القَدَحَ فَوَضَعَهُ عَلَى يَدَيْهِ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، فَتَبَسَّمَ، فَقَالَ: أَبَا هُرَيْرَةَ اشْرَبْ، فَشَرِبْتُ، ثُمَّ قَالَ: اشْرَبْ، فَلَمْ أَزَلْ أَشْرَبُ وَيَقُولُ: اشْرَبْ حَتَّى قُلْتُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالحَقِّ مَا أَجِدُ لَهُ مَسْلَكًا، فَأَخَذَ القَدَحَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَسَمَّى ثُمَّ شَرِبَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

ترجمه ابوهريره رضي الله عنه بيان كوي چي اصحاب صفه داهل اسلام ميلمانه وو دهغوى سره مال او اهل او عيال نه وو . په هغه الله قسم دچا نه سوا چي هيڅوك معبود نشته چي دلوږى دوجى نه به خما دا حال وو چي كله به مي خيټه زمكى سره پيوست كوله او كله به مي

1 اورده البخاري /الاستئذان ١٣(٦٢٤٦) ، والرقاق ١٧(٦٤٥٢) (تحفة الأشراف : ١٣٣٤٣)

په خیټه کانړي تړل یوه ورځ دډیرې سخت لوږې په وجه عامه لاره کې ناست وم چرته چي دخلقو تګ راتګ وو. او دغه خاي کي ابوبکر رضي الله عنه تیر شو نو ما ورنه دقرآن مجید دیو ایت باره کي تپوس اوکړو ترڅو چي هغوئ مي دخان سره بوځي لیکن ابوبکر لاړو او زه یي دخان سره بونه تلم . بیا عمر رضي الله عنه تیر شو دهغوئ نه مي هم دکتاب الله دیو ایت باره کي تپوس اوکړو ددي دپاره چي دخان سره مي بوځي مګر عمر هم لاړو او زه یي دخان سره بونتلم .بیا چي رسول الله صلي الله علیه وسلم تیریدو خه چي یی اولیدم نو مسکی شو او خما په مخ چي کوم تاثر او په زړه کې مي کومه خبره وه هغوی ته معلومه شوه نو ماته یی اواز اوکړو ابوهریره' ما عرض اوکړو جي حاضر یم. ویی فرمائیل ماپسي راځه دي ویناسره هغوئ روان شو زه هم ورپسې روان شوم چي کورته اورسیدل نو خبر ورکولو سره یی دننه تشریف یوړه بیایی خه هم دننه اوبللم خه هم دننه لاړم نو هلته مي دپیو یوه ډکه پیاله اولیدله. دهغی باره کې رسول الله صلي الله علیه وسلم پوښتنه اوکړه چي دا پئ دچرته نه راغلي دي؟ دکور خلقو اووئیل ستاسو دپاره تحفه رالیږلي شوي ده .رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل ابوهریرد ' ما عرض اوکړو حاضر یم یا رسول الله. ارشاد یی اوفرمائیل چي لاړشه اهل صفه ته خما له طرفه دعوت وکړه، ابوهریره رضي الله عنه وائي اهل صفه داسلام میلمانه وو. دهغوي نه کور وو نه داوسیدو ځایی نه مال نه اسباب ، هر کله چي به د رسول الله صلي الله علیه وسلم په خدمت کي څه خیرات صدقه راغله نو رسول الله صلي الله علیه وسلم به دوي ته اولیږله. او پخپله به یی ترې هم نه خوړل. او چي کله به هدیه راغله نو رسول الله صلي الله علیه وسلم به پخپله هم ترې خوراك کولو او او اهل صفه به یی هم شریکول. لیکن په دی ورځ چي کله رسول الله صلي الله علیه وسلم هغوي راوبلل نو په ما دا خبره ډیره ګرانه شوه او ما په زړه کې دا سوچ اوکړو چي دا دومره لږ شان پئ به اصحاب صفه دپاره څنګه کافي شي؟ زما زړه کي تیر شول شاید رسول الله صلي الله علیه وسلم به ماته حکم کوي چي دپیو پیاله اوچته اوکړه او دوي باندي څکول شروع کړه.ما ګمان نه کولو چي دومره خلقو کي به ماته په دي کي څه پاتي شي چي زما وږما باندي کار اوشي، مګر د الله اود هغه د رسول د حکم منلو نه بغیر بله څه چاره نه وه نو خه هغوی ته ورغلم او ورته مي دعوت ورکړو او خان سره مي کور ته راوستل. هر کله چي هغوئ راغلل او خپل خپل ځاي ته کیناستل نو رسول الله اوفرمائیل اي ابو هریره دا لوښي را اوچت کړه او دوئ ته یي ورکړه نو ما دوئ ته پیاله ورکړه هغه په مړه خیټه اوڅکله او پیاله یی ماته واپس کړه نو ما پیاله یویوته ورکوله چي هغه به ښه په مړه خیټه اوڅکله او پیاله به یی ماته واپس کړه نوما بل کس ته ورکړه تردې چي هغوي ټول ښه ماړه شول او رسول الله صلي الله علیه وسلم ته نمبر راورسیدو او خلق ټول ماړه شول. بیا رسول الله پیاله لاس کي ونیوله او سر یي راپورته کړو او مسکی شو او زما طرفته کتلو سره یی اوفرمائیل . ابوهریره ماوویل اي

دالله رسوله حاضر يم ، رسول الله اوفرمائيل ته هم اوڅکه نو ما هم وڅکل تردي چي دنور څکلو
يي راته هم وويل نو نور مي هم وڅکل هميشه وو چي همداسي به يي راته ويل او مابه څکل
تردي چي ما وويل اي دالله رسوله په حقه پيغمبره، نور نشم څکلي نوبيا ددينه پس يي دالله
حمد ووئيلو او باقي پاتي شوي پخپله وڅکل
امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی.
لغات . اتقوِّي: تقوي شديد او مضبوط كيدل
تشريح: په دي حديث کې داصحاب صفه حالات او فقر او فاقه بيان شوي ده او په ډيرو
روايتونو کې ددي دا حالت بيان شوی دی کله کله به داسي وخت راغی چي په مونځ کې به يي
دولږي په وجه صفونه راپريوتل او په يو بل روايت کې پخپله ابوهريره رضي الله عنه فرمائي
چي زه به دولږي په وجه بيهوشه كيدم
دا هم دابوهريره بيان دی چي دري ورځي ولږه مي تيره کړه داسي حالت راباندي راغی چي
پاڅيدی نشوم او که پاڅيدم به نو پروتم خلقو راباندي دليوني ګمان شروع کړو او صفي ته مي
په ډيره مشکله خان ورسوو پدغه وخت کې درسول الله صلي الله عليه وسلم سره دشودو يو جام
پروت وو نورو خلقو ورنه اوڅکل او په اخره کې چي کله په جام کې لږ پاتي شول نو هغه يي
ماته راکړل او هغه ديو ګوټ نه زيات نه وو او راته يي اوفرمائيل داسي اووايه بسم الله. په الله
قسم چي په دي کې دومره برکت راغی چي زه ورباندي موړ هم شوم مګر ختم نه شو
په اصحاب صفه دا حالات ولي راغلي وو ، په مستدرك کې په دي باره کې داسي الفاظ نقل کړي دي:
"تأملت هذه الاخبار الواردة في اهل الصفة ووجدتهم من اكابر الصحابة رضي الله عنهم ورعا وتوكلا علي
الله عز وجل وملازمة لخدمة الله ورسوله صلي الله عليه وسلم اختار الله تعالي لهم ما اختاره لنبيه صلي
الله عليه وسلم من المسكنة والفقر والتضرع لعبادة الله عز وجل وترك الدنيا لاهلها.
كوم روايات چي داصحاب صفه په باره کې وارد دي ما په هغي غور وکړو نو دي نتيجي ته
ورسيدم چي دپرهيزګاري، اوپه الله توكل باره کې او دهغه درسول دخدمت دپاره كوم چي الله
ددي خدمت دپاره خوښ کړي وو دفقيرئ او مسكين توب او تضرع نه دالله دعبادت دپاره
"واشرب " علماؤ ددينه دا استدلال کړی دی چي ميلمه ته د ميزبانئ په وخت کې دخوراك
كولو نه پس دمزيد خوراك كولو ست كول پكار دي
مااجد له مسلكا. يعني څه ګنجائش مي اونه موندلو ددينه معلومه شوه چي په ډکه خيټه
خوراك هم جائز دی مګر په دي کې څه کمی كول بهتر دي "شرب الفضلة" يعني رسول الله
صلي الله عليه وسلم دټولو نه پاتي شوي شوده اوڅکل ددينه معلوميږي چي دمسلمان جوټه
حلاله ده او هغي ته څوك جوټه نشي وئيلی بلکه ددي خوړل او څکل پكار دي (روضة

الصالحين،

****

٣٧_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٧٨_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى الْبَكَّاءُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: تَجَشَّأَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "كُفَّ عَنَّا جُشَاءَكَ فَإِنَّ أَكْثَرَهُمْ شِبَعًا فِي الدُّنْيَا أَطْوَلُهُمْ جُوعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وفي الباب عن أَبِي جُحَيْفَةَ. (1)

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خوا كي يو سړي اټكي اوكړو ورته يي اوفرمائيل زمونږ نه وړاندي اټكي كوه خكه چي په دنيا كي دډولو نه زيات خيته ډكونكي به دقيامت په ورځ دډولو نه زيات وږي پاتي كيږي امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن غريب دي، او په دي باب كي دابوجحيفه رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي

****

٣٨_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٧٩_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "يَا بُنَيَّ لَوْ رَأَيْتَنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصَابَتْنَا السَّمَاءُ لَحَسِبْتَ أَنَّ رِيحَنَا رِيحُ الضَّأْنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّهُ كَانَ ثِيَابُهُمُ الصُّوفُ فَإِذَا أَصَابَهُمُ الْمَطَرُ يَجِيءُ مِنْ ثِيَابِهِمْ رِيحُ الضَّأْنِ. (2)

ترجمه: ابوبرده رضي الله عنه دخپل پلار ابوموسي اشعري رضي الله عنه نه روايت نقل كوي چي ويي فرمائيل اي بچيه كه چري تا هغه وخت مونږ ليدلي وي كله چي مونږ درسول الله صلي

---

1 سنن ابن ماجه/الأطعمة ٥٠ (٣٣٥٠، ٣٣٥١) (تحفة الأشراف: ٨٥٦٣)

2 ابي داود/ اللباس ٦ (٤٠٣٣)، ابن ماجه/اللباس ٣ (٣٥٦٢) (تحفة الأشراف. ٩١٢٦)

الله عليه وسلم سره وو او په مونږ باندي باران شوي وي نو تا به دا خيال کړي وو چي زمونږ بوي دگډانو پشان دي
امام ترمذي وايي داحديث صحيح دي، او ددي مطلب دادي چي دصحابه کرامو جامي به دوړی نه جوړي وي، چي باران به ورباندي اوشو نو دگډانو پشان بوي به تري روان شو
****

٣٩_باب مِنْهُ
دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٨٠_حَدَّثَنَا الْجَارُودُ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، قَالَ: الْبِنَاءُ كُلُّهُ وَبَالٌ، قُلْتُ: أَرَأَيْتَ مَا لَا بُدَّ مِنْهُ، قَالَ: "لَا أَجْرَ وَلَا وِزْرَ". [1]

ترجمه ابو حمزه دابراهيم نخعي قول نقل کړی دی چي فرمائيل يي ابادي کول ټول نقصان نقصان دی، راوي وايي ما ورته ووئيل که څوک حاجت مند وي او د ابادئ کولو نه بغير يي څه چاره نه وي نو بيا دي څه خيال دی؟ نخعي ووئيل بيا پکي نه گناه شته او نه ثواب
****

٢٤٨١_حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي مَرْحُومٍ عَبْدِ الرَّحِيمِ بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ تَرَكَ اللِّبَاسَ تَوَاضُعًا لِلَّهِ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهِ دَعَاهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ مِنْ أَيِّ حُلَلِ الْإِيمَانِ شَاءَ يَلْبَسُهَا". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ حُلَلِ الْإِيمَانِ: يَعْنِي مَا يُعْطَى أَهْلُ الْإِيمَانِ مِنْ حُلَلِ الْجَنَّةِ. [2]

ترجمه دمعاذ بن انس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي خالص دالله رضا دپاره دتواضع او عاجزي په نيت ښې جامې ترک کړی او دهغه طاقت وو دښو جامو نو الله تعالي به يې دقيامت په ورځ دټولو مخلوقاتو په مخکښې را اوبلي او اختيار به ورکړي چي دايمان په اعلي جامو کې يې کومه جوړه خوښه وي، هغه واغوندي

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٤١٢)

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٣٠٢)

امام ترمذي وايي داحديث حسن دي او د حلل الايمان نه مراد جنت هغه لباس دي كوم چي به مومنانو ته وركولي شي

تشريح: په يو بل روايت كې راځي چي څوك دقدرت او استطاعت باوجود بنانسته او عمده لباس پريږدي نو الله تعالي به ده ته داكرام او اعزاز لباس وركړي مطلب دادی چي څوك دعمده لباس استعمالولو وس لري ليكن ددوئ باوجود يي پريږدي دالله تعالي دويري په وجه يا په اخرت كې دغتيو تمناګانو په وجه ياداچي ددنيا زيب او زينبت ارائش حقير اوګڼړي او پري ايږدي نو الله تعالي به ورته په دنيا او اخرت كې عزت او عظمت وركړي.

****

٤٠_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٨٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا زَافِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "النَّفَقَةُ كُلُّهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ إِلَّا الْبِنَاءَ فَلَا خَيْرَ فِيهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، هَكَذَا قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ، شَبِيبُ بْنُ بَشِيرٍ وَإِنَّمَا هُوَ شَبِيبُ بْنُ بِشْرٍ. ([1])

ترجمه: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هره يوه نفقه دالله په لار كي وي مګر علاوه دهغي خرچي نه كومه چي دكور په جوړولو اوشي خكه چي په دي كي هيڅ خير نشته.

امام ترمذي وايي داحديث غريب دي محمد بن حميد هم وايي چي د شبيب بن بشير نوم شبيب بن بشر دی

****

٢٤٨٣_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ، قَالَ: أَتَيْنَا خَبَّابًا نَعُودُهُ وَقَدِ اكْتَوَى سَبْعَ كَيَّاتٍ، فَقَالَ: لَقَدْ تَطَاوَلَ مَرَضِي، وَلَوْلَا أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا تَمَنَّوْا الْمَوْتَ" لَتَمَنَّيْتُ، وَقَالَ: "يُؤْجَرُ الرَّجُلُ فِي نَفَقَتِهِ كُلِّهَا إِلَّا

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٠١)

التُّرَابَ. أَوْ قَالَ: فِي الْبِنَاءِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه حارثه بن مضرب وائي چي مونږ خباب رضي الله عنه ته دبيمار پرسئ کولو دپاره ورغلو او هغه پخپل بدن اوه داغونه لګولي وو او بيا يي اوونيل يقينا زما مرض ډير اوږد شوي دي که چري ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريدلي نه وي چي دمرګ ارمان مه کوئ نو ما به ضرور دمرګ تمنا کړي وه او بيا يي اوفرمائيل بنده نه په هره خرچي ثواب ملاويږي مګر علاوه دهغي نه چي په خاورو يا دکور په جوړولو يي اوکړي
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي.

لغات اکتوي اکتوي يکتوي اکتواء : پخپله خپل خان له داغ ورکول يا داغ لګيدل

تشريح داغ لګول دجاهليت په زمانه کي علاج وو چي اوسپنه به يي ګرمه کړه او متعلقه حصي به يي وربانديي داغلي او په دي به مريض جوړيدو، په ابتداء داسلام کي ددينه منع راغله خو بيا ددي اجازت ورکړی شو په پورتني حديث کي خباب دخپلي بيمارئ دعلاج دپاره يوځل دوه نه بلکه اوه پيري داغ لګولی وو مګر جوړنشو خکه چي شفا دالله تعالي په لاس کي وي

مسئله: په قدر دضرورت کور جوړول چي دسړي ستريکي پټيدی شي اود ګرمئ او يخنئ او باران وغيره نه پکي خان بچ کول کولی شي ديته ضرورت وئيلی شي پدغه هومره اندازه کور جوړولو باندي اجر او ثواب ملاويږي ، خو هغه تعمير کوم چي دضرورت نه زيات وي ياپه قدر دضرورت وي مګر خرچ ورباندي ډير اوکړی شي نو دهغي دپاره دا وعيد دی او په قدر دضرورت وي نو بيا دهغي دپاره دا وعيد نشته

****

٤١_ باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٨٤_حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ. حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ طَهْمَانَ أَبُو الْعَلَاءِ. حَدَّثَنَا حُصَيْنٌ. قَالَ: جَاءَ سَائِلٌ فَسَأَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ. فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لِلسَّائِلِ: أَتَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: وَتَصُومُ رَمَضَانَ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: سَأَلْتَ وَلِلسَّائِلِ حَقٌّ إِنَّهُ لَحَقٌّ عَلَيْنَا أَنْ نَصِلَكَ. فَأَعْطَاهُ ثَوْبًا. ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى

---

1 انظر حديث رقم ٩٧٠

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ كَسَا مُسْلِمًا ثَوْبًا إِلَّا كَانَ فِي حِفْظٍ مِنَ اللَّهِ مَا دَامَ مِنْهُ عَلَيْهِ خِرْقَةٌ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

ترجمه دحصين بيان دي چي يو سوال كري راعي او دابن عباس رضي الله عنهما نه يي څه اوغوښتل هغه ورته اوونيل ايا ته دا ګواهي وركوي چي دالله تعالى نه علاوه بل څوك حقدار دبندګئ نشته؟ هغه اوونيل هو ابن عباس اوونيل ايا ته دا ګواهي وركوي چي محمد صلي الله عليه وسلم، دالله تعالى بنده او رسول دي؟ هغه اوونيل هو، ابن عباس تپوس اوكړو ايا درمضان روژي نيسي؟ هغه اوونيل هو، نو ابن عباس اوفرمائيل تا سوال اوكړو او دسائل حق وي بيشكه په مونږ دا لازمي ده چي تاسره ښه سلوك اوكړوچنانچي هغه ته يي يوه جامه وركړه او بيا يي اوفرمائيل مادرسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان اوريد لي دي څوك چي خپل يو مسلمان ورور ته يوه جامه وركړي نو دي دالله تعالى دطرف نه هغه وخته پوري په حفاظت كي داخل شي څو پوري چي ددغي جامي يوه ټكړه هم دده په جسم باقي وي
امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند حسن غريب دي

****

٤٢_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٨٥_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، وَابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، وَيَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عَوْفِ بْنِ أَبِي جَمِيلَةَ الأَعْرَابِيِّ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، قَالَ: "لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ انْجَفَلَ النَّاسُ إِلَيْهِ وَقِيلَ: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجِئْتُ فِي النَّاسِ لِأَنْظُرَ إِلَيْهِ فَلَمَّا اسْتَثْبَتُّ وَجْهَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ، وَكَانَ أَوَّلُ شَيْءٍ تَكَلَّمَ بِهِ أَنْ قَالَ: "أَيُّهَا النَّاسُ أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَصَلُّوا وَالنَّاسُ نِيَامٌ، تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (2)

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٠٩)

2 _ سنن ابن ماجه/الإقامة ١٧٤ (١٣٣٤)، والأطعمة ١ (٣٢٥١) (تحفة الأشراف: ٥٣٢١) مسند احمد (٥/٤٥١)

ترجمه دعبدالله بن سلام رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي كله رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته تشريف راوړلو نو خلقو دهغه طرف ته ورمنډه كړل او دا به يي ونيل دالله رسول راغي دالله رسول راغي دالله رسول راغي چنانچي زه هم دغه كسانو سره راوتلي وم تردي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اووينم ماچي كله درسول الله مخ مبارك اوليدو نو ماته معلومه شوه چي دا دكوم دروغژن مخ نشي كيدي او دټولو نه مخكي چي يي كومه خبره كړي وه هغه داده اي خلقو سلام خور كړئ او خلقو ته خوراكونه وركوئ او دشپي چي كله خلق اوده وي مونځونه كوئ نو تاسو به په سلامتئ سره جنت ته داخل شئ

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي.

****

٤٣_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٨٦_حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَعْنٍ الْمَدَنِيُّ الْغِفَارِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "الطَّاعِمُ الشَّاكِرُ بِمَنْزِلَةِ الصَّائِمِ الصَّابِرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دخوراك كولو نه پس دالله تعالي شكر اداء كونكي په اجر او ثواب كي دصبركونكي روژه دار سره برابر دي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٤٤_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٨٧_حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ الْحَسَنِ الْمَرْوَزِيُّ بِمَكَّةَ. حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ، أَتَاهُ الْمُهَاجِرُونَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا رَأَيْنَا قَوْمًا أَبْذَلَ مِنْ كَثِيرٍ وَلَا أَحْسَنَ مُوَاسَاةً مِنْ قَلِيلٍ مِنْ قَوْمٍ نَزَلْنَا بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ. لَقَدْ

[1] _ سنن ابن ماجه/الصوم ٥٥ (١٧٦٤، ١٧٦٥) (تحفة الأشراف: ١٣٠٤٢)، و مسند احمد (٢/٢٨٣)

كَفَوْنَا الْمُؤْنَةَ، وَأَشْرَكُونَا فِي الْمَهْنَإِ حَتَّى لَقَدْ خِفْنَا أَنْ يَذْهَبُوا بِالأَجْرِ كُلِّهِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا مَا دَعَوْتُمُ اللَّهَ لَهُمْ وَأَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرماني چي كله نبي كريم صلي الله عليه وسلم مديني ته تشريف راوړو نو مهاجرين ورته راغلل او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله كوم قوم ته چي مونږ راغلي يو ددوئ نه بهتر قوم مونږ نه دي ليدلي چي هغه ددوئ نه په مال خرچ كولو كي زيات وي او دمال دلږ كيدو په صورت كي هم دوئ دنورو خلقو غم خوري كونكي وي چنانچي دوئ مونږ دمشقت او محنت كولو نه منع كړي يو او مونږ يي په راحت كي دخان سره شريك كړي يو تردي پوري چي مونږ سره دا ويره ده چي زمونږ دټولو نيكيانو ثواب چرته دوئ ته ورنكړي شي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل خبره داسي نه ده خنكه چي تاګمان كړي دي څو پوري چي تاسو دوئ ته دخير دعا كوئ او ددوئ شكريه ادا، كوئ (هغي پوري به تاسو ته خپل اجر ملاويږي)
امام ترمذي وايي داحديث په دي سند حسن صحيح غريب دي.

****

٤٥باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٨٨ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو الأَوْدِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ؟ أَوْ بِمَنْ تَحْرُمُ عَلَيْهِ النَّارُ؟ عَلَى كُلِّ قَرِيبٍ هَيِّنٍ سَهْلٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([2])

ترجمه دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا زه تاسو ته دداسي كسانو خبر درنكړم په چا باندي چي دجهنم اور يا دجهنم اور چي په چا باندي حرام دي؟ دجهنم اور خلقو ته نزدي رارسيدونكي دي او په اساني كونكو او نرم اخلاق والا باندي حرام دي

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٥٥)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٣٢٤)

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي

****

۲٤٨٩_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الحَكَمِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: قُلْتُ عَائِشَةَ: أَيُّ شَيْءٍ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ؟ قَالَتْ: "كَانَ يَكُونَ فِي مَهْنَةِ أَهْلِهِ فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ قَامَ فَصَلَّى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه داسود بن يزيد بيان دي فرمائي چي ما دعائشه رضي الله عنها نه تپوس اوكړو رسول الله صلي الله عليه وسلم چي به كله كور ته داخليدو نه څه به يي كول؟ ام المؤمنين اووئيل رسول الله به دخپل دكور دخلقو په كارونو كي مشغوليدو او بيا چي به كله دمونځ وخت راغي نو روان به شو او مونځ به يي شروع كړو

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٤٦_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

۲٤٩٠_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ زَيْدٍ التَّغْلَبِيِّ، عَنْ زَيْدٍ الْعَمِّيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَقْبَلَهُ الرَّجُلُ فَصَافَحَهُ لَا يَنْزِعُ يَدَهُ مِنْ يَدِهِ حَتَّى يَكُونَ الرَّجُلُ يَنْزِعُ، وَلَا يَصْرِفُ وَجْهَهُ عَنْ وَجْهِهِ حَتَّى يَكُونَ الرَّجُلُ هُوَ الَّذِي يَصْرِفُهُ، وَلَمْ يُرَ مُقَدِّمًا رُكْبَتَيْهِ بَيْنَ يَدَيْ جَلِيسٍ لَهُ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [2]

ترجمه دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي كله چي به څوك دنبي كريم صلي الله عليه وسلم مخي ته راغي او مصافحه به يي ورسره كوله نو رسول الله به خپل لاس دهغه دلاس نه هغه وخته پوري نه ويستلو ترڅو چي به هغه خپل لاس ويستلي نه وو او مخ به يي دهغه وخته پوري ور نه ګرځولو ترڅو چي به هغه ورنه خپل مخ ستون كړي نه وو او رسول الله هيڅ كله دخپل كوم ملګري په وړاندي خپلي ښپي نه دي غزولي

---

[1] اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأذان ٤٢ (٦٧٦)، النفقات ٨ (٥٣٦٣)، والأدب ٤٠ (٦٠٣٩) (تحفة الأشراف: ١٥٩٢٩)

[2] سنن ابن ماجه/الأدب ٢١ (٣٧١٦) (تحفة الأشراف: ٨٢١)

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي

****

٤٧_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٩١_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "خَرَجَ رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فِي حُلَّةٍ لَهُ يَخْتَالُ فِيهَا فَأَمَرَ اللَّهُ الأَرْضَ فَأَخَذَتْهُ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِيهَا، أَوْ قَالَ: يَتَلَجْلَجُ فِيهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. ([1])

ترجمه دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ستاسو نه په مخكي تير شوو امتونو كي يو كس وو چي جوړه يي واغوستله او په هغي يي خلقو ته خان خودلو چنانچي الله تعالي زمكي ته حكم اوكړو او زمكي هغه لره په مضبوطياسره اونيولو او هغه به دقيامت دورځي پوري لاندي روان وي. د راوي شك دي چي يتجلجل او كه متلجلج الفاظ يي وونيل.

امام ترمذي وايي: داحديث صحيح دي

****

٢٤٩٢_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ، فَيُسَاقُونَ إِلَى سِجْنٍ فِي جَهَنَّمَ يُسَمَّى بُولَسَ تَعْلُوهُمْ نَارُ الأَنْيَارِ، يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ طِينَةَ الْخَبَالِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه . دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي متكبرين خلق به دقيامت په ورځ دحشر په ميدان كي دوړو وړو ميږانو په شكلونو كي راوستلي شي او هر خاي كي به په ذلت كي پټ وي او بيا به په جهنم كي يوي

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف ٨٦٣٣)

[2] _ تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف ـ ٨٨٠٠)

داسي قيدخاني ته اوشړلي شي چي نوم به يي "بولس" وي هلته به دوئ لره لمبي وهونكي اور
خوټكوي او دوئ به په دي كي دجهنميانو وينې زوي (طينة الخبال) څكي 5/39
امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي

****

٤٨_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٤٩٣_حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، وَعَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي أَبُو مَرْحُومٍ عَبْدُ الرَّحِيمِ بْنُ مَيْمُونٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

ترجمه: دمعاذ بن انس رضي الله عنه د خپل پلار نه روايت نقل كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي په غصي باندي په داسي حال كي قابو اوموندله چي ددي په تيرولو باندي قادر وو الله تعالي به ده لره دقيامت په ورځ دتمام مخلوقات په وړاندي راوغواړي او اختيار به ورته وركوي چي دده دجنت په حورو كي كومه يوه خوښه وي هغه دي دخان دپاره منتخب كړي.
امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي.

****

٢٤٩٤_حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْغِفَارِيُّ الْمَدَنِيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ نَشَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ وَأَدْخَلَهُ جَنَّتَهُ، رِفْقٌ بِالضَّعِيفِ، وَشَفَقَةٌ عَلَى الْوَالِدَيْنِ، وَإِحْسَانٌ إِلَى الْمَمْلُوكِ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ الْمُنْكَدِرِ هُوَ أَخُو مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ. ([2])

---

[1] _ انظر حديث رقم ٢٠٢١

[2] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣١٣٦)

ترجمه دجابررضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دري خصلتونه داسي دي چي دا په چا كي اوموندلي شي دقيامت په ورځ به ده لره الله تعالي دخپل رحمت دلاندي داخل كړي (١) دضعيفانو سره نرم سلوك كول (٢) دمور او پلار سره دشفقت او محبت سلوك كول (٣) دغلامانو او وينځو سره احسان كول

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي

****

٢٤٩٥_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: " يَا عِبَادِي كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ، فَسَلُونِي الْهُدَى أَهْدِكُمْ، وَكُلُّكُمْ فَقِيرٌ إِلَّا مَنْ أَغْنَيْتُ، فَسَلُونِي أَرْزُقْكُمْ، وَكُلُّكُمْ مُذْنِبٌ إِلَّا مَنْ عَافَيْتُ، فَمَنْ عَلِمَ مِنْكُمْ أَنِّي ذُو قُدْرَةٍ عَلَى الْمَغْفِرَةِ فَاسْتَغْفَرَنِي غَفَرْتُ لَهُ وَلَا أُبَالِي، وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي مَا زَادَ ذَلِكَ فِي مُلْكِي جَنَاحَ بَعُوضَةٍ، وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اجْتَمَعُوا عَلَى أَشْقَى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِي مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي جَنَاحَ بَعُوضَةٍ، وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ اجْتَمَعُوا فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلَ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْكُمْ مَا بَلَغَتْ أُمْنِيَّتُهُ فَأَعْطَيْتُ كُلَّ سَائِلٍ مِنْكُمْ مَا سَأَلَ مَا نَقَصَ ذَلِكَ مِنْ مُلْكِي إِلَّا كَمَا لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ مَرَّ بِالْبَحْرِ فَغَمَسَ فِيهِ إِبْرَةً ثُمَّ رَفَعَهَا إِلَيْهِ، ذَلِكَ بِأَنِّي جَوَادٌ مَاجِدٌ أَفْعَلُ مَا أُرِيدُ عَطَائِي كَلَامٌ وَعَذَابِي كَلَامٌ إِنَّمَا أَمْرِي لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْتُهُ أَنْ أَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ". قَالَ ابو عيسي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ مَعْدِ يكَرِبَ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. (1)

ترجمه . ابو ذر جندب بن جناده رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه روايت كوي په هغو رواياتو كي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يې دالله دطرف نه بيانوي (يعني حديث قدسي) چي الله تعالي فرماني اي بندګانو تاسو كي هر يو ګمراه دى بي دهغه چانه چي زه ورته هدايت اوكړم، نو زما نه هدايت غواړئ زه به درته هدايت كوم، اى زما بندګانو! تاسو كي هر يو اوږى دى بي دهغه چانه چي زه خوراك وركړم، نو زمانه خوراك غواړئ زه به خوراك دركوم، اي

[1] _ سنن ابن ماجه/الزهد ٣٠ (٤٢٥٧) (تحفة الأشراف : ١١٩٦٣)

زما بندگانو تاسو کي هر یو ګناه ګار دي مګر چي زه ورته عافیت ورکړم.پس چاته چي دا معلومه شي چي زه په مغفرت قادر یم او بیا زمانه بخښنه اوغواړي نو زه ورته مغفرت کوم. ای زما بندګانو! که ستاسو ورمبي او وروستي پیران او بنیادم ټول دهغي یو بنده دزړه په شان پرهیزګار شي کوم چي تاسو کي ډیر پرهیزګاروي نو په دي به زما په بادشاهي کي هیڅ زیاتی رانه شي ای زما بندګانو! که ستاسو ورومبي او وروستي پیریان او بنیادم ټول دهغي یو بنده دزړه په شان خراب شي کوم چي تاسو کي دټولو نه ډیر خراب دی نو زما په بادشاهي کي به هیڅ کمی رانه شي، ای زما بندګانو که تاسو ټول رومبي روستي بنیادم او پیریان په یو میدان کي راجمع شي او هر یو زمانه سوال اوکړي او زه هر یو ته خپل خپل غوښتلي شی ورکړم نو زما په خزانو کي به دومره کمی رانه شي لکه یو دګنډلو ستن چي کله په دریاب کي ډوبه کړی شي.او دا ځکه چي زه ډیر لویي سخي یم څه چي اوغواړم هم هغه کوم. زما ورکول صرف وئیل دي، او زما عذاب ورکول هم صرف وئیل دي،د کوم شي باره کي چي زه اوغواړم چي وشي نو زما حکم هم داوي چي ورته اووایم چي وشه نو هغه وشي.

امام ترمذي وايي: دا روایت حسن دي، او بعضي راویانو عن شهر بن حوشب عن معدي کرب عن ابي ذر عن النبي صلي الله علیه وسلم سند سره هم نقل کړی دی.

لغات جائع : جاع جوعا دنصر نه په معني د اوږي کیدو دي او صفت جائع او جوعان راځي.

عار: عار عورة دسمع نه په معني دهر هغه شي د کوم نه چي شرم کیږي او خصوصا دانسان هر هغه اندام کوم چي دشرم په وجه پټولی شي ، جمع یي عورات راځي.

کسوته کسا کسوا دنصر نه معني چاته جامي اغوستول دي

تشریح : ((كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلاَّ مَنْ هَدَيْتُهُ)) یعني تاسو دشریعت دراتلو نه مخکي ټول ګمراهان وئ خو مادرته هدایت وکړو چي رسولان مي در ولیږل ، چي هغوئ خلق دګمراهئ نه را اوباسي.

سوال په یو روایت کي خو راغلي دي چي «کل مولود یولد علي فطرة الاسلام» نو بیا څنګه خلق اول ګمراهان کیدي شي؟

جواب دادي چي دهر نوي پیدا کیدونکي بچي فطرت داوي چي حق قبول کړي خو چي مور پلار یي کوم طرف ته اړوي هغي ته واوړي، طبعا داسي نه وي

((يَا عِبَادِي . كُلُّكُمْ جَائِعٌ)) یعني تاسو وګي وئ خو ما درته رزق درکړو، ځکه چي درزق خزاني دالله تعالي سره دي لکه چي الله تعالي فرمائيلي دي: ((وفي السماء رزقکم)) او ((ومامن دابة في الارض الا علي الله رزقها)).

((يَا عِبَادِي . إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ)) یعني اي زما بندګانو تاسو ګناهونه کوئ او زه درته معافي کوم،

ددي پشان په قران کي هم يو ايت راغلي دي «واستغفر لنا ذنوبنا انا كنا خاطئين» او «انا اغفر الذنوب» مګر په دي کي قانون دادي چي کفر او شرك ونکړي خکه چي الله تعالي دا نه معاف کوي ، ان الله لا يغفر ان يشرك به ويغفر مادون ذلك لمن يشاء

((يَا عِبَادِي. إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغوا ضُرِّي)) يعني اي زما بندګانو تاسو ماته ضرر نشئ رسولي . په دي خبره داهل سنت والجماعت عقيده ده چي الله تعالي ته هيڅوك نقصان نشي رسولي. او دهيڅا جبر ورباندي نشي چليدلي. انسان که هرڅه نيکي بدي وکړي دهغي نفع او نقصان بي خپل خان ته رسيږي لکه چي فرمائي: ((من عمل صالحا فلنفسه ومن اساء فعليها)) ((كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ)) تمامي دنيا والا دهغه کس پشان شئ خوك چي دالله نه زيات يريږي . داتقي قلب نه مراد رسول الله دي. اود افجر قلب نه مراد ابليس دي، يعني که تمام انسان دنبي كريم صلي الله عليه وسلم پشان شي ياد ابليس پشان شي نود الله په نظام کي هيڅ تغير نشي راوستلي

((مَا نَقَصَ ذٰلِكَ مِمَّا عِنْدِي)) دلته محدثينو فرمائيلي دي چي دلته په سمندر کي حقيقتا دستني منډل ندي مراد مګر دا جملي جمله تمثيلي ده

****

٢٤٩٦_حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنُ أَسْبَاطِ بْنِ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الرَّازِيِّ، عَنْ سَعْدٍ مَوْلَى طَلْحَةَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ حَدِيثًا، لَوْ لَمْ أَسْمَعْهُ إِلَّا مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ حَتَّى عَدَّ سَبْعَ مَرَّاتٍ، وَلَكِنِّي سَمِعْتُهُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " كَانَ الكِفْلُ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَا يَتَوَرَّعُ مِنْ ذَنْبٍ عَمِلَهُ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَأَعْطَاهَا سِتِّينَ دِينَارًا عَلَى أَنْ يَطَأَهَا فَلَمَّا قَعَدَ مِنْهَا مَقْعَدَ الرَّجُلِ مِنَ امْرَأَتِهِ أُرْعِدَتْ وَبَكَتْ، فَقَالَ: مَا يُبْكِيكِ أَأَكْرَهْتُكِ ؟ قَالَتْ: لَا، وَلَكِنَّهُ عَمَلٌ مَا عَمِلْتُهُ قَطُّ وَمَا حَمَلَنِي عَلَيْهِ إِلَّا الحَاجَةُ، فَقَالَ: تَفْعَلِينَ أَنْتِ هَذَا وَمَا فَعَلْتِهِ اذْهَبِي فَهِيَ لَكِ، وَقَالَ: لَا وَاللَّهِ لَا أَعْصِي اللَّهَ بَعْدَهَا أَبَدًا، فَمَاتَ مِنْ لَيْلَتِهِ فَأَصْبَحَ مَكْتُوبًا عَلَى بَابِهِ إِنَّ اللَّهَ قَدْ غَفَرَ لِلْكِفْلِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، قَدْ رَوَاهُ شَيْبَانُ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الأَعْمَشِ نَحْوَ هَذَا، وَرَفَعُوهُ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنِ الأَعْمَشِ فَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَرَوَى أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ هَذَا الحَدِيثَ عَنِ الأَعْمَشِ فَأَخْطَأَ فِيهِ، وَقَالَ: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَهُوَ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الرَّازِيُّ هُوَ كُوفِيٌّ، وَكَانَتْ جَدَّتُهُ سُرِّيَّةً لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، وَرَوَى عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الرَّازِيِّ عُبَيْدَةُ

الضَّبِّيُّ، وَالحَجَّاجُ بْنُ أَرْطَاةَ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ كِبَارِ أَهْلِ العِلْمِ. (١)

ترجمه . دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه يو حديث اوريدلي دي كه چري دا ورنه ما يو خل يا دوه خله اوريدلي وي تردي پوري چي اوه خله يي اوشميرل نو دا به ما نه وو بيان كري ليكن دا حديث ما دهغوئ نه ددينه هم زيات اوريدلي دي چي فرمائيل يي په بني اسرائيلو كي دكفل په نوم يو كس وو چي په هيڅ قسم ګناه كولو يي صرفه نه كوله او نه به يي دګناه نه پرهيز كولو چنانچي يو خل هغه ته يوه ښځه راغله او شپيته دينار يي ورته ددي دپاره وركړل چي دي ورسره بدكاري اوكړي ليكن كله چي دي دهغي په وړاندي كيناستو نو ريپدل وربانديي راغلل او په ژړا شو ده ورنه تپوس اوكړو دژړا كولو څه وجه ده ايا ما زبردستي كړي ده؟ هغي اووئيل نه ليكن نن زه هغه كار كوم كوم چي ما نور كله نه دي كړي او دي كار كولو ته زه يو سخت ضرورت مجبوره كړي يم چنانچي ده ورته اووئيل ته په يو داسي كار پسي روانه يي كوم چي تا هيڅ كله نه دي كړي نو په دي وجه ته واپس څه او دا ټول دينارونه هم ستا شول، بيا دي كس اووئيل په الله قسم دنن نه پس به زه هيڅ كله هم دالله تعالي نافرماني نه كوم او بيا په همدي شپه وفات شو چنانچي سحر دده په دروازه ليكلي شوي وو چي يقينا الله تعالي كفل ته مغفرت اوكړو

امام ترمذي وايي: دا حديث حسن دي دا حديث شيبان او نورو راويانو داعمش نه په همدي مضمون مرفوعا نقل كړي دي او بعضي راويانو دا روايت داعمش نه غير مرفوع نقل كړي دي، ابوبكر بن عياش داعمش نه نقل كړي دي ليكن په دي كي غلط شوي دي او عن عبدالله بن عبدالله عن سعيد بن جبير عن ابن عمر يي وئيلي دي او دا سند غير محفوظ دي

****

٤٩_بابٌ مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٤٩٧_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ الحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ بِحَدِيثَيْنِ: أَحَدِهِمَا عَنْ نَفْسِهِ، وَالآخَرِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: "إِنَّ المُؤْمِنَ يَرَى ذُنُوبَهُ كَأَنَّهُ فِي أَصْلِ جَبَلٍ يَخَافُ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ، وَإِنَّ الفَاجِرَ

١ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٧٠٤٩)، مسند احمد (٢/٢٣)

يَرَى ذُنُوبَهُ كَذُبَابٍ وَقَعَ عَلَى أَنْفِهِ". قَالَ بِهِ هَكَذَا فَطَارَ. (1)

ترجمه دحارث بن سعيد بيان دي فرمائي چي مونږ ته عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دوه احاديث بيان کړل يو يي راته دځپل طرفه بيان کړو او دويم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دطرفه، (يعني يو موقوف او دويم مرفوع) عبدالله بن مسعود اوونيل بنده ته خپله گناه داسي ښکاري لکه چي دي دغر په بيخ کي وي او ددينه يريږي چي دا ورباندي راپري نوځي او فاجر پخپله گناه دمچ پشان ښکاري کوم چي دده په پوزه باندي ناست وي او هغه پخپل لاس اشاره اوکړه او بيا دا والوزي.

****

٢٤٩٨ـ وَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَلَّهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ أَحَدِكُمْ مِنْ رَجُلٍ بِأَرْضِ فَلَاةٍ دَوِيَّةٍ مَهْلَكَةٍ مَعَهُ رَاحِلَتُهُ عَلَيْهَا زَادُهُ وَطَعَامُهُ وَشَرَابُهُ وَمَا يُصْلِحُهُ. فَأَضَلَّهَا فَخَرَجَ فِي طَلَبِهَا حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْمَوْتُ، قَالَ: أَرْجِعُ إِلَى مَكَانِي الَّذِي أَضْلَلْتُهَا فِيهِ فَأَمُوتُ فِيهِ. فَرَجَعَ إِلَى مَكَانِهِ فَغَلَبَتْهُ عَيْنُهُ فَاسْتَيْقَظَ فَإِذَا رَاحِلَتُهُ عِنْدَ رَأْسِهِ عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ وَمَا يُصْلِحُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَالنُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (2)

ترجمه : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يقينا الله تعالي په تاسو کي ديو کس په توبه دهغه کس نه هم زيات خوشحاليږي څوك چي په يو اوچ او سوکړه ميدان کي وي او خپله اوښه هم ورسره وي په کومه چي دده دسفر خرچي او دضرورت څيزونه بار شوي وي او بيا دده نه دا اوښه ورکه شي او دي ددي په لټولو پسي روان شي تردي چي دي هلاکت ته نژدي شي نو دي زړه کي سوچ اوکړي چي خپل هغه ځاي ته به لاړ شم چرته چي دا ورکه شوي وه او هم هلته به مړ شم دي چي کله خپل ځاي ته واپس راشي نو دخوب جتکه ورباندي راشي کله چي رابيدار شي نو دده سورلئ دده دسر سره په داسي حال کي ولاړه وي چي دده دضرورت سامانونه او خوراك څښاك هم دده خواته موجود وي.
امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوهريره او نعمان بن بشير او انس بن مالك په واسطه هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه احاديث مروي دي

1 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ٤ (٦٣٠٨) . صحيح مسلم /التوبة ١ (٢٧٤٤) (تحفة الأشراف : ٩١٩٠)

2 ـ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الدعوات ٤ (٦٣٠٨) . صحيح مسلم /التوبة ١ (٢٧٤٤) (تحفة الأشراف : ٩١٩٠)

****

۲٤۹۹_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مَسْعَدَةَ الْبَاهِلِيُّ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَلِيِّ بْنِ مَسْعَدَةَ، عَنْ قَتَادَةَ. (1)

ترجمه . دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر يو بني ادم خطاكار دي او په خطاكارانو كي بهتر توبه ويستونكي وي
امام ترمذي وايي داحديث عريب دي دعلي بن مسعده په واسطه دقتاده دسند نه علاوه مونږ ته ددي بل سند معلوم نه دي

****

٥٠_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

۲٥۰۰_حَدَّثَنَا سُوَيْدٌ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وفِي الباب عن عَائِشَةَ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ الْكَعْبِيِّ الْخُزَاعِيِّ وَاسْمُهُ: خُوَيْلِدُ بْنُ عَمْرٍو. (2)

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي انله عليه وسلم اوفرمائيل څوك چي په الله او په ورځ داخرت باندي ايمان لري هغه له پكار دي چي د خپل ميلمه اكرام دي اوكړي او څوك چي په الله او داخرت په ورځ باندي ايمان لري هغه دي دخولى نه ښه خبره اوباسي يادي چپ اوسي
امام ترمذي وايي داحديث صحيح دي او په دي باب كي دعائشه او انس رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي

---

1 . سنن ابن ماجه/الزهد ۲۹ (۴۲۵۱) (تحفة الأشراف: ۱۳۱۵)

2 . اورده البخاري في الجامع الصحيح /الأدب ۳۱ (۶۰۱۸) . مسلم/الإيمان ۱۹ (۱۳) . سنن ابن ماجه/الفتن ۱۲ (۳۹۷۶) (تحفة الأشراف: ۱۵۲۷۲) . و مسند احمد (۲/۲۶۷، ۲۶۹، ۴۳۳، ۴۶۳)

لغات فلايؤذي اذي ايذاء يعني چاته تكليف وررسول دسمع باب نه استعمال شوى دى.

تشريح: "فليكرم ضيفه" يعني دخپل ميلمه عزت دي اوکړي، دميلمه عزت دادى چې په خوشحاله تندي او ښائسته اخلاقو دهغه استقبال اوکړي او په نرمئ سره خبري ورسره اوکړي په يو حديث کي راغي پکار ده چي تاسو دميلمه سره درخصتولو دپاره دکور د دروازي پورې لاړ شئ

"فليقل خيرا او ليصمت .يعني ياخو دي ورسره ښائسته خبري اوکړي او که نه شئ کولی نو چپ دي کيني ، په يو بل روايت کي راغلي دي چي يو صحابي اوونيل دنجات دپاره بهترينه لار کومه يوه ده رسول الله ورته اوفرمائيل چي خپلي ژبي کنټرول کړئ او په خپلو کورونو کي اوسيږئ او په خپلو خطاګانو اوژاړئ ديو روايت نه معلوميږي چي جهنم ته په داخلونکو څيزونو کي اهم ترين څيزونه خوله او شرمګاه دي.

****

٢٥٠١_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَمْرٍو الْمَعَافِرِيِّ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَمَتَ نَجَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ لَهِيعَةَ، وَأَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيُّ هُوَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ. (١)

ترجمه . دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوک چي خاموش پاتي شو هغه نجات حاصل کړو.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او دا مونږ ته صرف دابن لهيعه په سند معلوم دي

****

٥١_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٥٠٢_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْأَقْمَرِ، عَنْ أَبِي حُذَيْفَةَ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: حَكَيْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا، فَقَالَ: مَا يَسُرُّنِي أَنِّي حَكَيْتُ رَجُلًا، وَأَنَّ لِي كَذَا

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٨٦١). وانظر: مسند احمد (٢/١٥٩، ١٧٧). وسنن الدارمي/الرقاق ٥ (٢٧٥٥)

وَكَذَا، قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ صَفِيَّةَ امْرَأَةٌ، وَقَالَتْ بِيَدِهَا: هَكَذَا كَأَنَّهَا تَعْنِي قَصِيرَةً، فَقَالَ: " لَقَدْ مَزَجْتِ بِكَلِمَةٍ لَوْ مَزَجْتِ بِهَا مَاءَ الْبَحْرِ لَمُزِجَ". (1)

ترجمه . دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په وړاندي ديو كس قصه بيان كړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه دا نه خوښوم چي زه دچاقصه بيان كړم او ماته دي دومره او دومره مال راكړي شي، ما عرض اوكړو اي دالله رسوله بيشكه صفيه يوه ښځه ده او پخپل لاس يي داسي اشاره اوكړه چي ګويا كي مقصد يي دا وو چي صفيه په ونه غونډكۍ ده رسول الله اوفرمائيل بيشكه تا پخپلو خبرو كي داسي خبري شامل كړي كه چري دا دسمندر په اوبو كي شامل كړي شي نو دټول سمندر داوبو رنګ به بدل كړي.

****

٢٥٠٣_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الأَقْمَرِ، عَنْ أَبِي حُذَيْفَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا أُحِبُّ أَنِّي حَكَيْتُ أَحَدًا وَأَنَّ لِي كَذَا وَكَذَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو حُذَيْفَةَ هُوَ كُوفِيٌّ مِنْ أَصْحَابِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَيُقَالُ اسْمُهُ: سَلَمَةُ بْنُ صُهَيْبَةَ. (2)

ترجمه : ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زه دا نه خوښوم چي زه دكوم انسان نقل اوكړم او ماته دي په دي باندي دومره او دومره مال راكړي شي

امام ترمذي وايي داحديث حسن صحيح دي او ابو حذيفه د كوفي اوسيدونكي دي د ابن مسعود په دوستانو كي دى. ونيلي شوي دي چي دده نوم سلمه بن صهيبه وو.

****

٥٢_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٥٠٤_حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعِيدٍ الْجَوْهَرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، حَدَّثَنَا بُرَيْدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِي

---

1 _ سنن ابي داود/ الأدب ٤٠ (٤٨٧٥) (تحفة الأشراف : ١٦١٣٢) . و مسند احمد (٦/١٨٩)

2 _ سنن ابي داود/ الأدب ٤٠ (٤٨٧٥) (تحفة الأشراف : ١٦١٣٢) . و مسند احمد (٦/١٨٩)

بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْمُسْلِمِينَ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ". هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ أَبِي مُوسَى. (1)

ترجمه ابوموسي رضي الله عنه نه روايت دى چي ما عرض اوكړو يا رسول اله په مسلمانانو كي افضل څوك دى، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دچا دژبى اولاس نه چي نور مسلمانان محفوظ وي، يعني چي چاته په ژبه يالاسو څه نقصان نه رسوي.

امام ترمذي وايي دا حديث دابوموسي په سند صحيح غريب دي.

لغات لسان معني ژبه جمع يي السنة راځي، يد معني لاس جمع يي ايادي راځي.

تشريح من سلم المسلمون په دي كي كفار او حيوانات هم داخل دي ليكن مسلمانان يي دعظيم الشان كيدو په وجه خاص كړي دي.

لسانه په ژبه كنځلي كول، لعن طعن كول، بهتان او غيبت كول ټول په دي كي داخل دي علماء وائي چي لسانه يي اوفرمائيل او قوله يي اونه فرمائيل ځكه چي قول صرف دونيلو سره تعلق لري پدي كي خو ژبه خوزول داخل نه شول.

يده په دي كي وژل او قتل كول وغيره ټول داخل دي.

سوال: تاسو ته معلومه ده چي تكليف خو دنورو اعضاؤ نه هم رسيدى شي نو دلته يي صرف ژبه او لاس ولي ذكر كړل.

جواب. ددي دوارو نه ضرر زيات رسيږي ځكه يي دا ذكر كړي دي.

سوال: ژبه په لاس ولي مقدم كړى شوي ده؟ ددي دوه جوابونه دي.

اول جواب په ژبي سره چي كوم تكليف وركولى شي هغه حاضر او غائب دوارو ته رسيدى شي په خلاف دلاس ځكه چي په لاس سره صرف حاضر ته تكليف وركولى شي غائب ته نه شي.

دويم جواب دژبي زخم دلاس دزخم نه زيات شديد وي لكه چي يو شاعر وائي

جراحات السنان لها التيام ولا يلتام ما جرح اللسان

په ژبه چي څوك زخمي كړى شي هغه هيڅ كله نه روغيږي ليكن دلاس زخم يو وخت كي جوړيدى شي

سوال دحديث دالفاظو "من سلم المسلمون من لسانه ويده، نه معلوميږي چي څوك چاته ضرر

1 _ اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ٥ (١١) . صحيح مسلم/الإيمان ١٤ (٤٢) . سنن النسائي/الإيمان ١١ (٥٠٠٢) (تحفة الأشراف: ٩٠٢١)

نه رسوي هغه مسلمان دی برابره خبره ده چي مونځ نه کوي یا روژه نه نیسي حال دادی چي دا قول صحیح نه دی ددې هم دوه جوابونه دي

اول جواب علامه ابن حجر واني ددینه مراد مع مراعات باقي الإرکان. و د دی یعني چي باقي تمام ارکان هم ادا کړي

دویم جواب دلته یي داهمیت په پیش نظر دا بیان کړی دی او ددینه دباقي احکـو او ارکانو نفي مراد نه ده (روضة الصالحین).

****

۵۳_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق یو بل باب

۲۵۰۵_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الحَسَنِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ الهَمْدَانِيُّ، عَنْ ثَوْرِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ عَيَّرَ أَخَاهُ بِذَنْبٍ لَمْ يَمُتْ حَتَّى يَعْمَلَهُ". قَالَ أَحْمَدُ: "مِنْ ذَنْبٍ قَدْ تَابَ مِنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ، وَخَالِدُ بْنُ مَعْدَانَ لَمْ يُدْرِكْ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ، وَرُوِيَ عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ أَنَّهُ أَدْرَكَ سَبْعِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَاتَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ فِي خِلَافَةِ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ، وَخَالِدُ بْنُ مَعْدَانَ، رَوَى عَنْ غَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ مُعَاذٍ عَنْ مُعَاذٍ غَيْرَ حَدِيثٍ.

([1])

ترجمه دمعاذ بن جبل رضي الله عنه بیان دي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چاچي خپل کوم مسلمان ورور ته په کومي ګناه پیغور ورکړو نو ده باندي به هغه وخته پوري مرګ نه راځي څو پوري چي دده نه هم دا ګناه شوي نه وي

امام ترمذي وایي. داحمد بن منیع قول دي ددینه مراد هغه ګناه ده دکوم نه چي ګنهګار توبه ویستلي وي ،داحدیث غریب دي او سند یي متصل نه دي، او دخالد بن معدان ملاقات دمعاذ بن جبل سره ثابت نه دي، دخالد بن معدان باره کي مروي دي چي دشپیته صحابه کرامو سره یي ملاقات شوي دي ،او دمعاذ بن جبل وفات کیدل دعمر فاروق دخلافت په زمانه کي شوي وو. او خالد بن معدان دمعاذ دیو څو شاګردانو په واسطه دمعاذ بن جبل نه یو څو احادیث نقل کړي دي

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٣١٠)

٥٤_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٥٠٦_حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُجَالِدِ الْهَمْدَانِيُّ. حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ. ح قَالَ: وَأَخْبَرَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ. حَدَّثَنَا أُمَيَّةُ بْنُ الْقَاسِمِ الْحَذَّاءُ الْبَصْرِيُّ. حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ بُرْدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تُظْهِرِ الشَّمَاتَةَ لِأَخِيكَ فَيَرْحَمَهُ اللَّهُ وَيَبْتَلِيكَ ". قَالَ ابو عيسى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَمَكْحُولٌ، قَدْ سَمِعَ مِنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَأَبِي هِنْدٍ الدَّارِيِّ، وَيُقَالُ: إِنَّهُ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ هَؤُلَاءِ الثَّلَاثَةِ، وَمَكْحُولٌ شَامِيٌّ يُكْنَى: أَبَا عَبْدِ اللَّهِ وَكَانَ عَبْدًا فَأُعْتِقَ، وَمَكْحُولٌ الْأَزْدِيُّ بَصْرِيٌّ سَمِعَ مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ يَرْوِي عَنْهُ عُمَارَةُ بْنُ زَاذَانَ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ تَمِيمِ بْنِ عَطِيَّةَ، قَالَ: كَثِيرًا مَا كُنْتُ أَسْمَعُ مَكْحُولًا يُسْئَلُ فَيَقُولُ نَدَانَمْ. [1]

ترجمه. دواثله بن الاسقع رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دخپل مسلمان رور په تکليف دخوشحالئ اظهارمه کوئ په هغه به الله رحم اوکړي تکليف نه به يې خلاص کړي او تا به په هغه تکليف کي ګير کړي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن غريب دی اود واثله بن اسقع او انس بن مالك او ابو هند الداري نه دمکحول سماع ثابت ده ، او دا هم وئيلي شوي دي چي په صحابه کرامو کي يې د هيچا نه اوريدل نه دي کړي مګر صرف ددي دري کسانو نه، مکحول د شام اوسيدونکي دي او اسم کنيه يي ابو عبد الله ده چي اول غلام وو او بي ازاد کړی شو ، او يو بل مکحول هم شته چي د ازد قبيلي سره تعلق لري اود بصري اوسيدونکي دي چي د ابن عمر رضي الله عنهما نه يي اوريدل کړي دي، او عماره بن ذازان دده شاګرد دی، عطيه پخپل سند سره ذکر کړي دي ما به ډير کرته د محکول نه اوريدل چي کله به ورنه تپوس وشو نو ندانم الفاظ به يي وئيل.

لغات. الشماتة دچا په خفګان باندي خوشحالي بنکاره کول دباب سمع نه مستعمل دي ، يبتليك يعني تالره په ازمانش کي اچوي دکرم او سمع نه مستعمل دي

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٦٣٩)

تشريح : په ډېرو احاديثو كي په مسلمان باندي پردي اچولو ته ترغيب وركړى شوى دى او دمسلمانانو نه دپردي په پورته كولو سخت وعيد راغلى دى په يو حديث كي راغلي څوك چي په كوم مسلمان باندي پرده واچوي نو الله تعالي به په ده باندي دقيامت په ورځ پرده واچوي او څوك چي دكوم مسلمان نه پرده لري كړي نو الله تعالي به دقيامت په ورځ دده نه پرده لري كړي تردي چي په كور كي ناست به يي رسوا كړي همدا وجه ده چي په حديث كي راغلي دي چي دهيڅ مسلمان په تكليف باندي خوشحالي مه كوئ خكه چي دا دمومن شان نه دى ډېره ممكنه ده چي الله تعالي ددي عمل سزا په دنيا كښ وركړي او مصيبت وهلي ته نجات وركړي او خوشحالي كونكي لره په تكليف كي مبتلا كړي.

****

٥٥_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

٢٥٠٧_حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ الأَعْمَشِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ وَثَّابٍ، عَنْ شَيْخٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْمُسْلِمُ إِذَا كَانَ مُخَالِطًا النَّاسَ وَيَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ خَيْرٌ مِنَ الْمُسْلِمِ الَّذِي لَا يُخَالِطُ النَّاسَ وَلَا يَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: قَالَ ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ: كَانَ شُعْبَةُ يَرَى أَنَّهُ ابْنُ عُمَرَ.([1])

ترجمه . يحي بن وثاب د يو صحابي نه روايت نقل كوي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: هغه مومن څوك چي دخلقو سره اختلاط كوي او ددوئ نه په رسيدونكو تكاليفو صبر كوي دى داجر په اعتبار سره دهغه مومن نه افضل دى څوك چي دخلقو سره اختلاط نه كوي او نه دهغوئ نه په رسيدونكو تكاليفو صبر كوي.

امام ترمذي وايي دا بن عدي قول دي چي د شعبه دا گمان وو چي دا صحابي عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دى

****

٥٦_باب مِنْهُ

[1] سنن ابن ماجه/الفتن ٢٣ (٤٠٣٢) (تحفة الأشراف: ٨٥٦٥)

دسابقه باب متعلق يو بل باب

۲۵۰۸_حَدَّثَنَا أَبُو يَحْيَى مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَلَّى بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ الْمَخْرَمِيُّ هُوَ مِنْ وَلَدِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُحَمَّدٍ الأَخْنَسِيِّ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِيَّاكُمْ وَسُوءَ ذَاتِ الْبَيْنِ فَإِنَّهَا الْحَالِقَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ وَسُوءَ ذَاتِ الْبَيْنِ: إِنَّمَا يَعْنِي الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ، وَقَوْلُهُ: الْحَالِقَةُ يَقُولُ: إِنَّهَا تَحْلِقُ الدِّينَ. ([1])

ترجمه دابوهريره رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خپل مينځ كي د درز (بي اتفاقي) پيداكولو او بغض او عداوت دبدئ نه اجتناب اوكړئ ځكه چه دا دين لره دبيخ نه ويستونكي دي او دخپل مينځ كي درز پيداكولو نه مراد عداوت بغض او حسد كول دي او د "الحالقة" يعني خرونكي نه مراد ددين جرړي ويستل دي.

امام ترمذي وايي: داحديث په دي سند صحيح غريب دي

****

۲۵۰۹_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلاَةِ وَالصَّدَقَةِ؟" قَالُوا: بَلَى، قَالَ: "صَلاَحُ ذَاتِ الْبَيْنِ فَإِنَّ فَسَادَ ذَاتِ الْبَيْنِ هِيَ الْحَالِقَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَيُرْوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "هِيَ الْحَالِقَةُ لاَ أَقُولُ تَحْلِقُ الشَّعَرَ وَلَكِنْ تَحْلِقُ الدِّينَ". ([2])

ترجمه دابو الدرداء رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ايا داسي څيز درته اونه ښايم كوم چه د مونځ او دروژي او صدقي نه افضل دي؟ صحابه كرامو عرض اوكړو ولي نه ضرور يي راته اوښايه رسول الله اوفرمائيل پخپل مينځ كي يو بل ته ميلان كول دي او ديو بل اصلاح كول دي ځكه چه پخپل مينځ كي درز پيدا كول دين لره خرول دي. يعني ددين حليه بدرنګه كول دي، از شارح

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۱۲۹۹۸)

[2] _ سنن ابي داود/ الأدب ۵۸ (۴۹۱۹) (تحفة الأشراف: ۱۰۹۸۱)، ومسند احمد (۶/۴۴۴)

امام ترمذي وايي داحديث صحيح دي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي همدا څيز دين لره خورونكي دي او زه دا نه وايم چه دسر دويختو خرونكي دي بلكه دين لره خرونكي دي.

****

٢٥١٠ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ حَرْبِ بْنِ شَدَّادٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ يَعِيشَ بْنِ الوَلِيدِ، أَنَّ مَوْلَى الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ، أَنَّ الزُّبَيْرَ بْنَ الْعَوَّامِ حَدَّثَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الأُمَمِ قَبْلَكُمُ الحَسَدُ، وَالبَغْضَاءُ هِيَ الحَالِقَةُ لَا أَقُولُ تَحْلِقُ الشَّعَرَ وَلَكِنْ تَحْلِقُ الدِّينَ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَدْخُلُوا الجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَفَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِمَا يُثَبِّتُ ذَاكُمْ لَكُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ قَدِ اخْتَلَفُوا فِي رِوَايَتِهِ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، فَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ يَعِيشَ بْنِ الوَلِيدِ، عَنْ مَوْلَى الزُّبَيْرِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنِ الزُّبَيْرِ.[1]

ترجمه: دزبير بن عوام رضي الله عنه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي په تاسو كي دتيرو شوو امتونو يو مرض رانتوتلي دي او دا دحسد او بغض بيماري ده او دا خرونكي ده زه دا نه وايم چه دسر دويختو خرونكي ده بلكه ددين خرونكي ده، زما دي په هغه ذات قسم وي دچا په لاس كي چه زما روح دي تاسو چه څو پوري ايمان نه وي راوړي جنت ته نشئ داخليدلي او هغه پوري مومنان نشئ جوړيدلي چه څو پوري مو پخپل مينځ كي يو بل سره محبت نه وي پيدا شوي او ايا زه درته يو داسي كار اونه ښايم دكوم په وجه چه ستاسو مينځ كي محبت پيدا كيږي؟ (او هغه سلام خوررول دي) پس سلام پخپل مينځ كي خور كړئ.

امام ترمذي وايي ديحي بن كثير نه ددي حديث په نقل كولو كي داهل علمو اختلاف دي بعضي اهل علمو دا حديث عن يحي بن ابي كثير عن يعيش بن الوليد عن مولي الزبير عن النبي صلي الله عليه وسلم سند سره نقل كړي دي او دوئ په دي سند كي دزبير واسطه نه ده ذكر كړي

****

٥٧ـ باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يو بل باب

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٦٢٨)

٢٥١١_حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عُيَيْنَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ ذَنْبٍ أَجْدَرُ أَنْ يُعَجِّلَ اللَّهُ لِصَاحِبِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا مَعَ مَا يَدَّخِرُ لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْبَغْيِ وَقَطِيعَةِ الرَّحِمِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه : دابوبکره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي دبغاوت او صله رحمۍ کټ کولو نه پورته بله کومه لويه ګناه داسې نشته چه مرتکب يې ددې لائق شي چه ده ته دالله تعالي دطرف نه په دنيا کي په جلتۍ سزا ورکړي شي او داخرت دپاره هم باقي پريخودلي شي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

****

٥٨_باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٥١٢_حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنِ الْمُثَنَّى بْنِ الصَّبَّاحِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "خَصْلَتَانِ مَنْ كَانَتَا فِيهِ كَتَبَهُ اللَّهُ شَاكِرًا صَابِرًا، وَمَنْ لَمْ تَكُونَا فِيهِ لَمْ يَكْتُبْهُ اللَّهُ شَاكِرًا وَلَا صَابِرًا، مَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَاقْتَدَى بِهِ، وَمَنْ نَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ دُونَهُ فَحَمِدَ اللَّهَ عَلَى مَا فَضَّلَهُ بِهِ عَلَيْهِ، كَتَبَهُ اللَّهُ شَاكِرًا صَابِرًا، وَمَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ دُونَهُ وَنَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ فَأَسِفَ عَلَى مَا فَاتَهُ مِنْهُ لَمْ يَكْتُبْهُ اللَّهُ شَاكِرًا وَلَا صَابِرًا" [2]

ترجمه : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چه ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا فرمان اوريدلي دي دوه خصلتونه داسې دي چه دا په چا کي موجود وي هغه لره الله تعالي صابر او شاکر ليکي او په چا کي چه موجود نه وي هغه لره صابر او شاکر نه ليکي اولني خصلت دادي چاچه ددين په اعتبار دځپل خان نه په دين زيات عمل کونکي اوليدو او دهغه پيروي يې اوکړه او ددنيا په اعتبار سره يې دخان نه کم حيثيت والا اوليدو او بيا يې دهغه

---

[1] _ ابي داود/الأدب٥١ (٤٩٠٢). سنن ابن ماجه/الزهد ٢٣ (٤٢١١) (تحفة الأشراف: ١١٦٩٣) ، ومسند احمد(٥/٣٨)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٤٤٨)

فضل او احسان شكر اداء كړو كوم چه الله تعالي په ده باندي كړي دي نو الله تعالي به داسي كس لره صابر اوشاكر ليكي، دويم خصلت دادي چاچه دخان نه ددين په اعتبار كم او ددنيا په اعتبار دخان نه زيات كس اوليدو او بيا ورنه دي محروم پاتي شي او په دي باندي افسوس اوكړي الله تعالي داسي كس لره صابر او شاكر نه ليكي 5/40

****

٢٥١٢أَخْبَرَنَا مُوسَى بْنُ حِزَامٍ الرَّجُلُ الصَّالِحُ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ إِسْحَاق، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا الْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَلَمْ يَذْكُرْ سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ فِي حَدِيثِهِ، عَنْ أَبِيهِ. ([1])

ترجمه : عبدالله بن عمرو رضي الله عنه هم ددي حديث هم معني روايت دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كوي.

امام ترمذي وايي داحديث حسن غريب دي او سعيد بن نضر راوي پخپل حديث كي عن ابيه واسطه نه ده ذكر كړي.

****

٢٥١٣_حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، وَوَكِيعٌ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "انْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْكُمْ، وَلَا تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ، فَإِنَّهُ أَجْدَرُ أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ". هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. ([2])

ترجمه : دابوهريره رضي الله عنه نه دا هم روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دخپل خان نه كم حيثيته خلقو ته ګورئ او هغه چاته مه ګورئ چي ستاسو نه داوچت حيثيت والا وي، داسى كول تاسو دپاره بى انتها ضروري دي دپاره ددى چي تاسو دالله تعالي دركړى نعمت سپك اونه ګڼرئ.

امام ترمذي وايي دا حديث صحيح دى.

لغات : ان لاتزدروا ازدراء سپك ګڼرل او كمزوري ګڼرل، په مجردو كي دباب ضرب يضرب

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٦٤٨)

[2] ـ صحيح مسلم/ ا (٩/٢٩٦٣) . سنن ابن ماجه/الزهد ٩ (٤١٤٢) . وراجع أيضا: اورده البخاري في الجامع الصحيح /الرقاق ٣٠ (٦٤٩٠) . وصحيح مسلم/الزهد (٨/٢٩٦٣) (تحفة الأشراف : ١٢٣٦٤، و١٢٥١٣) . و مسند احمد (٢/٢٥٤، ٢٨٢)

وغیره نه راخي او په مزیدو کي دباب افعال او افتعال وغیره نه راخي.
تشریح: دا الفاظ دمسلم هم دي، دبخاري په روایت کي داسی دي چي کله تاسو دخپل خان نه څوك ښائسته او مالدار اووینئ نو تاسو له پکار دي چي دخپل خان نه دکم حیثیت والا باندي هم نظر واچوئ چي د الله تعالي داحسان شکریه ادا کړي شي اوخپل نعمتونه درته کم ښکاره نشي.
دپورتني حدیث مطلب دادی چي کله انسان دخپل خان نه په زائد مال نظر ساتي نو دی به په افسوز کي وي او تمنا ګاني به کوي کاش چي خما سره هم دومره مال وی، دمشکواة په یو روایت کي ددي علت هم بیان کړی شوی دی چي دخان نه پورته مالدارو ته به نه ګورئ بلکه دکمي درجي خلقو والاته به ګورئ نو ددي په وجه به تاسو ته دالله نعمتونه حقیر ښکاره نه شي کوم چي یي تاسو ته درکړي دي
امام غزالي دعون بن عبدالله قصه لیکلي ده هغه به فرمائیل چي زه به مخکي اکثر مالدارانو خلقو ته تلم راتلم او دهغوئ سره به ناست وم خو زړه به مي غمژن وو کله به مي دچا کپړي دخپلو کپړو نه ښي اولیدلی او کله به مي دچا سره دخپل اس نه ښه اس اولیدو لیکن ددینه پس ما دفقیرانو سره کیناستل شروع کړل نو ددوئ په برکت سره ماته راحت ملاو شو

****

٥٩_ باب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق یو بل باب

٢٥١٤_ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ. ح وَحَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا سَيَّارٌ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، عَنْ حَنْظَلَةَ الأُسَيِّدِيِّ وَكَانَ مِنْ كُتَّابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَّهُ مَرَّ بِأَبِي بَكْرٍ وَهُوَ يَبْكِي، فَقَالَ: مَا لَكَ يَا حَنْظَلَةُ؟ قَالَ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ يَا أَبَا بَكْرٍ نَكُونُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيَ عَيْنٍ فَإِذَا رَجَعْنَا إِلَى الأَزْوَاجِ وَالضَّيْعَةِ نَسِينَا كَثِيرًا، قَالَ: فَوَاللَّهِ إِنَّا لَكَذَلِكَ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَانْطَلَقْنَا فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا لَكَ يَا حَنْظَلَةُ؟ قَالَ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ نَكُونُ عِنْدَكَ تُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيَ عَيْنٍ فَإِذَا رَجَعْنَا عَافَسْنَا الأَزْوَاجَ وَالضَّيْعَةَ وَنَسِينَا كَثِيرًا، قَالَ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ تَدُومُونَ عَلَى الْحَالِ الَّذِي تَقُومُونَ بِهَا مِنْ عِنْدِي

لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ فِي مَجَالِسِكُمْ وَفِي طُرُقِكُمْ وَعَلَى فُرُشِكُمْ، وَلَكِنْ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً وَسَاعَةً وَسَاعَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

ترجمه ربعي حنظله بن ربيع اسدي د رسول الله صلي الله عليه وسلم منشي (كاتب) نه روايت دى چي زه ابوبكر سره تير شوم چي ژړل يي او راته يي اوونيل اى حنظله! په څه حال كي يي؟ ماورته اوونيل، حنظله خو منافق شو هغه اوونيل سبحان الله ! دا څه واني. ما ورته اوونيل مونږ چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضريو هغوئ راته نصيحت كوي او دجنت دوزخ خبري كوي نو مونږ ته داسي ښكاري لكه چي په سترګو يي وينو. خو چي درسول الله صلي الله عليه وسلم دمجلس نه لاړ شو نو د بال بچ سره په خبرو او ددنيا په كاروبار كي داسي مشغول شو چي په هغي كي رانه ډيري خبري هيري شي، ابوبكر اوونيل والله زما هم دغه حال دى ، ما ورته ووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم ته مي بوځه نو مونږ درسول الله په خدمت كي حاضر شو نو رسول الله ورنه تپوس وكړو اي حنظله په څه حال كي يي ؟ هغه عرض اوكړو يا رسول الله! حنظله منافق شو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په څه؟ ما عرض اوكړو يا رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ چي ستاسو خدمت كي حاضريو تاسو راته نصيحت كوئ او ددوزخ جنت خبري كوئ نو زمونږ داسي حال وي لكه چي په سترګو يي وينو خو چي بهرته اوځو نو دبال بچ او كاروبار په سلسله كي داسي مشغول شو چي ډيري خبري رانه هيري وي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: كه تاسو هميشه په داسي حالت كي پاتي شئ څنګه چي زما دمجلس او ذكر په وخت كي يئ نو فرښتو به درسره په بسترو اولارو كوڅو كي مصافحي كولي، ليكن اى حنظله! دا حالت كله وي، دا حالت كله وي، دا حالت كله وي،او دا جمله يي دري څه اوفرمائيله .

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي.

لغات: نافق - نافق منافقة ونفاقا دباب مفاعلي نه معني يي په ژبه اسلام ظاهرول اوپه زړه كي كفر پټ ساتل دي

امام نووي فرمائي "ربعي" د "ر" په زير دى او "الاسيدي" دهمزه پيښ دى وروسي د "س" زور دى اوپه "ي" باندي شد اوق زير دى "عافسنا" په "ع" او په "س" دى بى تكو، معني يى ده ورنتوتل او مصروف كيدل "ضيعات" دژوند كاروبار

تشريح: نافق حنظله ، يعني لكه څنګه چي دمنافق په زړه كي يوڅه وي او كوي بل څه داسي حنظه رضي الله عنه هم اوفرمائيل چي په ما هم دا كيفيت راغلي دي چي درسول الله سره

1 . انظر حديث رقم ۲۲۵۲، ۲۵۱۴

موجود يم نودزړه کيفيت مي يو شان وي او کله چي بال بچ ته کورته ورشم نو بيا مي دزړه کيفيت بل شان وي

لصافحتكم الملائكة على فرشكم. يعني كه ستاسو دواړه حالتونه يوشان شول نوبيا خو به درسره فرشتي په لارو کي مصافحي کوي

ساعة بعد ساعة، يعني کله فارغ او کله عبادت کول. يعني که کيفيت بدليږي رابدليږي نوپدي کي څه حرج نشته.

يعني څه وخت دعبادت او ذکر دپاره او څه ددنيا دکارودپاره هم پکار دی، هر وخت دالله په عبادت کي استغراق دفرښتو کار دی.

او دداسي مومنانو زړونه داسي نرم وي لکه څرنګه چي دمرغو زړونه نرم وي يعني دعجز او خوف او خشيت الهي دغلبي په وجه لطيف القلب وي اوکه په داسي حالت مداموت وکړي شي نو بيا خو به نور علي نور شي.

د حنظله بن ربيع اسدي مناقب

نوم حنظله کنيه ابو ربعي پوره نوم يي حنظله بن ربيع بن صيفي بن رياح بن حارث دی دغزوه طائف نه مخکي رسول الله صلي الله عليه وسلم دی بنو ثقيف ته دسفير په طور ليږلی وو چي حالات معلوم کړي چي خلق صلحي ته تيار دي او که نه دي او دعمر رضي الله عنه په زمانه کي دقادسيه په جنګ کي هم شريك شوی وو چي ايماني واقعه يي په پورتني حديث کي موجود ده چي کور ته دتګ په وجه به يي خپل حالت متغير محصوص کړو نو خان به ورته منافق ښکاره شو.

دکوفي د اباديدو نه پس کوفي ته راغی خو چي کله دجنګ جمل نه پس قرقيبا ته منتقل شو او دامير معاويه زمانه راغله نو هم هلته وفات شو او دمرورياتو شمير يي اته دی

****

٢٥١٥ـ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.(١)

ترجمه : دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو کي ترهغه څوك مومن کيدی نشي ترڅو چي خپل مسلمان ورور دپاره هغه

---

1 اورده البخاري في الجامع الصحيح /الإيمان ٧ (١٣)

خبره خوښه نكړي كومه چي دخپل خان دپاره خوښوي
امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي

تشريح: "لايؤمن احدكم" په نسائي كي ددي روايت وضاحت داسي راغلى دى "والذي نفس محمد بيده لايؤمن احدكم حتي يحب لاخيه مايحب لنفسه من الخير" يعني كوم څيز چي ته دخان دپاره خوښوي هغه دخپل مسلمان ورور دپاره خوښ نكړي نو ترهغي ته مومن نشي جوړيدى ددنيا ښيګړه داده چي عزت او نيكنامي اودخوشحالئ زندګي چاته نصيب شي مال او دولت او اسباب او راحت ورته حاصل شي نيك اولاد او نيكه ښځه خداي وركړي.
داخرت كاميابي داده چي دنيكو اعمالو توفيق ورته وركړى شي او خاتمه يي په خير سره اوشي دقبر دسختئ او دقيامت دورخي دسوال جواب او د دوزخ دعذاب نه نجات اومومي او په جنت الفردوس كي ورته دالله ديدار نصيبت شي نو دا څيزونه داخرت كاميابي ده كومه چي انسان دخان دپاره غواړي پس ده لره پكار دي چي دا دخپل مسلمان ورور دپاره هم اوغواړي هم ددي په ذريعه دده ايمان كامل كيږي.
علامه كرماني دبخاري په شرح كي ليكلي دي څنګه چي تاسو كوم څيز دخپل خان دپاره خوښوئ نو دغه شان يي دخپل مسلمان ورور دپاره خوښ كړئ همدارنګي دايمان نه داخبره هم ګڼړلى شوي ده چي دكوم څيز نه پخپله نفرت كوئ هغه څيزونه دخپل مسلمان ورور دپاره هم بد اوګڼړئ (كرماني)

****

٢٥١٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ، وَابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ قَيْسِ بْنِ الْحَجَّاجِ، قَالَ. ح وَحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَخْبَرَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، حَدَّثَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنِي، قَيْسُ بْنُ الْحَجَّاجِ، الْمَعْنَى وَاحِدٌ، عَنْ حَنَشٍ الصَّنْعَانِيِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَقَالَ: يَا غُلَامُ، "إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ: احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ، وَاعْلَمْ أَنَّ الأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ لَكَ، وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيْكَ، رُفِعَتِ الأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٤١٥)، وانظر: مسند احمد ١/٢٩٣، ٣٠٣)

ترجمه : دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی چي ره د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه شاته (په سورلۍ باندې) ناست وم هغوي اوفرمائيل بچيه! زه تاته څو خبري كول غواړم هغه يادي اوساته نو الله تعالي به ستا حفاظت اوكړي، دالله تعالي دحقونو خيال ساته ته به الله تعالي خان سره بيامومې كله چي څه غواړي نو دالله تعالي نه غواړه او چي كله دڅه مدد طلب كوي نو دالله تعالي نه مدد غواړه ، ياد لره كه چري ټول امت هم يو خاي شي او تاته څه فائده رسول اوغواړي نو هغوي به تاته هغومره فائده رسولی شي څومره چي الله تعالي ستا په تقدير كې ليكلي وي او هغوي ټول تاته نقصان رسولو باندي راجمع شي بيا هم تاته دهغې نه زيات نقصان نشي دررسولی څومره چي الله تعالي ستا دپاره مقرر كړی دی (كوم څه چي به مخی ته راخي هغه ليكلو سره) قلم پورته كړی شوی كيښودی شو او دتقدير دفترونه وچ شول.
امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی.

تشريح احفظ الله يحفظك ، يعني دالله داحكامو پابندي كوه ، الله به ستا حفاظت كوي. په قران كريم كې وارد دي چه: اوفوا بعهدي اوف بعهدكم، اوهمدارنگي ، ان تنصروا الله ينصركم،
احفظ الله تجده تجاهك، يعني دالله دحقوقو خيال ساتئ تاسو به يي دخان په وړاندي بيامومئ، محدثينو ددي جملي يو څو مطالب بيان كړي دي او ټول مراد كيدي شي مثلا تاسو دالله دحقوقو خيال وساتئ ، يا دامطلب دي كه تاسو دالله تعالي احكامات پوره كړئ او په عبادت كې مشغول پاتي شئ نو گويا كه الله لره به دخپل خان په وړاندي بيامومئ يعني په دغه وخت كې به تاسو دايمان او احسان په كامله درجه فائز يئ او هردم به دالله په حفاظت اونظر كې يئ دالله نه علاوه به هر شي معدوم او فنا كيږي.
واذا سئلت فاسئل الله، او چي كله څه غواړئ نو دالله نه غواړه، په دي الله خوشحاله كيږي، اوهيڅ كله دنيا والاته لاس مه غوروئ، په قران كريم كې هم ارشاد الهي دي قال ربكم ادعوني استجب لكم واعلم ان الامة لو اجتمعت علي ان ينفعوك بشيء لم ينفعوك الابشيء. الخ يعني پوهه شئ كه تمام امت تاسو ته دفائدي دركولو دپاره راجمع شي نو تاسو ته دهغه فائدي نه زياته نشي در رسولي كومه چي الله ستاسو دپاره ليكلي ده ، يعني دنفع او نقصان مالك خاص الله تعالي دي خاص هغه ته رجوع وكړئ كه هغه يي درته درنكړي نو هيڅوك يي نشي دركولي.
رفعت الاقلام وجفت الصحف، يعني صادريدونكي احكام ټول ليكلي شوي دي دقيامت راتلو پوري تمامي فيصلي په لوح محفوظ كې ليكلي شوي دي، او اوس لوح محفوظ انغښتلي شوي ايخودلي شوي دي، چي هيڅ قسم تغير پكې نشي راتلي.

دصحيفو دوچيدو مطلب دادي چي كاتب كله دليكلو نه فارغ شي نو هغه خپل قلم پورته كوي او چرته يي ږدي اوكاغذ رانغاړي او بيا پكښ كمي زياتي نه كوي
صحيفي وچي شوي، ددي جملي مطلب دادي چي كاتب كله دليكلو نه فارغ شي نو هغه خپل قلم پورته كوي اوخپل كاغذ سنبال كړي نوهمدارنگي الله تعالي هم خپل قلم پورته كړي او كاغذ يي سنبال كړي دي چي هيڅ قسم كمي زياتي پكې نشي راتلي او كومي عمل نامي چي فرشتي دخلقو دپاره ليكي په هغي كې كمي زياتي راتلي شي
شيخ عبدالقادر جيلاني فرماني په هر مومن باندي لازم دي چي دا حديث دخان په وړاندي كيږدي او پخپلو ټولو معاملاتو كې په دي عمل اوكړي ددي دپاره چي په دنيا او اخرت كې دالله درحمت مستحق اوگرځي.

****

٦٠_بَاب مِنْهُ

دسابقه باب متعلق يوبل باب

٢٥١٧_حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ. حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ أَبِي قُرَّةَ السَّدُوسِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ. أَعْقِلُهَا وَأَتَوَكَّلُ أَوْ أُطْلِقُهَا وَأَتَوَكَّلُ قَالَ: "اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ". قَالَ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ: قَالَ يَحْيَى: وَهَذَا عِنْدِي حَدِيثٌ مُنْكَرٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا. [1]

ترجمه . دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي يو كس عرض اوكړو اي دالله رسوله ايا زه اول اوښ اوتړم او بيا په الله توكل اوكړم او كه بغير تړلو يي پريږدم او بيا توكل اوكړم؟ رسول الله اوفرمانيل دا اول اوتړه او بيا توكل اوكړه، عمرو بن علي الفلاس وائي ديحي بن سعيد القطان قول دي چه زمونږ په نزد دا حديث منكر دي.
امام ترمذي وايي داحديث دانس په روايت غريب دي دا مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي، دارنگي داحديث دعمرو بن اميه ضمري په واسطه هم دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي

****

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٠٢)

٢٥١٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِدْرِيسَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ أَبِي الحَوْرَاءِ السَّعْدِيِّ، قَالَ: قُلْتُ لِلحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، مَا حَفِظْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ، فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ، وَإِنَّ الكَذِبَ رِيبَةٌ " وَفِي الحَدِيثِ قِصَّةٌ. قَالَ: وَأَبُو الحَوْرَاءِ السَّعْدِيُّ اسْمُهُ: رَبِيعَةُ بْنُ شَيْبَانَ. قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

ترجمه :ابو الحوراء سعدي نه روايت چي دحسن بن علي رضي الله عنه نه مي تپوس وكړو چي د رسول الله نه دي څه ياد كړي دي؟ هغه ووئيل: ما درسول الله (ص)دا خبره ياده كړى ده چي كوم كار كي شك وي (چي ښه به وي كه نه) هغه پريږده او هغه كار كوه چي شك پكي نه وي. دا خبره يقيني ده چي ريښتيا اطمينان او يقين پيدا كوي او دروغ شك او بى اطميناني پيدا كوي او په دي حديث كي يوه قصه هم مذكور ده.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن صحيح دي او دابو الحوراء سعدي نوم ربيعه بن شيبان دي.

لغات : يريبك: راب يريب ريبا معني په شك كي پريوتل متحير كيدل او په عقل كي فتور راتلل، دنصر باب نه راځي او په مزيدو كي دباب افعال نه.

تشريح : دع مايريبك الي مالايريبك، يعني پريږده هغه څيز چي په شك كي دي اچوي او اختيار كړه هغه څيز كوم چي دي په شك كي نه اچوي، محدثينو ددي جملي دا مطلب بيان كړى دى چي دكوم څيز په حرمت او حلت كي دچاشك پيدا شي نو دهغه پريخودل پكار دي اودا څكه چي كه دانسان زړه صحيح وي نو بياخو ده ته دده زړه دغلط كار طرف ته رهنماني نه كوي په دي څيز كي دشك راتلل ددي دغلط كيدو نشاني ده او دكوم څيز په باره كي چي دانسان زړه مطمئن وي نو هغه ددي دحق او جائز كيدو نشاني ده بهر حال دحرامو او مكروه او مشتبه څيزونو سره ډيرمباح كارونه دي چي دهغي په ذريعه سړى په غلطو كارونو كي انخلي. همداوجه ده چي عمر رضي الله عنه فرمائيلي دي مونږ په حرامو كي دمبتلا كيدو دويري په وجه په لسو حلالو حصو كي نهه حصي پريږدو او همدا رنګي ابوبكر صديق رضي الله عنه به فرمائيل مونږ په حرامو كي دمبتلا كيدو دويري په وجه اويا حصي پريخودي.

ددى مطلب دادى چي كوم كار مشكوك وي هغه مه كوه او چي كوم بى شكه او يقيني ښه وي هغه كوه.

****

[1] سنن النسائي/الأشربة ٥٠ (٥٧١٣) (تحفة الأشراف: ٣٤٠٥)، و مسند احمد (١/٢٠٠)

٢٥١٩_حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ الطَّائِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ أَبِي الْوَزِيرِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ الْمَخْرَمِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ لُبَيْبَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: ذُكِرَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعِبَادَةٍ وَاجْتِهَادٍ وَذُكِرَ عِنْدَهُ آخَرُ بِرِعَةٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَعْدِلْ بِالرِّعَةِ". وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ هُوَ مِنْ وَلَدِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ وَهُوَ مَدَنِيٌّ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

ترجمه: دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په وړاندي ديو داسي كس ذكر اوكړي شو څوك چه په رياضت او عبادت كي مشهور وو او ديو بل كس ذكر اوشو څوك چه په تقوي او پرهيزګارئ كي مشهور وو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هيڅ قسم عبادت دتقوي او پرهيزګارئ سره برابريدي نشي.

امام ترمذي وايي: داحديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو.

****

٢٥٢٠_حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَأَبُو زُرْعَةَ وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا: أَخْبَرَنَا قَبِيصَةُ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ مِقْلَاصٍ الصَّيْرَفِيِّ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا، وَعَمِلَ فِي سُنَّةٍ، وَأَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ". فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ هَذَا الْيَوْمَ فِي النَّاسِ لَكَثِيرٌ، قَالَ: "وَسَيَكُونُ فِي قُرُونٍ بَعْدِي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ إِسْرَائِيلَ. (٢)

ترجمه: دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چه حلال اوخوري او په سنت عمل اوكړي خلق دده دشر نه محفوظ وي نو جنت ته به داخل شي يو كس عرض اوكړو اي دالله رسوله داسي كسان خو په زمانه كي ډير كم موندلي شي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل داسي كسان به زما دزماني نه پس په نورو راتلونكو زمانو كي هم موجود وي.

امام ترمذي وايي: داحديث غريب دي او مونږ يي صرف داسرائيل په سند پيژنو.

****

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٠٧٨)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٤٠٤٢)

حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الدُّورِيُّ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ عَنْ إِسْرَائِيلَ. وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ فَلَمْ يَعْرِفْهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ إِسْرَائِيلَ، وَلَمْ يَعْرِفْ اسْمَ أَبِي بِشْرٍ. (1)

ترجمه: امام ترمذي وائي دامام بخاري نه مي ددي حديث باره كي تپوس اوكړو نو هغه ددي دپيژندلو نه انكار اوكړو مگر علاوه دحديث داسرائيل نه او دابوبشر نوم ورته معلوم نه وو

تخريج: تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٠٤٢)

****

٢٥٢١_حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي مَرْحُومٍ عَبْدِ الرَّحِيمِ بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ أَعْطَى لِلَّهِ وَمَنَعَ لِلَّهِ وَأَحَبَّ لِلَّهِ وَأَبْغَضَ لِلَّهِ وَأَنْكَحَ لِلَّهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ إِيمَانَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُنْكَرٌ. (2)

ترجمه: دمعاذ بن انس جهني رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچه دالله درضا دپاره ورکړه وکړله او چاچه دالله درضا دپاره منع کول اوکړل او چاچه دالله تعالي درضا دپاره محبت اوكړو او چاچه دالله درضا دپاره عداوت او دشمني اوکړه او چاچه دالله درضا دپاره نکاح اوکړه نو يقينا دده ايمان مکمل شو.

امام ترمذي وايي: داحديث منكر دي.

****

٢٥٢٢_حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُاللهِ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا شَيْبَانُ، عَنْ فِرَاسٍ، عَنْ عَطِيَّةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، وَالثَّانِيَةُ عَلَى لَوْنِ أَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ عَلَى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُونَ حُلَّةً يَبْدُو مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (3)

ترجمه: دابو سعيد رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اولنی ډله چي به جنت ته ننوزي دهغوی مخونه به لکه دخوارلسمی د سپوږمۍ رڼا کوي وريسی به

---

1 تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١١٣٠١)، وانظر مسند احمد (٣/٢٣٨، ٢٣٠)

2 تفرد به المؤلف وأعاده برقم ٢٥٢٥ (تحفة الأشراف: ٢٢٢٢)

3 تفرد به المؤلف رحمه الله في سننه الجامع

ددېر پرقيدونکي ستوري په شان ښکاري ، چي په دوئ کي به دهر يو جنتي به دوه بيبياني وي دومره به ښايسته او صفا بدن والاوي چي دپنډئ هډوکي کي به يې دبهر نه مازغه ښکاري
امام ترمذي وايي: دا حديث حسن صحيح دی.

تشريح : "اول زمرة يدخلون الجنة" دلته ددي خبري بيان دی چي جنت ته دداخليدو په وخت کي به دجنتي شکل او صورت څنګه وي ددي جواب دادی چي داعمالو په مناسبت سره به ددوئ خکلا وي چي بعضي به دستورو پشان وي او بعضي به دسپوږمئ پشان وي خو ددي په خلاف ددوزخيانو مخونه به تور وي.

سوال: مخکي د دوه اويا حورو ذکر شوی دی چي جنتي ته به ملاوېږي او دلته د دوو ذکر راغی. **جواب**: په پورتني حديث کي دجنتيانو دحورو تعداد نه دی بيان شوی دلته صرف دومره بيان شوي دي چي دجنتانو په حورو کي به دوه صفات وي يعني که هغوئ زمکي ته راکوزي شي نو دزمکي نه تراسمانه پوري به د رڼا يو پرق اوشي او دهغوئ صرف يوه لوپټه ددنيا او مافيها نه قيمتي ده.

* * * * * * * * * * * * * * *

* * * * * * * * * *

* * * * *